مختلفو موضوع گانو باندې

دتقریرونو یوه مُفصّله، معتمده، عِلمي، او تحقیقي مجموعه:

# دتقریرونو
# مُدلّله ذخیره

3

دریم جلد

(تالیف)


ابوالشمس مولانا نورُالهدیٰ عفی عنهٗ

فاضل جامعه امدادُ العلوم پشاور صدر، ووفاق المدارس العربیه ملتان

ایم اے عبدالولی خان یونیورسٹی مردان

مُدرِّس دارُالعُلوم فیضُ القرآن اکاخیل کالونی مردان



مکتبه اعزازیّه محله جنگی پشاور

جاده میوند پخته فروشی کابل

زیر اهتمام

کفایت الله ازمانی

0344-9995990

دا کتاب د لیکوال په اجازه پی ډی ایف شوي
دی، الله تعالیٰ دې ابو شمس مولانا نور الهدي
صاحب ته اجر ورکړي.
ډیرو علماء کرام او طلباء ترې ګټه پورته کړه

📚کفایت دینی کتب خانہ📚

خادم کفایت الله ابن صدیق
ٹیلی گرام نمبر۔ +923247442395
واٹس ایپ نمبر
+923052488551

Scanned with CamScanner
Scanned with CamScanner

په مختلفو موضوع ګانو باندې

د تقریرونو یوه مُفَصَّلَه ، مُعتَمَدَه ، عِلمي ، او تحقیقي مجموعه :

# د تقریرونو مُدَلَّلَـــهُ ذَخیره

جلد ۳

تالیف


آبُوالشَّمس مولانا نُورُالهُدٰی عُفِيَ عَنْهُ

فاضلِ جامعه امدادُ العلوم پشاور صدر ، و وفاق المدارس العربیة ملتان

ایم اے عبدالولی خان یونیورسٹی مردان

حالًا : مُدَرِّس دارُالعلوم فیضُ القُرآن اکاخیل کالونی ، مردان


Scanned with CamScanner

بِسۡمِ اللّٰهِ الرَّحۡمٰنِ الرَّحِيۡمِ

**د کتاب نوم :** د تقریرونو مُدَلَّلَــه ذخیره جلد ۳

**مؤلف :** اَبُو الشَّمس مولانا نُورُالهُدیٰ عُفِيَ عَنۡهُ

مُدَرِّس دارُالعلوم فیضُ القُرآن اکاخیل کالونی مردان

فون نمبر ۰۳۰۶ ۵۴۴۷۱۷۴

**کمپوزر :** مؤلف پخپله

**د چاپ کال** ۱۴۴۲هـ ق ، ۱۳۹۹ هـ ش، مطابق ۲۰۲۱ ء

**مکتبه اعزازیه**

محله جنګي پښاور

**زیر اهتمام** کفایت الله ارماني ۰۳۴۴-۹۹۹۵۹۹۰

**نوټ :** د کتاب ټول حقوق د مکتبه اعزازیه سره محفوظ دي

Scanned with CamScanner

بِسۡمِ اللّٰهِ الرَّحۡمٰنِ الرَّحِيۡمِ

# سریزه ( د دریم جِلد )

نَحۡمَدُهٗ وَنُصَلِّيۡ عَلٰى رَسُوۡلِهِ الۡكَرِيۡمِ ، اَمَّابَعۡدُ !

اَلۡحَمۡدُ لِلّٰهِ ، اَلشُّكۡرُ لِلّٰهِ. ددې کتاب دریم جلد هم د الله ﷻ په فضل و کرَم سره پوره شو ، په دې کې مې هم آهمې موضوع ګانې راجمع کړې.

د ځان د صفت کولو د پاره نه ، بلکه د تَحۡدِيۡث بِالنِّعۡمَةِ په طور دا خبره کوم چې دا بعضې موضوع ګانې (لکه تقوی ، د الله ﷻ د عذاب نه ویریدل ، او د الله ﷻ نه ښه اُمید لرل) په دومره اُوږد تفصیل ، عربي عبارتونو ، واقعاتو او معتمدو حوالو سره چې څنګه ما ذکر کړي داسې به بل چا تر اوسه نه وي ذکر کړي.

ددې اَندازه هغه چاته لږي چې هغه ډیر کتابونه او ژوَره مطالعه لري ، دغه وجه ده چې ددې دریم جلد په لیکلو ډیر وخت اُولږید.

**خوشخبري** : اِنۡ شَآءَ اللّٰه ددې پسې به څلورم جلد وي . او دا سلسله به د الله ﷻ په توفیق سره همداسې تریو وخته پورې جاري وي.

## زما د والدې د پاره د مغفرت دُعا

د رجب المرجب په ۱۴ نیټه زما والده صاحب محترمه د جُمعې په ورځ وفات شوه ، یقیني چې د مور وفات کیدل یوه لویه صدمه وي ، د ټولو لوستونکو علماؤ او طلباؤ په خدمت کې عاجزانه درخواست دی چې د مرحومې د پاره د مغفرت او بَخنې خصوصي دُعاګانې اوکړي ، او که څوک د مرحومې د پاره د قرآن کریم یا سورة یاسین ختم اوکړي نو دا به د هغه خلقو په ما باندې خصوصي اِحسان وي.

الله تعالی دې دا ټول کتابونه په خپل دربار کې قبول کړي ، او په صحیح طریقې سره دې دا د قیامته پورې انسانانو د پاره د اِصلاح سبب اُوګرځوي.

Scanned with CamScanner

پَروَردِگار عالَم دې دا كتابونه زما، زما د والدينو ، اُستاذانو او ټول اُمتِ مُسلمه د پاره د مغفرت او نِجات ذريعه اوګرځوي .

آمِيْن يَا رَبَّ الْعَالَمِيْن .

رَبَّنَا تَقَبَّلْ مِنَّا إِنَّكَ أَنْتَ السَّمِيْعُ الْعَلِيْمُ

**نوټ:** كه د كتاب متعلق يا بله څه مفيده مشوره وي نو په دې ۰۳۰٦ ۵۴۴۷۱۷۴ نمبر راسره رابطه كولې شي .

ابو نصر نُورُالهدٰى عفىعنه

بِسْمِ اللّٰهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيْمِ

# اِجمالي فهرست



| نمبرشمار | موضوع | صفحه |
|---|---|---|
| ۱. | سريزه | ت |
| ۲. | ۱. د تقوى فضائل او فوائد | ۱ |
| ۳. | ۲. د نبي ﷺ صحابه كرامو او نورو بزرگانو د تقوى واقعات | ۸۲ |
| ۴. | ۳. د الله جل جلاله د عذاب نه ويريدل | ۱۴۰ |
| | ورسره | |
| ۵. | د نبي ﷺ ، صحابه كرامو او نورو بزرگانو د الله جل جلاله نه د ويريدو واقعات | ۱۷۲ |
| ۶. | ٤. د الله جل جلاله نه ښه اُميد لرل | ۲۳۲ |
| ۸. | خوشخبري | ۳۲۷ |



Scanned with CamScanner

بِسْمِ اللهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيْمِ

# تفصيلي فهرست


| نمبر شمار | موضوع | صفحه |
|---|---|---|
| ۱. | سريزه | ت |
| | **۱. د تقوی فضائل او فوائد** | ۱ |
| ۲. | تمهيدي خبره | ۲ |
| ۳. | د تقویٰ لغوي او اصطلاحي معنٰی | ۳ |
| ۴. | په قرآن کريم کې د تقویٰ لفظ په پنځه معناګانو باندې استعمال شوی | ۵ |
| ۵. | په قرآن کريم کې مسلمانانو ته د تقوی حکم | ۶ |
| ۶. | په يو آيت کې دوه پېرې د تقوی حکم | ۶ |
| ۷. | عامو انسانانو ته د تقوی حکم | ۹ |
| ۸. | مخکيني ټولو اُمّتونو ته هم د تقوی حکم شوې وُ | ۱۰ |
| ۹. | د حافظ ابن کثير رَحِمَهُ اللهُ تحقيق | ۱۱ |
| ۱۰. | اَزواجِ مُطهّرات ته د تقوی حکم | ۱۱ |
| ۱۱. | ټولو پيغمبرانو خپل قوم ته د تقوی حکم کړې وُ | ۱۱ |
| ۱۲. | د خطبې په آيتونو کې د تقوی حکم | ۱۳ |
| ۱۳. | نبي عليه السلام هم خپل اُمت ته د تقویٰ حکم کړې وُ | ۱۴ |
| ۱۴. | نبي عليه السلام به د لښکر آمير ته په خاص طور باندې د تقویٰ وصيت کولو | ۱۷ |
| ۱۵. | نبي عليه السلام به په خپلو دُعاګانو کې د تقویٰ سوال کولو | ۱۸ |
| ۱۶. | تقوی بهترين لباس دی | ۱۸ |
| ۱۷. | د تقوی په وجه د جنت مستحق کيدل | ۱۹ |


Scanned with CamScanner

| نمبرشمار | موضوع | صفحه |
|---|---|---|
| ۱۸. | جنت ته ډير بوتلونکې څيز " تقوی او خوش اخلاقي " ده | ۲۴ |
| ۱۹. | د آخرت ښه انجام د مُتّقيانو د پاره دی | ۲۵ |
| ۲۱. | د الله جَلَّ جَلَالُهُ مدد د مُتقيانو سره دی | ۲۵ |
| ۲۲. | د مُتقيانو سره الله تعالی محبت کوي | ۲۷ |
| ۲۳. | د الله جَلَّ جَلَالُهُ په نزد باندې مُعزّز خلق مُتقيان دي | ۲۸ |
| ۲۴. | د قيامت په ورځ به نبي عليه السلام ته ډير مُقرّب خلق مُتّقيان وي | ۳۰ |
| ۲۵. | د الله جَلَّ جَلَالُهُ ولي هغه کس کيدې شي چې په هغه کې تقویٰ وي | ۳۲ |
| ۲۶. | د اولياؤ مقام | ۳۴ |
| ۲۷. | د تقویٰ په وجه د دشمن د مکر و فريب نه په اَمن کيدل | ۳۴ |
| ۲۸. | الله تعالی امام ابوحنيفه رَحِمَهُ اللهُ لره د حاسدانو د مَکر نه بچ کړو | ۳۷ |
| ۲۹. | د صبر او تقویٰ په برکت سره دُشمن هلاکيدل | ۳۸ |
| ۳۰. | د تقویٰ په وجه د تَنگۍ او مصيبت نه وَتل | ۳۸ |
| ۳۱. | د تقویٰ په وجه د مشکلاتو نه وُتل، او رِزق فراخه کيدل | ۴۳ |
| ۳۲. | د رِزق او نِعمتونو خزانې د الله جَلَّ جَلَالُهُ سره دي | ۴۴ |
| ۳۳. | د تقویٰ په وجه د آسمان نه برکتونه رانازليږي | ۴۶ |
| ۞. | د الله تعالی نِعمتونه او ثوابونه په تقویٰ او ريښتينې پرهيزګارۍ ملاويدې شي | ۴۶ |
| ۳۵. | تقوی دار او پرهيزګار ډير عبادت ګزار دی | ۴۷ |
| ۳۶. | د تقویٰ برکت: (د مسلمان د تقوی په وجه کافر ته اِيمان نصيب کيدل) | ۴۷ |
| ۳۷. | د تقویٰ په وجه نيک اعمال قبليدل | ۴۸ |
| ۳۸. | د تقویٰ په وجه د کارونو اِصلاح او مغفرت | ۴۹ |
| ۳۹. | د تقویٰ په وجه ګناهونه معاف کيدل، اجرِ عظيم ملاويدل او نورِ فراست نصيب کيدل | ۵۰ |
| ۴۰. | **د فِراست متعلق يو څو واقعات :** | ۵۲ |
| ۴۱. | د حضرت سليمان عليه السلام فِراست | ۵۲ |


Scanned with CamScanner

| نمبر شمار | موضوع | صفحه |
|---|---|---|
| ۴۲. | د حضرت ابوبکر صدیق رضي الله عنه فراست ( د مخکې نه د لور پیدا کیدو خبر ورکول ) | ۵۴ |
| ۴۳. | د حضرت عمر رضي الله عنه فراست | ۵۵ |
| ۴۴. | د حضرت عثمان رضي الله عنه فراست | ۵۷ |
| ۴۵. | د امام ابو حنیفه رَحِمَهُ اللهُ فراست | ۵۸ |
| ۴۶. | د امام شافعي رَحِمَهُ اللهُ فراست | ۵۹ |
| ۴۷. | د جُنید بغدادي رَحِمَهُ اللهُ فراست | ۶۱ |
| ۴۸. | د یو بزرګ فراست | ۶۳ |
| ۴۹. | د ابراهیم خواص رَحِمَهُ اللهُ فراست | ۶۳ |
| ۵۰. | د مرزا مظهر جان جانان رَحِمَهُ اللهُ فراست | ۶۵ |
| ۵۱. | د سُلطان نورالدین زنګي رَحِمَهُ اللهُ فراست | ۶۵ |
| ۵۲. | فراست "علمِ غیب" ندی | ۶۹ |
| ۵۳. | د تقویٰ په د جهنم د اُور نه محفوظ کیدل | ۶۹ |
| ۵۴. | خپل مال په مُتقي باندې خرچ کول | ۷۰ |
| ۵۵. | مُتقیان به د بې فائدې کارونو نه ځان ساتي | ۷۱ |
| ۵۶. | د حضرت ابوهریرة رضي الله عنه نه د تقویٰ په باره کې پوښتنه | ۷۳ |
| ۵۷. | د مُتقیانو صفات | ۷۴ |
| ۵۷. | په قرآن کریم کې د مُتقیانو د پاره بشارتونه او زیري | ۷۵ |
| ۵۸. | د تقوی علامات | ۷۶ |
| ۵۹. | د تقویٰ درې درجې | ۷۷ |
| ۶۰. | **د تقوی پیدا کیدو طریقې** | ۷۸ |
| ۶۱. | (د رینبتیا ویونکو خلقو سره ملګرتیا کول) | ۷۸ |
| ۶۲. | د ظاهِر او باطن تقوی | ۷۹ |

| نمبر شمار | موضوع | صفحه |
|---|---|---|
| ٦٣. | په ځان کې تقوى پيدا کول ضروري دي | ٧٩ |
| ٦٤. | د غونډ تقرير خلاصه | ٨٠ |
| ٦٥. | دُعا | ٨١ |
| ٦٦. | **٢. د نبي ﷺ صحابه کرامو او نورو بزرگانو د تقوى واقعات** | ٨٢ |
| ٦٧. | تمهيدي خبره | ٨٣ |
| ٦٨. | **د نبي عليه السلام تقوى** | ٨٤ |
| ٦٩. | د ټولو نه زياته تقوى په نبي عليه السلام کې وه | ٨٤ |
| ٧٠. | د صحابه کرامو تقوى او احتياط | ٨٦ |
| ٧١. | د حضرت ابوبکر صديق رضي الله عنه تقوى | ٨٧ |
| ٧٢. | د حضرت عُمر رضي الله عنه تقوى | ٩١ |
| ٧٣. | د حضرت علي رضي الله عنه تقوى | ٩٥ |
| ٧٤. | د حضرت حُذيفه رضي الله عنه تقوى | ٩٦ |
| ٧٥. | د حضرت ابوعُبَيدة بن جراح رضي الله عنه تقوى | ٩٨ |
| ٧٥. | د حضرت سالم رحمه الله تقوى | ٩٩ |
| ٧٦. | د مخکيني اُمتونو د دوه کسانو د تقوى واقعه | ١٠١ |
| ٧٧. | د عُمر بن عبدالعزيز رحمه الله تقوى | ١٠٢ |
| ٧٨. | عمر بن عبدالعزيز رحمه الله د وړوکي ځوي د لاس نه د بيتُ المال سېب واخيست | ١٠٤ |
| ٧٩. | د بيتُ المال په سوَرلۍ باندې راوړل شوي شهد واپس خرڅول | ١٠٥ |
| ٨٠. | د بيتُ المال د خوشبوئي نه پُوزې پټول | ١٠٦ |
| ٨١. | عُمر بن عبدالعزيزؒ خپل ځوي ته د قيمتي ګټمې خرڅولو حُکم اوکړو | ١٠٧ |


Scanned with CamScanner

| نمبرشمار | موضوع | صفحه |
|---|---|---|
| ۸۲. | د سفيان ثوري رَحِمَهُ اللهُ تقوىٰ | ۱۰۷ |
| ۸۳. | د امام بخاري رَحِمَهُ اللهُ تقوىٰ | ۱۰۸ |
| ۸۴. | د عبدالله بن مبارک رَحِمَهُ اللهُ تقوىٰ | ۱۰۹ |
| ۸۵. | د ابوعبدالله طوسي رَحِمَهُ اللهُ تقوىٰ | ۱۱۱ |
| ۸۶. | د علامه ابن سيرين رَحِمَهُ اللهُ تقوىٰ | ۱۱۱ |
| ۸۷ | د امام ابوحنيفه رَحِمَهُ اللهُ تقوىٰ | ۱۱۲ |
| ۸۸. | ۱. د امام ابوحنيفه رَحِمَهُ اللهُ د تقوىٰ په وجه مجوسي اسلام قبول کړو | ۱۱۲ |
| ۸۹. | ۲. د قرض داري د ديوال سيوري (سايه) ته نه کيناستل | ۱۱۴ |
| ۹۰. | ۳. په وريځ کې د کپړې دُکان بندول | ۱۱۴ |
| ۹۱. | ۴. مُشتبِه تو له سَرمايه او ګټه په غريبانانو تقسيمول | ۱۱۵ |
| ۹۲. | ۵. بله واقعه | ۱۱۵ |
| ۹۳. | ۶. د احتياط په وجه اُووه کاله پورې د چېلۍ غوښه نه خوړل | ۱۱۶ |
| ۹۴. | ۷. د مريض وفات کېدو سره ډِيوه مړه کول | ۱۱۷ |
| ۹۵. | د يوې صالحې (نېکې) ښځې تقوىٰ | ۱۱۷ |
| ۹۶. | د ميمونة بنت اقرعؒ تقوىٰ | ۱۱۸ |
| ۹۷. | د بشر بن الحارث رحمه الله د خور "مُخّه" تقوىٰ | ۱۱۹ |
| ۹۸. | د کهمس رَحِمَهُ اللهُ تقوىٰ | ۱۲۲ |
| ۹۹. | د آدهم رَحِمَهُ اللهُ تقوىٰ | ۱۲۳ |
| ۱۰۰ | د عَطاء سَليمي رَحِمَهُ اللهُ تقوىٰ | ۱۲۵ |
| ۱۰۱ | د يو تابعي تاجر تقوىٰ | ۱۲۶ |
| ۱۰۲ | د محمد بن واسع رَحِمَهُ اللهُ تقوىٰ | ۱۲۷ |
| ۱۰۴ | د سِرّي سقطي رَحِمَهُ اللهُ تقوىٰ | ۱۲۸ |
| ۱۰۵ | د علي بن معبد رَحِمَهُ اللهُ تقوىٰ | ۱۲۹ |
| ۱۰۶ | د مولانا اشرف علي تهانوي رَحِمَهُ اللهُ تقوىٰ | ۱۲۹ |


Scanned with CamScanner

| نمبر شمار | موضوع | صفحه |
|---|---|---|
| ۱۰۷ | د مولانا قاسم نانوتوي رَحِمَهُ اللّٰهُ تقوىٰ | ۱۳۰ |
| ۱۰۸ | د مولانا زكريا رَحِمَهُ اللّٰهُ تقوىٰ | ۱۳۱ |
| ۱۰۹ | د مولانا محمد عاشق الٰهي بلند شهري رَحِمَهُ اللّٰهُ تقوىٰ | ۱۳۱ |
| ۱۱۰ | د مولانا حسين احمد مدني رَحِمَهُ اللّٰهُ تقوى | ۱۳۲ |
| ۱۱۱ | د ابوبكره ثقفي رَحِمَهُ اللّٰهُ تقوىٰ | ۱۳۳ |
| ۱۱۲ | د سلطان غياث الدين رَحِمَهُ اللّٰهُ تقوىٰ | ۱۳۳ |
| ۱۱۳ | د سليمان بن يسار رَحِمَهُ اللّٰهُ تقوىٰ : ( د زِنا نه ځان ساتل ) | ۱۳۴ |
| ۱۱۴ | د خواجه مشكي رَحِمَهُ اللّٰهُ تقوىٰ : ( د زِنا نه ځان ساتل ) | ۱۳۶ |
| ۱۱۵ | د ربيع بن خثيم رَحِمَهُ اللّٰهُ تقوىٰ | ۱۳۸ |
| ۱۱۶ | د غونډ تقرير خلاصه | ۱۳۹ |
| ۱۱۷ | دُعا | ۱۳۹ |
| ۱۱۸ | **۳. د الله ﷻ د عذاب نه ويريدل** | ۱۴۰ |
| ۱۱۹ | مسلمانانو ته د الله ﷻ د عذاب نه د ويريدو حکم | ۱۴۳ |
| ۱۲۰ | د الله ﷻ نه ويريدونکي خلق کامياب دي | ۱۴۴ |
| ۱۲۱ | د کامِل مؤمنانو يو صفت " د الله ﷻ نه يريدل " دي | ۱۴۴ |
| ۱۲۲ | د الله ﷻ نه ويريدونکو د پاره جنت | ۱۴۵ |
| ۱۲۳ | د الله ﷻ نه ويريدونکى به آخر هم جنت ته ځي اګر چې ګناهونه يې کړي وي | ۱۴۶ |
| ۱۲۴ | د الله ﷻ نه يريدونکي ځوان ته نبي عليه السلام د جنت زيرې ورکړو | ۱۴۸ |
| ۱۲۵ | په دُنيا کې د الله ﷻ نه ويريدونکى به په قيامت کې د ويرې نه په اَمن وي | ۱۴۹ |
| ۱۲۶ | د الله ﷻ نه ويريدونکى به د جهنم د اُور نه په اَمن وي | ۱۵۰ |
| ۱۲۷ | د الله ﷻ د يَرې نه ژړا کوونکى به جهنم ته نه داخليږي | ۱۵۰ |
| ۱۲۸ | الله ﷻ ته دير محبوب څاڅکي | ۱۵۲ |
| ۱۲۹ | د الله ﷻ نه ويريدونکي د پاره د عرش د سُيوري لاندې ځاى | ۱۵۳ |

| نمبر شمار | موضوع | صفحه |
|---|---|---|
| ۱۳۰ | د الله ﷻ نه ویریدو په وجه ګناهونه معاف کیدل | ۱۵۴ |
| ۱۳۱ | یو ګناهګار ته د الله ﷻ نه یَریدو په وجه مغفرت | ۱۵۴ |
| ۱۳۲ | د نیکو اعمالو کولو باوجود بیا هم د الله ﷻ نه یَره په کار ده | ۱۵۵ |
| ۱۳۳ | دُهوکه کیدل ندي پکار | ۱۵۶ |
| ۱۳۴ | که انسان د الله ﷻ د عذابونو نه خبر شي نو بیا به ډیر اَو نه خاندي | ۱۵۷ |
| ۱۳۵ | د الله ﷻ نه یَریدونکي باندې د خیر او حِکمت دَروازې خلاصیږي | ۱۵۹ |
| ۱۳۶ | د الله ﷻ نه یریدل په زړه باندې ښه اَثر کوي | ۱۶۰ |
| ۱۳۷ | په کوم زړه کې چې د الله ﷻ نه یَره نه وي نو هغه خراب وي | ۱۶۰ |
| ۱۳۸ | د الله ﷻ نه د ویریدو علامات | ۱۶۱ |
| ۱۳۹ | په زړه کې د الله ﷻ د عذاب نه د یَرې پیدا کیدو طریقې | ۱۶۴ |
| ۱۴۰ | اوله طریقه: خپل ځان او الله ﷻ پیژندل | ۱۶۴ |
| ۱۴۱ | ځوک چې خپل رَب ښه پیژني نو په هغه کې ویره ډیره وي | ۱۶۴ |
| ۱۴۲ | دویمه طریقه: د الله ﷻ نه ویریدونکو خلقو په مجلس کې کیناستل | ۱۶۵ |
| ۱۴۳ | دریمه طریقه: د الله ﷻ نه ویریدونکو خلقو اَحوال کتل او اَوریدل | ۱۶۶ |
| ۱۴۴ | د الله ﷻ ویریدونکي درې قِسمه خلق | ۱۶۶ |
| ۱۴۵ | د آخري خاتِمې خرابیدو نه ویریدل | ۱۶۶ |
| ۱۴۶ | ۱. حضرت ابوهریره رضي الله عنه په آخري عُمر کې هم د ګناهونو نه د بچ کیدو دُعا کوله | ۱۶۷ |
| ۱۴۷ | ۲. د مرګ په وخت د سفیان ثوري رَحِمَهُ الله یَره | ۱۶۸ |
| ۱۴۸ | ۳. د امام احمد بن حنبل ؒ د وفات کیدو په وخت د شیطان کوشش | ۱۶۸ |
| ۱۴۹ | ۴. د امام رازي رَحِمَهُ الله د وفات کیدو په وخت د شیطان کوشش | ۱۶۹ |
| ۱۵۰ | ۵. په آخِري عُمر کې په عبدالقادر جیلاني ؒ باندې د شیطان حمله | ۱۷۱ |


Scanned with CamScanner

| نمبر شمار | موضوع | صفحه |
|---|---|---|
| ۱۵۱ | **د نبي عليه السلام ، صحابه کرامو او نورو بزرگانو د الله جل جلاله نه د ويريدو واقعات** | ۱۷۲ |
| ۱۵۲ | نبي عليه السلام ته هم د الله جل جلاله نه د ويريد و حکم شوې وُ | ۱۷۳ |
| ۱۵۳ | د ټولو نه زياته ويره په نبي عليه السلام کې وه | ۱۷۳ |
| ۱۵۴ | د وريځ په ليدو او هوا چليدو په وخت د نبي عليه السلام يَره | ۱۷۴ |
| ۱۵۵ | په مانځه کې د نبي عليه السلام ژړا | ۱۷۶ |
| ۱۵۶ | د حضرت يحيیٰ عليه السلام به هم په مانځه کې ډير ژړل | ۱۷۸ |
| ۱۵۷ | د حضرت ابراهيم عليه السلام يَره | ۱۷۸ |
| ۱۵۸ | فرښتې هم د الله تعالی نه ويريږي | ۱۷۹ |
| ۱۵۹ | د حضرت جبريل او حضرت اسرافيل عليهما السلام يَره | ۱۷۹ |
| ۱۶۰ | د نورو فرښتو يَره | ۱۸۰ |
| ۱۶۱ | د يو غر د الله جل جلاله د ويرې نه ژړل | ۱۸۲ |
| ۱۶۲ | **د صحابه کرامو رضي الله عنهم د الله جل جلاله نه ويره** | ۱۸۴ |
| ۱۶۳ | د حضرت ابوبکر صديق رضي الله عنه يَره او ژړا | ۱۸۴ |
| ۱۶۴ | د حضرت عمر رضي الله عنه د الله جل جلاله نه يَره | ۱۸۷ |
| ۱۶۵ | د تلاوت په اَوريدو يَره | ۱۸۷ |
| ۱۶۶ | معافي غوښتل | ۱۹۲ |
| ۱۶۷ | پخپله د شپې يتيمانو له خوراک اُوړل | ۱۹۴ |
| ۱۶۸ | د سَرکاري اُوښانو پيدا کولو د پاره پخپله په سختې گرمۍ کې وتل | ۱۹۷ |
| ۱۶۹ | د حضرت عثمان رضي الله عنه د الله جل جلاله نه يَره | ۱۹۸ |
| ۱۷۰ | د قبر په ليدلو ډير ژړل | ۱۹۸ |
| ۱۷۱ | خپل غلام ته د بدل اخيستلو حُکم کول | ۱۹۸ |

Scanned with CamScanner

| نمبر شمار | موضوع | صفحه |
|---|---|---|
| ۱۷۲ | د الله ﷻ د وړاندې پيش كيدو نه يَره | ۱۹۹ |
| ۱۷۳ | د حضرت علي رضي الله عنه د الله ﷻ نه يَره | ۱۹۹ |
| ۱۷۴ | په بيتُ المال كې احتياط | ۲۰۱ |
| ۱۷۵ | د حضرت عبدالله بن مسعود رضي الله عنه د الله ﷻ نه يَره | ۲۰۱ |
| ۱۷۶ | د حضرت ابوذر رضي الله عنه د الله ﷻ نه يَره | ۲۰۲ |
| ۱۷۷ | د حضرت عائشې رضي الله عنها د الله ﷻ نه يَره | ۲۰۲ |
| ۱۷۸ | د حضرت ابودرداء رضي الله عنه د الله ﷻ نه يَره | ۲۰۲ |
| ۱۷۹ | د حضرت ابو عُبَيده بن جرّاح رضي الله عنه د الله ﷻ نه يَره | ۲۰۲ |
| ۱۸۰ | د حضرت عبدالله بن عباس رضي الله عنهما د الله ﷻ نه يَره | ۲۰۳ |
| ۱۸۱ | د حضرت حنظله اُسَيدي رضي الله عنه د الله ﷻ نه يَره | ۲۰۳ |
| ۱۸۲ | د حضرت عبدالله بن رواحه رضي الله عنه يَره | ۲۰۴ |
| ۱۸۳ | د حضرت عبدالله ابن عُمر رضي الله عنهما يَره | ۲۰۵ |
| ۱۸۴ | د حضرت سلمان فارسي رضي الله عنه يَره | ۲۰۶ |
| ۱۸۵ | **د نورو بزرګانو يَره** | ۲۰۷ |
| ۱۸۶ | د حضرت زُرارة بن اوفٰى رحمه الله يَره | ۲۰۷ |
| ۱۸۷ | د ابوجرير رحمه الله يَره | ۲۰۷ |
| ۱۸۸ | د الله ﷻ د يَرې نه بې هوشه كيدل او دَرياب ته غورځيدل | ۲۰۸ |
| ۱۹۰ | د عبدالعزيز بن سَلمان رحمه الله يَره | ۲۰۹ |
| ۱۹۲ | د يو عابِد د الله ﷻ نه يَره | ۲۰۹ |
| ۱۹۳ | د يوې وينځې د الله ﷻ نه يَره | ۲۱۰ |
| ۱۹۴ | د امام شافعي رحمه الله يَره | ۲۱۱ |
| ۱۹۵ | د مالك بن دينار رحمه الله يَره | ۲۱۱ |


Scanned with CamScanner

| نمبرشمار | موضوع | صفحه |
|---|---|---|
| ۱۹۶ | د ربيع بن خُثَيم رَحِمَهُ اللهُ يَره | ۲۱۲ |
| ۱۹۷ | د عُمر بن عبد العزيز رَحِمَهُ اللهُ يَره | ۲۱۳ |
| ۱۹۸ | د حضرت شبلي رَحِمَهُ اللهُ يَره | ۲۱۴ |
| ۱۹۹ | د علي بن فضيل رَحِمَهُ اللهُ يَره | ۲۱۵ |
| ۲۰۰ | د ابوعيسى ترمذي رَحِمَهُ اللهُ يَره | ۲۱۷ |
| ۲۰۱ | د علي بن بكّار رَحِمَهُ اللهُ يَره | ۲۱۷ |
| ۲۰۲ | د وريځ په تيريدو سره يريدل | ۲۱۷ |
| ۲۰۳ | د سَرِيّ سقطي رَحِمَهُ اللهُ يَره | ۲۱۸ |
| ۲۰۴ | د فضيل رَحِمَهُ اللهُ يَره | ۲۱۸ |
| ۲۰۵ | د يو شپونكي د الله جل جلاله نه يَره | ۲۱۸ |
| ۲۰۶ | د عطاء سَليمي رَحِمَهُ اللهُ يَره | ۲۲۰ |
| ۲۰۷ | د سعيد بن عبد العزيز رَحِمَهُ اللهُ يَره | ۲۲۱ |
| ۲۰۸ | د علي بن الحسين رَحِمَهُ اللهُ يَره | ۲۲۱ |
| ۲۰۹ | د عبدالله بن مبارك رَحِمَهُ اللهُ يَره | ۲۲۲ |
| ۲۱۰ | د اسماعيل زَنګي بادشاه د الله جل جلاله نه يَره | ۲۲۲ |
| ۲۱۱ | د بني اسرائيلو د يو بادشاه د ځوي د الله جل جلاله نه يَره | ۲۲۴ |
| ۲۱۲ | د يو فقير په زړه كې د الله جل جلاله نه يَره | ۲۲۹ |
| ۲۱۳ | د غونډ تقرير خلاصه | ۲۳۰ |
| ۲۱۴ | دُعا | ۲۳۱ |
| ۲۱۵ | ٤. د الله جل جلاله نه ښه اُميد لرل | ۲۳۲ |
| ۲۱۶ | د الله جل جلاله نه ويريدو سره سره د هغه نه ښه اُميد لرل هم په كار دي | ۲۳۴ |
| ۲۱۷ | په قرآن كريم او احاديثو كې د يَرې او اُميد مضامين دواړه يو ځاى هم ذكر دي | ۲۳۶ |


Scanned with CamScanner

| نمبرشمار | موضوع | صفحه |
|---|---|---|
| ۲۱۸ | انسان چې په الله تعالی ښنګه ګمان کوي نو هماغه شان معامله ورسره کوي | ۲۴۱ |
| ۲۱۹ | په الله ﷻ باندې ښه ګمان کول بهترين عبادت دی | ۲۴۴ |
| ۲۲۰ | د ايمان نه پس بهترين څيز " په الله ﷻ باندې ښه ګمان کول " دي | ۲۴۵ |
| ۲۲۱ | چې په چاکې خَوف او اُميد وي نو داسې کس کامياب دی | ۲۴۵ |
| ۲۲۲ | الله ﷻ ته د رسيدو د پاره محبت، يَره، او ښه اُميد لرل ضروري دي | ۲۴۶ |
| ۲۲۳ | د خَوف او رَجاء مثال | ۲۴۶ |
| ۲۲۳ | د يحی بن مُعاذ رازي رَحِمَهُ اللّٰهُ قول | ۲۴۷ |
| ۲۲۴ | د علامه ابن قيم رَحِمَهُ اللّٰهُ قول | ۲۴۷ |
| ۲۲۵ | مثال | ۲۴۷ |
| ۲۲۶ | د امام نووي رَحِمَهُ اللّٰهُ قول | ۲۴۹ |
| ۲۲۷ | د ملا علي قاري رَحِمَهُ اللّٰهُ قول | ۲۴۹ |
| ۲۲۸ | د صوفياؤ قول | ۲۴۹ |
| ۲۳۰ | د ښه اُميد په وجه د الله ﷻ د رحمت زيات مستحق کيدل | ۲۵۰ |
| ۲۳۱ | په کوم وخت کې د الله ﷻ نه يَره، او په کوم وخت کې ښه اُميد لرل بهتر دي ؟ | ۲۵۰ |
| ۲۳۲ | د مرګ په وخت د الله ﷻ نه يَره او اُميد | ۲۵۳ |
| ۲۳۳ | خاصکر د مرګ په وخت د الله ﷻ نه "ښه اُميد لرل" ډير بهتر دي | ۲۵۵ |
| ۲۳۴ | د الله ﷻ نه په ښه اُميد ساتلو سره مغفرت | ۲۵۸ |
| ۲۳۵ | د الله ﷻ نه په ښه اُميد ساتلو سره د يحيٰی بن اکثمؒ مغفرت | ۲۵۹ |
| ۲۳۶ | د الله ﷻ نه د ښه اُميد په وجه د مالک بن دينار رَحِمَهُ اللّٰهُ مغفرت | ۲۶۱ |
| ۲۳۷ | د الله ﷻ نه په ښه اُميد ساتلو سره د يو ځوان مغفرت | ۲۶۲ |
| ۲۳۸ | د الله ﷻ نه په ښه اُميد ساتلو سره د يو کس قبر د نور نه ډکيدل او فراخه کيدل | ۲۶۴ |


Scanned with CamScanner

| نمبرشمار | موضوع | صفحه |
|---|---|---|
| ۲۳۹ | د الله ﷻ نه " د ښه اُمید ساتلو " تذکرې کولو سره مغفرت | ۲۶۶ |
| ۲۴۰ | د الله ﷻ نه د ښه اُمید ساتلو په وجه دوباره جهنم ته نه لیږل | ۲۶۷ |
| ۲۴۱ | د ښه اُمید په وجه جنت ته داخلیدل | ۲۷۱ |
| ۲۴۲ | د الله ﷻ نه ښه اُمید لرونکي کس ته مغفرت | ۲۷۱ |
| ۲۴۳ | د الله ﷻ رحمت د هغه په غضب باندې غالب دی | ۲۷۴ |
| ۲۴۴ | کریم رَب کوتاهي معاف کوي او په حساب کې آساني کوي | ۲۷۷ |
| ۲۴۵ | الله تعالی په بنده ګانو باندې ډیر مهربان دی | ۲۷۹ |
| ۲۴۶ | د الله ﷻ عذاب خو صرف د ناشکره او نافرمانه خلقو د پاره دی | ۲۸۰ |
| ۲۴۷ | نا اُمیده کیدل ندي په کار | ۲۸۶ |
| ۲۴۸ | د حضرت یعقوب علیه السلام د الله ﷻ نه ښه اُمید | ۲۸۷ |
| ۲۴۹ | امام کسائي رَحِمَهُ الله نا اُمیده نه شو نو آخر کامیاب شو | ۲۹۲ |
| ۲۵۰ | په الله ﷻ باندې د ښه ګمان سره سره نېک اعمال کول او ځان د ګناهونو نه ساتل هم ضروري دي | ۲۹۳ |
| ۲۵۱ | د "رَجاء" حقیقت | ۲۹۳ |
| ۲۵۲ | د یو مثال په ذریعه وضاحت | ۲۹۴ |
| ۲۵۳ | د الله ﷻ نه ښه اُمید د چا په حق کې ډیر مفید دی؟ | ۲۹۶ |
| ۲۵۴ | مُقرِّر به د موقعې مناسب بیان کوي | ۲۹۶ |
| ۲۵۵ | د خلقو سره په رُوڼ تَندي او خوشحالۍ حالت کې ملاویدل او ځان له په خپلو ګناهونو ژړل | ۲۹۷ |
| ۲۵۶ | د حضرت یحيٰی علیه السلام او حضرت عیسیٰ علیه السلام د یو بل سره خبرې | ۲۹۷ |
| ۲۵۷ | **نا اُمیدي او ددې اَقسام** | ۲۹۹ |
| ۲۵۸ | د الله ﷻ نه نا اُمیده کیدل ګناهِ کبیره او حرام دي | ۳۰۰ |


Scanned with CamScanner

| نمبرشمار | موضوع | صفحه |
| --- | --- | --- |
| ۲۵۹ | د الله ﷻ د رحمت نه نااُمیده کیدل د کامل مؤمنانو صفت ندی | ۳۰۳ |
| ۲۶۰ | د الله تعالی د رحمت نه د نااُمیدۍ نقصانات | ۳۰۴ |
| ۲۶۱ | نور خلق د الله تعالی د رحمت نه نااُمیده کول ندي په کار | ۳۰۴ |
| ۲۶۲ | د الله ﷻ د رحمت نه نااُمیده کوونکي کس سزا | ۳۰۸ |
| ۲۶۳ | په خپل عبادت باندې غرور او تکبّر ندې په کار | ۳۱۳ |
| ۲۶۴ | په الله تعالی باندې بَدګمان کول د هلاکت سبب دی | ۳۱۴ |
| ۲۶۵ | **د نااُمیدۍ اسباب** | ۳۱۵ |
| ۲۶۶ | ۱. د الله ﷻ د صفاتو نه ناخبري | ۳۱۵ |
| ۲۶۷ | ۲. د الله ﷻ نه په ویریدو کې ډیره غُلو کول | ۳۱۶ |
| ۲۶۸ | ۳. د نااُمیده خلقو سره کیناستل | ۳۱۶ |
| ۲۶۹ | ۴. ټول اعتماد په ظاهري آسبابو باندې کول | ۳۱۷ |
| ۲۷۰ | ۵. په دِین کې د حد نه زیاته سختي کول | ۳۱۷ |
| ۲۷۱ | ۶. بې صبري او د نېکو اعمالو نتیجه سمدست طلب کول | ۳۱۷ |
| ۲۷۲ | ۷. د آسبابو سره زړه تړل | ۳۱۸ |
| ۲۷۳ | ۸. کم هِمتي او د اِصلاح کوشش نه کول | ۳۱۹ |
| ۲۷۴ | ۹. همیشه د الله تعالی د عذابونو تذکره کول | ۳۱۹ |
| ۲۷۵ | **د نااُمیدۍ نه د بچ کیدو طریقې** | ۳۱۹ |
| ۲۷۶ | ۱. د الله تعالی په صفتونو باندې عِلم او اِیمان لرل | ۳۲۰ |
| ۲۷۷ | ۲. په الله ﷻ باندې ښه ګمان لرل او د هغه د رحمت اُمید ساتل | ۳۲۰ |
| ۲۷۸ | ۳. په هر حالت کې اعتماد په الله ﷻ باندې کول | ۳۲۰ |
| ۲۷۹ | ۴. د ویرې او اُمید په مینځ کې ژوند تیرول | ۳۲۱ |
| ۲۸۰ | ۵. په تقدیر باندې اِیمان لرل | ۳۲۱ |
| ۲۸۱ | ۶. د امتحاناتو په راتلو صبر کول | ۳۲۲ |


Scanned with CamScanner

| نمبر شمار | موضوع | صفحه |
|---|---|---|
| ۲۸۲ | ۷. د الله ﷻ نه پوره يقين سره دُعا غوښتل | ۳۲۳ |
| ۲۸۳ | ۸. ظاهري اسباب هم استعمالول | ۳۲۳ |
| ۲۸۴ | ۹. د دُنيا د محبت نه ځان ساتل | ۳۲۴ |
| ۲۸۵ | د غونډ تقرير خلاصه | ۳۲۵ |
| ۲۸۶ | دُعا | ۳۲۶ |
| ۲۸۷ | خوشخبري | ۳۲۷ |
| ۲۸۸ | د ټول کتاب اجمالي فهرست | |


Scanned with CamScanner

بِسۡمِ اللّٰهِ الرَّحۡمٰنِ الرَّحِيۡمِ

﴿ يٰۤاَيُّهَا الَّذِيۡنَ اٰمَنُوا اتَّقُوا اللّٰهَ حَقَّ تُقٰتِهٖ وَلَا تَمُوۡتُنَّ اِلَّا وَاَنۡتُمۡ مُّسۡلِمُوۡنَ ﴾

آل عمران آية ١٠٢ .

# د تقوىٰ فضائل او فوائد

تاليف


اَبُو الشَّمۡس مولانا نُوۡرُ الۡهُدٰى عُفِيَ عَنۡهُ

مُدَرِّس دَارُ العلوم فيضُ القرآن اكاخيل كالونى، مردان



Scanned with CamScanner

بِسْمِ اللهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيْمِ

# د تقوی فضائل او فوائد

اَلْحَمْدُ لِلّٰهِ رَبِّ الْعَالَمِيْنَ ، وَالصَّلَاةُ وَالسَّلَامُ عَلٰى خَاتَمِ الْأَنْبِيَاءِ وَأَشْرَفِ الْمُرْسَلِيْنَ ، وَعَلٰى آلِهٖ وَأَصْحَابِهٖ وَمَنْ تَبِعَهُمْ بِإِحْسَانٍ إِلٰى يَوْمِ الدِّيْنِ .

اَمَّا بَعْدُ فَاَعُوْذُ بِاللهِ مِنَ الشَّيْطٰنِ الرَّجِيْمِ بِسْمِ اللهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيْمِ قَالَ اللهُ تَبَارَكَ وَتَعَالٰى فِي الْقُرْآنِ الْمَجِيْدِ وَالْفُرْقَانِ الْحَمِيْدِ :

﴿ يٰۤاَيُّهَا الَّذِيْنَ اٰمَنُوا اتَّقُوا اللّٰهَ حَقَّ تُقٰتِهٖ وَلَا تَمُوْتُنَّ اِلَّا وَاَنْتُمْ مُّسْلِمُوْنَ ﴾ . (۱)

وَقَالَ تَعَالٰى : ﴿ اِنَّ اَكْرَمَكُمْ عِنْدَ اللّٰهِ اَتْقٰىكُمْ ﴾ . (۲)

قَالَ رَسُوْلُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ : إِنَّ أَوْلَى النَّاسِ بِي الْمُتَّقُوْنَ مَنْ كَانُوْا وَحَيْثُ كَانُوْا . (۳)

صَدَقَ اللهُ الْعَظِيْمُ .

## تمهيدي خبره

زما خوږو قدرمنو او عزت مندو مسلمانانو ورونو ! د ایمان نه پس تقوی داسې لوی نعمت دی چې د دې په وجه انسان ته د دواړو جهانو کامیابي نصیبه کیږي ، ځکه د تقوی په

(۱) آل عمران آیة ۱۰۲ .

۲) الحجرات آیة ۱۳ .

۳) عَنْ مُعَاذِ بْنِ جَبَلٍ رضي الله عنه قَالَ: لَمَّا بَعَثَهُ رَسُوْلُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ إِلَى الْيَمَنِ خَرَجَ مَعَهُ رَسُوْلُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يُوْصِيْهِ وَمُعَاذٌ رَاكِبٌ وَرَسُوْلُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَمْشِيْ تَحْتَ رَاحِلَتِهِ. فَلَمَّا فَرَغَ قَالَ: « يَا مُعَاذُ ! إِنَّكَ عَسَى أَنْ لَا تَلْقَانِيْ بَعْدَ عَامِيْ هٰذَا وَلَعَلَّكَ أَنْ تَمُرَّ بِمَسْجِدِيْ هٰذَا، وَقَبْرِيْ » . فَبَكَى مُعَاذٌ جَشَعًا لِفِرَاقِ رَسُوْلِ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ، ثُمَّ الْتَفَتَ فَأَقْبَلَ بِوَجْهِهِ نَحْوَ الْمَدِيْنَةِ فَقَالَ: « إِنَّ أَوْلَى النَّاسِ بِي الْمُتَّقُوْنَ مَنْ كَانُوْا وَحَيْثُ كَانُوْا » . مسند احمد مخرجا رقم الحدیث ۲۲۰۵۲ تتمة مسند الأنصار حَدِيْثُ مُعَاذِ بْنِ جَبَلٍ ، مشکاة المصابیح کتاب الرقاق الفصل الثالث رقم الحدیث ۵۲۲۷(۷۳) ، صحیح ابن حبان مخرجا رقم الحدیث ۶۴۷ ، مجمع الزوائد كِتَابُ عَلَامَاتِ النُّبُوَّةِ بَابٌ فِيْ مَرَضِهٖ وَوَفَاتِهٖ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ رقم الحدیث ۱۴۲۳۸ .

Scanned with CamScanner

بهر حال د تقوی مطلب همدا دی چې انسان د شریعت ټول أوامِر آومني ، ټولو مَنهیاتو منع شي ، او الله ﷻ طرف ته رجوع او کړي .

## په قرآن کريم کې د تقویٰ لفظ په پنځه معناګانو باندې استعمال شوی

په قرآن کريم کې د تقوی لفظ په پنځه معناګانو باندې استعمال شوی :

۱. په معنی د خوف او خشيت سره . يعنې د الله تعالی د عذاب نه ويره کول .

۲. په معنی د عبادت سره .

۳. په معنی د ګناهونو پريخودلو او پرهيزګاری سره .

۴. په معنی د توحيد سره .

۵. په معنی د اخلاص سره . (۱)

---

←←←← وقيل : « هِيَ الإحترازُ بطاعةِ الله عن عُقُوبته وصِيَانةِ النفسِ عما تَستَحِقُّ به العقوبةَ مِنْ فعلٍ أو تركٍ » . وقيل: هي المحافظةُ على آداب الشريعةِ وَمُجَانَبَةُ كُلِّ مَا يُبْعِدُ الْمَرْءَ عَنِ اللهِ تعالَى . وَقِيْلَ: هِيَ تَرْكُ حُظُوْظِ النَّفْسِ وَمُبَايَنَةُ الْهَوَى. وقالَ الفَيْرُوْزآباديُّ : اَلتقوى البَالِغَةُ الْجَامِعَةُ: إِجْتِنَابُ كُلِّ مَا فِيْهِ ضَرَرٌ وَهُوَ الْمَعْصِيَةُ، وَالفُضُوْلُ. فَعَلَى ذَلِكَ تَنْقَسِمُ إلى فرضٍ ونفلٍ. وقِيْلَ: هِيَ التَّجَنُّبُ عَنْ كُلِّ مَا يُؤْثِمُ مِنْ فِعْلٍ أَوْ تَرْكٍ. وقيل: هِيَ امْتِثَالُ أَوَامِرِهِ تَعَالَى وَاجْتِنَابُ نَوَاهِيْهِ بِفِعْلِ كُلِّ مَأْمُوْرٍ بِهِ وَتَرْكِ كُلِّ مَنْهِيٍّ عَنْهُ حَسَبَ الطَّاقَةِ. قَالَ الْحَلِيْمِيُّ : حَقِيْقَةُ التَّقْوى فِعْلُ الْمَأْمُوْرِ بِهِ وَالْمَنْدُوْبِ إِلَيْهِ وِاجْتِنَابُ الْمَنْهِيِّ عَنْهُ وَالْمَكْرُوْهِ الْمُنَزَّهِ عَنْهُ لِأَنَّ الْمُرَادَ مِنَ التَّقْوى وِقَايَةُ الْعَبْدِ نَفْسَهُ مِنَ النَّارِ وَهُوَ إِنَّمَا يَقِيْ نَفْسَهُ مِنَ النَّارِ بِمَا ذَكَرْتُ. نضرة النعيم ج ۴ ص ۱۰۸۰ التقوى . التعريفات للجرجاني ص ٦٥ ، وانظر شعب الإيمان للبيهقي ۷/ ۱۵۷ ، ودليل الفالحين ۱/ ٦۴۲ ، والمفردات للأصفهاني ص ۵۳۰ ، وبصائر ذوي التمييز ۲/ ۳۰۰ .

(۱) وَرَدَ لَفظُ التَّقْوى فِي الْقُرْآنِ الْكَرِيْمِ عَلَى خَمْسَةِ أَوْجُهٍ : ۱. اَلْخَوْفُ وَالْخَشْيَةُ كَمَا في قوله تعالى: ﴿ يَا أَيُّهَا النَّاسُ اتَّقُوْا رَبَّكُمْ إِنَّ زَلْزَلَةَ السَّاعَةِ شَيْءٌ عَظِيْمٌ ﴾ الحج آيه ۱ . ۲. اَلْعِبَادَةُ كما في قوله تعالى: ﴿ يُنَزِّلُ الْمَلَائِكَةَ بِالرُّوْحِ مِنْ أَمْرِهِ عَلَى مَنْ يَشَاءُ مِنْ عِبَادِهِ أَنْ أَنْذِرُوْا أَنَّهُ لَا إِلٰهَ إِلَّا أَنَا فَاتَّقُوْنِ ﴾. النحل آية ۲ . ۳. تَرْكُ الْمَعْصِيَةِ كما في قوله تعالى: ﴿ وَأْتُوا الْبُيُوْتَ مِنْ أَبْوَابِهَا وَاتَّقُوا اللهَ لَعَلَّكُمْ تُفْلِحُوْنَ ﴾ (البقرة آية ۱۸۹) أَيْ لَا تَعْصُوْهُ. ۴. اَلتَّوْحِيْدُ كما في قوله تعالى: ←←←←

او په اصطلاح کې د تقوی یو څو تعریفونه درته ذکر کوم :

۱. حِفْظُ النَّفْسِ عَمَّا يُؤْثِمُ وَذَلِكَ بِتَرْكِ الْمَحْظُوْرِ، وَيَتِمُّ ذَلِكَ بِتَرْكِ بَعْضِ الْمُبَاحَاتِ. (۱)

نفس د ګناه واله څیزونو نه منع کول ، او دا مرتبه (انسان ته) د ممنوع او بعضې مباح شیانو نه په پریخودو سره حاصلیږي .

۲. د تقوی بل تعریف دا دی :

صِيَانَةُ الْمَرْءِ نَفْسَهُ عَمَّا يضرّ فِي الْآخِرَةِ. (۲)

چې انسان خپل ځان د هغه کارونو نه بچ کړي چې په آخرت کې (دده د پاره) ضَرَري وي .

۳. چا د تقوی تعریف داسې کړی :

اَلتَّقْوٰى أَنْ لَا يَرَاكَ مَوْلَاكَ حَيْثُ نَهَاكَ. (۳)

تقوی داده چې ستا رب تا په داسې ځای کې اُو نه ګوري چې د کوم نه هغه ته منع کړې یې. (همدا د تقوی جامع تعریف دی).

ددینه علاوه علماؤ د تقوی نور تعریفونه هم کړي. (۴)

---

(۱) نضرة النعیم ج ۴ ص ۱۰۸۰ التقوی . تفسیر خازن ج ۱ ص ۲۲.

(۲) روح المعاني في تفسير القرآن العظيم والسبع المثاني ج ۱ ص ۱۱۱ سورة البقرة في تشريح آية ۲ .

(۳) التفسير الكبير ج ۲ ص ۲۶۸ سورة البقرة في تشريح آية ۲ .

(۴) فقيل: اَلتَّقْوٰى أَنْ لا يراك الله حيث نهاك ولا يفقدك حيث أمرك. روح المعاني ج ۱ ص ۱۱۱ سورة البقرة في تشريح آية ۲ .

قَالَ عَلِيُّ بْنُ أَبِي طَالِبٍ: اَلتَّقْوٰى تَرْكُ الْإِصْرَارِ عَلَى الْمَعْصِيَةِ، وَتَرْكُ الْإِغْتِرَارِ بِالطَّاعَةِ.

قَالَ الحسن: التقوى أَنْ لا تختار علي اللهِ سِوَى اللهِ، وَتَعْلَمَ أَنَّ الْأُمُوْرَ كُلَّهَا بِيَدِ اللهِ.

وَقَالَ إِبْرَاهِيمُ بْنُ أَدْهَمَ: اَلتَّقْوٰى أَنْ لَا يَجِدَ الْخَلْقُ فِي لِسَانِكَ عَيْبًا . وَلَا الْمَلَائِكَةُ فِي أَفْعَالِكَ عَيْبًا . وَلَا مَلِكُ الْعَرْشِ فِي سِرِّكَ عَيْبًا. وقَالَ الواقدي: اَلتَّقْوٰى أَنْ تُزَيِّنَ سِرَّكَ لِلْحَقِّ كَمَا زَيَّنْتَ ظَاهِرَكَ لِلْخَلْقِ.

وَيُقَالُ: اَلْمُتَّقِيْ مَنْ سَلَكَ سَبِيْلَ الْمُصْطَفَى، وَنَبَذَ الدُّنْيَا وَرَاءَ الْقَفَا، وَكَلَّفَ نَفْسَهُ الْإِخْلَاصَ وَالْوَفَا، وَاجْتَنَبَ الْحَرَامَ وَالْجَفَا. التفسير الكبير ج ۲ ص ۲۶۸ سورة البقرة في تشريح آية ۲ .

وقَالَ الجُرْجَانِيُّ: التَّقوى في الطاعة يُرادُ بها الإخلاص وفي المعصية يُراد بها التَّركُ وَالْحَذَرُ. ←←←←

قبر نه د قیامت نخې ښکاره کیدل شروع کیږي. په حدیث کې هم راځي:

مَنْ مَاتَ فَقَدْ قَامَتْ قِيَامَتُهُ. (۱)

څوک چې مړ شو نو په ده باندې قیامت قائم شو. (۲)

په مشکوة شریف کې په دې باندې مستقل باب لیکلی دی:

بَابُ قُرْبِ السَّاعَةِ وَأَنَّ مَنْ مَاتَ فَقَدْ قَامَتْ قِيَامَتُهُ. (۳)

(باب دی په بیان ددې کې چې قیامت نزدې دی او څوک چې وفات شي نو په ده باندې قیامت قائم شو). بیا ددې باب لاندې ډیر احادیث ذکر دي.

د مذکوره آیت نه بله خبره دا معلومه شوه چې د دُنیا ټول ژوند د آخرت په مقابله کې د یوې ورځې په شان دی (بلکه که حقیقت ته سوچ اوکړې شي نو د دُنیا ټول ژوند د آخرت په مقابله کې ډیر زیات کم دی، ځکه د دُنیا ژوند ختمیدونکې دی او آخرت باقي پاتې کیدونکې دی).

د سورة الحشر په مذکوره آیت کې الله تعالی د تاکید د پاره دوباره د تقوی حکم کړی، فرمایي: ﴿ وَاتَّقُوا اللَّهَ إِنَّ اللَّهَ خَبِيرٌ بِمَا تَعْمَلُونَ ﴾. (۴)

او تاسو د الله نه اُوویریږئ بیشکه الله تعالی په هغه څه خبر دی چې تاسو یې کوئ.

که په ټول قرآن کریم کې صرف یو ځای د تقوی حکم شوې وی نو بیا هم مسلمانانو ته په دې باندې عمل کول لازم وُ حالانکه په قرآن کریم کې ځای په ځای مسلمانانو ته په مختلف انداز سره د تقوی حکم شوی، بلکه داسې آیتونه هم شته چې په هغې کې په یو آیت کې دوه

---

(۱) مرقاة المفاتیح شرح مشكاة المصابیح ج۲ ص ۵۱۵ في تشریح حدیث ۵۷۸.

(۲) تفسیر معارف القرآن سورة الحشر في تشریح آیة ۱۸.

(۳) مشكاة المصابیح ج۳ ص ۱۵۲۵.

په شرح السنة للبغوي کې هم په دې باندې مستقل باب لیکلی:

بَابُ قَوْلِ اللهِ عَزَّ وَجَلَّ: {وَمَا أَمْرُ السَّاعَةِ إِلَّا كَلَمْحِ الْبَصَرِ} [ النحل آیة ۷۷ ] وَأَنَّ مَنْ مَاتَ فَقَدْ قَامَتْ قِيَامَتُهُ.

شرح السنة للبغوي ج ۱۵ ص ۹۷

(۴) الحشر آیة ۱۸.

Scanned with CamScanner

پېرې د تقوى حکم شوى، بلکه په يو آيت کې خو درې پېرې هم د تقوى حکم شوى.(۱)
نو ددينه معلومېږي چې د الله ﷻ په نزد د تقوى ډير لوي مقام دى.

**۲. دويم آيت:** په سورة آل عمران کې ذکر دي:

﴿ يَٰٓأَيُّهَا ٱلَّذِينَ ءَامَنُواْ ٱتَّقُواْ ٱللَّهَ حَقَّ تُقَاتِهِۦ وَلَا تَمُوتُنَّ إِلَّا وَأَنتُم مُّسۡلِمُونَ ﴾.(۲)

اې مؤمنانو! تاسو د الله نه (داسې) اُوويرېږئ لکه څرنګې چې د ويرېدلو حق دى، او تاسو مه مره کيږئ مګر په داسې حالت کې (وفات شئ) چې تاسو مسلمانان يَئ.
(يعنې په همدې تقوى باندې تر مرګه پورې ټينګ پاتې شئ).

**۳. دريم آيت:** الله تعالى فرمايي:

﴿ فَٱتَّقُواْ ٱللَّهَ مَا ٱسۡتَطَعۡتُمۡ ﴾.(۳)

ترجمه: پس تاسو د الله نه اُوويرېږئ څومره چې ستاسو طاقت وي.
شريعت د هر څيز د پاره حد مقرر کړى ليکن د تقوى د پاره يې حد ذکر نکړو بلکه وې فرمايل: چې څومره ستاسو طاقت وي د الله تعالى نه اُوويرېږئ، ددينه معلومېږي چې انسان به د خپل طاقت موافق د ټولو ګناهونو نه ځان ساتي او د الله ﷻ د عذاب نه به ويرېږي.

**۴. څلورم آيت:** الله تعالى فرمايي:

﴿ يَٰٓأَيُّهَا ٱلَّذِينَ ءَامَنُواْ ٱتَّقُواْ ٱللَّهَ وَقُولُواْ قَوۡلٗا سَدِيدٗا ۝ يُصۡلِحۡ لَكُمۡ أَعۡمَٰلَكُمۡ وَيَغۡفِرۡ لَكُمۡ ذُنُوبَكُمۡۗ وَمَن يُطِعِ ٱللَّهَ وَرَسُولَهُۥ فَقَدۡ فَازَ فَوۡزًا عَظِيمًا ﴾.(۱)

(۱) د سورة المائدة په يو آيت کې درې پېرې د تقوى تذکره شوى، الله تعالى فرمايي: ﴿لَيۡسَ عَلَى ٱلَّذِينَ ءَامَنُواْ وَعَمِلُواْ ٱلصَّٰلِحَٰتِ جُنَاحٞ فِيمَا طَعِمُوٓاْ إِذَا مَا ٱتَّقَواْ وَّءَامَنُواْ وَعَمِلُواْ ٱلصَّٰلِحَٰتِ ثُمَّ ٱتَّقَواْ وَّءَامَنُواْ ثُمَّ ٱتَّقَواْ وَّأَحۡسَنُواْۚ وَٱللَّهُ يُحِبُّ ٱلۡمُحۡسِنِينَ﴾. المائدة آية ۹۳.
(۲) آل عمران آية ۱۰۲.
(۳) التغابن آية ۱٦.

Scanned with CamScanner

ترجمه: اې ایمان والو! د الله نه اُووېرېږئ او سمه (رېښتینې) خبره کوئ، الله به ستاسو عملونه درست (او قبول) کړي، او تاسو ته به ستاسو ګناهونه معاف کړي، او څوک چې د الله او دهغه د رسول اِطاعت اوکړي نو بیشکه هغه په لوي کامیابۍ سره کامیاب شو.

## عامو انسانانو ته د تقوی حکم

الله تعالی لکه څرنګې چې خاصکر مؤمنانو ته د تقوی حکم کړی نو همدغه شان یې عامو انسانانو ته هم د تقوی حکم کړی، فرمایي:

﴿ يَاأَيُّهَا النَّاسُ اتَّقُوا رَبَّكُمُ الَّذِي خَلَقَكُم مِّن نَّفْسٍ وَاحِدَةٍ وَخَلَقَ مِنْهَا زَوْجَهَا وَبَثَّ مِنْهُمَا رِجَالًا كَثِيرًا وَنِسَاءً ۚ وَاتَّقُوا اللَّهَ الَّذِي تَسَاءَلُونَ بِهِ وَالْأَرْحَامَ ۚ إِنَّ اللَّهَ كَانَ عَلَيْكُمْ رَقِيبًا ﴾.(٢)

ترجمه: اې خلقو! تاسو د خپل رب نه اُووېرېږئ کوم رب چې تاسو د یو کس (حضرت آدم علیه السلام) نه پیدا کړی، او د هم هغه (یو کس) نه یې د هغه بي بي (حضرت حواء رضي الله عنها هم) پیدا کړه، او (بیا) د هغه دواړو نه یې (په مخ د زمکه باندې) ډیر سړي او ښځې خواره کړل، او تاسو د هغه الله نه اُووېرېږئ د کوم په واسطې سره چې تاسو د یو بل نه سوال کوئ، او د خپلولۍ (کټ کولو) نه اُووېرېږئ، بیشکه الله تعالی په تاسو باندې نګران دی.

**فائده:** په دې آیت کې هم دوه پېرې انسانانو ته د تقوی (د الله ﷻ نه د ېرېدو) حکم شوی، خو په دویم ځل باندې په یو خاص عنوان سره دا حکم شوی: (چې تاسو د هغه الله ﷻ نه اُووېرېږئ چې د هغه په نوم سره تاسو د یو بل نه خپل حقوق غواړئ)، یعنی کله چې د نورو خلقو نه خپل حقوق غواړې نو دا ورته وایې:

"د الله ﷻ نه اُووېرېږه زما حق راکړه".

---

(١) الاحزاب آية ٧٠، ٧١.

(٢) النساء آية ١.

Scanned with CamScanner

نو چې کله نور خلق د الله تعالی د مخالفت نه یَروی، نو تاسو هم د الله ﷻ د مخالفت نه اُوویریږئ، ییا خاصکر د خپلولی د حقوقو ضائع کولو نه هم اُوویریږئ. (۱)

## مخکیني تولو اُمتونو ته هم د تقوی حکم شوی وُ

د تقوی حکم لکه څرنګې چې دې اُمت ته شوی نو همدغه شان مخکې تولو اُمتونو (اهل کتابو) ته هم شوی وُ، الله تعالی فرمایي:

﴿ وَلَقَدْ وَصَّيْنَا الَّذِينَ أُوتُوا الْكِتَٰبَ مِن قَبْلِكُمْ وَإِيَّاكُمْ أَنِ اتَّقُوا اللَّهَ ﴾. (۲)

ترجمه: او بیشکه مونږ د تاسو نه وړاندې اهل کتابو ته هم دا حکم کړې وُ او تاسو ته هم دا حکم کوو چې د الله تعالی نه اُوویریږئ.

## مخکیني پیغمبرانو او نبي علیه السلام ته د تقوی حکم

د تقوی اَهمیت تاسو ددینه هم معلومولې شی. چې مخکیني پیغمبرانو ته هم د تقوی حکم شوی وُ. (۳)

ییا خاصکر نبي علیه السلام ته هم د تقوی حکم شوی وُ، الله تعالی فرمایي:

﴿ يَٰٓأَيُّهَا النَّبِيُّ اتَّقِ اللَّهَ وَلَا تُطِعِ الْكَٰفِرِينَ وَالْمُنَٰفِقِينَ إِنَّ اللَّهَ كَانَ عَلِيمًا حَكِيمًا ﴾. (۴)

ترجمه: اې پیغمبره! ته د الله ﷻ نه اُوویریږه، او د کافرانو او منافقانو فرمانبرداري مه کوه (یعني د دوی خبره مه مَنه) بیشکه الله تعالی په هغه کارونو (بنه) خبر دی کوم چې

---

(۱) تفسیر معارف القرآن سورة النساء في تشريح آية ۱.

(۲) النساء آية ۱۳۱.

﴿ وَلَقَدْ وَصَّيْنَا الَّذِينَ أُوتُوا الْكِتَٰبَ مِن قَبْلِكُمْ ﴾ يَعْنِي: أَهْلَ التَّوْرَاةِ وَالْإِنْجِيلِ وَسَائِرَ الْأُمَمِ الْمُتَقَدِّمَةِ فِي كتبهم. ﴿ وَإِيَّاكُمْ ﴾ يا أَهْلَ الْقُرْآنِ فِي كِتَابِكُمْ. ﴿ أَنِ اتَّقُوا اللَّهَ ﴾ أَيْ: وَحِّدُوا اللَّهَ وَأَطِيعُوهُ. معالم التنزيل في تفسير القرآن (تفسير البغوي) ج ۱ ص ۷۱۱ سورة النساء آية ۱۳۱.

(۳) الله تعالی فرمایي: ﴿ يَٰٓأَيُّهَا الرُّسُلُ كُلُوا مِنَ الطَّيِّبَٰتِ وَاعْمَلُوا صَٰلِحًا إِنِّي بِمَا تَعْمَلُونَ عَلِيمٌ ۝ وَإِنَّ هَٰذِهِۦٓ أُمَّتُكُمْ أُمَّةً وَٰحِدَةً وَأَنَا۠ رَبُّكُمْ فَاتَّقُونِ ﴾ المؤمنون آية ۵۱، ۵۲.

(۴) الاحزاب آية ۱.

Scanned with CamScanner

تاسو کوی.

**د حافظ ابن کثیر رَحِمَهُ اللهُ تحقیق :** حافظ ابن کثیر رَحِمَهُ اللهُ فرمايي چې کله په دې آيت کې الله تعالی خپل رسول ته د تقوی حکم اوکړو نو نورو اُمتيانو ته خو به په طريقِ اولی باندې د تقوی حکم وي. (۱)

په نبي عليه السلام کې تقوی په کاملې درجې سره وه خو په مذکوره آيت کې ورته په تقوی باندې د قائم پاتې کيدو حکم شوی.

يا په ظاهره باندې خطاب نبي عليه السلام ته دی خو مراد ورنه ټول اُمت دی. (۲)

## اَزواجِ مُطهّرات ته د تقوی حکم

د رسولُ الله صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ بيبيانو (اَزواج مُطهّرات) ته هم د تقوی حکم شوې ؤ، الله تعالی ورته فرمايي:

﴿ وَاتَّقِينَ اللَّهَ ۚ إِنَّ اللَّهَ كَانَ عَلَىٰ كُلِّ شَيْءٍ شَهِيدًا ﴾. (۳)

ترجمه: او تاسو د الله جَلَّ جَلَالُهُ نه اُوويريږئ بيشکه الله تعالی په هر څيز باندې ګواه دی.

## ټولو پيغمبرانو خپل قوم ته د تقوی حکم کړې ؤ

هر يو پيغمبر خپل قوم ته د تقوی (د الله جَلَّ جَلَالُهُ د عذاب نه د ويريدو) حکم کړې ؤ:

حضرت نوح عَلَيْهِ السَّلَامُ ، حضرت هود عَلَيْهِ السَّلَامُ ، حضرت صالح عَلَيْهِ السَّلَامُ ، حضرت لوط عَلَيْهِ السَّلَامُ ،

---

(۱) هٰذَا تَنْبِيهٌ بِالْأَعْلَى عَلَى الْأَدْنَى. فَإِنَّهُ تَعَالَى إِذَا كَانَ يَأْمُرُ عَبْدَهُ وَرَسُولَهُ بِهٰذَا، فَلَأَنْ يَأْتَمِرَ مِنْ دُونِهِ بِذٰلِكَ بِطَرِيقِ الْأَوْلَى والأحرى. تفسير ابن كثير ج ٦ ص ٣٣٥ سورة الاحزاب في تشريح آية ١.

﴿ يا أَيُّهَا النَّبِيُّ اتَّقِ اللَّهَ ﴾ الاية ناداه بالنبي ولم يقل يا محمد وامره بالتقوى تعظيما وتفخيما لشأن التقوى. التفسير المظهري ج ٧ ص ٢٨١ سورة الاحزاب في تشريح آية ١.

(۲) ﴿ يَا أَيُّهَا النَّبِيُّ اتَّقِ اللَّهَ ﴾ أَيْ دُمْ عَلَى التَّقْوَى، كَالرَّجُلِ يَقُولُ لِغَيْرِهِ وَهُوَ قَائِمٌ قُمْ هَاهُنَا أَيِ اثْبُتْ قَائِمًا. وَقِيلَ: الْخِطَابُ مَعَ النَّبِيِّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وَالْمُرَادُ بِهِ الْأُمَّةُ. تفسير البغوي ج ٣ ص ٦٠٦ سورة الاحزاب في تشريح آية ١. والتفسير المظهري ج ٧ ص ٢٨١ سورة الاحزاب في تشريح آية ١.

(۳) الاحزاب آية ٥٥.

Scanned with CamScanner

حضرت شعیب علیه السلام ، او حضرت عیسی علیه السلام خپلو قومونو ته فرمایلي وو :

﴿ فَاتَّقُوا اللّٰهَ وَاَطِيْعُوْنِ ﴾ .(۱)

---

(۱) الله تعالی د حضرت نوح علیه السلام خپل قوم ته د دعوت خبره داسې رانقل کړی : ﴿ كَذَّبَتْ قَوْمُ نُوْحِ الْمُرْسَلِيْنَ ۝ اِذْ قَالَ لَهُمْ اَخُوْهُمْ نُوْحٌ اَلَا تَتَّقُوْنَ ۝ اِنِّيْ لَكُمْ رَسُوْلٌ اَمِيْنٌ ۝ فَاتَّقُوا اللّٰهَ وَاَطِيْعُوْنِ ۝ وَمَآ اَسْـَٔلُكُمْ عَلَيْهِ مِنْ اَجْرٍ اِنْ اَجْرِيَ اِلَّا عَلٰى رَبِّ الْعٰلَمِيْنَ ۝ فَاتَّقُوا اللّٰهَ وَاَطِيْعُوْنِ ﴾ .الشعراء آية ۱۰۵ تا ۱۱۰ .

الله تعالی د حضرت هود علیه السلام خپل قوم ته د دعوت خبره داسې رانقل کړی : ﴿ كَذَّبَتْ عَادُ الْمُرْسَلِيْنَ ۝ اِذْ قَالَ لَهُمْ اَخُوْهُمْ هُوْدٌ اَلَا تَتَّقُوْنَ ۝ اِنِّيْ لَكُمْ رَسُوْلٌ اَمِيْنٌ ۝ فَاتَّقُوا اللّٰهَ وَاَطِيْعُوْنِ ۝ وَمَآ اَسْـَٔلُكُمْ عَلَيْهِ مِنْ اَجْرٍ اِنْ اَجْرِيَ اِلَّا عَلٰى رَبِّ الْعٰلَمِيْنَ ۝ اَتَبْنُوْنَ بِكُلِّ رِيْعٍ اٰيَةً تَعْبَثُوْنَ ۝ وَتَتَّخِذُوْنَ مَصَانِعَ لَعَلَّكُمْ تَخْلُدُوْنَ ۝ وَاِذَا بَطَشْتُمْ بَطَشْتُمْ جَبَّارِيْنَ ۝ فَاتَّقُوا اللّٰهَ وَاَطِيْعُوْنِ ﴾ .الشعراء آية ۱۲۳ تا ۱۳۱ .

الله تعالی د حضرت صالح علیه السلام خپل قوم ته د دعوت خبره داسې رانقل کړی : ﴿ كَذَّبَتْ ثَمُوْدُ الْمُرْسَلِيْنَ ۝ اِذْ قَالَ لَهُمْ اَخُوْهُمْ صٰلِحٌ اَلَا تَتَّقُوْنَ ۝ اِنِّيْ لَكُمْ رَسُوْلٌ اَمِيْنٌ ۝ فَاتَّقُوا اللّٰهَ وَاَطِيْعُوْنِ ۝ وَمَآ اَسْـَٔلُكُمْ عَلَيْهِ مِنْ اَجْرٍ اِنْ اَجْرِيَ اِلَّا عَلٰى رَبِّ الْعٰلَمِيْنَ ۝ اَتُتْرَكُوْنَ فِيْ مَا هٰهُنَآ اٰمِنِيْنَ ۝ فِيْ جَنّٰتٍ وَّعُيُوْنٍ ۝ وَّزُرُوْعٍ وَّنَخْلٍ طَلْعُهَا هَضِيْمٌ ۝ وَتَنْحِتُوْنَ مِنَ الْجِبَالِ بُيُوْتًا فٰرِهِيْنَ ۝ فَاتَّقُوا اللّٰهَ وَاَطِيْعُوْنِ ﴾ .الشعراء آية ۱۴۱ تا ۱۵۰ .

الله تعالی د حضرت لوط علیه السلام خپل قوم ته د دعوت خبره داسې رانقل کړی : ﴿ كَذَّبَتْ قَوْمُ لُوْطِ الْمُرْسَلِيْنَ ۝ اِذْ قَالَ لَهُمْ اَخُوْهُمْ لُوْطٌ اَلَا تَتَّقُوْنَ ۝ اِنِّيْ لَكُمْ رَسُوْلٌ اَمِيْنٌ ۝ فَاتَّقُوا اللّٰهَ وَاَطِيْعُوْنِ ۝ وَمَآ اَسْـَٔلُكُمْ عَلَيْهِ مِنْ اَجْرٍ اِنْ اَجْرِيَ اِلَّا عَلٰى رَبِّ الْعٰلَمِيْنَ ﴾ .الشعراء آية ۱۶۰ تا ۱۶۴ .

الله تعالی د حضرت شعیب علیه السلام خپل قوم ته د دعوت خبره داسې رانقل کړی : ﴿ كَذَّبَ اَصْحٰبُ لْئَيْكَةِ الْمُرْسَلِيْنَ ۝ اِذْ قَالَ لَهُمْ شُعَيْبٌ اَلَا تَتَّقُوْنَ ۝ اِنِّيْ لَكُمْ رَسُوْلٌ اَمِيْنٌ ۝ فَاتَّقُوا اللّٰهَ وَاَطِيْعُوْنِ ۝ وَمَآ اَسْـَٔلُكُمْ عَلَيْهِ مِنْ اَجْرٍ اِنْ اَجْرِيَ اِلَّا عَلٰى رَبِّ الْعٰلَمِيْنَ ۝ اَوْفُوا الْكَيْلَ وَلَا تَكُوْنُوْا مِنَ الْمُخْسِرِيْنَ ۝ وَزِنُوْا بِالْقِسْطَاسِ الْمُسْتَقِيْمِ ۝ وَلَا تَبْخَسُوا النَّاسَ اَشْيَآءَهُمْ وَلَا تَعْثَوْا فِي الْاَرْضِ مُفْسِدِيْنَ ۝ وَاتَّقُوا الَّذِيْ خَلَقَكُمْ وَالْجِبِلَّةَ الْاَوَّلِيْنَ ﴾ .الشعراء آية ۱۷۶ تا ۱۸۴ .

Scanned with CamScanner

ترجمه: تاسو د الله ﷻ نه اُووېرېږئ او زما اطاعت اوکړئ.

حضرت ابراهیم عليه السلام هم خپل قوم ته فرمائلي وو:

﴿اُعْبُدُوا اللّٰهَ وَاتَّقُوْهُ ذٰلِكُمْ خَيْرٌ لَّكُمْ اِنْ كُنْتُمْ تَعْلَمُوْنَ﴾. (۱)

ترجمه: تاسو د الله ﷻ عبادت کوئ او د هغه نه اُووېرېږئ، دا خبره ستاسو د پاره ډېره بهتر ده که چیرته تاسو پوهیږئ.

الله تعالی نبي ﷺ ته هم فرمائلي وو: ﴿قُلْ يٰعِبَادِ الَّذِيْنَ اٰمَنُوا اتَّقُوْا رَبَّكُمْ﴾. (۲)

ترجمه: (اې پيغمبره!) ته (زما د طرفه دې خلقو ته) اووايه: اې زما مؤمنانو بندګانو! تاسو د خپل رب نه اُووېرېږئ.

**د خطبې په آیتونو کې د تقوی حکم:** رسول الله صلی الله علیه وسلم به چې په خطبه کې کوم آیتونه ویل په هغې کې هم څلور ځېرې د تقوی حکم شوې وُ.

او صحابه کرامو رضی الله عنهم ته یې هم دا حکم کړې وُ چې تاسو دا آیتونه په خپلو خطبو کې وایئ. ددینه هم معلومیږي چې نبي علیه السلام به په خپل دعوت کې د تقوی ډېر تاکید کولو. (۳)

---

←←←← الله تعالی د حضرت عیسی علیه السلام خپل قوم ته د دعوت خبره داسې رانقل کړې: ﴿وَلَمَّا جَآءَ عِيْسٰى بِالْبَيِّنٰتِ قَالَ قَدْ جِئْتُكُمْ بِالْحِكْمَةِ وَلِاُبَيِّنَ لَكُمْ بَعْضَ الَّذِيْ تَخْتَلِفُوْنَ فِيْهِ فَاتَّقُوا اللّٰهَ وَاَطِيْعُوْنِ ۝ اِنَّ اللّٰهَ هُوَ رَبِّيْ وَرَبُّكُمْ فَاعْبُدُوْهُ هٰذَا صِرَاطٌ مُّسْتَقِيْمٌ﴾. زخرف آیة ۶۳ تا ۶۴.

حضرت الیاس علیه السلام هم خپل قوم ته د تقوی حکم کړې وُ: ﴿وَاِنَّ اِلْيَاسَ لَمِنَ الْمُرْسَلِيْنَ ۝ اِذْ قَالَ لِقَوْمِهٖ اَلَا تَتَّقُوْنَ﴾. الصافات آیة ۱۲۳ تا ۱۲۴.

(۱) پوره آیت داسې دی: ﴿وَاِبْرٰهِيْمَ اِذْ قَالَ لِقَوْمِهِ اعْبُدُوا اللّٰهَ وَاتَّقُوْهُ ذٰلِكُمْ خَيْرٌ لَّكُمْ اِنْ كُنْتُمْ تَعْلَمُوْنَ﴾ العنكبوت آیة ۱۶.

(۲) الزمر آیة ۱۰.

(۳) نبي علیه السلام به په خطبه کې دا آیتونه ویل: ﴿يٰاَيُّهَا الَّذِيْنَ اٰمَنُوا اتَّقُوا اللّٰهَ حَقَّ تُقٰتِهٖ وَلَا تَمُوْتُنَّ اِلَّا وَاَنْتُمْ مُّسْلِمُوْنَ﴾ آل عمران آیة ۱۰۲ ←←←←←←←

Scanned with CamScanner

# نبي علیه السلام هم خپل امت ته د تقوٰی حکم کړي ؤ

نبي کریم صلی الله علیه وسلم په مختلفو موقعو صحابه کرامو ته د تقوی حکم کړی :

۱. په یوه موقع یې صحابه کرامو رضي الله عنهم ته نصیحت کولو په هغې کې یې، ته دا هم اوفرمایل: أُوصِيكُمْ بِتَقْوَى اللهِ وَالسَّمْعِ وَالطَّاعَةِ . زه تاسو ته د تقوی وصیت کوم. (۱)

۲. حضرت ابوسعید خدري رضي الله عنه ته چې پیغمبر علیه السلام وصیت کولو نو په هغې کې یې ورته دا هم فرمایلي وو :

أُوصِيكَ بِتَقْوَى اللهِ فَإِنَّهُ رَأْسُ كُلِّ شَيْءٍ . (۲)

---

←←← ﴿ يَا أَيُّهَا النَّاسُ اتَّقُوا رَبَّكُمُ الَّذِي خَلَقَكُمْ مِنْ نَفْسٍ وَاحِدَةٍ وَخَلَقَ مِنْهَا زَوْجَهَا وَبَثَّ مِنْهُمَا رِجَالًا كَثِيرًا وَنِسَاءً وَاتَّقُوا اللهَ الَّذِي تَسَاءَلُونَ بِهِ وَالْأَرْحَامَ إِنَّ اللهَ كَانَ عَلَيْكُمْ رَقِيبًا ﴾. النساء آية ۱ .

﴿ يَا أَيُّهَا الَّذِينَ آمَنُوا اتَّقُوا اللهَ وَقُولُوا قَوْلًا سَدِيدًا ۝ يُصْلِحْ لَكُمْ أَعْمَالَكُمْ وَيَغْفِرْ لَكُمْ ذُنُوبَكُمْ وَمَنْ يُطِعِ اللهَ وَرَسُولَهُ فَقَدْ فَازَ فَوْزًا عَظِيمًا ﴾. الاحزاب آية ۷۰ ، ۷۱ .

(۱) پوره حدیث داسې دی : عَنِ الْعِرْبَاضِ بْنِ سَارِيَةَ رضي الله عنه . قَالَ : وَعَظَنَا رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَوْمًا بَعْدَ صَلَاةِ الْغَدَاةِ مَوْعِظَةً بَلِيغَةً ذَرَفَتْ مِنْهَا الْعُيُونُ وَ وَجِلَتْ مِنْهَا الْقُلُوبُ. فَقَالَ رَجُلٌ : إِنَّ هٰذِهِ مَوْعِظَةُ مُوَدِّعٍ فَمَاذَا تَعْهَدُ إِلَيْنَا يَا رَسُولَ اللهِ ؟ قَالَ : أُوصِيكُمْ بِتَقْوَى اللهِ وَالسَّمْعِ وَالطَّاعَةِ، وَإِنْ عَبْدٌ حَبَشِيٌّ، فَإِنَّهُ مَنْ يَعِشْ مِنْكُمْ يَرَى اخْتِلَافًا كَثِيرًا. وَإِيَّاكُمْ وَمُحْدَثَاتِ الْأُمُورِ فَإِنَّهَا ضَلَالَةٌ فَمَنْ أَدْرَكَ ذٰلِكَ مِنْكُمْ فَعَلَيْهِ بِسُنَّتِي وَسُنَّةِ الْخُلَفَاءِ الرَّاشِدِينَ الْمَهْدِيِّينَ، عَضُّوا عَلَيْهَا بِالنَّوَاجِذِ . سنن الترمذي أَبْوَابُ الْعِلْمِ بَابُ مَا جَاءَ فِي الْأَخْذِ بِالسُّنَّةِ وَاجْتِنَابِ الْبِدَعِ رقم الحديث ۲۶۷۶ وقال الترمذي : هٰذَا حَدِيثٌ حَسَنٌ صَحِيحٌ سنن ابی داؤد كِتَابُ السُّنَّةِ بَابٌ فِي لُزُومِ السُّنَّةِ رقم الحديث ۴۶۰۷ ، المستدرک علی الصحيحين للحاکم رقم الحديث ۳۲۹ .

(۲) عَنْ أَبِي سَعِيدٍ الْخُدْرِيِّ رضي الله عنه أَنَّ رَجُلًا جَاءَهُ فَقَالَ : أَوْصِنِي . فَقَالَ : سَأَلْتَ عَمَّا سَأَلْتُ عَنْهُ رَسُولَ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ مِنْ قَبْلِكَ . « أُوصِيكَ بِتَقْوَى اللهِ فَإِنَّهُ رَأْسُ كُلِّ شَيْءٍ ، وَعَلَيْكَ بِالْجِهَادِ فَإِنَّهُ رَهْبَانِيَّةُ الْإِسْلَامِ . وَعَلَيْكَ بِذِكْرِ اللهِ وَتِلَاوَةِ الْقُرْآنِ فَإِنَّهُ رَوْحُكَ فِي السَّمَاءِ وَذِكْرُكَ فِي الْأَرْضِ » . مسند احمد مخرجا رقم الحديث ۱۱۷۷۴ ، مجمع الزوائد كِتَابُ الْوَصَايَا بَابُ وَصِيَّةِ رَسُولِ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ رقم الحديث ۷۱۱۱ .

Scanned with CamScanner

زه تا ته د الله ﷻ نه د یریدو وصیت کوم ځکه دا د هر شي جَرړه او بُنیاد دی.

۳ . حضرت ابوهریرة رضي الله عنه فرمایي : یو سړی نبي علیه السلام ته راغی چې د سفر اراده یې لرله، هغه او فرمایل : يَا رَسُوْلَ اللهِ ! أَوْصِنِيْ.

اې د الله رسوله ! ما ته وصیت او کړه.

رسول الله صلی الله علیه وسلم ورته او فرمایل :

أُوصِيكَ بِتَقْوَى اللهِ، وَالتَّكْبِيرِ عَلَى كُلِّ شَرَفٍ .

زه تا ته د الله ﷻ نه د یریدو وصیت کوم او په هر اُوچت ځای باندې د ختلو په وخت د رته د تکبیر ( اَللّٰهُ أَكْبَر ) ویلو وصیت کوم. (۱)

٤ . حضرت ابوذر رضي الله عنه فرمایي چې ما ته رسول الله صلی الله علیه وسلم او فرمایل :

اِتَّقِ اللهِ حَيْثُمَا كُنْتَ، وَأَتْبِعِ السَّيِّئَةَ الْحَسَنَةَ تَمْحُهَا، وَخَالِقِ النَّاسَ بِخُلُقٍ حَسَنٍ . (۲)

ته چې هر چیرته یې د الله ﷻ نه ویریږه، د بَدی پسې نیکي کوه نو دا نیکي به دا بَدي ختمه کړي، او د خلقو سره ښه اخلاق کوه ( یعنی د خوش اخلاقی معامله ورسره کوه ).

حضرت ابوذر رضي الله عنه ته نبي علیه السلام دا هم فرمایلي وو :

---

(۱) عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ رضي الله عنه . قَالَ : جَاءَ رَجُلٌ إِلَى النَّبِيِّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يُرِيدُ سَفَرًا . فَقَالَ : يَا رَسُوْلَ اللهِ ! أَوْصِنِيْ. قَالَ: « أُوصِيكَ بِتَقْوَى اللهِ، وَالتَّكْبِيرِ عَلَى كُلِّ شَرَفٍ » فَلَمَّا وَلَّى الرَّجُلُ. قَالَ النَّبِيُّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: «اَللّٰهُمَّ ازْوِ لَهُ الْأَرْضَ وَهَوِّنْ عَلَيْهِ السَّفَرَ » . مسند احمد مخرجا رقم الحديث ۸۳۱۰ ، و رقم الحديث ۹۷۲۴، و رقم الحديث ۱۰۱٦٥ ، مصنف ابن ابي شيبة رقم الحديث ۳۳٦۲۳ ، سنن ابن ماجة رقم الحديث ۲۷۷۱ ، السنن الكبرى للنسائي رقم الحديث ۱۰۲٦٦ ، صحيح ابن خزيمة رقم الحديث ۲٥٦۱ ، صحيح ابن حبان رقم الحديث ۲۷۰۲ .

(۲) سنن الترمذي أَبْوَابُ الْبِرِّ وَالصِّلَةِ بَابُ مَا جَاءَ فِي مُعَاشَرَةِ النَّاسِ رقم الحديث ۱۹۸۷ وقال الترمذي: هَذَا حَدِيثٌ حَسَنٌ صَحِيحٌ. مسند احمد رقم الحديث ۲۱۳٥۴ ، و رقم الحديث ۲۱۴۰۳ ، و رقم الحديث ۲۱۹۸۸ ، سنن الدارمي رقم الحديث ۲۸۳۳ ، المعجم الاوسط رقم الحديث ۳۷۷۹ ، المعجم الكبير للطبراني رقم الحديث ۲۹٦ ، و رقم الحديث ۲۹۷ ، المستدرك على الصحيحين للحاكم رقم الحديث ۱۷۸ وقال الحاكم : هَذَا حَدِيثٌ صَحِيحٌ عَلَى شَرْطِ الشَّيْخَيْنِ، وَلَمْ يُخَرِّجَاهُ. و وافقه الذهبي ، مشكاة المصابيح باب الرفق والحياء وحسن الخلق الفصل الثاني رقم الحديث ۵۰۸۳ (۱٦)

Scanned with CamScanner

أُوصِيكَ بِتَقْوَى اللهِ فِي سِرِّ أَمْرِكَ وَعَلَانِيَتِهِ .(۱)
زه تاته وصیت کوم چې په خپلو پټو اُمورو او ښکاره اُمورو کې د الله تعالی نه اُوویریږه .

۵ . حضرت سُلیم بن جابر ﷺ ته چې نبي علیه السلام وصیت کولو نو دا یې هم ورته فرمایلي وو : عَلَيْكَ بِاتِّقَاءِ اللهِ .
ته په ځان باندې د الله ﷻ نه یَره لازم کړه . ( یعنی د الله تعالی د عذاب نه ویریږه ) .(۲)

۶ . په بخاري شریف کې دا حدیث ذکر دی چې رسولُ الله صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ په داسې یوه زَنانه باندې تېر شو چې د یو قبر سره ناسته وه او ژړل یې . نبي علیه السلام ورته اوفرمایل :
إِتَّقِي اللهَ وَاصْبِرِي . د الله ﷻ نه اُوویریږه او صبره کوه .(۳)

---

(۱) عَنْ أَبِي ذَرٍّ ﷺ أَنَّ رَسُولَ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ : «سِتَّةَ أَيَّامٍ . ثُمَّ اعْقِلْ يَا أَبَا ذَرٍّ مَا أَقُولُ لَكَ بَعْدُ» فَلَمَّا كَانَ الْيَوْمُ السَّابِعُ . قَالَ : « أُوصِيكَ بِتَقْوَى اللهِ فِي سِرِّ أَمْرِكَ وَعَلَانِيَتِهِ . وَإِذَا أَسَأْتَ فَأَحْسِنْ ، وَلَا تَسْأَلَنَّ أَحَدًا شَيْئًا وَإِنْ سَقَطَ سَوْطُكَ ، وَلَا تَقْبِضْ أَمَانَةً ، وَلَا تَقْضِ بَيْنَ اثْنَيْنِ » . مسند احمد مخرجا رقم الحديث ۲۱۵۷۳ ، مشكاة المصابيح كتاب الإمارة والقضاء الفصل الثالث رقم الحديث ۳۷۱۳(۵۳) ، مجمع الزوائد كتاب الزكاة باب ما جاء في السؤال رقم الحديث ۴۵۰۴ وقال الهيثمي : رواه أحمد ، ورجاله ثقات .

(۲) پوره حدیث داسې دی : عَنْ سُلَيْمِ بْنِ جَابِرٍ الْهُجَيْمِيِّ ﷺ قَالَ : أَتَيْتُ النَّبِيَّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وَهُوَ مُحْتَبٍ فِي بُرْدَةٍ ، وَإِنَّ هُدَّابَهَا لَعَلَى قَدَمَيْهِ ، فَقُلْتُ : يَا رَسُولَ اللهِ ! أَوْصِنِي . قَالَ : « عَلَيْكَ بِاتِّقَاءِ اللهِ ، وَلَا تَحْقِرَنَّ مِنَ الْمَعْرُوفِ شَيْئًا وَلَوْ أَنْ تُفْرِغَ لِلْمُسْتَسْقِي مِنْ دَلْوِكَ فِي إِنَائِهِ أَوْ تُكَلِّمَ أَخَاكَ وَوَجْهُكَ مُنْبَسِطٌ ، وَإِيَّاكَ وَإِسْبَالَ الْإِزَارِ ، فَإِنَّهَا مِنَ الْمَخِيلَةِ وَلَا يُحِبُّهَا اللهُ ، وَإِنِ امْرُؤٌ عَيَّرَكَ بِشَيْءٍ يَعْلَمُهُ مِنْكَ فَلَا تُعَيِّرْهُ بِشَيْءٍ تَعْلَمُهُ مِنْهُ ، دَعْهُ يَكُونُ وَبَالُهُ عَلَيْهِ وَأَجْرُهُ لَكَ ، وَلَا تَسُبَّنَّ شَيْئًا » ، قَالَ : فَمَا سَبَبْتُ بَعْدُ دَابَّةً وَلَا إِنْسَانًا . الادب المفرد مخرجا باب الإحتباء ص ۴۰۳ رقم الحديث ۱۱۸۲ قال الالباني : صحيح . السنن الكبرى للنسائي رقم الحديث ۹۶۱۲ ، و رقم الحديث ۹۶۱۳ ، صحيح ابن حبان محققا كتاب البر والإحسان فصل من البر والإحسان رقم الحديث ۵۲۱ .

(۳) عَنْ أَنَسِ بْنِ مَالِكٍ رَضِيَ اللهُ عَنْهُ ، قَالَ : مَرَّ النَّبِيُّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ بِامْرَأَةٍ عِنْدَ قَبْرٍ وَهِيَ تَبْكِي ، فَقَالَ : إِتَّقِي اللهَ وَاصْبِرِي . صحيح البخاري كتاب الجنائز باب قول الرجل للمرأة عند القبر : اصبري رقم الحديث ۱۲۵۲ .
وفي رواية : عَنْ أَنَسِ بْنِ مَالِكٍ رَضِيَ اللهُ عَنْهُ ، قَالَ : مَرَّ النَّبِيُّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ ←←←←←←←

Scanned with CamScanner
Scanned with CamScanner

۷ . په یوه موقع باندې نبي علیه السلام حضرت حفصه رضي الله عنها ته او فرمایل :

إِتَّقِي اللهَ يَا حَفْصَةُ . اې حفصه ! د الله ﷻ نه اُووېرېږه . (۱)

۸ . نبي علیه السلام په آخري وخت کې هم د مانځه او تقوی ( یعنی د الله ﷻ نه د یریدو ) حکم کړې وُ . (۲)

## نبي علیه السلام به د لښکر أمیر ته په خاص طور باندې د تقوٰی وصیت کولو

په مسلم شریف کې اُوږد حدیث دی ، د هغې په سَر کې ذکر دي :

كَانَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ إِذَا أَمَّرَ أَمِيرًا عَلَى جَيْشٍ أَوْ سَرِيَّةٍ أَوْصَاهُ فِي خَاصَّتِهِ بِتَقْوَى اللهِ، وَمَنْ مَعَهُ مِنَ الْمُسْلِمِينَ خَيْرًا . (۳)

---

←←←←← بِامْرَأَةٍ تَبْكِي عِنْدَ قَبْرٍ، فَقَالَ: «اِتَّقِي اللهَ وَاصْبِرِي» قَالَتْ: إِلَيْكَ عَنِّي فَإِنَّكَ لَمْ تُصَبْ بِمُصِيبَتِي، وَلَمْ تَعْرِفْهُ. فَقِيلَ لَهَا: إِنَّهُ النَّبِيُّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ. فَأَتَتْ بَابَ النَّبِيِّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَلَمْ تَجِدْ عِنْدَهُ بَوَّابِينَ. فَقَالَتْ: لَمْ أَعْرِفْكَ، فَقَالَ: «إِنَّمَا الصَّبْرُ عِنْدَ الصَّدْمَةِ الْأُولَى». صحيح البخاري كِتَابُ الجَنَائِزِ بَابُ زِيَارَةِ القُبُورِ رقم الحديث ۱۲۸۳ ، و رقم الحديث ۷۱۵۴؛ صحيح مسلم رقم الحديث ۱۵(۹۲۶) ، سنن ابي داؤد رقم الحديث ۳۱۲۴.

(۱) پوره حدیث داسې دی : عَنْ أَنَسٍ رضي الله عنه قَالَ: بَلَغَ صَفِيَّةَ رضي الله عنها أَنَّ حَفْصَةَ رضي الله عنها قَالَتْ: إِنِّي ابْنَةُ يَهُودِيٍّ، فَبَكَتْ، فَدَخَلَ عَلَيْهَا النَّبِيُّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وَهِيَ تَبْكِي. فَقَالَ: «مَا يُبْكِيكِ؟» فَقَالَتْ: قَالَتْ لِي حَفْصَةُ: إِنِّي ابْنَةُ يَهُودِيٍّ. فَقَالَ النَّبِيُّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: «إِنَّكِ ابْنَةُ نَبِيٍّ، وَإِنَّ عَمَّكِ لَنَبِيٌّ، وَإِنَّكِ لَتَحْتَ نَبِيٍّ، فَفِيمَ تَفْخَرُ عَلَيْكِ» . فَقَالَ: «اِتَّقِي اللهَ يَا حَفْصَةُ». مسندا حمد مخرجا رقم الحديث ۱۲۳۹۲ ، سنن الترمذي أَبْوَابُ الْمَنَاقِبِ بَابٌ فِي فَضْلِ أَزْوَاجِ النَّبِيِّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ رقم ۳۸۹۴ ,وقال الترمذي : هَذَا حَدِيثٌ حَسَنٌ صَحِيحٌ.

(۲) عَنْ عَلِيٍّ رضي الله عنه ، قَالَ: كَانَ آخِرُ كَلَامِ رَسُولِ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: «الصَّلَاةَ الصَّلَاةَ، اِتَّقُوا اللهَ فِيمَا مَلَكَتْ أَيْمَانُكُمْ» . سنن ابي داؤد كِتَابُ الأَدَبِ بَابٌ فِي حَقِّ الْمَمْلُوكِ رقم الحديث ۵۱۵۶ قال الالباني : صحيح .

(۳) صحيح مسلم كِتَابُ الْجِهَادِ وَالسِّيَرِ بَابُ تَأْمِيرِ الْإِمَامِ الْأُمَرَاءَ عَلَى الْبُعُوثِ، وَوَصِيَّتِهِ إِيَّاهُمْ بِآدَابِ الْغَزْوِ وَغَيْرِهَا رقم الحديث ۳(۱۷۳۱)

Scanned with CamScanner

رسول الله صلی الله علیه وسلم به چې کله په یو غټ لښکر یا وړوکي لښکر باندې آمیر مقررولو نو په خصوصي طور باندې به یې د لښکر امیر ته د تقوی (یعنی د الله ﷻ نه د یریدو) او د هغه سره موجود مسلمانانو ته د خیر وصیت کولو .

## نبي علیه السلام به په خپلو دُعاګانو کې د تقوٰی سوال کولو

رسول الله صلی الله علیه وسلم به چې د ځان د پاره دُعا غوښتله نو په دې کې به یې د تقوی او پرهیزګارۍ سوال هم کولو .

د مسلم شریف حدیث دی چې نبي علیه السلام به دا دعا کوله :

اَللّٰهُمَّ إِنِّيْ أَسْأَلُكَ الْهُدٰى وَالتُّقٰى ، وَالْعَفَافَ وَالْغِنٰى . (۱)

اې الله ! زه د تا نه د هدایت ، تقوی ، پاک دامنۍ ، او غِنی سوال کوم .

همدارنګې نبي علیه السلام به چې د سفر په وخت کومه دعا کوله نو په هغې کې به یې هم د تقوی سوال کولو . (۲)

## تقوی بهترین لباس دی

د تقوی د آهمیت اندازه ددینه هم لږېږي چې الله تعالی دیته بهترین لباس ویلی :

---

(۱) عَنْ عَبْدِ اللهِ، عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ، أَنَّهُ كَانَ يَقُوْلُ : اَللّٰهُمَّ إِنِّيْ أَسْأَلُكَ الْهُدٰى وَالتُّقٰى ، وَالْعَفَافَ وَالْغِنٰى . صحيح مسلم كتاب الذِّكْرِ وَالدُّعَاءِ وَالتَّوْبَةِ وَالِاسْتِغْفَارِ بَابُ التَّعَوُّذِ مِنْ شَرِّ مَا عُمِلَ وَمِنْ شَرِّ مَا لَمْ يُعْمَلْ رقم الحديث ۷۲ (۲۷۲۱) ، سنن الترمذي أَبْوَابُ الدَّعَوَاتِ رقم الحديث ۳۴۸۹ وقال الترمذي : هَذَا حَدِيثٌ حَسَنٌ صَحِيحٌ.

(۲) قَالَ ابْنُ جُرَيْجٍ : أَخْبَرَنِي أَبُو الزُّبَيْرِ، أَنَّ عَلِيًّا الْأَزْدِيَّ أَخْبَرَهُ أَنَّ ابْنَ عُمَرَ رضي الله عنهما عَلَّمَهُمْ ؛ أَنَّ رَسُوْلَ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ كَانَ إِذَا اسْتَوَى عَلَى بَعِيْرِهِ خَارِجًا إِلَى سَفَرٍ، كَبَّرَ ثَلَاثًا، ثُمَّ قَالَ : « سُبْحَانَ الَّذِيْ سَخَّرَ لَنَا هٰذَا وَمَا كُنَّا لَهُ مُقْرِنِيْنَ وَإِنَّا إِلَى رَبِّنَا لَمُنْقَلِبُوْنَ. اَللّٰهُمَّ إِنَّا نَسْأَلُكَ فِيْ سَفَرِنَا هٰذَا الْبِرَّ وَالتَّقْوَى، وَمِنَ الْعَمَلِ مَا تَرْضَى. اَللّٰهُمَّ هَوِّنْ عَلَيْنَا سَفَرَنَا هٰذَا، وَاطْوِ عَنَّا بُعْدَهُ . اَللّٰهُمَّ أَنْتَ الصَّاحِبُ فِي السَّفَرِ، وَالْخَلِيْفَةُ فِي الْأَهْلِ. اَللّٰهُمَّ إِنِّيْ أَعُوْذُ بِكَ مِنْ وَعْثَاءِ السَّفَرِ، وَكَآبَةِ الْمَنْظَرِ، وَسُوْءِ الْمُنْقَلَبِ فِي الْمَالِ وَالْأَهْلِ »، وَإِذَا رَجَعَ قَالَهُنَّ وَزَادَ فِيْهِنَّ : « آيِبُوْنَ تَائِبُوْنَ عَابِدُوْنَ لِرَبِّنَا حَامِدُوْنَ » . صحيح مسلم كِتَابُ الْحَجِّ بَابُ مَا يَقُوْلُ إِذَا رَكِبَ إِلَى سَفَرِ الْحَجِّ وَغَيْرِهِ رقم الحديث ۴۲۵ (۱۳۴۲) .

Scanned with CamScanner

﴿وَلِبَاسُ التَّقْوٰى ذٰلِكَ خَيْرٌ﴾ .(۱)

ترجمه: د تقوی (او پرهیزګاری) لباس (ددې ظاهري لباس نه) ډیر بهتر دی.

**تشریح**: لکه څرنګې چې دا ظاهري کپړې ضروري دي چې په دې سره انسان خپل عورت پټوي او ښائست هم دی، خو ددینه زیات ضروري د تقوی واله لباس دی چې هغه "نیک عمل کول او په زړه کې د الله ﷻ نه یره لرل" دي چې په دې سره هم د انسان په عیبونو او کمزوریو باندې پَرده راځي او د دائمي تکلیفونو نه ورته نجات ملاویږي.

او که چیرته یو سړی بَدعمله وي او په زړه کې یې د الله ﷻ نه یره نه وي نو که ده هرڅومره ښائسته کپړې اغوستې وي خو آخري انجام یې ذلیل کیدل او رَسواء کیدل دي. (۲)

علامه قرطبي رَحِمَهُ اللهُ د مذکوره آیت په تشریح کې لیکلي:

بَيَّنَ أَنَّ التَّقْوٰى خَيْرُ لِبَاسٍ.

الله تعالی (په دې آیت کې) دا خبره بیان کړه چې تقوی بهترین لباس دی.

یو شاعر وایي:

إِذَا الْمَرْءُ لَمْ يَلْبَسْ ثِيَابًا مِنَ التُّقٰى ✡ تَقَلَّبَ عُرْيَانًا وَإِنْ كَانَ كَاسِيًا

چې کله سړي د تقوی لباس نه وي اغوستی نو دا بَربنډ ګرځي اګرچې ده دا (دا عامې) کپړې اغوستې وي.

وَخَيْرُ لِبَاسِ الْمَرْءِ طَاعَةُ رَبِّهِ ✡ وَلَا خَيْرَ فِيْمَنْ كَانَ لِلّٰهِ عَاصِيًا

د سړي د پاره بهترین لباس د خپل رب تابعداري کول دي، او په هغه چا کې هیڅ خیر نشته چې هغه د الله تعالی نافرمانه وي. (۳)

## د تقوی په وجه د جنت مستحق کیدل

تقوی داسې بهترین عمل دی چې ددې په وجه انسان د جنت مستحق ګرځي.

(۱) الاعراف آية ۲۶.

(۲) تفسير معارف القرآن مع الاختصار.

(۳) تفسير القرطبي ج ۷ ص ۱۸۴ سورة الاعراف في تشريح آية ۲۶.

Scanned with CamScanner

الله تعالى فرمايي:

﴿تِلْكَ الْجَنَّةُ الَّتِي نُورِثُ مِنْ عِبَادِنَا مَنْ كَانَ تَقِيًّا﴾.(۱)

ترجمه: دا هغه جنت دی چې ددې وارثان به مونږ په خپلو بندګانو کې هغه خلق جوړوو چې کوم متّقيان (پرهيزګار) دي.

په قرآن کريم کې ځای په ځای د مُتّقينو د پاره د جنت او د جنت د نعمتونو وعده شوی، يو څو آيتونه درته ذکر کوم:

۱. ﴿إِنَّ الْمُتَّقِينَ فِي جَنَّاتٍ وَعُيُونٍ ۞ ادْخُلُوهَا بِسَلَامٍ آمِنِينَ﴾.(۲)

ترجمه: بيشکه مُتّقيان (پرهيزګاران) به په باغونو او چينو کې وي، (دوی ته به ووېلې شي چې) تاسو ديته په سلامتيا او آمن سره داخل شئ.

۲. ﴿إِنَّ الْمُتَّقِينَ فِي مَقَامٍ أَمِينٍ ۞ فِي جَنَّاتٍ وَعُيُونٍ ۞ يَلْبَسُونَ مِنْ سُنْدُسٍ وَإِسْتَبْرَقٍ مُتَقَابِلِينَ ۞ كَذَلِكَ وَزَوَّجْنَاهُمْ بِحُورٍ عِينٍ ۞ يَدْعُونَ فِيهَا بِكُلِّ فَاكِهَةٍ آمِنِينَ ۞ لَا يَذُوقُونَ فِيهَا الْمَوْتَ إِلَّا الْمَوْتَةَ الْأُولَى وَوَقَاهُمْ عَذَابَ الْجَحِيمِ﴾.(۳)

ترجمه: بيشکه متّقيان (پرهيزګاران) به د آمن په ځای کې (دېره) وي، په باغونو او چينو کې به وي، دوی به د نري او غټو وريښمو کپړې اغوندي، يو بل ته به مخامخ ناست وي، دا خبره همداسې (يقيني) ده، او مونږ به دوی ته د غټو سترګو واله (ښائسته) حُورې ورکړو، دوی به په دې (جنت) کې هر قِسمه ميوې په اطمينان سره راغواړي، دوی

---

(۱) سورة مريم آية ۶۳.

(۲) الحجر آية ۴۵ تا ۴۶.

همداسې مضمون په يو بل آيت کې هم ذکر دی: ﴿إِنَّ الْمُتَّقِينَ فِي جَنَّاتٍ وَنَعِيمٍ ۞ فَاكِهِينَ بِمَا آتَاهُمْ رَبُّهُمْ وَوَقَاهُمْ رَبُّهُمْ عَذَابَ الْجَحِيمِ ۞ كُلُوا وَاشْرَبُوا هَنِيئًا بِمَا كُنْتُمْ تَعْمَلُونَ﴾. الطور آية ۱۷ تا ۱۹.

(۳) الدخان آية ۵۱ تا ۵۶.

په يو بل آيت کې دي: ﴿إِنَّ الْمُتَّقِينَ فِي جَنَّاتٍ وَعُيُونٍ ۞ آخِذِينَ مَا آتَاهُمْ رَبُّهُمْ إِنَّهُمْ كَانُوا قَبْلَ ذَلِكَ مُحْسِنِينَ ۞ كَانُوا قَلِيلًا مِنَ اللَّيْلِ مَا يَهْجَعُونَ ۞ وَبِالْأَسْحَارِ هُمْ يَسْتَغْفِرُونَ﴾. الذاريات آية ۱۵ تا ۱۸.

Scanned with CamScanner

به د ړومبي مرګ نه علاوه د بل مرګ مزه نه څکي (يعنى د دُنيا د تير شوي مرګ نه علاوه به دوى ته بل مرګ نه راځي)، او الله تعالى به دوى د جهنم د عذاب نه اُوساتي.

۳. ﴿إِنَّ لِلْمُتَّقِينَ عِندَ رَبِّهِمْ جَنَّٰتِ ٱلنَّعِيمِ﴾.(۱)

ترجمه: بيشکه د متّقيانو د پاره د خپل رب سره جنّتونه د نعمت دي.

۴. ﴿إِنَّ ٱلْمُتَّقِينَ فِى ظِلَٰلٍ وَعُيُونٍ ۝ وَفَوَٰكِهَ مِمَّا يَشْتَهُونَ ۝ كُلُوا۟ وَٱشْرَبُوا۟ هَنِيٓـًٔۢا بِمَا كُنتُمْ تَعْمَلُونَ ۝ إِنَّا كَذَٰلِكَ نَجْزِى ٱلْمُحْسِنِينَ﴾.(۲)

ترجمه: بيشکه مُتّقيان به (د جنت د اُونو) په سيورو او چينو کې وي، او په هغه ميوو کې به وي کومې چې دوى غواړي، (دوى ته به وويلې شي :) تاسو بنه په مزې (او فراخه طريقې) سره خورئ او سکئ، دا د هغه بنه عملونو په بدله کې دي کوم چې تاسو (په دُنيا کې) کول.

۵. ﴿إِنَّ لِلْمُتَّقِينَ مَفَازًا ۝ حَدَآئِقَ وَأَعْنَٰبًا ۝ وَكَوَاعِبَ أَتْرَابًا ۝ وَكَأْسًا دِهَاقًا ۝ لَّا يَسْمَعُونَ فِيهَا لَغْوًا وَلَا كِذَّٰبًا ۝ جَزَآءً مِّن رَّبِّكَ عَطَآءً حِسَابًا﴾.(۳)

ترجمه: بيشکه د متّقيانو د پاره کاميابي ده، (د دوى د پاره به) باغيچې، انګور، پيغلې همزولې جينکۍ، او د جنّتي شرابو ډک جامونه وي، دوى به په دې (جنت) کې عبث خبرې او دروغ نه اُوري، دا ستا د رب د طرفه بدله ده چې په حساب (يعنى پوره پوره) به ورکولې شي.

۶. ﴿وَإِنَّ لِلْمُتَّقِينَ لَحُسْنَ مَـَٔابٍ ۝ جَنَّٰتِ عَدْنٍ مُّفَتَّحَةً لَّهُمُ ٱلْأَبْوَٰبُ ۝ مُتَّكِـِٔينَ فِيهَا يَدْعُونَ فِيهَا بِفَٰكِهَةٍ كَثِيرَةٍ وَشَرَابٍ ۝ وَعِندَهُمْ قَٰصِرَٰتُ ٱلطَّرْفِ أَتْرَابٌ﴾.(۴)

(۱) القلم آية ۳۴.
(۲) المرسلات آية ۴۱ تر ۴۴.
(۳) النبا آية ۳۱ تر ۳۶.
(۴) ص آية ۴۹ تر ۵۲.

Scanned with CamScanner

ترجمه: بيشكه د متّقيانو د پاره بنه ځاى د ورتللو دى چې هغه جنتونه (باغونه) د هميشه اُوسيدلو دي ، دوى ته به د هغې دَروازې پرانستلې شوي وي ، دوى به په دې كې تكيه وهلي وي ډيرې ميوې او شراب به راغواړي ، او د دوى سره به داسې همزولې ښځې وي چې د حياءُ د وجې به خپل نظرونه ښكته ساتونكي وي (يعنى د خپل خاوند نه علاوه به يې په بل چا نظر نه وي لېږدلى) ، دا هغه نِعمتونه دي چې د تاسو سره يې د حساب دِ ورځې د پاره ددې وعده كولې شي.

۷ . ﴿ مَثَلُ الْجَنَّةِ الَّتِيْ وُعِدَ الْمُتَّقُوْنَ ۭ تَجْرِيْ مِنْ تَحْتِهَا الْاَنْهٰرُ ۭ اُكُلُهَا دَاۗىِٕمٌ وَّظِلُّهَا ۭ تِلْكَ عُقْبَى الَّذِيْنَ اتَّقَوْا ڰ وَّعُقْبَى الْكٰفِرِيْنَ النَّارُ ﴾.(۱)

ترجمه: مثال د هغه جنت چې د مُتّقيانو سره د هغې وعده شوى (د هغې كيفيت دادى) چې د هغې (د اُونو) لاندې به نهرونه بهيږي ، د هغې ميوې او د هغې سيورې به هميشه وي، دا انجام د هغه خلقو دى كوم چې مُتّقيان (پرهيزګار) دي ، او د كافرانو آنجام (د جهنم) اُور دى.

اللّٰـه تعالى د جنت د نهرونو بيان هم پخپله كړى :

۸ . ﴿ مَثَلُ الْجَنَّةِ الَّتِيْ وُعِدَ الْمُتَّقُوْنَ ۭ فِيْهَآ اَنْهٰرٌ مِّنْ مَّاۗءٍ غَيْرِ اٰسِنٍ ۚ وَاَنْهٰرٌ مِّنْ لَّبَنٍ لَّمْ يَتَغَيَّرْ طَعْمُهٗ ۚ وَاَنْهٰرٌ مِّنْ خَمْرٍ لَّذَّةٍ لِّلشّٰرِبِيْنَ ڬ وَاَنْهٰرٌ مِّنْ عَسَلٍ مُّصَفًّى ۭ وَلَهُمْ فِيْهَا مِنْ كُلِّ الثَّمَرٰتِ وَمَغْفِرَةٌ مِّنْ رَّبِّهِمْ ۭ ﴾.(۲)

ترجمه: مثال د هغه جنت چې دُ مُتّقيانو سره د هغې وعده شوى (د هغې بيان دادى چې) په دې كې به د داسې (تازه) اُوبو نهرونه وي چې خرابې (مُتغَيّرې) به نه وي ، او د داسې شودو نهرونه به وي چې د هغې خوَند به نه وي بدل شوى ، او د داسې شرابو نهرونه به وي چې څكونكو ته به خوَند وركوونكي وي ، او د داسې شهدو نهرونه به وي چې صاف كړې شوي به وي ، او د دوى د پاره به په دې جنت كې هر قِسمه ميوې او د خپل رب د طرفه

(۱) الرعد آية ۳۵.

(۲) سورة محمد آية ۱۵.

Scanned with CamScanner

بخښه وي.

۹ . ﴿وَأُزْلِفَتِ الْجَنَّةُ لِلْمُتَّقِينَ غَيْرَ بَعِيدٍ ۝ هَٰذَا مَا تُوعَدُونَ لِكُلِّ أَوَّابٍ حَفِيظٍ ۝ مَنْ خَشِيَ الرَّحْمَٰنَ بِالْغَيْبِ وَجَاءَ بِقَلْبٍ مُنِيبٍ ۝ ادْخُلُوهَا بِسَلَامٍ ۖ ذَٰلِكَ يَوْمُ الْخُلُودِ ۝ لَهُمْ مَا يَشَاءُونَ فِيهَا وَلَدَيْنَا مَزِيدٌ﴾.(۱)

ترجمه: او مُتقیانو ته به جنت رانزدې کړې شي چې لرې به نه وي، (دوی ته به وویلې شي چې:) دا هغه جنت دی د کوم چې د تاسو سره (په دُنیا کې) وعده کولې شوه، (دا) د هغه چا د پاره دی چې الله ﷻ طرف ته رجوع کوونکی او (د حقوقو) حفاظت کوونکی وي کوم چې بې لیدلو د الله ﷻ نه ویریږي، او په داسې زړه سره راشي چې الله طرف ته رجوع کوونکې وي، (دوی ته به وویلې شي) تاسو دې جنت ته په سلامتیا سره داخل شئ، همدا د همیشه اُوسیدو ورځ ده، د دوی د پاره به په دې جنت کې هر هغه څه وي چې دوی یې غواړي، او مونږ سره (د دوی د پاره) نور هم زیات څه دي. (چې هغه د الله ﷻ دیدار او د هغه رضا ده).

۱۰ . ﴿لَٰكِنِ الَّذِينَ اتَّقَوْا رَبَّهُمْ لَهُمْ جَنَّاتٌ تَجْرِي مِنْ تَحْتِهَا الْأَنْهَارُ خَالِدِينَ فِيهَا نُزُلًا مِنْ عِنْدِ اللَّهِ ۗ وَمَا عِنْدَ اللَّهِ خَيْرٌ لِلْأَبْرَارِ﴾.(۲)

ترجمه: لیکن کوم خلق چې د خپل رب نه اُوویریدل د هغوی د پاره داسې جنّتونه دي چې د هغې (د اُونو) لاندې به نهرونه بهیږي په هغې کې به همیشه وي، دا د الله تعالی د طرفه (د دوی د پاره) میلمستیا ده، او څه چې د الله سره دي هغه د نېکانو د پاره ډیر بهتر دي.

(۱) ق آیة ۳۱ تر ۳۵.
په سورة الشعراء کې ذکر دي:
﴿وَأُزْلِفَتِ الْجَنَّةُ لِلْمُتَّقِينَ ۝ وَبُرِّزَتِ الْجَحِيمُ لِلْغَاوِينَ﴾. الشعراء آیة ۹۰، ۹۱.
(۲) آل عمران آیة ۱۹۸.

Scanned with CamScanner

# جنت ته ډیر بوتلونکي څیز "تقوی او خوش اخلاقي" ده

۱. حضرت ابوهریرة رضي الله عنه فرمایي چې د رسول الله صلی الله علیه وسلم نه پوښتنه اوشوه:

مَا أَكْثَرُ مَا يُدْخِلُ الْجَنَّةَ؟

هغه کوم څیز دی چې هغه عام طور انسان جنت ته داخلوي؟

نبي علیه السلام ورته اوفرمایل:

تَقْوَى اللهِ، وَحُسْنُ الْخُلُقِ. د الله جل جلاله نه یره او ښائسته اخلاق.... (۱)

۲. د ترمذي شریف حدیث دی، رسول الله صلی الله علیه وسلم د حجة الوداع په موقع په خطبه کې اوفرمایل:

إِتَّقُوا اللهَ رَبَّكُمْ، وَصَلُّوا خَمْسَكُمْ، وَصُومُوا شَهْرَكُمْ، وَأَدُّوا زَكَاةَ أَمْوَالِكُمْ، وَأَطِيعُوا ذَا أَمْرِكُمْ تَدْخُلُوا جَنَّةَ رَبِّكُمْ. (۲)

تاسو د الله جل جلاله نه اوویریږئ کوم چې ستاسو رب دی، خپل پنځه وخته مونځ کوئ، د رمضان روژې نیسئ، د خپلو مالونو زکوة ورکوئ، د خپل امیر اطاعت کوئ نو تاسو به د

---

(۱) عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ رضي الله عنه: سُئِلَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: مَا أَكْثَرُ مَا يُدْخِلُ الْجَنَّةَ؟ قَالَ: « تَقْوَى اللهِ، وَحُسْنُ الْخُلُقِ ». قَالَ: وَمَا أَكْثَرُ مَا يُدْخِلُ النَّارَ؟ قَالَ: "الْأَجْوَفَانِ: الْفَمُ وَالْفَرْجُ". الادب المفرد مخرجا للبخاري رقم الحديث ۲۹۴ بَابُ حُسْنِ الْخُلُقِ إِذَا فَقِهُوا.

وفي رواية: عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ رضي الله عنه قَالَ: سُئِلَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ عَنْ أَكْثَرِ مَا يُدْخِلُ النَّاسَ الْجَنَّةَ. فَقَالَ: « تَقْوَى اللهِ وَحُسْنُ الْخُلُقِ ». وَسُئِلَ عَنْ أَكْثَرِ مَا يُدْخِلُ النَّاسَ النَّارَ. فَقَالَ: « الْفَمُ وَالْفَرْجُ ». سنن الترمذي أَبْوَابُ الْبِرِّ وَالصِّلَةِ بَابُ مَا جَاءَ فِي حُسْنِ الْخُلُقِ رقم الحديث ۲۰۰۴ وقال الترمذي: هَذَا حَدِيثٌ صَحِيحٌ غَرِيبٌ سنن ابن ماجة رقم الحديث ۴۲۳۶، مشكوة المصابيح بَابُ حِفْظِ اللِّسَانِ وَالْغِيبَةِ وَالشَّتْمِ الْفَصْلُ الثَّانِي رقم الحديث ۴۸۳۲، المستدرك على الصحيحين للحاكم رقم الحديث ۷۹۱۹ وقال الحاكم: هَذَا حَدِيثٌ صَحِيحُ الْإِسْنَادِ وَلَمْ يُخَرِّجَاهُ، ووافقه الذهبي. شعب الايمان رقم الحديث ۵۰۲۵.

(۲) سنن الترمذي بَابُ مَا ذُكِرَ فِي فَضْلِ الصَّلَاةِ باب ۴۳۴ رقم الحديث ۶۱۶ وقال الترمذي: هَذَا حَدِيثٌ حَسَنٌ صَحِيحٌ شرح السنة للبغوي ج۱ ص۲۳ رقم الحديث ۱۰

Scanned with CamScanner

خپل رَب جنت ته داخل شئ .

## د آخرت ښه انجام د مُتّقیانو د پاره دی

۱ . الله تعالی فرمایي : ﴿ وَالْعَاقِبَةُ لِلْمُتَّقِينَ ﴾ .(۱)

ترجمه : او ( ښه ) انجام ( د آخرت ) د مُتّقیانو د پاره دی .

۲ . د تقوی فائده لکه څرنګې چې په دُنیا کې مسلمان ته رسي نو همدغه شان په آخرت کې به هم تقوی د مسلمان پکار راځي ، ځکه د آخرت دومره سخته ورځ ده چې په هغې کې به دوستان هم د یو بل دشمنان وي لیکن د مُتّقیانو به دا شان نه وي . الله تعالی فرمایي :

﴿ الْأَخِلَّاءُ يَوْمَئِذٍ بَعْضُهُمْ لِبَعْضٍ عَدُوٌّ إِلَّا الْمُتَّقِينَ ۝ يَا عِبَادِ لَا خَوْفٌ عَلَيْكُمُ الْيَوْمَ وَلَا أَنْتُمْ تَحْزَنُونَ ﴾ .(۲)

ترجمه : ټول دوستان به په دغه ورځ د یو بل دشمنان وي بغیر د مُتّقیانو نه ( چې د دوی دوستي به ورځ په ورځ همداسې زیاتیږي ، دوی ته به وویلې شي : ) اې زما بندګانو ! نن ورځ په تاسو باندې هیڅ ویره نشته او نه به تاسو غمژن شی .

## د الله ﷻ مدد د مُتقیانو سره دی

د الله ﷻ مدد د مُتّقیانو سره دی ، او د دوی حفاظت کوي ، په قرآن کریم کې ددې تذکره شته ، پَروردِګارِعالَم فرمایي :

﴿ وَاتَّقُوا اللَّهَ وَاعْلَمُوا أَنَّ اللَّهَ مَعَ الْمُتَّقِينَ ﴾ .(۳)

(۱) القصص آیة ۸۳ .
(۲) الزخرف آیة ۶۷ ، ۶۸ .
(۳) البقرة آیة ۱۹۴ .

په سورة التوبة کې هم ذکر دي : ﴿ وَاعْلَمُوا أَنَّ اللَّهَ مَعَ الْمُتَّقِينَ ﴾ . ترجمه : او پوهه شئ چې الله تعالی د متقیانو سره دی . التوبة آیة ۱۲۳ .

ترجمه: او (په هر حالت کې) د الله تعالی نه اُوویرېږئ ، او (په دې) پوهه شئ چې الله تعالی (مدد) د متقیانو سره دی .

بل ځای فرمايي :

﴿ إِنَّ اللَّهَ مَعَ الَّذِينَ اتَّقَوا وَّالَّذِينَ هُم مُّحْسِنُونَ ﴾.(۱)

ترجمه: بیشکه الله تعالی د مُتّقیانو او نیکي کوونکو خلقو سره دی .

(یعنی د دوی سره مدد او احسان کوي او د دوی تائید کوي) .(۲)

بل ځای فرمايي : ﴿ وَاللَّهُ وَلِيُّ الْمُتَّقِينَ ﴾ .(۳)

ترجمه: او الله تعالی د مُتّقیانو دوست دی .

(یعنی د دوی سره محبت کوي او د دُشمنانو خلاف د دوی مدد کوي (۴)) .

که مونږ په دُنیا کې اوګورو چې د چا سره د دُنیا یو بادشاه یا وزیر ملګری وي نو سخت خوشحال وي او د هغه په ملګرتیا باندې فخر کوي حالانکه الله تعالی د متّقیانو ملګری دی او د دوی مدد کوي نو دا ډیر لوی شرافت دی .

چې څوک هم ایمان راوړي نو الله تعالی د هغه سره مدد کوي او د هغه د کارونو متولّي ګرځي ، په قرآن کریم کې ذکر دي :

---

(۱) النحل آية ۱۲۸ .

(۲) قوله تعالى: ﴿ إِنَّ اللَّهَ مَعَ الَّذِينَ اتَّقَوا ﴾ ما نهاهم عنه، وأحسنوا فيما أمرهم به، بالعون والنصر. زاد المسير في علم التفسير ج۲ ص ۵۹۵ .

وقوله: ( إِنَّ اللَّهَ مَعَ الَّذِينَ اتَّقَوا وَّالَّذِينَ هُم مُّحْسِنُونَ) أَيِ اتَّقَوُا الْفَوَاحِشَ وَالْكَبَائِرَ بِالنَّصْرِ وَالْمَعُونَةِ وَالْفَضْلِ وَالْبِرِّ وَالتَّأْيِيدِ. الجامع لأحكام القرآن ( تفسير القرطبي ) ج ۱۰ ص ۲۰۳ النحل آية ۱۲۸ .

(۳) الجاثية آية ۱۹ .

(۴) (الْوَلِيُّ) : أَيِ: الْمُحِبُّ لِأَوْلِيَائِهِ النَّاصِرُ لَهُمْ عَلَى أَعْدَائِهِمْ مِنْ أَنْفُسِهِمْ وَأَهْوِيَتِهِمْ وَمَا يَدْعُوهُمْ إِلَى غَيْرِ لِقَائِهِ. قَالَ تَعَالَى: {وَاللَّهُ وَلِيُّ الْمُتَّقِينَ} [ الجاثية آية ۱۹] . {وَهُوَ الْوَلِيُّ الْحَمِيدُ} [ الشورى آية ۲۸] . وَقِيلَ: مَعْنَاهُ الْمُتَوَلِّي لِأُمُورِ جَمِيعِ خَلِيقَتِهِ يَفْعَلُ فِيهِمْ مَا يَشَاءُ بِحِكْمَتِهِ وَيَحْكُمُ مَا يُرِيدُ بِعِزَّتِهِ. أَوْ لِأُمُورِ عِبَادِهِ مِنْ عِبَادِهِ الْمُخْتَصِّينَ بِاجْتِبَائِهِ وَإِسْعَادِهِ. لِقَوْلِهِ تَعَالَى: { اللَّهُ وَلِيُّ الَّذِينَ آمَنُوا يُخْرِجُهُمْ مِنَ الظُّلُمَاتِ إِلَى النُّورِ } [ البقرة ۲۵۷] . مرقاة المفاتيح شرح مشكاة المصابيح ج ۴ ص ۱۵۷۹ .

Scanned with CamScanner

﴿ اللَّهُ وَلِيُّ الَّذِينَ آمَنُوا يُخْرِجُهُم مِّنَ الظُّلُمَاتِ إِلَى النُّورِ ﴾.(۱)

ترجمه: الله تعالی د مؤمنانو دوست دی، دوی (د کُفر) د تیارو نه (د اسلام) رڼا طرف ته راوباسي.

تشريح: يعنی الله تعالی د مؤمنانو مددګار، د دوی سره محبت کوونکی، او د دوی د کارونو سمبالوونکی دی، د دوی حوائج پوره کوي، او نورو مخلوقاتو ته يې نه محتاج کوي. (۲)

نو چې کله الله تعالی د عامو مؤمنانو د پاره متولي (دوست او کارساز) دی نو د مُتقيانو د پاره خو په طريقِ اولی باندې متولي دی.

## د مُتقيانو سره الله تعالی محبت کوي

د مُتقيانو سره الله ﷻ محبت کوي.

۱. په قرآن کريم کې ذکر دي:

﴿ إِنَّ اللَّهَ يُحِبُّ الْمُتَّقِينَ ﴾.(۳)

ترجمه: بيشکه الله تعالی محبت کوي د مُتقيانو سره.

۲. د مسلم شريف حديث دی، رسول الله ﷺ فرمايي:

---

(۱) البقرة آية ۲۵۷.

(۲) قَوْلُهُ تَعَالَى: ﴿ اللَّهُ وَلِيُّ الَّذِينَ آمَنُوا ﴾: نَاصِرُهُمْ وَمُعِينُهُمْ. وَقِيلَ: مُحِبُّهُمْ. وَقِيلَ: مُتَوَلِّي أُمُورِهِمْ لَا يَكِلُهُمْ إِلَى غَيْرِهِ. وَقَالَ الْحَسَنُ: وَلِيُّ هِدَايَتِهِمْ. ﴿ يُخْرِجُهُم مِّنَ الظُّلُمَاتِ إِلَى النُّورِ ﴾ أَيْ: مِنَ الْكُفْرِ إِلَى الْإِيمَانِ. قَالَ الْوَاقِدِيُّ: كُلُّ مَا فِي الْقُرْآنِ مِنَ الظُّلُمَاتِ وَالنُّورِ فَالْمُرَادُ مِنْهُ: الْكُفْرُ وَالْإِيمَانُ غَيْرُ الَّتِي فِي سُورَةِ الْأَنْعَامِ: ﴿ وَجَعَلَ الظُّلُمَاتِ وَالنُّورَ [ الانعام آية ۱] ﴾. فَالْمُرَادُ مِنْهُ: اللَّيْلُ وَالنَّهَارُ. سُمِّيَ الْكُفْرُ: ظُلْمَةً لِالْتِبَاسِ طَرِيقِهِ. وَسُمِّيَ الْإِسْلَامُ نُورًا لِوُضُوحِ طَرِيقِهِ. تفسير البغوي (معالم التنزيل في تفسير القرآن) ج ۱ ص ۳۵۰ سورة البقرة آية ۲۵۷.

(۳) التوبة آية ۷.

إِنَّ اللّٰهَ يُحِبُّ الْعَبْدَ التَّقِيَّ، الْغَنِيَّ، الْخَفِيَّ. (١)

بیشکه الله تعالی هغه بنده خوښوي چې مُتقي (پرهیزګار) وي، زړه یې غني وي، او د الله ﷻ عبادت طرف ته یې ځان اُوزګار کړې وي.

(د اَلْخَفِيَّ یوه معنی دا هم ده چې په پټه باندې صدقات وغیره کوونکی وي). (٢)

٣. د تقوی په وجه خامخا مؤمن ته د نېکو اعمالو توفیق نصیبه کیږي، چې د دې په وجه بیا الله تعالی د مخلوقاتو په زړونو کې د متقي سره محبت پیدا کوي.

په قرآن کریم کې ذکر دي:

﴿ إِنَّ الَّذِينَ آمَنُوا وَعَمِلُوا الصَّالِحَاتِ سَيَجْعَلُ لَهُمُ الرَّحْمَٰنُ وُدًّا ﴾. (٣)

ترجمه: بیشکه کومو خلقو چې ایمان راوړو او نېک اعمال یې اوکړل نو ډیر زر به رحمان ذات د دوی د پاره (د خلقو په زړونو کې) محبت پیدا کړي.

## د الله ﷻ په نزد باندې مُعزز خلق مُتقیان دي

د تقوی په وجه انسان د الله تعالی مقرّب ګرځي، بلکه مونږ به دا اُووایو چې په چا کې څومره تقوی زیاته وي نو همدومره به دا کس د الله ﷻ په نزد ډیر مُقرّب وي.

١. الله تعالی فرمایي:

---

(١) صحیح مسلم كِتَابُ الزُّهْدِ وَالرَّقَائِقِ رقم الحديث ١١ (٢٩٦٥)، مسند احمد مخرجا رقم الحديث ١٤٤١، مشكاة المصابيح بَابُ اسْتِحْبَابِ الْمَالِ وَالْعُمْرِ لِلطَّاعَةِ الْفَصْلُ الْأَوَّلُ رقم الحديث ٥٢٨٤(١)، شرح السنة للبغوي رقم الحديث ٤٢٢٨، شعب الايمان رقم الحديث ٩٨٨٥.

(٢) (اَلْغَنِيَّ): قَالَ النَّوَوِيُّ رَحِمَهُ اللهُ: اَلْمُرَادُ بِالْغِنَى غِنَى النَّفْسِ، وَهَذَا هُوَ الْغِنَى الْمَحْبُوبُ لِقَوْلِهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: «الْغِنَى غِنَى النَّفْسِ»...... (اَلْخَفِيَّ). بِالْخَاءِ الْمُعْجَمَةِ أَيِ: الْخَامِلَ الْمُنْقَطِعَ لِعِبَادَةِ رَبِّهِ الْمُشْتَغِلَ بِأُمُورِ نَفْسِهِ، أَوِ الْخَفِيَّ الْخَيْرِ بِأَنْ يَعْمَلَهُ وَيَصْرِفَ مَالَهُ فِي مَرْضَاةِ رَبِّهِ حَيْثُ لَا يَطَّلِعُ عَلَيْهِ غَيْرُهُ. اَلشَّامِلَ لِلْفَقِيرِ أَيْضًا، كَمَا وَرَدَ: «حَتَّى لَا تَعْلَمَ شِمَالُهُ مَا تُنْفِقُ يَمِينُهُ»، وَهُوَ الْأَظْهَرُ. وَرُوِيَ بِالْمُهْمَلَةِ أَيِ: الْمُشْفِقَ. مرقاة المفاتيح شرح مشكاة المصابيح ج٨ ص٣٣٠٥ بَابُ اسْتِحْبَابِ الْمَالِ وَالْعُمْرِ لِلطَّاعَةِ.

(٣) مريم آية ٩٦.

﴿ يَا أَيُّهَا النَّاسُ إِنَّا خَلَقْنَاكُم مِّن ذَكَرٍ وَأُنثَىٰ وَجَعَلْنَاكُمْ شُعُوبًا وَقَبَائِلَ لِتَعَارَفُوا ۚ إِنَّ أَكْرَمَكُمْ عِندَ اللَّهِ أَتْقَاكُمْ ﴾ .(١)

ترجمه : اې خلقو ! مونږ تاسو د يو سړي ( حضرت آدم عليه السلام ) او يوې ښځې ( حضرت حواء رضي الله عنها ) نه پيدا كړي يئ ، او مونږ ستاسو مختلف قومونه او قبيلې جوړې كړې دي ددې د پاره چې تاسو يو بل اُوپيژنى ، بيشكه په تاسو كې ډير مُعزّز د الله جل جلاله په نزد باندې هغه كس دى چې هغه په تاسو كې ډير مُتّقي ( پرهيزګار ) وي .

۲ . د بخاري شريف حديث دى چې د نبي عليه السلام نه پوښتنه اوشوه :

مَنْ أَكْرَمُ النَّاسِ ؟ په خلقو كې ډير مُعزّز څوک دى ؟

نبي عليه السلام ورته اوفرمايل : أَكْرَمُهُمْ أَتْقَاهُمْ .

په دوى كې ډير مُعزّز هغه كس دى كوم چې په دوى كې ډير تقوى دار وي .(٢)

۳ . حضرت ابو سعيد خُدري رضي الله عنه فرمايي چې د نبي عليه السلام نه پوښتنه اوشوه :

يَا رَسُولَ اللَّهِ ! أَيُّ النَّاسِ أَفْضَلُ ؟

اې د الله رسوله ! په خلقو كې د ټولو نه بهترين كس څوک دى ؟

رسولُ الله صلى الله عليه وسلم ورته اوفرمايل :

مُؤْمِنٌ يُجَاهِدُ فِي سَبِيلِ اللَّهِ بِنَفْسِهِ وَمَالِهِ .

هغه مؤمن ( بهترين كس دى ) چې د الله جل جلاله په لاركې په خپل ځان او خپل مال سره جهاد كوي .

---

(١) الحجرات آية ١٣ .

(٢) عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ قَالَ: قِيلَ لِلنَّبِيِّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: مَنْ أَكْرَمُ النَّاسِ ؟ قَالَ « أَكْرَمُهُمْ أَتْقَاهُمْ » .... صحيح البخاري كِتَابُ أَحَادِيثِ الأَنْبِيَاءِ بَابُ {أَمْ كُنْتُمْ شُهَدَاءَ إِذْ حَضَرَ يَعْقُوبَ المَوْتُ إِذْ قَالَ لِبَنِيهِ} رقم الحديث ۳۳۷۴ ، و رقم الحديث ۳۳۵۳ ، و رقم الحديث ۳۳۸۳ ، و رقم الحديث ۳۴۹۰ كِتَابُ المَنَاقِبِ بَابُ قَوْلِ اللَّهِ تَعَالَى: {يَا أَيُّهَا النَّاسُ إِنَّا خَلَقْنَاكُمْ مِنْ ذَكَرٍ وَأُنْثَى.

Scanned with CamScanner

صحابه کرامو بیا عرض اوکړو: بیا څوک ډیر بهتر دی؟
نبي علیه السلام اوفرمایل:

مُؤْمِنٌ فِي شِعْبٍ مِنَ الشِّعَابِ يَتَّقِي اللهَ، وَيَدَعُ النَّاسَ مِنْ شَرِّهِ.

هغه مؤمن چې د غرونو په یوه دَره کې ځانله اُوسیږي، د الله ﷻ نه ویریږي، او خلق د خپل شَر نه محفوظ ساتي (یعنی خلقو ته ضرر نه رسوي). (۱)

۴. رسول الله صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ حضرت ابوذر رضي الله عنه ته اوفرمایل:

أُنْظُرْ. فَإِنَّكَ لَيْسَ بِخَيْرٍ مِنْ أَحْمَرَ وَلَا أَسْوَدَ إِلَّا أَنْ تَفْضُلَهُ بِتَقْوَى. (۲)

ګوره، ته د خپل ذات په اعتبار سره د سور او تور کس نه افضل نه یې مګر د تقوی په وجه باندې تاته په دوی باندې فضیلت حاصلیدې شي.

**تشریح**: یعنی هیچاته په بل باندې د مال و دولت، شکل و صورت، ژبې او وطن په وجه فضیلت نشته بلکه د فضیلت معیار تقوی ده، چې څومره په چا کې تقوی (د الله ﷻ نه ویره) زیاته وه نو همدومره به دا د الله ﷻ په نزد باندې مُعزّز او اُوچتې مرتبې واله وي.

## د قیامت په ورځ به نبي علیه السلام ته ډیر مُقرّب خلق مُتقیان وي

د قیامت په ورځ به نبي علیه الصلاة والسلام ته ډیر مُقرّب خلق او د شفاعت ډیر مستحقین هغه خلق وي چې په چا کې تقوی زیاته وي.

---

(۱) عَنْ أَبِي سَعِيدٍ الْخُدْرِيِّ رَضِيَ اللهُ عَنْهُ، قَالَ: قِيلَ: يَا رَسُولَ اللهِ! أَيُّ النَّاسِ أَفْضَلُ؟ فَقَالَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: «مُؤْمِنٌ يُجَاهِدُ فِي سَبِيلِ اللهِ بِنَفْسِهِ وَمَالِهِ». قَالُوا: ثُمَّ مَنْ؟ قَالَ: «مُؤْمِنٌ فِي شِعْبٍ مِنَ الشِّعَابِ يَتَّقِي اللهَ، وَيَدَعُ النَّاسَ مِنْ شَرِّهِ». صحيح البخاري كِتَابُ الجِهَادِ وَالسِّيَرِ بَابٌ: أَفْضَلُ النَّاسِ مُؤْمِنٌ مُجَاهِدٌ بِنَفْسِهِ وَمَالِهِ فِي سَبِيلِ اللهِ رقم الحديث ۲۷۸۶، و رقم الحديث كِتَابُ الرِّقَاقِ بَابٌ: العُزْلَةُ رَاحَةٌ مِنْ خُلَّاطِ السُّوءِ. صحيح مسلم كِتَابُ الْإِمَارَةِ بَابُ فَضْلِ الْجِهَادِ وَالرِّبَاطِ رقم الحديث ۱۲۲ (۱۸۸۸).

(۲) عَنْ أَبِي ذَرٍّ رضي الله عنه أَنَّ النَّبِيَّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ لَهُ: أُنْظُرْ. فَإِنَّكَ لَيْسَ بِخَيْرٍ مِنْ أَحْمَرَ وَلَا أَسْوَدَ إِلَّا أَنْ تَفْضُلَهُ بِتَقْوَى. مسند احمد مخرجا رقم الحديث ۲۱۴۰۷، مشكاة المصابيح كتاب الرقاق الفصل الثالث رقم الحديث ۵۱۹۸ (۴۲). مجمع الزوائد رقم الحديث ۱۳۰۷۸ وقال الهيثمي: رَوَاهُ أَحْمَدُ، وَرِجَالُهُ ثِقَاتٌ.

Scanned with CamScanner
Scanned with CamScanner

په مسند احمد او مشکوة شريف کې دا حديث ذکر دی چې کله رسول الله ﷺ حضرت مُعاذ بن جبل رضي الله عنه لره يمن ته د حاکم ( او قاضي ) په حيث ليږلو نو نبي عليه السلام (دده د رخصتولو د پاره) ورسره د مدينې منوّرې نه ( تر يو ځايه پورې ) اُووت ، په دې وخت کې حضرت معاذ رضي الله عنه (د نبي عليه السلام په حکم ) په سورلۍ باندې ناست وُ او رسولُ الله ﷺ ورسره لاندې پياده روان وُ ، څه وصيتونه ( او نصيحتونه ) يې ورته کول ، کله چې نبي عليه السلام (د وصيت کولو نه) فارغ شو نو ورته وې فرمايل :

يَا مُعَاذُ ! إِنَّكَ عَسَى أَنْ لَا تَلْقَانِي بَعْدَ عَامِي هٰذَا وَلَعَلَّكَ أَنْ تَمُرَّ بِمَسْجِدِي هٰذَا، وَقَبْرِي .

اې معاذ ! کيدې شي ددې کال نه پس بيا ستا د ما سره ملاقات اونشي او کيدې شي چې تاسو ( کله د يمن نه واپس راځې نو ) زما په دې جُمات او زما په قبر باندې تېر شې.

(پيغمبر عليه السلام ديته اِشاره اوکړه چې دا زما د ژوند آخري کال دی) .

حضرت معاذ رضي الله عنه د رسولُ الله صلی الله عليه وسلم په دې فِراق باندې ډېر زيات اُوژړل . نبي عليه السلام خپل مخ مبارک مدينې منوّرې طرف ته را اُوګرځول او حضرت معاذ رضي الله عنه ته يې (د تسلی په خاطر) وويل :

إِنَّ أَوْلَى النَّاسِ بِي الْمُتَّقُوْنَ مَنْ كَانُوْا وَحَيْثُ كَانُوْا .

بيشکه د قيامت په ورځ به ماته ډېر نزدې خلق مُتّقيان وي که دا هر څوک وي او هر ځای وي .(۱)

**د آخري جُملې تشريح** : يعنی د قيامت په ورځ به زما د شفاعت ډېر مستحق او ماته ډېر

(۱) عَنْ مُعَاذِ بْنِ جَبَلٍ رضي الله عنه قَالَ: لَمَّا بَعَثَهُ رَسُوْلُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ إِلَى الْيَمَنِ خَرَجَ مَعَهُ رَسُوْلُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يُوْصِيهِ وَمُعَاذٌ رَاكِبٌ وَرَسُوْلُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَمْشِي تَحْتَ رَاحِلَتِهِ . فَلَمَّا فَرَغَ قَالَ: « يَا مُعَاذُ ! إِنَّكَ عَسَى أَنْ لَا تَلْقَانِي بَعْدَ عَامِي هٰذَا وَلَعَلَّكَ أَنْ تَمُرَّ بِمَسْجِدِي هٰذَا، وَقَبْرِي » . فَبَكَى مُعَاذٌ جَشَعًا لِفِرَاقِ رَسُوْلِ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ . ثُمَّ الْتَفَتَ فَأَقْبَلَ بِوَجْهِهِ نَحْوَ الْمَدِيْنَةِ فَقَالَ : « إِنَّ أَوْلَى النَّاسِ بِي الْمُتَّقُوْنَ مَنْ كَانُوْا وَحَيْثُ كَانُوْا » . مسند احمد مخرجا رقم الحديث ۲۲۰۵۲ ، مشکاة المصابيح كتاب الرقاق الفصل الثالث رقم الحديث ۵۲۲۷(۷۳) ، صحيح ابن حبان مخرجا رقم الحديث ۶۴۷ ، مجمع الزوائد رقم الحديث ۱۴۲۳۸ .

مُقرّب خلق هغه وي چې په هغوی کې تقوی ( د الله ﷻ نه يره ) وي ، که دا خلق هر څوک وي (يعنی که دا عربي وي يا عجمي ، تور وي يا سپين ، که د شريفې کورنۍ وي يا د غير شريفې کورنۍ وي ) ، او که دا خلق د دُنيا په هره حصه کې اُوسيږي خو اعتبار تقوی ته دی .

دغه وجه ده چې اويس قرني رَحِمَهُ اللهُ د نبي عليه السلام په زمانه کې موجود ؤ او نبي عليه السلام يې نه ؤ ليدلی خو د تقوی په وجه ورته الله ﷻ اُوچت مقام ورکړې ؤ ، او د نبي عليه السلام بعضې نزدې رِشته دار وو لکه ابولهب وغيره خو چې ايمان يې نه ؤ راوړی او تقوی په کې نه وه نو ه الله ﷻ په نزد يې هيڅ مقام نه ؤ . (۱)

## د الله ﷻ ولي هغه کس کيدې شي چې په هغه کې تقوٰی وي

د الله ﷻ ولي صرف هغه کس کيدې شي چې په هغه کې تقوی وي ، ځکه الله تعالی پخپله د ولي په تعريف کې فرمايلي چې په هغه کې به تقوی وي :

﴿ أَلَآ إِنَّ أَوْلِيَآءَ اللَّهِ لَا خَوْفٌ عَلَيْهِمْ وَلَا هُمْ يَحْزَنُونَ ۝ الَّذِينَ آمَنُوا وَكَانُوا يَتَّقُونَ ۝ لَهُمُ

---

(۱) (" إِنَّ أَوْلَى النَّاسِ بِي ") أَيْ: بِشَفَاعَتِي أَوْ أَقْرَبَ النَّاسِ إِلَى مَنْزِلَتِي (" الْمُتَّقُونَ. مَنْ كَانُوا ") : جَمَعَ بِاعْتِبَارِ مَعْنَى مَنْ. وَالْمَعْنَى كَائِنًا مَنْ كَانَ عَرَبِيًّا أَوْ عَجَمِيًّا أَبْيَضَ أَوْ أَسْوَدَ شَرِيفًا أَوْ وَضِيعًا (" وَحَيْثُ كَانُوا ") أَيْ: سَوَاءٌ كَانُوا بِمَكَّةَ وَالْمَدِينَةِ أَوْ بِالْيَمَنِ وَالْكُوفَةِ وَالْبَصْرَةِ فَسُرَّهُ. فَانْظُرْ إِلَى رُتْبَةِ أُوَيْسٍ الْقَرَنِيِّ رَحِمَهُ اللَّهُ بِالْيَمَنِ عَلَى كَمَالِ التَّقْوَى، وَحَالَةِ جَمَاعَةٍ مِنْ أَكَابِرِ الْحَرَمَيْنِ الشَّرِيفَيْنِ مِنْ حِرْمَانِ الْمَنْزِلَةِ الزُّلْفَى. بَلْ مِنْ إِيصَالِ ضَرَرِهِمْ إِلَيْهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ حَتَّى مِنْ بَعْضِ ذَوِي الْقُرْبَى. وَحَاصِلُهُ أَنَّهُ لَا يَضُرُّكَ بُعْدُكَ الصُّورِيُّ عَنِّي مَعَ وُجُودِ قُرْبِكَ الْمَعْنَوِيِّ بِي، فَإِنَّ الْعِبْرَةَ بِالتَّقْوَى كَمَا يُسْتَفَادُ مِنْ إِطْلَاقِ قَوْلِهِ تَعَالَى: {إِنَّ أَكْرَمَكُمْ عِنْدَ اللَّهِ أَتْقَاكُمْ} [الحجرات آية ۱۳] مِنْ غَيْرِ اخْتِصَاصٍ بِمَكَانٍ أَوْ زَمَانٍ أَوْ نَوْعِ إِنْسَانٍ . فَفِيهِ تَحْرِيضٌ عَلَى التَّقْوَى الْمُنَاسِبَةِ لِلْوَصِيَّةِ عِنْدَ الْمُفَارَقَةِ الصُّغْرَى وَالْكُبْرَى. وَقَدْ قَالَ تَعَالَى: {وَلَقَدْ وَصَّيْنَا الَّذِينَ أُوتُوا الْكِتَابَ مِنْ قَبْلِكُمْ وَإِيَّاكُمْ أَنِ اتَّقُوا اللَّهَ} [النساء آية ۱۳۱] مَعَ مَا فِيهِ مِنَ التَّسْلِيَةِ لِبَقِيَّةِ الْأُمَّةِ الَّذِينَ لَمْ يُدْرِكُوا زَمَنَ الْحَضْرَةِ وَمَكَانَ الْخِدْمَةِ . هَذَا الَّذِي سَنَحَ لِي فِي هَذَا الْمَقَامِ مِنْ حَلِّ الْكَلَامِ عَلَى ظُهُورِ الْمَرَامِ. مرقاة المفاتيح ج ۸ ص ۳۲۷۱ فی تشريح حديث ۵۲۲۷ كِتَابُ الرِّقَاقِ.

Scanned with CamScanner

الْبُشْرَىٰ فِي الْحَيَوٰةِ الدُّنْيَا وَفِي الْآخِرَةِ ۚ لَا تَبْدِيلَ لِكَلِمَاتِ اللَّهِ ۚ ذَٰلِكَ هُوَ الْفَوْزُ الْعَظِيمُ ﴾.(۱)

ترجمه: خبردار، بیشکه د الله په دوستانو باندې نه څه ویره وي او نه به دوی غمجَن کیږي، دا هغه کسان دي چې ایمان یې راوړو او مُتقیان دي (یعنی پرهیزګاره دي)، د دوی د پاره د دُنیا په ژوند او آخرت کې زیرې دی، د الله تعالی په خبرو (وَعدو) کې تبدیلي نه راځي، همدا (زیرې) لویه کامیابي ده.

**د مذکوره آیت تشریح**: په مذکوره آیتونو کې د اولیاءُ الله ؒ فضیلتونه، د هغوی نَخې، او د هغوی د پاره په دُنیا او آخرت کې زیرې ذکر شوی.

په دې آیتونو کې ذکر شو چې په اولیاء الله ؒ باندې به یره او غم نه وي، نو ددې دوه مطلبه دي: اول مطلب: اولیاءُ الله چې کله د قیامت په ورځ د حساب و کتاب نه پس جنت ته داخل شي نو په دوی باندې به هلته هیڅ یره او غم نه وي، بلکه د جنت په دائمي نعمتونو کې به مشغول وي.

دویم مطلب: ډیرو مفسّرینو لیکلي چې په اولیاء الله ؒ باندې به په دنیا او آخرت دواړو کې ویره او غم نه وي.

خو په دې باندې دا اعتراض راځي چې که مونږ اوګورو نو په دنیا کې ډیر امتحانات په پیغمبرانو او نیکانو خلقو باندې راځي، او دوی د الله تعالی نه ډیر ویریږي، نو بیا د آیت څه مطلب شو؟

نو ددې جواب دادی چې په اولیاء الله ؒ باندې د دُنیاداره خلقو په شان د دُنیوي څیزونو ویره او غم نه وي، یعنی د دوی ددې فاني دُنیا سره هیڅ محبت نه وي نو که دُنیاوي څیزونه ورته ملاؤ نشي نو د مالدارو په شان سرګردانه او غمجن نه وي.

او که په دوی باندې د الله ﷻ د طرفه څه تکلیف راشي نو دا په ځان باندې یو امتحان ګنړي، د خپلو ګناهونو د ختمیدو او مرتبې اُوچتیدو ذریعه یې ګنړي، په صبر او استقامت سره دا تکلیف برداشت کوي. نو ځکه ورسره څه یره او غم نه وي.(۲)

---

(۱) یونس آیة ۶۲ تا ۶۴.

(۲) معارف القرآن مع الاختصار.

Scanned with CamScanner

**د اولیاؤ مقام :** ملاعلي قاري رحمه الله په مرقاة کې لیکلي چې الله تعالی اولیاؤ ته دومره لویه مرتبه ورکړی چې که دوی د چا د پاره دُعا او غواړي نو هغه دُعا یې قبلیږي ، او که دوی په یو کلي باندې تېر شي نو الله تعالی د دوی په برکت باندې د هغه کلي واله مغفرت کوي . (۱)

## د تقوی په وجه د دشمن د مکر و فریب نه په أمن کېدل

د صبر او تقوی په وجه الله تعالی انسان د دُشمنانو د مکر و فریب او د هغوی د ضرر نه محفوظ ساتي ، په قرآن کریم کې ذکر دي :

﴿وَإِنْ تَصْبِرُوا وَتَتَّقُوا لَا يَضُرُّكُمْ كَيْدُهُمْ شَيْئًا إِنَّ اللَّهَ بِمَا يَعْمَلُونَ مُحِيطٌ﴾. (۲)

ترجمه : او که تاسو صبر او تقوی اوکړې نو د دشمنانو مکر و فریب به تاسو ته هیڅ ضرر او نه رسوي ، بیشکه الله تعالی د هغوی په کارونو باندې اِحاطه کوونکی دی .

امام رازي رَحِمَهُ اللهُ په تفسیر کبیر کې د مذکوره آیت معنی دا بیان کړی :

إِنَّ كُلَّ مَنْ صَبَرَ عَلَى أَدَاءِ أَوَامِرِ اللهِ تَعَالَى وَاتَّقَى كُلَّ مَا نَهَى اللهُ عَنْهُ كَانَ فِي حِفْظِ اللهِ فَلَا يَضُرُّهُ كَيْدُ الْكَافِرِيْنَ وَلَا حِيَلُ الْمُحْتَالِيْنَ .

کوم کس چې د الله تعالی په أوامرو أداء کولو باندې صبر اوکړي او د کومو شیانو نه چې الله تعالی منع کړی د هغې نه منع شي نو داسې کس د الله تعالی په حفاظت کې راشي بیا ده

---

(۱) وَمِنْ أَمَارَاتِ وَلَايَتِهِ أَنْ يَرْزُقَهُ مَوَدَّةً فِي قُلُوبِ أَوْلِيَائِهِ. فَإِنَّ اللهَ يَنْظُرُ إِلَى قُلُوبِ أَوْلِيَائِهِ فِي كُلِّ وَقْتٍ. فَإِذَا رَأَى فِي قُلُوبِهِمْ لِعَبْدٍ مَحَلًّا يَنْظُرُ إِلَيْهِ بِاللُّطْفِ . وَإِذَا رَأَى هِمَّةَ وَلِيٍّ مِنْ أَوْلِيَائِهِ لِشَأْنِ عَبْدٍ. أَوْ سَمِعَ دُعَاءَ وَلِيٍّ فِي شَأْنِ شَخْصٍ يَأْبَى إِلَّا الْفَضْلَ وَالْإِحْسَانَ إِلَيْهِ أَجْرَى بِذَلِكَ سُنَّتَهُ الْكَرِيْمَةَ.

وَسَمِعْتُ الشَّيْخَ أَبَا عَلِيٍّ الدَّقَّاقَ رَحِمَهُ اللهُ يَقُولُ: لَوْ أَنَّ وَلِيًّا مِنْ أَوْلِيَاءِ اللهِ مَرَّ بِبَلْدَةٍ لَنَالَ بَرَكَةَ مُرُوْرِهِ أَهْلُ تِلْكَ الْبَلْدَةِ. حَتَّى يَغْفِرَ اللهُ لَهُمْ. وَمِنْ خُصُوصِيَّاتِ الْوِلَايَةِ أَنَّ أَهْلَهَا مُنَزَّهُوْنَ عَنِ الذُّلِّ. قَالَ تَعَالَى: {وَلَمْ يَكُنْ لَهُ وَلِيٌّ مِنَ الذُّلِّ} [ الاسراء آية ۱۱۱] فَأَوْلِيَاءُ اللهِ تَعَالَى دَائِمًا مُسْتَغْرِقُوْنَ فِي عِزِّ مَوْلَاهُمْ فِي دُنْيَاهُمْ وَأُخْرَاهُمْ. رَضِيَ اللهُ عَنْهُمْ وَجَعَلَنَا مِنْهُمْ بِمَنِّهِ وَكَرَمِهِ. مرقاة المفاتيح ج ۴ ص ۱۵۸۰ كِتَابُ أَسْمَاءِ اللهِ تَعَالَى .

(۲) آل عمران آية ۱۲۰ .

Scanned with CamScanner

ته د كافرانو مكر او حيله گرو حيلې هيڅ ضرر نشي رسولی.

بيا امام رازي رحمه الله ددې خبرې وضاحت داسې کړی چې الله تعالی مخلوقات د خپل عبادت د پاره پيدا کړي اوس چې څوک د الله تعالی عبادت کوي نو هغه به هم دا د آفتونو او ويرې د ځايونو نه ساتي، خپله وعده به ورسره پوره کوي، د دشمنانو د مکرونو او د سختی د ځايونو نه به يې ساتي. (۱)

كافرانو هم د نبي عليه السلام خلاف ډير مکرونه او تدبيرونه اوکړل مگر الله تعالی هغه ټول ختم کړل او د نبي عليه السلام حفاظت يې اوکړو، قرآن کريم ددې بيان داسې کړی:

﴿ وَإِذْ يَمْكُرُ بِكَ الَّذِينَ كَفَرُوا لِيُثْبِتُوكَ أَوْ يَقْتُلُوكَ أَوْ يُخْرِجُوكَ ۚ وَيَمْكُرُونَ وَيَمْكُرُ اللَّهُ ۖ وَاللَّهُ خَيْرُ الْمَاكِرِينَ ﴾.(۲)

ترجمه: او (اې پيغمبره! هغه وخت ياد کړه) کله چې كافرانو ستا خلاف تدبير (مکر) کولو چې دوی تا قيد کړي، يا دې قتل کړي، او يا دې د وطن نه اوباسي، دوی بد تدبير کولو او الله تعالی هم (ستا د حفاظت) تدبير کولو، او الله تعالی د ټولو نه ښه تدبير کوونکی دی.

بل ځای فرمايي:

﴿ وَقَدْ مَكَرُوا مَكْرَهُمْ وَعِندَ اللَّهِ مَكْرُهُمْ وَإِن كَانَ مَكْرُهُمْ لِتَزُولَ مِنْهُ الْجِبَالُ ﴾.(۳)

---

(۱) اَلْمَسْأَلَةُ الرَّابِعَةُ: مَعْنَى الْآيَةِ: أَنَّ كُلَّ مَنْ صَبَرَ عَلَى أَدَاءِ أَوَامِرِ اللهِ تَعَالَى وَاتَّقَى كُلَّ مَا نَهَى اللهُ عَنْهُ كَانَ فِي حِفْظِ اللهِ فَلَا يَضُرُّهُ كَيْدُ الْكَافِرِينَ وَلَا حِيَلُ الْمُحْتَالِينَ. وَتَحْقِيقُ الْكَلَامِ فِي ذٰلِكَ هُوَ أَنَّهُ سُبْحَانَهُ إِنَّمَا خَلَقَ الْخَلْقَ لِلْعُبُودِيَّةِ كَمَا قَالَ: وَمَا خَلَقْتُ الْجِنَّ وَالْإِنْسَ إِلَّا لِيَعْبُدُونِ [الذاريات آية ۵۶] فَمَنْ وَفَى بِعَهْدِ الْعُبُودِيَّةِ فِي ذٰلِكَ فَاللهُ سُبْحَانَهُ أَكْرَمُ مِنْ أَنْ لَا يَفِيَ بِعَهْدِ الرُّبُوبِيَّةِ فِي حِفْظِهِ عَنِ الْآفَاتِ وَالْمَخَافَاتِ. وَإِلَيْهِ الْإِشَارَةُ بِقَوْلِهِ وَمَنْ يَتَّقِ اللهَ يَجْعَلْ لَهُ مَخْرَجًا وَيَرْزُقْهُ مِنْ حَيْثُ لَا يَحْتَسِبُ [الطلاق آية ۲،۳] ﴾ إِشَارَةٌ إِلَى أَنَّهُ يُوصِلُ إِلَيْهِ كُلَّ مَا يَسُرُّهُ. التفسير الكبير ج ۸ ص ۳۳۴ سورة آل عمران آية ۱۲۰.

(۲) الانفال آية ۳۰.

(۳) ابراهيم آية ۴۶.

ترجمه: او دوی (ظالمانو د دین خلاف) خپل ټول تدبیرونه (او مکرونه) اوکړل او الله تعالی سره د دوی د تدبیرونو جزا ده، اگرچې د دوی تدبیرونه دومره ډَرانه وو چې ددې په وجه غرونه هم اُوخوځیږي.

مخکیني امتونو کې به هم کافرانو د مؤمنانو خلاف مکر کولو خو الله تعالی د هغوی مکرونه هم ختم کړي وو، فرمایي:

﴿ وَقَدْ مَكَرَ الَّذِينَ مِن قَبْلِهِمْ فَلِلَّهِ الْمَكْرُ جَمِيعًا ﴾.(۱)

ترجمه: او ددوی نه وړاندې قومونو هم تدبیرونه (مَکرونه) کړي وو حالانکه ټول تدبیرونه د الله تعالی په قبضهٔ قدرت کې دي (دوی ته به ددې سزا ورکوي).

بل ځای فرمایي:

﴿ قَدْ مَكَرَ الَّذِينَ مِن قَبْلِهِمْ فَأَتَى اللَّهُ بُنْيَانَهُم مِّنَ الْقَوَاعِدِ فَخَرَّ عَلَيْهِمُ السَّقْفُ مِن فَوْقِهِمْ وَأَتَاهُمُ الْعَذَابُ مِنْ حَيْثُ لَا يَشْعُرُونَ ﴾.(۲)

ترجمه: بیشکه د دوی نه وړاندې خلقو هم (د حق خلاف) تدبیر کړې وُ نو د الله تعالی حکم د دوی په عمارت (آبادۍ) باندې د بُنیادونو نه (د غورځولو متعلق) راغی، نو د پاس نه په دوی باندې چَت راپریوتلو، او د داسې ځای نه په دوی باندې عذاب راغی چې د دوی خیال هم نه وُ. (یعنی مکمل یې نیست و نابود کړل).

الله تعالی په ډیر تاکید سره دا خبره کړی چې تر څو پورې مؤمنان په خپل ایمان باندې مضبوط وي نو کافران به په دوی باندې نه غالب کیږي:

﴿ وَلَن يَجْعَلَ اللَّهُ لِلْكَافِرِينَ عَلَى الْمُؤْمِنِينَ سَبِيلًا ﴾.(۳)

ترجمه: او هیڅ کله به الله تعالی کافرانو ته په مؤمنانو باندې لار د غلبې ورنکړي.

---

(۱) الرعد آية ۴۲.

(۲) النحل آية ۲۶.

(۳) النساء آية ۱۴۱.

Scanned with CamScanner

# الله تعالى امام ابو حنيفه رَحِمَهُ اللهُ لره د حاسدانو د مكر نه بچ كړو

په امام اعظم ابو حنيفه رَحِمَهُ اللهُ كې چونكه كمال زيات ؤ نو حاسدين يې هم زيات وو ، دوى به كوشش كولو چې په امام صاحب باندې داسې څه تُهمت اُولږوي چې خلق ورباندې بدگمانه شي ، نو حاسِدانو د يوې ښځې سره خبره اوكړه چې : ته په څه بهانه باندې امام صاحب خپل كور ته داخل كړه مونږ به تا ته ددې په عوض كې ډيرې روپۍ دركړو .

ښځه دُهوكه شوه او خبره يې اُومنله ( ځكه ښځې په خپله هم زر دُهوكه كيږي او نور خلق هم دوى ته په آسانه دُهوكه وركولې شي ) ، ددې زنانه كور په لاره كې ؤ ، يوه شپه امام صاحب خپل كور ته تللو ، دا ښځه په پَرده كې بهر رااُووته او امام صاحب ته يې ووېل :

زما خاوند وفات كيږي او څه وصيت كول غواړي خو زه پرې نه پوهيږم چې هغه څه وايي؟ زه تا ته د الله ﷻ واسطه دركوم چې ته راشه او هغه وصيت واوره .

امام صاحب كور ته ورننوت ، دې زنانه د كور دروازه بنده كړه ، په كمرو كې چې كوم حاسدان پَټ ناست وو هغوى رااُووتل ، نو دوى امام صاحب او دا ښځه اُونيول او پوليس ته يې حواله كړل ، د وخت بادشاه ته خبره اُورسيده ، هغه ورته ووېل :

تاسو يې اوس په جېل كې واچوئ صبا به ورسره زه گورم .

نو امام صاحب او دا ښځه يې په يوه تياره كمره كې بند كړل ، چونكه په دې وخت كې د امام صاحب اَودس ؤ نو په نوافلو باندې اُودريد او دير وخت په نوافلو كې مشغول ؤ ، دې ښځې ته د خپلې غلطۍ اِحساس اوشو چې ما خو په يو پاك دامَن كس باندې بُهتان اولږول .

كله چې امام صاحب سلام اُوگرځول نو دې ښځې ورنه معافي اوغوښته او ټوله واقعه يې ورته بيان كړه .

امام صاحب ورته ووېل چې څه اُوشو نو هغه اُوشو ، اوس زه تا ته يو تدبير ښايم چې په دې سره به مونږ ددې مصيبت نه خلاص شو ، هغه دا چې ته ددې جېل پهره دار ته اووايه چې " دې خلقو زه ناڅاپه اُونيوم او دلته يې راوَستم زه كور ته د يو ضروري كار پسې تلل غواړم ته راسره د كوره پورې لاړ شه زه به هغه كار اوكړم او واپس به درسره راشم " كله چې پهره دار ستا دا خبره اُومنې نو ته زما كور ته لاړه شه هلته زما بي بي ته دا واقعه بيان

کړه ، بيا خپله بُرقع هغې ته ورکړه ، ته هلته پاتې شه او زما بي بي به ستا په دې بُرقعه کې د پهره دار سره راشي .

همداسې اُوشو ، دې زَنانه پهره دار ته ډيرې زارۍ اوکړی ، آخر هغه ورسره لاړ ، دا زَنانه د امام صاحب کور ته لاړه ، د هغې طرفه په همدې بُرقعه کې د امام صاحب بي بي راغله او جيل ته ننوته .

چې صبا شو نو حاکِم امام صاحب او دا زَنانه ځان ته رااُوغوښتل ، ډير خلق راجمع وو ، ټول حاسدان هم راجمع شوي وو ( زړونه يې ښه وو چې اوس به په امام صاحب باندې تهمت اُولګي او حاکم به سزا ورکړي ).

کله چې د حاکم مخې ته دواړه پيش شو نو حاکِم د امام صاحب نه پوښتنه اوکړه :

امام صاحب ! ته دومره لوي عالِم يې او بيا هم ګناهِ کبيره کوی ؟

امام صاحب ورته ووئيل : دا ته څه وايې ؟

هغه ورته ووئيل : ته د شپې يوائحې ددې پرَدې زَنانه سره په کور کې ليدل شوې يې .

امام صاحب ورته ووئيل : دا خو زما خپله بي بي ده او که ستا په زړه کې شک وي نو زما د سخَر ( د ښځې پلار ) نه پوښتنه اوکړه چې دا ښځه څوک ده ؟

سخَر يې راغی او دا زَنانه يې اُوکتله نو وې وئيل : دا خو زما لور ده او مام صاحب ته مې په نکاح باندې ورکړې ده .

نو حاکم دواړه پريخودل ، او حاسدين رَسواء شول .(١)

## د صبر او تقوَی په برکت سره دُشمن هلاکيدل

يو کس امام اعظم ابوحنيفه رحمه الله ته راغی او ده د ګستاخۍ او بې ادبۍ په نيت يې دده نه پوښتنه وکړه : امام صاحب ! زه خبر شوي يم چې ستا پلار وفات شوی . ده ورته ووئيل : آو ، هغه وفات شوی . هغه بيا پوښتنه وکړه : ستا مور ژوندۍ ده ؟ ده ورته ووئيل : آو ، ژوندۍ ده . هغه د بې ادبۍ په اِراده ووئيل :

ما اوريدلي دي چې ستا مور ډيره ښائسته ده ، لهذا زه راغلې يم چې ته د هغې نکاح د

(١) اہل دل کے تڑپا دینے والے واقعات ج ٢ ص ٢۴۴ ، خطبات فقیر ج ١۴ ص ٢۳۳ .

ماسره وکړي ( د امام صاحب مور ډيره بوډۍ وه، د نکاح نه وه خو ددې سړي مقصد د امام صاحب گستاخي وه ).

امام صاحب د صبر او اِستقامت نه کار واخيست، او ورته وې ويل : زما مور خو عاقِله، بالغه ښځه ده ، د نکاح اِختيار خو دهغې سره دی ، زه خو يې په زوره تاته په نکاح نه شم درکولی، البته زه به ورنه پوښتنه وکړم.

نو امام صاحب کور ته روان شو چې د هغې نه پوښتنه اوکړي ، چې څه لږ مخکې لاړ او شاطرف ته يې را وکتل نو وې ليد چې ناڅاپه دا سړی را اوغورځيد او مړ شو ، پوښتنه اوشوه چې دا چا اوو‌ژل؟ جواب راغی چې دا د امام ابوحنيفه رحمه الله صبر قتل کړو.

يو شاعر وايي :

هيچ قومے را خدا رسوا نه کرد ❁ تا دِلے صاحب دِلے نآمد بدرد

هيڅ يو قوم تر هغه وخته پورې الله ﷻ نه دی رَسوا کړی ترڅو چې دوی د يو وَلِيُ الله زړه ته درد نه وي رسولی . ( کله چې دوی يو وَلِيُ الله ته تکليف اورسوي نو الله تعالى دغه قوم بيا رَسوا کوي ).(١)

## د تقوٰی په وجه د تنگئ او مصيبت نه وتل

د تقوی په وجه انسان د تنگئ او مصيبت نه اُوځي .

په بخاري شريف کې اُوړده واقعه ذکر ده ((( چې د بني اسرائيلو درې کسان غار ته ننوتي وو ، او بيا کاڼړې د غار خُلې ته رااُوغورځيد ، بيا هر يو خپل عمل الله تعالى ته وسيله کړو ، يو په کې د خپلې تقوی ( د زِنا نه د بچ کيدو ) واله عمل الله تعالى ته وسيله کړو نو الله ﷻ هغه کاڼړې لرې کړو ، او درې واړه روغ جوړ د غار نه رااُووتل ))).

دا واقعه اگر چې اُوږده ده خو د عبرت نه ډکه ده نو ځکه يې درته پوره ذکر کوم :

دا واقعه په بخاري شريف او مسلم شريف کې ذکر ده ، رسولُ الله ﷺ فرمايي : -

يو ځل درې کسان چيرته ( په سفر باندې ) روان وو ، په لاره کې سخت باران راگير کړل،

(١) اشرف الحكايات ص ٥٥ ، مطالي فكر انگيز واقعات ص ١٦٥ ، خطبات فقير ج٥ ص ٦١.

هغوی (د باران نه د بچ کیدو د پاره) په غَر کې یو غار ته ننوتل، په دې وخت کې د غَر نه یو غټ کانړې د غار په خُله کې رااُوغورځید او د غار خُله مکمل بنده شوه، (کله چې بهر ته د راتلو لار بنده شوه) نو دوی درې واړو یو بل ته وویل:

اُنْظُرُوْا أَعْمَالًا عَمِلْتُمُوْهَا لِلّٰهِ صَالِحَةً. فَادْعُوا اللهَ بِهَا لَعَلَّهُ يَفْرُجُهَا.

تاسو په خپلو عملونو باندې نظر واچوئ او کوم نیک اعمال چې تاسو خالِصه د الله ﷻ د رَضا د پاره کړي وي د هغې په ذرِیعه باندې د الله ﷻ نه دُعا اُوغواړئ، شاید چې الله ﷻ دا کانړې (یا دا مصیبت) لرې کړي.

نو په دوی کې یو کس ووېل: اې الله! (ته ښه پوهېږې چې) زما مور او پلار ډېر بوډاګان وو او زما ځو واړه بچي هم وو، ما به چیلۍ څرولی (ددې د پاره چې د شودو په ذریعه د دوی د خوراک اِنتظام اوکړې شم)، کله به چې زه ماښام کور ته راغلم او چیلۍ به مې اُولوشلی نو د بچو نه مخکې به مې اول په مور او پلار باندې شوده څکل.

یوه ورځ داسې اِتفاق اوشو چې د ګیاه تلاش زه ډیر لرې بوتلم (یعنی د چیلۍ په څرولو کې ډیر لرې لاړم) تر دې چې زه شپې (ناوَخته) کور ته راغلم نو مور او پلار مې اُوده شوي وو، ما د خپل معمول مطابق چیلۍ رااُولوشلی، د شودو ډک لوخې مې راوړو او د مور پلار سَر ته اُودریدم، ما دوی راویخول هم بَدګنړل، او دا مې هم بَدګنړل چې د خپلو والدینو نه مخکې یې خپلو بچو ته ورکړم، حالانکه زما بچي د ډیرې ولږې د وجې زما په خپو کې لغړیدل، او ژړل یې (خو لیکن ما ته د مور او پلار حق دومره لوي مَعلومیدو چې اول مې خپلو بچو ته شوده ورکول نه غوښتل (۱)).

دوی اُوده وو او زه د دوی سَر ته ولاړ ووم د شودو لوخې راسره په لاس کې وُ، تر دې چې سهر شو (دوی راپاڅیدل، اول مې دوی ته شوده ورکړل او بیا مې په خپلو بچو باندې اُوڅکل).

(۱) دې سرې چې خپلو بچو ته شوده اول نه ورکول نو دا ځکه چې کیدې شي د هغوی په شریعت کې د والدینو نفقه د بچو په نفقه باندې مقدمه وه، یا بعضې علماء وایي چې کیدې شي د ضرورت په مقدار یې بچو ته ورکړي وو خو بچو یې په هغې صبر نه کولو او نور یې غوښتل. مظاهرحق شرح مشکوة باب البر والصلة الفصل الثالث.

فَإِنْ كُنْتَ تَعْلَمُ أَنِّي فَعَلْتُ ذٰلِكَ ابْتِغَاءَ وَجْهِكَ فَافْرُجْ لَنَا فُرْجَةً نَرَى مِنْهَا السَّمَاءَ.

نو اې الله ! تاته ښه معلومه ده چې که چیرته ما دا کار خاص ستا د رَضا د پاره کړې وي نو ته (ددې نېک عمل په وَسیله) دا کاڼړې دومره لرې کړه چې مونږ آسمان اوګورو.

نو (دُعا قبوله شوه) الله ﷻ دا کاڼړې دومره لرې کړو چې دوی آسمان اُولید.

دې دویم کس ووېل : اې الله ! زما د تره لور وه، زما ددې سره داسې سخت محبت ؤ لکه د سړو چې د ښځو سره څومره محبت وي، کله چې ما د هغې نه د خپل خواهش پوره کولو مطالبه اوکړه نو هغې اِنکار اوکړو، او وې وېل چې تر څو پورې تا ماله سل (۱۰۰) دِیناره نه وي راکړي نو تر هغې پورې ستا خبره نه منم.

نو ما په ډېر محنت سره سل (۱۰۰) دِیناره جَمع کړل، هغې ته مې ورکړل (هغه هم راضي شوه) کله چې زه د خپل خواهش پوره کولو د پاره ددې د دواړو خپو په مینځ کې کیناستم نو دې ووېل :

يَا عَبْدَ اللهِ اتَّقِ اللهَ . وَلَا تَفْتَحِ الْخَاتَمَ .

اې د الله بنده ! د الله ﷻ نه اُووېرېږه، او مُهر (بَکارَت) مه ماتوه. (یعنی زِنا مه کوه)

نو زه (دې آورېدو سره د الله ﷻ د یَرې د وجې) راپاڅېدم.

اَللّٰهُمَّ فَإِنْ كُنْتَ تَعْلَمُ أَنِّي قَدْ فَعَلْتُ ذٰلِكَ ابْتِغَاءَ وَجْهِكَ فَافْرُجْ لَنَا مِنْهَا.

اې الله ! تاته ښه معلومه ده چې که چیرته ما دا کار (یعنی ستا د یَرې د وجې د زِنا نه بچ کېدل) ستا د رَضا د پاره کړې وي نو بیا (ددې نېک عمل په وَسیله باندې) دا کاڼړې نور هم لرې کړه.

نو (دده دُعا هم قبوله شوه او) الله ﷻ دا کاڼړې نور هم (د غار د خُلې نه) لرې کړو.

دې دریم کس ووېل : اې الله ! ما یو مزدور د یو فَرَق (یعنی یو پیمانه) وریژو په عِوض کې په مزدورۍ باندې نیولې ؤ، کله چې هغه خپل کار پوره کړو نو وې وېل :

أَعْطِنِي حَقِّي. ما ته زما حَق (مزدوري) راکړه.

ما ورته خپل حق پیش کړو خو هغه (په څه وجه باندې) دا پرېخود، او ددې (د اخیستلو) نه یې اِعراض اوکړو.

Scanned with CamScanner

( مزدور لاړ ، ډیر وخت رانغی ) ، ما به همیشه د هغه وریژي کړلی ، تردې چې ما ( د هغې په قیمت باندې ) ډیرې غواګانې ، او ددې د پاره شپونکیان ( او نور ډیر مالونه اخیستلو سره ) جمع کړل .

پس کله ( چې ډیر وخت پس ) هغه کس ماته راغی نو وې ویل :

إِتَّقِ اللهَ وَلَا تَظْلِمْنِيْ وَأَعْطِنِيْ حَقِّيْ .

د الله ﷻ نه اُوویرېږه ، په ما باندې ظلم مه کوه ، او ماته خپل حَق راکړه .

ما ورته وویل : لاړ شه دا غواګانې او شپونکیان ( او ورسره دا نور مالونه ) واخله ( دا ټول ستا حَق دی ) .

هغه وویل : د الله ﷻ نه اُوویرېږه او په ما پورې ټوقې مه کوه .

ما ورته وویل : زه تا پورې ټوقې نه کوم ، دا غواګانې او شپونکیان ( وغیره ) واخله ( دا ټول ستا حَق دی ) .

پس هغه دا ټول په خپله قبضه کې واخیست او د ځان سره یې بوتلل .

فَإِنْ كُنْتَ تَعْلَمُ أَنِّيْ فَعَلْتُ ذٰلِكَ ابْتِغَاءَ وَجْهِكَ فَافْرُجْ مَا بَقِيَ .

( اې الله ! ) تاته ښه معلومه ده چې که چیرته ما دا کار خاص ستا د رَضا د پاره کړې وي نو ( ددې عمل په وسیله باندې ) دا باقي پاتې کانړې هم لرې کړه ( چې د غار خُله مکمل کلاؤ شي ) .

نو ( دده دُعا هم قبوله شوه ) الله تعالی دا کانړې د غار د خُلې نه مکمل لرې کړو . ( او دوی ټول ورنه صحیح سالِم را اُووتل ) .(۱)

---

(۱) عَنِ ابْنِ عُمَرَ رَضِيَ اللهُ عَنْهُمَا ، عَنْ رَسُوْلِ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ : بَيْنَمَا ثَلَاثَةُ نَفَرٍ يَتَمَاشَوْنَ أَخَذَهُمُ الْمَطَرُ ، فَمَالُوْا إِلَى غَارٍ فِي الْجَبَلِ ، فَانْحَطَّتْ عَلَى فَمِ غَارِهِمْ صَخْرَةٌ مِنَ الْجَبَلِ فَأَطْبَقَتْ عَلَيْهِمْ ، فَقَالَ بَعْضُهُمْ لِبَعْضٍ : انْظُرُوْا أَعْمَالًا عَمِلْتُمُوْهَا لِلّٰهِ صَالِحَةً ، فَادْعُوا اللهَ بِهَا لَعَلَّهُ يَفْرُجُهَا ، فَقَالَ أَحَدُهُمْ : اَللّٰهُمَّ إِنَّهُ كَانَ لِيْ وَالِدَانِ شَيْخَانِ كَبِيْرَانِ ، وَلِيْ صِبْيَةٌ صِغَارٌ ، كُنْتُ أَرْعٰى عَلَيْهِمْ ، فَإِذَا رُحْتُ عَلَيْهِمْ فَحَلَبْتُ بَدَأْتُ بِوَالِدَيَّ أَسْقِيْهِمَا قَبْلَ وَلَدِيْ ، وَإِنَّهُ نَاءَ بِيَ الشَّجَرُ ، فَمَا أَتَيْتُ حَتّٰى أَمْسَيْتُ فَوَجَدْتُهُمَا قَدْ نَامَا ، فَحَلَبْتُ كَمَا كُنْتُ أَحْلُبُ ، فَجِئْتُ بِالْحِلَابِ فَقُمْتُ عِنْدَ رُءُوْسِهِمَا ، أَكْرَهُ أَنْ أُوْقِظَهُمَا مِنْ نَوْمِهِمَا ، وَأَكْرَهُ أَنْ أَبْدَأَ بِالصِّبْيَةِ قَبْلَهُمَا . ←←←←←

فائده: ددې واقعې نه دا هم معلومه شوه چې د تقوی، پرهیزګارۍ، او اخلاص په وجه الله تعالی انسان ته د مصیبتونو نه نجات ورکوي.

## د تقوٰی په وجه د مشکلاتو نه وتل، او رِزق فراخه کیدل

متّقیانو ته الله جلّ جلاله د مشکلاتو، غمونو او سختی نه د وتلو لار پیدا کوي، او د داسې ځای نه ورته رزق ورکوي چې د دوی ګمان هم نه وي، او بیا په دې زرق کې ورته برکت هم اچوي.

١ . دا خبره صراحةً په قرآن کریم کې ذکر ده:

﴿ وَمَن يَتَّقِ اللَّهَ يَجْعَل لَّهُ مَخْرَجًا ۝٢ وَيَرْزُقْهُ مِنْ حَيْثُ لَا يَحْتَسِبُ ﴾.(١)

ترجمه: او څوک چې د الله ﷻ نه ویریږي نو الله ده ته (د دُنیا او آخرت د مصیبتونو نه)

---

←←←← وَالصِّبْيَةُ يَتَضَاغَوْنَ عِنْدَ قَدَمَيَّ، فَلَمْ يَزَلْ ذٰلِكَ دَأْبِي وَدَأْبَهُمْ حَتّٰى طَلَعَ الْفَجْرُ. فَإِنْ كُنْتَ تَعْلَمُ أَنِّي فَعَلْتُ ذٰلِكَ ابْتِغَاءَ وَجْهِكَ فَافْرُجْ لَنَا فُرْجَةً نَرَى مِنْهَا السَّمَاءَ. فَفَرَجَ اللهُ لَهُمْ فُرْجَةً حَتّٰى يَرَوْنَ مِنْهَا السَّمَاءَ. وَقَالَ الثَّانِي: اَللّٰهُمَّ إِنَّهُ كَانَتْ لِي ابْنَةُ عَمٍّ أُحِبُّهَا كَأَشَدِّ مَا يُحِبُّ الرِّجَالُ النِّسَاءَ. فَطَلَبْتُ إِلَيْهَا نَفْسَهَا. فَأَبَتْ حَتّٰى آتِيَهَا بِمِائَةِ دِينَارٍ. فَسَعَيْتُ حَتّٰى جَمَعْتُ مِائَةَ دِينَارٍ فَلَقِيتُهَا بِهَا. فَلَمَّا قَعَدْتُ بَيْنَ رِجْلَيْهَا قَالَتْ: يَا عَبْدَ اللهِ اتَّقِ اللهَ. وَلَا تَفْتَحِ الْخَاتَمَ. فَقُمْتُ عَنْهَا. اَللّٰهُمَّ فَإِنْ كُنْتَ تَعْلَمُ أَنِّي قَدْ فَعَلْتُ ذٰلِكَ ابْتِغَاءَ وَجْهِكَ فَافْرُجْ لَنَا مِنْهَا. فَفَرَجَ لَهُمْ فُرْجَةً. وَقَالَ الْآخَرُ: اَللّٰهُمَّ إِنِّي كُنْتُ اسْتَأْجَرْتُ أَجِيرًا بِفَرَقِ أَرُزٍّ. فَلَمَّا قَضٰى عَمَلَهُ قَالَ: أَعْطِنِي حَقِّي. فَعَرَضْتُ عَلَيْهِ حَقَّهُ فَتَرَكَهُ وَرَغِبَ عَنْهُ. فَلَمْ أَزَلْ أَزْرَعُهُ حَتّٰى جَمَعْتُ مِنْهُ بَقَرًا وَرَاعِيَهَا. فَجَاءَنِي فَقَالَ: اتَّقِ اللهَ وَلَا تَظْلِمْنِي وَأَعْطِنِي حَقِّي. فَقُلْتُ: اذْهَبْ إِلٰى ذٰلِكَ الْبَقَرِ وَرَاعِيهَا. فَقَالَ: اتَّقِ اللهَ وَلَا تَهْزَأْ بِي. فَقُلْتُ: إِنِّي لَا أَهْزَأُ بِكَ. فَخُذْ ذٰلِكَ الْبَقَرَ وَرَاعِيَهَا. فَأَخَذَهُ فَانْطَلَقَ بِهَا. فَإِنْ كُنْتَ تَعْلَمُ أَنِّي فَعَلْتُ ذٰلِكَ ابْتِغَاءَ وَجْهِكَ. فَافْرُجْ مَا بَقِيَ. فَفَرَجَ اللهُ عَنْهُمْ. صحیح البخاري كِتَابُ الْأَدَبِ بَابُ إِجَابَةِ دُعَاءِ مَنْ بَرَّ وَالِدَيْهِ رقم الحديث ٥٩٧٤، ورقم الحديث ٢٢٧٢ كِتَابُ الْإِجَارَةِ بَابُ مَنِ اسْتَأْجَرَ أَجِيرًا فَتَرَكَ الْأَجِيرُ أَجْرَهُ... ورقم الحديث ٢٣٣٣ كِتَابُ الْمُزَارَعَةِ بَابُ إِذَا زَرَعَ بِمَالِ قَوْمٍ بِغَيْرِ إِذْنِهِمْ، وَكَانَ فِي ذٰلِكَ صَلَاحٌ لَهُمْ. صحيح مسلم كِتَابُ الرِّقَاقِ بَابُ قِصَّةِ أَصْحَابِ الْغَارِ الثَّلَاثَةِ وَالتَّوَسُّلِ بِصَالِحِ الْأَعْمَالِ رقم الحديث ١٠٠(٢٧٤٣).

(١) الطلاق آية ٢، ٣.

د خلاصى لار پيدا كوي، او د داسې ځاى نه ورته رزق وركوي چې دده ګمان هم نه وي. (۱)

۲. حضرت ابوذر ﷛ فرمايي چې رسول الله ﷺ دا آيت ﴿ وَمَن يَتَّقِ اللَّهَ يَجْعَل لَّهُ مَخْرَجًا ۝ وَيَرْزُقْهُ مِنْ حَيْثُ لَا يَحْتَسِبُ ﴾ تلاوت كړو او بار بار به يې ويلو تر دې چې په ما باندې پَركالي (د خوب جُوته) راغله، نبي عليه السلام اوفرمايل:

يَا أَبَا ذَرٍّ! لَوْ أَنَّ النَّاسَ أَخَذُوا بِهَا لَكَفَتْهُمْ.

اې ابوذر! كه چيرته خلقو په دې باندې عمل كړې وى نو دا به دوى ته كافي شوې وُ. (۲)

۳. په وړسې آيت كې الله تعالى فرمايي: ﴿ وَمَن يَتَّقِ اللَّهَ يَجْعَل لَّهُ مِنْ أَمْرِهِ يُسْرًا ﴾. (۳)

ترجمه: او څوك چې د الله نه ويرېږي نو الله تعالى به دده په (هر) كار كې آساني پيدا كړي.

## د رِزق او نِعمتونو خزانې د الله ﷻ سره دي

دا زمونږ عقيده ده چې د رزق او نعمتونو خزانې د الله ﷻ سره دي او هغه دا په خپلې اندازې سره رانازلوي، په قرآن كريم كې ذكر دي:

﴿ وَإِن مِّن شَيْءٍ إِلَّا عِندَنَا خَزَائِنُهُ وَمَا نُنَزِّلُهُ إِلَّا بِقَدَرٍ مَّعْلُومٍ ﴾. (۴)

ترجمه: او هيڅ څيز داسې نشته چې مونږ سره د هغې خزانې نه وي (يعنى مونږ سره د

---

(۱) ﴿ يَجْعَل لَّهُ مَخْرَجًا ﴾ مِنْ كَرْب الدنيا والآخرة ﴿ وَيَرْزُقْهُ مِنْ حَيْثُ لَا يَحْتَسِبُ ﴾ يَخْطِر بِبَالِهِ ﴿ وَمَن يَتَوَكَّلْ عَلَى اللَّهِ ﴾ فِي أُمُوره ﴿ فَهُوَ حَسْبُه ﴾ كَافِيه. تفسير الجلالين سورة الطلاق آية ۲، ۳.

(۲) قَالَ أَبُو ذَرٍّ رَضِيَ اللهُ عَنْهُ: جَعَلَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَتْلُو هَذِهِ الْآيَةَ { وَمَن يَتَّقِ اللَّهَ يَجْعَل لَّهُ مَخْرَجًا وَيَرْزُقْهُ مِنْ حَيْثُ لَا يَحْتَسِبُ } [الطلاق الطلاق ۳] قَالَ: فَجَعَلَ يُرَدِّدُهَا حَتَّى نَعَسْتُ فَقَالَ: «يَا أَبَا ذَرٍّ! لَوْ أَنَّ النَّاسَ أَخَذُوا بِهَا لَكَفَتْهُمْ» المستدرك على الصحيحين للحاكم رقم الحديث ۳۸۱۹ وقال الحاكم: هَذَا حَدِيثٌ صَحِيحُ الْإِسْنَادِ وَلَمْ يُخَرِّجَاهُ. ووافقه الذهبي.، المعجم الأوسط رقم الحديث ۲۴۷۴، مسند احمد مخرجا رقم الحديث ۲۱۵۵۱، صحيح ابن حبان رقم الحديث ۶۶۶۹.

(۳) الطلاق آية ۴.

(۴) الحجر آية ۲۱.

Scanned with CamScanner

هر څه خزانې شته) مګر مونږ دا په معلومې اندازې سره نازلوو.

ځکه که الله تعالی دا هر څه د معلوم مقدار نه زیات نازل کړي نو بیا خلق په زمکه کې فساد کوي: ﴿ وَلَوْ بَسَطَ اللَّهُ الرِّزْقَ لِعِبَادِهِ لَبَغَوْا فِي الْأَرْضِ وَلَٰكِن يُنَزِّلُ بِقَدَرٍ مَّا يَشَاءُ ۚ إِنَّهُ بِعِبَادِهِ خَبِيرٌ بَصِيرٌ ﴾.(۱)

ترجمه: که چیرته الله تعالی خپلو بندګانو ته رزق (ډیر) فراخه کړې وی نو خامخا دوی به په زمکه کې فساد کولی لیکن الله تعالی چې څه اوغواړي نو په خپله اندازه یې رانازلوي، بیشکه هغه په خپلو بندګانو باندې ښه خبردار دی (او) هر څه وینی.

لهذا ټولو مخلوقاتو ته رزق ورکوونکی الله تعالی دی:

﴿ وَمَا مِن دَابَّةٍ فِي الْأَرْضِ إِلَّا عَلَى اللَّهِ رِزْقُهَا ﴾.(۲)

ترجمه: او په مخ د زمکه هیڅ جاندار (ساه لرونکې) نشته مګر د هغه (ټولو) رزق په الله تعالی باندې دی. (یعنی د هر ژِندهِ سَر رزق په الله تعالی باندې دی).

بل ځای فرمایي:

﴿ وَكَأَيِّن مِّن دَابَّةٍ لَّا تَحْمِلُ رِزْقَهَا ۖ اللَّهُ يَرْزُقُهَا وَإِيَّاكُمْ ۚ وَهُوَ السَّمِيعُ الْعَلِيمُ ﴾.(۳)

ترجمه: ډیر داسې جاندار شته چې هغوی خپله روزي نه اُوچتوي، الله تعالی هغوی له رزق ورکوي او تاسو ته یې هم درکوي، او هغه آوریدونکی پوهه دی.

چاته رزق فراخول او تنګول هم د الله ﷻ په اختیار کې دي:

﴿ اللَّهُ يَبْسُطُ الرِّزْقَ لِمَن يَشَاءُ مِنْ عِبَادِهِ وَيَقْدِرُ لَهُ ۚ إِنَّ اللَّهَ بِكُلِّ شَيْءٍ عَلِيمٌ ﴾(۴)

ترجمه: الله تعالی هغه ذات دی چې په خپلو بندګانو کې چاته اوغواړي نو رُوزي ورله

---

(۱) الشوری آیة ۲۷.

(۲) هود آیة ۶.

(۳) العنکبوت آیة ۶۰.

(۴) العنکبوت آیة ۶۲. / بل ځای فرمایي: ﴿ لَهُ مَقَالِيدُ السَّمَاوَاتِ وَالْأَرْضِ ۖ يَبْسُطُ الرِّزْقَ لِمَن يَشَاءُ وَيَقْدِرُ ۚ إِنَّهُ بِكُلِّ شَيْءٍ عَلِيمٌ ﴾ الشوری آیة ۱۲.

Scanned with CamScanner

فراخه کوي او چاته یې تنګوي ، بیشکه الله ﷻ په هر څیز باندې بنه پوهه دی.
اوس چې په چا کې تقوی زیاته وي نو الله تعالی به هغه ته د داسې ځایونو نه رزق ورکوي چې د هغه به ګمان هم ورباندې نه وي.

## د تقوی په وجه د آسمان نه برکتونه را نازلیږي

په کومو خلقو کې چې تقوی پیدا شي نو الله تعالی په داسې خلقو باندې د آسمان د طرفه د خیر او برکت دَروازې کلاوُوي، او رَحمتونه ورباندې راوروي. الله تعالی فرمایي:

﴿ وَلَوْ أَنَّ أَهْلَ الْقُرَىٰ آمَنُوا وَاتَّقَوْا لَفَتَحْنَا عَلَيْهِم بَرَكَاتٍ مِّنَ السَّمَاءِ وَالْأَرْضِ ﴾.(۱)

ترجمه: که چیرته د دغه کلو اُوسیدونکو خلقو ایمان راوړې وی او تقوی (پرهیزګاري) یې کړې وی نو مونږ به په دوی باندې د آسمان او زمکې نه برکتونه پرانیستي وو.
(یعنی د آسمان نه به مو ورباندې د رحمت بارانونه راوَرولوي وی او د زمکې نه به مو ورله فصلونه او میوې رازرغونې کړې وی، او عذابونه به مو ورنه ختم کړي وی). (۲)

## د الله تعالی نعمتونه او ثوابونه په تقوی او ریښتینې پرهیزګارۍ ملاویدې شي

حضرت عیسیٰ علیه السلام فرمایي:

لَوْ صُمْتُمْ حَتَّى تَصِيرُوا مِثْلَ الْحَنَايَا وَصَلَّيْتُمْ حَتَّى تَكُونُوا أَمْثَالَ الْأَوْتَادِ، وَجَرَى مِنْ أَعْيُنِكُمُ الدُّمُوعُ أَمْثَالَ الْأَنْهَارِ مَا أَدْرَكْتُمْ مَا عِنْدَ اللهِ إِلَّا بِوَرَعٍ صَادِقٍ. (۳)

که چیرته تاسو دومره روژې اُونیسی چې د ډیرو روژو په وجه د لیندې په شان کاږه شی، او دومره مونځونه اوکړی چې د ډیرو اُودریدو په وجه د میخونو په شان نیغ شی، او

---

(۱) الاعراف آیة ۹۶.

(۲) ﴿لَفَتَحْنَا عَلَيْهِم بَرَكَاتٍ مِّنَ السَّمَاءِ وَالْأَرْضِ﴾ يَعْنِي: الْمَطَرَ مِنَ السَّمَاءِ وَالنَّبَاتَ مِنَ الْأَرْضِ. وَأَصْلُ الْبَرَكَةِ: الْمُوَاظَبَةُ عَلَى الشَّيْءِ، أَيْ: تَابَعْنَا عَلَيْهِمُ الْمَطَرَ وَالنَّبَاتَ وَرَفَعْنَا عَنْهُمُ الْقَحْطَ وَالْجَدْبَ. تفسیر البغوي (معالم التنزیل في تفسیر القرآن) ج ۲ ص ۲۱۶ سورة الاعراف آیة ۹۶.

(۳) الورع لابن ابي الدنیا ص ۴۹، الترغیب والترهیب لقوام السنّة ج ۳ ص ۲۶۸ باب الواو باب في الترغیب في الورع رقم الحدیث ۲۳۹۹.

ستاسو د سترګو نه د نهرونو په شان اُوښکې اُوبهيږي خو د الله تعالی چې کوم نعمتونه دي هغه به د ريښتينې پرهيزګاری (او تقوی) نه بغير اُو نه مومی .

## تقوی دار او پرهيزګار ډير عبادت ګزار دی

رسول الله صلی الله عليه وسلم حضرت ابوهريرة رضي الله عنه ته او فرمايل :

كُنْ وَرِعًا تَكُنْ أَعْبَدَ النَّاسِ . (۱)

ته پرهيزګار جوړ شه نو په ټولو خلقو کې به ډير عبادت ګزار شی .

تقوی او پرهيزګاری ته بهترين دِين ويل شوی ، رسول الله صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فرمايي :

... خَيْرُ دِيْنِكُمُ الْوَرَعُ . (۲) ستاسو بهترين دين پرهيزګاري ده .

## د تقوٰی برکت : (د مسلمان د تقوی په وجه کافر ته اِيمان نصيب کيدل)

ابن خريف رَحِمَهُ اللهُ فرمايي چې زما پلار به د کپړو تجارت کولو ، په هغه وخت کې يو مشهور دَلال ( خرڅوونکی ) وُ چې نوم يې احمد بن حبيب وُ ، زما پلار هغه ته د کپړو يو ټان د خرڅولو د پاره ورکړو او دا يې ورته و ويل چې :

---

(۱) پوره حديث داسې دی : عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ رضي الله عنه : قَالَ: قَالَ رَسُوْلُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: يَا أَبَا هُرَيْرَةَ ! كُنْ وَرِعًا تَكُنْ أَعْبَدَ النَّاسِ ، وَكُنْ قَنِعًا تَكُنْ أَشْكَرَ النَّاسِ ، وَأَحِبَّ لِلنَّاسِ مَا تُحِبُّ لِنَفْسِكَ تَكُنْ مُؤْمِنًا ، وَأَحْسِنْ جِوَارَ مَنْ جَاوَرَكَ تَكُنْ مُسْلِمًا ، وَأَقِلَّ الضَّحِكَ فَإِنَّ كَثْرَةَ الضَّحِكِ تُمِيْتُ الْقَلْبَ . سنن ابن ماجة كِتَابُ الزُّهْدِ بَابُ الْوَرَعِ وَالتَّقْوٰى رقم الحديث ۴۲۱۷ ، شعب الايمان رقم الحديث ۵۳۶۶ ، و رقم الحديث ۱۰۶۱۵ ، الآداب للبيهقي رقم الحديث ۳۲۳ ، و رقم الحديث ۸۳۱ ، كنز العمال رقم الحديث ۴۳۴۹۷ .

(۲) پوره حديث داسې دی : عَنْ حُذَيْفَةَ رضي الله عنه . قَالَ: قَالَ رَسُوْلُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: فَضْلُ الْعِلْمِ خَيْرٌ مِنْ فَضْلِ الْعِبَادَةِ ، وَخَيْرُ دِيْنِكُمُ الْوَرَعُ . المستدرک على الصحيحين للحاكم رقم ۳۱۷ . كنز العمال رقم ۷۲۸۰ .

وفي رواية : قَالَ رَسُوْلُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: فَضْلُ الْعِلْمِ أَحَبُّ إِلَيَّ مِنْ فَضْلِ الْعِبَادَةِ ، وَخَيْرُ دِيْنِكُمُ الْوَرَعُ . المستدرک على الصحيحين للحاكم رقم الحديث ۳۱۴ وقال الحاكم : هٰذَا حَدِيْثٌ صَحِيْحٌ عَلٰى شَرْطِ الشَّيْخَيْنِ وَلَمْ يُخَرِّجَاهُ . و وافقه الذهبي . وصححه السيوطي في " الجامع الصغير " رقم الحديث ۵۸۶۴ . و صححه الالباني في " صحيح الجامع " رقم ۴۲۱۴ . الاداب للبيهقي ج ۱ ص ۳۲۵ رقم الحديث ۸۳۰ .

په دې کپړه کې په فلاني ځای عيب دی چې څوک دا اخلي نو هغه ته دا عيب اوښايه .
دې دلال دا کپړه واخيسته او لاړ ، په لاره کې يو کس دا کپړه اوليده د هغه خوښه شوه او وايې خيسته .
ماښام چې کله دلال زما پلار ته راغی او د کپړې قيمت يې ورته حواله کول نو زما پلار ورنه پوښتنه اوکړه : آيا تا اخيستونکي ته د کپړې عيب خودلې وُ ؟
دلال ورته ووېل : اوهو ، زما د ذهن نه دا خبره بالکل وتلې وه هغه ته مې د دې عيب بيان نکړو . زما پلار ورته ووېل : هغه کس ته پيژنې ؟
دلال ووېل : بغداد طرف ته يوه قافله روانه وه په هغې کې يو کس واخيسته او اوس هغه قافله د ښار نه وتلې ګ‌ه .
زما پلار په تېز رفتاره آس باندې سور شو او د قافلې پسې روان شو ، د ډير مزل کولو نه پس قافلې ته ورَ اورسيد ، تپوس يې اوکړو نو هغه کس يې راپيدا کړو ، هغه ته يې ووېل : وروره ! تا چې کومه کپړه اخيستې وه په هغې کې عيب وُ زما د دلال نه خبره هېره شوې وه هغه درته عيب نه وُ بيان کړی لهذا ته ماته کپړه واپس راکړه او خپل قيمت دې واپس واخله .
اخيستونکې غير مُسلمه وُ هغه چې زما د پلار دا خبره واوريده نو هغه دده د آمانت دارۍ او صداقت نه ډير متأثر شو او په هماغه ځای کې يې اسلام قبول کړو ، بيا يې زما د پلار نه روپۍ واخيستې ، وې غورځولې او د هغې په ځای يې زما پلار ته نورې روپۍ ورکړې او ورته وې ويل چې هغه مخکينۍ روپۍ جَعلي ( دِيسي ) وی خو چې ما ستا آمانت داري او صداقت اوليد نو زه اوس هماغه عيب جَنه کپړه درنه په صحيح روپو اخلم .
سبحان الله ، دا د مسلمان د تقوی برکت وُ چې غير مسلمه دومره متأثره شو چې اسلام يې هم قبول کړو ، او د کپړو مالک ته حلالې صحيح روپۍ هم ملاوُ شوی .

## د تقوی په وجه نېک اعمال قبليدل

د تقوی يوه فائده دا هم ده چې ددې په وجه د انسان نېک اعمال قبليږي ، په قرآن کريم کې ذکر دي :

Scanned with CamScanner

﴿ إِنَّمَا يَتَقَبَّلُ اللَّهُ مِنَ الْمُتَّقِينَ ﴾.(۱)

ترجمه: بیشکه الله تعالی (خو صرف) د مُتقیانو (نذراني) قبلوي.

## د تقوىٰ په وجه د کارونو اِصلاح او مغفرت

د تقوی په وجه الله تعالی د بندګانو د کارونو اصلاح کوي، د نیکو اعمالو توفیق ورکوي، او ګناهونه يې معاف کوي.

مخکې آيت ذکر شو، الله رب العزت فرمايي:

﴿ يَا أَيُّهَا الَّذِينَ آمَنُوا اتَّقُوا اللَّهَ وَقُولُوا قَوْلًا سَدِيدًا ۝ يُصْلِحْ لَكُمْ أَعْمَالَكُمْ وَيَغْفِرْ لَكُمْ ذُنُوبَكُمْ ۗ وَمَن يُطِعِ اللَّهَ وَرَسُولَهُ فَقَدْ فَازَ فَوْزًا عَظِيمًا ﴾.(۲)

ترجمه: اې ایمان والو! د الله نه اُوویرېږئ او سمه (ربښتینې) خبره کوئ، الله به ستاسو عملونه درست (او قبول) کړي، او تاسو ته به ستاسو ګناهونه معاف کړي، او څوک چې د الله او دهغه د رسول اِطاعت اوکړي نو بیشکه هغه په لوي کاميابۍ سره کامیاب شو.

**فائده**: د اعمالو د اِصلاح نه مراد دادی چې الله تعالی متقي کس ته د نیکو اعمالو توفیق ورکوي، تیر ګناهونه يې معاف کوي، او که آئنده ورنه څه ګناه اوشي نو د هغې نه ورته د توبې توفیق ورکوي.(۳)

(۱) المائدة آية ۲۷.

(۲) الاحزاب آية ۷۰، ۷۱.

(۳) ﴿ يَا أَيُّهَا الَّذِينَ آمَنُوا اتَّقُوا اللَّهَ ... ﴾ يَقُولُ تَعَالَى آمِرًا عِبَادَهُ الْمُؤْمِنِينَ بِتَقْوَاهُ، وَأَنْ يَعْبُدُوهُ عِبَادَةَ مَنْ كَأَنَّهُ يَرَاهُ، وَأَنْ يَقُولُوا { قَوْلًا سَدِيدًا } أَيْ: مُسْتَقِيمًا لَا اعْوِجَاجَ فِيهِ وَلَا انْحِرَافَ. وَوَعَدَهُمْ أَنَّهُمْ إِذَا فَعَلُوا ذَلِكَ، أَثَابَهُمْ عَلَيْهِ بِأَنْ يُصْلِحَ لَهُمْ أَعْمَالَهُمْ، أَيْ: يُوَفِّقُهُمْ لِلْأَعْمَالِ الصَّالِحَةِ، وَأَنْ يَغْفِرَ لَهُمُ الذُّنُوبَ الْمَاضِيَةَ. وَمَا قَدْ يَقَعُ مِنْهُمْ فِي الْمُسْتَقْبَلِ يُلْهِمُهُمُ التَّوْبَةَ مِنْهَا. تفسير ابن كثير ( تفسير القرآن العظيم ) ج ٦ ص ۴۸۷ سورة الاحزاب آية ۷۰.

Scanned with CamScanner

# د تقوی په وجه ګناهونه معاف کیدل ، اجرِ عظیم ملاویدل ، او نورِ فراست نصیب کیدل

۱ . د تقوی په وجه الله تعالی د انسان ګناهونه معاف کوي او اجرِ عظیم ورکوي :

﴿ وَمَن يَتَّقِ اللَّهَ يُكَفِّرْ عَنْهُ سَيِّئَاتِهِ وَيُعْظِمْ لَهُ أَجْرًا ﴾.(۱)

ترجمه : او څوک چې د الله ﷻ نه ویرېږي نو هغه به دده نه بَدیانې (ګناهونه) ختم کړي، او ده ته به زیات اجر ورکړي .

**فائده** : په دې آیت کې د تقوی په وجه د ګناهونو معاف کیدو او نېکو اعمالو باندې د لوې اَجر وعده شوی ، بیا الله تعالی د اجرِ عظیم مَقدار معلوم نکړو ددینه معلومیږي چې دومره لوې اَجر به ورکوي چې په دُنیا کې د هغې مقدار معلومول ممکن ندي ، یعنی غیر مَحدود اَجر به ورکوي .

په دُنیا کې که مونږ اوګورو نو کله دوه څیزونه د وزن په اعتبار سره یو شان وي خو بیا هم د یو قیمت د بل نه زیات وي همدغه شان متقي چې کوم نیک اعمال کوي نو ده ته ددې تقوی په وجه د نیک عمل اجر زیات ملاویږي ، مثلا یو طرفته مُتقي کس دوه رکعته نفل مونځ اوکړي او بل طرفته غیر متقي زر (۱۰۰۰) رکعته نفل مونځ اوکړي خو بیا هم ددې متقي کس د نفل مونځ ثواب زیات وي .

۲ . په سورة الحدید کې ذکر دي :

﴿ يَا أَيُّهَا الَّذِينَ آمَنُوا اتَّقُوا اللَّهَ وَآمِنُوا بِرَسُولِهِ يُؤْتِكُمْ كِفْلَيْنِ مِن رَّحْمَتِهِ وَيَجْعَل لَّكُمْ نُورًا تَمْشُونَ بِهِ وَيَغْفِرْ لَكُمْ ۚ وَاللَّهُ غَفُورٌ رَّحِيمٌ ﴾.(۲)

ترجمه : اې مؤمنانو ! د الله نه اُوویرېږئ ، او د هغه په پیغمبر باندې ایمان راوړئ ، هغه به درته د خپل رحمت (د خزانې) نه دوچند حصې درکړي ، او داسې یو نُور (رڼا) به

---

(۱) الطلاق آیة ۵ .

(۲) الحدید آیة ۲۸ .

Scanned with CamScanner

درکړي چې د هغې په وجه به (وړاندې) تګ کوي، او الله بخونکی مهربان ذی.

۳ . د تقوی په وجه الله تعالی انسان ته داسې نُورِ فراست ورکوي چې د هغې په وجه يبا دا د حق او باطل په مينځ کې فرق کولې شي او د جهالت د تيارو نه ځان بچ کولې شي . الله ﷻ فرمايي :

﴿ يَآيُّهَا الَّذِينَ آمَنُوٓا إِن تَتَّقُوا اللَّهَ يَجْعَل لَّكُمْ فُرْقَانًا وَيُكَفِّرْ عَنكُمْ سَيِّـَٔاتِكُمْ وَيَغْفِرْ لَكُمْ ۗ وَاللَّهُ ذُو الْفَضْلِ الْعَظِيمِ ﴾.(۱)

ترجمه : اې مؤمنانو ! که چيرته تاسو د الله ﷻ نه اُوويرېږی نو هغه به ستاسو د پاره (د حق او باطل په مينځ کې) امتياز جوړ کړي ، تاسو نه به ستاسو ګناهونه لرې کړي ، او مغفرت به درته اوکړي ، او الله تعالی د لوي فضل خاوند دی.

د "فُرْقَان" تشريح : په مذکوره آيت کې ذکر شو چې د تقوی په وجه به تاسو ته "فرقان" درکولې شي ، مفسّرينو د فرقان ډير مطلبونه بيان کړي هغه ټول صحيح دي.

ځنې مفسّرينو د فرقان نه مراد داسې عقل او بصيرت اخيستی چې د هغې په وجه يبا انسان د حق او باطل ، ښه او خراب په مينځ کې فيصله کولې شي . نو اوس د آيت مطلب دا شو چې الله تعالی مُتّقيانو ته داسې بصيرت او زيرکي ورکوي چې ددې په وجه يبا دوی د ښه او بد په مينځ کې فيصله کولې شي.(۲)

۴ . په حديث کې راځي ، رسول الله صلى الله عليه وسلم فرمايي :

---

(۱) الانفال آية ۲۹ .

(۲) تفسير معارف القرآن سورة الانفال آية ۲۹ .

قوله تعالى: ﴿ يَجْعَل لَّكُمْ فُرْقَانًا ﴾ فيه أربعة أقوال : أحدها: أنه المخرج. رواه ابن أبي طلحة عن ابن عباس، وبه قال مجاهد، والضحاك، وابن قتيبة، والمعنى: يجعل لكم مخرجاً في الدين من الضلال.

والثاني: أنه النجاة. رواه العوفي عن ابن عباس، وبه قال قتادة، والسدي. والثالث: أنه النصر. رواه الضحاك عن ابن عباس، وبه قال الفراء. والرابع: أنه هدى في قلوبهم يفرقون به بين الحق والباطل. قاله ابن زيد، وابن إسحاق. زاد المسير في علم التفسير ج ۲ ص ۲۰۴ .

Scanned with CamScanner

اِتَّقُوا فِرَاسَةَ الْمُؤْمِنِ، فَإِنَّهُ يَنْظُرُ بِنُورِ اللهِ. (١)

تاسو د مؤمن د فِراست نه اُوویرېږئ ځکه دا د الله ﷻ په نور سره لیدل کوي.

الله تعالی چې چاته فِراست ورکړي نو بیا دا په دې سره د خلقو احوال معلومولې شي.

علماؤ په فراست باندې مستقل کتابونه هم لیکلي او ددې پوره تحقیق یې کړی. (٢)

## د فِراست متعلق یو څو واقعات:

## د حضرت سلیمان علیه السلام فِراست

په بخاري شریف او مسلم شریف کې دا واقعه ذکر ده: رسولُ الله صلی الله علیه وسلم فرمایي چې دوه ښځې په سفر روانې وې، د دواړو ښځو په غېږ کې خپل خپل بچې وُ، ناګهانه یو لېوه راغی او ددې یوې ښځې نه یې بچې اوتختول.

---

(١) مجمع الزوائد ومنبع الفوائد كِتَابُ الزُّهْدِ بَابُ مَا جَاءَ فِي الْفِرَاسَةِ رقم الحديث ١٧٩٤٠ وقال الهيثمي: رَوَاهُ الطَّبَرَانِيُّ، وَإِسْنَادُهُ حَسَنٌ. المعجم الكبير للطبراني رقم الحديث ٧٤٩٧، المعجم الاوسط رقم الحديث ٣٢٥٤، ورقم الحديث ٧٨٤٣، سنن الترمذي رقم الحديث ٣١٢٧، كنزالعمال رقم الحديث ٣٠٧٣٠ كتاب الفراسة، حلية الاولياء ج ٤ ص ٩٤، و ج ٦ ص ١١٨.

(٢) قوله (اِتَّقُوا فِرَاسَةَ الْمُؤْمِنِ) اَلْفِرَاسَةُ بِالْكَسْرِ اِسْمٌ مِنْ قَوْلِك تَفَرَّسْتُ فِي فُلَانٍ الْخَيْرَ وَهِيَ على نوعين: أحدهما ما دل عَلَيْهِ ظَاهِرُ الْحَدِيثِ وَهُوَ مَا يُوقِعُهُ اللهُ فِي قُلُوبِ أَوْلِيَائِهِ فَيَعْلَمُونَ بِذَلِكَ أَحْوَالَ النَّاسِ بِنَوْعٍ مِنَ الْكَرَامَاتِ وَإِصَابَةِ الْحَدْسِ وَالنَّظَرِ وَالظَّنِّ وَالتَّثَبُّتِ. وَالنَّوْعُ الثَّانِي مَا يَحْصُلُ بِدَلَائِلِ التَّجَارِبِ وَالْخَلْقِ وَالْأَخْلَاقِ تُعْرَفُ بِذَلِكَ أَحْوَالُ النَّاسِ أَيْضًا. وَلِلنَّاسِ فِي عِلْمِ الْفِرَاسَةِ تَصَانِيفُ قَدِيمَةٌ وَحَدِيثَةٌ كَذَا فِي النِّهَايَةِ وَالْخَازِنِ. وَقَالَ الْمُنَاوِيُّ: (اِتَّقُوا فِرَاسَةَ الْمُؤْمِنِ) أَيِ اطِّلَاعَهُ عَلَى مَا فِي الضَّمَائِرِ بِسَوَاطِعِ أَنْوَارٍ أَشْرَقَتْ عَلَى قَلْبِهِ فَتَجَلَّتْ لَهُ بِهَا الْحَقَائِقُ (فَإِنَّهُ يَنْظُرُ بِنُورِ اللهِ) أَيْ يُبْصِرُ بِعَيْنِ قَلْبِهِ الْمُشْرِقِ بِنُورِ اللهِ تَعَالَى. تحفة الأحوذي بشرح جامع الترمذي ج ٨ ص ٤٤١.

وَالْفِرَاسَةُ عِلْمٌ يَنْكَشِفُ مِنَ الْغَيْبِ بِسَبَبِ تَفَرُّسِ آثَارِ الصُّوَرِ. «اِتَّقُوا فِرَاسَةَ الْمُؤْمِنِ فَإِنَّهُ يَنْظُرُ بِنُورِ اللهِ» فَالْفَرْقُ بَيْنَ الْإِلْهَامِ وَالْفِرَاسَةِ أَنَّهَا كَشْفُ الْأُمُورِ الْغَيْبِيَّةِ بِوَاسِطَةِ تَفَرُّسِ آثَارِ الصُّوَرِ، وَالْإِلْهَامُ كَشْفُهَا بِلَا وَاسِطَةٍ. مرقاة المفاتيح ج ١ ص ٢٨٠

Scanned with CamScanner

( دې ښځې دا نه برداشت کول چې زما بچې نشته او د دې بلې سره شته ) نو دې د دې بلې ښځې په بچي دعوه اوکړه او ورته وې ويل : إِنَّمَا ذَهَبَ بِابْنِكِ . ليوه ستا بچې وې ورو .

دې بلې ورته وويل : ستا بچې يې وې ورو .

د دې دواړو ښځو جګړه شوه ( يوې ويل چې دا بچې زما دی او بلې ويل چې دا زما دی ) دواړو ښځو فيصله حضرت داؤد عليه السلام ته راوړه (يوې ورته وويل چې دا بچې زما دی د دې بچې ليوه اُوتختول) . او هغه بلې ورته ويل چې نه د دې بچې ليوه اوتختول) .

حضرت داود عليه السلام په دې دواړو ښځو کې د غټې ښځې په حق کې فيصله اوکړه .

دواړه واپس تللی ، په لاره کې ورله حضرت سليمان عليه السلام په مخه راغی ، سليمان عليه السلام دوی ته وويل :

ستاسو په څه جګړه ده ؟ دې ښځو ورته ټوله قصه بيان کړه ، نو حضرت سليمان عليه السلام حُکم اوکړو چې يوه چاړه راوړئ چې زه دا ماشوم په مينځ کټ کړم يو حصه به يوې ښځې ته ورکړم او بله حصه به بلې ښځې ته ورکړم .

دې کشرې ښځې حضرت سليمان عليه السلام ته وويل : آيا واقعي ته دا ماشوم په مينځ کټ کوی ؟ حضرت سليمان عليه السلام ورته وويل : آو .

دې کشرې ښځې ورته وويل : لَا تَفْعَلْ يَرْحَمُكَ اللهُ هُوَ ابْنُهَا .

الله تعالی دې په تاسو باندې رحم اوکړي ته دا ماشوم په مينځ مه کټ کوه ، دا د هغې ځوی دی .

( دا چونکه د دې خپله مور وه دې نه غوښتل چې زما بچې دې په مينځ کټ شي ) .

نو حضرت سليمان عليه السلام ( په فراست سره معلومه کړه چې دا ماشوم د دې کشرې ښځې ځوي دی ، ځکه خو يې په مينځ کټ کول نه غواړي نو ) د دې کشرې په باره کې فيصله اوکړه ( او ماشوم يې هغې ته ورکړو ) .(۱)

---

(۱) عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ رَضِيَ اللهُ عَنْهُ، أَنَّ رَسُولَ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ : كَانَتِ امْرَأَتَانِ مَعَهُمَا ابْنَاهُمَا، جَاءَ الذِّئْبُ فَذَهَبَ بِابْنِ إِحْدَاهُمَا، فَقَالَتْ لِصَاحِبَتِهَا : إِنَّمَا ذَهَبَ بِابْنِكِ ، وَقَالَتِ الأُخْرَى: إِنَّمَا ذَهَبَ بِابْنِكِ، فَتَحَاكَمَتَا إِلَى دَاوُدَ عَلَيْهِ السَّلَامُ فَقَضَى بِهِ لِلْكُبْرَى، فَخَرَجَتَا عَلَى سُلَيْمَانَ بْنِ دَاوُدَ عَلَيْهِمَا السَّلَامُ ←←←

Scanned with CamScanner

# د حضرت ابوبکر صدیق ﷺ فراست:

## ( د مخکې نه د لور پیدا کیدو خبر ورکول )

حضرت ابوبکر صدیق ﷺ د وفات کیدلو نه مخکې حضرت عائشه رضي الله عنها راوغوښته او ورته وې فرمایل: زما دا جائیداد په خپلو دوه ورونړو او دوه خورانو کې تقسیم کړه.

حضرت عائشې رضي الله عنها ورته اوفرمایل چې زما خو بله خور نشته.

حضرت ابوبکر صدیق ﷺ ورته اوفرمایل: ستا د مور ماشوم په خېټه دی او ماته خپل وجدان (فراست) وویل چې الله تعالی به ماته لور راکوي.

بیا همداسې اوشو، د حضرت ابوبکر صدیق ﷺ د وفات نه پس دده د بي بي لور پیدا شوه نو الله تعالی دده خبره سل فیصده صحیح کړه.

دا د حضرت ابوبکر صدیق ﷺ فراست او کرامت ؤ.(۱)

←←←← فَأَخْبَرَنَاهُ. فَقَالَ: اِئْتُونِي بِالسِّكِّينِ أَشُقُّهُ بَيْنَهُمَا. فَقَالَتِ الصُّغْرَى: لَا تَفْعَلْ يَرْحَمُكَ اللهُ هُوَ ابْنُهَا فَقَضَى بِهِ لِلصُّغْرَى. صحيح البخاري كِتَابُ الفَرَائِضِ بَابُ إِذَا ادَّعَتِ المَرْأَةُ ابْنًا رقم الحديث ۶۷۶۹، صحيح مسلم كِتَابُ الأَقْضِيَةِ بَابُ بَيَانِ اخْتِلَافِ الْمُجْتَهِدِينَ رقم الحديث ۲۰(۱۷۲۰).

(۱) اهل دل کے تڑپادینے والے واقعات ج۳ ص۲۴۴. خطبات فقیر ج۱۴ ص۲۳۸.

دا خبره په "طبقات الشافعية الكبرى" کې داسې ذکر ده: فَمن الكرامات على يَد أَبِي بكر الصّديق رضي الله عَنهُ: مَا صَحَّ من حَدِيث عُرْوَة بن الزبير عَن عَائِشَة رضي الله عَنْهَا أَنَّ أَبَا بكر الصّديق رضي الله عَنهُ كَانَ نحلهَا جاد عشْرين وسْقا فَلَمَّا حضرته الْوَفَاة قَالَ وَالله يَا بنية مَا من النَّاس أحد أحب إِلَيَّ غنى بعدِي مِنْك وَلَا أعز عَلَيَّ فقرا بعدِي مِنْك وَإِنِّي كنت نحلتك جاد عشْرين وسْقا فَلَو كنت جددته وخزنته كَانَ لَك وَإِنَّمَا هُوَ الْيَوْم مَال وَارِث وَإِنَّمَا هما أَخَوَاك وأختاك فاقتسموه على كتاب الله. قَالَت عَائِشَة يَا أَبَت وَالله لَو كَانَ كَذَا وَكَذَا لتركته إِنَّمَا هِيَ أَسمَاء فَمن الْأُخْرَى فَقَالَ أَبُو بكر ذُو بطن بنت خَارِجَة أَرَاهَا جَارِيَة فَكَانَ ذَلِك.

قلت فِيهِ كرامتان لأبي بكر: إِحْدَاهمَا إخْبَاره بِأَنَّهُ يَمُوت فِي ذَلِك الْمَرَض حَيْثُ قَالَ وَإِنَّمَا هُوَ الْيَوْم مَال وَارِث. وَالثَّانيَِة إخْبَاره بمولود يُولد لَهُ وَهُوَ جَارِيَة. طبقات الشافعية الكبرى ج۲ ص ۳۲۲ الطَّبَقَة الثَّانِيَة فَمن الكرامات على يَد أبي بكر الصّديق رضي الله عَنهُ

# د حضرت عمر ﷺ فِراست

په دې اُمت کې د ټولو نه زيات فراست حضرت ابوبکر صديق ﷺ ته حاصل ؤ. بيا په دويمه مرتبه کې حضرت عُمر ﷺ ته حاصل ؤ ، د حضرت عُمر ﷺ د فِراست متعلق ډير واقعات مشهور دي.

۱ . يو ځل يې يو کس په اول ځل باندې اُوليد نو د هغه په باره کې يې اوفرمايل چې دا کاهِن (جادوګر) دی ، يا يې چيرته په جاهليت کې کهانت کړی . چې کله يې د هغه کس نه تحقيق اوکړو نو يقيني چې هغه په جاهليت کې کهانت کولو .

دا د حضرت عُمر ﷺ فِراست ؤ . (۱)

۲ . حضرت علي ﷺ فرمايي چې (د نبي عليه السلام د وفات نه پس د حضرت عمر ﷺ په دورِ خلافت کې ) يو ځل مې په خوب کې د نبي عليه السلام سره ملاقات اوشو ، د هغوی پسې مې د سهر مونځ اوکړو ، د مانځه نه پس دوی ته يوې وينځې تازه قجورې راوړې ، نبي عليه السلام ماته د هغې نه دوه قجورې راکړې ما يوه قجوره اُوخوړه ، بيا مې بله اُوخوړه . کله چې زه د خُوب نه رابيدار شوم نو په زړه کې مې د پيغمبر عليه السلام سره د ملاقات ډير شوق ؤ او د قجورو خوړ والي مې هم په خُله کې ؤ .

نو زه د سهر مانځه د پاره جُمات ته لاړم ، هلته مې د حضرت عمر ﷺ پسې د سهر مونځ اوکړو ، ما اِراده اوکړه چې زه هغه ته خپل د شپې ليدلې خوب بيان کړم ناڅاپه د جُمات په

---

(۱) وَكَانَ الصِّدِّيقُ رَضِيَ اللهُ عَنْهُ أَعْظَمَ الأُمَّةِ فِرَاسَةً. وَبَعْدَهُ عُمَرُ بْنُ الْخَطَّابِ رَضِيَ اللهُ عَنْهُ. وَوَقَائِعُ فِرَاسَتِهِ مَشْهُورَةٌ. فَإِنَّهُ مَا قَالَ لِشَيْءٍ أَظُنُّهُ كَذَا إِلَّا كَانَ كَمَا قَالَ. وَيَكْفِي فِي فِرَاسَتِهِ: مُوَافَقَتُهُ رَبَّهُ فِي الْمَوَاضِعِ الْمَعْرُوفَةِ. وَمَرَّ بِهِ سَوَادُ بْنُ قَارِبٍ ، وَلَمْ يَكُنْ يَعْرِفُهُ. فَقَالَ: لَقَدْ أَخْطَأَ ظَنِّي، أَوْ أَنَّ هٰذَا كَاهِنٌ، أَوْ كَانَ يَعْرِفُ الْكِهَانَةَ فِي الْجَاهِلِيَّةِ. فَلَمَّا جَلَسَ بَيْنَ يَدَيْهِ قَالَ لَهُ ذٰلِكَ عُمَرُ ﷺ . فَقَالَ: سُبْحَانَ اللهِ، يَا أَمِيرَ الْمُؤْمِنِينَ، مَا اسْتَقْبَلْتَ أَحَدًا مِنْ جُلَسَائِكَ بِمِثْلِ مَا اسْتَقْبَلْتَنِي بِهِ. فَقَالَ لَهُ عُمَرُ رَضِيَ اللهُ عَنْهُ: مَا كُنَّا عَلَيْهِ فِي الْجَاهِلِيَّةِ أَعْظَمُ مِنْ ذٰلِكَ. وَلٰكِنْ أَخْبِرْنِي عَمَّا سَأَلْتُكَ عَنْهُ. فَقَالَ: صَدَقْتَ يَا أَمِيرَ الْمُؤْمِنِينَ. كُنْتُ كَاهِنًا فِي الْجَاهِلِيَّةِ. ثُمَّ ذَكَرَ الْقِصَّةَ. مدارج السالکين بين منازل إياک نعبد وإياک نستعين لابن قيم رحمه الله ج ۲ ص ۴۵۵ فَصْلُ أَنْوَاعُ الْفِرَاسَةِ .

Scanned with CamScanner

دَروازه باندې یوه وینځه رانښوته د هغې سره تازه قجورې وی ، هغه یې د حضرت عُمر ﷺ په مخ کې کیښودی ، حضرت عُمر ﷺ د هغې نه ماته یوه قجوره راکړه ما اُوخوړه ، بیا یې بله راکړه ، بیا یې باقي پاتې قجورې په نورو صحابه کرامو تقسیم کړی حالانکه زما شوق وُ چې ماته نورې هم راکړي ، نو حضرت عمر ﷺ راته اوفرمایل :

لَوْ زَادَكَ رَسُوْلُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ الْبَارِحَةَ لَزِدْتُكَ .

که چیرته بېګاه شپه رسولُ الله ﷺ تاته د دُوه قجورو نه زیاتې درکړې وی نو ما به هم اوس درکړې وی ( خو هغه درته صرف دوه درکړې وی نو ځکه ما هم دوه درکړی ) .

حضرت علي ﷺ فرمایي چې په دې اُوریدو سره زه په تعجب کې شوم ( چې ده ته خو ما تر اوسه خپل خوب نه دې بیان کړی نو ده ته څنګه معلومه شوه چې ماته نبي علیه السلام دوه قجورې راکړې وی ؟ ) ، نو حضرت عمر ﷺ راته اوفرمایل :

يَا عَلِيُّ ! اَلْمُؤْمِنُ يَنْظُرُ بِنُوْرِ اللهِ .

اې علي ! مؤمن د الله ﷻ په نُور سره لیدل کوي .

ما ورته وویل : اې امیر المؤمنین ! تا ریښتیا وویل : ما بیګاه همدغه شان خوب لیدلې وُ او ستاسو د لاس نه چې راته څنګه قجورې ملاوْ شوی نو همدغه شان راته د رسولُ الله صلی الله علیه وسلم د لاس مبارک نه هم ملاوْ شوې وی . (۱)

---

(۱) وقال علي رضى الله عنه رأيتُ في المنام كأني أصلي خلفَ النبي صلى الله عليه وسلم فجاءته جاريةٌ برطب فأخذ رطبة فجعلت في فمي ثم أخذ أخرى كذلك . فاستيقظتُ وفي قلبي الشوق إلى رسول الله صلى الله عليه وسلم وحلاوة الرطب في فمي . فذهبت إلى المسجد فصليتُ الصبح خلف عمر ﷺ فأردتُ أن أتكلم بالرؤيا وإذا بجارية على باب المسجد ومعها رطب فوضع بين يدي عمر ﷺ . فأخذ رطبة فجعلها في فمي ثم أخذ أخرى كذلك . ثم فرّق على صحابه وكنتُ أشتهي منه يعني الزيادة . فقال : لَوْ زَادَكَ رَسُوْلُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ الْبَارِحَةَ لَزِدْتُكَ . فتعجب من ذلك . فقال : يَا عَلِيُّ ! اَلْمُؤْمِنُ يَنْظُرُ بِنُوْرِ اللهِ . فقال صدقتَ يا أميرَ المؤمنين هكذا رأيتُ وهكذا وجدتُ طعمه ولذته من يدك كما وجدته من يد رسول الله صلى الله عليه وسلم ...
نزهة المجالس ومنتخب النفائس ج ۲ ص ۱٥۱ مناقب سراج أهل الجنة عمر بن الخطاب رضي الله عنه

Scanned with CamScanner

دا د حضرت عمر ﷺ فِراستؤ ، دا انسان ته د تقوی په وجه حاصلیږي .

## د حضرت عثمان ﷺ فِراست

یو ځل حضرت عثمان ﷺ ته یو کس راغی چې په لاره کې یې خپل نظر غلط استعمال کړې ؤ ، حضرت عثمان ﷺ چې دده سترګو ته اُوکتل نو وریاندې پوهه شو چې ده خپل نظر غلط استعمال کړې دی ، نو دوی خاص هم هغه ته خطاب اونکړو بلکه عامه خبره یې اوکړه :

مَا بَالُ أَقْوَامٍ يَتَرَشَّحُ الزِّنَا عَنْ أَعْيُنِهِمْ .

په دې خلقو باندې څه شوي چې زِنا د دوی د سترګو نه څڅیږي . ( یعنی دوی غلط نظر استعمالوي ) .

حضرت عثمان ﷺ هماغه کس ته خطاب اونکړو ددې د پاره چې هغه رَسوا نشي ، بلکه عامه خبره یې اوکړه نو هغه هم وریاندې پوهه شو . (۱)

حضرت عثمان ﷺ په خپل فِراست ( نُورِ ایماني ) سره دا معلومه کړه چې دې کس نظر غلط استعمال کړې دی .

(۱) وعظ غض البصر ص ۷ . بد نظری کا علاج ص ۱۵ ، حیاء اور پاکدامنی ص ۶۵ .

وَكَذَلِكَ عُثْمَانُ بْنُ عَفَّانَ رَضِيَ اللهُ عَنْهُ صَادِقُ الْفِرَاسَةِ. وَقَالَ أَنَسُ بْنُ مَالِكٍ رَضِيَ اللهُ عَنْهُ: دَخَلْتُ عَلَى عُثْمَانَ بْنِ عَفَّانَ رَضِيَ اللهُ عَنْهُ وَكُنْتُ رَأَيْتُ امْرَأَةً فِي الطَّرِيقِ تَأَمَّلْتُ مَحَاسِنَهَا . فَقَالَ عُثْمَانُ رَضِيَ اللهُ عَنْهُ: يَدْخُلُ عَلَيَّ أَحَدُكُمْ وَأَثَرُ الزِّنَا ظَاهِرٌ فِي عَيْنَيْهِ. فَقُلْتُ: أَوَحْيٌ بَعْدَ رَسُولِ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ؟ فَقَالَ: وَلَكِنْ تَبْصِرَةٌ وَبُرْهَانٌ وَفِرَاسَةٌ صَادِقَةٌ . مدارج السالکین بین منازل إياک نعبد وإياک نستعين لابن قيم رحمه الله ج ۲ ص ۴۵۵ فَصْلُ أَنْوَاعُ الْفِرَاسَةِ .

دخل علي عثمان ﷺ رجل كَانَ قد لقي امْرَأَة فِي الطَّرِيق فتأملها فَقَالَ لَهُ عُثْمَان رضى الله عَنهُ : يدْخل أحدكُم وفي عَيْنَيْهِ أثر الزِّنَا . فَقَالَ الرجل : أوحي بعد رَسُول الله صلى الله عَلَيْهِ وَسلم قَالَ لَا وَلكنهَا فراسة . طبقات الشافعية الكبرى، ج۲ ص ۳۲۷ الطَّبَقَة الثَّانِيَة . شرح مسند أبي حنيفة لملا علي قاري ج۱ ص ۵۶۶ .

Scanned with CamScanner

# د امام ابو حنيفه رَحِمَهُ اللّٰهُ فراست

د امام ابوحنيفة رَحِمَهُ اللّٰهُ په زمانه کې د يو کور نه غلا اوشوه ، غله يو کور ته ننوتل او د کور مالک يې اُونيولو ، په زوره يې ورباندې قسَم اوکړو "چې که تا زمونږ نومونه چاته اُوخودل نو په تا باندې دې ښځه درې کانړي طلاقه وي" دې سړي د مجبوريت د وجې قسَم اوکړو ، بيا دې غلو ده د کور ټول اسباب وې وړلو ، دا غله د همدې کس د محَلې وو .

کله چې سهر شو نو ډير خفه وُ ، سوچ يې کولو که چيرته زه خلقو ته د غلو نومونه ښائم نو ښځه راباندې طلاقيږي ، او که نه يې ښايم نو د کور ټول اسباب رانه هغوی وړې دی .

په دې پريشانی کی امام اعظم ابوحينفه رَحِمَهُ اللّٰهُ ته ورغی ، هغه ورنه پوښتنه اوکړه چې ولې دومره خفه يې ؟ ده ورته ووېل :

بېګاه شپه رانه زمونږ د محَلې غلو د کور ټول اسباب وړې دی ، اوس که زه خلقو ته د هغوی نومونه ښائم نو ښځه راباندې په درې کانړو سره طلاقيږي ځکه هغوی د مانه په زوره باندې دا اِقرار اخيستی دی چې که چيرته زه د هغوی نومونه چاته اُوښايم نو په ما باندې دې ښځه په درې کانړو سره طلاقه وي . او که د هغوی نومونه نه ښايم نو زما د کور ټول اسباب رانه هغوی وړې دی .

امام اعظم ابوحنيفه رَحِمَهُ اللّٰهُ ورته اوفرمايل : ته مطمئن شه ، ستا د نومونو خودلو نه بغير ټول غله به هم معلوم شي او ښځه به هم درباندې نه طلاقيږي .

کله چې په کوفه کې د امام ابوحنيفه رَحِمَهُ اللّٰهُ دا خبره خوَره شوه نو علماء حيران شو چې دا څنګه کيدې شي چې غله دې هم معلوم شي او په دې کس دې ښځه هم طلاقه نشي ؟

امام صاحب په خپل فراست سره ددې مسئلې حل معلوم کړو ، نو دې کس ته يې ووېل : چې ته لاړ شه ، زه به صبا ماسپخين ستاسو د مَحلې جُمات ته درځم ، د ماسپخين مونځ به هلته کوم .

په صبا باندې امام صاحب هلته لاړ ، د محَلې ټول خلق جُمات ته د مانځه د پاره راغلي وو ، د مانځه نه پس امام صاحب اعلان اوکړو چې د جُمات دَروازه بنده کړئ ، هيڅوک دې بهر نه اُوځي ، نو د جُمات دروازه بنده کړې شوه ، په دې خلقو کې غله هم وو .

بیا امام صاحب د جُمات یوه دروازه کلاؤ کړه ، په هغې کې کیناست ، او مخامخ یې دا کس هم کینول ، دې کس ته یې وویل :

چې په دې دروازه باندې کوم کس اُوځي نو که هغه غل نه وي نو ته به د هغه په باره کې دا وایې چې دا غل ندی ، او چې کله غل راشي نو ته بیا چُپ کینه ، هیڅ غږ مه کوه نو مونږ ته به پته اُولږي چې همدا غل دی .

بیا یې د جُمات خلقو ته حکم اوکړو چې یو یو راځئ او په دې دَروازه باندې اُوځئ .

کله چې به چې یو یو کس راتلو او غل به نه وُ نو دې کس به ویل چې دا غل ندی ، خو چې کله به غل راغی نو دا کس به چُپ شو نو خلق به پوهه شو چې دا غل دی نو هغه به یې اُونیولو ، په همدغې طریقې سره یې ټول غله معلوم کړل .

نود کور ټول اسباب یې هم پیدا شو او په ده باندې ښځه هم طلاقه نه شوه ځکه ده په خُله باندې د هیڅ غل نوم وا نه خیست ، او نه یې په اشاره باندې خلقو ته اُوخودل ، بلکه په چُپه خُله باندې ټول غله معلوم شو . (۱)

دا د امام اعظم ابوحنیفه رَحِمَهُ اللهُ فراست او ذهانت وُ چې دومره مشکله مسئله یې په آسانه حل کړه ، په سرې باندې ښځه هم طلاقه نه شوه او د کور ټول اسباب هم ورته واپس ملاؤ شو .

## دامام شافعي رَحِمَهُ اللهُ فراست

۱ . یو ځل امام محمد رَحِمَهُ اللهُ او امام شافعي رَحِمَهُ اللهُ د خانه کعبې سره ناست وو په دې وخت کې یو کس دوی طرف ته راروان وُ ، دوی یو بل ته وویل :

راځه چې په خپل فراست سره دا معلوم کړو چې دا راتلونکی کس څه کسب کوي ؟

نو یو وویل چې دا دَرزي (ټېلر) دی ، او دویم وویل : چې دا تَرکاڼ دی

پس دوی د هغه پسې یو کس وراُولیږل ، د هغه نه یې پوښتنه اوکړه چې : ته څه کسب کوی ؟ هغه ورته وویل : زه مخکې دَرزي (ټېلر) ووم (بیا مې هغه کار پریخود ) اوس تَرکاڼ یم .

---

(۱) مجالس حکیم الاسلام ، حکیم الاسلام (مولانا قاري محمد طیب قاسمي رحمه الله ) کے پسندیده واقعات .

Scanned with CamScanner

سبحان الله ، الله تعالی دوی دواړو ته د تقوی په وجه داسې فراست ورکړې ؤ چې د هغه کس کسب یې هم معلوم کړو . (۱)

۳ . د امام شافعي رَحِمَهُ اللهُ د فراست متعلق یوه بله واقعه هم مشهوره ده امام مُزني رَحِمَهُ اللهُ فرمايي چې یو ځل زه د امام شافعي رَحِمَهُ اللهُ سره په جُمات کې ناست ووم ، په دې کې یو کس جُمات ته راننوَت او کوم کسان چې اُوده وو د هغوی په مینځ کې ګرځیدو .

امام شافعي رَحِمَهُ اللهُ خپل ملګري " ربیع " ته وویل : ته ورشه او د هغه کس نه پوښتنه اوکړه چې : آیا د تا نه خو داسې تور غلام ورک شوې ندی چې د هغه یوه سترګه ړَنده ده ؟

ربیع چې کله هغه کس ته ورغی او د هغه نه یې دا پوښتنه اوکړه نو هغه ورته وویل : یقیني چې د مانه داسې غلام ورک شوې دی . نو هغه کس امام شافعي رَحِمَهُ اللهُ ته راغی او دده نه یې پوښتنه اوکړه :

أَيْنَ عَبْدِيْ؟ زما غلام چیرته دی ؟ ( ځکه داسې معلومیږي چې تا ته معلوم دی ) .

امام شافعي رَحِمَهُ اللهُ ورته اوفرمایل :

ته لاړ شه هغه به په مَحبس ( جېل ) کې وي .

هغه کس چې لاړ نو خپل غلام یې په مَحبس ( جېل ) کې اُوموند .

امام مُزني رحمه الله د امام شافعي رَحِمَهُ اللهُ نه پوښتنه اوکړه : مونږ ته صحیح خبر راکړه ځکه تا خو مونږ حیران کړو ، ( تا څنګه معلومه کړه چې ددې کس نه تور غلام ورک دی ، او د هغه یوه سترګه ړَنده ده او هغه په جېل کې دی ؟ )

---

(۱) وَأَخْرَجَ الْحَاكِمُ عَنْ قُتَيْبَةَ قَالَ رَأَيْتُ مُحَمَّدَ بْنَ الْحَسَنِ وَالشَّافِعِيَّ قَاعِدَيْنِ بِفِنَاءِ الْكَعْبَةِ فَمَرَّ رَجُلٌ فَقَالَ أَحَدُهُمَا لِصَاحِبِهِ : تَعَالَ حَتَّى نَزْكُنَ عَلَى هَذَا الْآتِي أَيُّ حِرْفَةٍ مَعَهُ ؟ فَقَالَ أَحَدُهُمَا : خَيَّاطٌ . وَقَالَ الْآخَرُ : نَجَّارٌ فَبَعَثْنَا إِلَيْهِ فَسَأَلَاهُ فَقَالَ : كُنْتُ خَيَّاطًا وَأَنَا الْيَوْمَ نَجَّارٌ .

عَنْ عَبْدِ الْحَمِيْدِ قَالَ : خَرَجْتُ أَنَا وَالشَّافِعِيُّ مِنْ مَكَّةَ فَلَقِيْنَا رَجُلًا بِالْأَبْطَحِ فَقُلْتُ لِلشَّافِعِيِّ : اِزْكَنْ مَا لِلرَّجُلِ ؟ فَقَالَ : نَجَّارٌ أَوْ خَيَّاطٌ . قَالَ : فَلَحِقْتُهُ . فَقَالَ : كُنْتُ نَجَّارًا وَأَنَا خَيَّاطٌ . قَالَ الْحَافِظُ وَسَنَدُ كُلٍّ مِنَ الْقِصَّتَيْنِ صَحِيْحٌ فَيُحْمَلُ عَلَى التَّعَدُّدِ وَالزَّكَنُ الْفِرَاسَةُ . تحفة الأحوذي بشرح جامع الترمذي ج ۸ ص ۲۲۲ .

Scanned with CamScanner

امام شافعي رَحِمَهُ اللهُ ورته اوفرمایل : کله چې ما دا کس اُولید چې جُمات ته راننوَت او په هغه خلقو کې گرځیدو چې کوم اُوده وو نو زه پوهه شوم چې دده نه څوک ورک شوې دی هغه لټوي ، بیا ما هغه کس اُولید چې صرف تور رَنګه کسان یې کتل نو زه پوهه شوم چې دده نه تور غلام ورک شوې دی ، بیا ما هغه کس اُولید چې د خلقو چَپ طرف (ګسه) سترګه به یې کتله نو زه پوهه شوم چې دده د غلام یوه سترګه رَنده ده .

امام مُزني رَحِمَهُ اللهُ فرمایي چې بیا ما د امام شافعي رَحِمَهُ اللهُ نه پوښتنه اوکړه چې تاته څه معلومه شوه چې هغه غلام په مَحبس ( جېل ) کې دی ؟

هغه وویل : په غلامانو کې عادت دادی چې کله په خېټه اُوږي شي نو د خلقو نه غلا کوي ، او چې کله په خېټه ماړه وي نو بیا زِنا کوي نو ما ددینه دا معلومه کړه چې دده غلام په خامخا په دې دوه وُ کې یو کار کړې وي نو ځکه ما ورته وویل چې هغه په جېل کې اوګوره . (١)

یقیني چې دا د امام شافعي رَحِمَهُ اللهُ فِراست او نُورِ ایماني وُ چې دا ټولې خبرې یې معلومې کړې ، او دا فراست الله تعالی انسان ته په تقوی سره ورکوي .

## د جُنید بغدادي رَحِمَهُ اللهُ فراست

یو ځل جُنید بغدادي رَحِمَهُ اللهُ په یو جُمات کې د سهر مانځه نه پس ناست وُ ، خلقو ته یې د دِین خبرې کولې ، په دې وخت یو ځوان راننوت چې د مسلمانانو په شان لباس یې اچولې وُ ، د جُنید بغدادي رَحِمَهُ اللهُ نه یې دا پوښتنه اوکړه :

---

(١) وَأَخرَجَ البَيهَقِيُّ مِن طَرِيقِ المُزَنِي قَالَ كُنتُ مَعَ الشَّافِعِيِّ فِي الجَامِعِ إِذ دَخَلَ رَجُلٌ يَدُورُ عَلَى النِّيَامِ فَقَالَ الشَّافِعِيُّ لِلرَّبِيعِ : قُمْ فَقُلْ لَهُ ذَهَبَ لَكَ عَبدٌ أَسوَدُ مُصَابٌ بِإِحدَى عَينَيهِ . قَالَ الرَّبِيعُ فَقُمتُ إِلَيهِ فَقُلتُ لَهُ فَقَالَ نَعَمْ فَقُلتُ تَعَالَ . فَجَاءَ إِلَى الشَّافِعِيِّ فَقَالَ : أَينَ عَبدِي ؟ فَقَالَ مُرَّ تَجِدهُ فِي الحَبسِ . فَذَهَبَ الرَّجُلُ فَوَجَدَهُ فِي الحَبسِ قَالَ المُزَنِيُّ فَقُلتُ لَهُ أَخبِرنَا فَقَد حَيَّرتَنَا فَقَالَ نَعَم رَأَيتُ رَجُلاً دَخَلَ مِن بَابِ المَسجِدِ يَدُورُ بَينَ النِّيَامِ فَقُلتُ يَطلُبُ هَارِبًا وَرَأَيتُهُ يَجِيءُ إِلَى السُّودَانِ دُونَ البيض فقلتُ هَرَبَ لَهُ عَبدٌ أَسوَدُ وَرَأَيتُهُ يَجِيءُ إِلَى مَا يَلِي العَينَ اليُسرَى فَقُلتُ مُصَابٌ بِإِحدَى عَينَيهِ . قُلنَا فَمَا يُدرِيكَ أَنَّهُ فِي الحَبسِ ؟ قَالَ الحَدِيثُ فِي العَبِيدِ إِن جَاعُوا سَرَقُوا وَإِن شَبِعُوا زَنَوا فَتَأَوَّلتُ أَنَّهُ فَعَلَ أَحَدَهُمَا فكان كذلك . تحفة الأحوذي بشرح جامع الترمذي ج ٨ ص ٣٤٢ .

د نبي علیه السلام ددې حدیث څه مطلب دی چې هغه فرمایي:

اِتَّقُوْا فِرَاسَةَ الْمُؤْمِنِ فَإِنَّهُ يَنْظُرُ بِنُوْرِ اللهِ ؟

تاسو د مؤمن د فِراست نه اُوویرېږئ ځکه دا د الله ﷻ په نُور سره لیدل کوي.

جُنید بغدادي رَحِمَهُ اللهُ خپل سَر بنکته کړو، بیایې سَر راپورته کړو او ورته وې فرمایل: اسلام راوړه ځکه اوس ستا د اسلام راوړلو وخت دی. (جُنید بغدادي رَحِمَهُ اللهُ وریاندې پوهه شو چې عیسائي دی نو ځکه یې ورته د اسلام دعوت ورکړو).

هغه ځوان چې دا خبره واوریده نو راپاڅید، د جُنید بغدادي رَحِمَهُ اللهُ مخې ته کیناست او اسلام یې قبول کړو. بیا هغه ځوان وویل چې زه عیسائي یم خو کله چې ما دا واوریدل چې تاسو به دې جُمات ته راځئ. نو ما د مسلمانانو لباس واغوست او تاسو ته راغلم چې د اسلام او مسلمانانو امتحان واخلم (خو ماته معلومه شوه چې اسلام حق مذهب دی نو ځکه مې اسلام قبول کړو).

دې کس اگر چې د مسلمانانو لباس اغوستې وُ خو بیا هم جُنید بغدادي رَحِمَهُ اللهُ په فِراست سره دا معلومه کړه چې دا عیسائي دی. دا فِراست انسان ته د تقوی په وجه حاصلیږي. (۱)

---

(۱) وَمن أغرب مَا نحكيه فِيمَا يتَعَلَّق بِهَذَا الحَدِيث أَن السرى السَّقطِي شيخ الْجُنَيْد أمره بِأَن يخرج يتَكَلَّم على النَّاس فَاعْتَذر مِنْهُ بِمَا فِي لِسَانه من العجمة، وبعدم صلاحيته لذَلِك، فعزم عَلَيْهِ أَن يخرج صبح تِلْكَ اللَّيْلَة يتَكَلَّم على النَّاس فِي الْجَامِع. فَكَأَنَّهُ نَادَى [منَاد] فِي النَّاس: بِأَن الْجُنَيْد سيتكلم على النَّاس عقب صَلَاة الفجرة فِي الْجَامِع. فَجَاءُوا إِلَيْهِ أفواجا. وَكَانَ هَذَا أول كَرَامَة للجنيد، لِأَنَّهُ لم يطلع على مَا دَار بَينه وَبَين شَيْخه أحد. فَخرج وَوجد الْجَامِع [غاصا] بأَهْله فَلَمَّا قعد وَأَقْبلُوا إِلَيْهِ بأجمعهم. فبرز رجل وَسَأَلَهُ عَن معنى حَدِيث: "اتَّقوا فراسة الْمُؤمن" فَأَطْرَقَ قَلِيلا ثمَّ قَالَ لَهُ: أسلم فقد آن لَك أَن تسلم. فَقَامَ وَجَثَا بَين يَدَيْهِ وَأسلم. وانكشف أَن ذَلِك الرجل من النَّصَارَى لما سمع أَخْبَار النَّاس بِأَن الْجُنَيْد سيتكلم فِي ذَلِك الْمحل فِي ذَلِك الْوَقْت لبس لبس الْمُسلمين وَدخل مَعَهم مختبرا لِلْإِسْلَامِ وَأَهله. فَكَانَ فِي ذَلِك سعادته الأبدية. ولاية الله والطريق إليها (قطر الولي على حديث ولي) ج ۱ ص ۵۱۲.

وَكَانَ الْجُنَيْدُ يَوْمًا يَتَكَلَّمُ عَلَى النَّاسِ. فَوَقَفَ عَلَيْهِ شَابٌّ نَصْرَانِيٌّ مُتَنَكِّرًا. فَقَالَ: ←←←←←←←

## د يو بزرګ فراست

يو مجوسي (چې د مسلمانانو لباس يې اغوستې وُ ، ده ) به د مختلفو مسلمانانو (علماؤ) نه دا پوښتنه کوله چې د نبي عليه السلام ددې خبرې مطلب څه دی:

إِتَّقُوا فِرَاسَةَ الْمُؤْمِنِ؟ تاسو د مؤمن د فراست نه اُووېرېږئ.

هغوی به ورته ددې معنی بيانوله ليکن دده تسلي به ورباندې نه کېدله ، آخر دا په مشائخو کې يو بزرګ ته ورغی او د هغه نه يې ددې حديث د معنی پوښتنه اوکړه ، نو هغه ورېل : د هغه فراست مطلب دادی چې ستا د کپړو لاندې د مَلا په مينځ باندې چې د مجوسيانو کوم زُنار دی هغه لرې کړه .

هغه مجوسي ورېل : تا ربنتيا ورېل : ددې همدا مطلب دی (يعنی تاته الله تعالی فراست درکړې دی) ، بيا دې مجوسي اسلام راوړو . بيا يې ورېل :

اوس ما اُوپېژندی چې ته صحيح مؤمن يې او ستا ايمان بَرحق دی.(۱)

## د ابراهيم خواص رَحِمَهُ ٱللَّهُ فراست

ابراهيم خواص رَحِمَهُ ٱللَّهُ فرمايي چې زه د بغداد په جامع جُمات کې د فقيرانو په يو تولګي کې ناست ووم ، په دې وخت کې جُمات ته يو ځوان راننوت چې ښائسته خوشبوئي ورنه تلله او ښکلې مَخ يې وُ (يعنی د مسلمانانو په شان بهترين لباس يې اچولې وُ او خوشبوئي يې

---

←←← أَيُّهَا الشَّيْخُ ! مَا مَعْنَى قَوْلِ النَّبِيِّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ « إِتَّقُوا فِرَاسَةَ الْمُؤْمِنِ فَإِنَّهُ يَنْظُرُ بِنُورِ اللهِ» فَأَطْرَقَ الْجُنَيْدُ. ثُمَّ رَفَعَ رَأْسَهُ إِلَيْهِ. وَقَالَ: أَسْلِمْ. فَقَدْ حَانَ وَقْتُ إِسْلَامِكَ. فَأَسْلَمَ الْغُلَامُ. مدارج السالكين بين منازل إياك نعبد وإياك نستعين لابن قيم ج ۲ ص ۴۵۴ فَصْلُ أَنْوَاعُ الْفِرَاسَةِ . البداية والنهاية ج ۱۴ ص ۷۶۹ سَنَةُ ثَمَانٍ وَتِسْعِينَ وَمِائَتَيْنِ ، مرآة الجنان ج ۲ ص ۱۷۳ .

(۱) وقد حكى أنّ رجلًا من المجوس كان يدور على المسلمين ويقول: ما معنى قول النبي صلى الله عليه وسلم: إِتَّقُوا فِرَاسَةَ الْمُؤْمِنِ؟ فكان يذكر له تفسيره فلا يقنعه ذلك حتى انتهى إلى بعض المشايخ من الصوفية ، فسأله . فقال له: معناه: أن تقطع الزنار الذي على وسطك تحت ثوبك . فقال: صدقت هذا معناه وأسلم وقال الآن عرفتُ أنّك مؤمن وأنّ إيمانك حق. احياء علوم الدين ج ۲ ص ۲۹۲

Scanned with CamScanner

استعمال کړې وه) ، ما خپلو ملګرو ته وویل :

يَقَعُ لِيَ أَنَّهُ يَهُوْدِيٌّ . ماته داسې معلومیږي چې دا یهودي دی .

دې ټولو موجود کسانو زما دا خبره بده اوګڼله ( ځکه د هغه کس شکل او لباس د مسلمانانو په شان ؤ) .

بیا زه د جُمات نه اُووتم ، او هغه ځوان هم اُووت ، بیا هغه ځوان واپس جُمات ته لاړ او د هغه خلقو نه یې پوښتنه اوکړه :

أَيَّ شَيْءٍ قَالَ الشَّيْخُ فِيَّ ؟ دې شیخ صاحب زما متعلق ( تاسو ته ) څه خبره اوکړه ؟

هغوی (چې دده دې ظاهري حالت ته اوکتل نو ) دده نه اُوشرمیدل او هغه خبره یې ورته اونکړه کومه چې ابراهیم خواص رَحِمَهُ اللَّهُ دده په باره کې کړې وه .

دې ځوان باربار اِصرار اوکړو چې ماته هماغه خبره اوکړئ چې کومه زما په باره کې دې شیخ صاحب کړی . نو هغوی ورته وویل : شیخ صاحب ستا په باره کې وویل چې : دا یهودي دی .

ابراهیم خواص رَحِمَهُ اللَّهُ فرمایي دا ځوان ماته راغی ، زما لاسونه او سَرېې بُښکل (چَپ) کړل ، او مسلمان شو . بیا یې وویل : مونږ په خپلو کتابونو کې دا خبره کتلی "چې د صدیق سړي فِراست نه خطا کیږي " نو ما د ځان سره وویل چې زه به مسلمانان معلوموم چې په دوی کې صدیق څوک دی ؟ کله مې چې تاسو اُولیدئ نو ما د ځان سره وویل چې که په مسلمانانو کې څوک صدیق وي نو په دې ډَله کې به خامخا وي ځکه دوی د الله تعالی کلام (قرآن مجید ) لولي ، پس کله چې زه جُمات ته راننُوتم نو ابراهیم خواص رَحِمَهُ اللَّهُ زه اُولیدم نو هغه په خپل فِراست سره پوهه شو چې دا کس یهودي دی، نو ماته پته اُولږیده چې دا یقیني صدیق دی . علماء لیکي چې بیا دې ځوان نه لوي بزرګ او صوفي جوړ شو .(۱)

---

(۱) عن إبراهيم الخواص قال كنتُ ببغداد في جماعة من الفقراء في الجامع فأقبل شاب طيب الرائحة حسن الوجه . فقلت لأصحابي: يقع لي أنه يهودي . فكلهم كرهوا ذلك . فخرجتُ وخرج الشابّ ثم رجع إليهم وقال: أيّ شيءٍ قال الشيخ فيّ ؟ فاحتشموه فألح عليهم فقالوا له قال إنك يهودي . قال فجاءني وأكبّ على يدي وقبل رأسي وأسلم . وقال نجدُ في كتبنا أنّ الصديق لا تخطىء فراسته . فقلتُ امتحن المسلمين ←←←←←

## د مرزا مظهر جان جانان رَحِمَهُ اللهُ فراست

يو ځل مرزا مظهر جان جانان رَحِمَهُ اللهُ ته يو مريد انګور په تحفه کې راوړل، مرزا صاحب چې ورنه يوه دانه په خُله کې واچوله نو واپس يې راأوويستله او وې ويل چې: ماته ددينه د مړو (وفات شوو خلقو) بُوی راځي.

مريد ورته وويل: دا خو ما په بازار کې اخيستي دي. ده ورته وويل: که په هر ځای کې دې اخيستي وي خو ماته ددينه د مړو بُوی راځي.

د مريد په زړه کې شک پيدا شو او ددې د تحقيق د پاره أووت، د کوم دکاندار نه يې چې دا اخيستي وو د هغه نه يې پوښتنه اوکړه: تا دا انګور د کوم ځای نه راوړي وو؟

هغه ورته وويل: دا ماته د آطرافو نه يو کس راوړي د هغه د آنګورو خپل باغ دی، زه يې د هغه نه آخلم.

دې مريد ورنه د هغه کس ادرس واخيست، او هلته ور روان شو، کله چې هلته ورغی او تحقيق يې اوکړو نو ورته معلومه شوه چې هغه کس يو زوړ قبرستان هوار کړې ؤ او په هغې کې يې د آنګورو أوني کرلې وی دا انګور د هغه أونو وو.

سبحان الله، د تقوی په وجه الله تعالی انسان ته داسې فراست ورکوي چې بيا ورته د خوراک متعلق هم معلومات کيږي. (۱)

## د سُلطان نورالدين زنګي رَحِمَهُ اللهُ فراست

سلطان نورالدين زنګي رحمه الله ډير زړه وَر بادشاه تېر شوی، دده د زړه ورتيا د وجې نه د يورپ ډير بهادران لړزيدل، دا دعيسايانو سره په صليبي جنګونو کې مشغول ؤ (د صليبي جنګونو دَور د ۱۰۹۹ء نه تر ۱۱۸۷ء پورې ؤ).

---

←←← فتأملتهم فقلتُ إن كان فيهم صديق ففي هذه الطائفة لأنهم يقولون حديثه سبحانه ويقرءون كلامه فلبستُ عليكم فلما اطلع على الشيخ وتفرس في علمتُ أنه صديق. قال وصار الشاب من كبار الصوفية.

احياء علوم الدين ج ۲ ص ۲۹۴ . الرسالة القشيرية ج۲ ص ۳۹۳ باب الفتوة

(۱) علمي مضامين ص ۱۸۷، اللہ والوں کے تڑپا دینے والے واقعات ج ۳ ص ۲۳۸.

دا یو ځل په شام کې وُ ، یوه شپه ده د تهجدو مونځ اوکړو ، اُوده شو ، په خوب کې یې د رسول الله صلی الله علیه وسلم سره ملاقات اوشو ، نبي علیه السلام دوه شین سترګو (د پیشو دسترګو په شان سترګو واله ) کسانو طرفته اشاره اوکړه او سلطان نورالدین ته یې وویل : نَجِّنِيْ اَلْقِذْنِيْ مِنْ هٰذَيْنِ .

ماته نجات راکړه او ما خلاص کړه ددې دوه کسانو نه .

سلطان نورالدین د یَرې په حالت کې راپاڅید ، حیران شو ، اُودس یې اوکړو ، نوافل یې اوکړل ، او اُوده شو .

چې څنګه یې سترګې پټې شوې نو هماغه شان خوب یې بیا اولید ، راپاڅید بیا یې اودس اوکړو او نوافل یې اوکړل ، چې اُوده شو نو هماغه شان خوب یې په دریم ځل هم اولید .

راپاڅید او وې ویل : اوس ماته د خوب کولو ګنجائش نشته ، په همدغه وخت کې یې خپل وزیر جمال الدین اصفهاني رااُوغوښت او ټوله واقعه یې ورته بیان کړه ، وزیر ورته وویل : حِصاریږه مه ، بلکه فورًا مدینې منورې ته لاړ شه ، چاته دا خوب مه بیانوه ، داسې معلومیږي چې په مدینه منوره کې ضرور څه واقعه راپیښه شوې ، خو ته په تېزۍ سره ځان مدینې منورې ته اورسوه .

سلطان دځان سره د مجلسِ شوریٰ شل (۲۰) کسان او دوه سوه (۲۰۰) سپاهیان روان کړل ، ډیر جواهرات ئې هم د ځان سره واخیست ، په شپه او ورځ سفر کولو سره ئې په تېزو اوښانو باندې په شپاړسو (۱۶) ورځو کې ځان د شام نه مدینې منورې ته اورسول .

په دغه زمانه کې عرب د سلطان نورالدین د اَثر لاندې راغلي وو ، د بادشاه په ناڅاپه راتلو سره مدینې منورې واله خلق حېران شو ، د مدینې اَمیر دده نه د ناڅاپه راتلو پوښتنه اوکړه ، بادشاه صرف ده ته ټوله واقعه بیان کړه (چې په خوب کې مې درې پېرې پیغمبر علیه السلام اولید او راته وې فرمایل : نَجِّنِيْ اَلْقِذْنِيْ مِنْ هٰذَيْنِ)

د مدینې امیر بادشاه ته وویل : که ته دا دوه کسان پیژندې شې نو زه به د مدینې منورې ټول خلق د اِنعام ورکولو په بَهانه راجمع کړم او هر کس به ستا مخې ته تیریږي او ته به انعام ورکوی .

(ده ورته وويل صحيح ده) عام اعلان اوشو چې سلطان د ټولې مدينې منورې خلقو ته انعام ورکوي، هر کس دې خامخا راشي، د بادشاه د لاس نه دې انعام حاصل کړي.

هر کس د انعام په لالچ کې راغی، چې کوم کس ته به سلطان انعام ورکولو هغه ته به يې په ډير ژوَر نظر کتل، تردې چې د مدينې منورې ټول خلق ختم شو، خو نبي عليه السلام چې په خوب کې کومو دوه کسان طرفته اشاره کړې وه هغه کسان دده مخې ته رانغلل.

سلطان حېران وُ، د مدينې منورې د امير او خلقو نه يې پوښتنه اوکړه چې بل څوک خو د انعام اخيستلو نه پاتې ندی؟

خادمينو ورته وويل: بادشاه سلامت! صرف دوه اهل مغرب (يعنې د رُوم او سيدونکي کسان) پاتې دي چې هغه ډير نېکان، ديندار او عبادت گزاره دي، په جنّتُ البقيع کې خلقو ته اُوبه ورکوي، گوشه نشين دي، د چاسره يې څه تعلقات نشته.

سلطان هغه هم رااوغوښت، چې څنگه ده ته رامخامخ شو نو ده اوپېژندل چې دا هماغه کسان دي کومو ته چې رسول الله صلی الله عليه وسلم اشاره کړې وه او ماته يې فرمايلي وُ چې ددې دوه کسانو نه ماته خلاصي او نجات راکړه.

سلطان د تفتيش نه مخکې دوي ته څه ويل مناسب او نه گڼړل، مصافحه يې ورسره اوکړه، په عزت يې کېنول، بيا سلطان د دوی سره حُجرې ته لاړ، دَ دوی په حجره کې په زمکه باندې يوه معمولي چټائي غوړيدلې وه، په چاخته کې يو قرآن کريم او د وعظ او نصيحت څه کتابونه پراته وو، سلطان نورالدين زنگي رحمه الله ډير حېران شو، چې يا الله! دا څه معامله ده؟ دلته خو هيڅ شی د خطرې نشته، مايوسه شو. چې کله راواپس کيدو نو د چټايي لاندې يو څيز دده په خپې ايخودلو سره اوخوزيد، چې چټائي يې پورته کړه نو يوه تخته وه، تخته يې چې پورته کړه نو يو لوي سُرنگ د نبي کريم صلی الله عليه وسلم روضې مبارکې طرفته وهل شوې وُ.

سلطان پوهه شو فورًا يې دواړه اونيول، دوي نه يې تحقيق اوکړو، دوي د خپل جرم اقرار اوکړو، چې مونږ د روم عيسايان يو، مونږ ته عيسايي بادشاه ډير مال راکړې دی، او ډيرو انعاماتو وعده يې راسره کړې ده، مونږ خپل شکل د حاجيانو په شان جوړ کړې دی، دلته ددې دپاره راغلي يو چې د نبي عليه السلام جسد مبارک ددې ځای نه اوباسو، روم ته

بې ویسو، ددې دپاره چې د مسلمانانو دا مرکز او د دوی اتفاق ختم شي، مونږ چې دلته راغلو نو خلقو ته مو دا ظاهره کړه چې زمونږ د رسول الله صلی الله علیه وسلم سره مینه ده، ځان مو ورته دیندار ه ښکاره کړو، دوي ته مو وویل:

مونږ د نبي علیه السلام سره د محبت په وجه خپل وطن پریخی او دلته ددې دپاره راغلي یو چې د پیغمبر علیه السلام د قبر مبارک سره نزدې دیره شو، د مدینې منورې خلقو چې زمونږ دا ظاهري مینه او دینداري اولیده نو دهوکه شو، مونږ ته یې د روضې مبارکې سره متصل حجره راکړه، مونږ په پټه سره روضې مبارکې طرفته سُرنګ وهل شروع کړو، ټوله شپه به مو سُرنګ وهل، سهر وختي به مو د څرمنې په دوه تېلو کې خاوره واچوله، جنت البقیع طرفته به د فاتحې په بهانه لاړو، هلته به مو خاوره ځای په ځای واچوله، بیا به واپس راغلو، د ورځې به ددې خوا او شاه قجورو په باغونو او قباء کې ګرځیدو، خلقو ته به مو اُوبه ورکولې، د ډېرو کلونو د محنت نه پس نن مونږ د رسول الله صلی الله علیه وسلم روضې مبارکې ته رسیدلي وو.

(ویلې شي چې په کومه شپه دا سُرنګ د نبي علیه السلام روضې مبارکې ته رسیدو واله ۇ په دغه شپه باندې سخت باران، ګرزار، تندرونه، طوفان او سخته زلزله راغله چې ددې په وجه خلق په سخته یَره کې مبتلاء شو)

سلطان نورالدین زنګي رحمه الله چې دا واقعه واوریده نو سخت یې اوژړل، او په همدغه وخت یې د حجرې مخې ته ددې دواړو لعینانو سرونه د تن نه جُدا کړل، بیا یې سجده د شکر اوکړه.

بیا یې د روضې مبارکې نه ګېر چاپېره دومره ډوب خندق اوکنیست چې اُوبه په کې رااُووتې، بیا یې رصاص (سیسه) ویلې کړه او د خندق د بیخ نه یې تر دزمکې د سَر پورې دا ټوله فاصله د رصاص نه ډکه کړه، ددې دپاره چې آئنده څوک بیا داسې کار اونه کړي. (۱)

سبحان الله: سلطان نورالدین زنګي رحمه الله بادشاه ۇ خو الله تعالی ورته د تقوی په وجه داسې فراست ورکړې ۇ چې په ډیر حِکمت سره یې دواړه کسان اُوپیژندل، او دواړه یې ختم کړل.

---

(۱) حکمت ونصیحت کے حیرت انگیز واقعات ص ۲۰۰ .

## فراست "علمِ غیب" ندی

په دې خبره ځان پوهه کړئ چې دا کوم واقعات ذکر شو نو دا علمِ غیب ندی بلکه دیته د مؤمن فِراست، فرقان، وِجدان، او قوّتِ فارقه وایي. دا الله تعالی هغه بندګانو ته ورکوي چې په هغوی کې تقوی وي او د حرام خوراک نه ځان ساتي.

په دُنیا کې که مونږ اوګورو چې کوم کس په پولیسو کې وخت ډیر تیر کړې وی نو د هغه تجربه دومره زیاته وي چې کله د هغه مخې ته چرسي یا پُوډري سړې تېر شي نو هغه یې پیژني، دا څه علمِ غیب نه وي بلکه تجربه وي، همدغه شان فراست هم دی چې په چا کې تقوی وي نو الله تعالی هغه ته فراست ورکوي.

## ۱۰ د تقوٰی په د جهنم د اُور نه محفوظ کیدل

د تقوی په وجه انسان د جهنم د اُور نه محفوظ کیږي.

۱. الله تعالی فرمایي: ﴿وَإِن مِّنكُمْ إِلَّا وَارِدُهَا ۚ كَانَ عَلَىٰ رَبِّكَ حَتْمًا مَّقْضِيًّا ۝ ثُمَّ نُنَجِّي الَّذِينَ اتَّقَوا وَّنَذَرُ الظَّالِمِينَ فِيهَا جِثِيًّا﴾. (۱)

ترجمه: او په تاسو کې به هر کس په جهنم باندې تیریږي، دا ستا په رب باندې لازمي مقرّر شوې (خبره) ده. بیا به مونږ هغه خلقو ته نِجات ورکوو کوم چې مُتقیان دي او ظالمان به په دې جهنم کې په پَرمخ (ډُونګو) باندې غورځیدونکي پریږدو.

۲. نبي علیه الصلاة والسلام فرمایي چې الله تعالی به د قیامت په ورځ (په جهنم باندې مقرر کړې شوو فرښتو ته) اوفرمایي:

أَخْرِجُوا مِنَ النَّارِ مَنْ ذَكَرَنِي يَوْمًا أَوْ خَافَنِي فِي مَقَامٍ.

(اې فرښتو!) تاسو د جهنم نه هغه مؤمن هم راُوباسئ چې هغه زه یوه ورځ یاد کړې یم یا د مانه په یوه موقع ویریدلې وي. (۲)

---

(۱) مریم آیة ۷۱، ۷۲. اہل دل کے تڑپا دینے والے واقعات ج ۲ ص ۲۳۸، خطبات فقیر ج ۱۴ ص ۲۴۱.

(۲) عَنْ أَنَسٍ رضي الله عنه، عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ: يَقُولُ اللهُ: أَخْرِجُوا مِنَ النَّارِ مَنْ ذَكَرَنِي ←←←←

Scanned with CamScanner

**تشریح**: یعنی که یو کس په داسې حالت کې وفات شوې وي چې ایمان یې راوړې وي، نېک اعمال ورسره نه وي، او د ګناهونو په وجه جهنم ته داخل شوې وي خو په غونډ عُمر کې یې یو ځل الله ﷻ یاد کړې وي یا د څه ګناه کولو په وخت د الله تعالی نه ویرېدلې وي او د هغه ګناه نه منع شوې وي نو داسې کس به هم آخر د همدې نېک عمل په وجه د جهنم نه راُووځي او جنت ته به داخل شي. په قرآن کریم کې ذکر دي چې:

﴿ وَأَمَّا مَنْ خَافَ مَقَامَ رَبِّهِ وَنَهَى النَّفْسَ عَنِ الْهَوَى ۝ فَإِنَّ الْجَنَّةَ هِيَ الْمَأْوَى ﴾.(۱)

ترجمه: او څوک چې د خپل رب په مخکې د اُودرېدو نه اُویرېد او خپل نفس یې د خواهشاتو نه منع کړو نو یقینًا چې همدا جنت دده د اُوسېدو ځای دی.

## خپل مال په مُتقي باندې خرچ کول

په احادیثو کې ترغیب راغلی چې مسلمان دې خپل مال په مُتقي باندې خرچ کړي:

د ابوداؤد شریف او ترمذي شریف حدیث دی، رسول الله ﷺ فرمایي:

لَا تُصَاحِبْ إِلَّا مُؤْمِنًا، وَلَا يَأْكُلْ طَعَامَكَ إِلَّا تَقِيٌّ. (۲)

←←← يَوْمًا أَوْ خَافَنِيْ فِيْ مَقَامٍ. سنن الترمذي أَبْوَابُ صِفَةِ جَهَنَّمَ بَابُ مَا جَاءَ أَنَّ لِلنَّارِ نَفَسَيْنِ. وَمَا ذُكِرَ مَنْ يَخْرُجُ مِنَ النَّارِ مِنْ أَهْلِ التَّوْحِيْدِ رقم الحديث ۲۵۹۴ وقال الترمذي: هَذَا حَدِيْثٌ حَسَنٌ غَرِيْبٌ. شعب الایمان. رقم الحديث ۷۲۶، مشكاة المصابيح بَابُ الْبُكَاءِ وَالْخَوْفِ الْفَصْلُ الثَّانِيْ رقم الحديث ۵۳۴۹(۱۱)، كنز العمال رقم الحديث ۱۸۴۳، المستدرک على الصحيحين للحاكم رقم الحديث ۲۳۵، مسند البزار رقم الحديث ۷۴۵۵.

("أَخْرِجُوْا مِنَ النَّارِ مَنْ ذَكَرَنِيْ") أَيْ: بِشَرْطِ كَوْنِهِ مُؤْمِنًا مُخْلِصًا ("يَوْمًا") أَيْ: وَقْتًا وَزَمَانًا ("أَوْ خَافَنِيْ فِيْ مَقَامٍ") أَيْ: مَكَانٍ فِيْ ارْتِكَابِ مَعْصِيَةٍ مِنَ الْمَعَاصِيْ، كَمَا قَالَ تَعَالَى: ﴿ وَأَمَّا مَنْ خَافَ مَقَامَ رَبِّهِ.... ﴾. مرقاة المفاتيح ج ۸ ص ۳۳۵۲ بَابُ الْبُكَاءِ وَالْخَوْفِ

(۱) النازعات آية ۴۰، ۴۱.

(۲) سنن ابي داؤد كِتَابُ الْأَدَبِ بَابُ مَنْ يُؤْمَرُ أَنْ يُجَالِسَ رقم الحديث ۴۸۳۲، سنن الترمذي بَابُ مَا جَاءَ فِيْ صُحْبَةِ الْمُؤْمِنِ رقم الحديث ۲۳۹۵، مسند احمد مخرجا رقم الحديث ۱۱۳۳۷، المستدرک على الصحيحين للحاكم رقم الحديث ۷۱۶۹ وقال الحاكم: هَذَا حَدِيْثٌ صَحِيْحُ الْإِسْنَادِ وَلَمْ يُخَرِّجَاهُ" ووافقه الذهبي. مشكاة المصابيح كتاب الآداب بَابُ الْحُبِّ فِي اللهِ وَمِنَ اللهِ الْفَصْلُ الثَّانِيْ رقم الحديث ۵۰۱۸(۱۶).

Scanned with CamScanner

صرف د ( كامِل ) مؤمن سره ملګرتيا كوه ، او ستا خوراک دې صرف مُتّقي سړي اوخوري.

يعنى صرف په مُتّقي سړي باندې خوراک كوه ، ځكه په هغه باندې د خوراک كولو فائده داده چې هغه ته به په دې خوراک باندې قوّت حاصل شي او د الله تعالى عبادت به پرې اوكړي نو ته به هم د عبادت په ثواب كې ورسره شريک شى.

په يو روايت كې ورسره دا زيادت هم شته چې " ته صرف د مُتّقي سړي خوراک كوه " ځكه د هغه خوراک حلال وي نو تا ته به پرې د عبادت توفيق ملاؤ شي .(۱)

## مُتقيان به د بې فائدې كارونو نه ځان ساتي

مُتّقيانو د پاره د بې فائدې كارونو نه ځان ساتل په كار دي ؛ ځكه مسلمان تر هغه وخته پورې د كامل مُتقيانو درجې ته نشي رسيدى تر څو پورې چې ده بې فائدې او مُشتبِه كارونو نه وي پريخي.

د مشكوة شريف حديث دى ، رسول الله ﷺ فرمايي :

لَا يَبْلُغُ الْعَبْدُ أَنْ يَكُوْنَ مِنَ الْمُتَّقِيْنَ حَتّٰى يَدَعَ مَا لَا بَأْسَ بِهٖ حَذَرًا لِمَا بِهٖ بَأْسٌ .(۲)

انسان تر هغه وخته پورې د كامِل مُتّقيانو درجې ته نشي رسيدى تر څو پورې چې هغه

---

(۱) (وَلَا يَأْكُلْ طَعَامَكَ إِلَّا تَقِيٌّ) أَيْ: مُؤْمِنٌ أَوْ مُتَوَرِّعٌ يَصْرِفُ قُوَّةَ الطَّعَامِ إِلَى عِبَادَةِ اللهِ الْمَلِكِ الْعَلَّامِ . وَالنَّهْيُ وَإِنْ نُسِبَ إِلَى التَّقِيِّ، فَفِي الْحَقِيقَةِ مُسْنَدٌ إِلَى صَاحِبِ الطَّعَامِ ، فَهُوَ مِنْ قَبِيلِ لَا أُرِيَنَّكَ هٰهُنَا. فَالْمَعْنَى : لَا تُطْعِمْ طَعَامَكَ إِلَّا تَقِيًّا. وَفِي رِوَايَةٍ بِزِيَادَةٍ : وَلَا تَأْكُلْ إِلَّا طَعَامَ تَقِيٍّ. فَإِنَّ طَعَامَهُ غَالِبًا يَكُوْنُ حَلَالًا مُؤَثِّرًا فِي تَحْصِيلِ الْعِبَادَةِ. مرقاة المفاتيح شرح مشكاة المصابيح ج ۸ ص ۳۱۴۱ في تشريح حديث ۵۰۱۸ .

(۲) مشكاة المصابيح باب الكسب وطلب الحلال، الفصل الثاني رقم الحديث ۲۷۷۵ (۱۷) ، المعجم الكبير للطبراني رقم الحديث ۴۴۶ ، سنن الترمذي أَبْوَابُ صِفَةِ الْقِيَامَةِ وَالرَّقَائِقِ وَالْوَرَعِ عَنْ رَسُولِ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ رقم الحديث ۲۴۵۱ ، سنن ابن ماجه باب الورع والتقوى رقم الحديث ۴۲۱۵ ، كنز العمال رقم الحديث ۵۶۴۲ .

وفي رواية : قَالَ رَسُوْلُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ : إِنَّ الرَّجُلَ لَا يَكُوْنُ مِنَ الْمُتَّقِيْنَ حَتّٰى يَدَعَ مَا لَا بَأْسَ بِهٖ حَذَرًا لِمَا بِهٖ بَأْسٌ. المستدرك على الصحيحين للحاكم ج ۴ ص ۳۵۵ رقم الحديث ۷۸۹۹ وقال الحاكم : هٰذَا حَدِيثٌ صَحِيحُ الْإِسْنَادِ وَلَمْ يُخَرِّجَاهُ .

کارونه پرې ښږدي په کوم کې چې څه قباحت نشته ، ددې د پاره چې د هغه شیانو نه منع شي په کوم کې چې قباحت دی.

**تشریح** : یعنی لکه څرنګې چې د مُتقي سړي د پاره د شِرک او ګناهونو نه بَچ کیدل په کار دي همدغه رنګې د بعضې هغه مُباح کارونو نه هم ده له پرهیز په کار دی چې د هغې په وجه دې بیا په حرامو ، مُشتَبِه یا مکروه شیانو کې واقع کیږي.

مثلا یو کس واده ندې کړی او د شهواتو د غلبې په وجه په زِنا او حرام کاری کې د مُبتلاء کیدو خطره وي نو دداسې کس د پاره د داسې مُباح قوي خوراکونو نه هم پرهیز په کار دی کوم چې قُوّتِ شهواني زیاتوي.

وجه داده چې اګر چې دا ښه خوراک مُباح دی لیکن ددې کس د پاره خطره شته چې په ناجائز کار کې مبتلاء شي ، نو څکه مُتقي سړي د پاره دداسې مُباح څیزونو نه هم پرهیز په کار دی.(۱)

حضرت عُمر رضي الله عنه به فرمایل:

كُنَّا نَدَعُ تِسْعَةَ أَعْشَارِ الْحَلَالِ مَخَافَةَ أَنْ نَقَعَ فِي الْحَرَامِ . (۲)

مونږ به په لسو کې نهه حصې حلال ددې یَرې د وجې پریخودل چې هسې نه ددې په وجه مونږ په حرامو کې مبتلاء شو.

حضرت ابوبکر صدیق رضي الله عنه به فرمایل : مونږ به په حرامو کې د مُبتلاء کیدو د یَرې نه د مُباحو اَویا (۷۰) حصې پریخودی.(۳)

بلکه مُتّقي ته به په خپل ځان پوره کنټرول حاصل وي ، داسې به نه کوي چې زړه یې څه اوغواړي هماغه کوي.(۴)

---

(۱) مظاهر حق شرح مشکوٰة ج۵ .

(۲) احیاء علوم الدین ۲/۹۵ کتاب الحلال والحرام .

(۳) مظاهر حق شرح مشکوٰة ج۵ .

(۴) قَالَ عُمَرُ بن عَبْدِ الْعَزِيزِ: اَلتَّقِيُّ مُلْجَمٌ لَا يَفْعَلُ كُلَّ مَا يُرِيْدُ. شرح السنة للبغوي بَابُ التَّقْوٰى ج۱۴ ص۳۴۱ رقم الحديث ۴۱۵۰ .

Scanned with CamScanner

همدارنګې مُتقي به د هغه کپړو اچولو نه هم ځان ساتي چې شریعت د هغې د اغوستلو نه منع کړي وي یا دده د شان مناسب نه وي. (۱)

## د حضرت ابو هریرة رضي الله عنه نه د تقوی په باره کې پوښتنه

یو سړي د حضرت ابو هریرة رضي الله عنه نه پوښتنه اوکړه:

مَا التَّقْوٰی؟ تقوی څه شی ته وایي؟

حضرت ابو هریرة رضي الله عنه ورته اوفرمایل: آیا ته چیرته په داسې لاره باندې تللې یې چې په هغې کې اَغزي وي؟ هغه ورته وویل: آو. ده ورته وویل:

فَكَيْفَ صَنَعْتَ؟ ته څه طریقه کوې؟

هغه وویل: کله چې زه (په لاره کې) اَغزي اوګورم نو د هغې نه اَخوا ځم یا په داسې طریقې ځم چې خپلې کپړې راغونډې کړم (ددې: پاره چې په اَزغو کې اُو نه نَخلي).

حضرت ابو هریرة رضي الله عنه ورته اوفرمایل:

ذَاكَ التَّقْوٰی. همدا تقوی ده. (۲)

(یعنی انسان به په داسې طریقې سره ژوند تیروي چې ځان یې په ګناهونو سره ککړه نشي).

---

(۱) عَنْ عُقْبَةَ بْنِ عَامِرٍ، قَالَ: أُهْدِيَ إِلَى النَّبِيِّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَرُّوجُ حَرِيرٍ، فَلَبِسَهُ، فَصَلَّى فِيهِ، ثُمَّ انْصَرَفَ، فَنَزَعَهُ نَزْعًا شَدِيدًا كَالْكَارِهِ لَهُ، وَقَالَ: «لَا يَنْبَغِي هٰذَا لِلْمُتَّقِينَ». صحیح البخاري كِتَابُ الصَّلَاةِ بَابُ الصَّلَاةِ فِي الثَّوْبِ الأَحْمَرِ رقم الحدیث ۳۷۵، و رقم الحدیث ۵۸۰۱، صحیح مسلم رقم الحدیث ۲۳(۲۰۷۵)، مشكاة المصابیح رقم الحدیث ۷۵۹(٦).

(فَرُّوجُ حَرِيرٍ) بِفَتْحِ الفَاءِ وَتَشْدِيدِ الرَّاءِ هُوَ القَبَاءُ الَّذِي شُقَّ مِنْ خَلْفِهِ. مرقاة ج ۲ ص ۶۳۳ في تشریح حدیث ۷۵۹.

(۲) عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ رضي الله عنه أَنَّ رَجُلًا قَالَ لَهُ: مَا التَّقْوٰی؟ قَالَ: هَلْ أَخَذْتَ طَرِيقًا ذَا شَوْكٍ؟ قَالَ: نَعَمْ. قَالَ: فَكَيْفَ صَنَعْتَ؟ قَالَ: إِذَا رَأَيْتُ الشَّوْكَ عَدَلْتُ عَنْهُ أَوْ جَاوَزْتُهُ أَوْ قَصَرْتُ عَنْهُ. قَالَ: ذَاكَ التَّقْوٰی. الدر المنثور في التفسیر بالمأثور ج۱ ص ٦۱ سورة البقرة آیة ۲. نضرة النعیم ج ۴ ص ۱۱۱۹.

Scanned with CamScanner

بعضې خلق تقوی صرف دیته وايي چې انسان ځان د حرامو نه ځان ساتي ، حالانکه د تقوی د پاره لکه څرنګې د حرامو نه ځان ساتل ضروري دي همدغه شان د هرقِسمه ګناهونو او مُشتبِه شیانو نه هم ځان ساتل ضروري دي .

بلکه د حقوقُ الله سره سره د حقوقُ العبادو لحاظ ساتل هم ضروري دي ، او ورسره د اسلام په ټولو احکاماتو باندې عمل کول هم لازمي دي .

## د مُتّقیانو صفات

په قرآن کریم کې په مختلفو ځایونو کې الله تعالی د مُتّقیانو صفات ذکر کړي :

یو ځای د متّقیانو صفت دا ذکر شوی چې دوی په غیبو باندې اِیمان لري ، مونځ کوي ، خپل مال د الله تعالی په لار کې خرچ کوي ، په قرآن کریم او مخکیني کتابونو باندې ایمان لري . (۱)

په یو بل آیت کې ددې مذکوره صفاتو سره سره نور صفات هم ذکر شوي : چې مُتّقیان هغه خلق دي چې دوی په الله ، په ورځ د آخرت ، په مخکیني آسماني کتابونو او پیغمبرانو باندې ایمان لري ، خپل مال د الله تعالی په محبت کې په هغه ځایونو کې خرچ کوي په کومو ځایونو کې چې ورته الله تعالی د خرچ کولو حکم کړی ، مونځ کوي ، زکوة ورکوي ،

---

(۱) دا صفات په دې آیت کې ذکر شوي . الله تعالی فرمايي :

﴿ الٓمٓ ① ذٰلِكَ الْكِتٰبُ لَا رَيْبَ ۛ فِيْهِ ۛ هُدًى لِّلْمُتَّقِيْنَ ② الَّذِيْنَ يُؤْمِنُوْنَ بِالْغَيْبِ وَ يُقِيْمُوْنَ الصَّلٰوةَ وَ مِمَّا رَزَقْنٰهُمْ يُنْفِقُوْنَ ③ وَ الَّذِيْنَ يُؤْمِنُوْنَ بِمَآ اُنْزِلَ اِلَيْكَ وَمَآ اُنْزِلَ مِنْ قَبْلِكَ ۚ وَبِالْاٰخِرَةِ هُمْ يُوْقِنُوْنَ ④ اُولٰٓئِكَ عَلٰى هُدًى مِّنْ رَّبِّهِمْ ۗ وَاُولٰٓئِكَ هُمُ الْمُفْلِحُوْنَ ﴾ .البقرة آية ۱ تا ۵ .

ترجمه : الٓمٓ . دا ( قرآن کریم ) هغه کتاب دی چې په دې کې هیڅ شک نشته ، د مُتّقیانو د پاره هدایت دی ، مُتّقیان هغه خلق دي چې په غیب باندې ایمان لري ، مونځ کوي ، مونږ چې ورته څه ورکړي دي د هغې نه خرچ کوي ، ( اې محمد ! ) په تا باندې چې کوم کتاب نازل شوی او د تا نه وړاندې ( په نورو پیغمبرانو باندې ) چې کوم کتابونه نازل شوي په هغې باندې ایمان لري ، او په آخرت باندې یقین لري ، همدا خلق د خپل رب د طرفه په هدایت باندې دي ، او همدا خلق کامیابي موندونکي دي .

Scanned with CamScanner

وعده پوره کوي ، او د تکليف په وخت کې صبر کوي .(١)

بل ځای د مُتّقيانو صفت دا ذکر شوی چې دوی په ښکاره او پټه باندې د الله تعالى په لار کې مال خرچ کوي ، غصه برداشت کوي ، خلقو ته معافي کوي ، استغفار وايي ، او په ګناهونو باندې اصرار نه کوي .(٢)

## په قرآن کريم کې د مُتقيانو د پاره بشارتونه او زيري

په قرآن کريم کې د مُتّقيانو د پاره په مختلفو آيتونو کې ډير بشارتونه او زيري ذکر شوي ، يو څو په کې دادي :

مُتّقيانو سره د الله تعالى مدد شاملِ حال وي ، د الله ﷻ په نزد مُعزّز وي ، عِلم او حِکمت ورکوي ، ګناهونه يې ختموي ، لوي اجرونه ورکوي ، په کارونو کې ورته آساني پيدا کوي ، د دُنياوي غمونو او مشکلاتو نه ورته د وتلو لار آسانوي ، رزق ورته فراخه کوي ، د آخرت سزاګانو نه ورته نِجات ورکوي ، د نېکو اعمالو توفيق ورکوي ، د زړه مرادونه يې پوره کوي .

---

(١) دا صفات په دې آيت کې ذکر شوي . الله تعالى فرمايي : ﴿ لَيْسَ الْبِرَّ أَنْ تُوَلُّوا وُجُوهَكُمْ قِبَلَ الْمَشْرِقِ وَالْمَغْرِبِ وَلَكِنَّ الْبِرَّ مَنْ آمَنَ بِاللَّهِ وَالْيَوْمِ الْآخِرِ وَالْمَلَائِكَةِ وَالْكِتَابِ وَالنَّبِيِّينَ وَآتَى الْمَالَ عَلَى حُبِّهِ ذَوِي الْقُرْبَى وَالْيَتَامَى وَالْمَسَاكِينَ وَابْنَ السَّبِيلِ وَالسَّائِلِينَ وَفِي الرِّقَابِ وَأَقَامَ الصَّلَاةَ وَآتَى الزَّكَاةَ وَالْمُوفُونَ بِعَهْدِهِمْ إِذَا عَاهَدُوا وَالصَّابِرِينَ فِي الْبَأْسَاءِ وَالضَّرَّاءِ وَحِينَ الْبَأْسِ أُولَئِكَ الَّذِينَ صَدَقُوا وَأُولَئِكَ هُمُ الْمُتَّقُونَ ﴾ . البقرة آية ١٧٧ .

(٢) ددې صفاتو تذکره الله تعالى په دې آيتونو کې کړې : ﴿ وَسَارِعُوا إِلَى مَغْفِرَةٍ مِنْ رَبِّكُمْ وَجَنَّةٍ عَرْضُهَا السَّمَاوَاتُ وَالْأَرْضُ أُعِدَّتْ لِلْمُتَّقِينَ ۝ الَّذِينَ يُنْفِقُونَ فِي السَّرَّاءِ وَالضَّرَّاءِ وَالْكَاظِمِينَ الْغَيْظَ وَالْعَافِينَ عَنِ النَّاسِ وَاللَّهُ يُحِبُّ الْمُحْسِنِينَ ۝ وَالَّذِينَ إِذَا فَعَلُوا فَاحِشَةً أَوْ ظَلَمُوا أَنْفُسَهُمْ ذَكَرُوا اللَّهَ فَاسْتَغْفَرُوا لِذُنُوبِهِمْ وَمَنْ يَغْفِرُ الذُّنُوبَ إِلَّا اللَّهُ وَلَمْ يُصِرُّوا عَلَى مَا فَعَلُوا وَهُمْ يَعْلَمُونَ ۝ أُولَئِكَ جَزَاؤُهُمْ مَغْفِرَةٌ مِنْ رَبِّهِمْ وَجَنَّاتٌ تَجْرِي مِنْ تَحْتِهَا الْأَنْهَارُ خَالِدِينَ فِيهَا وَنِعْمَ أَجْرُ الْعَامِلِينَ ﴾ . آل عمران آية ١٣٣ تا ١٣٦ .

Scanned with CamScanner

د مُتّقیانو په باره کې الله تعالی د صداقت (ریښتینوالي) ګواهي ورکړې ده ، مُتّقیانو سره الله تعالی محبت کوي ، د دوی صدقات قبلوي ، د جنت نعمتونه ورکوي ، په جنت کې ښائسته بیبیانې ورکوي ، او د ټولو نه غټه خبره داده چې الله تعالی خپل قُرب ورته نصیبه کوي ، یعنی د قیامت په ورځ به دغه خلق د الله مُقرّب وي . (۱)

ددینه علاوه د مُتّقیانو د پاره نور بشارتونه او د تقوی نور فوائد هم ذکر شوي . (۲)

## د تقوی علامات

علماؤ د تقوی څه علامات ذکر کړي چې په دې سره دا پیژندلې شي چې دا سړی مُتّقي دی ، یو څو علامات دادي :

د الله تعالی په فیصله راضي کیدل ، د مصیبت په وخت صبر کول ، په نعمتونو شکریه

(۱) بشارات القرآن للمتقين : بشر القرآن الكريم المتقين ببشارات عديدة منها : العون والنصرة، والتكريم، والعلم والحكمة، وتكفير الذنوب وتعظيم الأجر، والمغفرة، واليسر والسهولة في الأمر، والخروج من الغم والمحنة ، ومنها الرزق الواسع في الدنيا، والنجاة من العقوبة في الآخرة، ومنها التوفيق والعصمة والفوز بالمراد، وشهادة الله لهم بالصدق، ومحبة الله وإكرامه ونيل الوصال وقبول الصدقة والصفاء وكمال العبودية، ومنها المقام الأمين والجنات والعيون والأمن من البلية وعز الفوقية وزوال الحزن والخوف من العقوبة والزوجات الحسان (الكواعب الأتراب) في الجنة، وأعظم من هذا كله القرب من الحضرة الإلهية عند الفوز بمقعد صدق عند مليك مقتدر . نضرة النعيم في مكارم أخلاق الرسول الكريم (ﷺ) ج ۴ ص ۱۰۸۱ التقوى .

(۲) من فوائد التقوى : ۱. معية الله تعالى للمتقين . ۲ . البشرى بالتكريم للمتقين. ۳. تكفير الذنوب وتعظيم الأجر. ۴. الوعد بالمغفرة وزوال الخوف من النفوس. ۵. اليسر والسهولة في الأمر. ۶. في التقوى تكفير للذنوب وتعظيم للأجر من الله سبحانه وتعالى . ۷. العون والنصرة من الله للمتقين. ۸. الأمن من البلية ونيل الوصال والقربة. ۹. عز الفوقية على سائر الخلق. ۱۰. الخروج من الهم والمحنة والوعد بالرزق الواسع. ۱۱. النجاة من العذاب والعقوبة. ۱۲. الفوز بالجنة. ۱۳. التوفيق والشهادة لهم بالصدق. ۱۴. محبة الله للمتقين . نضرة النعيم في مكارم أخلاق الرسول الكريم (ﷺ) ج ۴ ص ۱۱۲۰ التقوى .

Scanned with CamScanner

اداء کول ، په خبرو کې رېښتيا ويل ، وعده پوره کول ، د قرآن کريم تلاوت کول او ددې د احکاماتو نه ځان خبرول. (۱)

## د تقوٰی درې درجې

عام طور مفسّرينو د تقوی درې (۳) درجې ذکر کړي : د ټولو نه آدنٰی او کمه درجه داده چې انسان د کفر او شرک نه ځان اوساتي . په دې معنی کې بيا هر مسلمان ته مُتّقي ويلې شي اګر چې په صغيره ګناهونو کې اخته وي.

د تقوی دويمه درجه داده چې انسان د ټولو هغه څيزونو نه ځان اُوساتي چې د الله تعالی او رسول خوَښ نه وي . په قرآن کريم او احاديثو کې چې د تقوی څومره فضيلونه او برکتونه راغلي دي هغه په همدې درجه باندې راغلي دي ، او همدا مقصود ده .

د تقوی دريمه درجه داده چې انسان خپل زړه د غيرُ الله نه اُوساتي او هميشه يې د الله تعالی په ياد او د هغه د رضا په حاصلولو باندې آباد لري .( يعنی زړه د هر هغه څيز نه محفوظ ساتي چې کوم څيز انسان لره د الله تعالی نه غافله کوي ) .

د تقوی دا دريمه درجه په ټولو کې اعلٰی مقام لري ، دا درجه انبياء کرامو ته او د هغوی خاص نائبينو ( اولياءُ اللهِ ) ته نصيبه کيږي. (۲)

( بعضې مُفسّرينو د تقوی نورې درجې هم ذکر کړي او د تقوی پوره تحقيق يې کړی ) . (۳)

---

(۱) عن مالك بن أنس رحمه الله قال: بلغني أَنَّ رجلاً من بعض الفقهاء كتب إلى ابن الزبير رضي الله عنه يقول: «ألا إنَّ لأهل التقوى علامات يُعرَفون بها، ويَعْرِفونها من أنفسهم: مَن رَضِيَ بالقضاء، وَصَبَرَ على البلاء، وشكر على النعماء، وصَدَق في اللسان، ووفى بالوعد والعهد، وتلا لأحكام القرآن، وإنما الإمام سُوقٌ مِنَ الأسواق، فإن كان من أهل الحق حَمَلَ إليه أهلُ الحقِ حقَّهم، وإن كان من أهل الباطل حمل إليه أهل الباطل بأطلهم» . جامع الأصول في أحاديث الرسول ج ۱۱ ص ۷۰۳ . نضرة النعيم في مكارم اخلاق الرسول الكريم (ﷺ) ج ۴ ص ۱۱۱۹ التقوى.

(۲) تفسير معارف القرآن سورة آل عمران في تشريح آيت ۱۰۲ .

(۳) درجات التقوى خمس : أن يتقي العبد الكفر ، وذلك مقام الإسلام ، وأن يتقي المعاصي والحرمات وهو مقام التوبة ، وأن يتقي الشبهات ، وهو مقام الورع . وأن يتقي المباحات وهو مقام الزهد . ←←←←←

Scanned with CamScanner

# د تقوى پيدا کيدو طريقې

## (د ريښتياويونکو خلقو سره ملګرتيا کول)

په ځان کې د تقوى پيدا کولو يوه طريقه داده چې انسان د ريښتيا ويونکو خلقو سره ملګرتيا اوکړي نو پخپله به په ده کې تقوى پيدا شي، الله تعالى فرمايي:

﴿ يَآأَيُّهَا الَّذِينَ اٰمَنُوا اتَّقُوا اللّٰهَ وَكُونُوا مَعَ الصّٰدِقِينَ ﴾.(١)

ترجمه: اې مؤمنانو! تاسو د الله تعالى نه اُوويرېږئ او د ريښتيا ويونکو خلقو سره

---

←←← وأن يتقي حضور غير الله على قلبه، وهو مقام المشاهدة. تفسير ابن جزي (التسهيل لعلوم التنزيل) ج ١ ص ٧٠ سورة البقرة آية ٢.

وأصلُ التقوى: أن يجعل العبدُ بينه وبينَ ما يخافُهُ ويحذرُهُ وقايةً تقيهِ منه. فتقوى العبدِ لربِّه أن يجعلَ بينَه وبينَ ما يخشاهُ من رَبه من غضبِهِ وسخطِهِ وعقابِهِ وقايةً تقيه من ذلك، وهو فعلُ طاعتِهِ واجتنابُ معاصيهِ.

وتارةً تُضافُ التقوى إلى اسمِ اللهِ عزَّ وجلَّ، كقولِهِ تعالى: (وَاتَّقُوا اللهَ الَّذِي إِلَيْهِ تُحْشَرُونَ)، وقوله: (يَآأَيُّهَا الَّذِينَ اٰمَنُوا اتَّقُوا اللهَ وَلْتَنْظُرْ نَفْسٌ مَّا قَدَّمَتْ لِغَدٍ وَاتَّقُوا اللهَ إِنَّ اللهَ خَبِيرٌ بِمَا تَعْمَلُونَ).

فإذا أُضيفت التقوى إليه سبحانه وتعالى، فالمعنى: اِتَّقوا سخطَهُ وغضبَهُ. وهو أعظمُ ما يُتَّقَى، وعن ذلكَ ينشأ عقابُهُ الدنيويُّ والأخرويُّ. قال تعالى: (وَيُحَذِّرُكُمُ اللهُ نَفْسَهُ) وقال تعالى: (هُوَ أَهْلُ التَّقْوَى وَأَهْلُ الْمَغْفِرَةِ). فهوَ سبحانَهُ أهلٌ أن يُخشى ويُهابَ، ويُجلَّ ويُعظَّمَ في صدورِ عبادِهِ حتَّى يعبدوهُ ويُطيعوهُ، لما يستحقُّه من الإجلالِ والإكرامِ، وصفاتِ الكبرياءِ والعظمةِ وقوّةِ البطشِ، وشدَّةِ البأسِ.

وفي الترمذيِّ عن أنس عن النبيِّ صلى الله عليه وسلم في هذهِ الآيةِ: (هُوَ أَهْلُ التَّقْوَى وَأَهْلُ الْمَغْفِرَةِ). قال: "قال الله تعالى: أنا أهلٌ أن أُتَّقى، فمنْ اتقاني فلم يَجْعَل معي إلهًا آخرَ، فأنا أهل أن أغفِرَ له"......

ويدخلُ في التقوى الكاملةِ فعلُ الواجباتِ وتركُ المحرَّماتِ والشبهاتِ. وربما دخلَ فيها بعدَ ذلكَ فعلُ المندوباتِ، وتركُ المكروهاتِ، وهيَ أعلى درجاتِ التَّقوى. تفسير ابن جزي (التسهيل لعلوم التنزيل) ج ١ ص ٣٦١ سورة النساء آية ١٣١.

(١) التوبة آية ١١٩.

ملګري شئ.

**فائده** : په دې آیت کې الله تعالی اول مؤمنانو ته د تقوی حکم اوکړو او بیا یې ورته اوفرمایل : ﴿ وَكُونُوا مَعَ الصّٰدِقِينَ . ریښتیا ویونکو خلقو سره ملګري شئ ﴾ . په دې کې دې طرف ته اشاره ده چې د تقوی حاصلیدو طریقه داده چې انسان د مُتّقیانو سره ملګرتیا کوي او د هغوی په شان اعمال کوي نو په ده کې به هم تقوی پیدا شي.(۱)

## د ظاهِر او باطن تقوی

یحیٰی بن معاذ رَحِمَهُ اللهُ فرمایي : تقوی او پرهیزګاري په دوه قِسمه ده :
یو ظاهري تقوی ، او بله باطني تقوی.
ظاهري تقوی داده چې انسان هر حرکت صرف د الله تعالی د رضا د پاره کَوي.
او باطني تقوی داده چې خپل زړه ته د الله ﷻ نه ما سوی بل څوک داخل نکړي.(۲)

## په ځان کې تقوی پیدا کول ضروري ده

بهر حال ، د مسلمان د پاره دا ضروري ده چې په ځان کې تقوی پیدا کړي.
ځکه د مسلمان د پاره د ګناهونو نه ځان ساتل فرض دي ، او تقوی هم همدې وایي چې دده په زړه د الله ﷻ نه یره پیدا شي ، د ګناهونو نه ځان اوساتي او الله تعالی راضي کړي.
بل دا چې که د چا په زړه کې تقوی او د الله ﷻ نه یره نه وي نو که دا بیا هر څومره غټ عبادت کوي خو هغه خوَند او نُورانیت به نه محسوسوي.
مثلاً که داسې کس حج ته لاړ شي نو هلته به هم پرَدو ښځو ته ګوري او د بَدنظرۍ په ګناه کې به اخته وي.

---

(۱) تفسیر معارف القرآن سورة التوبة آیة ۱۱۹.

(۲) وقال یحیی بن معاذ رَحِمَهُ اللهُ : الورع علی وجهین : ورع في الظاهر، و ورع في الباطن، فورع الظاهر أن لا یتحرك إلا لله، و ورع الباطن هو أن لا تدخل قلبك سواه. وقال: من لم ینظر في الدقیق من الورع لم یصل إلی الجلیل من العطاء. صلاح الامة في علو الهمة ج ٥ ص ٦٧٢ علو الهمة في الورع. موسوعة الأخلاق الإسلامیة ج ٢ ص ٦٧٢ الورع أقوال السلف والعلماء في الورع

يا که دا تجارت کوي نو دروغ به وايي او د خلقو سره به دُهوکه کوي .
يا که جهاد له لاړ شي نو هلته به خيانت او غلا کوي .
نو ځکه مسلمان ته په کار دي چې په ځان کې تقوی پيدا کړي د ګناهونو او مُشتبِه شيانو نه ځان اوساتي ، د الله ﷻ د عذاب نه اُوويرېږي نو د عبادت نورانيت به يې برقرار وي ، او د الله ﷻ په نزد به مقبول وي .

## د غونډ تقرير خلاصه

د غونډ تقرير خلاصه دا رااُووته چې د ايمان نه پس تقوی داسې لوي نعمت دی چې د دې په وجه انسان ته د دوارو جهانو کاميابي نصيبه کيږي .
په قرآن کريم کې ځای په ځای مسلمانانو ته د تقوی حکم شوی ، بلکه مخکيني ټولو پيغمبرانو ته هم د تقوی حکم شوې وُ ، بيا هر پيغمبر خپل قوم ته د تقوی حکم کړې وُ ، خاصکر نبي عليه السلام خو په ډير اِهتمام سره خپل اُمت ته د تقوی حکم کړی .
پيغمبر عليه السلام به چې اسلامي لښکر د جهاد د پاره ليږل نو په خصوصي طريقې سره به يې د لښکر امير ته د تقوی حکم کولو . تر دې چې کله به رسولُ الله صلی الله عليه وسلم د ځان د پاره دُعا غوښته نو په هغې کې به يې هم د تقوی سوال کولو .
تقوی بهترين لباس دی ، د دې په وجه انسان د جنت مستحق کيږي .
الله تعالی د مُتقيانو سره مدد کوي ، د دُشمنانو د مکرو فريب نه يې ساتي ، د دوی سره محبت کوي ، دوی ته د وِلايت اُوچت مقام ورکوي ، د هر مشکل نه د وتلو لار ورته آسانوي، رزق ورته فراخه کوي ، د آسمان نه ورباندې رحمتونه او برکتونه رانازلوي .
د تقوی په وجه الله تعالی د انسان نېک اعمال قبلوي ، کارونه يې جوړوي ، ګناهونه يې معاف کوي ، نُورِ فراست ورکوي ، او د جهنم د اُور نه يې محفوظ کوي .
د الله تعالی په نزد مُعزّز خلق مُتقيان دي ، او د قيامت په ورځ به نبي عليه السلام ته ډير مُقرّب خلق هم مُتقيان وي .
لهذا انسان ته په کار دي چې په ځان کې تقوی پيدا کړي ، بيا خاصکر د تقوی پيدا کولو د پاره د صادقينو ( رېښتيني خلقو ) ملګرتيا اوکړي .

Scanned with CamScanner

## دُعا

الله تعالی دې په مونږ کې هم تقوی او پرهیزګاري پیدا کړي .

ربِّ کائنات دې مونږ ټول د هر قِسمه ګناهونو ،حرام خوراک او مُشتبِه شیانو نه اُوساتي.

پروردګارِ عالم دې مونږ ټولو ته په پوره دِین باندې د عمل کولو او د نبي علیه السلام په نقشِ قدم باندې د تللو توفیق رانصیبه کړي .

آمِیْن یَارَبَّ العَالَمِیْن

وَآخِرُ دَعْوَانَا أَنِ الحَمْدُ لِلّٰهِ رَبِّ العَالَمِیْنَ

Scanned with CamScanner

بِسۡمِ اللّٰہِ الرَّحۡمٰنِ الرَّحِیۡمِ

﴿ یٰۤاَیُّهَا الَّذِیۡنَ اٰمَنُوا اتَّقُوا اللّٰهَ حَقَّ تُقٰتِهٖ وَلَا تَمُوۡتُنَّ اِلَّا وَاَنۡتُمۡ مُّسۡلِمُوۡنَ ﴾

آل عمران آیة ۱۰۲ .

# د نبي علیه السلام ، صحابه کرامو او نورو بزرګانو د تقوٰی واقعات

تالیف

اَبُوالشَّمس مولانا نُورُالهُدٰی عُفِيَ عَنهُ

مُدَرِّس دَارُالعلوم فیضُ القُرآن اکاخیل کالونی مردان

Scanned with CamScanner

بِسْمِ اللّٰهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيْمِ

# د نبي علیه السلام ، صحابه کرامو او نورو بزرګانو د تقوی واقعات

اَلْحَمْدُ لِلّٰهِ وَحْدَهٗ ، وَالصَّلَاةُ وَالسَّلَامُ عَلٰى مَنْ لَّا نَبِيَّ بَعْدَهٗ ، وَلَا رَسُوْلَ بَعْدَهٗ ، وَهُوَ خَاتَمُ النَّبِيِّيْنَ ، وَعَلٰى آلِهٖ وَأَصْحَابِهٖ أَجْمَعِيْنَ ، وَعَلٰى مَنْ تَبِعَهٗ وَتَبِعَهُمْ بِإِحْسَانٍ إِلٰى يَوْمِ الدِّيْنِ

أَمَّا بَعْدُ فَأَعُوْذُ بِاللّٰهِ مِنَ الشَّيْطٰنِ الرَّجِيْمِ بِسْمِ اللّٰهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيْمِ قَالَ اللّٰهُ تَبَارَكَ وَتَعَالٰى فِي الْقُرْآنِ الْمَجِيْدِ وَالْفُرْقَانِ الْحَمِيْدِ :

﴿ يٰٓاَيُّهَا الَّذِيْنَ اٰمَنُوا اتَّقُوا اللّٰهَ حَقَّ تُقٰتِهٖ وَلَا تَمُوْتُنَّ اِلَّا وَاَنْتُمْ مُّسْلِمُوْنَ ﴾ . (۱)

وَقَالَ رَسُوْلُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ : إِنَّ أَوْلَى النَّاسِ بِي الْمُتَّقُوْنَ مَنْ كَانُوْا وَحَيْثُ كَانُوْا . (۲)

صَدَقَ اللّٰهُ الْعَظِيْمُ .

## تمهیدي خبره

زما خوږو قدرمنو او عزت مندو مسلمانانو ورونو ! تېره جُمعه مې درته د تقوی اَهمیت ، د تقوی فضائل او فوائد ذکر کړي وو :

((( چې په قرآن کریم کې ځای په ځای الله تعالی مسلمانانو ته د تقوی حکم کړی ، بلکه مخکیني ټولو پیغمبرانو ته هم د تقوی حکم شوی ؤ ، بیا هر پیغمبر خپل قوم ته د تقوی حکم

---

(۱) آل عمران آیة ۱۰۲ .

(۲) عَنْ مُعَاذِ بْنِ جَبَلٍ رضي الله عنه قَالَ: لَمَّا بَعَثَهُ رَسُوْلُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ إِلَى الْيَمَنِ خَرَجَ مَعَهُ رَسُوْلُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يُوْصِيْهِ وَمُعَاذٌ رَاكِبٌ وَرَسُوْلُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَمْشِيْ تَحْتَ رَاحِلَتِهٖ. فَلَمَّا فَرَغَ قَالَ : « يَا مُعَاذُ ! إِنَّكَ عَسَى أَنْ لَا تَلْقَانِيْ بَعْدَ عَامِيْ هٰذَا وَلَعَلَّكَ أَنْ تَمُرَّ بِمَسْجِدِيْ هٰذَا ، وَقَبْرِيْ » . فَبَكَى مُعَاذٌ جَشَعًا لِفِرَاقِ رَسُوْلِ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ . ثُمَّ الْتَفَتَ فَأَقْبَلَ بِوَجْهِهٖ نَحْوَ الْمَدِيْنَةِ فَقَالَ : « إِنَّ أَوْلَى النَّاسِ بِي الْمُتَّقُوْنَ مَنْ كَانُوْا وَحَيْثُ كَانُوْا » . مسند احمد مخرجا رقم الحديث ۲۲۰۵۲ تحت مسند الأنصار حديث مُعَاذِ بْنِ جَبَلٍ ، مشكاة المصابيح كتاب الرقاق الفصل الثالث رقم الحديث ۵۲۲۷(۷۳) ، صحيح ابن حبان مخرجا رقم الحديث ۶۴۷ ، مجمع الزوائد كِتَابُ عَلَامَاتِ النُّبُوَّةِ بَابٌ فِيْ مَرَضِهٖ وَوَفَاتِهٖ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ رقم الحديث ۱۴۲۳۸ .

Scanned with CamScanner

کړې وُ ، خاصکر نبي علیه السلام خو په ډیر اِهتمام سره خپل اُمت ته د تقوی حکم کړی .
د تقوی په وجه الله تعالی مسلمانانو ته جنت ورکوي ، د جهنم نه ورته نجات ورکوي ،
په دُنیا کې ورسره مدد او محبت کوي ، د هر مشکل نه ورته د وتلو لار آسانوي ، رزق ورته
فراخه کوي ، نیک اعمال یې قبلوي ، گناهونه یې معاف کوي ، نُورِ فراست ورکوي .
متّقیان د الله تعالی په نزد ډیر مُعزز دي ، او د قیامت په ورځ به نبي علیه السلام ته هم
ډیر مُقرّب وي ...... تېره جُمعه مې درته دا هره خبره په تفصیل سره بیان کړې وه ))) .

نن به اِنْ شَاءَ الله درته د نبي علیه السلام ، صحابه کرامو ، او نورو بزرگانو د تقوی
متعلق واقعات بیانوم ، ددې د پاره چې مونږ ته هم د دوی په نقشِ قدم باندې د تللو توفیق
رانصیب شي ، ځکه د واقعاتو په ذریعې سره یو مضمون په ښه طریقې سره په ذهن کې
کیني ، او په زړه باندې ډیر زر آثر کوي :

# د نبي علیه السلام تقوی

اول درته د نبي علیه السلام د تقوی متعلق واقعات ذکر کوم :

## د ټولو نه زیاته تقوی په نبي علیه السلام کې وه

۱. د ټولو نه زیاته تقوی په نبي علیه السلام کې وه ، په بخاري شریف کې اوږده واقعه
ده ، د هغې په آخر کې ذکر دي چې رسول الله ﷺ څه صحابه کرامو ته او فرمایل :
أَمَا وَاللهِ إِنِّي لَأَخْشَاكُمْ لِلّٰهِ وَأَتْقَاكُمْ لَهُ . (۱)

(۱) پوره حدیث داسې دی : عَنْ أَنَسِ بْنِ مَالِكٍ رَضِيَ اللهُ عَنْهُ، يَقُولُ: جَاءَ ثَلَاثَةُ رَهْطٍ إِلَى بُيُوتِ أَزْوَاجِ النَّبِيِّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَسْأَلُونَ عَنْ عِبَادَةِ النَّبِيِّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ، فَلَمَّا أُخْبِرُوا كَأَنَّهُمْ تَقَالُّوهَا، فَقَالُوا : وَأَيْنَ نَحْنُ مِنَ النَّبِيِّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ ؟ قَدْ غُفِرَ لَهُ مَا تَقَدَّمَ مِنْ ذَنْبِهِ وَمَا تَأَخَّرَ. قَالَ أَحَدُهُمْ : أَمَّا أَنَا فَإِنِّي أُصَلِّي اللَّيْلَ أَبَدًا . وَقَالَ آخَرُ : أَنَا أَصُومُ الدَّهْرَ وَلَا أُفْطِرُ، وَقَالَ آخَرُ: أَنَا أَعْتَزِلُ النِّسَاءَ فَلَا أَتَزَوَّجُ أَبَدًا. فَجَاءَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ إِلَيْهِمْ، فَقَالَ: « أَنْتُمُ الَّذِينَ قُلْتُمْ كَذَا وَكَذَا، أَمَا وَاللهِ إِنِّي لَأَخْشَاكُمْ لِلّٰهِ وَأَتْقَاكُمْ لَهُ، لَكِنِّي أَصُومُ وَأُفْطِرُ، وَأُصَلِّي وَأَرْقُدُ، وَأَتَزَوَّجُ النِّسَاءَ، فَمَنْ رَغِبَ عَنْ سُنَّتِي فَلَيْسَ مِنِّي » . صحیح البخاري كِتَابُ النِّكَاحِ بَابُ التَّرْغِيبِ فِي النِّكَاحِ رقم الحديث ٥٠٦٣ .

خبر دار ، قسَم په الله ، زه د تاسو نه زیات د الله تعالی نه ویریږم ، او د تاسو نه زیاته تقوی اختیاروم .

همدغه شان خبره نبي علیه السلام حضرت عُمر بن ابي سَلَمَة ﷺ ته هم کړې وه چې :

أَمَا وَاللهِ ، إِنِّي لَأَتْقَاكُمْ لِلهِ ، وَأَخْشَاكُمْ لَهُ . (۱)

خبر دار ، قسَم په الله ، زه د تاسو نه زیاته تقوی اختیاروم او د تاسو نه زیات د الله تعالی نه ویریږم .

۲ . د بخاري شریف حدیث دی ، حضرت ابوهریرة رضي الله عنه فرمایي چې یو ځل حضرت حسن بن علي ﷺ د صدقې (یعنی د زکوة) یوه قجوره راواخیسته ، او په خُله کې یې واچوله ، نبي کریم صلی الله علیه وسلم ورته او فرمایل :

كِخْ كِخْ . اُوغورځوه ، اُوغورځوه .

دا یې ورته ددې دپاره ووېل : چې دا قجوره د خُلې نه اُوغورځوي .

بیا یې ورته او فرمایل :

أَمَا شَعَرْتَ أَنَّا لَا نَأْكُلُ الصَّدَقَةَ ؟

آیا تاته پَته نشته چې مونږ زکوة نه خورو ؟ (۲)

---

(۱) پوره حدیث داسې دی : عَنْ عُمَرَ بْنِ أَبِي سَلَمَةَ ﷺ ، أَنَّهُ سَأَلَ رَسُولَ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ : أَيُقَبِّلُ الصَّائِمُ ؟ فَقَالَ لَهُ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ : « سَلْ هَذِهِ » لِأُمِّ سَلَمَةَ فَأَخْبَرَتْهُ ، أَنَّ رَسُولَ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَصْنَعُ ذَلِكَ ، فَقَالَ : يَا رَسُولَ اللهِ ! قَدْ غَفَرَ اللهُ لَكَ مَا تَقَدَّمَ مِنْ ذَنْبِكَ وَمَا تَأَخَّرَ . فَقَالَ لَهُ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ : « أَمَا وَاللهِ ، إِنِّي لَأَتْقَاكُمْ لِلهِ ، وَأَخْشَاكُمْ لَهُ » . صحیح مسلم كِتَابُ الصِّيَامِ بَابُ بَيَانِ أَنَّ الْقُبْلَةَ فِي الصَّوْمِ لَيْسَتْ مُحَرَّمَةً عَلَى مَنْ لَمْ تُحَرِّكْ شَهْوَتَهُ رقم الحدیث ۷۴(۱۱۰۸) .

(۲) عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ رَضِيَ اللهُ عَنْهُ ، قَالَ : أَخَذَ الْحَسَنُ بْنُ عَلِيٍّ رَضِيَ اللهُ عَنْهُمَا تَمْرَةً مِنْ تَمْرِ الصَّدَقَةِ ، فَجَعَلَهَا فِي فِيهِ ، فَقَالَ النَّبِيُّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ : « كِخْ كِخْ » لِيَطْرَحَهَا ، ثُمَّ قَالَ : « أَمَا شَعَرْتَ أَنَّا لَا نَأْكُلُ الصَّدَقَةَ » . صحیح البخاري كِتَابُ الزَّكَاةِ بَابُ مَا يُذْكَرُ فِي الصَّدَقَةِ لِلنَّبِيِّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وَآلِهِ رقم الحدیث ۱۴۹۱ . صحیح مسلم ج۲ ص ۷۵۱ رقم ۱۶۱ (۱۰۶۹) باب تحریم الزکوة علی رسول الله صلی الله علیه وسلم ، ← ← ← ← ← ← ← ←

Scanned with CamScanner

۴. يو ځل رسول الله صلى الله عليه وسلم تـوله شپه ويخ ؤ، اوړيدو راوړيدو، يوې بي بي چې دا حالت اوليد نو پوښتنه يې ورنه اوکړه:

اې د الله رسوله! نن ولې خوب نه درځي؟ نبي عليه السلام ورته وفرمايل: يوه قجوره پرته وه، ما ويل چې ضائع نه شي نو ځکه مې راپورته کړه او اومې خوړه، اوس راسره دا يَره ده چې هسې نه دا د صدقې (يعنى زكوة) قجوره وي. (۱)

## د صحابه كرامو تقوىٰ او احتياط

په صحابه كرامو كې ډيره زياته تقوى او احتياط ؤ، د هر قِسمه ګناهونو او حرامو نه به يې ځان ساتل.

د بخاري شريف حديث دى، حضرت انس ﷜ فرمايي:

إِنَّكُمْ لَتَعْمَلُونَ أَعْمَالًا هِيَ أَدَقُّ فِي أَعْيُنِكُمْ مِنَ الشَّعَرِ إِنْ كُنَّا لَنَعُدُّهَا عَلَى عَهْدِ النَّبِيِّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ مِنَ الْمُوبِقَاتِ. (۲)

(اې خلقو!) بيشكه تاسو داسې كارونه كوئ چې دا ستاسو په نظر كې د ويښته نه هم زيات باريک دي (يعنى تاسو يې معمولي ګڼرئ) حالانكه مونږ به دا كارونه د رسولُ الله صلى الله عليه وسلم په زمانه كې هلاكوونكي كارونه ګڼړل.

---

←←← وفي رواية: ... فَقَالَ النَّبِيُّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ بِالفَارِسِيَّةِ: «كِخْ كِخْ، أَمَا تَعْرِفُ أَنَّا لَا نَأْكُلُ الصَّدَقَةَ؟» صحيح البخاري كِتَابُ الجِهَادِ وَالسِّيَرِ بَابُ مَنْ تَكَلَّمَ بِالفَارِسِيَّةِ وَالرَّطَانَةِ ج۴ ص ۷۴ رقم ۳۰۷۲.

بِالفَارِسِيَّةِ: أي هي كلمة فارسية في الأصل ولكنها عربت باستعمال العرب لها. تعليق مصطفى البغا على البخاري في تشريح حديث ۳۰۷۲.

كِخْ: كلمة تقال عند زجر الصبي عن تناول شيء ما. تعليق مصطفى البغا على البخاري في تشريح حديث ۱۴۹۱

نوټ: كِخْ كِخْ: دا په فتحې د كاف (كَخْ كَخْ)، او په كسرې د قاف (كِخْ كِخْ) دواړه صحيح دى. القاموس الوحيد ص ۱۳۹۱.

(۱) حكايات صحابه، كسب حلال و ادائے حقوق ص ۳۲.

(۲) صحيح البخاري كِتَابُ الرِّقَاقِ بَابُ مَا يُتَّقَى مِنْ مُحَقَّرَاتِ الذُّنُوبِ رقم الحديث ۶۴۹۲.

Scanned with CamScanner

یعنی نن صبا چې دا خلق کوم کارونه کوي او معمولي ګناه يې ګڼړي دا به مونږ د نبي عليه الصلاة والسلام په زمانه کې د آخرت د پاره هلاکوونکي کارونه ګڼړل.

صحابه کرام رضي الله عنهم باوجود ددينه چې ګناهونه يې هم نه کول خو بيا به هم د الله ﷻ د وړاندې د پيش کيدو او حساب و کتاب نه ډير يريدل ، او تقوی په کې ډيره زياته وه ، او مونږ باوجود ددينه چې په ډيرو ګناهونو کې آخته يو خو بيا مو هم په زړه کې د الله ﷻ نه هيڅ يره نشته ، شپه او ورځ په حرامو او ناجائزو کې اخته يو .

## د حضرت ابوبکر صديق رضي الله عنه تقوی

په حضرت ابوبکر صديق رضي الله عنه کې ډيره تقوی وه ، هيمشه يې دا احتياط کولو چې خيټې ته مې حرام يا مُشتَبِه خوراک لاړ نه شي.

۱ . په بخاري شريف کې يوه واقعه ذکر ده ، حضرت عائشه رضي الله عنها فرمايي چې د حضرت ابوبکر صديق رضي الله عنه يو غلام ؤ چې د خپلې (مَزدورۍ او) ګټې نه به يې يوه معلومه حِصه حضرت ابوبکر صديق رضي الله عنه ته ورکوله. حضرت ابوبکر صديق رضي الله عنه به دده د ګټې نه خوراک کولو .(۱)

يوه ورځ دې غلام د خوراک څه څيز راوړو ، حضرت ابوبکر صديق رضي الله عنه د هغې نه خوراک اوکړو ، (د خوراک نه پس) غلام ورته ووېل :

أَتَدْرِيْ مَا هٰذَا ؟ آيا ته پوهيږې چې دا څه شی دی ؟

ابوبکر صديق رضي الله عنه ورته وفرمايل :

وَمَا هُوَ ؟ (ته ووايه) دا څه شی دی ؟ (ځکه ماته خو ددې په باره کې معلومات نشته)

غلام ورته ووېل :

(۱) په عربو کې دا عادت ؤ چې خپل غلام ته به يې د مَزدورۍ او تجارت اِجازت ورکړو ، غلام به چې څه او ګټل د هغې نه به يې دې مالک ته يوه مُعَيَّنه حصه ورکوله ، همدغه شان د حضرت ابوبکر صديق رضي الله عنه غلام به هم د ده ته يوه مُعَيَّنه حصه ورکوله.

Scanned with CamScanner

تَكَهَّنْتُ لِإِنْسَانٍ فِي الْجَاهِلِيَّةِ ، وَمَا أُحْسِنُ الْكَهَانَةَ إِلَّا أَنِّي خَدَعْتُهُ . فَلَقِيَنِي فَأَعْطَانِي بِذٰلِكَ ، فَهٰذَا الَّذِي أَكَلْتَ مِنْهُ .

ما به د جاهلیت په وخت کې ( یعنی د خپل کُفر په حالت کې ) یو کس ته د کهانت ( یعنی د غیب ) خبرې خودی ، حالانکه زه د کهانت په دې فن باندې ښه نه پوهیدم ، خو ما به هغه ته دهوکه ورکوله ( او د ځان نه به مې ورته د غیبو خبرې کولې ) ، لِتفاقًا نن د هغه سړي د ما سره ملاقات اوشو هغه ماته د خوراک دا څیز راکړو ، دا هغه شی دی چې تاسو اُوخوړو .

حضرت عائشه رضي الله عنها فرمايي :

فَأَدْخَلَ أَبُو بَكْرٍ يَدَهُ فَقَاءَ كُلَّ شَيْءٍ فِي بَطْنِهِ .

( دې اَوریدو سره ) حضرت ابوبکر صدیق ﷺ خپل لاس په حَلق کې دننه کړو په خیټه کې یې چې څه وو هغه ټول یې را اُلتی کړل . (۱)

په یو روایت کې نقل دي ، راوي وايي چې حضرت ابوبکر صدیق ﷺ دومره اُلتی اوکړې چې د ما سره دا یَره شوه چې هسې نه ساه یې اُو نه خیجي ، بیا یې اُوفرمایل :

اَللّٰهُمَّ إِنِّي أَعْتَذِرُ إِلَيْكَ مِمَّا حَمَلَتِ الْعُرُوْقُ وَخَالَطَ الْأَمْعَاءَ .

اې الله ! زه تاته عُذر پیش کوم ( او د تانه معافي غواړم ) د هغه خوراک په باره کې کوم چې زما په رګونو کې پاتې دی ، او د کولمو سره یو ځای شوې دي ( ځکه د دې راویستل زما په اِختیار کې نه نشته ) . (۲)

امامِ ذهبي رحمه الله په الکبائر کې د دې روایت په آخِر کې څه نوره اِضافه هم کړې چې

---

(۱) عَنْ عَائِشَةَ رَضِيَ اللهُ عَنْهَا قَالَتْ : كَانَ لِأَبِي بَكْرٍ غُلَامٌ يُخْرِجُ لَهُ الْخَرَاجَ ، وَكَانَ أَبُو بَكْرٍ يَأْكُلُ مِنْ خَرَاجِهِ . فَجَاءَ يَوْمًا بِشَيْءٍ فَأَكَلَ مِنْهُ أَبُو بَكْرٍ ، فَقَالَ لَهُ الْغُلَامُ : أَتَدْرِي مَا هٰذَا ؟ فَقَالَ أَبُو بَكْرٍ : وَمَا هُوَ ؟ قَالَ : كُنْتُ تَكَهَّنْتُ لِإِنْسَانٍ فِي الْجَاهِلِيَّةِ ، وَمَا أُحْسِنُ الْكَهَانَةَ إِلَّا أَنِّي خَدَعْتُهُ ، فَلَقِيَنِي فَأَعْطَانِي بِذٰلِكَ ، فَهٰذَا الَّذِي أَكَلْتَ مِنْهُ . فَأَدْخَلَ أَبُو بَكْرٍ يَدَهُ فَقَاءَ كُلَّ شَيْءٍ فِي بَطْنِهِ . صحيح البخاري باب ايام الجاهلية رقم الحديث ۳۸۴۲ ، مشكاة المصابيح باب الكسب وطلب الحلال الفصل الثالث رقم الحديث ۲۷۸۶ .

(۲) احياء علوم الدين ۲/ ۹۰ كتاب الحلال والحرام .

کله حضرت ابوبکر صدیق رضي الله عنه د غلام دا خوراک یوه نوړۍ اُوخوړ، او بیا روستو ورته پته اُولګیده نو په خُله کې یې ګُتې ورکړې چې واپس یې را اُلټی کړي، دا نه راوَته (ځکه په دغه ورځ د حضرت ابوبکر صدیق ﷺ روژه وه، نو په ماښام کې یې دا خوراک کړې وُ)، چا ورته وویل: ددې پسې اُوبه اُوڅکه نو بیا به را اُووځي، نو ده به اُوبه څکلی او اُلټی به یې کولی، تر دې پورې چې ټول خوراک یې واپس رااُلټی (قې) کړو، چا ورته وویل: الله ﷻ دې په تا رَحم اوکړي صرف ددې یوې نوړۍ د پاره تا دومره تکلیف برداشت کړو؟ ده ورته وویل:

لَوْ لَمْ تَخْرُجْ إِلَّا مَعَ نَفْسِيْ لَأَخْرَجْتُهَا إِنِّيْ سَمِعْتُ رَسُوْلَ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَقُوْلُ: كُلُّ جَسَدٍ نَبَتَ مِنْ سُحْتٍ فَالنَّارُ أَوْلَى بِهِ. فَخَشِيْتُ أَنْ يَنْبُتَ بِذٰلِكَ فِيْ جَسَدِيْ مِنْ هٰذِهِ اللُّقْمَةِ.

که دا نوړۍ زما د ساه وتلو سره راوتی نو هم ما به راویستې وه، ځکه ما د رسول الله صلی الله علیه وسلم نه آوریدلي دي چې فرمایل یې:

"کوم بَدن (غوښه) چې په حرام مال سره پیدا شوې وي نو ددې د پاره د جهنم اُور دیر مناسب دی"

نو زه اُویریدم چې هسې نه په دې نوړۍ سره زما په وجود کې غوښه پیدا شي (نو بیا به زما بدن هم د جهنم مُستحق شي). (۱)

---

(۱) عَنْ زَيْدِ بْنِ أَرْقَمَ قَالَ كَانَ لِأَبِيْ بكر غُلَامٌ يخرج لَهُ الخراج. أي قد كاتبه على مَال وَكَانَ يَجِيئُهُ كُلَّ يَوْم بخراجه. فيسأله: مِنْ أَيْنَ أَتيتَ بِهَا؟ فَإِنْ رضيه أكله وَإِلَّا تركه. قَالَ: فَجَاءَهُ ذَاتَ لَيْلَةٍ بِطَعَام وَكَانَ أَبُو بكر صَائِما فَأكل مِنْهُ لُقْمَة ونسي أَنْ يسأله. ثُمَّ قَالَ لَهُ: مِنْ أَيْنَ جِئْتَ بِهَذَا؟ فَقَالَ: كنتُ تكهنتُ لِأُنَاسٍ بالجاهلية وَمَا كنتُ أحسن الكهانة إِلَّا أَنِّي خدعتهم. فَقَالَ أَبُو بكر: أُفٍّ لَكَ كِدْتَ تهلكني. ثُمَّ أَدْخَلَ يَدَهُ فِي فِيهِ فَجعل يتقيأ وَلَا يخرج. فَقيل لَهُ: إِنَّهَا لَا تخرج إِلَّا بِالْمَاءِ. فَدَعَا بِمَاء فَجعل يشرب ويتقيأ حَتَّى قاء كل شَيْءٍ فِي بَطْنه. فَقيل لَهُ: يَرْحَمك الله كل هَذَا من أجل هَذِهِ اللُّقْمَة؟ فَقَالَ رَضِيَ الله عَنهُ: لَوْ لَمْ تخرج إِلَّا مَعَ نَفْسِيْ لَأَخْرَجْتُهَا إِنِّيْ سَمِعْتُ رَسُوْلَ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَقُوْلُ: كُلُّ جَسَدٍ نَبَتَ مِنْ سُحْتٍ فَالنَّارُ أَوْلَى بِهِ. فَخَشِيتُ أَنْ يَنْبُتَ بِذَٰلِكَ فِيْ جَسَدِيْ مِنْ هَذِهِ اللُّقْمَة. الكبائر للامام الذهبي ۱۱۸/۱ الكَبِيرَة الثَّامِنَة وَالْعشْرُونَ أكل الْحَرَام وتناوله على أَي وَجه كَانَ.

۲ . حضرت ابوبکر صدیق ﷺ په خپله مالدار وُ ، ځکه په مکه مکرمه کې یې هم تجارت کولو ، او په مدینه منوّره کې یې هم تجارت کولو ، د نبي علیه السلام د وفات نه پس چې کله د مسلمانانو خلیفه جوړ کړې شو نو په صبا سهَر بازار ته د تجارت د پاره روان شو ، په لاره کې ورسره حضرت عُمر ﷺ او حضرت ابوعبیده بن الجراح ﷺ ملاؤ شو ، دوی ورته وویل : که ته تجارت کوی نو د مسلمانانو د حکومت لویه ذِمه داري پاتې کیږي

بیا د صحابه کرامو په مشوره د حضرت ابوبکر صدیق ﷺ د پاره د بیتُ المال نه وظیفه مقرر شوه .

محترمو مسلمانانو ! اوس تاسو د حضرت ابوبکر صدیق ﷺ دې تقوی او پرهیزګارۍ ته اُوګورئ چې باوجود ددې نه چې دې امیرُالمؤمنین دی ، د ټولو اسلامي مملکتونو اِختیار ورسره دی ، مګر د بیتُ المال نه به یې صرف دومره وظیفه اخیسته چې هغه به قُوّت لَایَمُوْت وه (یعنی دومره کمه وظیفه به یې اخیسته چې صرف د دوی د ګزارې خوراک د پاره به کافي وه ) .

یو ځل د دوی بیٰ بي د حَلوا خوړلو خواهش ظاهر کړو ( چې حَلوا ته زمونږ زړه شوی دی ) ، حضرت ابوبکر صدیق ﷺ ورته اوفرمایل : زه خو د مسلمانانو د خِدمت په وجه د بیتُ المال نه دا معمولي شان وظیفه آخلم ، ددې نه زیات خو د ما سره ( د دِرهم یا دِینارو ) هیڅ ګنجائش نشته ( چې تاسو ته یې درکړم او حَلوا پرې پخه کړی ) .

ددې نه پس دده بي بي د هرې ورځې د خرچې نه معمولي معمولي بَچت کولو ، څه ډیره موده پس یې حَلوا پخه کړه ، حضرت ابوبکر صدیق ﷺ چې کور ته راغی نو ده ته یې کیښوده ، ابوبکر صدیق ﷺ چې دا نوې خوراک په کور کې اُولید نو پوښتنه یې اوکړه :

دا حَلوا چا راوړی ؟ بي بي ورته وویل چې دا مې د هرې ورځې د خَرچې نه معمولي معمولي رَقم مثلاً یوه یوه پیسه بچت کوله ، په هغې مې دا حَلوا واخیسته ، او پَخه مې کړه .

حضرت ابوبکر صدیق ﷺ ورته وفرمایل : ددې نه دا معلومه شوه چې که زمونږ په روزانه خرچه کې دا یوه پیسه کمه وي نو هم زمونږ ګزاره وربانديې کیږي .

بیا یې حَلوا رواخیسته او بیتُ المال ته یې اُولیږله ، او د آئنده د پاره چې د بیتُ المال نه روزانه کومه خرچه راتله د هغې نه یې یو ه پیسه کټ کړه . (۱)

**فائده :** دا د حضرت ابوبکر صدیق ﷺ تقوی او کمالِ احتیاط وُ چې په کوم مال کې د عامو مسلمانانو حق وُ (یعنی بیتُ المال کې) د هغې نه یې یو ه پیسه زیاته اخیستل هم نه خوښول.

## د حضرت عُمر ﷺ تقوٰی

په حضرت عُمر ﷺ کې هم په کاملې طریقې سره تقوی او د الله ﷻ نه یره موجود وه ، ساده ژوند به یې تیرول او د هرِ قسمه گناهونو او حرام خوراک نه به یې ځان ساتل .

**۱** . چې کله امیرُ المؤمنین وُ نو هم په کپړو کې یې پیوَندونه وو :

حضرت انس ﷺ فرمایي :

رَأَيْتُ عُمَرَ بْنَ الْخَطَّابِ رَضِيَ اللهُ عَنْهُ وَهُوَ يَوْمَئِذٍ أَمِيْرُ الْمُؤْمِنِيْنَ، وَقَدْ رَقَّعَ بَيْنَ كَتِفَيْهِ بِرِقَاعٍ ثَلَاثٍ، لَبَّدَ بَعْضَهَا فَوْقَ بَعْضٍ . (۲)

ما حضرت عُمر ﷺ اُولید چې امیرُ المؤمنین وُ ، د دوه اُولو (اُوګو) په مینځ کې یې درې پیوَندونه وو چې د یو بل د پاسه یې لږولي وو.

بلکه چې کله به یې خُطبه ویله نو د خُطبې په وخت چې به یې کوم څادر آچولې وُ په هغې کې هم دولس (۱۲) پیوَندونه لږیدلي وو . (۳)

---

(۱) دعوات حق لمولانا عبدالحق رحمه الله باني دارالعلوم حقانیه اکوړه خټک ج۱ ص۴۵۳ .

(۲) شرح السنّة للبغوي كِتَابُ اللِّبَاسِ بَابُ تَرْقِيْعِ الثَّوْبِ وَالْبَذَاذَةِ وَالاحْتِرَازِ عَنِ الشُّهْرَةِ ج ۱۲ ص ۴۵ ، موطا مالک ج۲ ص ۹۱۸ رقم الحديث ۱۹ باب ماجاء في لبس الثياب ، الزهد لابي داؤد ج۱ ص ۷۴ رقم ۵۶ ، صحيح الترغيب والترهيب للمنذري رقم الحديث ۳۲۹۹(۸۷) ، كنزالعمال رقم الحديث ۳۵۹۲۷ .

(۳) عَنِ الْحَسَنِ، قَالَ: خَطَبَ عُمَرُ ﷺ وَهُوَ خَلِيْفَةٌ، وَعَلَيْهِ إِزَارٌ فِيْهِ اثْنَتَا عَشْرَةَ رُقْعَةً. شرح السنّة للبغوي كِتَابُ اللِّبَاسِ بَابُ تَرْقِيْعِ الثَّوْبِ وَالْبَذَاذَةِ وَالاحْتِرَازِ عَنِ الشُّهْرَةِ ج ۱۲ ص ۴۵ ، كنزالعمال رقم الحديث ۳۵۹۴۲ ، احياء علوم الدين ج۴ ص۲۳۳ .

Scanned with CamScanner

۲ . د مشکوة شريف حديث دی ، چې يو ځل حضرت عُمر رضي الله عنه شوده ( پَی ) اُوڅکل ، دا شوده ورته ډير ښه معلوم شو ، نو چا چې پرې دا شُوده څکلي وو د هغه نه يې پوښتنه اوکړه :

مِنْ أَيْنَ لَكَ هٰذَا اللَّبَنُ ؟ دا شوَده تا ته د کوم ځای نه حاصل شوي وو ؟

هغه ورته وويل : زه د اُوبو يوې چينې يا کوهي ته ورغلې وُوم ، ( دې کس د هغه چينې يا کوهي نوم هم واخيست ) ، هلته د زکوة څاروي ( چيلي ، اُوښان وغيره ) وو ، د هغه څاروو نِګران شوده رااُولوشل ، او په خلقو يې اُوڅکل ، نو هغوی زما د پاره هم شوده رااُولوشل ، ما هغه په دې مشک کې واچول ، هغه همدا شوده دي ( کوم چې تا اُوڅکل )

فَأَدْخَلَ عُمَرُ يَدَهُ فَاسْتَقَاءَهُ .

حضرت عُمر ﷺ ( چې دا خبره واوريده نو دوی ) خپل لاس په حَلق کې دننه کړو ، او دا شوده يې واپس رااُلتی ( قې ) کړل . (۱)

**فائده** : دا شوده چونکه د زکوة د مال وو او د زکوة مال حضرت عمر ﷺ ته جائز نهٔ وُ نو ځکه يې واپس دا شوده رااُلتی کړل . دا د حضرت عمر ﷺ تقوی او کمالِ احتياط وُ ، دا يې نه غوښتل چې دا شوده دې د بَدن حصه اُوګرځي .

بيا خاصکر حضرت عمر ﷺ به د بيتُ المال په څيز کې ډير احتياط کولو :

۳ . يو ځل حضرت عُمر ﷺ بيمار شو ، دوی د علاج د پاره شَهد تجويز کړې شو ، په هاغه وخت کې په بيتُ المال کې د شَهدو يو ګوډې موجود وُ ( دې چونکه اميرُ المؤمنين وُ ، ټول اِختيارات د دوی سره وو ، ليکن دوی په خپله ورته دا شهد راوانه خيست ، بلکه ) جُمات ته

(۱) شَرِبَ عُمَرُ بْنُ الْخَطَّابِ لَبَنًا وَأَعْجَبَهُ وَقَالَ لِلَّذِي سَقَاهُ : مِنْ أَيْنَ لَكَ هٰذَا اللَّبَنُ ؟ فَأَخْبَرَهُ أَنَّهُ وَرَدَ عَلَى مَاءٍ قَدْ سَمَّاهُ فَإِذَا نَعَمٌ مِنْ نَعَمِ الصَّدَقَةِ وَهُمْ يَسْقُوْنَ . فَحَلَبُوْا لِيْ مِنْ أَلْبَانِهَا فَجَعَلْتُهُ فِيْ سِقَائِيْ . وَهُوَ هٰذَا . فَأَدْخَلَ عُمَرُ يَدَهُ فَاسْتَقَاءَهُ . مشكاة المصابيح باب الكسب وطلب المال الفصل الثالث رقم الحديث ۲۷۸۸ ( ۳۰ ) ، موطاء امام مالک باب ما جاء في اخذ الصدقات والتشديد فيها رقم الحديث ۳۱ ، السنن الكبرى للبيهقي باب الخليفة و والي الاقليم الذي لا يلي قبض الصدقة ... رقم الحديث ۱۳۱۶۴ .

لاړو او خلقو ته یې ووېل :
ماته د علاج د پاره د شهدو ضرورت دی ، او په بیتُ المال کې شهد موجود دي ، نو که ستاسو اِجازت وي زه به د علاج د پاره ورنه څه راواخلم ، او که اِجازت نه راکوئ نو دا بیا زما د پاره حرام دي .
ټولو خلقو په خوشحالۍ سره اِجازت ورکړو (نو بیا یې ورنه راواخیست) . (۱)

٤ . یو ځل حضرت ابوموسی اشعري ﷺ په بیت المال کې د صفائي د پاره جارو اُووهله نو یو دِرهم یې په کې اُوموند ، دا یې د حضرت عُمر ﷺ وړوکي نمسي ته ورکړو .
حضرت عُمر ﷺ چې د خپل نمسي په لاس کې درهم اُولید نو پوښتنه یې ورنه اوکړه چې دا چا درکړو ؟ ماشوم د حضرت ابوموسی اشعري ﷺ نوم واخیست چې دا هغه راکړو .
په دې باندې حضرت عمر ﷺ ډیر خفه شو ، درهم یې واپس ابوموسی اشعري ﷺ ته ورأولیږل او ورته وې ویل :
اې ابوموسی ! آیا تاته زمونږ د کورنه علاوه زیات ذلیل بل کور ملاؤ نه شو چې د بیتُ المال درهم دې زما نمسي ته ورکړو ؟
(مقصد یې دا ؤ چې په بیت المال کې خو د ټولو مسلمانانو حصه ده نو څنګه دې زما نمسي له ورکړو ؟ ) .

٥ . یو ځل حضرت عُمر ﷺ له د بَحرین نه مشک راغلل ، ده اوفرمایل :
که یوه زَنانه دا وَزن (یعنی تول) کړي نو زه به یې په مسلمانانو باندې تقسیم کړم ، د حضرت عمر ﷺ بي بي "عاتکې" وفرمایل :
أَنَا أُجِيدُ الْوَزْنِ . زه ښه وزن کولې شم (زه به یې درله وَزن کړم) .
حضرت عُمر ﷺ چپ شو . څه لږ وخت پس حضرت عُمر ﷺ هماغه خبره بیا اوکړه ، ده بي بي عاتکې ورته بیا ووېل : چې زه به یې وَزن کړم .
حضرت عُمر ﷺ ورته اوفرمایل : زه دا نه خوښوم چې دا مشک ستا د لاس سره لږېدلي

(۱) حیاة الصحابة ج ۲ ص ۳۱۳ ، خوږې ملغلرې اوله حصه ص ۴۸ .

Scanned with CamScanner

وي، او ته يبا خپل ځښتن (يا بل ځاى) له لاس وَرورى، نو تاته به د مسلمانانو نه زياته حصه دَراُورسي، (او زه دا نه خوښوم چې د نورو مسلمانانو نه تاته زياته حصه دراُورسي). (۱)

٦ . يو ځل حضرت عمر ﷺ ته د رُوم بادشاه د طرفه قاصِد راغى، دحضرت عُمر ﷺ بي بي يو دِينار د چا نه په قرض واخيست، په دې يې عطر واخيستل، په شيشو كې يې واچول، او ددې قاصِد په لاس يې د رُوم د بادشاه ښځې ته په هديه كې وَر اُوليږل.
كله چې دې قاصِد دا دعطرو شيشې د رُوم بادشاه ښځې ته وركړې نو هغې دا شيشې د عطرو نه خالي كړى، د جواهراتو نه يې ډكې كړى، بيا يې دې قاصِد ته وركړې چې لاړشه، دا د حضرت عمر ﷺ بي بي ته وَر وړه.
كله چې دې قاصِد دا د جواهراتو ډكې شيشې دې ته راوړى، نو دې دا جواهرات دشيشو نه رااُوويستل، او د بسترې د پاسه يې كيښودل، په دې دَوران كې حضرت عمر ﷺ كورته راننوت، دا جواهرات يې اُوليدل، پوښتنه يې اوكړه: دا څه شى دى؟ (او چيرته وو؟)
دې ورته ټوله قِصه بيان كړه (چې دا ما د رُوم د بادشاه ښځې له په شيشو كې څه عطر ليږلي وو هغې په تحفه كې دا جواهرات راليږلي دي)، حضرت عمر ﷺ دا ټول جواهرات خرڅ كړل، او ددې د قيمت نه يې صرف يو دِينار خپلې بي بي له وركړو (په كوم چې يې عطر اخيستي وو) او باقي پاتې ټول دِينارېې د مسلمانانو په بيتُ المال كې جَمع كړل. (۲)

۷ . حضرت عبدالله بن عُمر رضي الله عنهما فرمايي چې يو ځل ما يو څو اُوښان واخيست، او د بيتُ المال په چراګاه كې مې پريخودل، چې كله ښه څاربه شو ما بازار ته د

(۱) امام غزالي رحمه الله په احياء العلوم كې دا واقعه په دې الفاظو نقل كړى: روي أنّ عمرَ رضي الله عنه وَصَلَهُ مِسكٌ مِنَ البحرين، فقال: وددتُ لو أنّ امرأةً وَزَنَتْ حتى أقسمه بين المسلمين. فقالت امرأته عاتكة: أنَا أُجِيْدُ الوَزْنِ. فَسَكَتَ عَنْهَا. ثُمّ أعادَ القولَ. فأعادَتِ الجوابَ. فقال: لَا أَحْبَبْتُ أَنْ تضعيه بكفة ثمّ تَقُوْلِيْنَ فِيها أثر الغبار فتمسحين بها عنقك فأصيب بذلك فضلًا على المسلمين. احياء علوم الدين ج ۲ ص ۱۳۱ كتاب الحلال والحرام ط مكتبه رشيديه كوئټه، حياة الصحابة ج ۲ ص ۳۱۵.

(۲) حياة الصحابة ج ۲ ص ۳۱٦، خوږي ملغلري اوله حصه ص ۴۹.

خرڅ د پاره بوتلل ، حضرت عمر ﷺ هم په دغه ورځ په بازار کې وُ ، دوى چې دا څاربه اُوښان په بازار کې اُوليدل نو پوښتنه يې اوکړه :

دا اُوښان د چا دي؟ خلقو ورته ووېل چې دا ( ستا د ځوي ) د عبدالله ﷺ دي.

عبدالله بن عمر ﷺ فرمايي چې حضرت عمر ﷺ ماته آواز اوکړو :

اې عبدالله ! نو زه په منډه راغلم ، او ورته مې ووېل :

اې اميرالمؤمنين ! څه خبره ده؟ دوى ووېل : دا اُوښان چيرته وو؟ ما ورته ووېل : ما دا اُوښان اخيستي وو ، او د بيتُ المال چراګاه ته مې د څريدو د پاره ليږلي وو ( او اوس مې بازار ته راوستي دي ) د دې د پاره چې زه هم د نورو مسلمانانو په شان دا خرڅ کړم ، او نفع حاصله کړم.

حضرت عمر ﷺ وفرمايل : ښه ، د بيتُ المال په چراګاه کې به خلق يو بل ته وايي : د اميرُالمؤمنين د ځوي اُوښان ښه اُوساتئ ، د اميرُالمؤمنين د ځوي اُوښانو له اُوبه ورکړئ ( زما د ځوي کيدو په وجه به ستا د اُوښانو لحاظ د نورو مسلمانانو په نسبت زيات کيږي ، د دې د وجې نه ) اې ابن عمر ! دا اُوښان خرڅ کړه ، په څو باندې چې تا دا اخيستي وو هغه روپۍ ورنه واخله ، او باقي زياتي روپۍ د مسلمانانو په بيتُ المال کې جَمع کړه.(۱)

## د حضرت علي ﷺ تقوىٰ

حضرت علي ﷺ د نبي عليه السلام د تره ځوي وُ ، په هلکانو کې د ټولو مخکې ده اسلام قبول کړې وُ ، څلورم خليفه وُ ، پيغمبر عليه السلام ده ته خپله لور مبارکه ( حضرت فاطمة ﷺ ) په نکاح ورکړې وه . په دُنيا کې يې ورته د جنت زيرې ورکړې وُ خو بيا هم په کې دومره تقوىٰ وه چې د آخرت د حساب و کتاب نه به ډير يريدو ، او د الله ﷻ د يرې به يې ډير ژړل.

يو ځل خلقو حضرت علي ﷺ ته اوفرمايل :

صِفْ لَنَا الدُّنْيَا. مونږ ته د دُنيا څه حال بيان کړه.

---

(۱) حياة الصحابة ج۲ ص۳۱٦ ، څورې ملغلرې اوله حصه ص۳۹ واقعه نمبر ۸۸.

ده ورته وويل: پوره تفصيل درته بيان کړم او که مختصر انداز کې يې درته بيان کړم؟

خلقو ورته وويل: مختصر طريقې سره يې بيان کړه.

نو ده ورته د دُنيا حقيقت داسې بيان کړو:

حَلَالُهَا حِسَابٌ، وَحَرَامُهَا عَذَابٌ.

د دُنيا د حلالو به حساب ورکول وي او د حرامو يې عذاب دی.(۱)

## د حضرت حُذيفه ﷺ تقویٰ

حضرت حُذيفه ﷺ مشهور صحابي دی، باوجود ددينه چې د مدائِن اميرۇ خو بيا هم په کې دومره تقوی وه چې د تواضع نه ډک ساده ژوند يې تيرول، د دُنيا د آسبابو نه نه متأثر کيدو.

حضرت عُمر ﷺ چې کله حضرت حُذيفه ﷺ لره مدائِن ته ليږلو نو په شاهي فرمان کې يې د هغه ځای خلقو ته ليکلي وو: تاسو دده خبره منئ، دده تابعداري کوئ، او دا چې درنه څه غواړي هغه ورکوئ.

حضرت حُذيفه ﷺ د حضرت عُمر ﷺ د مجلس نه رااُووت (او مدائِن ته تللو) نو په داسې خَر باندې سورۇ چې د پاسه پرې کټه وه، او په خَر باندې دده توبنه هم تړلې وه. کله چې مدائِن ته راغی نو د هغه ځای خلقو او سردارانو دده استقبال اوکړو (دا په خَر سورۇ) دده سره په لاس کې روټۍ او د غوښې هډوکې ؤ.

ده خلقو ته د حضرت عمر ﷺ فرمان واورول.

خلقو ورته وويل: ستا چې څه خوښه وي هغه د مونږ نه اوغواړه مونږ به يې درته راوړو، ده ورته وويل: (بل څه درنه نه غواړم خو) تر څو پورې چې زه ستاسو اميريم نو صرف دومره روټۍ راوړئ چې زه يې خورم او زما سوَرلۍ د پاره واښه (گياه) راوړئ.

(۱) عَنْ جَعْفَرٍ، قَالَ: سَمِعْتُ مَالِكًا، قَالَ: قَالُوا لِعَلِيِّ بْنِ أَبِي طَالِبٍ ﷺ: صِفْ لَنَا الدُّنْيَا. قَالَ: أَطِيلُ أَمْ أُقْصِرُ؟ قَالُوا بَلْ قَصِّرْ: قَالَ: حَلَالُهَا حِسَابٌ، وَحَرَامُهَا عَذَابٌ. الزهد لابي داود السجستاني ج۱ ص ۱۱۹ رقم الحديث ۱۰۹ أَخْبَارُ عَلِيِّ بْنِ أَبِي طَالِبٍ وَزُهْدِهِ رَضِيَ اللهُ عَنْهُ

Scanned with CamScanner

بيا دا هلته ډير وخت امير ؤ ، (خو ډير د تقوى نه ډک ژوند يې تېر کړو ، د مال و دولت او دُنياوي اسبابو په وجه ډُهوکه نه شو ) .

څه وخت پس ورته حضرت عمر ؓ خط ورا ولیږل چې مديني منوّرې ته واپس راشه ، نو راروان شو ، حضرت عُمر ؓ ده ته په لاره کې په يو ځاى کې پَټ کيناستلو ، چې هغه دا نه ليدلو ( دا ددې د پاره چې حضرت حذيفه ؓ د مدائن امير ؤ چې ده مال و دولت جمع کړې که نه ؟ ) .

کله چې حضرت عُمر ؓ دا اُوليد نو هماغه حالت يې ؤ په کوم حالت کې چې دا تللې ؤ ( يعنى ډير د تقوى او عاجزۍ ژوند يې تېر کړې ؤ ، هيڅ مال و دولت يې نه ؤ جمع کړى ) ، نو حضرت عُمر ؓ ورته راغى دا يې خپلې سِينې ته رانژدې کړو او ورته وې فرمايل :

أَنْتَ أَخِيْ وَأَنَا أَخُوْكَ .

ته زما ورور يې او زه ستا ورور يم . (١)

---

(١) كان عمرُ بن الخطاب ؓ إذا بعث عاملًا كتب في عهده : أن اسمعوا له واطيعوا ما عدل عليكم . فلمّا استعمل حذيفة ؓ على المدائن كتب في عهده : أن اسمعوا له وأطيعوا واعطوه ما سألكم . فخرج حذيفة ؓ من عند عمر ؓ على حمار مؤكف ، وعلى الحمار زاده . فلما قدم المدائن استقبله أهل الأرض والدهاقين وبيده رغيف وعرق من لحم إكاف فقرأ عهده عليهم . فقالوا: سلنا ما شئت ؟ قال : أسألكم طعاما آكله وعلف حماري هذا ما دمت فيكم . فأقام فيهم ما شاء الله . ثم كتب إليه عمر ؓ أن اقدم فلما بلغ عمر ؓ قدومه كمن له على الطريق في مكان لا يراه . فلما رآه عمر على الحال الذي خرج من عنده عليه أتاه فالتزمه وقال: أنتَ أخي وأنا أخوك. كنز العمال رقم الحديث ٣٦٩٦٠ باب فضائل الصحابة مفصلا مرتبا على ترتيب حروف المعجم حرف الحاء حذيفة رضي الله عنه . تاريخ دمشق لابن عساكر ج١٢ ص ٢٨٦ حذيفة بن اليمان . حياة الصحابه لمولانا محمد ادريس الكاندهلوي ج٣ ص ٣٤٩ تواضع حذيفة بن اليمان رضي الله عنه .

عَنِ ابْنِ سِيْرِيْنَ : أَنَّ عُمَرَ كَتَبَ فِي عَهْدِ حُذَيْفَةَ عَلَى الْمَدَائِنِ : إِسْمَعُوْا لَهُ ، وَأَطِيْعُوْا ، وَأَعْطُوْهُ مَا سَأَلَكُمْ . فَخَرَجَ مِنْ عِنْدِ عُمَرَ ؓ عَلَى حِمَارٍ مُوْكَفٍ . تَحْتَهُ زَادُهُ . فَلَمَّا قَدِمَ إِسْتَقْبَلَهُ الدَّهَاقِيْنُ وَبِيَدِهِ رَغِيْفٌ ، وَعَرْقٌ مِنْ لَحْمٍ . سير اعلام النبلاء ج ٢ ص ٣٦٣ حُذَيْفَةُ بْنُ الْيَمَانِ بن جَابِرِ الْعَبْسِيُّ ، حلية الأولياء ١ / ٢٧٧ ، الطبقات الكبرى لابن سعد ٣١٧/٧ ، اسد الغابة ١ / ٣٦٩ ،

Scanned with CamScanner

# د حضرت ابوعُبَيدة بن جراح ﷺ تقوٰی

د حضرت عمر ﷺ په زمانه کې حضرت ابوعُبَيدة بن جرّاح ﷺ د شام گورنر ؤ ؛ ځکه د شام اکثره حصه اکثره همده فتح کړې وه .

هاغه وخت شام ډيره لويه او سَرسبزه علاقه وه ، مال و دولت په کې ډير زيات ؤ ، نن صبا د هغې نه څلور ملکونه جوړ دي : شام ، اُردن ، فلسطين ، او لبنان . حالانکه هاغه وخت دا څلور واړه د اسلامي مملکت يوه صوبه وه ، گورنر يې حضرت ابوعبيدة بن جراح ﷺ ؤ ، او د غونډ اسلامي حکومت اميرُ المؤمنين حضرت عُمر ﷺ ؤ .

يو ځل دا شام ته په سفر باندې لاړ ، هلته يې يوه ورځ حضرت ابوعبيدة ﷺ ته وويل :

اِذْهَبْ بِنَا إِلٰى مَنْزِلِكَ : راځه چې ستا کور ته لاړ شو .

( د حضرت عُمر ﷺ په ذِهن کې دا خبره وه چې شام ډيره آباده صوبه ده او ددې گورنر ابوعبيده ﷺ دی نو دده کور کتل غواړي چې ده څه جمع کړي دي او که نه ؟ )

حضرت ابوعبيدة ﷺ ورته وويل : زما په کور باندې څه کوی ، که وې گوری نو صرف د سترگو نه به دې اُوښکي ځي .

حضرت عُمر ﷺ اِصرار اوکړو چې خامخا يې گورو ، هغه ورته وويل : صحيح ده . دواړه روان شو ، په تللو تللو کې د ښار د آبادۍ نه اُووتل .

حضرت عُمر ﷺ ورنه پوښتنه اوکړه چې چيرته ځی ؟ (ستا کور خو ډير لرې دی) .

هغه ورته وويل : اوس رانزدې دی . د دمشق ښار چې د هر قِسمه مال و اسباب نه ډک ؤ ددينه اُووتل ، آخر يو ځای ته اُورسيدل چې د قجورو څانگو نه جوړه شوې جونپړه وه ، حضرت ابوعبيدة ﷺ اوفرمايل : اې اميرُ المؤمنين ! زه په دې کور کې اُوسيږم .

حضرت عُمر ﷺ چې اخوا ديخوا مخ واړول نو هيڅ په کې نه وو ، ورته وې ويل : ستا آسباب چيرته دی ؟ په دې کې خو يوه مُصَلّه ده ، يوه کاسه ده ، او يو د اُوبو مشک دی ، ستا خوراک چيرته دی ؟

حضرت ابوعبيدة ﷺ ورته وويل : اې اميرالمؤمنين ! په دې کې زما ټول د ضرورت

سامان موجود دی ، په دې مُصَلّه باندې مونځ هم کوم او پرې اُوده کیږم هم ، بیا یې پاس لاس پورته کړو یوه پیاله یې راواخیسته چې د اُوبو نه ډکه وه او د اُوچې روټۍ ټکړې په کې پرتې وې ، ابوعبیدة ﷺ اوفرمایل :

اې امیرالمؤمنین ! زه شپه او ورځ د حکومت په سرکاري کارونو کې مصروف یم ځاتته د خوراک برابرولو موقع راته نه ملاویږي ، یوه زنانه ما له د دوه یا درې ورځو روټۍ په یو ځل پخې کړي ، زه یې ځان له کیږدم ، هغه خورم ، کله چې دا روټۍ اُوچې شي نو په اُوبو کې یې پَستوم بیا یې د شپې خورم .

حضرت عُمر ﷺ چې دا حالت اوکتلو نو په سترګو کې یې اُوښکې راغلی .

ابوعبیدة ﷺ ورته وویل : ما تاته ویلي وو چې که زما کور اوګوری نو بیا به اُوښکې تویوی . بیا حضرت عُمر ﷺ ورته اوفرمایل :

غَيَّرَتْنَا الدُّنْيَا كُلَّنَا غَيْرَكَ يَا أَبَا عُبَيْدَةَ ﷺ .

اې ابوعبیدة ! مونږ ټول دُنیا بدل کړي یو خو صرف ته یې نه یې بدل کړی ( یعنی په مونږ باندې د دُنیا رونق آثر کړې دی لیکن ته چې د نبي علیه السلام په زمانه کې څنګه وې هماغه شان یې ، د دُنیا مال و دولت درباندې هیڅ آثر ندې کړی ) . (۱)

## د حضرت سالم رَحِمَهُ اللهُ تقوی

یو ځل هشام بن عبدالملک بادشاه خانه کعبې ته لاړ ، هلته یې د حضرت سالم رَحِمَهُ اللهُ

(۱) اصلاحي خطبات ج ۳ ص ۱۱۷ .

دا واقعه په سیر اعلام النبلاء کې هم مختصر ذکر ده :

عَنِ ابْنِ عُمَرَ ﷺ : أَنَّ عُمَرَ حِينَ قَدِمَ الشَّامَ ، قَالَ لِأَبِي عُبَيْدَةَ ﷺ : اِذْهَبْ بِنَا إِلَى مَنْزِلِكَ . قَالَ : وَمَا تَصْنَعُ عِنْدِي؟ مَا تُرِيدُ إِلَّا أَنْ تُعَصِّرَ عَيْنَيْكَ عَلَيَّ . قَالَ : فَدَخَلَ ، فَلَمْ يَرَ شَيْئًا ، قَالَ : أَيْنَ مَتَاعُكَ ؟ لَا أَرَى إِلَّا لِبْدًا وَصَحْفَةً وَشَنًّا ، وَأَنْتَ أَمِيرٌ . أَعِنْدَكَ طَعَامٌ ؟ فَقَامَ أَبُو عُبَيْدَةَ إِلَى جَوْنَةٍ ، فَأَخَذَ مِنْهَا كُسَيْرَاتٍ ، فَبَكَى عُمَرُ ﷺ . فَقَالَ لَهُ أَبُو عُبَيْدَةَ : قَدْ قُلْتُ لَكَ : إِنَّكَ سَتَعْصِرُ عَيْنَيْكَ عَلَيَّ يَا أَمِيرَ الْمُؤْمِنِينَ ، يَكْفِيكَ مَا يُبَلِّغُكَ الْمَقِيلَ . قَالَ عُمَرُ ﷺ : غَيَّرَتْنَا الدُّنْيَا كُلَّنَا غَيْرَكَ يَا أَبَا عُبَيْدَةَ ﷺ . سیر اعلام النبلاء ج ۱ ص ۱۷ أَبُو عُبَيْدَةَ بْنُ الْجَرَّاحِ عَامِرُ بْنُ عَبْدِ اللهِ .

سره ملاقات اوشو ( حضرت سالم رَحِمَهُ اللهُ د حضرت عبدالله بن عمر رَضِيَ اللهُ عَنْهُمَا ځوي دی ).

نو هشام بادشاه حضرت سالم رَحِمَهُ اللهُ ته ووېل : يَا سَالِمُ ! سَلْنِيْ حَاجَةً .

اې سالم ! مانه خپل حاجت اوغواړه ( چې زه يې درله پوره کړم ).

حضرت سالم رَحِمَهُ اللهُ ورته ووېل :

إِنِّيْ أَسْتَحْيِيْ مِنَ اللهِ تَبَارَكَ وَتَعَالَى أَنْ أَسْأَلَ فِيْ بَيْتِ اللهِ غَيْرَ اللهِ .

يېشکه ماته د الله تبارک وتعالی نه حياء راځي چې د هغه په کور کې د بل چانه څه اوغواړم.

کله چې حضرت سالم رَحِمَهُ اللهُ د بيتُ الله نه راأووت نو هشام بن عبدالملک هم ورپسې سمدست راأووت ، ورته وې وېل : اوس خو ته د بيت الله نه راأووتې لهذا اوس رانه خپل حاجت اوغواړه ( چې زه يې درله پوره کړم ).

حضرت سالم رَحِمَهُ اللهُ ورته ووېل : مِنْ حَوَائِجِ الدُّنْيَا أَمْ مِنْ حَوَائِجِ الْآخِرَةِ؟

د دُنيا حاجت درنه اُوغواړم او که د آخرت حاجت درنه اوغواړم ؟

هشام ورته ووېل : د دُنيا حاجت رانه اُوغواړه . حضرت سالم رَحِمَهُ اللهُ ورته ووېل :

أَمَا وَاللهِ مَا سَأَلْتُ الدُّنْيَا مَنْ يَمْلِكُهَا ، فَكَيْفَ أَسْأَلُ الدُّنْيَا مَنْ لَا يَمْلِكُهَا ؟!

قسَم په الله ، ما تر اوسه دُنيا د هغه ذات نه نده غوښتې چې څوک ددې مالک دی نو هغه چا نه دا دُنيا څنګه اوغواړم چې هغه ددې مالک ندی ؟ (١)

( د حضرت سالم رَحِمَهُ اللهُ مقصد دا ؤ چې ما تر اوسه پورې د دُنيا سوال د الله تعالی نه ندې کړی نو د تا نه يې څنګه اوکړم؟ دا ددوی کامله تقوی او پرهيزګاري وه ).

(١) عَنِ الْحُمَيْدِيِّ ، قَالَ : سَمِعْتُ سُفْيَانَ بْنَ عُيَيْنَةَ يَقُوْلُ : دَخَلَ هِشَامُ بْنُ عَبْدِ الْمَلِكِ الْكَعْبَةَ فَإِذَا بِسَالِمِ بْنِ عَبْدِ اللهِ بْنِ عُمَرَ بْنِ الْخَطَّابِ رَضِيَ اللهُ عَنْهُ . فَقَالَ لَهُ : يَا سَالِمُ ! سَلْنِيْ حَاجَةً . فَقَالَ : إِنِّيْ أَسْتَحْيِيْ مِنَ اللهِ تَبَارَكَ وَتَعَالَى أَنْ أَسْأَلَ فِيْ بَيْتِ اللهِ غَيْرَ اللهِ . فَلَمَّا خَرَجَ خَرَجَ فِيْ إِثْرِهِ . فَقَالَ لَهُ : اَلْآنَ قَدْ خَرَجْتَ . فَسَلْنِيْ حَاجَةً؟ فَقَالَ لَهُ سَالِمٌ : مِنْ حَوَائِجِ الدُّنْيَا أَمْ مِنْ حَوَائِجِ الْآخِرَةِ؟ فَقَالَ : مِنْ حَوَائِجِ الدُّنْيَا . فَقَالَ لَهُ سَالِمٌ : أَمَا وَاللهِ مَا سَأَلْتُ الدُّنْيَا مَنْ يَمْلِكُهَا ، فَكَيْفَ أَسْأَلُ الدُّنْيَا مَنْ لَا يَمْلِكُهَا ؟! . المجالسة وجواهر العلم للدينوري المالكي ج ١ ص ٣٨٣ رقم ٨٠ . موسوعة الأخلاق الإسلامية ج ١ ص ٣١٧ العفة نماذج من عفة السلف .

# د مخکینیو امتونو د دوه کسانو د تقوی واقعه

په بخاري شریف او مسلم شریف کې دا واقعه ذکر ده ، رسول الله صلی الله علیه وسلم فرمایي چې (په مخکیني امتونو کې) یو کس د بل کس نه زمکه واخیسته ، نو بیا دې اخیستونکي په دې خپله زمکه کې (خښ شوې) یو مَنګې اوموند چې د سرو زرو نه ډک ؤ ، نو ده دا سره زَر هغه کس ته وروړل چې د چا نه یې دا زمکه اخیستې وه ، او هغه ته یې وویل:

خُذْ ذَهَبَكَ مِنِّي إِنَّمَا اشْتَرَيْتُ مِنْكَ الْأَرْضَ وَلَمْ أَبْتَعْ مِنْكَ الذَّهَبَ .

ته دا خپل سره زَر د مانه واخله ؛ ځکه ما د تانه زمکه اخیستې وه خو دا سره زَر مې درنه نهٔ اخیستي (نو دا ستا حق جوړیږي).

د زمکې خرڅوونکي ورته وویل : إِنَّمَا بِعْتُكَ الْأَرْضَ وَمَا فِيهَا .

ما په تا باندې زمکه او څه چې په زمکه کې دي دا ټول مې دریاندې خرڅ کړي دي (نو دا سره زَر ستا حق جوړیږي . دوارو یو بل له ورکول خو هیچا نه اخیستل).

بیا دوی یو دریم ګړي (ثالث) له خپله فیصله وې وړه . (هغه چې د واقعې تفصیل واورید) نو دریم ګړي دې دواړو ته وویل :

أَلَكُمَا وَلَدٌ؟ آیا ستاسو اولاد شته؟

دې یو کس وویل چې زما یو ځوي شته ، او دې بل کس وویل : زما یوه لور شته.

نو دې دریم ګړي (ثالث) ورته وویل :

أَنْكِحُوا الْغُلَامَ الْجَارِيَةَ وَأَنْفِقُوا عَلَى أَنْفُسِهِمَا مِنْهُ وَتَصَدَّقَا .

تاسو ددې هلک او جینۍ نکاح اوکړئ او دا سره زَر ددې دواړو په واده باندې خرچ کړئ ، او څه چې پاتې شي نو هغه د الله تعالی په لار کې صدقه کړئ . (۱)

---

(۱) عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ رَضِيَ اللهُ عَنْهُ، قَالَ : قَالَ النَّبِيُّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: اِشْتَرَى رَجُلٌ مِنْ رَجُلٍ عَقَارًا لَهُ، فَوَجَدَ الرَّجُلُ الَّذِي اشْتَرَى الْعَقَارَ فِي عَقَارِهِ جَرَّةً فِيهَا ذَهَبٌ. فَقَالَ لَهُ الَّذِي اشْتَرَى الْعَقَارَ: خُذْ ذَهَبَكَ مِنِّي إِنَّمَا اشْتَرَيْتُ مِنْكَ الْأَرْضَ وَلَمْ أَبْتَعْ مِنْكَ الذَّهَبَ . وَقَالَ الَّذِي لَهُ الْأَرْضُ: إِنَّمَا بِعْتُكَ الْأَرْضَ وَمَا فِيهَا. فَتَحَاكَمَا إِلَى رَجُلٍ، فَقَالَ: الَّذِي تَحَاكَمَا إِلَيْهِ: أَلَكُمَا وَلَدٌ؟ قَالَ أَحَدُهُمَا: لِي غُلَامٌ. وَقَالَ الْآخَرُ: لِي جَارِيَةٌ. ←←←←←

**نوټ:** بعضې علماء وايي چې دا واقعه د حضرت داؤد علیه السلام په زمانه کې راپېښه شوې وه ، او دې دوه کسانو حضرت داؤد علیه السلام ته دا فیصله وړې وه ، نو ده د دوی دواړو په مینځ کې دغه فیصله اوکړه. (۱)

## د عُمر بن عبدالعزیز رَحِمَهُ اللهُ تقوی

عُمر بن عبدالعزیز رَحِمَهُ اللهُ د مسلمانانو عادل خلیفه (بادشاه) تېر شوی ، د خلافت نه مخکې یې د مالدارو خلقو په شان ژوند تېرولو ، قیمتي کپړې به یې اغوستې ، خو چې کوم وخت ئې ورته د مسلمانانو خلافت او سپارلې شو نو هماغه وخت نه یې ژوند مکمل بدل کړو ، ډیر د تقوی او پرهیزګارۍ ژوند به یې تیرولو.

مولانا ابوالحسن ندوي رَحِمَهُ اللهُ په خپل کتاب " تاریخ دعوت و عزیمت " د عُمر بن عبدالعزیز رَحِمَهُ اللهُ په باره کې لیکلي دي:

کله چې عُمر بن عبدالعزیز رَحِمَهُ اللهُ د مسلمانانو خلیفه (بادشاه) شو نو سمدستي یې ټول هغه خلق معزول کړل کوم به چې په نورو خلقو باندې ظلم کولو ، د بادشاه د پاره چې د ژوند تیرولو کوم دُنیاوي اسباب وو ده هغه ټول په بیتُ المال کې داخل کړل ، تردې چې خپلې بي بي زیورات یې هم په بیتُ المال کې داخل کړل ، ده نه مخکیني بادشاه چې د خلقو نه کومې زمکې په زور اخیستې وې ده هغه ټولې واپس کړې ، د صحابه کرامو د خلافت په شان ساده او د تقوی نه ډک ژوند تیرول یې شروع کړو ، د خلیفه جوړېدو نه

---

← ← ← قَالَ: أَنْكِحُوا الْغُلَامَ الْجَارِيَةَ وَأَنْفِقُوا عَلَى أَنْفُسِهِمَا مِنْهُ وَتَصَدَّقَا . صحیح البخاري كِتَابُ أَحَادِيثِ الأَنْبِيَاءِ رقم الحديث ۳۴۷۲ ، صحیح مسلم كِتَابُ الأَقْضِيَةِ بَابُ اسْتِحْبَابِ إِصْلَاحِ الْحَاكِمِ بَيْنَ الْخَصْمَيْنِ رقم الحديث ۲۱ (۱۷۲۱). شعب الایمان رقم الحديث ۴۹۰۷ ، شرح السنة للبغوي رقم الحديث ۲۲۱۲ ، مسند احمد مخرجا رقم الحديث ۸۱۹۱.

(۱) (فَتَحَاكَمَا إِلَى رَجُلٍ) قِيلَ: إِنَّهُ دَاوُدُ عَلَيْهِ الصَّلَاةُ وَالسَّلَامُ. مرقاة المفاتيح ج ۵ ص ۱۹۳۶.

په مشکوة شریف کې صراحة دا ذکر دي چې دا د مخکیني اُمتونو د دوه کسانو واقعه ده: عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ رَضِيَ اللهُ عَنْهُ قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: اشْتَرَى رَجُلٌ مِمَّنْ كَانَ قَبْلَكُمْ عَقَارًا مِنْ رَجُلٍ ... مشكاة المصابيح كِتَابُ الْبُيُوعِ رقم الحديث ۲۸۸۲ (۸).

مخکې اګر چې ډیرې قیمتي کپړې یې استعمالولی ، لیکن د خلافت ملاویدو نه پس یې ارزان قیمته کپړې استعمالولی ، تر دې چې کله به یې د جُمعې په ورځ کپړې اُووینځلی نو بیا به ورسره نورې نه وې نو د هغې د اُوچیدو ته به یې انتظار کولو .

اګر چې په هاغه وخت کې د ټولو نه لوې حکومت دده ؤ ، او د حکومت ټول اختیارات دده سره وو ، لیکن پخپله یې ډیر احتیاط کولو .

د خپل کور حالت یې دا ؤ چې یو ځل کله چې د سرکاري کارونو نه فارغ شو نو کور ته د ماسخوتن مانځه نه پس راننوَت ، د لورانو نه یې د خیریت پوښتنه کوله ، نو کومې لور به چې دده سره خبرې کولی هغې به په خپله خُله باندې لاس ایخودو ، ده ورنه پوښتنه اوکړه چې په خُله باندې دا لاس ولې ږدی ؟ هغوی د حیاء د وجې څه اُو نه ویل ، بي بي یې ورته وویل :

په کور کې بل څه د خوراک د پاره نه وو مونږ صرف دال او پیاز خوړلي دي (نو په خُله باندې لاس ځکه ږدي چې تاسو ته د پیازو بُوی درنشي ) .

د عُمر بن عبدالعزیز رَحِمَهُ اللهُ په سترګو کې اُوښکې راغلی ، بیا یې اوفرمایل : ماته دا مشکل نده چې زه تاسو ته قِسما قِسم خوراکونه راوړم ، خو آیا ستاسو دا خوَښه ده چې ددې په وجه بیا زه جهنم ته لاړ شم ؟

لورانې یې په ژړا شوی او وې ویل : چې دا زمونږ نده خوَښه ( مونږ په همدې باندې ګزاره کوو ) .

عُمر بن عبدالعزیز رَحِمَهُ اللهُ به دومره احتیاط کولو چې کله به یې د شپې سرکاري کار کولو او شمع به لږیدلې وه نو که په دې وخت کې به ده ته څوک ذاتي میلمه راغی ، یا خپل څه ذاتي کار به یې شروع کړو نو سرکاري شمع به یې مړه کړه او خپله ذاتي شمع به یې اُولږوله ، تر دې چې د بیت المال خوشبوی به یې هم نه استعمالوله . (۱)

همدارنګې د بیتُ المال په لرګو به چې کومې اُوبه ګرمې شوې وې نو په هغې به یې غُسل هم نه کولو ، یو ځل دې خبر شو چې د بیتُ المال په لرګو باندې ورله اُوبه ګرمې شوي

---

(۱) تاریخ دعوت وعزیمت لمولانا ابوالحسن علي الندوي رحمه الله .

Scanned with CamScanner

نو بيا يې د هغې قيمت په بيتُ المال کې جمع کړو .(۱)

## عمر بن عبدالعزيز رَحِمَهُ اللهُ د وړوکي ځوي د لاس نه د بيتُ المال سېب واخيست

يو ځل عُمر بن عبدالعزيز رَحِمَهُ اللهُ د بيتُ المال سېوان ( منړې ) د خلقو په مينځ کې تقسيمولی ، نو دده يو وړوکې ځوي راغی او ددينه يې يو سېب راواخيستَ ، عُمر بن عبدالعزيز رَحِمَهُ اللهُ وَرتوپ کړل د هغه لاس يې اُونيولو ، سېب يې ورنه واپس واخيست ، او د بيتُ المال په سېوانو کې يې واچول .

ځوي يې مور ته په ژړا ورغی ، مور ورته وويل : بچيه ولې ژاړې ؟ ده ورته خبره اوکړه ( چې پلار رانه سېب واپس واخيست ) .

نو دې عُمر بن عبدالعزيز رَحِمَهُ اللهُ ته ( د چا په لاس باندې ) دوه درهم ور اُوليږل او سېوان يې ورنه واخيستل ، پخپله يې هم اُوخوړل ، ماشوم ته يې هم ورکړل ، او څه يې خپل خاوند ته هم اُوساتل .

کله چې عُمر بن عبدالعزيز رَحِمَهُ اللهُ د سېوانو تقسيمولو نه فارغ شو او کور ته لاړ نو بي بي ورله په يو لوخي کې سېوان د خوراک د پاره راوړل ، ده ورنه پوښتنه اوکړه :

مِنْ أَيْنَ هٰذَا يَا فَاطِمَةُ ؟ اې فاطمې ! ( دايې د بي بي نوم وُ ) دا سېوان چيرته وو ؟ هغې ورته خبره اوکړه چې دا ما دوه درهمه درليږلي وو او په هغې مې اخستي دي . ده ورته وويل : رَحِمَكِ اللهُ، وَاللهِ إِنْ كُنْتُ لَأَشْتَهِيهِ .

الله تعالی دې په تا باندې رحم اوکړي ، قسَم په الله چې زما ورته د خوراک ډير شوق کيدلو ( خو چونکه دا د بيتُ المال وو او د ما سره د اخيستلو د پاره روپۍ نه وی ) .(۱)

---

(۱) عَنْ أَبِي سِنَانٍ، أَنَّ عُمَرَ بْنَ عَبْدِ الْعَزِيزِ رَحِمَهُ اللهُ كَانَ يُسَخَّنُ لَهُ الْمَاءُ فِي مَطْبَخِهِ . فَقَالَ لِصَاحِبِ الْمَطْبَخِ : «أَيْنَ يُسَخَّنُ هَذَا الْمَاءُ ؟» قَالَ : فِي الْمَطْبَخِ. قَالَ: « أَلَمْ مُنْذُ كَمْ تُسَخِّنُهُ فِي الْمَطْبَخِ فَأَخْبِرْنِي بِهِ ؟ » . قَالَ: مُنْذُ كَذَا وَكَذَا. قَالَ: « أَلَمْ مَا ثَمَنُ ذَلِكَ الْحَطَبِ ؟ » قَالَ: كَذَا وَكَذَا. فَأَخَذَهُ عُمَرُ فَأَلْقَاهُ فِي بَيْتِ الْمَالِ. الورع لابن ابي الدنيا ج ۱ ص ۱۲۲ بَابُ الْوَرَعِ فِي اللِّسَانِ

سبحان الله ، د حکومت ټول اختيارات ورسره وو خو ليکن بيا يې هم خپل ورو کي ځوي ته د بيت المال يو سېب هم نه ورکول.

## د بيتُ المال په سوَرلۍ باندې راوړل شوي شهد واپس خرڅول

د عُمر بن عبدالعزيز رَحِمَهُ اللهُ بي بي " فاطمة بنت عبدالملک " وايي چې ځل د عُمر بن عبدالعزيز رَحِمَهُ اللهُ شهدو خوړلو ته شوق پيدا شو ، په دې وخت کې د مونږ سره شهد نه وو ، نو مونږ په سَرکاري آس باندې يو کس بعلبک ښار ته اُوليږل ( دا د بيتُ المال سرکاري آس ؤ په دې سره به يې د يو ځای نه بل ځای ته خطونه وړل ) . نو دې کس شهد راوړل .

يوه ورځ مونږ عُمر بن عبدالعزيز رَحِمَهُ اللهُ ته وويل : يوه ورځ تا د شهدو تذکره کړې وه ، اوس د مونږ سره شته ، نو آيا زړه دې خوراک ته کيږي ؟

ده ورته وويل : آو ( رايې وړئ ) . نو مونږ ورته شهد راوړل ، هغه يې په اُوبو کې واچول او وې سکل ، بيا يې پوښتنه اوکړه :

مِنْ أَيْنَ لَكُمْ هٰذَا الْعَسَلُ ؟ تاسو ته دا شهد د کوم ځای نه راغلي وو ؟

ما ورته وويل : مونږ په سرکاري آس باندې يو کس بعلبک ښار ته ليږلې ؤ هغه مونږ له په دوه دِيناره باندې شهد راوړل .

نو عُمر بن عبدالعزيز رَحِمَهُ اللهُ د هغه کس پسې جواب وراُوليږل ( کوم چې مونږ له شهد راوړي وو ) . کله چې هغه راغی نو ورته وې ويل :

اِنْطَلِقْ بِهٰذَا الْعَسَلِ إِلَى السُّوْقِ ، فَبِعْهُ ، فَارْدُدْ إِلَيْنَا رَأْسَ مَالِنَا ، وَانْظُرِ الْفَضْلَ ، فَاجْعَلْهُ فِيْ

(١) كَانَ عُمَرُ بْنُ عَبْدِ الْعَزِيْزِ رَحِمَهُ اللهُ يَقْسِمُ تُفَّاحًا بَيْنَ النَّاسِ ، فَجَاءَ ابْنٌ لَهُ وَأَخَذَ تُفَّاحَةً مِنْ ذٰلِكَ التُّفَّاحِ ، فَوَثَبَ إِلَيْهِ فَفَكَّ يَدَهُ فَأَخَذَ تِلْكَ التُّفَّاحَةَ فَطَرَحَهَا فِي التُّفَّاحِ ، فَذَهَبَ إِلَى أُمِّهِ مُسْتَغِيْثًا . فَقَالَتْ لَهُ : مَالَكَ أَيْ بُنَيَّ ؟ فَأَخْبَرَهَا ، فَأَرْسَلَتْ بِدِرْهَمَيْنِ فَاشْتَرَتْ تُفَّاحًا ، فَأَكَلَتْ وَأَطْعَمَتْهُ ، وَرَفَعَتْ لِعُمَرَ ، فَلَمَّا فَرَغَ مِمَّا بَيْنَ يَدَيْهِ دَخَلَ إِلَيْهَا ، فَأَخْرَجَتْ لَهُ طَبَقًا مِنْ تُفَّاحٍ ، فَقَالَ : « مِنْ أَيْنَ هٰذَا يَا فَاطِمَةُ ؟ » فَأَخْبَرَتْهُ ، فَقَالَ : « رَحِمَكِ اللهُ ، وَاللهِ إِنْ كُنْتُ لَأَشْتَهِيْهِ » . الورع لابن ابی الدنیا ج ١ ص ١٢٣ باب الورع في اللسان ، موسوعة الأخلاق الإسلامية ج ٢ ص ٨٦ الورع نماذج من ورع السلف.

عَلَفِ دَوَابِّ الْبَرِيْدِ، وَلَوْ كَانَ يَنْفَعُ الْمُسْلِمِيْنَ فِيْ ءٍ لَتَقَيَّأْتُ .

دا شهد بازارته وړ سه، هلته يې خرڅ کړه، مونږ ته ورنه خپلې روپۍ راوړه، او کومه ګټه چې پاتې شي په هغې باندې سرکاري آسونو له ګیاه ( واښه ) واخله ( بیا عُمر بن عبدالعزيز رَحِمَهُ اللَّهُ اوفرمايل : ) که چيرته مسلمانانو ته زما قِي ( ألتو ) فائده ورکولی نو ما به دا شهد واپس راالتې کړي وی . (۱)

## د بيتُ المال د خوشبوئي نه پُوزې پټول

يو ځل عُمر بن عبدالعزيز رَحِمَهُ اللَّهُ ته د مالِ غنيمت مشک راوړې شو ، ( دا چونکه بيتُ المال و ، او په دې کې د ټولو مسلمانانو حصه وه ) نو ده خپلې پُوزې پټې کړې ، خلقو ورنه پوښتنه اوکړه :

يَا أَمِيْرَ الْمُؤْمِنِيْنَ ! تَأْخُذُ بِأَنْفِكَ لِهٰذَا ؟ اې امير المؤمنين ! آيا ته ديته پوزې پټوې ؟

ده ورته ووېل : إِنَّمَا يُنْتَفَعُ مِنْ هٰذَا بِرِيْحِهِ ؛ فَأَكْرَهُ أَنْ أَجِدَ رِيْحَهُ دُوْنَ الْمُسْلِمِيْنَ .

د مشکو خو صرف د بُوئې نه فائده اخيستلې شي ، پس زه دا بده ګڼړم چې د نورو مسلمانانو نه بغير زه ددې د بُوئې نه فائده واخلم . (۲)

---

(۱) عَنْ فَاطِمَةَ بِنْتِ عَبْدِ الْمَلِكِ قَالَتْ: اِشْتَهَى عُمَرُ بْنُ عَبْدِ الْعَزِيْزِ رَحِمَهُ اللَّهُ يَوْمًا عَسَلًا فَلَمْ يَكُنْ عِنْدَنَا، فَوَجَّهْنَا رَجُلًا عَلَى دَابَّةٍ مِنْ دَوَابِّ الْبَرِيْدِ إِلَى بَعْلَبَكَّ. فَأَتَى بِعَسَلٍ. فَقُلْنَا يَوْمًا : إِنَّكَ ذَكَرْتَ عَسَلًا وَعِنْدَنَا عَسَلٌ، فَهَلْ لَكَ فِيْهِ ؟ قَالَ: « نَعَمْ » . فَأَتَيْنَاهُ بِهِ فَشَرِبَ. ثُمَّ قَالَ: « مِنْ أَيْنَ لَكُمْ هٰذَا الْعَسَلُ ؟ » قَالَتْ: قُلْتُ وَجَّهْنَا رَجُلًا عَلَى دَابَّةٍ مِنْ دَوَابِّ الْبَرِيْدِ بِدِيْنَارَيْنِ إِلَى بَعْلَبَكَّ فَاشْتَرَى لَنَا عَسَلًا . قَالَتْ : فَأَرْسَلَ إِلَى الرَّجُلِ فَجَاءَ. فَقَالَ: « اِنْطَلِقْ بِهٰذَا الْعَسَلِ إِلَى السُّوْقِ . فَبِعْهُ. فَارْدُدْ إِلَيْنَا رَأْسَ مَالِنَا. وَانْظُرِ الْفَضْلَ. فَاجْعَلْهُ فِيْ عَلَفِ دَوَابِّ الْبَرِيْدِ، وَلَوْ كَانَ يَنْفَعُ الْمُسْلِمِيْنَ قَيْءٌ لَتَقَيَّأْتُ » . الورع لابن ابي الدنيا ج ۱ ص ۱۲۴ بَابُ الْوَرَعِ فِي اللِّسَانِ ، موسوعة الأخلاق الإسلامية ج ۲ ص ۸۶ الورع نماذج من ورع السلف.

(۲) عَنْ يُوْنُسَ بْنِ أَبِي الْفُرَاتِ، أَنَّ عُمَرَ بْنَ عَبْدِ الْعَزِيْزِ رَحِمَهُ اللهُ أُتِيَ بِغَنَائِمِ مِسْكٍ . فَأَخَذَ بِأَنْفِهِ. فَقَالُوْا : يَا أَمِيْرَ الْمُؤْمِنِيْنَ ! تَأْخُذُ بِأَنْفِكَ لِهٰذَا ؟ قَالَ : « إِنَّمَا يُنْتَفَعُ مِنْ هٰذَا بِرِيْحِهِ ، فَأَكْرَهُ أَنْ أَجِدَ رِيْحَهُ دُوْنَ الْمُسْلِمِيْنَ » . الورع لابن ابي الدنيا ج ۱ ص ۷۴ بَابُ الْوَرَعِ فِي الشَّمِّ . صلاح الامة في علو الهمة ج ۵ ص ۷۲۲ .

Scanned with CamScanner

## عُمر بن عبدالعزیز ؒ خپل ځوي ته د قیمتي ګُتمې خرڅولو حُکم اوکړو

په تفسیر قرطبي کې دا واقعه ذکر ده : عُمر بن عبدالعزیز رَحِمَهُ اللهُ ته دا خبره اُورسیده چې دده ځوي ځانله په زر (۱۰۰۰) دِرهمه باندې ګُتمه اخیستې ده.

نو ده خپل ځوي ته دا خط اولیکل : بیشکه ماته دا خبره رارسیدلې ده چې تا ځانله په زر دِرهمه باندې ګُتمه اخیستې ده ، دا واپس خرڅه کړه او ددې په قیمت باندې زر (۱۰۰۰) اُوږي فقیرانو ته روټۍ ورکړه ، ځانله په یو دِرهم باندې ګُتمه واخله او په هغې باندې اُولیکه : رَحِمَ اللهُ امْرَأً عَرَفَ قَدْرَ نَفْسِهِ.

الله تعالی دې په هغه کس باندې رَحم اوکړي چې د خپل ځان قدر (مرتبه) اُوپیژني.(۱)

## د سفیان ثوري رَحِمَهُ اللهُ تقوی

سفیان ثوري رحمه الله به د هر قسمه مُشتبِه مال او مُشتبِه خوراک نه ځان ساتل ، یو ځل : ا د مکې معظمې صَراف ته ورغی ، د دِینار په عِوض کې یې ورنه دِرهم اخیستل ، صَراف ته یې یو دِینار ورکړو ، دده سره بل دینار هم وُ ، هغه ورنه اُوغورځید ، ده چې هغه تلاش کړو او پیدا یې کړو نو ددې دِینار سره په څنګ کې یو بل دِینار هم پروت وُ ( چې د بل چا نه غورځیدلې وُ ، سفیان ثوري یو دِینار هم راپورته نه کړو ) صَراف ورته وویل :

خُذْ دِيْنَارَكَ. خپل دینار ورنه راواخله.

(۱) بَلَغَ عُمَرَ بْنَ عَبْدِ الْعَزِيْزِ رَحِمَهُ اللهُ أَنَّ ابْنَهُ اشْتَرَى خَاتَمًا بِأَلْفِ دِرْهَمٍ ، فَكَتَبَ إِلَيْهِ : إِنَّهُ بَلَغَنِيْ أَنَّكَ اشْتَرَيْتَ خَاتَمًا بِأَلْفِ دِرْهَمٍ ، فَبِعْهُ وَأَطْعِمْ مِنْهُ أَلْفَ جَائِعٍ ، وَاشْتَرِ خَاتَمًا مِنْ حَدِيْدٍ بِدِرْهَمٍ ، وَاكْتُبْ عَلَيْهِ "رَحِمَ اللهُ امْرَأً عَرَفَ قَدْرَ نَفْسِهِ" . تفسیر القرطبي ج ۱۰ ص ۸۹ في تفسیر سورة النحل آیة ۱۴ ،

په مدارج السالکین کې دا واقعه داسې ذکر ده ، بَلَغَ عُمَرَ بْنَ عَبْدِ الْعَزِيْزِ رَحِمَهُ اللهُ : أَنَّ ابْنًا لَهُ اشْتَرَى خَاتَمًا بِأَلْفِ دِرْهَمٍ ، فَكَتَبَ إِلَيْهِ عُمَرُ : بَلَغَنِيْ أَنَّكَ اشْتَرَيْتَ فَصًّا بِأَلْفِ دِرْهَمٍ ، فَإِذَا أَتَاكَ كِتَابِيْ فَبِعِ الْخَاتَمَ وَأَشْبِعْ بِهِ أَلْفَ بَطْنٍ وَاتَّخِذْ خَاتَمًا بِدِرْهَمَيْنِ ، وَاجْعَلْ فَصَّهُ حَدِيْدًا صِيْنِيًّا وَاكْتُبْ عَلَيْهِ : رَحِمَ اللهُ امْرَأً عَرَفَ قَدْرَ نَفْسِهِ. مدارج السالکین ج ۲ ۳۱۶ فَصْلُ مَنْزِلَةُ التَّوَاضُعِ فَصْلُ أَقْوَالُ الْعُلَمَاءِ فِي التَّوَاضُعِ .

Scanned with CamScanner

ده ورته وویل: مَاأَعْرِفُهُ . زه خپل دینار نه پیژنم. صراف ورته وویل:

حُلِ النَّاقِصَ (چې کله دومره احتیاط کوی نو) په کوم دینار کې چې سره زر کم وي هغه راواخله. ده ورته وویل:

فَلَعَلَّهُ الزَّائِدُ . شاید چې دا دزیاتو سرو زرو دینار زما وي (نو که زه دا د کمو سرو زرو والا دینار راواخلم نو بیا خو هم د بل چا دینار دی، نو زه یې څنګه راواخلم؟).

فَتَرَكَهُ وَمَضَى .

سفیان ثوري رحمه الله دا خپل دینار هم په همدې ځای پریخود او لاړ. (۱)

## د امام بخاري رَحِمَهُ اللَّهُ تقوىٰ

د امام بخاري رَحِمَهُ اللَّهُ مشهوره واقعه ده کومه چې علامه عجلوني رحمه الله رانقل کړې، چې یو کرت ده په کشتۍ کې سفر کولو، دده سره د روپو یوه تېلۍ وه چې په هغې کې شپږ زره (۶۰۰۰) دیناره وو، (ده د جیب نه دا تېلۍ د څه مقصد دپاره راویستې وه) نو یو غل دده سره دا تېلۍ اولیده او د تېلۍ رنګ یې هم معلوم کړو، کشتۍ چې څه اندازه مخکې لاړه نو دې غل په کشتۍ کې سخت شور جوړ کړو، چې د ماسره یوه تېلۍ وه، دغه رنګ یې دی، په هغې کې دیر شی دیناره وو، هغه رانه چا پټه کړه.

د کشتۍ واله خلقو ورته وویل چې شور مه کوه، د ټولو تالاشي واخله، معلومه به شي چې هغه د چاسره ده.

کله چې غل تالاشي شروع کړه د نورو ټولو تالاشي یې اول اوکړه او په آخر کې یې د امام بخاري رحمه الله تالاشي هم اوکړه خو تیلۍ یې د هیچا سره پیدا نه کړه.

کله چې کشتۍ غاړې ته اورسیده، امام بخاري رحمه الله ورنه کوزشو او آخوا علاقې

---

(۱) جَاءَ سُفْيَانُ الثَّوْرِيُّ إِلَى صَيْرَفِيٍّ بِمَكَّةَ يَشْتَرِي مِنْهُ دَرَاهِمَ بِدِينَارٍ، فَأَعْطَاهُ الدِّينَارَ، وَكَانَ مَعَهُ آخَرُ، فَسَقَطَ مِنْ سُفْيَانَ، فَطَلَبَهُ، فَإِذَا إِلَى جَانِبِهِ دِينَارٌ آخَرُ، فَقَالَ لَهُ الصَّيْرَفِيُّ: خُذْ دِينَارَكَ، قَالَ: « مَا أَعْرِفُهُ »، قَالَ: خُذِ النَّاقِصَ، قَالَ: « فَلَعَلَّهُ الزَّائِدُ »، قَالَ: فَتَرَكَهُ وَمَضَى. حلية الاولياء و طبقات الاصفياء ۷/ ۵۳، ترغيب المسلمين ص ۲۷۲.

طرف ته روان شو ، نو دا غل هم شاته ورپسې روان شو ، په لاره کې یې اول خو ورنه معافي اوغوښته ، بیا یې ورته وویل چې جناب ! د تاسره خو هغه تیلۍ وه نو تا هغه څه کړه ؟ ما خو د تاسره پیدا نکړه .

امام بخاري رحمه الله ورته وویل چې کله تا اعلان اوکړو چې د مانه چا تیلۍ پټه کړې او دا رنګ یې دی ، نو زه پوهه شوم چې ته خو زما هغه تیلۍ یادوی او هغې ته دې چَل جوړ کړی ، ما د ځان سره سوچ اوکړو چې که چیرته دا د ماسره دا تیلۍ پیامومې نو بیا به خلق په ما باندې د غَل ګمان کوي ، د نبي کریم صلی الله علیه وسلم په احادیثو باندې به داغ اولږي او بیا به د مانه هیڅوک احادیث نه زده کوي .

زه چونکه دکشتۍ په غاړه ناست ووم نو ما هغه تیلۍ دریاب ته اوغورځوله ، چې خبر دی که دا شپږ زره (۶۰۰۰) دیناره ضایع شي هیڅ پرواه نه کوي خو چې په ما باندې د غل تهمت اونه لږي او دنبي کریم صلی الله علیه وسلم په احادیثو باندې داغ اُو نه لږي .

غل چې دا خبرې واوریدې نو ډیر حیران شو (او ځان سره یې سوچ اوکړو چې په دې کس کې دومره تقوی او د رسول الله ﷺ د احادیثو سره دومره مینه ده چې خپل دینار یې ضایع کړل خو خپل ځان یې د غلا د تهمت نه محفوظ کړو ) . (۱)

## د عبدالله بن مبارک رَحِمَهُ اللهُ تقوی

عبدالله بن مبارک رَحِمَهُ اللهُ په تبع تابعینو کې لوي عالِم ، مجاهد او بزرګ ؤ ، د څلور زره (۴۰۰۰) مُحدّثینو ، فقهاؤ ، او مُفسّرینو نه یې استفاده کړې وه ، دده په دَرس کې به په یو وخت کې څلویښت زره (۴۰۰۰۰) طالبان ناست وو چې دده نه به یې احادیث زده کول ، د علم سره سره په کې ډیره زیاته تقوی وه :

**۱. د سرکاري کس د خوراک نه ځان ساتل** : یو ځل شام ته د جهاد د پاره لاړ ، د سفر په دَوران کې په مرضُ الموت باندې سخت بیمار شو ، سَتوانو خوړلو ته یې ډیر شوق پیدا شو ، یو کس ورته ستوان راوړل ، خو دا کس د هارون رشید بادشاه سره دَریانچي ؤ ،

(۱) امداد الباري ج۱ ص ۴۶۱ ، تحفة المدارس ج ۱ ص ۴۱۲ ، اللہ والوں کے قلوب کو تڑپا دینے والے واقعات ج۳ ص ۱۷۳ .

Scanned with CamScanner

نو عبدالله بن مبارک رَحِمَهُ اللهُ ددې د خوړلو نه اِنکار اوکړو دا ځکه چې پته نه لږي چې دې سړي به دا په حلالو روپو اخیستي وي یا په حرامو باندې. بیا داسې لږ وخت پس وفات شو. سبحان الله، د ډیر شوق باوجود یې بیا هم د مُشتبِه څیز د خوړلو نه ځان اُوساتل. (۱)

۲ . **قلم واپس شام ته وړل** : عبدالله بن مبارک رَحِمَهُ اللهُ فرمایي چې ما یو ځل په شام کې د چا نه قلم واخیست چې لیکل پرې کوم واپس یې درکوم، د لیکلو نه پس رانه واپس کول هیر شو، نو زه مروا ته راغلم، ما چې اُوکتل نو دا قلم د ماسره په جیب کې ؤ،

فَرَجَعْتُ إِلَى الشَّامِ حَتَّى رَدَدْتُهُ عَلَى صَاحِبِهِ.

نو زه واپس شام ته لاړم تر دې چې هغه کس ته مې خپل قلم واپس کړو. (۲)

۳ . یو ځل عبدالله بن مبارک رحمه الله په یوه ډیره قیمتي سوَرلۍ باندې سفر کولو، په یو ځای کې د ماسپخین د مانځه وخت راغی، د سوَرلۍ نه د مانځه د پاره راکوز شو، ده چې مونځ اوکړو او څاروې یې اوکتو نو په سَرکاري چراګاه کې څریدلې ؤ (ده چونکه د سَرکاري شي نه ډیر ځان ساتل، ځکه په دې کې د ټولو مسلمانانو حصه وي) نو ده دا قیمتي سوَرلي په همدې ځای پریخوده، او په دې سور نه شو. (۳)

---

(۱) دا واقعه په سیرأعلام النبلاء کې په بل انداز ذکر ده : قَالَ الْحَسَنُ بنُ الرَّبِيْعِ: لَمَّا احْتُضِرَ ابْنُ المُبَارَكِ فِي السَّفَرِ. قَالَ: أَشْتَهِي سَوِيقًا. فَلَمْ نَجِدْه إِلَّا عِنْدَ رَجُلٍ كَانَ يَعْمَلُ لِلسُّلْطَانِ، وَكَانَ مَعَنَا فِي السَّفِيْنَةِ، فَذَكَرْنَا ذَلِكَ لِعَبْدِ اللهِ. فَقَالَ: دَعُوْهُ. فَمَاتَ وَلَمْ يَشْرَبْهُ. سیراعلام النبلاء ج ۷ ص ۳۸۵ عبدالله بن المبارک. صلاح الامة في علو الهمة ج ۵ ص ۶۹۷

(۲) قال الحسن بن عرفة : قال لي ابنُ المبارک : استعرتُ قلمًا بأرض الشام . فذهبتُ على أن أردَّه. فلما قدمتُ مَرْوَ نظرتُ فإذا هو معي. فَرَجَعْتُ إِلَى الشَّامِ حَتَّى رَدَدْتُهُ عَلَى صَاحِبِهِ. صلاح الامة في علو الهمة ج ۵ ص ۶۹۷ ، السير ج ۸ ص ۴۱۱.

(۳) سیبَ ابنُ المبارک دابةً قيمتها كثيرةٌ. فَصَلَّى صلاةَ الظهر . فرَتَعَتْ في قريةٍ سُلطانيةٍ . فَتَرَكَ ابْنُ الْمُبَارَكِ الدَّابَّةَ وَلَمْ يَرْكَبْهَا. نزهة الناظرين في الاخبار والآثار المروية عن الانبياء والصالحين ص ۳۵۸ كتاب آداب الكسب والمعاش.

# د ابوعبدالله طوسي رَحِمَهُ اللَّهُ تقوی

د ابو عبدالله طوسي رَحِمَهُ اللَّهُ يوه ګډه وه چې ده به د هغې شوده څکل، ده به په هره ورځ باندې دا چراګاه ته د څرولو د پاره په خپلو اوږو باندې ورله، هلته به ګډه څریده او ده به نفلي مونځ کولو، يوه ورځ دا دګډې نه د لږ وخت د پاره غافله شو نو هغې په يو باغ کې د انګور د اونې پانړې اوخوړې، ده اوکتل چې ګډې د پردي باغ د بوټي پانړې اوخوړې نو ګډه يې په هماغه باغ کې د باغ مالک ته پريخوده، او دا ورنه کور ته راغی. (۱)

# د علامه ابن سيرين رَحِمَهُ اللَّهُ تقوی

علامه ابن سيرين رَحِمَهُ اللَّهُ جليلُ القدر تابعي او په لويو بزرګانو کې شمارو، ډير مالدار و څکه غټ تجارت يې و، خو ليکن ددې سره په کې ډيره زياته تقوی وه، د مُشتبِه مال او مُشتبِه خوراک نه به يې ډير ځان ساتل، که په تجارت کې به ورته ډيره ګټه (منافع) پاتې شوه خو چې معمولي شُبهه به کې پيدا شوه نو هغه ګټه به پريخوده.

۱. يو ځل يې څه خوراک واخيست، په هغې کې ورته اتيا زره (۸۰۰۰۰) درهمه ګټه پاتې کيده خو په زړه کې يې څه شک پيدا شو (چې کيدې شي په دې کې سُود وي) نو هغه ټول خوراک يې پريخود. (۲)

۲. که چا به ده ته (په دُهوکه کې) کوټه (نه چليدونکې) درهم يا کوټه سکې ورکړې نو ده به بيا بل چاته دا نه ورکولې بلکه د ځان سره به يې جمع کولې، څکه بل ته يې

---

(۱) وكان لأبي عبد الله الطوسي التروغندي شاة يحملها على رقبته كل يوم إلى الصحراء ويرعاها وهو يصلي وكان يأكل من لبنها فغفل عنها ساعة فتناولت من ورق كرم على طرف بستان فتركها في البستان ولم يستحل أخذها. إحياء علوم الدين ج ۲ ص ۱۱۲ كتاب الحلال والحرام.

(۲) عَنْ هِشَامٍ عَنِ ابْنِ سِيرِيْنَ أَنَّهُ اشْتَرَى طَعَامًا بَيْعًا مُنْوِنِيًّا فَأَشْرَفَ فِيهِ عَلَى رِبْحِ ثَمَانِينَ أَلْفًا فَعَرَضَ فِي قَلْبِهِ مِنْهُ شَيْءٌ فَتَرَكَهُ. الطبقات الكبرى لابن سعد ج ۷ ص ۱۴۹.

Scanned with CamScanner

ډوکه نه ورکوله ، کله چې وفات کیدو نو دده سره پنځه سوه ګوټه درهمه او کوټه سکې وی.(۱)

۳ . علامه ابن سیرین رَحِمَهُ اللهُ اګرچې تابعي وُ خو بیا هم د تقوی په وجه لویو لویو صحابه کرامو او تابعینو به جنازې ته دا مخکې کولو ، او دا به یې سعادت ګڼړل.

تر دې چې کله مشهور صحابي حضرت انس بن مالک رضي الله عنه وفات کیدلو نو وصیت یې اوکړو چې ابن سیرین دې ماته غُسل راکړي او د جنازې مونځ دې هغه راباندې اوکړي ، چې حضرت انس بن مالک رضي الله عنه وفات شو نو اتفاقي په دې وخت کې ابن سیرین رَحِمَهُ اللهُ په جیل (مَحبَس) کې وُ ، خلقو د هغه ښار امیر نه اجازت واخیست ، ابن سیرین رَحِمَهُ اللهُ ورغی ، حضرت انس رضي الله عنه ته یې غُسل ورکړو ، کفن یې ورکړو ، او د جنازې مونځ یې وریاندې اوکړو ، بیا واپس جیل ته راغی ، خپل کور ته ښکاره نه شو.(۲)

# د امام ابوحنیفه رَحِمَهُ اللهُ تقویٰ

## ۱. د امام ابوحنیفه رَحِمَهُ اللهُ د تقوی په وجه مجوسي اسلام قبول کړو :

امام رازي رَحِمَهُ اللهُ په تفسیر کبیر کې دا واقعه رانقل کړی چې د امام ابوحنیفه رَحِمَهُ اللهُ په یو مجوسي باندې څه قرضه وه ، نو یوه ورځ د هغه کور ته ورغی چې د قرض مطالبه ورنه اوکړي ، هر کله چې د هغه کور ته ور اُورسید نو په دغه وخت کې دده په څپلو پورې نجاست وُ ، ده خپلې څپلې اُوشنډلې ، بې اختیاره دده د څپلو نجاست د مجوسي د کور په دیوال

(۱) كَانَ ابْنُ سِيرِينَ إِذَا وَقَعَ عِنْدَهُ دِرْهَمٌ زَائِفٌ أَوْ سَتُّوقٌ لَمْ يَشْتَرِ بِهِ. فَمَاتَ يَوْمَ مَاتَ وَعِنْدَهُ خَمْسُ مِائَةٍ سَتُّوقَةٍ وَزُيُوفٍ . الطبقات الكبرى لابن سعد ج ۷ ص ۱۵۱ .

(۲) قال ابن عوف: لما مات أنس بن مالك أوصى أن يصلي عليه ابن سيرين ويغسله. قال: وكان ابن سيرين محبوسا، فأتوا الأمير وهو رجل من بني أسد فأذن له، فخرج فغسله وكفنه وصلى عليه في قصر أنس بالطف، ثم رجع فدخل كما هو إلى السجن، ولم يذهب إلى أهله. وفيات الأعيان وأنباء أبناء الزمان لابن خلكان ج ۴ ص ۱۸۲ محمد بن سيرين .

باندې پرېوت، امام ابوحنیفه رحمه الله حیران شو نو د ځان سره یې په زړه کې وویل:

إِنْ تَرَكْتُهَا كَانَ ذَٰلِكَ سَبَبًا لِقُبْحِ جِدَارِ هٰذَا الْمَجُوسِيِّ ، وَإِنْ حَكَكْتُهَا انْحَدَرَ التُّرَابُ مِنَ الْحَائِطِ .

که زه دا نجاست همداسې په دیوال پرېږدم نو دا ددې مجوسي د دیوال د بَدرنګ والي سبب ګرځي، او که دا نجاست را ګروم نو د دیوال نه ورسره معمولي خاوره هم ځي (چې په دې کې د مجوسي د دیوال نقصان دی).

نو په دې سوچ کې حیران ولاړ و، آخر یې دروازه اُوټکوله، یوه وینځه راأووته، ده ورته وویل: ورشه خپل مولا ته دې اُووایه چې بهر په دَروازه کې ابوحنیفه ولاړ دی.

مجوسي ورته بهر راأووت، هغه دا ګمان اوکړو چې ګني امام صاحب د قرض غوښتلو پسې راغلې دی، نو عُذر بیانول یې شروع کړل.

امام ابوحنیفه رحمه الله ورته وویل: د قرض خبره پرېږده د قرض نه اَهمه بله معامله راپېښه شوې. بیا امام صاحب ورته په دیوال باندې د نجاست لږېدو واقعه بیان کړه. او ورته وې ویل: چې اوس به د دیوال د پاکولو څه طریقه وي؟

مجوسي (چې د امام ابوحنیفه رحمه الله تقوی او لِلّٰهیّت اوکتلو نو دومره متأثره شو چې سمدست یې) وویل:

فَأَنَا أَبْدَأُ بِتَطْهِيرِ نَفْسِيْ . فَأَسْلَمَ فِي الْحَالِ .

(دیوال خو به روستو صفا کوو، خو) زه اول د خپل نفس په پاکولو باندې شروع کوم. بیا هغه مجوسي په هماغه وخت اسلام قبول کړو. (۱)

---

(۱) رُوِيَ أَنَّ أَبَا حَنِيفَةَ رَحِمَهُ اللهُ كَانَ لَهُ عَلَى بَعْضِ الْمَجُوسِ مَالٌ فَذَهَبَ إِلَى دَارِهِ لِيُطَالِبَهُ بِهِ . فَلَمَّا وَصَلَ إِلَى بَابِ دَارِهِ وَقَعَ عَلَى نَعْلِهِ نَجَاسَةٌ . فَنَفَضَ نَعْلَهُ فَارْتَفَعَتِ النَّجَاسَةُ عَنْ نَعْلِهِ وَوَقَعَتْ عَلَى حَائِطِ دَارِ الْمَجُوسِيِّ فَتَحَيَّرَ أَبُوحَنِيفَةَ رَحِمَهُ اللهُ وَقَالَ : إِنْ تَرَكْتُهَا كَانَ ذَٰلِكَ سَبَبًا لِقُبْحِ جِدَارِ هٰذَا الْمَجُوسِيِّ ، وَإِنْ حَكَكْتُهَا انْحَدَرَ التُّرَابُ مِنَ الْحَائِطِ . فَدَقَّ الْبَابَ فَخَرَجَتِ الْجَارِيَةُ فَقَالَ لَهَا : قُولِي لِمَوْلَاكِ إِنَّ أَبَا حَنِيفَةَ بِالْبَابِ . فَخَرَجَ إِلَيْهِ وَظَنَّ أَنَّهُ يُطَالِبُهُ بِالْمَالِ ، فَأَخَذَ يَعْتَذِرُ . فَقَالَ أَبُو حَنِيفَةَ رَحِمَهُ اللهُ . هٰهُنَا مَا هُوَ أَوْلَى . وَذَكَرَ قِصَّةَ الْجِدَارِ ، وَأَنَّهُ كَيْفَ السَّبِيلُ إِلَى تَطْهِيرِهِ ؟ فَقَالَ الْمَجُوسِيُّ : فَأَنَا أَبْدَأُ بِتَطْهِيرِ نَفْسِي فَأَسْلَمَ فِي الْحَالِ . ←←←←←←←←←

## ۲ . د قرض داري د دیوال سیوري ( سایه ) ته نه کیناستل

په یو کس باندې د امام ابوحنیفه رَحِمَهُ اللَّهُ قرضه وه ، دا قرض داري چې چیرته اُوسیدو هلته د امام صاحب یو شاګرد وفات شو ، امام صاحب یې جنازې ته ورغی ، په دغه وخت کې سخت تېز نمرؤ ، په هغه ځای کې بل ځای سیورې ( سایه ) نهؤ ، بلکه صرف د یو کور د دیوال سیورې ؤ ، امام صاحب هلته نمر ته ولاړ ؤ ، خلقو ورته وویل : ددې دیوال سیوري ته اُودرېږه ، ده ورته وویل :

ددې دیوال په مالک باندې زما څه قرضه ده نو زما دا نده خوښه چې دده د کور د دیوال سیوري ته کینم ، ځکه دا د قرض نه زیاتي فائده اخیستل دي ، او د قرض نه زیاتي نفع اخیستلو ته په احادیثو کې سوُد ویل شوی .

بیا امام صاحب دا هم اوفرمایل چې زه دا د نورو خلقو د پاره ضروري نه ګنړم چې د قرض داري د دیوال سیوري ته دې نه کیني بلکه صرف عالِم د پاره احتیاط په کار دی ، ځکه د علماؤ مرتبه ډیره اُوچته ده ، نو احتیاط به ډیر کوي .(۱)

## ۳ . په وریځ کې د کپړې دُکان بندول

د امام اعظم ابوحنیفه رَحِمَهُ اللَّهُ د کپړو دُکان ؤ ، یوه ورځ یې د ماسپخین مانځه نه پس د کپړو دُکان بند کړو او کور ته روان شو ، چا ورنه پوښتنه اوکړه :

نعمان ! چیرته روان یې ؟ ده ورته وویل : ته نه ګوری چې په آسمان کې وریځ ده ؟ هغه ورته وویل : چې کله په آسمان کې وریځ ده نو ته دُکان ولې بندوی ؟ ده ورته وویل : زما خو د کپړو دُکان دی او په وریځ کې پوره رڼا نه وي ، اخیستونکي ته کپړه پوره واضحه نه معلومیږي نو هسې نه چې هغه کمزورې کپړه قیمتي اُوګنړي او وایې خلې ( نو

←←← وَالنُّكْتَةُ فِيهِ أَنَّ أَبَا حَنِيفَةَ رَحِمَهُ اللَّهُ لَمَّا احْتَرَزَ عَنْ ظُلْمِ الْمَجُوسِيِّ فِي ذَلِكَ الْقَدْرِ الْقَلِيلِ مِنَ الظُّلْمِ فَلِأَجْلِ تَرْكِهِ ذَلِكَ انْتَقَلَ الْمَجُوسِيُّ مِنَ الْكُفْرِ إِلَى الْإِيمَانِ. فَمَنِ احْتَرَزَ عَنِ الظُّلْمِ كَيْفَ يَكُونُ حَالُهُ عِنْدَ اللهِ تَعَالَى. التفسير الكبير ج ۱ ص ۲۰۲ سورة الفاتحة الفَصْلُ الرَّابِعُ فِي تَفْسِيرِ قَوْلِهِ مَالِكِ يَوْمِ الدِّين.

(۱) تقوی کي اهمیت ص ۹۳ ، خوف خدا کے سچے واقعات ص ۲۳۹ .

ډهوکه به شي ) نو ځکه ډکان بندوم . (۱)

## ٤. مُشتبِه ټوله سَرمایه او ګټه په غریبانانو تقسیمول

امام اعظم ابوحنیفه رَحِمَهُ اللّٰهُ د کپړو تجارت کولو ، یو ځل یې د لکونو روپو کپړې یو تاجر ته ورأولیږلې چې داخرڅې کړه ، تاجر چې اُوکتل چې په دې وخت کې کپړې اَرزانه دي نو ځان سره یې سوچ اوکړو چې که دا دوه میاشتې د ځان سره کیږدم نو بیا به ګرانې شي او خرڅې به یې کړم نو ډیره ګټه (منافع) به اوکړي.

نو تاجر همدغه شان اوکړل ، دوه میاشتې پس چې کپړې په بازار کې ګرانې شوی نو ده خرڅې کړی ، په لکونو روپې ورته ګټه پاتې شوه .

بیا دا ډیر په خوشحالی امام اعظم ابوحنیفه رَحِمَهُ اللّٰهُ ته راغی ، امام صاحب ورنه پوښتنه اوکړه چې دا دومره ډیره ګټه څنګه حاصله شوه ؟

تاجر ورته وویل : ما کپړه دوه میاشتې دِ ځان سره ذخیره کړې وه چې کله په بازار کې ښه ګرانه شوه او د خلقو ضرورت ورته زیات شو نو ما ګرانه خرڅه کړه .

امام صاحب ورته وویل : مَعَاذَ الله ، دا خو تا اِحتکار کړی ، د خلقو د مجبوریت نه دې ناجائزه فائده اخیستی ، تا ته په کار وو چې کله ورته د خلقو ضرورت ؤ نو په هماغه خپل مقرر قیمت به دې خرڅه کړې وی .

امام صاحب ډیر خفه شو ، بیا یې وویل : دا سرمایه اوس زما په کار نه راځي لهٰذا ته دا اصل سَرمایه او ګټه ټوله صدقه کړه .

دا د امام ابوحنیفه رَحِمَهُ اللّٰهُ کمالِ تقوی وه په تجارت کې . (۲)

**۵. بله واقعه** : همدغه شان یوه بله واقعه هم نقل ده : چې حفص بن عبدالرحمن د امام اعظم ابوحنیفه رَحِمَهُ اللّٰهُ د تجارت شریکوال ؤ ، امام صاحب به ده ته کپړه ورلیږله او ده به خرڅوله .

---

(۱) اہل دل کے تڑپا دینے والے واقعات ج ۲ ص ۱۲۳ ، تقوی کی اھمیت ص ۱۷۱ .

(۲) وعظ حقوق مالیہ جلد سوم لمولانا حکیم الاسلام قاری محمد طیب قاسمی رحمہ اللہ . حکیم الاسلام کے پسندیدہ واقعات ص ۱۵۵ .

يو ځل امام اعظم ابوحنيفه رَحِمَهُ اللّٰهُ حفص بن عبدالرحمن ته کپړه د خرڅولو د پاره وراُوليږله او ورته وې ويل چې :

په فلانی کپړه کې دا عيب دی څوک يې چې اخلي نو هغه ته دا عيب اُوښايه .

حفص بن عبدالرحمن هغه کپړه خرڅه کړه خو اخيستونکي ته عيب بيانول ورنه هېر شو ، بيا دا هم ورته معلومه نه وه چې ما دا عيب جَنه کپړه په چا باندې خرڅه کړې وه .

کله چې امام اعظم ابوحنيفه رَحِمَهُ اللّٰهُ ته دا معلومه شوه چې ده اخيستونکي ته د کپړې عيب ندې بيان کړی نو هغه ته يې چې څومره کپړه ليږلې وه د هغې ټولې روپۍ چې تقريبا ديرش زره ۳۰۰۰۰ درهمه جوړيدل ، دا ټول يې صدقه کړل ، او ورسره يې د حفص بن عبدالرحمن نه خپل تجارت هم جدا کړو . ( ځکه هغه په تجارت کې احتياط اونکړو ) . (۱)

## ۶ . د احتياط په وجه اُووه کاله پورې د چيلۍ غوښه نه خوړل

په امام اعظم ابوحنيفه رَحِمَهُ اللّٰهُ کې ډېره زياته تقوی او پرهيزګاري وه ، د حرام او مُشتبِه شيانو نه به يې ډير ځان ساتل :

مشهور مُحدّث " عبدالله بن مُبارک رحمه الله " فرمايي چې يو ځل مُفسدانو خلقو د غلا څه چيلۍ کوفې ته راوستی ، دا چيلۍ د کوفې د چيلو سره داسې ګډې ( خَلط ) شوی چې بيا په کې تَمييز نه شو کيدی .

د امامِ ابوحنيفه رَحِمَهُ اللّٰهُ سره دا يَره پيدا شوه چې هسې نه قصابان دا د غلا چيلۍ واخلي ، حلالې يې کړي ، او زه چيرته په ناخبری کې ددې غوښه کور ته رانه وَړم ، نو امام صاحب د خلقو نه پوښتنه اوکړه : كَمْ تَعِيشُ الْغَنَمَ ؟ د چيلۍ عُمر څومره وي ؟

خلقو ورته وويل : سَبْعَ سِنِيْنَ . اُووه ( ۷ ) کاله .

فَتَرَكَ أَكْلَ لَحْمِ الْغَنَمِ سَبْعَ سِنِيْنَ .

نو امام صاحب د اُووه ( ۷ ) کالو پورې د چيلۍ د غوښې خوراک پريخود ( ددې د پاره چې د غلا د چيلو غوښه په ناخبری کې زما خيټې ته لاړه نشي ) .

---

(۱) تقوي کي اهميت ص ۹۲ .

بیا امام صاحب په دغه ورځو کې بعضې سَرکاري خلق (عَسکر) اُولیدل چې د چیلو غوښه یې خوړه، او ددې فُضلات (کولمې، هډوکې وغیره) یې د کوفې په دریاب کې اُوغورځول.

فَسَأَلَ عَنْ عُمرِ السَّمَکِ. نو امام صاحب د خلقو نه د ماهي د عُمر په باره کې پوښتنه اوکړه (چې دده تول څومره عُمروي؟). خلقو ورته دا هم اُوخودو.

فَامْتَنَعَ مِنْ اَکْلِ السَّمَکِ تِلْکَ الْمُدَّةِ.

بیا امام صاحب همدومره موده د ماهي غوښه هم نه خوړه. (۱)

## ۷. د مریض وفات کیدو سره ډیوه مړه کول

امام ابو حنیفه رَحِمَهُ اللّٰهُ به د پرَدي مال نه دومره ځان ساتل چې یو ځل د شپې د یو مریض بیمارپُرسۍ له لاړو، کله یې چې د مریض بیمار پُرسي اوکړه او واپس راتللو نو په دې وخت کې ددې کس د زنکدن حالت شروع شو، امام صاحب واپس کیناستلو، دې مریض سره نزدې د رَڼا د پاره یوه ډیوه لږیدلې وه، لږ ساعت پس مریض وفات شو نو امام صاحب سمدستي هغه ډیوه مړه کړه.

خلقو ورته وویل: دا ډیوه دې ولې مړه کړه؟ ده ورته وویل: تر څو پورې چې دا ژوندې ؤ نو ډیوه دده په مِلکیت کې وه خو چې کله دا وفات شو نو دا وارثانو مِلکیت ته لاړه، اوس د وارثانو د اجازت نه بغیر دا زمونږ د پاره بَلول ناجائز دي نو ځکه ما مړه کړه. (۲)

## د یوې صالحې (نیکې) ښځې تقویٰ

۱. یوه صالحه (نېکه) ښځه وه، ډیوه یې ځانته د شپې لږولې وه په دې وخت کې ورته د خاوند د مرګ خبر راغی نو دې ډیوه بنده کړه او وې ویل:

هٰذَا زَیْتٌ قَدْ صَارَ لَنَا فِیْهِ شَرِیْکٌ.

---

(۱) عقود الجمان ص ۲۲۳، ترغیب المسلمین فی الرزق الحلال وطعمة الصالحین لمولانا موسی خان روحاني بازي رحمه الله ص ۴۰۰.

(۲) خوف خدا کے سچے واقعات ص ۲۲۰

Scanned with CamScanner

په دې تېلو کې اوس د مونږ سره نور خلق هم شريک شو ( نو ځکه ځانله زما د پاره استعمالول يې صحيح ندي ).(۱)

۲ . همدغه شان يوه بله واقعه هم ده چې يوې صالحې (نېکې) ښځې اوړه اَغږل، په دې وخت کې ورته د خاوند د مرګ خبر راغې نو دې د اُوړو نه لاسونه راپورته کړل (راپاڅيده) او وې ويل :

هَذَا طَعَامٌ قَدْ صَارَ لَنَا فِيْهِ شَرِيْكٌ .

په دې خوراک کې اوس د مونږ سره نور خلق هم شريک شو ( يعني دا اوس ميراث اوګرځيد او نور خلق په دې ميراث کې راسره شريک دي نو ځکه يې ځانله نه خورم ).(۲)

## د ميمونة بنت اقرع رحمها الله تقوٰی

ميمونه بنت اقرع رحمها الله ډيره عبادت ګزاره او پرهيزګاره زَنانه وه، دې به په خپل لاس باندې د وَړيه يا مالوچو نه تارونه جوړول، دا به يې خرڅول، او د دې خپل لاس حلاله ګټه به يې استعمالوله، د مُشتبِه مال نه به يې سخت پرهيز کولو .

په "طبقاتُ الحنابله" کتاب کې د دې يوه واقعه ذکر ده : شيخ مروزي رحمه الله فرمايي چې ما يوه ورځ امام احمد بن حنبل رحمه الله ته د دې ميمونه بنت اقرع د مُشتبِه څيزونو نه د پرهيز او احتياط يوه واقعه بيان کړه، چې کله دې د وړيه نه تارونه جوړ کړل، او دا يې د تارونو خرڅوونکي دُکاندار سره د خرڅ د پاره کېښودل، نو هغه ته يې وويل :

إِذَا بِعْتَ هٰذَا الْغَزْلَ فَقُلْ : إِنِّيْ رُبَّمَا كُنْتُ صَائِمَةً فَأَرْخِيْ يَدِيْ فِيْهِ .

---

(۱) عَنْ بَعْضِ أَهْلِ الْعِلْمِ أَنَّ امْرَأَةً أَتَاهَا نَعْيُ زَوْجِهَا وَالسِّرَاجُ يَتَّقِدُ، فَأَطْفَأَتِ السِّرَاجَ، وَقَالَتْ : هَذَا زَيْتٌ قَدْ صَارَ لَنَا فِيْهِ شَرِيْكٌ . الورع لابن ابي الدنيا ج ۱ ص ۹۹ بَابُ أَخْبَارِ الْوَرِعِيْنَ.

(۲) عَنِ الْعَبَّاسِ بْنِ سَهْمٍ، أَنَّ امْرَأَةً مِنَ الصَّالِحَاتِ أَتَاهَا نَعْيُ زَوْجِهَا وَهِيَ تَعْجِنُ، فَرَفَعَتْ يَدَيْهَا مِنَ الْعَجِيْنِ، وَقَالَتْ : هَذَا طَعَامٌ قَدْ صَارَ لَنَا فِيْهِ شَرِيْكٌ . الورع لابن ابي الدنيا ج ۱ ص ۹۹ بَابُ أَخْبَارِ الْوَرِعِيْنَ. صلاح الامة في علو الهمة ج ۵ ص ۷۲۳ علو الهمة في الورع ، موسوعة الأخلاق الإسلامية ج ۲ ص ۸۶ .

Scanned with CamScanner

چې ته کله د وَرِی دا تارونه خرڅوی نو هغه اخیستونکي ته زما د طرفه وایه چې : زه کله روژه یم ، د کمزورتیا د وجې کله زما لاسونه سست شي ( اِمکان شته چې د تارونو جوړولو په وخت په دې کې څه نقصان پیدا شوې وي ، او سَم مضبوط نه وي راغلي ، اوس ستا خوښه ، که اَخلی یې او که نه ؟ ) ، میمونې دا خبره دُکاندار ته اوکړه ، او ورنه روانه شوه . په لاره کې یې اِطمینان رانغی ، واپس راغله ، دُکاندار ته یې وویل : چې ماله زما تارونه واپس راکړه : أَخَافُ أَنْ لَا يُبَيِّنَ الْغَزَّالُ هٰذَا .

د مَاسره دا یَره ده چې خرڅوونکې به دا عیب بیان نه کړي ( نو په دې سره به زما ګټه مُشتبِه شي ، نو خپل تارونه یې ورنه واپس وې وَړل ) .

امام احمد بن حنبل رحمه الله چې د میمونه بنت اقرع رحمه الله دا د اِحتیاط او تقوی نه ډکه واقِعه واوریده نو دُعا یې ورته اوکړه چې : اې الله ! په دې زَنانه باندې رَحم اوکړې ( چې دا څومره مُتقي او پرهیزګاره ده ) .(١)

## د بشر بن الحارث رحمه الله د خور "مُخه" تقویٰ

١ . د امام احمد بن حنبل رحمه الله ځوي عبدالله بن احمد وایي چې یو کرت د بشر بن الحارث خور "مُخه" زما پلار ته راغله ، او په پَرده کې یې ورنه د دې مسئلې پوښتنه اوکړه : چې زه یوه ښځه یم ، زما ټوله سَرمایه دوه دانِقه ده (٢) زه په دې دوه دانِقو باندې مالوچ واخلم ، د دې نه په خپل لاس باندې تارونه جوړ کړم ، بیا دا تارونه په درې دانقه باندې خرڅوم ( نو ماته یو دانق په ګټه کې پاتې شي ) بیا زه په دې یو دانق باندې د یوې جُمعې نه

---

(١) أَخْبَرَنَا المروذي قَالَ و ذكر لأبي عَبْدِ اللهِ ميمونة بنت الأقرع المُتعبدة . فقلتُ له إنها أرادت أَنْ تَبِيْعَ غزلها . فقالت للغزال : إِذَا بِعْتَ هٰذَا الغَزْلَ فَقُلْ : إِنِّي رُبَمَا كُنْتُ صَائِمَةً فَأَرْخِي يَدِي فِيْهِ . ثُمَّ ذَهَبَتْ . وَرَجَعَتْ ، فقالت : رد عَلَيَّ الغَزْلَ أَخَافُ أَنْ لَا يُبَيِّنَ الْغَزَّالُ هٰذَا . فترحم أَبُو عَبْدِ اللهِ عليها . طبقات الحنابلة ج١ ص ٤٢٦ ميمونة الاقرع ، ترهيب المسلمين فى الرزق الحلال وطعمة الصالحين ص ٤٢٧

(٢) په یو دِرهم کې شپږ دانِقه وي ، او د دې زَنانه ټوله سَرمایهٔ دوه دانقه وه ، یعنی د دې ټوله سَرمایه د یو دِرهم دریمه حصه وه .

تر بلې جُمعې پورې گزاره کوم ، یوه شپه ابن طاهر د خپلو ملگرو سره راروان ؤ ، د هغه سره د رڼا قندیلونه هم وو .

( ابن طاهر یو ظالم کس ؤ ، د حکومت د طرفه مقرر شوی ؤ چې شپې به یې گشت کولو ، د بغداد په ښار کې به گرځیدو ) .

کله چې ابن طاهر په لاره تیریدو نو زما د کور سره څنګ کې څه وخت د پاره اُودرید ، ځکه د خلقو سره یې د ضروري اُمورو او مَصالحو په باره کې خبرې کولې ، ما چې کله د قندیل دا رڼا اُولیده نو دا مې غنیمت اوګنړله ، او په دې رڼا کې مې د مالوچو یو څو تارونه جوړ کړل ، کله چې ابن طاهر لاړ نو ما سره دا فکر پیدا شو چې الله ﷻ به د مانه د دې په باره کې پوښتنه کوي ( ځکه دا خو سَرکاري رڼا وه ، او دا خو صرف د سَرکاري کارونو د پاره مقرر شوې وه ، حالانکه ما دې نه خپله فائده واخیسته ، او څه تارونه مې په کې جوړ کړل ، نو په دې سره خو زما گټه مُشتبِه شوه )

اې احمد بن حنبل ! ما د دې پریشانۍ نه خلاصه کړه ( او ما ته د دې په باره کې صحیح جواب راکړه چې زه اوس څه اوکړم ؟ ) الله ﷻ دې تاسو ته هم د هر قِسمه پریشانیانو نه خلاصې درکړي .

امام احمد بن حنبل رحمه الله چې د دې زنانه تقوی ، پرهیزګاری او اِحتیاط ته اوکتل نو ورته وې وېل :

ته اوس دا ټول تارونه د الله ﷻ په لاره کې خرچ کړه ، اګرچې ستا راْسُ المال (یعنی ټوله سَرمایه ) به هم د تاسره پاتې نشي ، خو الله ﷻ به تا ته د دې بهترین عِوض درکړي .

د امام احمد بن حنبل رحمه الله ځوي عبدالله وایي چې کله دا زنانه لاړه نو ما خپل پلار ته وویل : يَا أَبَتِ ! لَوْ قُلْتَ لَهَا لَوْ أَخْرَجَتِ الَّذِيْ أَدْرَكَتْ فِيْهِ الطَّاقَاتِ .

اې پلاره ! که چیرته دا دې زنانه ته دا حکم کړې وی چې : " تا څو مره تارونه د ابن طاهر په رڼا کې جوړ کړي دي صرف هغه صدقه کړه " . نو دا به ډیره ښه وه ( ځکه په دې سره به د هغې سَرمایه بَچ شوې وه ، حالانه تاسو خو هغې ته د ټولو تارونو صدقه کولو حکم اوکړو )

امام احمد بن حنبل رحمه الله وفرمایل :

يَا بُنَيَّ ! سُؤَالُهَا لَا يَحْتَمِلُ التَّأْوِيْلَ .

اې ځویه ! د هغې سوال په دومره تقوی او اِحتیاط باندې مَبني وُ چې د هغې د پاره ددې جواب نه علاوه بل جواب مناسب نه وُ .

عبدالله وايي چې بيا ماته والد صاحب وويل :

مَنْ هٰذِهٖ ؟ دا زَنانه څوک وه ؟ ما ورته وويل : مُخّة أخت بشر بن الحارث.

دا د بشر بن الحارث خور " مُخّه " وه .

امام احمد بن حنبل رحمه الله وفرمايل : د همدې اِحتیاط او تقوی په وجه خو ورته الله ﷻ دومره لوي مقام ورکړې دی .(۱)

۲ . د همدې زَنانه متعلق يوه بله واقعه هم نقل ده چې دا يو ځل امام احمد بن حنبل رحمه الله له راغله ، سلام يې واچول ، او په پَرده کې يې ورنه پوښتنه اوکړه :

زه يوه زَنانه يم ، د شپې د ډيوې رَڼا ته د وَرِی نه تارونه جوړوم ، کله چې ډيوه مړه شي نو زه بيا د سپوږمۍ په رَڼا کې تارونه جوړوم ،

فَعَلَيَّ أَنْ أُبَيِّنَ غَزْلَ الْقَمَرِ مِنْ غَزْلِ السِّرَاجِ ؟

آيا په ما باندې (اوس) دا لازم دي چې زه ( د تارونو خرڅولو په وخت ) اخيستونکي ته د سپوږمۍ په رڼا کې د جوړ شوو تارونو او د ډيوې په رڼا کې د جوړ شوو تارونو په مينځ کې جُدائي اوکړم ؟ ( چې دا تارونه مې د سپوږمۍ په رڼا کې جوړ کړي ، او دا نور مې د

---

(۱) وقَال عَبْدُ الله بْنُ أَحْمَد جاءتْ مُخّة أخت بشر بن الحارث إلى أبي فقالت له إنّي امرأة رأس مالي دانقين ، أشتري القطن فأردنه فأبيعه بنصف درهم . فأتقوت بدانق من الجُمعة إلى الجمعة فمرّ ابن طاهر الطائف ومعه مشعل فوقف يُكلم أصحاب المصالح . فاستغنمتُ ضوءَ المشعل . فغزلتُ طاقات . ثم غاب عني المشعل ، فعلمتُ أن لله في مطالبة فخلّصني خلّصكَ الله . فقال لها تخرجين الدانقين وتبقين بلا رأس مالٍ حتى يعوضك الله خيرًا . قال عبد الله : فقلتُ لأبي يا أبت ! لو قلتَ لها لو أخرجت الذي أدركت فيه الطاقات . فقال : يَا بُنَيَّ ! سُؤَالُهَا لَا يَحْتَمِلُ التَّأْوِيْلَ . ثُمَّ قَالَ : مَنْ هَذِهٖ ؟ قلتُ مُخّة أخت بشر بن الحارث . فقال : من ههنا أُتيت. طبقات الحنابلة ج۱ ص ۴۲۷ مخة اخت بشر بن الحارث ، ترغيب المسلمين في الرزق الحلال وطعمة الصالحين ص ۴۲۰ .

ډیوې په رڼا کې جوړ کړي ).

امام احمد بن حنبل رحمه الله ورته او فرمایل:

إِنْ كَانَ عِنْدَكِ بَيْنَهُمَا فَرْقٌ فَعَلَيْكِ أَنْ تبيني ذَلِكَ.

که چیرته ستا په نزد باندې په دې دواړه قسمه تارونو کې ( د ښه او خراب په اعتبار سره ) فرق وي نو بیا په تا باندې لازم دي چې ته اخیستونکي ته د دواړو په مینځ کې د فرق خبره اوکړې.

د مسئلې آوریدو نه پس دا ښځه لاړه، د امام احمد بن حنبل رحمه الله ځوی عبدالله وایي چې زما پلار ددې زنانه د تقوی، احتیاط او د داسې عجیبه پوښتنې په کولو سره ډیر متأثره شو، او وې ویل:

مَا سَمِعْتُ قَطُّ إِنْسَانًا يَسْأَلُ عَنْ مِثْلِ هٰذَا...

ما تر اوسه پورې داسې یو انسان ندې لیدلی چې دداسې احتیاط او تقوی نه ډکې مسئلې تپوس یې کړې وي...(۱)

## د کهمس رَحِمَهُ اللهُ تقوٰی

کهمس رَحِمَهُ اللهُ فرمایي چې د مانه یوه ګناه شوې زه د ډیر خفګان نه په هغې باندې د څلوېښتو (۴۰) کالو نه ژاړم ( چې الله تعالی یې راته معاف کړي )، هغه ګناه داده چې یو

(۱) قَالَ عَبْدُ اللهِ بْنُ أَحْمَدَ بن حنبلٍ كنتُ مع أبي يومًا من الأيامِ في المنزل فدق داق الباب، قَالَ لي: أُخرج فانظرْ مَنْ بِالباب؟ قَالَ فخرجتُ فإذا امرأةٌ قَالَتْ لي: إِستأذنْ لي عَلَى أبي عَبْدِاللهِ. يعني أباه. قَالَ: فاستأذنتُه فقال: أدخلها قد خلتْ فجلستْ فسلّمتْ عليه وقالت له: يا أبا عَبْدَ الله! أنا أمرأةٌ أغزلُ بالليلِ في السّراج. فربما طفئ السّراج. فأغزل في القمر. فَعَلَيَّ أن أُبَيِّنَ غَزْلَ الْقَمَرِ مِنْ غَزْلِ السِّرَاجِ؟ قَالَ فقال لها: إِنْ كَانَ عِنْدَكِ بَيْنَهُمَا فَرْقٌ فَعَلَيْكِ أَنْ تبيني ذَلِكَ.... قَالَ فودعته وخرجتْ. قَالَ فقال لي: يا بُنَيَّ! مَا سَمِعْتُ قَطُّ إِنْسَانًا يَسْأَلُ عَنْ مِثْلِ هَذَا. اتبع هذه المرأة فانظر أين تدخل قَالَ فاتبعتها فإذا هي قد دخلت إلى بيت بشر بن الحارث وإذا هي أخته قَالَ فرجعت فقلت له فقال محال أن تكون مثل هذه إلا أخت بشر. طبقات الحنابلة ج۱ ص۴۲۸ مخة اخت بشر بن الحارث، ترغيب المسلمين في الرزق الحلال وطعمة الصالحين ص ۴۳۵.

Scanned with CamScanner
Scanned with CamScanner

ځل زما ملاقات له زما يو ورور راغی ، ما هغه له په يو دانق باندې وريت شوې ماهي واخيست ، هر کله چې هغه د خوراک نه فارغ شو نو ( د هغه د لاسونو غوړوالي ختمولو د پاره ) ما د ګاونډي د ديوال نه لږه خاوره راواخيسته ، ده وريانديې لاسونه ووينځل ( نو په دې ګناه باندې څلويښت کاله تيريدو باوجود زه اوس هم ژاړم او خفګان کوم ) حالانکه ما ځانته دا خاوره حلاله نه وه ګڼړلی .(۱)

## د أدهم رَحِمَهُ اللّٰهُ تقوىٰ

ابن بطوطه په خپله سفر نامه کې ليکلي دي چې يوه ورځ د ابراهيم بن أدهم رحمه الله پلار " أدهم " د بُخارا د باغونو په طرف تېريدو ، د يو نهر په غاړه باندې د أودس کولو د پاره کيناست ، (دا نهر د يو باغ په مينځ کې راغلې ؤ) ، په نهر کې يوه منړه راروانه وه ، ده سوچ اوکړو چې ددې په خوړلو کې څه بَدوالي نشته نو دا منړه يې راأونيوه او وې خوړه ، روستو ورته دا سوچ ورغی چې ما خو دا منړه د مالک د اجازت نه بغير اوخوړه ، او په ناجائزه طريقې سره مې أوخوړه ، دې خيال سره د باغ د مالک پسې وَر روان شو ، چې د هغه نه اجازت أوغواړي .

ذ کوم باغ نه چې دا منړه راغلې وه ده د هغې باغ دَروازه اووهله ، ددې باغ مالِکه يوه ښځه وه ، ده هغې ته ټوله واقعه بيان کړه او د منړې معاف کولو درخواست يې ورته اوکړو ،

(۱) قال كهمس : أذنبتُ ذنباً أبكي عليه من اربعين سنة ، وذلك أنه زارني أخ لي ، فاشتريت بدانق سمكة مشوية ، فلما فرغ أخذتُ قطعة طين من جدار جار لي ، حتى غسل يده ، ولم أستحله . نزهة الناظرين في الاخبار والآثار المروية عن الانبياء والصالحين ص ۳۵۷ كتاب آداب الكسب والمعاش .

وفي رواية : عَنْ عُمَارَةَ بن زَاذَانَ قَالَ: قَالَ لِي كَهْمَسُ أَبُو عَبْدِ اللهِ: يَا أَبَا سَلَمَةَ أَذْنَبْتُ ذَنْبًا فَأَنَا أَبْكِي عَلَيْهِ مُنْذُ أَرْبَعِينَ سَنَةً . قُلْتُ مَا هُوَ يَا أَبَا عَبْدِ اللهِ ؟ قَالَ : « زَارَنِي أَخٌ لِي فَاشْتَرَيْتُ لَهُ سَمَكًا مَشْوِيًّا بِدَانِقٍ، فَلَمَّا أَكَلَ قُمْتُ إِلَى حَائِطٍ لِجَارٍ لِي مِنْ لَبِنٍ، فَأَخَذْتُ مِنْهُ قِطْعَةً يَغْسِلُ بِهَا يَدَهُ، فَأَنَا أَبْكِي عَلَيْهِ مُنْذُ أَرْبَعِينَ سَنَةً » . الورع لابن ابي الدنيا ج ۱ ص ۱۰۱ بَابُ أَخْبَارِ الْوَرِعِينَ .

وفي رواية : قَالَ: كَهْمَسُ الْهِلَالِيُّ: بَكَيْتُ عَلَى ذَنْبٍ عِشْرِينَ سَنَةً قَالُوا: وَمَا هُوَ قَالَ : تَغَدَّيْتُ رَجُلًا فَأَخَذْتُ مِنْ جِدَارِ جَارٍ لِي قِطْعَةَ لَبِنَةٍ لِيَغْسِلَ يَدَهُ . شعب الايمان ج ۲ ص ۲۳۵ رقم ۷۹۹ الخوف من الله تعالى .

Scanned with CamScanner

هغې ورته وویل: دا باغ نیم زما دی او نیم د بَلخ د بادشاه دی ما خود رته خپله نیمه حصه منره معاف کړه، او هغه بادشاه خو ډیر لرې دی، ځکه ددې ځای نه د بَلخ پورې لس ورځې مزل دی.

آدهم رحمه الله ددې باقي نیمې منرې معاف کولو دپاره بَلخ ته روان شو، کله چې هلته وَرَ اُورسیدو نو د بادشاه سوَرلي د جلوس سره روانه وه، ده په دې حالت کې بادشاه ته د منرې خوړلو ټوله قصه اوکړه، او د باقي نیمې حصې منرې معاف کولو غوښتنه یې اوکړه.

بادشاه ورته وویل:

زه اوس څه نشم ویلی، صبا ماله راشه (بیا به په دې باندې خبرې اوکړو).

د بادشاه یوه ډیره ښائسته لور وه، ډیرو شهزادګانو ورته د نکاح پیغامونه رالیږلي وو، خو بادشاه به انکار کولو، ځکه دا جینۍ ډیره پرهیزګاره او عبادت ګزاره وه، دې دا غوښتنه چې د یو پرهیزګاره سړي سره واده اوکړي.

کله چې بادشاه خپل مَحل ته راغی نو لور ته یې د آدهم واقعه بیان کړه، او وې ویل چې ما تر اوسه داسې پرهیزګار کس ندې لیدلی چې د نیمې منرې معاف کولو د پاره د بخارا نه دلته راغلی، لنډه دا چې دا شهزادګۍ ددې آدهم سره په نکاح کولو راضي شوه.

په صبا باندې چې آدهم د بادشاه دَربار ته راغی (او د نیمې منرې معاف کولو مطالبه یې اوکړه) نو بادشاه ورته وویل:

تر څو پورې چې تا زما د لور سره نکاح نه وي کړې دا نیمه منره درته نه معاف کوم، آدهم رحمه الله اِنکار اوکړو، آخِر مجبور شو او نکاح ته تیار شو.

کله یې چې د شهزادګۍ سره نکاح اوکړه او کور ته لاړ، نو شهزادګۍ ته یې چې اُوکتل نو ډیره ښائسته وه، او ډیره په ډَول و سِینګار برابره وه، دا د کمرې په یو ګنج (ګټ) کې په مانځه اُودرید او د سهره پورې په عبادت مشغول وُ، اُووه شپې مسلسل هره شپه تر سهره پورې ادهم رحمه الله عبادت اوکړو.

اُووه ورځې پس ورته بادشاه دا نیمه منره معاف کړه، آدهم رحمه الله په آتمه شپه باندې د غُسل کولو نه پس په مانځه باندې اُودرید، مونځ یې اوکړو، بیا یې یوه چَغه اُووهله، په مُصَلّه باندې په سجده پریوتلو، خلقو چې اُوکت نو آدهم رحمه الله وفات شوی وُ.

هغې ورته وويل : دا باغ نيم زما دی او نيم د بَلخ د بادشاه دی ما خودرته خپله نيمه حصه منړه معاف کړه ، او هغه بادشاه خو ډير لرې دی ، ځکه ددې ځای نه د بَلخ پورې لس ورځې مزل دی.

آدهم رحمه الله ددې باقي نيمې منړې معاف کولو دپاره بَلخ ته روان شو ، کله چې هلته وَرَ اُورسيدو نو د بادشاه سوَرلي د جلوس سره روانه وه ، ده په دې حالت کې بادشاه ته د منړې خوړلو ټوله قصه اوکړه ، او د باقي نيمې حصې منړې معاف کولو غوښتنه يې اوکړه . بادشاه ورته وويل :

زه اوس څه نشم ويلی ، صبا ماله راشه (بيا به په دې باندې خبرې اوکړو) .

د بادشاه يوه ډيره ښائسته لور وه ، ډيرو شهزادګانو ورته د نکاح پيغامونه راليږلي وو ، خو بادشاه په انکار کولو ، ځکه دا جينۍ ډيره پرهيزګاره او عبادت ګزاره وه ، دې دا غوښته چې د يو پرهيزګاره سړي سره واده اوکړي .

کله چې بادشاه خپل مَحل ته راغی نو لور ته يې د آدهم واقعه بيان کړه ، او وې ويل چې ما تر اوسه داسې پرهيزګار کس ندې ليدلی چې د نيمې منړې معاف کولو د پاره د بخارا نه دلته راغلی ، لنډه دا چې دا شهزادګۍ ددې آدهم سره په نکاح کولو راضي شوه .

په صبا باندې چې آدهم د بادشاه دَربار ته راغی ( او د نيمې منړې معاف کولو مطالبه يې اوکړه ) نو بادشاه ورته وويل :

تر څو پورې چې تا زما د لور سره نکاح نه وي کړي دا نيمه منړه درته نه معاف کوم ، آدهم رحمه الله اِنکار اوکړو ، آخِر مجبور شو او نکاح ته تيار شو .

کله يې چې د شهزادګۍ سره نکاح اوکړه او کور ته لاړ ، نو شهزادګۍ ته يې چې اُوکتل نو ډيره ښائسته وه ، او ډيره په ډَول و سِينګار برابره وه ، دا د کمرې په يو ګُنج (ګُټ) کې په مانځه اُودريد او د سهره پورې په عبادت مشغول وُ ، اُووه شپې مسلسل هره شپه تر سهره پورې ادهم رحمه الله عبادت اوکړو .

اُووه ورځې پس ورته بادشاه دا نيمه منړه معاف کړه ، آدهم رحمه الله په آتمه شپه باندې د غُسل کولو نه پس په مانځه باندې اُودريد ، مونځ يې اوکړو ، بيا يې يوه چَغه اُووهله ، په مُصَلّه باندې په سجده پريوتلو ، خلقو چې اُوکت نو آدهم رحمه الله وفات شوې وُ .

Scanned with CamScanner

ددې شهزادګۍ د آدهم رحمه الله نه يو هلک په خېټه شوې ؤ ، کله چې پيدا شو (نوم يې ورله ابراهيم کيښود) چونکه ددې بادشاه ځامن نه وو نو حکومت همدې ابراهيم بن آدهم رحمه الله ته پاتې شو.(۱)

**فائده** : ابراهيم بن آدهم رحمه الله يو ډير لوي بزرګ مُتقي او وَلِيُّ الله ؤ ، ده ته چې الله ﷻ دومره لوي مقام ورکړې ؤ په دې کې ضرور دده د پلار "آدهم رحمه الله" د تقوى او د حرام مال نه د پرهيز اثر ؤ ځکه "آدهم رحمه الله" د حرام او مُشتبِه مال نه دومره ځان ساتل چې د نيمې منړې معاف کولو د پاره يې د بُخارا نه بَلخ ته سفر اوکړو.

(د ابراهيم بن آدهم رحمه الله د تقوى او پرهيزګارۍ ډير واقعات مشهور دي چې هغه به د هر قسمه حرام خوراک او ګناهونو نه ځان ساتل ، تر دې چې د خلقو د غيبت نه به يې هم ډير ځان ساتل ).(۲)

## د عطاء سليمي رَحِمَهُ اللهُ تقوىٰ

عطاء سليمي رَحِمَهُ اللهُ وايي چې ما په يوه ګناه باندې څلويښت (۴۰) کاله اُوژړل ، هغه ګناه دا وه چې ما يوه کونتره رانيولې وه (اوس مې په هغې کې شک دی چې کيدې شي هغه د بل چا وه) ، اګرچې ما د هغې قيمت په مسکينانو باندې تقسيم کړې دی .(۳)

(۱) سفر نامه ابن بطوطه ج۱ ص۱۰۶ ، خوږې ملغلرې رومي حصه ص۱۱۲ واقعه ۲۴۱ .

(۲) عَنْ إِبْرَاهِيمَ بْنِ أَدْهَمَ رَحِمَهُ اللهُ أَنَّهُ دُعِيَ إِلَى وَلِيمَةٍ ، فَحَضَرَ ، فَذَكَرُوا رَجُلًا لَمْ يَأْتِهِمْ ، فَقَالُوا : إِنَّهُ ثَقِيلٌ. فَقَالَ إِبْرَاهِيمُ : أَنَا فَعَلْتُ هٰذَا بِنَفْسِي حَيْثُ حَضَرْتُ مَوْضِعًا يُغْتَابُ فِيهِ النَّاسُ ، فَخَرَجَ وَلَمْ يَأْكُلْ ثَلَاثَةَ أَيَّامٍ . الرسالة القشيرية ۱/ ۵۰۸ ، الأذكار للنووي ج۱ ص۵۴۰ فصل حرمة الغيبة وحرمة سماعها .

(۳) وَقَالَ عَطَاءٌ السُّلَيْمِيُّ بَكَيْتُ عَلَى ذَنْبٍ أَرْبَعِينَ سَنَةً صِدْتُ حَمَامَةً وَإِنِّي أَحْمَدُ اللهَ إِلَيْكُمْ تَصَدَّقْتُ بِثَمَنِهَا عَلَى الْمَسَاكِينِ" . قَالَ الْبَيْهَقِيُّ رَحِمَهُ اللهُ: وَكَأَنَّهُ ارْتَابَ بِهَا هَلْ هِيَ مَمْلُوكَةٌ أَوْ غَيْرُ مَمْلُوكَةٍ . شعب الايمان ج ۲ ص ۲۳۶ الخوف من الله تعالى .

**نوټ** : دا واقعه ددې (اصلاحي مدلل تقريرونه) کتاب په څوارلسم جلد صفحه ۵۱ باندې د غيبت په موضوع کې ذکر ده . ابوالشمس علي عنه

Scanned with CamScanner

# د يو تابعي تاجر تقویٰ

په تابعينو کې يو تاجرؤ چې په بصره کې اُوسيدو ، او دده غلام په سُوس ښار کې اُوسيدو ده به غلام ته چيني ورَاُوليږله نو هغه به هلته خرڅوله ، يو ځل ده ته غلام خط رااُوليږل چې سږ کال په ګنو باندې آفت راغلې دی (چيني به ګرانيږي) نو تاسو ډيره چيني واخلئ .

ده دلته د يو دُکاندار نه ډيره چيني د تجارت د پاره واخيسته ، کله چې د خرڅولو وخت راغی نو ده په کې ديرش زره (۳۰۰۰۰) درهمه اُوګټل ، کله چې کور ته لاړ نو ټوله شپه يې د ځان سره دا سوچ کولو چې :

ربحتُ ثلاثين ألفًا وخسرتُ نصحَ رجلٍ مِن المسلمين .

ما خو ديرش زره درهم اُوګټل خو د يو مسلمان سره د خېر خواهۍ نه کولو ګناه مې هم اوکړه .

کله چې سهر شو نو دا تاجر هغه کس ته راغی چې د چا نه يې چيني اخيستې وه هغه ته يې ديرش زره دِرهم ورکړل او ورته وې ويل :

بَارَكَ اللهُ لَكَ فِيْهَا . الله تعالی دې تاته په دې کې برکت واچوي ( دا واخله ) .

هغه ورته وويل : تاسو ماله دا روپۍ د څه شي په عوض کې راکوی ؟

ده ورته وويل : کله چې ما د تانه چيني اخيسته نو په هغه وخت کې چيني ډيره ګرانه وه خو ما د تانه حقيقتِ حال پَټ کړې ؤ .

( تاته معلومه نه وه چې ګني اوس چيني ګرانه شوی نو تا ماته په هماغه زوړ قيمت باندې راکړې ده ، حالانکه دا په هغه وخت کې ګرانه وه ) .

هغه دُکاندار ورته وويل :

الله تعالی دې په تا باندې رحم اوکړي بَس اوس ماته خبره معلومه شوه لهذا زه تاته دا درهم په خپله خوَښه باندې درکوم .

نو د دُکاندار په بار بارِ اصرار سره ده دا درهم راواخيست ، او کور ته راغی . د شپې ورته بيا خوب نه ورتللو ، ټوله شپه يې دا سوچونه کول چې " ما خو بيا هم د هغه سره خېر خواهي اونکړه کيدې شي هغه دکاندار د مانه شرميدو او دا درهم يې د مانه د حياء په

وجه نه وي اخيستى". سهر وختي بيا ورغى او هغه ته يې وويل:

عَافَاكَ اللهُ خُذْ مَالَكَ إِلَيْكَ فَهُوَ أَطْيَبُ لِقَلْبِي.

الله تعالى دې د تاسره احسان اوكړي دا خپل مال دې واخله، ځكه دا زه تاته د زړه په خوشحالۍ باندې دركوم.

نو بيا هغه دكاندار ورنه ديرش زره (٣٠٠٠٠) درهم واخيستل.(١)

## د محمد بن واسع رَحِمَهُ اللهُ تقوى

محمد بن واسع رَحِمَهُ اللهُ د بلخ په بازار كې خپل خَر خرڅولو، اخيستونكي ورته وويل: زه درنه دا خَر اخلم خو آيا ته په دې باندې مطمئن يې چې دا زما د پاره بنه دى؟

ده ورته وويل: كه زه په دې باندې مطمئن وى (چې دا بنه خَر دى) نو ما بيا دا نه خرڅولو.(٢)

سبحان الله. محمد بن واسع رَحِمَهُ اللهُ اخيستونكي ته حقيقت بيان كړو چې زه دا خَر د همدې د وجې خرڅوم چې دا زما خوښ ندى، او زه وربادنې مطمئن نه يم.

---

(١) حكي عن رجل من التابعين أنه كان بالبصرة وله غلام بالسوس يجهز إليه السكر. فكتب إليه غلامه: إن قصب السكر قد أصابته آفة في هذه السنة فاشتر السكر. قال: فاشترى سكرًا كثيرًا. فلما جاء وقته ربح فيه ثلاثين ألفًا. فانصرف إلى منزله فأفكر ليلته. وقال: ربحت ثلاثين ألفًا وخسرتُ نصح رجل من المسلمين. فلما أصبح غدا إلى بائع السكر فدفع إليه ثلاثين ألفًا وقال: بارك الله لك فيها. فقال: ومن أين صارت لي؟ فقال: إني كتمتك حقيقة الحال وكان السكر قد غلا في ذلك الوقت. فقال: رحمك الله قد أعلمتني الآن وقد طيبتها لك. قال فرجع بها إلى منزله وتفكر وبات ساهرًا. وقال: ما نصحتُه فلعله استحيا مني فتركها لي. فبكر إليه من الغد. وقال: عافاك الله خذ مالك إليك فهو أطيب لقلبي. فأخذ منه ثلاثين ألفًا.
احياء علوم الدين ج ٢ ص ٧٩ كتاب آداب الكسب والمعاش

(٢) قَالَ الرَّبِيعُ الْيَحْمِدِيُّ: رَأَيْتُ مُحَمَّدَ بْنَ وَاسِعٍ يَبِيعُ حِمَارًا بِسُوقِ بَلْخٍ، فَقَالَ لَهُ رَجُلٌ: أَتَرْضَاهُ لِي. قَالَ: «لَوْ رَضِيتُهُ لَمْ أَبِعْهُ». الورع لابن ابى الدنيا ص ١٠٦ بَابُ الْوَرَعِ فِي الْبَيْعِ وَالشِّرَاءِ. صلاح الامة فى علو الهمة ج ٥ ص ٧٠١ علو الهمة فى الورع.

# د سرِّي سقطي رَحِمَهُ اللَّهُ تقوٰی

یو ځل سريّ سقطي رَحِمَهُ اللَّهُ د بادامو یوه بُوجی په شپیته (۶۰) دیناره واخیسته، په خپل رجسټر کې یې ددې ګټه (منافع) درې (۳) دیناره اُولیکل (یعنی چې دا به په درې شپیته (۶۳) دیناره خرڅوم، ناڅاپه بادام ګران شو، یوه بُوری نوي (۹۰) دینارو ته اُورسیده، ده ته یو دَلال (اخیستونکی) راغی، بادام یې اخیستل، هغه د بادامو د بُوری قیمت پوښتنه اوکړه نو ده ورته وویل:

یوه بُوری په درې شپیته (۶۳) دیناره ده.

دَلال هم نیک سړې وُ، هغه ورته وویل: اوس بادام ګران شوي دي یوه بُوری په نوي (۹۰) دیناره باندې ده.

سري سقطي رَحِمَهُ اللَّهُ ورته وویل: ما د ځان سره دا عهد کړی چې دا بُوری به په درې شپیته (۶۳) دیناره باندې خرڅوم. (ددینه په زیاتو به یې نه خرڅوم).

دَلال ورته وویل: ما هم د الله تعالی سره دا عهد کړی چې زه به د هیڅ مسلمان سره دُهوکه نه کوم لهذا زه به درنه دا په نوي (۹۰) دیناره باندې اخلم.

دواړه په خپلو خبرو باندې ټینګ ولاړ وو.

فلا الدلال اشترى منه ولا السري باعه.

نو نه دَلال ورنه په درې شپیته (۶۳) دیناره واخیستل او نه سري سقطي رَحِمَهُ اللَّهُ ورباندې په نوي (۹۰) دیناره خرڅ کړل.(۱)

---

(۱) وإنما الإحسان المحض ما نقل عن السري السقطي أنه اشترى كر لوز بستين دينارًا وكتب في روزنامجه ثلاثة دنانير ربحه، وكأنه رأى أن يربح على العشرة نصف دينار. فصار اللوز بتسعين فأتاه الدلال وطلب اللوز فقال: خذه. قال: بكم؟ فقال: بثلاثة وستين. فقال الدلال وكان من الصالحين فقد صار اللوز بتسعين. فقال السري قد عقدت عقدًا لا أحله لست أبيعه إلا بثلاثة وستين. فقال الدلال وأنا عقدت بيني وبين الله أن لا أغش مسلمًا لست آخذ منك إلا بتسعين. قال فلا الدلال اشترى منه ولا السري باعه. فهذا محض الإحسان من الجانبين فإنه مع العلم بحقيقة الحال. احياء علوم الدين ج ۲ ص ۸۰ كتاب آداب الكسب والمعاش

سبحان الله ، دواړه د يو بل ډير خېرخواه ؤ يو ورياندې ګران نه خرڅول ، او بل ورته ارزان نه اخيستل .

## د علي بن معبد رَحِمَهُ اللّٰهُ تقوىٰ

علي بن معبد رَحِمَهُ اللّٰهُ فرمايي چې ما يو كور په كراى نيولې ؤ ، ما يو ځل يو خط اوليكل بيا مې اِراده اوكړه چې ددې كور د دِيوال نه لږه خاوره راواخلم ، دا سياهي ورياندې اُوچه كړم ، بيا مې د ځان سره وويل : چې دا ديوال خو زما مِلكيت ندى . بيا راته خپل زړه وويل :

وَمَا قَدْرُ تُرَابٍ مِنْ حَائِطٍ .

د دومره لږې خاورې خو هيڅ قيمت نه وي ( نو ددې په اخيستلو كې هيڅ باک نشته ) .

غرض دا چې ما ددې ديوال نه معمولي خاوره راواخيسته ، او په خط مې واچوله ، كله چې اُوده شوم نو په خوب كې مې يو كس اُوليد ، ماته وايي :

يا علي بن معبدٍ ! سَيَعْلَمُ غَدًا ٱلَّذِي يَقُوْلُ : وَمَا قَدْرُ تُرَابٍ مِنْ حَائِطٍ .

اې علي بن معبد ! څوک چې دا وايي چې د بل چا د ديوال معمولي خاوره هيڅ قيمت نه لري ده ته به د قيامت په ورځ دا معلومه شي چې ددې څه قدر و قيمت دى ؟ (۱)

**فائده:** اګر چې په دومره لږه خاوره انسان مستحق د سزا نه جوړيږي ليکن بيا هم د مُتقي او بزرګ په درجو كې كمې راځي .

## د مولانا اشرف علي تهانوي رَحِمَهُ اللّٰهُ تقوىٰ

يو ځل مولانا اشرف علي تهانوي رَحِمَهُ اللّٰهُ د سهارنپور نه كانپور ته په رېل ګاډي كې د

---

(۱) عن علي بن معبدٍ أنّه قال : كنتُ ساكنًا في بيتٍ بكراء فكتبتُ كتابًا وأردتُ أنْ آخذَ مِن ترابِ الحائطِ لأتربه وأجففهُ . ثم قلتُ : الحائطُ ليس لي . فقالتْ لي نفسي : وَمَا قَدْرُ تُرَابٍ مِنْ حَائِطٍ . فأخذتُ مِنَ التُّرَابِ حَاجَتِي . فلمّا نمتُ فإذا أنا بشخصٍ واقف يقولُ : يا علي بن معبد ! سَيَعْلَمُ غَدًا ٱلَّذِي يَقُوْلُ وَمَا قَدْرُ تُرَابٍ مِنْ حَائِطٍ . احياء علوم الدين ج۲ ص ۱۰۸ امثلة الورع وشواهدها ط دارالكتب العلمية بيروت ، صلاح الامة ج ۵ ص ۶۷۹ علو الهمة في الورع . كيمياى سعادت ، نزهة الناظرين في الاخبار والآثار المروية عن الانبياء والصالحين ص ۳۵۷ .

Scanned with CamScanner

تللو اِراده اوکړه ، دده سره څه گني هم وو ، دا ستیشن ته د گنو وزن کولو د پاره ورغی چې ددې محصول جمع کړي ، هغه خلقو تهانوي رَحِمَهُ اللهُ پیژندو نو هغوی ورته وویل چې ستا د پاره ددې د محصول جمع کولو ضرورت نشته ځکه مونږ د تا نه ددې محصول نه اخلو ، مونږ به د ریل گاډي ملازم ته اُووایو هغه به تا ته څه نه وایي ، تهانوي رَحِمَهُ اللهُ ورته وویل : هغه ملازم به تر کوم ځای پورې د مونږ سره ځي ؟ هغوی ورته وویل : تر د غازي آباد علاقې پورې به درسره ځي .

تهانوي رَحِمَهُ اللهُ ورته وویل : د هغې نه اَخوا به بیا څه کیږي ؟

هغوی ورته وویل : هغه ملازم چې کله د ریل گاډي نه ښکته کیږي او بل راخیجي نو دا به هغه بل ته وینا اوکړي نو هغه به تا ته څه نه وایي .

تهانوي رَحِمَهُ اللهُ ورته وویل : د هغې نه اَخوا به بیا څه کیږي ؟ هغوی ورته وویل : اخوا به کانپور رااُورسیږې او سفر به ختم شي .

تهانوي رَحِمَهُ اللهُ ورته وویل : د هغې نه اخوا د آخرت بل سفر پاتې دی د هغې به څه اِنتظام کیږي ؟ ( د تهانوي رَحِمَهُ اللهُ مقصد دا ؤ چې که زه د گنو محصول جمع نه کړم نو د قیامت په ورځ به د الله ﷻ د وړاندې ددې څه جواب ورکوم ؟ ) .

دې آوریدو سره هغه خلق حیران پاتې شو ، او ډیر متأثر شو .

آخر تهانوي رَحِمَهُ اللهُ د گنو محصول جمع کړو . (١)

## د مولانا قاسم نانوتوي رَحِمَهُ اللهُ تقوٰی

١ . په مولانا قاسم نانوتوي رَحِمَهُ اللهُ کې هم ډیره تقوی وه ، تر دې چې د مدرسې په مال کې به یې هم ډیر احتیاط کولو ( بې ځایه به یې نه استعمالولو ) . که د څه ضرورت په وجه به یې د مدرسې په قلم باندې ( خپل څه ذاتي ) لیکل اوکړل نو سمدست به یې د مدرسې په خزانه کې یوه آنه جمع کړه ( په هاغه وخت کې یوه آنه به د هغې قیمت ؤ ) او فرمایل به یې : دا د بیتُ المال قلم دی مونږ ته په دې کې تصرف کول جائز ندي . (٢)

(١) حکیم الامت معاصر کی نظر میں ص ١١ . ضرورة العلماء ص ۴ ، جواہر پارے ص ٢۴۴ .

(٢) سوانح قاسمي ج ١ ص ۵٣ .

Scanned with CamScanner

۲ . د مولانا قاسم نانوتوي رَحِمَهُ اللهُ په وجود کې ګرمائش ډیر زیات ؤ ، په ګرمۍ کې به ورته تکلیف ؤ ، په دارالعلوم دیوبند مدرسه کې یوه سَردخانه ( یَخه کمره ) جوړه شوه نو د دارالعلوم اولني مهتمم ( مولانا رفیع الدین ) ده ته وویل :

ګرمي ډیره زیاته ده د غرمې په وخت دې سَردخانې ته راځه دلته به آرام کوی .

ده ورته وویل : په دې ځای کې څملاستل د طالبانو حق دی لهذا زه هلته نه ځم . سخته ګرمي یې برداشت کوله خو سَردخانې ته نه تللو .

## د مولانا زکریا رَحِمَهُ اللهُ تقوٰی

یو ځل د شیخ الحدیث حضرت مولانا محمد زکریا رَحِمَهُ اللهُ کور واله په کور کې موجود نه وو ( غالبًا و۱لدینو کره تللي وو ) ، نو مولانا صاحب چې په کومه مدرسه کې شیخ الحدیث ؤ د هغې مدرسې د لنګر نه یې د ځان د پاره خوراک جاري کړو .

د دوی سره یو طالب العلم هم ؤ هغه به د لنګر نه د ځان د پاره هم تَلکاري راوړه او دوی له به یې هم راوړه ، یوه ورځ هغه طالب دوی ته وویل :

مولانا صاحب ! ستاسو په تلکارۍ کې غوړي لږ زیات دي ؛ داځکه چې مدرسې واله ستاسو لحاظ ساتي .

مولانا صاحب چې دواړو کاسو ته اُوکتل نو یقیني دده په تلکارۍ کې غوړي زیات وو نو دوی په هماغه وخت د مدرسې نه خوراک راوړل بند کړل .

(دا ددې د پاره چې د لنګر واله ولې زما او د طالب په تلکارۍ کې فرق کوي ؟) .

## د مولانا محمد عاشق الهي بلند شهري رَحِمَهُ اللهُ تقوٰی

په کوم وخت کې چې مولانا مفتي محمد عاشق الٰهي بلند شهري رَحِمَهُ اللهُ په مدینه منوّره کې مقیم ؤ نو هلته یو ټېلر (دَرزي) ؤ ډیر مونځ ګزار کس ؤ ، هغه په ډیر شوق باندې کپړې اُوګنډلې او مولانا صاحب ته یې په تحفه کې پیش کړې .

مولانا صاحب ورنه قبولې نکړې او ورته وې فرمایل : ستا آمدن صحیح ندی .

هغه ورته وویل : زه خو ټېلریم پخپله کپړې ګنډم ، په دې کې خو حرام څه نشته .

مولانا صاحب ورته وویل : ته چې کله خلقو د کپړو ناپ اخلې نو قصدا ورله پَرتوګ د

خَنګرو نه ښکته نيسی ، حالانکه د خَنګرو نه پرتوګ ښکته ساتل حرام دي ، نو ته د حرام څيز جوړولو په عوض کښې مزدوري اخلې ، لهذا ستا مزدوري حلاله نده .

هغه ټېلر (دَرزي) چې دا خبره واوريده نو سترګې يې اُوغوړيدی ، توبه يې اُوويسته ، بيا يې په دُکان کې په يو غټ بُورډ باندې د نبي عليه السلام دا حديث اوليکل :

مَا أَسْفَلَ مِنَ الْكَعْبَيْنِ مِنَ الْإِزَارِ فَفِي النَّارِ .

کوم کپړه چې د خَنګرو نه ښکته وي نو دا جهنم ته د تللو سبب ګرځي .(۱)

(يعنی ددې په وجه به دا کس جهنم ته داخليږي) .

بيا به چې څوک د کپړو ګنډلو د پاره راتلو او پَرتوګ به يې د خَنګرو نه ښکته جوړول غوښتل نو ده به حديث شريف ته اشاره اوکړه او ورته اُو به يې وويل :

د خَنګرو نه پرتوګ ښکته ساتل حرام دي لهذا زه دا نه جوړوم .

سبحان الله ، د مفتي صاحب د تقوی او احتياط په وجه ټېلر ته د توبې توفيق هم نصيب شو .

## د مولانا حسين احمد مدني رَحِمَهُ اللهُ تقوی

يو ځل مولانا حسين احمد مدني رَحِمَهُ اللهُ دهلي ته راغلو او د جمعيت علماء هند په دفتر کې مقيم شو ، د مازيګر مانځه وخت شو نو خادمينو د مانځه د پاره نوې چټاياني اُوغوړلې ، مولانا صاحب چې کله د مانځه د پاره د کمرې نه رااُووت او دا نوې چټاياني يې اُوليدی نو ډير خوشحاله شو او وې ويل : د دفتر ناظم اعلی خو ډير ښه انتظام کړی (چې نوې چټاياني يې غوړولي دي) .

چا ورته وويل : دا چټاياني ناظم اعلی ندي راوړي بلکه دا ستاسو يو عقيدت مَند دی هغه د چټايانو خرڅولو کاروبار کوي نو هغه د خپل دُکان نه صرف ددې د پاره دا راوړي دي چې تاسو پرې مونځ اوکړی (هغه يې واپس وړي) .

مولانا صاحب چې دا خبره واوريده نو د مخ رَنګ يې بدل شو ، فورًا د چټايانو نه راديخوا شو او حکم يې اوکړو چې دا لرې کړئ .

خلقو ورته وويل : دا هغه په خپله خوښه باندې راوړي دي . ده ورته وويل :

---

(۱) د حديث شريف حواله داده : صحيح البخاري كِتَابُ اللِّبَاسِ بَابُ مَا أَسْفَلَ مِنَ الْكَعْبَيْنِ فَهُوَ فِي النَّارِ رقم ۵۷۸۷ .

Scanned with CamScanner

هغه چې بيا دا چټاياني خرڅوي نو اخيستونكي ته به وايي چې دا مُستعمَل شوي ندي حالانكه كه مونځ پرې مونځ اوكړو نو دا په مستعمَلو كې شماريږي ، او دا صحيح نده .
(ځكه دا مستعمَل څيز د غير مستعملو په نوم خرڅول دي ، او دا ناجائز دي) .
بيا دا چټاياني غوندې كړې شوى او د دفتر په چټايانو يې مونځ اوكړو . (١)

## د ابوبكره ثقفي رَحِمَهُ اللَّهُ تقوىٰ

يو سړي ځان له د هندوستان نه لرگي راوړي وُ ، زياد ده ته وويل چې دا په ما باندې راخرڅ كړه ، خو دې كس ورباندې نه خرڅول .
ابن زياد ورنه دا لرگي په زُوره باندې واخيست او د بصرې جُمات په برنډه كې يې اولږول .
نو حضرت ابوبكره ثقفي بيا په هغې جُمات كې مونځ كَول پرېخودل ، تر دې چې ددې جُمات نه دا لرگي لرې كړو شو نو بيا يې په كې مونځ شروع كړو . (٢)
دا د ابوبكره ثقفي كامله تقوىٰ وه چې په هغه جُمات كې مونځ نه كولو چې په هغې كې د بل چا نه په زُوره غصب شوي لرگي لږيدلي وُ .

## د سلطان غياث الدين رَحِمَهُ اللَّهُ تقوىٰ

سلطان غياث الدين بن سلطان محمود خلجي ډير عبادت گزار او متّقي انسان وُ ، هغه ډيرې قارياني وينځې صرف د تلاوت كولو د پاره په شاهي محل كې مقرر كړې وى ، هرې وينځې به روزانه قرآن كريم ختمولو او دا بادشاه به يې پرې دمولو . دې بادشاه به هيڅ كله د تهجدو مونځ نه قضاء كولو ، خپل د كور خلقو ته يې حكم كړې وُ چې كه زه اُوده پاتې شم نو ما تهجدو ته راپاڅوئ ، كه زه نه راپاڅيدم نو بيا راته په مخ باندې اُوبه راچوئ ، كه بيا

---

(١) شیخ الاسلام کے حیرت انگیز واقعات ص ٧٨ .

(٢) جلب رجل خشباً من السند أو الهند فطلبه زياد (أو ابن زياد) منه . فأبى أن يبيعه . فغصبه إياه فبنى صفة مسجد البصرة . قال : فلم يصل أبو بكرة فيها حتى قلعت . تاريخ دمشق لابن عساكر ج ٦٢ ص ٢١٥ حرف النون

هم نه راپاڅیدم نو د لاس نه مې نیسئ او په زور مې راپاڅوئ.

یو ځل دده طبیب دده د پاره په یو لک (۱۰۰۰۰۰) روپۍ باندې بهترین معجون تیار کړل، کله یې چې سلطان غیاث الدین ته راوړل نو ده طبیب ته ووېل:

تا چې په دې معجونو کې کوم کوم اجزا شامل کړي دي ماته د هغې نومونه واخله.

طبیب ورته د هغې اجزاؤ نومونه بیان کړل، په دې اجزاؤ کې یو نشه آور څیز هم ؤ، سلطان چې ددې نشه آور څیز نوم واورید نو وې ویل چې زه دا معجون نه استعمالوم ځکه په دې کې نشه آور څیز دی، بیا یې حکم اوکړو چې دا معجون په اور أوسیزئ.

ددې سلطان یو نزدې کس ؤ هغه ده ته ووېل: تاسو دا معجون مه ضائع کوئ ځکه په دې باندې ډیر زیات خرچ شوې دی، دا بل چاته ورکړئ.

سلطان ورته ووېل: چې کوم څیز زه د ځان د پاره ناجائز ګنړم نو هغه د بل د پاره څنګه جائز أوګنړم؟ نو هغه معجون یې په اور باندې أوسوزول.(۱)

## د سلیمان بن یسار رَحِمَهُ اللّٰهُ تقوٰی: (د زِنا نه ځان ساتل)

امام غزالي رحمه الله په احیاء العلوم کې یو عجیبه واقعه رانقل کړې: چې سلیمان بن یسار رحمه الله ډیر پرهیزګار او د ښکلي صورت خاوند ؤ، یوه ورځ دا او یو بل ملګری د حج په اراده باندې روان شو، کله چې أبواء مقام ته اورسیدل، نو د خوراک شیان ورسره کم شو. سلیمان بن یسار رحمه الله په خیمه کې کیناست، او دا بل ملګری یې بازار ته لاړ، چې د خوراک څه راوړي.

په دې کې یوه ډیره ښکلې ښځه دې خیمې ته راغله، او ده ته یې اشاره اوکړه. ده دا ګمان اوکړو چې ګنې دا ښځه روټۍ (ډوډۍ) غواړي، نو د ډوډۍ یوه برخه یې ورله راواخیسته هغې ورته ووېل:

لَسْتُ أُرِيْدُ هٰذَا . إِنَّمَا أُرِيْدُ مَا يَكُوْنُ مِنَ الرَّجُلِ إِلَى أَهْلِهٖ.

زه روټۍ نه غواړم، بلکه ښځه چې د سړي نه څه غواړي هغه کار غواړم.

---

(۱) تاریخ فرشته.

کله چې ده دا خبره واوریده ، نو زړه کې یې دا خیال راغی ، چې زه خو د الله ﷻ کور بیتُ الله ته د حج دپاره روان یم او شیطان گوره دا ښځه خپله نمائنده جوړه کړه او زما د ایمان خرابولو د پاره یې ماته را اولیږله ، دلته هم د شیطان د جال نه خلاص نه شوم . نو په ژړا شو او ډیر زیات یې اوژړل . کله چې ښځې دا اولید ، نو ډیره شرمنده شوه ، او واپس لاړه .

کله چې دا حج ته لاړو ، طواف یې اوکړو ، بیا په یو ځاي کې اُوده شو ، په خوب کې یې ډیر ښکلې کس اولید چې خوشبو ورنه تلله . سلیمان ورنه پوښتنه اوکړه :

مَنْ اَنْتَ ؟ ته څوک یې ؟

هغه ورته ووېل : اَنَا یُوْسُفُ . زه یوسف (علیه السلام) یم .

ده ورنه بیا پوښتنه اوکړه : چې هغه پیغمبر یوسف ئې ؟ هغه ورته ووېل چې آو .

ده ورته ووېل :

شَأْنُكَ وَشَأْنُ اِمْرَأَةِ الْعَزِيْزِ لَعَجَبًا .

ستا او د زلیخې خو ډیره عجیبه واقعه ده . (چې تا د گناه نه ځان بچ کړې وُ) .

هغه ورته ووېل :

شَأْنُكَ وَشَأْنُ صَاحِبَةِ الْاَبْوَاءِ اَعْجَبُ .

ستا او د ابواء په مقام کې د ښځې واقعه خو ډیره زیاته عجیبه ده . (۱)

---

(۱) روي أنّ سليمان بن يسار خرج من المدينة حاجًا ومعه رفيق له حتى نزلا بالأبواء . فقام رفيقه وأخذ السفرة وانطلق إلى السوق ليبتاع شيئًا وجلس سليمان في الخيمة وكان من أجمل الناس وجها وأورعهم فبصرت به أعرابية من قلة الجبل وانحدرت إليه حتى وقفت بين يديه وعليها البرقع والقفازان فأسفرت عن وجه لها كأنه فلقة قمر وقالت : أهنئني . فظن أنها تريد طعاما فقام إلى فضلة السفرة ليعطيها . فقالت : لست أريد هذا إنما أريد ما يكون من الرجل إلى أهله . فقال جهزك إلى إبليس ثم وضع رأسه بين ركبتيه وأخذ في النحيب فلم يزل يبكي . فلما رأت منه ذلك سدلت البرقع على وجهها وانصرفت راجعة حتى بلغت أهلها . وجاء رفيقه فرآه وقد انتفخت عيناه من البكاء وانقطع حلقه . فقال : ما يبكيك ؟ قال : خير ذكرت صبيتي . قال لا والله إلا أن لك قصة إنما عهدك بصبيتك منذ ثلاث أو نحوها فلم يزل به ← ← ← ← ← ←

Scanned with CamScanner

( ځکه تا چې د ګناه نه ځان ساتلې وو نو زه خو پیغمبر ووم ، د ماسره د الله ﷻ ډیر غټ امداد وو . خو تا چې د ګناه نه ځان اوساتل نو دا هم ډیره عجیبه ده ، ځکه ته پیغمبر هم نه یې ، بلکه یو ولي یې ، خو بیا دې هم د زِنا نه ځان بچ کړو ) .

سبحان الله ، په سلیمان بن یسار رَحِمَهُ اللَّهُ کې دومره تقوی وه چې په زِنا باندې ورته قدرت ملاؤ شو خو بیا یې هم د الله ﷻ د یرې نه ځان د زِنا نه اُوساتل . -

## د خواجه مشکي رَحِمَهُ اللَّهُ تقوٰی : ( د زِنا نه ځان ساتل )

په اِندیا کې یو بزرګ تیر شوی ، خپل نوم یې بل څه وو ، خو مشهور ؤ په خواجه مُشکي رحمه الله باندې . هر وخت به یې د جسم نه د مشکو په شان خوشبوئي تلله ، خلق حیران وو ، پوښتنه به یې ورنه اوکړه ، خو ده به ورته حال نه ویلو . آخر خلقو مجبور کړو چې ددې څه وجه ده چې ستا د جسم نه هر وخت د مشکو په شان خوشبوئي ځي ؟

نو ده ورته خپله واقعه بیان کړه : چې زه یو ورځې په یو کوڅه تیریدم ، نو یوه بوډۍ ښځه د یو کور دروازې سره ولاړه وه ، ماته یې وویل : چې ته داسې نیک سړې معلومیږې ، په دې کور کې دننه یو مریض دی ، سخت تکلیف دی ورته ، نو که ته راسره لاړ شې ، او په هغه څه

←←←← حتی أخبره خبر الأعرابية فوضع رفيقه السفرة وجعل يبكي بكاء شديدًا . فقال سليمان : وأنت ما يبكيك ؟ قال أنا أحق بالبكاء منك لأني أخشى أن لو كنت مكانك لما صبرت عنها . فلم يزالا يبكيان . فلما انتهى سليمان إلى مكة فسعى وطاف ثم أتى الحجر فاحتبى بثوبه فأخذته عينه فنام وإذا رجل وسيم طوال له شارة حسنة ورائحة طيبة فقال له سليمان : رحمك الله من أنت ؟ قال له أنا يوسف قال يوسف الصديق قال نعم قال إن في شأنك وشأن امرأة العزيز لعجبا . فقال له يوسف شأنك وشأن صاحبة الأبواء أعجب . احياء العلوم ج۳ ص ۱۰۵ كتاب كسر الشهوتين .

كَانَ سُلَيْمَانُ بْنُ يَسَارٍ مِنْ أَحْسَنِ النَّاسِ وَجْهًا ، فَدَخَلَتْ عَلَيْهِ امْرَأَةٌ فَسَامَتْهُ نَفْسَهَا ، فَامْتَنَعَ عَلَيْهَا ، فَقَالَتْ : إِذًا أَفْضَحُكَ ، فَخَرَجَ إِلَى خَارِجٍ وَتَرَكَهَا ـ يَعْنِي فِي مَنْزِلِهِ ـ : وَهَرَبَ مِنْهَا . قَالَ سُلَيْمَانُ : فَرَأَيْتُ بَعْدُ يُوسُفَ عليه السلام فِيمَا يَرَى النَّائِمُ ، فَكَأَنِّي أَقُولُ لَهُ : أَنْتَ يُوسُفُ ؟ ، قَالَ : نَعَمْ ، أَنَا يُوسُفُ الَّذِي هَمَمْتُ ، وَأَنْتَ سُلَيْمَانُ الَّذِي لَمْ تَهُمَّ . شعب الايمان رقم الحديث ۶۷۰۹ معالجة كل ذنب بالتوبة .

Scanned with CamScanner

دَم واچوي نو ډیره به ښه وي ، الله ﷻ به درله آجر درکړي .

ما ورباندې اعتماد وکړو چې ګني ریښتیا وایي . کله چې کورته ورننوتم ، نو دې بوډۍ دروازه تاله (قلف) کړه ، او ددې کور خپله مالکه ماته راغله ، چې ډیره ښکلې هم وه ، ما ته یې وویل : چې زه روزانه تا ګورم چې ته په دې لاره تیریږې ، نو زما درسره ډیره مینه پیداشوې ، اوس به زما حاجت پوره کوی .

دې وایي : چې ما ورته ډیر عذرونه پیش کړل چې دا یو ناجائز کار دی ، زه دا نشم کولې ، خو دې راته وویل : چې دوه خبرې دي : یا خو به زما حاجت پوره کوی ، یا به تهمت درباندې اولږوم او سنګسار به دې کړم .

دا بزرګ وایي چې زه هم حیران شوم . آخر مې زړه ته یو تدبیر راغې ، دې ته مې وویل : چې ماته د قضائ حاجت (اودس ماتي) ضرورت دی ، بیت الخلا راته اوښایه . چې واپس راشم نو بیا به ګورو .

هغه هم خوشحاله شوه چې څه . څه ناڅه خو راضي شو ، نو بیت الخلا یې راته اوخوده ، هلته چې لاړم ، نو په بیت الخلاکې چې څه اودس ماتې وو ، هغه مې په خپلو جامو او بدن پورې اومږل .

کله چې د بیت الخلا نه را اووتم ، نو د مانه سخته بدبوئي تلله ، دې ښځې چې زه په دې حالت کې اولیدم ، نو نفرت یې رانه پیداشو ، او بوډۍ ته یې حکم وکړو : چې ژر یې اوباسه ، دا دې څه پاګل رانتویستی .

نو زه یې د دروازې نه رااوویستم ، او د زِنا نه بچ شوم . اوس ما سره دا غم پیداشو چې خلقو ته به زما دبدن او جامې نه بَدبُویي ورځي ، نو ژَر لاړم ، او په یو غسل خانه کې مې کپړې او بدن اووینځل .

کله چې د غسل خانې نه بهر رااووتم ، لمدې جامې مې اغوستې وی ، نو د هماغه وخت نه مې د جسم او جامو نه د مشکو په شان خوشبوئي تلل شروع شو . (۱)

سبحان الله . الله رب العزت د انسان څومره قدرداني کوونکې دی ، چې دې کس د ګناه

---

(۱) اہل دل کے تڑپا دینے والے واقعات ج۲ ص ۱۳۶ ، خطبات فقیر ج۱۰ ص ۱۷۵ .

نه د بچ کیدو د پاره په خپل بدن گندگي مېلې وه نو الله ﷻ یې د جسم نه د مشکو خوشبوئي تلل شروع کړه، او په خواجه مشکي رحمه الله مشهور شو.

## د ربیع بن خثیم رَحِمَهُ اللهُ تقویٰ

خلقو یوې ښائسته ښځې ته وویل چې ته ربیع بن خثیم رَحِمَهُ اللهُ ته مخې ته ورشه، کیدې شي هغه ستا د ښائست په وجه په فِتنه کې مبتلاء شي، نو مونږ به تاته په انعام کې زر (۱۰۰۰) درهمه درکړو.

دا ښځه په دې باندې راضي شوه، نو دې ښائسته کپړې واغوستې، ښکلې عطر یې په ځان اُومېل (ځان یې ښه جوړ کړو)، بیا وَر روانه شوه، کله چې ربیع بن خثیم رَحِمَهُ اللهُ د جُمات نه راُوتلو نو په دې وخت کې دې ښځې د خپل مخ نه لوپټه لرې کړه او هغه ته ورمخې ته شوه، ربیع بن خثیم رَحِمَهُ اللهُ چې دا اُولیده نو ورته وې ویل:

په هغه وخت کې به ستا څه حال وي چې کله درباندې تبه راشي او ستا رنګ و ښائست ختم کړي؟ په هغه وخت کې به ستا څه حال وي چې ملکُ الموت فرښته درته راشي او ستا شه رګ کړي؟ (یعنی رُوح درنه قبض کړي)، په هغه وخت کې به ستا څه حال وي چې منکر نکیر درنه په قبر کې سوالونه کوي؟

نو دې ښځې تېزه چغه اُووهله، او بې هُوشه راُوغورځیده.

کله چې په هوش کې راغله نو (توبه یې اُوویسته او) تر مرګه پورې یې د الله تعالی پوره عبادت اوکړو. (۱)

(۱) عن سعدان قال: أمر قوم امرأة ذات جمال بارع أن تتعرض للربيع بن خثيم فلعلها تفتنه. وجعلوا لها إن فعلت ذلك ألف درهم. فلبست أحسن ما قدرت عليه من الثياب، وتطيبت بأطيب ما قدرت عليه ثم تعرضت له حين خرج من مسجده، فنظر إليها فراعه أمرها فأقبلت عليه وهي سافرة. فقال لها الربيع: كيف بك لو قد نزلت الحمى بجسمك فغيرت ما أرى من لونك وبهجتك؟ أم كيف بك لو قد نزل بك ملك الموت فقطع منك حبل الوتين؟ أم كيف بك لو قد سائلك منكر ونكير؟ فصرخت صرخة فسقطت مغشياً عليها. فوالله لقد أفاقت وبلغت من عبادة ربها أنها ←←←←

Scanned with CamScanner

# د غونډ تقرير خلاصه

د غونډ تقرير خلاصه دا رااووته چې په اسلام کې د تقوی او پرهيزګارۍ ډير اَهميت او فضائل بيان شوي ، بيا رسولُ الله صلی الله عليه وسلم پخپله اُمت ته د تقوی عمَلي نمونه پيش کړی .

همدارنګې صحابه کرامو ، تابعينو ، تبع تابعينو او د اُمت نورو بزرګانو هم د تقوی او پرهيزګارۍ نه ډک ژوند تير کړی ، چې د روستو خلقو د پاره په کې لوي عبرت پروت دی.

لهذا مونږ ته هم په کار دي چې د نبي عليه السلام او صحابه کرامو رضي الله عنهم په نقشِ قدم باندې روان شو ، او د خپلو اسلافو په شان د تقوی او پرهيزګارۍ نه ډک ژوند تير کړو .

## دُعا

الله تعالی دې په مونږ کې هم تقوی او پرهيزګاري پيدا کړي .

ربِّ کائنات دې مونږ ټول د حرام مال ، مُشتبِه شيانو ، او هر قِسمه ګناهونو نه محفوظ اُوساتي .

پروَردګارِ عالَم دې مونږ ټولو ته په صحيح طريقې سره د نبي عليه السلام او صحابه کرامو په نقشِ قدم باندې د تللو توفيق رانصيبه کړه .

آمِيْن يَارَبَّ الْعَالَمِيْن .

وَآخِرُ دَعْوَانَا أَنِ الْحَمْدُ لِلّٰهِ رَبِّ الْعَالَمِيْنَ

---

←←← كانت يوم ماتت كأنها جذع محترق . صفة الصفوة ج ۲ ص ۱۱۲ ذكر المصطفيات من العابدات الكوفيات مجهولات الأسماء ، موسوعة الأخلاق الإسلامية ج۱ ص ۴۱۷ نماذج من عفة السلف عفة الربيع بن خثيم رحمه الله .

Scanned with CamScanner

بِسْمِ اللّٰهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيْمِ

﴿ وَلِمَنْ خَافَ مَقَامَ رَبِّهٖ جَنَّتٰنِ ﴾

الرحمن آیة ۴۶

# د الله جل جلاله د عذاب نه ویریدل

تالیف

آبُو الشَّمْس مولانا نُورُ الهُدٰی عُفِيَ عَنْهُ

مُدَرِّس دَارُالعلوم فیضُ القُرآن اکاخیل کالونی مردان

Scanned with CamScanner

# نوټ

دا آئنده موضوع مې په دوه غټو عنوانانو باندې تقسيم کړې :


۱. د الله ﷻ د عذاب نه ويريدل .................. صفحه : ۱۴۲

۲. د نبي عليه السلام ، صحابه کرامو او نورو بزرګانو د الله ﷻ نه د ويريدو واقعات ........................ صفحه : ۱۷۲


تاسو کولې شئ چې هر يو عنوانان په ځانله ځانله جُمعه کې بيان کړئ ، او ددې عنواناتو په مينځ کې داسې ربط او تعلق هم شته چې که موقع او وخت زيات وي نو ټول په يوه جُمعه هم بيانولې شئ.

ابوالشمس عفي عنه

بِسْمِ اللهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيْمِ

# د الله ﷻ د عذاب نه ویریدل

اَلْحَمْدُ لِلّٰهِ نَحْمَدُهٗ وَنَسْتَعِيْنُهٗ وَنَسْتَغْفِرُهٗ وَنُؤْمِنُ بِهٖ وَنَتَوَكَّلُ عَلَيْهِ ، وَنَعُوْذُ بِاللهِ مِنْ شُرُوْرِ اَنْفُسِنَا وَمِنْ سَيِّئَاتِ اَعْمَالِنَا مَنْ يَّهْدِهِ اللهُ فَلَا مُضِلَّ لَهٗ وَمَنْ يُّضْلِلْهُ فَلَا هَادِيَ لَهٗ ، وَنَشْهَدُ اَنْ لَّا اِلٰهَ اِلَّا اللهُ وَحْدَهٗ لَا شَرِيْكَ لَهٗ وَنَشْهَدُ اَنَّ سَيِّدَنَا وَنَبِيَّنَا وَمَوْلَانَا مُحَمَّدًا عَبْدُهٗ وَرَسُوْلُهٗ ،

اَمَّا بَعْدُ فَاَعُوْذُ بِاللهِ مِنَ الشَّيْطٰنِ الرَّجِيْمِ بِسْمِ اللهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيْمِ قَالَ اللهُ تَبَارَكَ وَتَعَالٰى فِي الْقُرْاٰنِ الْمَجِيْدِ وَالْفُرْقَانِ الْحَمِيْدِ : ﴿ فَاِيَّايَ فَارْهَبُوْنِ ﴾ . (۱)

وَقَالَ تَعَالٰى : ﴿ وَلِمَنْ خَافَ مَقَامَ رَبِّهٖ جَنَّتٰنِ ﴾ . (۲)

قَالَ رَسُوْلُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ : لَا يَلِجُ النَّارَ رَجُلٌ بَكٰى مِنْ خَشْيَةِ اللهِ حَتّٰى يَعُوْدَ اللَّبَنُ فِي الضَّرْعِ ... (۳)

وَقَالَ عَلَيْهِ الصَّلَاةُ وَالسَّلَامُ : اِذَا اقْشَعَرَّ جِلْدُ الْعَبْدِ مِنْ خَشْيَةِ اللهِ تَحَاتَّتْ عَنْهُ خَطَايَاهُ كَمَا تَحَاتُّ عَنِ الشَّجَرَةِ الْبَالِيَةِ وَرَقُهَا . (۴)

صَدَقَ اللهُ الْعَظِيْمُ .

---

(۱) النحل آیة ۵۱ . / په سورة البقرة کې ذکر دي : ﴿ وَاِيَّايَ فَارْهَبُوْنِ ﴾ . البقرة آیة ۴۰ .

(۲) الرحمن آیة ۴۶ .

(۳) سنن الترمذي أَبْوَابُ الزُّهْدِ عَنْ رَسُوْلِ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ بَابُ مَا جَاءَ فِي فَضْلِ الْبُكَاءِ مِنْ خَشْيَةِ اللهِ رقم الحدیث ۲۳۱۱ ، و رقم الحدیث ۱۶۳۳ أَبْوَابُ فَضَائِلِ الْجِهَادِ عَنْ رَسُوْلِ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ بَابُ مَا جَاءَ فِي فَضْلِ الْغُبَارِ فِي سَبِيلِ اللهِ وقال الترمذي : هَذَا حَدِيثٌ حَسَنٌ صَحِيحٌ . مسند احمد مخرجا رقم الحدیث ۱۰۵۶۰ ، سنن النسائي رقم الحدیث ۳۲۰۸ ، المستدرک علی الصحیحین للحاکم رقم الحدیث ۷۶۶۷ ، مشکاة المصابیح کتاب الجهاد الفصل الثاني رقم الحدیث ۳۸۲۸(۳۱) .

(۴) مسند البزار ج ۴ ص ۱۴۸ رقم الحدیث ۱۳۲۲ وَمِنْ رِوَايَةِ أُمِّ كُلْثُوْمَ بِنْتِ الْعَبَّاسِ ، مجمع الزوائد كِتَابُ الزُّهْدِ بَابُ فِيمَنِ اقْشَعَرَّ مِنْ خَشْيَةِ اللهِ رقم الحدیث ۱۸۲۱۷ ، کنز العمال رقم الحدیث ۵۸۷۹ .

Scanned with CamScanner

# مسلمانانو ته د الله ﷻ د عذاب نه د ویریدو حکم

زما خوږو قدرمنو او عزتمندو مسلمانانو ورونو ! مسلمان ته په کار دي چې هر وخت د الله ﷻ د عذاب او د هغه د گرفت نه په ویره کې وي.(۱)

۱. ځکه الله تعالی پخپله فرمایي: ﴿ فَإِيَّايَ فَارْهَبُونِ ﴾.(۲)

ترجمه: پس تاسو هم د ما نه اُو ویرېږئ.

۲. بل ځای فرمایي: ﴿ وَيُحَذِّرُكُمُ اللَّهُ نَفْسَهُ ﴾.(۳)

ترجمه: او الله تعالی تاسو د خپل ځان نه ویروي.

۳. بل ځای فرمایي: ﴿ فَلَا تَخَافُوهُمْ وَخَافُونِ إِن كُنتُم مُّؤْمِنِينَ ﴾.(۴)

ترجمه: پس تاسو د کافرانو نه مه ویرېږئ او صرف د مانه اُو ویرېږئ که چیرته تاسو

---

(۱) ویرې ته په عربی کې " خوف " وایي، علماؤ د " خوف " تعریف داسې کړی:

قَالَ أَبُو الْقَاسِمِ الْجُنَيْدُ: اَلْخَوْفُ تَوَقُّعُ الْعُقُوبَةِ عَلَى مَجَارِي الْأَنْفَاسِ. وَقِيلَ: اَلْخَوْفُ اِضْطِرَابُ الْقَلْبِ وَحَرَكَتُهُ مِنْ تَذَكُّرِ الْمَخُوفِ. وَقِيلَ: اَلْخَوْفُ قُوَّةُ الْعِلْمِ بِمَجَارِي الْأَحْكَامِ. وَهٰذَا سَبَبُ الْخَوْفِ، لَا أَنَّهُ نَفْسُهُ. وَقِيلَ: اَلْخَوْفُ هَرَبُ الْقَلْبِ مِنْ حُلُولِ الْمَكْرُوهِ عِنْدَ اسْتِشْعَارِهِ.

وَ " الْخَشْيَةُ " أَخَصُّ مِنَ الْخَوْفِ. فَإِنَّ الْخَشْيَةَ لِلْعُلَمَاءِ بِاللهِ. قَالَ اللهُ تَعَالَى { إِنَّمَا يَخْشَى اللهَ مِنْ عِبَادِهِ الْعُلَمَاءُ } فَهِيَ خَوْفٌ مَقْرُونٌ بِمَعْرِفَةٍ. وَقَالَ النَّبِيُّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ « إِنِّي أَتْقَاكُمْ لِلّٰهِ، وَأَشَدُّكُمْ لَهُ خَشْيَةً ». فَالْخَوْفُ حَرَكَةٌ، وَالْخَشْيَةُ انْجِمَاعٌ، وَانْقِبَاضٌ وَسُكُونٌ. فَإِنَّ الَّذِي يَرَى الْعَدُوَّ وَالسَّيْلَ وَنَحْوَ ذٰلِكَ لَهُ حَالَتَانِ: إِحْدَاهُمَا: حَرَكَةٌ لِلْهَرَبِ مِنْهُ، وَهِيَ حَالَةُ الْخَوْفِ. وَالثَّانِيَةُ: سُكُونُهُ وَقَرَارُهُ فِي مَكَانٍ لَا يَصِلُ إِلَيْهِ فِيهِ، وَهِيَ الْخَشْيَةُ ....... فَالْخَوْفُ لِعَامَّةِ الْمُؤْمِنِينَ، وَالْخَشْيَةُ لِلْعُلَمَاءِ الْعَارِفِينَ، وَالْهَيْبَةُ لِلْمُحِبِّينَ، وَالْإِجْلَالُ لِلْمُقَرَّبِينَ، وَعَلَى قَدْرِ الْعِلْمِ وَالْمَعْرِفَةِ يَكُونُ الْخَوْفُ وَالْخَشْيَةُ. مدارج السالكين بين منازل إياک نعبد وإياک نستعين ص ۵۰۸ فَصْلٌ مَنْزِلَةُ الْخَوْفِ.

(۲) النحل آية ۵۱. / په سورة البقرة کې ذکر دي: ﴿ وَإِيَّايَ فَارْهَبُونِ ﴾ البقرة آية ۴۰.

(۳) آل عمران آية ۲۸.

(۴) آل عمران آية ۱۷۵.

Scanned with CamScanner

يقيني مؤمنان يى.

٤ . د الله ﷻ نيول او گرفت ډير سخت دي، په قرآن کريم کې ذکر دي :

﴿ إِنَّ بَطْشَ رَبِّكَ لَشَدِيدٌ ﴾.(۱)

ترجمه : بيشکه ستا د رَب نيول ډير سخت دي.

## د الله ﷻ نه ويريدونکي خلق کامياب دي

په قرآن کريم کې ذکر دي :

﴿ وَمَنْ يُطِعِ اللَّهَ وَرَسُولَهُ وَيَخْشَ اللَّهَ وَيَتَّقْهِ فَأُولَٰئِكَ هُمُ الْفَائِزُونَ ﴾.(۲)

ترجمه : او څوک چې د الله او د هغه د رسول اطاعت کوي ( يعنى د دوى حکم مني ) ، د الله ﷻ نه ويرېږي ، او تقوى اختيار کړي ( يعنى د هغه دنافرمانى نه ځان بچ ساتي ) پس همدا خلق کاميابيدونکي دي.

## د کامِل مؤمنانو يو صفت " د الله ﷻ نه ويريدل " دي

۱ . په قرآن کريم کې الله تعالى د کامِل مؤمنانو صفات ذکر کړي ، په هغې کې يو صفت دا هم دى چې " دوى د الله ﷻ نه ويرېږي ".

﴿ إِنَّمَا الْمُؤْمِنُونَ الَّذِينَ إِذَا ذُكِرَ اللَّهُ وَجِلَتْ قُلُوبُهُمْ ﴾.(۳)

ترجمه : بيشکه ( رينتني ) مؤمنان هغه خلق دي چې کله د الله تعالى ذکر اوشي نو د دوى زړونه اُويرېږي.

بيا الله تعالى د کامل مؤمنانو نور صفتونه هم دوه آيتونو کې ذکر کړي (۴)

---

(۱) البروج آية ۱۲.

(۲) النور آية ۵۲.

(۳) الانفال آية ۲.

(۴) ﴿ إِنَّمَا الْمُؤْمِنُونَ الَّذِينَ إِذَا ذُكِرَ اللَّهُ وَجِلَتْ قُلُوبُهُمْ وَإِذَا تُلِيَتْ عَلَيْهِمْ آيَاتُهُ زَادَتْهُمْ إِيمَانًا وَعَلَىٰ رَبِّهِمْ يَتَوَكَّلُونَ ۝ الَّذِينَ يُقِيمُونَ الصَّلَاةَ وَمِمَّا رَزَقْنَاهُمْ يُنْفِقُونَ ﴾. الانفال آية ۲، ۳.

Scanned with CamScanner

په آخر کې الله تعالى دداسې خلقو په باره کې فرمايي :

﴿ أُولَٰئِكَ هُمُ الْمُؤْمِنُونَ حَقًّا ۚ لَّهُمْ دَرَجَاتٌ عِندَ رَبِّهِمْ وَمَغْفِرَةٌ وَرِزْقٌ كَرِيمٌ ﴾.(۱)

ترجمه : همدغه خلق ريښتوني مؤمنان دي ، د دوی د پاره د خپل رب سره اُوچتې درجې دي ، بخنده ده ، او د عزت روزي ده .

۲ . بل ځای الله تعالى دداسې خلقو صفت بيان کړی :

﴿ أُولَٰئِكَ يُسَارِعُونَ فِي الْخَيْرَاتِ وَهُمْ لَهَا سَابِقُونَ ﴾.(۲)

ترجمه : همدا ( د الله تعالى نه ويريدونکي ) هغه خلق دي چې دوی په نېکو کارونو کې جَلتي کوي ، او همدا خلق نېکو کارونو طرف ته وړاندې کيدونکي دي .

## د الله ﷻ نه ويريدونکو د پاره جنت

د چا په زړه کې چې د الله ﷻ د عذاب او د هغه مخې ته د پيش کيدلو نه يره وي نو دداسې کس د پاره الله تعالى د جنت وعده کړی .

۱ . فرمايي : ﴿ وَلِمَنْ خَافَ مَقَامَ رَبِّهِ جَنَّتَانِ ﴾ . (۳)

ترجمه : او څوک چې د خپل رب په وړاندې د اُودريدلو نه ويريږي نو د هغه د پاره دوه جنتونه (باغونه) دي .

۲ . بل ځای فرمايي : ﴿ ذَٰلِكَ لِمَنْ خَشِيَ رَبَّهُ ﴾ . (۴)

ترجمه : دا ( وعده د جنت ) د هغه چا د پاره ده چې هغه د خپل رب نه ويريږي .

۳ . بل ځای فرمايي : ﴿ وَأُزْلِفَتِ الْجَنَّةُ لِلْمُتَّقِينَ غَيْرَ بَعِيدٍ ۝ هَٰذَا مَا تُوعَدُونَ لِكُلِّ أَوَّابٍ حَفِيظٍ ۝ مَّنْ خَشِيَ الرَّحْمَٰنَ بِالْغَيْبِ وَجَاءَ بِقَلْبٍ مُّنِيبٍ ۝ ادْخُلُوهَا بِسَلَامٍ ۖ ذَٰلِكَ

(۱) الانفال آية ۴ .

(۲) المؤمنون آية ۶۱ .

(۳) الرحمن آية ۴۶ .

(۴) البينة آية ۸ .

يَوْمُ الْخُلُودِ ۝ لَهُم مَّا يَشَاءُونَ فِيهَا وَلَدَيْنَا مَزِيدٌ ﴾.(۱)

ترجمه: او مُتقیانو ته به جنت رانژدې کړې شي چې لرې به نه وي، (دوی ته به ووېلې شي چې:) دا هغه جنت دی د کوم چې د تاسو سره (په دُنیا کې) وعده کولې شوه، (دا) د هغه چا د پاره دی چې د الله ﷻ طرف ته رجوع کوونکی او (د حقوقو) حفاظت کوونکی وي کوم چې بې لیدلو د الله ﷻ نه ویرېږي، او په داسې زړه سره راشي چې الله طرف ته رجوع کوونکې وي، (دوی ته به ووېلې شي) تاسو دې جنت ته په سلامتیا سره داخل شئ، همدا د همیشه اُوسیدو ورځ ده، د دوی د پاره به په دې جنت کې هر هغه څه وي چې دوی یې غواړي، او مونږ سره (د دوی د پاره) نور هم زیات څه دي. (چې هغه د الله ﷻ دیدار او د هغه رضا ده).

ددینه علاوه په نورو ډیرو سورتونو کې هم د الله تعالی نه ویرېدونکو خلقو د پاره د جنت د نعمتونو وعده شوی.(۲)

## د الله ﷻ نه ویرېدونکی به آخر هم جنت ته ځي اګر چې ګناهونه یې کړي وي

په مسند احمد، مشکاة شریف او نورو ډیرو د احادیثو په کتابونو کې دا حدیث ذکر دی:

---

(۱) ق آیة ۳۱ تا ۳۵.

(۲) په سورة الدهر کې ذکر دي چې نېکان خلق د الله تعالی نه ویرېږي، نو ددې په عوض کې به ورته الله تعالی د جنت نعمتونه ورکوي: ﴿ إِنَّا نَخَافُ مِن رَّبِّنَا يَوْمًا عَبُوسًا قَمْطَرِيرًا ۝ فَوَقَاهُمُ اللَّهُ شَرَّ ذَٰلِكَ الْيَوْمِ وَلَقَّاهُمْ نَضْرَةً وَسُرُورًا ۝ وَجَزَاهُم بِمَا صَبَرُوا جَنَّةً وَحَرِيرًا ۝ مُّتَّكِئِينَ فِيهَا عَلَى الْأَرَائِكِ لَا يَرَوْنَ فِيهَا شَمْسًا وَلَا زَمْهَرِيرًا ۝ وَدَانِيَةً عَلَيْهِمْ ظِلَالُهَا وَذُلِّلَتْ قُطُوفُهَا تَذْلِيلًا ۝ وَيُطَافُ عَلَيْهِم بِآنِيَةٍ مِّن فِضَّةٍ وَأَكْوَابٍ كَانَتْ قَوَارِيرَا ۝ قَوَارِيرَ مِن فِضَّةٍ قَدَّرُوهَا تَقْدِيرًا ۝ وَيُسْقَوْنَ فِيهَا كَأْسًا كَانَ مِزَاجُهَا زَنجَبِيلًا ۝ عَيْنًا فِيهَا تُسَمَّىٰ سَلْسَبِيلًا ۝ وَيَطُوفُ عَلَيْهِمْ وِلْدَانٌ مُّخَلَّدُونَ إِذَا رَأَيْتَهُمْ حَسِبْتَهُمْ لُؤْلُؤًا مَّنثُورًا ۝ وَإِذَا رَأَيْتَ ثَمَّ رَأَيْتَ نَعِيمًا وَمُلْكًا كَبِيرًا ۝ عَالِيَهُمْ ثِيَابُ سُندُسٍ خُضْرٌ وَإِسْتَبْرَقٌ وَحُلُّوا أَسَاوِرَ مِن فِضَّةٍ وَسَقَاهُمْ رَبُّهُمْ شَرَابًا طَهُورًا ۝ إِنَّ هَٰذَا كَانَ لَكُمْ جَزَاءً وَكَانَ سَعْيُكُم مَّشْكُورًا ﴾. الدهر آیة ۱۰ تا ۲۲.

Scanned with CamScanner

حضرت ابودَرداء رضي الله عنه فرمايي : ما د نبي عليه السلام نه په ممبر باندې واوريدل چې وعظ يې کولو او دا آيتِ مبارکه يې تلاوت کړو :

﴿ وَلِمَنْ خَافَ مَقَامَ رَبِّهٖ جَنَّتٰنِ ﴾ .

ترجمه : او څوک چې د خپل رب په وړاندې د أودريدلو نه ويريږي نو د هغه د پاره دوه جنتونه (باغونه) دي .

نو ما نبي عليه السلام ته اوفرمايل :

وَإِنْ زَنٰى وَإِنْ سَرَقَ ؟ يَارَسُوْلَ اللهِ .

اې د الله رسوله ! اگر که دا کس زِنا او غلا اوکړي ؟

نبي ﷺ په دويمه پېره ( د تاکيد د پاره ) دا آيتِ مبارکه تلاوت کړو :

﴿ وَلِمَنْ خَافَ مَقَامَ رَبِّهٖ جَنَّتٰنِ ﴾ .

ترجمه : او څوک چې د خپل رب په وړاندې د أودريدلو نه ويريږي نو د هغه د پاره دوه جنتونه دي .

ما ورنه په دويمه پېره هم هم دا پوښتنه اوکړه :

وَإِنْ زَنٰى وَإِنْ سَرَقَ ؟ يَارَسُوْلَ اللهِ .

اې د الله رسوله ! اگر که دا کس زِنا او غلا اوکړي ؟

نبي عليه السلام په درېيمه پېره ( د تاکيد د پاره ) هم دا آيتِ مبارکه تلاوت کړو :

﴿ وَلِمَنْ خَافَ مَقَامَ رَبِّهٖ جَنَّتٰنِ ﴾ .

ترجمه : او څوک چې د خپل رب په وړاندې د أودريدلو نه ويريږي نو د هغه د پاره دوه جنتونه دي .

ما ورنه په درېيمه پېره پوښتنه اوکړه :

وَإِنْ زَنٰى وَإِنْ سَرَقَ ؟ يَارَسُوْلَ اللهِ .

اې د الله رسوله ! اگر که دا کس زِنا او غلا اوکړي ؟

نبي عليه السلام اوفرمايل :

Scanned with CamScanner

آو (دا کس به جنت ته داخليږي) اګر چې د ابودَرداء پُوزه په خاورو باندې ککړه شي. (۱)

## د الله ﷻ نه يريدونکي ځوان ته نبي عليه السلام د جنت زيرې ورکړو

حضرت عبدالله بن عباس رضي الله عنهما فرمايي چې کله الله تعالى په خپل پيغمبر باندې دا آيت نازل کړو:

﴿ يَاأَيُّهَا الَّذِينَ آمَنُوا قُوا أَنفُسَكُمْ وَأَهْلِيكُمْ نَارًا وَقُودُهَا النَّاسُ وَالْحِجَارَةُ ﴾. (۲)

ترجمه: اې مؤمنانو! تاسو خپل ځانونه او خپل کوروالـه د هغه اُور نه اُوساتئ چې د هغې خشاک خلق او کاڼړي دي.

نو رسولُ الله صلى الله عليه وسلم يوه شپه دا آيت صحابه کرامو ته تلاوت کړو، يو ځوان (ددې په آوريدو سره) رااُوغورځيد او بې هوشه شو.

رسولُ الله ﷺ خپل لاس مبارک د هغه په زړه باندې کيښود نو هغه خوزيدو، نو ورته وې فرمايل:

يَا فَتَى! قُلْ " لَا إِلَهَ إِلَّا اللَّهُ ". اې ځوانه! " لَا إِلَهَ إِلَّا اللَّهُ " اُووايه.

---

(۱) عَنْ أَبِي الدَّرْدَاءِ رضي الله عنه، أَنَّهُ سَمِعَ النَّبِيَّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ، وَهُوَ يَقُصُّ عَلَى الْمِنْبَرِ: {وَلِمَنْ خَافَ مَقَامَ رَبِّهِ جَنَّتَانِ}، فَقُلْتُ: وَإِنْ زَنَى وَإِنْ سَرَقَ؟ يَا رَسُولَ اللهِ. فَقَالَ النَّبِيُّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: الثَّانِيَةَ: {وَلِمَنْ خَافَ مَقَامَ رَبِّهِ جَنَّتَانِ}، فَقُلْتُ فِي الثَّانِيَةِ: وَإِنْ زَنَى، وَإِنْ سَرَقَ؟ يَا رَسُولَ اللهِ. فَقَالَ النَّبِيُّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ الثَّالِثَةَ: {وَلِمَنْ خَافَ مَقَامَ رَبِّهِ جَنَّتَانِ} فَقُلْتُ الثَّالِثَةَ: وَإِنْ زَنَى وَإِنْ سَرَقَ؟ يَا رَسُولَ اللهِ، قَالَ: « نَعَمْ، وَإِنْ رَغِمَ أَنْفُ أَبِي الدَّرْدَاءِ ». مسند احمد مخرجا رقم الحديث ۸۶۸۳، مشكاة المصابيح كتاب الدَّعوَات بَابُ سَعَةِ رَحْمَةِ اللهِ الْفَصْلُ الثَّانِي رقم الحديث ۲۳۷۶ (۱۳)، السنن الكبرى للنسائي رقم الحديث ۱۱۴۹۶، تفسير البغوي ج ۴ ص ۳۴۰ سورة الرحمن في تفسير آية ۴۶، شرح السنة للبغوي رقم الحديث ۴۱۸۹، مجمع الزوائد رقم الحديث ۱۱۳۹۰.

(رَغِمَ) بِكَسْرِ الْغَيْنِ، أَيْ: لَصِقَ بِالتُّرَابِ ذُلًّا وَهَوَانًا (أَنْفُ أَبِي الدَّرْدَاءِ) وَضُبِطَ بِفَتْحِهَا، فَقِيلَ: مَعْنَاهُ ذَلَّ، وَقِيلَ اضْطَرَبَ، وَقِيلَ غَضِبَ، وَظَاهِرُ الْحَدِيثِ أَنَّ مِنْ عَلَى عُمُومِهِ. مرقاة المفاتيح شرح مشكاة المصابيح ج ۴ ص ۱۶۳۷ رقم الحديث ۲۳۷۶ (۱۳).

(۲) التحريم آية ۶.

هغه دا اُوويله ، نو نبي عليه السلام هغه ته د جنت زيرې وركړو .

صحابه كرامو ورته اوفرمايل : اې د الله رسوله ! تاسو زمونږ د وړاندې ده ته د جنت زيرې وركوى ؟

رسول الله ﷺ ورته اوفرمايل :

أَمَا سَمِعْتُمْ قَوْلَ اللهِ عَزَّ وَجَلَّ ﴿ لِمَنْ خَافَ مَقَامِيْ وَخَافَ وَعِيْدِ ﴾ .

آيا تاسو د الله تعالى دا قول ندې اَورېدلى ؟ چې هغه فرمايي : دا ( د اِنعام وعده ) د هغه چا د پاره ده چې هغه زما په وړاندې د اَودرېدو او زما د عذاب نه وېرېږي .(۱)

## په دُنيا كې د الله ﷻ نه وېرېدونكى به په قيامت كې د وېرې نه په اَمن وي

حديثِ قدسي دى ، الله تعالى فرمايي :

وَعِزَّتِيْ لَا أَجْمَعُ عَلَى عَبْدِيْ خَوْفَيْنِ وَأَمْنَيْنِ، إِذَا خَافَنِيْ فِي الدُّنْيَا أَمَّنْتُهُ يَوْمَ الْقِيَامَةِ . وَإِذَا أَمِنَنِيْ فِي الدُّنْيَا أَخَفْتُهُ يَوْمَ الْقِيَامَةِ .(۲)

زما دې په خپل عزت باندې قسَم وي چې زه به په خپل بنده باندې دوه وېرې او دوه آمنه نه جمع كوم ، كه دا بنده د ما نه په دُنيا كې وېرېږي نو زه ورته د قيامت په ورځ د وېرې نه اَمان وركوم ، او كله چې دا په دُنيا كې زما د عذاب نه په اَمن كې وي (يعنى د ما نه نه

(۱) عَنِ ابْنِ عَبَّاسٍ رَضِيَ اللهُ عَنْهُمَا، قَالَ: لَمَّا أَنْزَلَ اللهُ عَزَّ وَجَلَّ عَلَى نَبِيِّهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ {يَا أَيُّهَا الَّذِيْنَ آمَنُوْا قُوْا أَنْفُسَكُمْ وَأَهْلِيْكُمْ نَارًا} تَلَاهَا رَسُوْلُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ عَلَى أَصْحَابِهِ ذَاتَ لَيْلَةٍ، أَوْ قَالَ يَوْمٍ فَخَرَّ فَتًى مَغْشِيًّا عَلَيْهِ، فَوَضَعَ النَّبِيُّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَدَهُ عَلَى فُؤَادِهِ، فَإِذَا هُوَ يَتَحَرَّكُ، فَقَالَ: « يَا فَتَى ! قُلْ لَا إِلٰهَ إِلَّا اللهُ » . فَقَالَهَا ، فَبَشَّرَهُ بِالْجَنَّةِ، فَقَالَ أَصْحَابُهُ: يَا رَسُوْلَ اللهِ ! أَمِنْ بَيْنِنَا ؟ فَقَالَ رَسُوْلُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: " أَمَا سَمِعْتُمْ قَوْلَ اللهِ عَزَّ وَجَلَّ {ذٰلِكَ لِمَنْ خَافَ مَقَامِيْ وَخَافَ وَعِيْدِ} (سورة إبراهيم آية ۱۴) . المستدرك على الصحيحين للحاكم رقم الحديث ۳۳۳۸ وقال الحاكم : هٰذَا حَدِيْثٌ صَحِيْحُ الْإِسْنَادِ وَلَمْ يُخْرِجَاهُ. شعب الايمان رقم الحديث ۷۲۰ .

(۲) صحيح ابن حبان مخرجا رقم الحديث ۶۴۰ كِتَابُ الرَّقَائِقِ بَابُ حُسْنِ الظَّنِّ بِاللهِ تَعَالَى ذِكْرُ الْبَيَانِ بِأَنَّ حُسْنَ الظَّنِّ الَّذِيْ وَصَفْنَاهُ يَجِبُ أَنْ يَكُوْنَ مَقْرُوْنًا بِالْخَوْفِ مِنْهُ جَلَّ وَعَلَا ، شعب الايما رقم الحديث ۷۵۹ ، الاداب للبيهقي رقم الحديث ۸۲۶ ، مجمع الزوائد رقم الحديث ۱۸۲۰۰ ، الزواجر ج۱ ص ۲۹ ، صحيح الترغيب والترهيب رقم الحديث ۳۳۷۶ الترغيب في الخوف وفضله ، كنز العمال رقم الحديث ۵۹۱۹ .

Scanned with CamScanner

وېرېږي) نو په قیامت کې به زه دا په وېره کې اوساتم.

## د الله ﷻ نه وېرېدونکی به د جهنم د اور نه په آمن وي

الله تعالی د جنتیانو یوه خبره دا هم نقل کړې چې دوی به هلته وايي:

﴿ إِنَّا كُنَّا قَبْلُ فِيٓ أَهْلِنَا مُشْفِقِينَ ۝ فَمَنَّ ٱللَّهُ عَلَيْنَا وَوَقَىٰنَا عَذَابَ ٱلسَّمُومِ ﴾.(۱)

ترجمه: بیشکه مونږ به د دینه وړاندې په خپلو کورونو کې (ډېر) وېرېدو نو الله تعالی راباندې احسان اوکړو او مونږ یې د ګرمې هوا (یعنی د جهنم) د عذاب نه بچ کړو.

## د الله ﷻ د یرې نه ژړاکوونکی به جهنم ته نه داخلېږي

۱ . رسول الله ﷺ فرمايي:

لَا يَلِجُ النَّارَ رَجُلٌ بَكَى مِنْ خَشْيَةِ اللهِ حَتَّى يَعُودَ اللَّبَنُ فِي الضَّرْعِ ... (۲)

هغه کس به هیڅ کله جهنم ته داخل نشي چې د الله ﷻ د وېرې اوښکې تردې چې شوده غلانځې ته واپس شي.

یعنی لکه څرنګې چې د غلانځې نه راوتلي شوده واپس غلانځې ته نشي داخلیدی نو همدغه شان به دا کس هم جهنم ته داخل نشي.(۳)

۲ . د ابن ماجه شریف او مشکوة شریف حدیث دی، رسول الله ﷺ فرمايي:

---

(۱) الطور آية ۲۶، ۲۷.

(۲) سنن الترمذي أَبْوَابُ الزُّهْدِ عَنْ رَسُولِ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ بَابُ مَا جَاءَ فِي فَضْلِ الْبُكَاءِ مِنْ خَشْيَةِ اللهِ رقم الحديث ۲۳۱۱ ، ورقم الحديث ۱۶۳۳ أَبْوَابُ فَضَائِلِ الْجِهَادِ عَنْ رَسُولِ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ بَابُ مَا جَاءَ فِي فَضْلِ الْغُبَارِ فِي سَبِيلِ اللهِ وقال الترمذي: هَذَا حَدِيثٌ حَسَنٌ صَحِيحٌ. مسند احمد مخرجا رقم الحديث ۱۰۵۶۰ ، سنن النسائي رقم الحديث ۳۱۰۸ ، المستدرک على الصحيحين للحاكم رقم الحديث ۷۶۶۷ ، مشكاة المصابيح كتاب الجهاد الفصل الثاني رقم الحديث ۳۸۲۸(۴۱).

(۳) (حَتَّى يَعُودَ اللَّبَنُ فِي الضَّرْعِ) : هَذَا مِنْ بَابِ التَّعْلِيقِ بِالْمُحَالِ كَقَوْلِهِ تَعَالَى: {حَتَّى يَلِجَ الْجَمَلُ فِي سَمِّ الْخِيَاطِ} [الأعراف آية ۴۰] . مرقاة المفاتيح شرح مشكاة المصابيح ج ۶ ص ۲۴۷۸ كتاب الجهاد الفصل الثاني رقم الحديث ۳۸۲۸ .

Scanned with CamScanner

مَا مِنْ عَبْدٍ مُؤْمِنٍ يَخْرُجُ مِنْ عَيْنَيْهِ دُمُوعٌ وَإِنْ كَانَ مِثْلَ رَأْسِ الذُّبَابِ مِنْ خَشْيَةِ اللهِ ثُمَّ تُصِيبُ شَيْئًا مِنْ حُرِّ وَجْهِهِ إِلَّا حَرَّمَهُ اللهُ عَلَى النَّارِ . (١)

د کوم مؤمن بنده د سترګو نه چې د الله ﷻ د ېرې نه اُوښکې رااُووځي اګرچې د مچ د سَر برابر وي بيا دا اُوښکې د مخ څه حصې ته اُورسي نو الله تعالى به دا د جهنم په اُور باندې حرام کړي.

٢ . په يوه موقع باندې رسول الله ﷺ اوفرمايل :

حُرِّمَتِ النَّارُ عَلَى عَيْنٍ دَمَعَتْ مِنْ خَشْيَةِ اللهِ ، حُرِّمَتِ النَّارُ عَلَى عَيْنٍ سَهِرَتْ فِي سَبِيلِ اللهِ . (٢)

د جهنم اُور په هغه سترګه باندې حرام کړې شوې دى چې په هغې کې د الله ﷻ د يَرې نه اُوښکې راشي ، او په هغه سترګه باندې هم د جهنم اُور حرام کړې شوې دى چې هغه د الله ﷻ په لار کې د پهرې کولو په وجه ويخه پاتې شي . (٣)

---

(١) سنن ابن ماجة كِتَابُ الزُّهْدِ بَابُ الْحُزْنِ وَالْبُكَاءِ رقم الحديث ٤١٩٧ ، مشكاة المصابيح كتاب الرقاق بَاب الْبكاء وَالْخَوْف الْفَصْل الثَّالِث رقم الحديث ٥٣٥٩(٢١) ، شعب الايمان رقم الحديث ٧٨١ ، الترغيب والترهيب للمنذري رقم الحديث ٥٠٣٤ ، احياء علوم الدين ج ٤ ص ١٦٣ .

(٢) المستدرک على الصحيحين للحاكم كِتَابُ الْجِهَادِ رقم الحديث ٢٤٣٢ وقال الحاكم: هَذَا حَدِيثٌ صَحِيحُ الْإِسْنَادِ وَلَمْ يُخَرِّجَاهُ" ووافقه الذهبي . السنن الكبرى للبيهقي رقم الحديث ١٨٤٣٥ باب فضل الحرس في سبيل الله ، مسند احمد رقم الحديث ١٧٢١٣ ، المعجم الاوسط رقم الحديث ٨٧٤١ ، مجمع الزوائد رقم الحديث ٩٤٨ باب الحرس في سبيل الله.

(٣) عَنِ ابْنِ عَبَّاسٍ رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُمَا قَالَ: سَمِعْتُ رَسُولَ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَقُولُ: عَيْنَانِ لَا تَمَسُّهُمَا النَّارُ : عَيْنٌ بَكَتْ مِنْ خَشْيَةِ اللهِ ، وَعَيْنٌ بَاتَتْ تَحْرُسُ فِي سَبِيلِ اللهِ. سنن الترمذي أَبْوَابُ فَضَائِلِ الْجِهَادِ بَابُ مَا جَاءَ فِي فَضْلِ الْحَرَسِ فِي سَبِيلِ اللهِ رقم الحديث ١٦٣٩ ، قال الالباني : حديث صحيح . مشكاة المصابيح كتاب الجهاد الفصل الثاني رقم الحديث ٣٨٢٩ (٤٢) .

حضرت عبدالله بن عباس رضي الله عنهما فرمايي چې ما د رسول الله صلى الله عليه وسلم نه دا حديث آوريدلى چې فرمايل يې : دوه سترګې داسې دي چې هيڅ کله به دا د جهنم اُور مَسه نکړي ( يعنى د جهنم معمولي آثر به هم وَر او نه رسي ) : يوه هغه سترګه چې د الله ﷻ د يَرې يې ژړلي وي ، او دويمه هغه سترګه چې د الله ﷻ په لار ( جهاد ) کې يې د پهرې په وجه شپه ويخه تېره کړې وي .

Scanned with CamScanner
Scanned with CamScanner

٤. رسول الله صلی الله علیه وسلم فرمایي:

مَنْ ذَكَرَ اللهَ فَفَاضَتْ عَيْنَاهُ مِنْ خَشْيَةِ اللهِ حَتَّى يُصِيبَ الْأَرْضَ مِنْ دُمُوعِهِ لَمْ يُعَذِّبْهُ اللهُ تَعَالَى يَوْمَ الْقِيَامَةِ. (۱)

څوک چې الله تعالی یاد کړي او د الله ﷻ د یَرې نه یې د سترګو نه اُوښکې رواني شي تر دې چې زمکې ته اُورسیږي نو الله تعالی به ده ته د قیامت په ورځ عذاب ورنکړي.

۵. یو سړي نبي علیه السلام ته اوفرمایل:

يَا رَسُولَ اللهِ! بِمَ أَتَّقِي النَّارَ؟

اې د الله رسوله! زه به د څه شي په وجه د جهنم د اُور نه بچ شم؟

نبي علیه السلام ورته اوفرمایل:

بِدُمُوعِ عَيْنَيْكَ، فَإِنَّ عَيْنًا بَكَتْ مِنْ خَشْيَةِ اللهِ لَا تَمَسُّهَا النَّارُ أَبَدًا.

د سترګو د اُوښکو په وجه؛ ځکه کومه سترګه چې د الله ﷻ د یَرې اُوژاړي نو دا به هیڅ کله د جهنم اُور مَسه نکړي. (۲)

## الله ﷻ ته ډیر محبوب څاڅکي

د الله ﷻ د یَرې نه اُوښکې تُویول الله تعالی ته محبوب عمل دَی.

رسول الله ﷺ فرمایي:

(۱) المستدرک علی الصحیحین للحاکم كِتَابُ التَّوْبَةِ وَالْإِنَابَةِ رقم الحدیث ۷٦٦۸ وقال الحاکم: هَذَا صَحِيحُ الْإِسْنَادِ وَلَمْ يُخَرِّجَاهُ. ووافقه الذهبي. المعجم الاوسط رقم الحدیث ۱٦٤۱، و رقم الحدیث ٦۱۷۱، کنز العمال رقم الحدیث ۱۸۳۰، الزهد لابي داؤد رقم الحدیث ۱۹۰.

(۲) پوره حدیث داسې دی: عَنْ زَيْدِ بْنِ أَرْقَمَ رضي الله عنه، قَالَ: قَالَ رَجُلٌ: يَا رَسُولَ اللهِ! بِمَ أَتَّقِي النَّارَ؟ قَالَ: «بِدُمُوعِ عَيْنَيْكَ، فَإِنَّ عَيْنًا بَكَتْ مِنْ خَشْيَةِ اللهِ لَا تَمَسُّهَا النَّارُ أَبَدًا». الرقة والبکاء لابن ابي الدنیا ج ۱ ص ۴۳ ذِكْرُ الْبُكَاءِ مِنْ خَشْيَةِ اللهِ وَثَوَابِهِ رقم الحدیث ۴. الترغیب والترهیب للمنذري رقم الحدیث ۵۰۳۰ التَّرْغِيبُ فِي الْبُكَاءِ من خشية الله تعالى، الترغیب والترهیب لقوام السنة ج ۱ ص ۳۰۷ رقم الحدیث ۵۰۷.

.... مَا قَطْرَةٌ أَحَبَّ إِلَى اللهِ مِنْ قَطْرَةِ دَمْعٍ مِنْ خَشْيَةِ اللهِ، أَوْ قَطْرَةِ دَمٍ فِي سَبِيلِ اللهِ. (۱)

الله تعالى ته بل هيڅ څاڅکي دومره محبوب ندی څومره چې ورته د اُوښکې هغه څاڅکي ډير محبوب دی کوم چې د الله ﷻ د يرې په وجه د سترګو نه را اُووځي، يا د وينې هغه څاڅکي ورته ډير محبوب دی کوم چې د الله په لاره (جهاد) کې توی شي.

## د الله ﷻ نه ويريدونکي د پاره د عرش د سيوري لاندې ځاى

په بخاري شريف او مسلم شريف کې اُوږد حديث ذکر دی، چې د قيامت په ورځ به اُووه (۷) کسانو ته الله ﷻ د خپل عرش د سيوري لاندې ځاى ورکړي ..... يو په هغې کې هغه کس هم دی:

وَرَجُلٌ ذَكَرَ اللهَ خَالِيًا فَفَاضَتْ عَيْنَاهُ.

چې الله تعالى ځانله (بې رِيا) ياد کړي او د سترګو نه يې اُوښکې روانې شي. (۲)

---

(۱) پوره حديث داسې دی: قَالَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: مَا جُرْعَةٌ أَحَبَّ إِلَى اللهِ مِنْ جُرْعَةِ غَيْظٍ كَظَمَهَا رَجُلٌ. أَوْ جُرْعَةِ صَبْرٍ عِنْدَ مُصِيبَةٍ، وَمَا قَطْرَةٌ أَحَبَّ إِلَى اللهِ مِنْ قَطْرَةِ دَمْعٍ مِنْ خَشْيَةِ اللهِ، أَوْ قَطْرَةِ دَمٍ فِي سَبِيلِ اللهِ. شعب الايمان رقم الحديث ۷۹۵۵ حسن الخلق فصل في ترک الغضب ...، و رقم الحديث ۷۹۷۲، الآداب للبيهقي رقم الحديث ۱۳۶ باب كظم الغيظ، كنز العمال رقم الحديث ۴۳۴۶۹، احياء علوم الدين ج۴ ص ۱۶۳.

(۲) پوره حديث داسې دی: عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ رضي الله عنه، عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ: سَبْعَةٌ يُظِلُّهُمُ اللهُ فِي ظِلِّهِ، يَوْمَ لَا ظِلَّ إِلَّا ظِلُّهُ: اَلْإِمَامُ الْعَادِلُ، وَشَابٌّ نَشَأَ فِي عِبَادَةِ رَبِّهِ، وَرَجُلٌ قَلْبُهُ مُعَلَّقٌ فِي الْمَسَاجِدِ، وَرَجُلَانِ تَحَابَّا فِي اللهِ اجْتَمَعَا عَلَيْهِ وَتَفَرَّقَا عَلَيْهِ، وَرَجُلٌ طَلَبَتْهُ امْرَأَةٌ ذَاتُ مَنْصِبٍ وَجَمَالٍ، فَقَالَ: إِنِّي أَخَافُ اللهَ، وَرَجُلٌ تَصَدَّقَ أَخْفَى حَتَّى لَا تَعْلَمَ شِمَالُهُ مَا تُنْفِقُ يَمِينُهُ، وَرَجُلٌ ذَكَرَ اللهَ خَالِيًا فَفَاضَتْ عَيْنَاهُ. صحيح البخاري كِتَابُ الْأَذَانِ بَابُ مَنْ جَلَسَ فِي الْمَسْجِدِ يَنْتَظِرُ الصَّلَاةَ وَفَضْلِ الْمَسَاجِدِ رقم الحديث ۶۶۰، و رقم الحديث ۱۴۲۳ كِتَابُ الزَّكَاةِ بَابُ الصَّدَقَةِ بِالْيَمِينِ، و رقم الحديث ۶۸۰۶ كِتَابُ الْحُدُودِ بَابُ فَضْلِ مَنْ تَرَكَ الْفَوَاحِشَ. صحيح مسلم كِتَابُ الزَّكَاةِ بَابُ فَضْلِ إِخْفَاءِ الصَّدَقَةِ رقم الحديث ۹۱(۱۰۳۱)؛ سنن الترمذي رقم الحديث ۲۳۹۱.

عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ رَضِيَ اللهُ عَنْهُ، عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ: سَبْعَةٌ يُظِلُّهُمُ اللهُ: رَجُلٌ ذَكَرَ اللهَ فَفَاضَتْ عَيْنَاهُ. صحيح البخاري كِتَابُ الرِّقَاقِ بَابُ الْبُكَاءِ مِنْ خَشْيَةِ اللهِ رقم الحديث ۶۴۷۹.

Scanned with CamScanner

# د الله ﷻ نه ويريدو په وجه ګناهونه معاف کيدل

رسول الله صلى الله عليه وسلم فرمايي :

إِذَا اقْشَعَرَّ جِلْدُ الْعَبْدِ مِنْ خَشْيَةِ اللهِ تَحَاتَّتْ عَنْهُ خَطَايَاهُ كَمَا تَحَاتُّ عَنِ الشَّجَرَةِ الْبَالِيَةِ وَرَقُهَا. (۱)

چې کله د يو بنده د بدن ويښتان د الله ﷻ د يَرې نه زيک شي نو په دې وخت کې دده ګناهونه داسې رژېږي لکه د زړې اُوچې اُونې نه چې پاڼې رژېږي .

يعنې د الله ﷻ نه د يريدو په وجه د انسان ګناهونه رژېږي .

## يو ګناهګار ته د الله ﷻ نه يَريدو په وجه مغفرت

( د بني اسرائيلو ) يو ګناهګار کس کوم چې د ايمان نه علاوه بل هيڅ نيک عمل نه وُ کړی ( بلکه کفن کش وُ (۲) ) کله چې دده د مرګ وخت نزدې شو نو خپل اولاد ته يې ووېل : چې کله زه مړشم نو ما اوسوزَوئ ، بيا دا اِيره نيمه په اُوچه کې والوزوَئ ، او نيمه په درياب کې پريږدئ ، قسم په الله ، که چيرته د الله ﷻ راباندې وَس بَر شو نو د اسې عذاب به راکړي چې په مخلوقاتو کې به يې بل هيچاته داسې عذاب نه وي ورکړې ( دا خبره يې د ډيرې وېرې د وجې اوکړه (۳) ).

کله چې دا وفات شو نو خپلو ځامنو ورسره د وصيت مطابق معامله اوکړه . بل طرفته الله ﷻ اُوچې ته حکم اوکړو چې دده اجزاء راجمع کړئ ، او سمندر ته يې هم حکم اوکړو چې دده اجزاء راجمع کړه او پوره انسان يې ورنه جوړ کړو ، بيا الله ﷻ ورته اوفرمايل :

لِمَ فَعَلْتَ هٰذَا؟ ( ای بنده ! ) دا کار دې ولې کړی وُ ؟

---

(۱) مسند البزار ج ۴ ص ۱۳۸ رقم الحديث ۱۳۲۲ وَمِنْ رِوَايَتِ أُمِّ كُلْثُومَ بِنْتِ الْعَبَّاسِ ، مجمع الزوائد كِتَابُ الزُّهْدِ بَابُ فِيمَنِ اقْشَعَرَّ مِنْ خَشْيَةِ اللهِ رقم الحديث ۱۸۲۱۷ ، كنز العمال رقم الحديث ۵۸۷۹ .

(۲) ذكر الحافظ عن رواية للطبراني انه كان من بني اسرائيل وكان ينبش القبور وقد صرح عقبة بن عمرو رضي الله عنه بكونه نبّاشا وذلك في حديثه عند البخاري في الانبياء . تكمله فتح الملهم ج ۶ ص ۱۲ .

(۳) قال ذلك في حال دهشته وغلبة الخوف عليه . تكملة فتح الملهم ج ۶ ص ۱۳ حديث ۶۹۳۵ .

Scanned with CamScanner

(آیا ستا په ما یقین نه ؤ چې زه انسان دوباره ژوندې کولې شم؟)
هغه ورته جواب ورکړو:
مِنْ خَشْيَتِكَ يَا رَبِّ وَأَنْتَ أَعْلَمُ.
ای ربه! ستا د ویرې د وجې مې دا کار کړی ؤ، او تاته ښه معلومه ده چې ما هیڅ نیک کار ندې کړې. (ستا د عذاب نه ویرېدم، نو ځکه مې بچو ته حکم کړې و چې ما أوسوزوئ، نبي علیه السلام اوفرمایل چې د الله جل جلاله رحمت په جوش کې راغی)
فَغَفَرَ اللهُ لَهُ. نو الله تعالی ده ته بخښنه اوکړه. (۱)

## د نېکو اعمالو کولو باوجود بیا هم د الله ﷻ نه يَره په کار ده

د مسلمان شان دادی چې که دا د الله تعالی عبادت کوي، یا نور صدقات وغیره کوي، خو بیا هم ورسره دا یَره په کار ده چې چیرته دا نیک اعمال رَد (غیر مقبول) نشي.
په احادیثو کې راځي چې حضرت عائشې رضي الله عنها د نبي علیه السلام نه ددې آیت:

---

(۱) عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ رضي الله عنه، أَنَّ رَسُولَ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ، قَالَ: قَالَ رَجُلٌ لَمْ يَعْمَلْ حَسَنَةً قَطُّ، لِأَهْلِهِ: إِذَا مَاتَ فَحَرِّقُوهُ، ثُمَّ اذْرُوا نِصْفَهُ فِي الْبَرِّ وَنِصْفَهُ فِي الْبَحْرِ، فَوَاللهِ لَئِنْ قَدَرَ اللهُ عَلَيْهِ لَيُعَذِّبَنَّهُ عَذَابًا لَا يُعَذِّبُهُ أَحَدًا مِنَ الْعَالَمِينَ، فَلَمَّا مَاتَ الرَّجُلُ فَعَلُوا مَا أَمَرَهُمْ، فَأَمَرَ اللهُ الْبَرَّ فَجَمَعَ مَا فِيهِ، وَأَمَرَ الْبَحْرَ فَجَمَعَ مَا فِيهِ، ثُمَّ قَالَ: لِمَ فَعَلْتَ هَذَا؟ قَالَ: مِنْ خَشْيَتِكَ، يَا رَبِّ وَأَنْتَ أَعْلَمُ، فَغَفَرَ اللهُ لَهُ. صحیح مسلم كتاب التَّوْبَةِ بَابٌ فِي سِعَةِ رَحْمَةِ اللهِ تَعَالَى وَأَنَّهَا سَبَقَتْ غَضَبَهُ رقم الحديث ۲۴ (۲۷۵۶).

دا واقعه په بخاري شریف کې داسې ذکر ده: عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ رَضِيَ اللهُ عَنْهُ، عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ، قَالَ: كَانَ رَجُلٌ يُسْرِفُ عَلَى نَفْسِهِ فَلَمَّا حَضَرَهُ الْمَوْتُ قَالَ لِبَنِيهِ: إِذَا أَنَا مُتُّ فَأَحْرِقُونِي، ثُمَّ اطْحَنُونِي، ثُمَّ ذَرُّونِي فِي الرِّيحِ، فَوَاللهِ لَئِنْ قَدَرَ عَلَيَّ رَبِّي لَيُعَذِّبَنِّي عَذَابًا مَا عَذَّبَهُ أَحَدًا، فَلَمَّا مَاتَ فُعِلَ بِهِ ذَلِكَ، فَأَمَرَ اللهُ الْأَرْضَ فَقَالَ: اجْمَعِي مَا فِيكِ مِنْهُ، فَفَعَلَتْ، فَإِذَا هُوَ قَائِمٌ، فَقَالَ: مَا حَمَلَكَ عَلَى مَا صَنَعْتَ؟ قَالَ: يَا رَبِّ خَشْيَتُكَ، فَغَفَرَ لَهُ. وَقَالَ غَيْرُهُ: «مَخَافَتُكَ يَا رَبِّ». صحیح البخاري كِتَابُ أَحَادِيثِ الأَنْبِيَاءِ بَابُ حَدِيثِ الغَارِ رقم الحديث ۳۴۸۱، و رقم الحديث ۷۵۰۶ كِتَابُ التَّوْحِيدِ بَابُ قَوْلِ اللهِ تَعَالَى: {يُرِيدُونَ أَنْ يُبَدِّلُوا كَلاَمَ اللهِ}، و رقم الحديث ۳۴۵۲، و رقم الحديث ۳۴۷۸.

Scanned with CamScanner

﴿ وَالَّذِينَ يُؤْتُونَ مَا آتَوا وَّقُلُوبُهُمْ وَجِلَةٌ ﴾.(۱)

متعلق پوښتنه اوکړه چې په دې کې خو الله تعالی فرمايلي :

" کوم خلق چې ورکړه کوي خو ددې باوجود يې زړونه ويرېږي "

نو آيا دا ويرېدونکې هغه کس دی چې زِنا کوي ، غلا کوي ، او شراب څکي ؟

نبي عليه السلام ورته اوفرمايل : اې د ابوبکر صديق ( ﷺ ) لورې ! داسې نده ، بلکه دا ويرېدونکې هغه کس دی چې روژې نيسي ، مونځ کوي ، او صدقې ورکوي خو ددې باوجود بيا هم ددې د نه قبليدو نه ويرېږي .(۲)

( يعنی د نېکو اعمالو کولو باوجود ورسره دا يره وي چې چيرته زمونږ د کوتاهی په وجه دا رَد نشي ) .

حسن بصري رَحِمَهُ اللهُ فرمايي : مونږ داسې خلق ليدلي چې د نېکو اعمالو کولو باوجود به دومره ويرېدل چې دومره تاسو په خرابو اعمالو کولو هم نه ويرېږئ .(۳)

## ذُهوکه کيدل ندي پکار

حاتم اَصَم رَحِمَهُ اللهُ فرمايي چې د ځای په ښه والي باندې مه ذُهوکه کيږه ؛ ځکه د جنت نه بهترين ځای نه وُ خو بيا هم په کې حضرت آدم عليه السلام د شيطاني وَسوسې نه بچ نه شو (او جنت نه رااُوويستلې شو) .

په ډير عبادت مه ذُهوکه کيږه ؛ ځکه ابليس د ډير عبادت باوجود بيا هم (د الله ﷻ د نافرمانۍ په وجه) تر قيامته پورې لعنتي شو .

---

(۱) المؤمنون آية ٦٠.

(۲) عَنْ عَائِشَةَ رَضِيَ اللَّهُ عَنْهَا قَالَتْ: قُلْتُ يَا رَسُولَ اللهِ ﴿ وَالَّذِينَ يُؤْتُونَ مَا آتَوا وَّقُلُوبُهُمْ وَجِلَةٌ ﴾ أَهُوَ الرَّجُلُ يَزْنِي وَيَسْرِقُ وَيَشْرَبُ الْخَمْرَ ؟ قَالَ: « لَا يَا بِنْتَ أَبِي بَكْرٍ » أَوْ « لَا يَا بِنْتَ الصِّدِّيقِ » وَلَكِنَّهُ الرَّجُلُ يَصُومُ وَيُصَلِّي وَيَتَصَدَّقُ، وَهُوَ يَخَافُ أَنْ لَا يُقْبَلَ مِنْهُ » . مسند احمد مخرجا رقم الحديث ٢٥٧٠٥ ، شعب الايمان رقم الحديث ٧٤٧ ، احياء علوم الدين ج ٣ ص ١٦٢ ، تفسير البغوي ج ٣ ص ٣٦٨، معارف القرآن سورة المؤمنون في تشريح آية ٦٠.

(۳) معارف القرآن سورة المؤمنون آية ٦٠ بحواله تفسير قرطبي.

Scanned with CamScanner

په ډېر عِلم باندې مه ډُوکه کېږه ؛ ځکه د بلعم بن باعورا سره دومره ډېر عِلم وُ چې اسمِ اعظم ورته هم یاد وُ لیکن آخري انجام یې خراب وُ.

او د صالحینو خلقو په لیدلو مه ډُوکه کېږه ؛ ځکه د الله ﷻ په نزد د نبي علیه السلام ډېره اُوچته مرتبه ده لیکن د دوی په ملاقات سره بعضې کافر رِشته دارو او د اسلام دشمنانو ته هیڅ فائده او نه رسیده.(۱)

## که انسان د الله ﷻ د عذابونو نه خبر شي نو بیا به ډېر اُو نه خاندي

۱ . د بخاري شریف حدیث دی ، حضرت انس ﷺ فرمایي چې رسولُ الله صلی الله علیه وسلم (مونږ ته) داسې خطبه اُولوسته چې ما د هغې په شان خطبه نه وه آوریدلې ، وې فرمایل :

لَوْ تَعْلَمُوْنَ مَا أَعْلَمُ لَضَحِكْتُمْ قَلِيْلًا وَلَبَكَيْتُمْ كَثِيْرًا .

که چیرته تاسو په هغه څه پوهیدی په کوم چې زه پوهیږم نو تاسو به لږ خندلي وو او ډېر به مو ژړلي وو.

د رسولُ الله ﷺ صحابه کرامو خپل مخونه پټ کړل او په اُوچت آواز سره یې

(۱) قال حاتم الأصم لا تغتر بموضع صالح فلا مكان أصلح من الجنة وقد لقي آدم عليه السلام فيها ما لقي، ولا تغتر بكثرة العبادة فإن إبليس بعد طول تعبده لقي ما لقي ، ولا تغتر بكثرة العلم فإن بلعام كان يحسن اسم الله الأعظم فانظر ماذا لقي ، ولا تغتر برؤية الصالحين فلا شخص أكبر منزلة عند الله من المصطفى صلى الله عليه وسلم ولم ينتفع بلقائه أقاربه وأعداؤه . احياء علوم الدين ج ۴ ص ۱۸۵ بيان أحوال الأنبياء والملائكة عليهم الصلاة والسلام في الخوف . نزهة الناظرين كتاب الرجاء والخوف ص ۵۵۸ ، صلاح الامة ج ۵ ص ۵۲۷ .

دا خبره علامه ابن قیم رَحِمَهُ اللهُ داسې نقل کړی ؛ قَالَ حَاتِمُ الْأَصَمُّ: لَا تَغْتَرَّ بِمَكَانٍ صَالِحٍ فَلَا مَكَانَ أَصْلَحُ مِنَ الْجَنَّةِ وَلَقِيَ فِيْهَا آدَمُ مَا لَقِيَ . وَلَا تَغْتَرَّ بِكَثْرَةِ الْعِبَادَةِ فَإِنَّ إِبْلِيْسَ بَعْدَ طُوْلِ الْعِبَادَةِ لَقِيَ مَا لَقِيَ . وَلَا تَغْتَرَّ بِكَثْرَةِ الْعِلْمِ فَإِنَّ بَلْعَامَ بْنَ بَاعُوْرَا لَقِيَ مَا لَقِيَ وَكَانَ يَعْرِفُ الْإِسْمَ الْأَعْظَمَ . وَلَا تَغْتَرَّ بِلِقَاءِ الصَّالِحِيْنَ وَرُؤْيَتِهِمْ فَلَا شَخْصَ أَصْلَحُ مِنَ النَّبِيِّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وَلَمْ يَنْتَفِعْ بِلِقَائِهِ أَعْدَاؤُهُ وَالْمُنَافِقُوْنَ. مدارج السالکین بین منازل إیاک نعبد وإیاک نستعین ج ۱ ص ۵۱۰ فَصْلُ مَنْزِلَةُ الْحُزْنِ .

ژړل ۰(۱)

په مسلم شريف کې ورسره دا هم شته :

فَمَا أَتَى عَلَى أَصْحَابِ رَسُولِ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَوْمٌ أَشَدُّ مِنْهُ .

د رسول الله ﷺ په صحابهٔ باندې د دېنه سخته ورځ چيرته نه وه راغلې ۰(۲)

۲. حضرت ابوذر رضي الله عنه فرمايي چې رسول الله ﷺ اوفرمايل :

إِنِّي أَرَى مَا لَا تَرَوْنَ، وَأَسْمَعُ مَا لَا تَسْمَعُونَ، أَطَّتِ السَّمَاءُ وَحَقَّ لَهَا أَنْ تَئِطَّ، مَا فِيهَا مَوْضِعُ أَرْبَعِ أَصَابِعَ إِلَّا عَلَيْهِ مَلَكٌ سَاجِدٌ . لَوْ عَلِمْتُمْ مَا أَعْلَمُ لَضَحِكْتُمْ قَلِيلًا وَلَبَكَيْتُمْ كَثِيرًا، وَلَا تَلَذَّذْتُمْ بِالنِّسَاءِ عَلَى الْفُرُشَاتِ، وَلَخَرَجْتُمْ إِلَى الصُّعُدَاتِ تَجْأَرُونَ إِلَى اللهِ ...(۳)

---

(۱) عَنْ أَنَسٍ رَضِيَ اللهُ عَنْهُ، قَالَ: خَطَبَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ خُطْبَةً مَا سَمِعْتُ مِثْلَهَا قَطُّ، قَالَ: « لَوْ تَعْلَمُونَ مَا أَعْلَمُ لَضَحِكْتُمْ قَلِيلًا وَلَبَكَيْتُمْ كَثِيرًا »، قَالَ: فَغَطَّى أَصْحَابُ رَسُولِ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وُجُوهَهُمْ لَهُمْ خَنِينٌ . فَقَالَ رَجُلٌ: مَنْ أَبِي؟ قَالَ: فُلَانٌ، فَنَزَلَتْ هَذِهِ الآيَةُ: { لَا تَسْأَلُوا عَنْ أَشْيَاءَ إِنْ تُبْدَ لَكُمْ تَسُؤْكُمْ } . صحيح البخاري كِتَابُ تَفْسِيرِ القُرْآنِ بَابُ قَوْلِهِ: {لَا تَسْأَلُوا عَنْ أَشْيَاءَ إِنْ تُبْدَ لَكُمْ تَسُؤْكُمْ} رقم الحديث ۴۶۲۱ ، ورقم الحديث ۶۴۸۶ .

(۲) عَنْ أَنَسِ بْنِ مَالِكٍ رضي الله عنه ، قَالَ : بَلَغَ رَسُولَ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ عَنْ أَصْحَابِهِ شَيْءٌ ، فَخَطَبَ فَقَالَ : « عُرِضَتْ عَلَيَّ الْجَنَّةُ وَالنَّارُ، فَلَمْ أَرَ كَالْيَوْمِ فِي الْخَيْرِ وَالشَّرِّ، وَلَوْ تَعْلَمُونَ مَا أَعْلَمُ لَضَحِكْتُمْ قَلِيلًا وَلَبَكَيْتُمْ كَثِيرًا » قَالَ : فَمَا أَتَى عَلَى أَصْحَابِ رَسُولِ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَوْمٌ أَشَدُّ مِنْهُ . قَالَ : غَطَّوْا رُءُوسَهُمْ وَلَهُمْ خَنِينٌ، قَالَ: فَقَامَ عُمَرُ رضي الله عنه فَقَالَ: رَضِينَا بِاللهِ رَبًّا، وَبِالْإِسْلَامِ دِينًا، وَبِمُحَمَّدٍ نَبِيًّا. قَالَ : فَقَامَ ذَاكَ الرَّجُلُ فَقَالَ: مَنْ أَبِي ؟ قَالَ: « أَبُوكَ فُلَانٌ ». فَنَزَلَتْ: {يَا أَيُّهَا الَّذِينَ آمَنُوا لَا تَسْأَلُوا عَنْ أَشْيَاءَ إِنْ تُبْدَ لَكُمْ تَسُؤْكُمْ} [المائدة آية ۱۰۱]. صحيح مسلم كِتَابُ الْفَضَائِلِ بَابُ تَوْقِيرِهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ، وَتَرْكِ إِكْثَارِ سُؤَالِهِ عَمَّا لَا ضَرُورَةَ إِلَيْهِ رقم الحديث ۱۳۴(۲۳۵۹) .

(۳) مسند احمد مخرجا رقم الحديث ۲۱۵۱۶ ، مشكاة المصابيح باب البكاء والخوف الفصل الثاني رقم الحديث ۵۳۳۷(۹) ، سنن الترمذي أَبْوَابُ الزُّهْدِ بَابٌ فِي قَوْلِ النَّبِيِّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: لَوْ تَعْلَمُونَ مَا أَعْلَمُ لَضَحِكْتُمْ قَلِيلًا رقم الحديث ۲۳۱۲ ، سنن ابن ماجة رقم الحديث ۴۱۹۰ ، المستدرک على الصحيحين للحاكم تَفْسِيرُ سُورَةِ هَلْ أَتَى عَلَى الْإِنْسَانِ رقم الحديث ۳۸۸۳ ، وقال الحاكم: هَذَا حَدِيثٌ صَحِيحُ الْإِسْنَادِ وَلَمْ يُخَرِّجَاهُ ، ووافقه الذهبي . السنن الكبرى للبيهقي رقم الحديث ۱۳۳۳۷ .

Scanned with CamScanner

Scanned with CamScanner

بيشكه زه هغه څه گورم چې تاسو يې نه گورئ ، او هغه څه اَورم چې تاسو يې نه اَورئ ( يعني د قيامت علامات ، د الله ﷻ قدرتونه ، د الله تعالىٰ صفاتِ قهريه او جَلاليه چې څنگه زه گورم داسې يې تاسو نه گورئ ، همدارنگې د قيامت احوال ، د قبر عذاب او سختئ چې زه څنگه اَورم هغه تاسو نه اَورئ ) آسمان چَنگيږي ( يعني د عبادت كوونكو فرښتو د ډيروالي په وجه آواز ورنه رااُوځي ) او په كار هم ده چې اُوچنگيږي ، ځكه په آسمان كې څلور گَوتې ځاى داسې نشته چې په هغې كې فرښتو الله تعالىٰ ته سَر په سجده نه وي ايخى ( يعني په هر ځاى كې فرښتې الله ﷻ ته په سجده پرَتې دي ) . كه چيرته تاسو په هغه څه باندې پوهيدى په كوم چې زه پوهيږم نو تاسو به لږ خَندلي وو او ډير به مو ژړلي وو ، او تاسو به د خپلو ښځو نه په بسترو باندې خوَندونه نه وو اخيستي ، او تاسو به يقينًا دَشتو (صحراگانو) طرف ته وتلي وئ ، الله ﷻ ته به مو زارئ (ژړاگانې) كولې .

## د الله ﷻ نه يَريدونكي باندې د خير او حِكمت دَروازې خلاصيږي

۱ . فضيل رَحِمَهُ اللهُ يو كس ته نصيحت كولو نو ورته وې فرمايل :

مَنْ خَافَ اللهَ تَعَالَى دَلَّهُ الْخَوْفُ عَلَى كُلِّ خَيْرٍ . (۱)

څوك چې د الله تعالىٰ نه ويريږي نو دا يَره به ده ته د هر خير راهنمائي اوكړي .

۲ . شبلي رَحِمَهُ اللهُ فرمايي :

مَا خِفْتُ اللهَ يَوْمًا إِلَّا رَأَيْتُ لَهُ بَابًا مِنَ الْحِكْمَةِ وَالْعِبْرَةِ مَا رَأَيْتُهُ قَطُّ . (۲)

په كومه ورځ چې زه د الله تعالىٰ نه ويريدلې يم نو په هغه ورځ په ما باندې داسې د حِكمت او عِبرت دروازې راكلاؤ شوي چې هغه مخكې ما نه وې ليدلى .

۳ . په كوم زړه كې چې د الله تعالىٰ نه يَره راشي نو دا يَره د زړه نه دُنيوي شهوتونه او د دُنيا مِينه ختمه كړي . (۳)

(۱) الزواجر عن اقتراف الكبائر ج ۱ ص ۳۷ خَاتِمَةٌ فِي التَّحْذِيرِ مِنْ جُمْلَةِ الْمَعَاصِي كَبِيرِهَا وَصَغِيرِهَا .

(۲) احياء علوم الدين ج ۱ ص ۱٦۱ كتاب الخوف والرجاء بيان فضيلة الخوف والترغيب فيه .

(۳) عَنْ أَبِي بَكْرٍ الرَّازِيِّ قَالَ : سَمِعْتُ إِبْرَاهِيمَ بْنَ شَيْبَانَ يَقُولُ : اَلْخَوْفُ إِذَا سَكَنَ الْقَلْبَ أَحْرَقَ مَوَاضِعَ الشَّهَوَاتِ مِنْهُ ، وَطَرَدَ رَغْبَةَ الدُّنْيَا عنه ، وَأَسْكَتَ اللِّسَانَ عَنْ ذِكْرِ الدُّنْيَا . شعب الايمان ج ۲ ص ۲٦۸ رقم ۸٦۰ . ←←←

داسې زړه د آخرت په غم باندې غمجن وي نو الله تعالى پيا داسې زړه خوښوي! (۱)

## د الله ﷻ نه يريدل په زړه باندې ښه اثر كوي

په كوم زړه كې چې د الله ﷻ نه يره وي نو دا غټ دليل دې دى چې په دې زړه كې د الله تعالى عظمت او محبت شته، پيا په داسې زړه باندې أنوارات او سكينه نازلېږي، د داسې كس په مخ كې حلاوت او هيبت وي، پيا خلق د داسې كس سره محبت كوي، د ده سره په كيناستلو يې سترگې يخېږي، او مطمئن كېږي.

پيا د داسې كس خبرې، داخليدل، وتل او هر كار د نور نه ډک وي. كه داسې كس چُپ وي نو عزت يې زياتېږي، او كه خبرې شروع كړي نو خلق يې مني. (۲)

## په كوم زړه كې چې د الله ﷻ نه يره نه وي نو هغه خراب وي

۱. الله تعالى فرمايي:

﴿أَفَأَمِنُوا مَكْرَ اللَّهِ ۚ فَلَا يَأْمَنُ مَكْرَ اللَّهِ إِلَّا الْقَوْمُ الْخَاسِرُونَ﴾ (۳)

ترجمه: آيا دا خلق د الله د تدبير نه په أمن (بې ويرې) شول؟ پس د الله د (پټ) تدبير نه خو صرف نقصان موندونكي خلق بې ويرې (او بې غمه) كېږي.

---

←←← قَالَ إِبْرَاهِيمُ بْنُ سُفْيَانَ: إِذَا سَكَنَ الْخَوْفُ الْقُلُوبَ أَحْرَقَ مَوَاضِعَ الشَّهَوَاتِ مِنْهَا. وَطَرَدَ الدُّنْيَا عَنْهَا.

مدارج السالكين بين منازل إياك نعبد وإياك نستعين ج ۱ ص ۵۰۹ فَصْلٌ مَنْزِلَةُ الْخَوْفِ

(۱) عَنْ أَبِي الدَّرْدَاءِ رضي الله عنه قَالَ: عَنْ رَسُولِ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ: إِنَّ اللهَ تَعَالَى يُحِبُّ كُلَّ قَلْبٍ حَزِينٍ.

شعب الايمان ج ۲ ص ۲۷۱ الخوف من الله تعالى رقم الحديث ۸۶۵.

(۲) قال ابن القيم رَحِمَهُ اللَّهُ: إِنَّ المهابة أثر من آثار امتلاء الْقَلب بعظمة الله ومحبته وإجلاله. فَإِذا امْتَلَأَ الْقلب بذلك حل فِيهِ النُّور. وَنزلت عَلَيْهِ السكينَة. وألبس رِدَاء الهيبة. فاكتسى وَجهه الْحَلَاوَة والمهابة. فَأخذ بِمَجَامِع الْقُلُوب محبَّة ومهابة. فحنت إِلَيْهِ الأفئدة. وقرت بِهِ الْعُيُون. وأنست بِهِ الْقُلُوب. فَكَلَامه نور. ومدخله نور. ومخرجه نور. وَعَمله نور. وَإِن سكت علاهُ الْوَقار. وَإِن تكلم أَخذ بالقلوب والأسماع.

الروح (الروح في الكلام على أرواح الأموات والأحياء بالدلائل من الكتاب والسنة) لابن القيم ج ۱ ص ۲۳۵ فصل والفرق بين المهابة والكبر

(۳) الاعراف آية ۹۹

٢ . ابوسليمان دراني رَحِمَهُ اللهُ فرمايي :

مَا فَارَقَ الْخَوْفُ قَلْبًا إِلَّا خَرِبَ . (١)

د کوم زړه نه چې د الله تعالی ويره ختمه شي نو هغه خرابيږي .

٣ . مالک بن دينار رَحِمَهُ اللهُ هم فرمايي :

إِنَّ الْقَلْبَ إِذَا لَمْ يَحْزَنْ خَرِبَ كَمَا أَنَّ الْبَيْتَ إِذَا لَمْ يُسْكَنْ خَرِبَ . (٢)

کوم زړه چې د آخرت په غم باندې غمجن نه وي نو هغه داسې خرابيږي لکه په کوم کور کې چې خلق نه اُوسيږي هغه خرابيږي .

٤ . ذوالنون رَحِمَهُ اللهُ فرمايي :

اَلنَّاسُ عَلَى الطَّرِيْقِ مَالَمْ يَزُلْ عَنْهُمُ الْخَوْفُ . فَإِذَا زَالَ عَنْهُمُ الْخَوْفُ ضَلُّوا الطَّرِيْقَ .

خلق تر هاغه وخته پورې په صراطِ مستقيم باندې وي تر څو پورې چې د دوی نه د الله تعالی ويره نه وي ختمه شوي ، خو چې کله ورنه ويره ختمه شي نو بيا بې لارې کيږي . (٣)

## د الله ﷻ نه د ويرېدو علامات

فقيه ابوالليث سمرقندي رَحِمَهُ اللهُ فرمايي : د الله تعالی نه ويره په اُووه (٧) شيانو کې معلوميږي :

**اول** : په ژبه کې : چې خپله ژبه د دروغو ، غِيبت ، او فضول خبرو نه ساتي . او

(١) مدارج السالكين بين منازل إياک نعبد وإياک نستعين ج ١ ص ٥٠٩ فَصْلٌ مَنْزِلَةُ الْخَوْفِ . احياء علوم الدين ج ١ ص ١٦٢ كتاب الخوف والرجاء بيان فضيلة الخوف والترغيب فيه . كيمياى سعادت .

(٢) شعب الايمان ج ٢ ص ٢٧٠ الخوف من الله تعالى رقم الحديث ٨٦٤ .

عَنْ عَلِيِّ بْنِ عَبْدِ الرَّحْمَنِ قَالَ : قَالَ لِي : أَحْمَدُ بْنُ عَاصِمٍ الْأَنْطَاكِيُّ : قِلَّةُ الْخَوْفِ مِنْ قِلَّةِ الْحُزْنِ فِي الْقَلْبِ ، وَإِذَا قَلَّ الْحُزْنُ فِي الْقَلْبِ خَرِبَ كَمَا يَخْرَبُ الْبَيْتُ إِذَا لَمْ يُسْكَنْ خَرِبَ . شعب الايمان ج ٢ ص ٢٦٩ الخوف من الله تعالى رقم الحديث ٨٦٣ .

(٣) مدارج السالكين بين منازل إياک نعبد وإياک نستعين ج ١ ص ٥٠٩ فَصْلٌ مَنْزِلَةُ الْخَوْفِ .

Scanned with CamScanner

خپله ژبه به د الله تعالی په ذِکر ، د قرآن کریم په تلاوت او د عِلم په مذاکره باندې مشغوله ساتي.

**دویم** : د خپلې خېټې په باره کې به ویرېږي : خېټې ته به صرف پاکیزه او حلال شیان داخلوي، او حلال به هم د ضرورت په مقدار خوري.

**دریم** : د خپلو سترګو په باره کې به ویرېږي : حرامو ته به نه ګوري، او دُنیا ته به هم د مینې (او لالچ) په نظر نه ګوري ، بلکه د عِبرت په نظر به ورګوري.

**څلورم** : د خپل لاس په باره کې به ویرېږي : خپل لاس به حرامو طرف ته نه اُوږدوي، بلکه صرف هغه شي ته به لاس اُوږدوي چې په هغې کې د الله ﷻ اِطاعت (او بندګي) وي.

**پنځم** : د خپلو قدمونو په باره کې به ویرېږي : د الله تعالی په نافرمانۍ کې به نه ځي.

**شپږم** : د خپل زړه په باره کې به ویرېږي : د زړه نه به دُشمني، بُغض او حسد اُوباسي چې دا به د نورو ورونو (مسلمانانو) سره نه ساتي. بلکه په زړه کې به د نورو مسلمانانو د پاره خېرخواهي او شفقت داخلوي.

**اُووم** : د خپل اِطاعت (او عبادت) په باره کې به ویرېږي : عبادت به خاص د الله ﷻ د رَضا د پاره کوي. د رِیا او منافقت نه به ویرېږي.

کله چې یو کس دا اُووه (۷) کارونه اوکړي نو دا به د هغه (مُتّقیانو) خلقو نه شمار شي چې د هغوی په باره کې الله تعالی فرمایي:

﴿ وَالْآخِرَةُ عِندَ رَبِّكَ لِلْمُتَّقِينَ ﴾.(۱)

ترجمه: او آخرت خو ستا د رب په نزد د مُتقیانو د پاره دی.

په بل آیت کې الله تعالی فرمایلي: ﴿ إِنَّ لِلْمُتَّقِينَ مَفَازًا ﴾.(۲)

(۱) الزخرف آیة ۳۵.

(۲) النبا آیة ۳۱

ترجمه: بیشکه د متقیانو د پاره کامیابي (نِجات او سعادت) دی.

بل ځای فرمایي: ﴿ إِنَّ الْمُتَّقِينَ فِي مَقَامٍ أَمِينٍ ﴾.(۱)

ترجمه: بیشکه مُتقیان به د آمن په ځای کې وي.

او الله تعالی په خپل کتاب (قرآن کریم) کې په ډیرو ځایونو کې د مُتقیانو صفت بیان کړی، او ددې خبرې ورکړی چې دوی به د جهنم نه نِجات مومي.

الله ﷻ فرمایي:

﴿ وَإِن مِّنكُمْ إِلَّا وَارِدُهَا كَانَ عَلَىٰ رَبِّكَ حَتْمًا مَّقْضِيًّا ۝ ثُمَّ نُنَجِّي الَّذِينَ اتَّقَوا وَّنَذَرُ الظَّالِمِينَ فِيهَا جِثِيًّا ﴾.(۲)

ترجمه: او په تاسو کې به هر کس په جهنم باندې تیریږي، دا ستا په رب باندې لازمي مقرّر شوې (خبره) ده. بیا به مونږ هغه خلقو ته نِجات ورکړو کوم چې مُتقیان دي او ظالمان به په دې جهنم کې په پَرمخ (ډُونکو) باندې غورځیدونکي پریږدو.(۳)

---

(۱) الدخان آیة ۵۱.

(۲) مریم آیة ۷۱، ۷۲.

(۳) عَلَامَةُ خَوْفِ اللهِ تَعَالَى يَتَبَيَّنُ فِي سَبْعَةِ أَشْيَاءَ: أَوَّلُهَا: يَتَبَيَّنُ فِي لِسَانِهِ. فَيَمْتَنِعُ لِسَانُهُ مِنَ الْكَذِبِ، وَالْغِيبَةِ، وَكَلَامِ الْفُضُولِ. وَيَجْعَلُ لِسَانَهُ مَشْغُولًا بِذِكْرِ اللهِ تَعَالَى، وَتِلَاوَةِ الْقُرْآنِ، وَمُذَاكَرَةِ الْعِلْمِ. وَالثَّانِي: أَنْ يَخَافَ فِي أَمْرِ بَطْنِهِ. فَلَا يُدْخِلَ بَطْنَهُ إِلَّا طَيِّبًا وَحَلَالًا. وَيَأْكُلُ مِنَ الْحَلَالِ مِقْدَارَ حَاجَتِهِ. وَالثَّالِثُ: أَنْ يَخَافَ فِي أَمْرِ بَصَرِهِ. فَلَا يَنْظُرَ إِلَى الْحَرَامِ وَلَا إِلَى الدُّنْيَا بِعَيْنِ الرَّغْبَةِ، وَإِنَّمَا يَكُونُ نَظَرُهُ عَلَى وَجْهِ الْعِبْرَةِ. وَالرَّابِعُ: أَنْ يَخَافَ فِي أَمْرِ يَدِهِ. فَلَا يَمُدَّنَّ يَدَهُ إِلَى الْحَرَامِ، وَإِنَّمَا يَمُدُّ يَدَهُ إِلَى مَا فِيهِ طَاعَةُ اللهِ عَزَّ وَجَلَّ. وَالْخَامِسُ: أَنْ يَخَافَ فِي أَمْرِ قَدَمَيْهِ. فَلَا يَمْشِي فِي مَعْصِيَةِ اللهِ. وَالسَّادِسُ: أَنْ يَخَافَ فِي أَمْرِ قَلْبِهِ. فَيُخْرِجَ مِنْهُ الْعَدَاوَةَ، وَالْبَغْضَاءَ، وَحَسَدَ الْإِخْوَانِ. وَيُدْخِلَ فِيهِ النَّصِيحَةَ وَالشَّفَقَةَ لِلْمُسْلِمِينَ. وَالسَّابِعُ: أَنْ يَكُونَ خَائِفًا فِي أَمْرِ طَاعَتِهِ. فَيَجْعَلَ طَاعَتَهُ خَالِصَةً لِوَجْهِ اللهِ تَعَالَى. وَيَخَافُ الرِّيَاءَ، وَالنِّفَاقَ. فَإِذَا فَعَلَ ذَلِكَ فَهُوَ مِنَ الَّذِينَ قَالَ اللهُ فِيهِمْ: {وَالْآخِرَةُ عِنْدَ رَبِّكَ لِلْمُتَّقِينَ} [الزخرف آية ۳۵]، وَقَالَ تَعَالَى فِي آيَةٍ أُخْرَى: {إِنَّ لِلْمُتَّقِينَ مَفَازًا} [النبا آية ۳۱] يَعْنِي نَجَاةً وَسَعَادَةً. وَقَالَ تَعَالَى: {إِنَّ الْمُتَّقِينَ فِي مَقَامٍ أَمِينٍ} [الدخان آية ۵۱]. ←←←←←←←←←

Scanned with CamScanner

## په زړه کې د الله ﷻ د عذاب نه د يرې پيدا کيدو طريقې

د انسان په زړه کې چې د الله تعالی نه ويره پيدا کيږي نو ددې درې (۳) طريقې دي :

**اوله طريقه : خپل ځان او الله ﷻ پيژندل :** څوک چې خپل ځان او الله ﷻ اُوپيژني نو خامخا دده په زړه کې د الله ﷻ د عذاب نه ويره پيدا کيږي .

په دُنيا کې مونږ ګورو چې کوم کس د زمري په پَنجه کې ګير وي او د زمري زُور ورته معلوم وي نو دا خامخا د زمري د حَملې نه ويرېږي .

همدغه شان کوم کس چې د الله تعالی کامِل قدر او د هغه بې نِيازي پيژني او خپل عِجز ورته معلوم وي نو دا به خامخا د الله ﷻ د عذاب نه ويرېږي .

## څوک چې خپل رَب ښه پيژني نو په هغه کې ويره ډيره وي

۱ . دا يقيني خبره ده چې څوک خپل رَب ښه پيژني نو په هغه کې ويره هم ډيره وي، ځکه خو رسول الله ﷺ په يوه موقع باندې صحابه کرامو رضي الله عنهم ته اُوفرمايل :

أَمَا وَاللهِ إِنِّي لَأَخْشَاكُمْ لِلّٰهِ وَأَتْقَاكُمْ لَهُ .(۱)

←←←← وَقَدْ مَدَحَ اللهُ الْمُتَّقِينَ فِي كِتَابِهِ فِي مَوَاضِعَ كَثِيرَةٍ . وَأَخْبَرَ أَنَّهُمْ يَنْجُوْنَ مِنَ النَّارِ . وَقَالَ تَعَالَى: {وَإِنْ مِنْكُمْ إِلَّا وَارِدُهَا كَانَ عَلَى رَبِّكَ حَتْمًا مَقْضِيًّا . ثُمَّ نُنَجِّي الَّذِينَ اتَّقَوْا وَنَذَرُ الظَّالِمِينَ فِيهَا جِثِيًّا} [مريم آية ۷۱ - ۷۲] . تنبيه الغافلين للسمرقندي ج ۱ ص ۳۹۰ بَابُ: مَا جَاءَ فِي خَوْفِ اللهِ تَعَالَى . مكاشفة القلوب .

(۱) پوره حديث داسې دی : عَنْ أَنَسِ بْنِ مَالِكٍ رَضِيَ اللهُ عَنْهُ، يَقُولُ: جَاءَ ثَلَاثَةُ رَهْطٍ إِلَى بُيُوتِ أَزْوَاجِ النَّبِيِّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَسْأَلُونَ عَنْ عِبَادَةِ النَّبِيِّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ . فَلَمَّا أُخْبِرُوا كَأَنَّهُمْ تَقَالُّوهَا . فَقَالُوا : وَأَيْنَ نَحْنُ مِنَ النَّبِيِّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ ؟ قَدْ غُفِرَ لَهُ مَا تَقَدَّمَ مِنْ ذَنْبِهِ وَمَا تَأَخَّرَ . قَالَ أَحَدُهُمْ : أَمَّا أَنَا فَإِنِّي أُصَلِّي اللَّيْلَ أَبَدًا . وَقَالَ آخَرُ : أَنَا أَصُومُ الدَّهْرَ وَلَا أُفْطِرُ . وَقَالَ آخَرُ: أَنَا أَعْتَزِلُ النِّسَاءَ فَلَا أَتَزَوَّجُ أَبَدًا . فَجَاءَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ إِلَيْهِمْ . فَقَالَ: « أَنْتُمُ الَّذِينَ قُلْتُمْ كَذَا وَكَذَا . أَمَا وَاللهِ إِنِّي لَأَخْشَاكُمْ لِلّٰهِ وَأَتْقَاكُمْ لَهُ . لَكِنِّي أَصُومُ وَأُفْطِرُ . وَأُصَلِّي وَأَرْقُدُ . وَأَتَزَوَّجُ النِّسَاءَ . فَمَنْ رَغِبَ عَنْ سُنَّتِي فَلَيْسَ مِنِّي » . صحيح البخاري كِتَابُ النِّكَاحِ بَابُ التَّرْغِيبِ فِي النِّكَاحِ رقم الحديث ۵۰۶۳ .

Scanned with CamScanner

خبردار، قسَم په الله، زه د تاسو نه زيات د الله تعالى نه ويريږم، او د تاسو نه زياته تقوى اختياروم.

۲. بلکه کله به چې نبي عليه السلام څه وريځ اُوليده يا به سخته هوا اُوچليده نو د دوى په مخ مبارک کې به د ويرې آثرات ښکاره شو چې چيرته ددينه عذاب رااُو نه وريږي. (۱)

۳. د جُنيد بغدادي رَحِمَهُ الله نه چا پوښتنه اوکړه: آيا د بنده نه ويره ختميږي؟

ده ورته وويل: لَا مَاكَانَ الْعَبْدُ أَعْلَمَ بِاللهِ كَانَ لَهُ أَشَدَّ خَوْفًا.

نه، (ځکه) ترڅو پورې بنده الله تعالى ښه پيژني نو ويره به يې هم زياته وي. (۲)

## دويمه طريقه: د الله ﷻ نه ويريدونکو خلقو په مجلس کې کيناستل

که يو کس د خپل ځان او خپل رَب پيژندلو نه عاجز وي نو ده ته په کار دي چې د هغه خلقو په مجلس کې کيني چې هغوى د الله ﷻ نه ويريږي، نو په دې سره به هم دده په زړه کې د الله ﷻ نه يَره پيدا شي.

مثلاً يو ماشوم خپل پلار اُوګوري چې هغه د مار نه ويريږي نو اګر چې دا ماشوم دا مار پوره نه پيژني (چې ګني په ده کې زهر دي) خو بيا هم چونکه ده خپل پلار ليدلي وي چې هغه ورنه ويريږي نو اوس دا هم ورنه ځان ساتي.

---

(۱) عَنْ عَائِشَةَ رَضِيَ اللهُ عَنْهَا، قَالَتْ: وَكَانَ إِذَا رَأَى غَيْمًا أَوْ رِيحًا عُرِفَ فِي وَجْهِهِ. قَالَتْ: يَا رَسُولَ اللهِ! إِنَّ النَّاسَ إِذَا رَأَوْا الْغَيْمَ فَرِحُوا رَجَاءَ أَنْ يَكُونَ فِيهِ الْمَطَرُ، وَأَرَاكَ إِذَا رَأَيْتَهُ عُرِفَ فِي وَجْهِكَ الْكَرَاهِيَةُ. فَقَالَ: "يَا عَائِشَةُ! مَا يُؤْمِنِّي أَنْ يَكُونَ فِيهِ عَذَابٌ؟ عُذِّبَ قَوْمٌ بِالرِّيحِ. وَقَدْ رَأَى قَوْمٌ الْعَذَابَ فَقَالُوا: هٰذَا عَارِضٌ مُمْطِرُنَا". صحيح البخاري كِتَابُ تَفْسِيرِ الْقُرْآنِ بَابُ قَوْلِهِ: {فَلَمَّا رَأَوْهُ عَارِضًا مُسْتَقْبِلَ أَوْدِيَتِهِمْ قَالُوا: هٰذَا عَارِضٌ مُمْطِرُنَا بَلْ هُوَ مَا اسْتَعْجَلْتُمْ بِهِ رِيحٌ فِيهَا عَذَابٌ أَلِيمٌ} رقم الحديث ۴۸۲۹.

(۲) عَنْ مُحَمَّدِ بْنِ عَبْدِ اللهِ الرَّازِيِّ قَالَ: سَمِعْتُ الْجُرَيْرِيَّ يَقُولُ: سُئِلَ الْجُنَيْدُ رَحِمَهُ اللهُ هَلْ يَسْقُطُ الْخَوْفُ عَنِ الْعَبْدِ؟ قَالَ: لَا مَاكَانَ الْعَبْدُ أَعْلَمَ بِاللهِ كَانَ لَهُ أَشَدَّ خَوْفًا. شعب الايمان ج ۲ ص ۲۵۶ الخوف من الله تعالى رقم ۸۲۵.

Scanned with CamScanner
Scanned with CamScanner

همدغه شان که یو کس پخپله د الله ﷻ د عذابونو او قیامت د سختو تکلیفونو نه خبرنه وي خو چې دا د الله ﷻ نه ویریدونکو خلقو په مجلس کې کیني کوم چې د الله ﷻ د عذابونو نه خبر وي نو په ده کې به هم د هغوی په وجه ویره پیدا کیږي.

## دریمه طریقه : د الله ﷻ نه ویریدونکو خلقو اَحوال کتل او اَوریدل

چې کله یو چا ته د الله ﷻ نه د ویریدونکو خلقو سره د ناستې موقع نه وي نو بیا ده ته په کار دي چې د هغوی اَحوال او واقعات مطالعه کړي، یا یې د بل نه واوري ، نو په دې سره به هم دده په زړه کې د الله ﷻ د عذاب نه ویره پیدا شي.(۱)

## د الله ﷻ ویریدونکي درې قسمه خلق

درې (۳) قِسمه خلق د الله تعالی نه ویریږي : یو هغه خلق دي چې د خپلو جُرمونو (او گناهونو) په وجه د الله ﷻ نه ویریږي.

دویم قِسمه هغه خلق دي چې د نېکو اعمالو په نه قبلیدو باندې ویریږي ( یعنی دا یره ورسره وي چې زمونږ دا نېک اعمال چیرته رارَد نشي).

او دریم قِسم هغه خلق دي چې هغوی په آخره خاتمه باندې ویریږي.(۲)

## د آخرې خاتمې خرابیدو نه ویریدل

ډیرو بزرگانو سره دا یَره وي چې آخره خاتمه مو خرابه نشي ؛ ځکه شیطان هر وخت د مسلمان د گمراه کولو کوشش کوي ، بیا خاصکر په آخري عُمر او د زنکدن په آخري وخت کې خو ډیر کوشش کوي چې مسلمان د دُنیا نه د اِیمان سره لاړ نشي.(۳)

---

(۱) کیمیاء السعادة للغزالي الخوف والرجاء .

(۲) قَالَ الْجُنَيْدُ رَحِمَهُ اللهُ ..... اَلْخَائِفُوْنَ عَلَى طَبَقَاتٍ : خَائِفٌ مِنَ الْأَجْرَامِ . وَخَائِفٌ مِنَ الْحَسَنَاتِ أَنْ لَا تُقْبَلَ . وَخَائِفٌ مِنَ الْعَوَاقِبِ قَالَ تَعَالَى: { وَلَا يَخَافُ عُقْبَاهَا } [ الشمس آية ۱۵ ]. شعب الایمان ج ۲ ص ۲۵۶ الخوف من الله تعالى رقم ۸۲۵ . صلاح الامة ج ۵ ص ۵۵۹ علو الهمة فى الخوف والرجاء .

(۳) قَالَ سهل: خوفُ الصدِّيقِين من سوء الخاتمة عند كلِّ خطرةٍ وعند كل حركةٍ . وهم الذين وصفهم الله تعالى . اذ قال: ﴿ وَقُلُوبُهُمْ وَجِلَةٌ ﴾ (المؤمنون آية ۶۰) . صلاح الامة ج ۵ ص ۵۵۹ علو الهمة فى الخوف والرجاء

ددې په باره کې درته يو څو واقعات ذکر کوم :

## ۱. حضرت ابوهريره ﷺ په آخري عُمر کې هم د ګناهونو نه د بچ کيدو دُعا کوله

حضرت ابوهريرة ﷺ به په آخري عُمر کې هم دا دُعا کوله : اې الله ! زه پناه غواړه په تا سره د زِنا کولو نه او په اسلام کې د ګناهِ کبيره کولو نه .

په ملګرو کې يو کس ورته ووېل :

اې ابوهريرة ! ستا خو ډير عُمر دی ، شهوات دې ختم شوي ، نبي عليه السلام دې ليدلې ؤ ، بيعت دې ورسره کړې ؤ ، ډير دِيني احکامات دې ورنه زده کړي ، نو بيا ولې داسې دُعا غواړې ؟ او ولې دومره ويريږې ؟

حضرت ابوهريرة ﷺ ورته ووېل :

وَيْحَكَ وَمَا يُؤَمِّنُنِي وَإِبْلِيسَ حَيٌّ.

تعجب دی په تا باندې ، زه څنګه په خپل ځان باندې مطمئن شم حالانکه ابليس تر اوسه پورې ژوندې دی . (او هغه د خلقو ګمراه کولو کوشش کوي) . (۱)

( همدغه شان حضرت ابودَرداء ﷺ به هم د نِفاق نه د بچ کيدو دُعا کوله ) . (۲)

---

(۱) عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ ﷺ أَنَّهُ كَانَ يَقُولُ فِي آخِرِ عُمْرِهِ : اَللّٰهُمَّ إِنِّي أَعُوذُ بِكَ أَنْ أَزْنِيَ ، أَوْ أَعْمَلَ بِكَبِيرَةٍ فِي الْإِسْلَامِ . يَقُولُ بَعْضُ أَصْحَابِهِ : يَا أَبَا هُرَيْرَةَ ! وَمِثْلُكَ يَقُولُ هٰذَا وَيَخَافُهُ وَقَدْ بَلَغْتَ مِنَ السِّنِّ مَا بَلَغْتَ وَانْقَطَعَتْ عَنْكَ الشَّهَوَاتُ ، وَقَدْ شَافَهْتَ النَّبِيَّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وَبَايَعْتَهُ ، وَأَخَذْتَ عَنْهُ ؟ قَالَ : وَيْحَكَ وَمَا يُؤَمِّنُنِي وَإِبْلِيسُ حَيٌّ . شعب الايمان ج ۲ ص ۲۵۸ الخوف من الله تعالى رقم ۸۳۰ .

(۲) عَنْ جُبَيْرِ بْنِ نُفَيْرٍ قَالَ : دَخَلْتُ عَلَى أَبِي الدَّرْدَاءِ مَنْزِلَهُ بِحِمْصَ فَإِذَا هُوَ قَائِمٌ يُصَلِّي فِي مَسْجِدِهِ فَلَمَّا جَلَسَ يَتَشَهَّدُ جَعَلَ يَتَعَوَّذُ بِاللهِ مِنَ النِّفَاقِ فَلَمَّا انْصَرَفَ قُلْتُ : غَفَرَ اللهُ لَكَ يَا أَبَا الدَّرْدَاءِ مَا أَنْتَ وَالنِّفَاقُ ؟ قَالَ : اَللّٰهُمَّ غَفْرًا ـ ثَلَاثًا ـ مَنْ يَأْمَنُ الْبَلَاءَ ؟ مَنْ يَأْمَنُ الْبَلَاءَ ؟ وَاللهِ إِنَّ الرَّجُلَ لَيُفْتَتَنُ فِي سَاعَةٍ فَيَنْقَلِبُ عَنْ دِينِهِ . شعب الايمان ج ۲ ص ۲۵۸ الخوف من الله تعالى رقم ۸۳۱ .

Scanned with CamScanner

## ۲. د مرګ په وخت د سفيان ثوري رَحِمَهُ اللهُ يَره

د سفيان ثوري رَحِمَهُ اللهُ په باره کښې راځي چې کله دا وفات کېدلو او بيماري يې سخته شوه نو ژړل يې. چا ورنه پوښتنه اوکړه:

داسې معلومېږي چې تا ګناهونه ډېر کړي؟ (نو ځکه ژاړې).

ده د زمکې نه وړوکې ډکې راپورته کړو او وې ويل:

قسم په الله، ما ته خپل ګناهونه ددې وړوکي ډکي نه هم زيات معمولي ښکاري، خو:

إِنِّيْ أَخَافُ أَنْ أُسْلَبَ الْإِيْمَان قَبْلَ أَنْ أَمُوْتَ.

بېشکه زه وېرېږم چې د مرګ نه مخکښې را نه ايمان سَلب نشي.(۱)

## ۳. د امام احمد بن حنبل رح دوفات کيدو په وخت د شيطان کوشش

په شعب الايمان کښې دا واقعه ذکر ده: د امام احمد بن حنبل رَحِمَهُ اللهُ ځوی "صالح" وايي چې کله زما د پلار (امام احمد بن حنبل رَحِمَهُ اللهُ) د وفات کيدو وخت رانزدې شو نو زه ورسره کيناستم، د ماسره په لاس کښې کپړه وه چې د وفات نه پس ورله پرې ژامبې اُوتړم،

---

(۱) عَن عبدالرحمن بن مهدي قال مات السفيان الثوري عندي، فلما اشتد به جعل يبكي. فقال له رجل: يا أبا عبدالله! أراک كثير الذنوب؟ فرفع شيئاً من الأرض. فقال: والله لذنوبي أهون عندي من ذا إِنِّيْ أَخَافُ أَنْ أُسْلَبَ الْإِيْمَان قَبْلَ أَنْ أَمُوْتَ. صلاح الامة ج ۵ ص ۵۳۷ علو الهمة في الخوف والرجاء.

وفي رواية: ولما احتضر سفيان جعل يبكي ويجزع. فقيل له: يا أبا عبد الله! عليك بالرجاء فإن عفو الله أعظم من ذنوبك. فقال: أوَ على ذنوبي أبكي؟ لو علمتُ أني أموت على التوحيد لم أبال بأن ألقى الله بأمثال الجبال من الخطايا. احياء علوم الدين ج ۴ ص ۱۷۲ كتاب الخوف والرجاء بيان الدواء الذي به يستجلب حال الخوف.

وفي رواية: عَنْ مُحْسِن بْنَ مُوْسَى قال: كُنْتُ عَدِيْلَ سُفْيَانَ الثَّوْرِيِّ إِلَى مَكَّةَ فَرَأَيْتُهُ يُكْثِرُ الْبُكَاءَ، فَقُلْتُ لَهُ: يَا أَبَا عَبْدِ اللهِ! بُكَاؤُكَ هَذَا خَوْفًا مِنَ الذُّنُوْبِ؟ قَالَ: فَأَخَذَ عُوْدًا مِنَ الْمَحْمِلِ فَرَمَى بِهِ فَقَالَ: إِنَّ ذُنُوْبِيْ أَهْوَنُ عَلَيَّ مِنْ هَذَا وَلَكِنِّيْ أَخَافُ أَنْ أُسْلَبَ التَّوْحِيْدَ. شعب الايمان ج ۲ ص ۲۶۱ الخوف من الله تعالى رقم ۸۳۹.

Scanned with CamScanner

نو په ده باندې به بې هوشي راغله، بیا به په هوش کې شو، سترګې به یې کلاؤ کړې، لاس به یې خوزولو او دا به یې ویل:

لَا بَعْدُ لَا بَعْدُ لَا بَعْدُ.

تراُوسه نه، تراُوسه نه، تراُوسه نه.

کله یې چې په دریمه پیره دا کار اوکړو نو ما ورنه پوښتنه اوکړه:

اې پلاره! ته په دې وخت کې دا څه وایې؟

هغه راته وویل: اې بچیه! آیا تاته پته نشته؟

ما ورته وویل: نه. راته وې ویل:

ابلیس مَلعون زما په څنګ کې ولاړ دی، په خپلو ګوتو باندې یې چک لږولې دی او دا وایي: اې احمده! ته رانه بچ شوی.

(یعنی زما زُور دریاندې اُو نه رسید او زما د ګمراهۍ نه بچ شوی).

نو زه ورته وایم: نه، تراوسه بچ نه یم خو چې کله وفات شم (او اِیمان د ځان سره ویسم) نو بیا به ستا د ګمراهۍ نه بچ شم. (۱)

## ٤. د امام رازي رَحِمَهُ اللَّهُ د وفات کیدو په وخت د شیطان کوشش

امام رازي رحمه الله یو دیر لوي جیّد او فلسفي عالِم تیر شوی، د قرآن کریم یو تفسیر یې لیکلې د "تفسیرِ کبیر" په نوم باندی.

کله چې دده آخِري وخت شو نو شیطان ورته راَمخې ته شو او ورته وې ویل: اې امام رازي! ته خو عالِمِ آخرت طرفته روان یې، د الله ﷻ سره به دې ملاقات کیږي، دا راته اووایه چې څه شی د ځان سره وړی چې هغه ستا هلته په کار راشي؟

---

(۱) قَالَ صَالِحُ بْنُ أَحْمَدَ بْنِ حَنْبَلٍ لَمَّا حَضَرَتْ أَبِي الْوَفَاةُ فَجَلَسْتُ عِنْدَهُ وَالْخِرْقَةُ بِيَدِي أَشُدُّ بِهَا لِحْيَتِهِ قَالَ: فَجَعَلَ يَغْرَقُ ثُمَّ يُفِيقُ وَيَفْتَحُ عَيْنَيْهِ، وَيَقُولُ بِيَدِهِ هٰكَذَا: لَا بَعْدُ لَا بَعْدُ لَا بَعْدُ. فَفَعَلَ هٰذَا مَرَّةً، وَثَانِيَةً فَلَمَّا كَانَ فِي الثَّالِثَةِ قُلْتُ: يَا أَبَةِ إِيشْ هٰذَا الَّذِي لَهِجْتَ بِهِ فِي هٰذَا الْوَقْتِ؟ فَقَالَ: يَا بُنَيَّ! أَمَا تَدْرِي قُلْتُ: لَا. فَقَالَ: إِبْلِيسُ لَعَنَهُ اللهُ قَائِمٌ بِحِذَائِي عَاضٌّ عَلَى أَنَامِلِهِ يَقُولُ: يَا أَحْمَدُ! فُتَّنِي. فَأَقُولُ: لَا حَتَّى أَمُوتَ. شعب الایمان ج ۲ ص ۲۵۶ الخوف من الله تعالى رقم ۸۲٦.

ده ورته وویل : زه کلِمه توحید "لَا اِلٰهَ اِلَّا اللّٰهُ" د ځان سره ورم ، ځکه الله ﷻ ددې کلیمې ویونکي سره د مغفرت او ببنني وعده کړې .

شیطان ورته وویل : ته خو د توحید قایل یې ، خو د تا سره د الله ﷻ په توحید باندې څه دلیل هم شته او که نه ؟

(امام رازي رحمه الله خو داسې فلسفي عالِمُ وُ چې ټول عُمر یې د عقائدو په موضوع باندې بحثونه کړي وُ ، دده سره د دلائلو څه کمې وُ ) .

ده شیطان ته د الله ﷻ په وحدانیت باندې یو عقلي دلیل ذکر کړو ، شیطان چې دا واورید نو ورته وې ویل : ستا په دې دلیل باندې خو فلانې اعتراض راځي لهذا ستا دا دلیل ختم شو .

امام رازي رحمه الله د الله ﷻ په وحدانیت باندې دویم دلیلِ عقلي بیان کړو ، شیطان په دې باندې هم اعتراض اوکړو ، همدغه شان داسلسله شروع وه ، تردې چې امام رازي رَحِمَهُ اللّٰهُ د الله ﷻ په وَحدانیت باندې یو سل یو (۱۰۱) دلائلِ عقلیه ذکر کړل ، لیکن شیطان به په هر یو دلیل باندې څه نا څه اعتراض کولو او هغه دلیل به یې ختمولو .

اوس د امام رازي رحمه الله آخیري وخت وُ ، ټول دلایل ورسره ختم شو ، حیران شو .

په دې وخت کې الله ﷻ په ده خصوصي فضل اوکړو ، دده خپل یو استاذ وُ " شیخ نجم الدین کبریٰ رحمه الله " د هغه صورت ورته رامخې ته شو ، ګویا چې هغه ورته وایي :

اې امام رازي ! دې شیطان ته اووایه چې زه الله ﷻ بغیر د څه دلیلِ عقلي نه یو منم ، ځکه شیطان خو عقلي دلائل ختموي او اعتراضات وریاندې کوي .

نو امام رازي رَحِمَهُ اللّٰهُ شیطان ته وویل : زه الله ﷻ بغیر د څه عقلي دلیل نه منم .

په دې جواب اورېدو سره شیطان بې جوابه شو ، او په همدې حالت کې امام رازي رَحِمَهُ اللّٰهُ وفات شو .(۱)

---

(۱) صدائے منبر ج۳ ص ۶۰ ، اہل دل کے تڑپا دینے والے واقعات ج۲ ص ۱۷۷ ، ۱۸۱ .

Scanned with CamScanner

## ۵. په آخِري عُمر کې په عبدالقادر جيلانيؒ باندې د شيطان حمله

شيخ عبدالقادر جيلاني رَحِمَهُ اللهُ يو عظيم بزرګ او عالِم تير شوی ، دا يوه ورځ د ژوند په آخِري وخت کې ځنګل ته د سبق د پاره راووت ، ناڅاپه يې په ځنګل کې څه رڼا اوليده ، دا رڼا ډيره زرد آسمان په غاړو کې خوَره شوه ، بيا ددې رڼا نه يو آواز راغی :

اې عبدالقادر ! زه ستا رب خبرې کوم ، تا د دين دپاره ډير تکليفونه او ډيرې مجاهَدې برداشت کړي ، د نن نه پس ما تاته مونځ ، روژې او نور ټول احکامات معاف کړي ، ستا زړه چې څه غواړي هغه کوه ، د تا نه به هيڅ تپوس نشي کيدی .

عبدالقادر جيلاني رَحِمَهُ اللهُ چې دا خبره واوريده نو پوهه شو چې دا خو ابليس دی ، فورًا يې وويل: لَا حَوْلَ وَلَا قُوَّةَ إِلَّا بِاللهِ الْعَلِيِّ الْعَظِيْمِ .

بيا يې وويل : اې مردود ابليسه ! ورک شه . الله تعالی خپل پيغمبر ته فرمايي :

﴿ وَاعْبُدْ رَبَّكَ حَتَّىٰ يَأْتِيَكَ الْيَقِينُ ﴾ .(۱)

ترجمه : ته د خپل رب عبادت کوه تردې چې تاته يقين ( مرګ ) راشي .

نو چې کله الله ﷻ نبي عليه السلام ته تر آخر عُمره پورې عبادات نه دي معاف کړي اګر چې هغه د دين دپاره ډير زيات مشقتونه برداشت کړي وو نو زه څوک يم چې ماته عبادات معاف کړي ؟

شيطان خپل انداز بدل کړو ، او دوباره آواز راغی :

اې عبدالقادر ! ته نن مانه خپل عِلم بچ کړی ، ځکه د تانه مخکې اويا ( ۷۰ ) اَبدال او بزرګان ما په آخِري عُمر کې ګمراه کړي خو نن ته رانه ستا علم بچ کړی ، که ته عالِم نه وی نو ته به هم ګمراه شوې وی .

عبدالقادر جيلاني چې دا خبره واوريده نو فورًا يې وويل : لَا حَوْلَ وَلَا قُوَّةَ إِلَّا بِاللهِ الْعَلِيِّ الْعَظِيْمِ . او وې ويل :

(۱) سورة الحجر آيت ۹۹.

اې ابليسه ! دا ستا دويمه حمله ده ، زه د تا نه خپل علم نه يم بچ کړی ، بلکه زه د تا نه الله ﷻ په خپل فضل وکرم سره بچ کړم ؛ ځکه که دما سره د الله ﷻ توفيق نه وی نو زه به هم په هغه ګمراه شوي کسانو کې شامل ووم . (۱)

# د نبي عليه السلام ، صحابه کرامو ، او نورو بزرګانو د الله ﷻ نه د ويريدو واقعات

اوس درته د نبي عليه السلام ، صحابه کرامو ، او نورو بزرګانو د الله ﷻ نه د ويريدو متعلق يو څو واقعات ذکر کوم ، ددې د پاره چې مونږ ته هم د دوی په نقشِ قدم باندې د تللو توفيق رانصيب شي ، ځکه د واقعاتو په ذريعې سره يو مضمون په ښه طريقې سره په ذهن کې کيني ، او په زړه باندې ډير زر آثر کوي :

(۱) اہل دل کے تڑپا دینے والے واقعات ج۲ ص ۱۸۱ .

## نبي علیه السلام ته هم د الله ﷻ نه د ویریدو حکم شوی ؤ

نبي علیه الصلاة والسلام فرمایي :

أَمَرَنِي رَبِّي بِتِسْعٍ : خَشْيَةِ اللهِ فِي السِّرِّ وَالْعَلَانِيَةِ ....

ماته خپل رب د نهه (۹) شیانو حکم کړی (یو په هغې کې دادی) : په پټه او ښکاره باندې (یعنی هر حالت کې) د الله تعالی نه ویریدل ... (۱)

## د ټولو نه زیاته ویره په نبي علیه السلام کې وه

۱ . د ټولو نه زیاته ویره او تقوی په نبي علیه السلام کې وه ، په بخاري شریف کې اوږده واقعه ده ، د هغې په آخر کې ذکر دي چې رسول الله ﷺ څه صحابه کرامو ته اوفرمایل :

أَمَا وَاللهِ إِنِّي لَأَخْشَاكُمْ لِلّٰهِ وَأَتْقَاكُمْ لَهُ . (۲)

خبردار ، قسم په الله ، زه د تاسو نه زیات د الله تعالی نه ویریږم ، او د تاسو نه زیاته تقوی اختیاروم .

(۱) پوره حدیث داسې دی : عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ رضي الله عنه قَالَ : قَالَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ : أَمَرَنِي رَبِّي بِتِسْعٍ : خَشْيَةِ اللهِ فِي السِّرِّ وَالْعَلَانِيَةِ وَكَلِمَةِ الْعَدْلِ فِي الْغَضَبِ وَالرِّضَى وَالْقَصْدِ فِي الْفَقْرِ وَالْغِنَى وَأَنْ أَصِلَ مَنْ قَطَعَنِي وَأُعْطِيَ مَنْ حَرَمَنِي وَأَعْفُوَ عَمَّنْ ظَلَمَنِي وَأَنْ يَكُونَ صَمْتِي فِكْرًا وَنُطْقِي ذِكْرًا وَنَظَرِي عِبْرَةً وَآمُرَ بِالْعُرْفِ «وَقِيلَ» بِالْمَعْرُوفِ . رَوَاهُ رَزِين . مشكاة المصابيح بَابُ الْبُكَاءِ وَالْخَوْفِ الْفَصْلُ الثَّالِثُ رقم الحديث ۵۳۵۸(۲۰) .

(۲) پوره حدیث داسې دی : عَنْ أَنَسِ بْنِ مَالِكٍ رَضِيَ اللهُ عَنْهُ، يَقُولُ: جَاءَ ثَلَاثَةُ رَهْطٍ إِلَى بُيُوتِ أَزْوَاجِ النَّبِيِّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَسْأَلُونَ عَنْ عِبَادَةِ النَّبِيِّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ، فَلَمَّا أُخْبِرُوا كَأَنَّهُمْ تَقَالُّوهَا، فَقَالُوا : وَأَيْنَ نَحْنُ مِنَ النَّبِيِّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ ؟ قَدْ غُفِرَ لَهُ مَا تَقَدَّمَ مِنْ ذَنْبِهِ وَمَا تَأَخَّرَ، قَالَ أَحَدُهُمْ : أَمَّا أَنَا فَإِنِّي أُصَلِّي اللَّيْلَ أَبَدًا، وَقَالَ آخَرُ : أَنَا أَصُومُ الدَّهْرَ وَلَا أُفْطِرُ، وَقَالَ آخَرُ: أَنَا أَعْتَزِلُ النِّسَاءَ فَلَا أَتَزَوَّجُ أَبَدًا، فَجَاءَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ إِلَيْهِمْ، فَقَالَ: « أَنْتُمُ الَّذِينَ قُلْتُمْ كَذَا وَكَذَا، أَمَا وَاللهِ إِنِّي لَأَخْشَاكُمْ لِلّٰهِ وَأَتْقَاكُمْ لَهُ، لَكِنِّي أَصُومُ وَأُفْطِرُ، وَأُصَلِّي وَأَرْقُدُ، وَأَتَزَوَّجُ النِّسَاءَ، فَمَنْ رَغِبَ عَنْ سُنَّتِي فَلَيْسَ مِنِّي » . صحيح البخاري كِتَابُ النِّكَاحِ بَابُ التَّرْغِيبِ فِي النِّكَاحِ رقم الحديث ۵۰۶۳ .

۲ . د ترمذي شريف او مشكاة شريف حديث دی ، چې حضرت ابوبكر صديق رضي الله عنه رسول الله صلی الله علیه وسلم ته اوفرمايل :

يَا رَسُوْلَ اللهِ ! قَدْ شِبْتَ . اې د الله رسوله ! تاسو ډېر زر بُوډا شوی .

( يعنی لوي عُمر ته د رسيدلو نه مخکې دربانديې د بُوډاوالي آثرات ښكاره شو ) .

نبي عليه السلام ورته اوفرمايل :

شَيَّبَتْنِيْ هُوْدٌ، وَالْوَاقِعَةُ، وَالْمُرْسَلَاتُ، وَعَمَّ يَتَسَاءَلُوْنَ، وَ إِذَا الشَّمْسُ كُوِّرَتْ .

زه سورة هود ، سورة واقعې ، سورة مرسلات ، سورة نبأ ، او سورة تكوير زر بُوډا كړم . (۱)

( چونكه په دې سورتونو كې د آخرت د عذاب ذكر زيات دی نو ماسره د خپل اُمت غم وي، چې د دوی به څه حشر وي ؟ نو ځكه د دې غم خوړلو په وجه دې حالت ته رسيدلې يم ) . (۲)

## د وريځ په ليدو او هوا چليدو په وخت د نبي عليه السلام يَره

د نبي عليه السلام په زړه كې دومره يَره وه چې كله به په آسمان كې وريځ راغله يا به سخته هوا اُولګېده نو د ډېرې يَرې د وجې به يې په رَنګ كې فرق راغی چې چيرته د دينه په خلقو باندې عذاب رانازل نشي .

۱ . د بخاري شريف او مسلم شريف حديث دی ، حضرت عائشة رضي الله عنها فرمايي چې كله به رسولُ الله صلی الله علیه وسلم وريځ يا (تېزه) هوا اُوليده نو د الله ﷻ يَره به د دوی په

---

(۱) عَنِ ابْنِ عَبَّاسٍ رضي الله عنهما ، قَالَ : قَالَ أَبُوْ بَكْرٍ رضي الله عنه : يَا رَسُوْلَ اللهِ ! قَدْ شِبْتَ . قَالَ : شَيَّبَتْنِيْ هُوْدٌ، وَالْوَاقِعَةُ، وَالْمُرْسَلَاتُ، وَعَمَّ يَتَسَاءَلُوْنَ، وَ { إِذَا الشَّمْسُ كُوِّرَتْ } . سنن الترمذي أَبْوَابُ تَفْسِيْرِ الْقُرْآنِ عَنْ رَسُوْلِ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ بَابٌ: وَمِنْ سُوْرَةِ الْوَاقِعَةِ رقم الحديث ۳۲۹۷ وقال الترمذي : هَذَا حَدِيْثٌ حَسَنٌ غَرِيْبٌ . مشكاة المصابيح رقم الحديث ۵۳۵۴(۱۶) ، المستدرك على الصحيحين للحاكم رقم الحديث ۳۳۱۴ وقال الحاكم : هَذَا حَدِيْثٌ صَحِيْحٌ عَلَى شَرْطِ الْبُخَارِيِّ وَلَمْ يُخَرِّجَاهُ . ووافقه الذهبي .

(۲) قَالَ التُّوْرِبِشْتِيُّ رَحِمَهُ اللهُ تَعَالَى : يُرِيْدُ أَنَّ اهْتِمَامِيْ بِمَا فِيْهَا مِنْ أَهْوَالِ الْقِيَامَةِ وَالْحَوَادِثِ النَّازِلَةِ بِالْأُمَمِ الْمَاضِيَةِ ، أَخَذَ مِنْ مَأْخَذِهِ حَتَّى شِبْتُ قَبْلَ أَوَانِ الْمَشِيْبِ خَوْفًا عَلَى أُمَّتِيْ . مرقاة المفاتيح رقم الحديث ۵۳۵۳(۱۵) .

Scanned with CamScanner

جلد 3 13

مخ کې پيژندلې شوه (يعنې په رنګ کې به يې فرق راغی).

حضرت عائشة رضي الله عنها فرمايي چې ما ورته عرض اوکړو:

اې د الله رسوله! کله چې خلق وريځ اوګوري نو خوشحاليږي ځکه د هغوی دا اُميد وي چې په دې کې به باران وي او زه تاسو ګورم چې کله وريځ اوګورئ نو د خفګان آثر ستاسو په مخ مبارک باندې ښکاره شي.

نبي عليه السلام ورته اوفرمايل:

اې عائشې! ددې څه ضمانت دی چې په دې کې به عذاب نه وي؟ په يو قوم (عاديانو) باندې د هوا عذاب راغلې ؤ، کله چې هغوی دا عذاب اُوکتلو نو وې ويل: دا وريځ ده چې په مونږ باندې به رااُووريږي (حالانکه هغه د باران واله وريځ نه وه بلکه په هغې کې عذاب ؤ چې هغه قوم ورباندې تباه شو). (۱)

**۲.** د مسلم شريف حديث دی، حضرت عائشه رضي الله عنها فرمايي چې په کومه ورځ باندې به تېزه هوا چليده يا به وريځ وه نو د نبي عليه السلام په مخ مبارک باندې به د وېرې آثرات ښکاره کيدل، کله به مخکې تللو او کله شاته (کله به بهَر وتلو او کله به راننوتلو)، يا چې کله به باران اوشو نو خوشحال به شو او وېره به ورنه لاړه.

حضرت عائشه رضي الله عنها فرمايي چې ما ددې په باره کې ورنه پوښتنه اوکړه، نو راته وې فرمايل:

إِنِّي خَشِيتُ أَنْ يَكُونَ عَذَابًا سُلِّطَ عَلَى أُمَّتِي.

زه وېريږم چې دا چيرته عذاب نه وي چې زما په اُمت راليږل شوې وي.

او چې نبي عليه السلام به باران اُوليد نو فرمايل به يې:

---

(۱) عَنْ عَائِشَةَ رَضِيَ اللهُ عَنْهَا، قَالَتْ: وَكَانَ إِذَا رَأَى غَيْمًا أَوْ رِيحًا عُرِفَ فِي وَجْهِهِ، قَالَتْ: يَا رَسُولَ اللهِ! إِنَّ النَّاسَ إِذَا رَأَوْا الغَيْمَ فَرِحُوا رَجَاءَ أَنْ يَكُونَ فِيهِ المَطَرُ، وَأَرَاكَ إِذَا رَأَيْتَهُ عُرِفَ فِي وَجْهِكَ الكَرَاهِيَةُ. فَقَالَ: "يَا عَائِشَةُ! مَا يُؤْمِنِّي أَنْ يَكُونَ فِيهِ عَذَابٌ؟ عُذِّبَ قَوْمٌ بِالرِّيحِ، وَقَدْ رَأَى قَوْمٌ العَذَابَ فَقَالُوا: هَذَا عَارِضٌ مُمْطِرُنَا". صحيح البخاري كِتَابُ تَفْسِيرِ القُرْآنِ بَابُ قَوْلِهِ: {فَلَمَّا رَأَوْهُ عَارِضًا مُسْتَقْبِلَ أَوْدِيَتِهِمْ قَالُوا: هَذَا عَارِضٌ مُمْطِرُنَا بَلْ هُوَ مَا اسْتَعْجَلْتُمْ بِهِ رِيحٌ فِيهَا عَذَابٌ أَلِيمٌ} رقم الحديث ۴۸۲۹.

Scanned with CamScanner

رَحْمَةٌ . دا رَحمت دی. (۱)

بلکه نبي عليه السلام به د تېزې هوا چليدو په وخت دُعا غوښتله، او په دُعا کې به يې ددې هوا د خېر سوال کولو او ددې د شَر نه به يې پناه غوښته. (۲)

## په مانځه کې د نبي عليه السلام ژړا

نبي عليه السلام به کله کله په مانځه کې ژړل، خو دا ژړا به کله د الله ﷻ نه د يَرې وه، کله به د اِشتياق، محبت او اِجلال وه.

**۱.** د مشکوة شريف حديث دی، يو صحابي فرمايي:

أَتَيْتُ النَّبِيَّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وَهُوَ يُصَلِّيْ وَلِجَوْفِهٖ أَزِيْزٌ كَأَزِيْزِ الْمِرْجَلِ. (۳)

زه رسولُ الله صلى الله عليه وسلم ته راغلم، دوی مونځ کول، د دوی د سينې مبارکې نه د ژړا داسې آواز راوتلو لکه د دِيګي نه چې د جُوشيدو آواز رااُوځي.

د ابوداؤد شريف په روايت کې داسې ذکر دي، صحابي فرمايي:

رَأَيْتُ رَسُوْلَ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يُصَلِّيْ وَفِيْ صَدْرِهٖ أَزِيْزٌ كَأَزِيْزِ الرَّحٰى مِنَ الْبُكَاءِ صَلَّى اللهُ

---

(۱) عَنْ عَائِشَةَ، زَوْجِ النَّبِيِّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ، تَقُوْلُ: كَانَ رَسُوْلُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ إِذَا كَانَ يَوْمُ الرِّيْحِ وَالْغَيْمِ، عُرِفَ ذٰلِكَ فِيْ وَجْهِهٖ، وَأَقْبَلَ وَأَدْبَرَ، فَإِذَا مَطَرَتْ سُرَّ بِهٖ، وَذَهَبَ عَنْهُ ذٰلِكَ، قَالَتْ عَائِشَةُ رَضِيَ اللهُ عَنْهَا: فَسَأَلْتُهُ، فَقَالَ: « إِنِّيْ خَشِيْتُ أَنْ يَكُوْنَ عَذَابًا سُلِّطَ عَلٰى أُمَّتِيْ »، وَيَقُوْلُ، إِذَا رَأَى الْمَطَرَ: « رَحْمَةٌ ». صحيح مسلم كِتَابُ صَلَاةِ الْاِسْتِسْقَاءِ بَابُ التَّعَوُّذِ عِنْدَ رُؤْيَةِ الرِّيْحِ وَالْغَيْمِ، وَالْفَرَحِ بِالْمَطَرِ رقم الحديث ۱۴(۸۹۹). سنن الترمذي رقم الحديث ۳۲۵۷.

(۲) عَنْ عَائِشَةَ رَضِيَ اللهُ عَنْهَا، زَوْجِ النَّبِيِّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ، أَنَّهَا قَالَتْ: كَانَ النَّبِيُّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ إِذَا عَصَفَتِ الرِّيْحُ، قَالَ: « اَللّٰهُمَّ إِنِّيْ أَسْأَلُكَ خَيْرَهَا وَخَيْرَ مَا فِيْهَا وَخَيْرَ مَا أُرْسِلَتْ بِهٖ، وَأَعُوْذُ بِكَ مِنْ شَرِّهَا، وَشَرِّ مَا فِيْهَا، وَشَرِّ مَا أُرْسِلَتْ بِهٖ »... صحيح مسلم كِتَابُ صَلَاةِ الْاِسْتِسْقَاءِ بَابُ التَّعَوُّذِ عِنْدَ رُؤْيَةِ الرِّيْحِ وَالْغَيْمِ، وَالْفَرَحِ بِالْمَطَرِ رقم الحديث ۱۵(۸۹۹).

(۳) مشكوة المصابيح بَابُ مَا لَا يَجُوْزُ مِنَ الْعَمَلِ فِي الصَّلَاةِ وَمَا يُبَاحُ مِنْهُ الفصل الثاني رقم الحديث ۱۰۰۰ (۲۳)، مسند احمد رقم الحديث ۱۶۳۱۲ و رقم ۱۶۳۲۶ حَدِيْثُ مُطَرِّفِ بْنِ عَبْدِ اللهِ عَنْ أَبِيْهِ، سنن النسائي رقم الحديث ۱۲۱۴، صحيح ابن حبان رقم ۶۶۵، المستدرک على الصحيحين للحاكم رقم ۹۷۱، شعب الايمان رقم ۱۸۸۹.

Scanned with CamScanner

عَلَيْهِ وَسَلَّمَ .

ما رسولُ الله صلی الله علیه وسلم اُولید چې مونځ یې کولو ، او د ژړا په وجه د دوی په سینه کې د ژرندې د آواز په شان آواز وُ .(۱)

۲ . په یوه موقع باندې حضرت بلال رضي الله عنه راغی ، او رسولُ الله صلی الله علیه وسلم ته یې د مانځه اطلاع ورکوله ، کله چې حضرت بلال رضي الله عنه . نبي علیه السلام په ژړا اُولید نو پوښتنه یې ورنه اوکړه :

يَا رَسُوْلَ اللهِ ! لِمَ تَبْكِيْ ؟ وَقَدْ غَفَرَ اللهُ لَكَ مَا تَقَدَّمَ وَمَا تَأَخَّرَ .

اې د الله ﷻ رسوله ! تاسو ولې ژاړئ ؟ حالانکه الله ﷻ خو ستاسو مخکیني او روستني ټول لغزشونه معاف کړي .

نبي علیه السلام ورته وفرمایل :

أَفَلَا أَكُوْنُ عَبْدًا شَكُوْرًا . آیا زه د الله ﷻ شکر گزار بنده جوړ نه شم ؟

بیا یې وفرمایل : په ما باندې نن شپه دا آیت نازل شوی ، پس د هغه چا د پاره هلاکت دی چې هغه دا اُولولي او په دې کې تفکر او نکړي ، ( هغه آیت دا دی ) :

﴿ إِنَّ فِيْ خَلْقِ السَّمٰوٰتِ وَالْأَرْضِ وَاخْتِلَافِ اللَّيْلِ وَالنَّهَارِ لَاٰيَاتٍ لِّأُوْلِي الْأَلْبَابِ .... ﴾ .(۱).(۲)

---

(۱) سنن ابی داؤد بَابُ تَفْرِيعِ أَبْوَابِ الرُّكُوعِ وَالسُّجُودِ بَابُ الْبُكَاءِ فِي الصَّلَاةِ رقم الحدیث ۹۰۴ .

(۱) آل عمران آیت ۱۹۰ و ۱۹۱ .

(۲) په صحیح ابن حبان کې اُوږد حدیث دی ، حضرت عائشه رضي الله عنها فرمایي ..... فَقَامَ ، فَتَطَهَّرَ ثُمَّ قَامَ يُصَلِّيْ ، قَالَتْ : فَلَمْ يَزَلْ يَبْكِيْ حَتّٰى بَلَّ حِجْرَهُ ، قَالَتْ : ثُمَّ بَكٰى ، فَلَمْ يَزَلْ يَبْكِيْ حَتّٰى بَلَّ لِحْيَتَهُ ، قَالَتْ ثُمَّ بَكٰى فَلَمْ يَزَلْ يَبْكِيْ حَتّٰى بَلَّ الْأَرْضَ ، فَجَاءَ بِلَالٌ يُؤْذِنُهُ بِالصَّلَاةِ ، فَلَمَّا رَآهُ يَبْكِيْ ، قَالَ يَا رَسُوْلَ اللهِ ! لِمَ تَبْكِيْ وَقَدْ غَفَرَ اللهُ لَكَ مَا تَقَدَّمَ وَمَا تَأَخَّرَ ، قَالَ : " أَفَلَا أَكُوْنُ عَبْدًا شَكُوْرًا لَقَدْ نَزَلَتْ عَلَيَّ اللَّيْلَةَ آيَةٌ وَيْلٌ لِمَنْ قَرَأَهَا وَلَمْ يَتَفَكَّرْ فِيهَا : ﴿ إِنَّ فِيْ خَلْقِ السَّمٰوٰتِ وَالْأَرْضِ وَاخْتِلَافِ اللَّيْلِ وَالنَّهَارِ لَاٰيَاتٍ لِّأُوْلِي الْأَلْبَابِ .... ﴾ .

صحیح ابن حبان رقم الحدیث ۶۲۰ ذِكْرُ الْبَيَانِ بِأَنَّ الْمَرْءَ عَلَيْهِ إِذَا اخْتَلَى لُزُومُ الْبُكَاءِ عَلَى مَا ارْتَكَبَ مِنَ الْحَوْبَاتِ ... وقال شعیب الارنؤوط : اسناده صحیح علی شرط مسلم . وقال الالبانی فی سلسلة الاحادیث الصحیحة برقم ۶۸ : هذا اسناد جید . تفسیر قرطبی ج۴ ص ۳۰۰ سورة آل عمران آیت ۱۹۰ .

ترجمه : بیشکه د آسمانونو او زمکې په پیدا کولو ، او د شپې او ورځې په تلو راتلو کې خامخا نښې (د قدرت ، او دلایل د توحید ) دي د خاوندانو د عقل د پاره ....

## د حضرت یحیٰی علیه السلام به هم په مانځه کې ډیر ژړل

د حضرت زکریا علیه السلام ځوي " حضرت یحیٰی علیه السلام " به چې په مانځه باندې أودرید نو دومره به یې ژړل چې أونو او بوټو به هم ورسره ژړل ، او حضرت زکریا علیه السلام به هم ورسره په ژړا شو . (۱)

## د حضرت ابراهیم علیه السلام یَره

((( اول په دې خبره باندې ځان پوهه کړئ چې انبیاء کرام د ګناهونو نه مَعصوم وو یعنی د هغوی نه هیڅ قِسمه ګناه نه کیدله ، البته کله به ورنه یو لغزَش صادر شو ، او دا د پیغمبری سره څه مُنافي ندی ))) .

امام غزالي رَحِمَهُ اللهُ په مکاشفة القلوب کې لیکلي دي چې د حضرت ابراهیم علیه السلام نه څه خطاء (یعنی لغزَش ) شوې وُ ، چې کله به ورته دا خطاء وریاده شوه نو د الله تعالی د یَرې نه به بې هُوشه شو ، او د زړه دَرزار به یې د لرې نه هم اوریدل کیدو .

الله تعالی ورته حضرت جبریل علیه السلام وراُولیږلو ، جبریل ﷺ ورته وویل :

زُورَور او غالِبْ الله ﷻ درباندې سلام وایي او دا فرمایي چې :

تا کله داسې لیدلي چې یو دوست د بل دوست نه ویریږي ؟

حضرت ابراهیم علیه السلام ورته اوفرمایل : اې جبریل ! چې کله زه خپله خطاء رایاده کړم او د هغې په آنجام سوچ اوکړم نو خپله دوستانه رانه هیره شي . (۲) .

عبرت : ډیر د عبرت مقام دی چې کله انبیاء کرام د الله تعالی نه دومره ویریږي نو مونږ ته خو په طریقِ اولی باندې د الله تعالی نه ویریدل په کار دي .

(۱) وکان یحیی بن زکریا علیهما السلام إذا قام یصلي یبکی حتی یبکي معه الشجر والمدر ویبکي زکریا علیه السلام لبکائه حتی یغشی علیه فلم یزل یبکي حتی أغرقت دموعه لحم خدیه ... نزهة الناظرین في الاخبار والآثار المروية عن الأنبياء والصالحين ص ٥٥٦ کتاب الرجاء والخوف خوف الانبیاء علیهم السلام .

(۲) مکاشفة القلوب للغزالي اول باب د الله تعالی نه خوف او ویره .

Scanned with CamScanner

## فرښتې هم د الله تعالی نه ویریږي

فرښتې هم د الله تعالی نه ویریږي ، په قرآن کریم کې ذکر دي :

﴿ وَلِلَّهِ يَسْجُدُ مَا فِي السَّمٰوٰتِ وَمَا فِي الْأَرْضِ مِنْ دَآبَّةٍ وَّالْمَلٰٓئِكَةُ وَهُمْ لَا يَسْتَكْبِرُوْنَ ۝ يَخَافُوْنَ رَبَّهُمْ مِّنْ فَوْقِهِمْ وَيَفْعَلُوْنَ مَا يُؤْمَرُوْنَ ﴾.(۱)

ترجمه : په آسمانونو او زمکه کې چې څومره جاندار (گرځیدونکي) شیان دي دا ټول الله تعالی ته سجده کوي (یعنی مُنقاد دي) ، او فرښتې هم (الله ﷻ ته سجده کوي) ، او دوی تکبّر نه کوي ، دا فرښتې د خپل هغه رب نه ویریږي کوم چې د دوی د پاسه (یعنی غالِب) دی ، او دوی هغه څه کوي چې د کوم دوی ته حکم شوی .

## د حضرت جبریل او حضرت اسرافیل علیهما السلام یَره

**۱** . بیا خاصکر مُقرّبې فرښتې خو د الله ﷻ نه ډیرې ویریږي .

نبي علیه السلام فرمایي چې د معراج په شپه زما تیریدل په حضرت جبریل علیه السلام باندې په داسې حالت کې اُوشو چې هغه د الله ﷻ د یَرې په وجه د زُور مشک په شان وُ .(۲)

حضرت جبریل علیه السلام به د جهنم د پیدا کیدو نه پس ډیر ژړل ، ځکه د جهنم ویره ورسره وه .(۳)

---

(۱) النحل آية ۴۹ ، ۵۰ .

(۲) عَنْ جَابِرٍ رضي الله عنه قَالَ: قَالَ النَّبِيُّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: « مَرَرْتُ لَيْلَةَ أُسْرِيَ بِي بِالْمَلَإِ الْأَعْلَى، وَجِبْرِيلُ كَالْحِلْسِ الْبَالِي مِنْ خَشْيَةِ اللهِ عَزَّ وَجَلَّ » . المعجم الاوسط للطبراني رقم الحديث ۴۶۷۹ بَابُ الْعَيْنِ ، وحسنه الالباني فی صحیح الجامع رقم الحدیث ۵۸۶۴ ، مجمع الزوائد كِتَابُ الْإِيمَانِ بَابٌ مِنْهُ فِي الْإِسْرَاءِ رقم الحديث ۲۲۶ وقال الهيثمي: رَوَاهُ الطَّبَرَانِيُّ فِي الْأَوْسَطِ، وَرِجَالُهُ رِجَالُ الصَّحِيحِ . كنز العمال رقم الحديث ۵۸۹۷ و رقم الحديث ۱۵۱۶۳ .

(۳) عَنْ أَبِي عِمْرَانَ قَالَ: بَلَغَنِي أَنَّ جِبْرِيلَ عَلَيْهِ السَّلَامُ جَاءَ إِلَى النَّبِيِّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وَهُوَ يَبْكِي فَقَالَ: مَا يُبْكِيكَ ؟ قَالَ: مَا جَفَّتْ لِي عَيْنٌ مُنْذُ خَلَقَ اللهُ جَهَنَّمَ مَخَافَةَ أَنْ أَعْصِيَهُ فَيُلْقِيَنِي فِيهَا . شعب الايمان رقم الحديث ۸۸۷ الخوف من الله تعالى .

Scanned with CamScanner

۲ . يو ځل حضرت جبريل عليه السلام د نبي عليه السلام سره ناست وُ چې ناڅاپه د يَرې نه اُولړزيدو ، لږ وخت پس حضرت اسرافيل عليه السلام د نبي عليه السلام په خدمت کې حاضر شو ، څه پيغام يې راوړو ، او واپس لاړ .

د حضرت اسرافيل عليه السلام د تللو نه پس حضرت جبريل عليه السلام مطمئن شو ، پيغمبر عليه السلام ورنه پوښتنه اوکړه :

دا په تاسو څه شوي وو چې د يَرې د وجې لړزيدې ؟

حضرت جبريل عليه السلام ورته اوفرمايل :

کله چې ما حضرت اسرافيل عليه السلام اُوليد چې د آسمان نه زمکې طرف ته راروان دی نو ما سره يَره شوه چې ګني قيامت قائميږي ؛ ځکه د قيامت په ورځ به حضرت اسرافيل عليه السلام د بيت المقدس نه شپيلۍ وَهي .(۱)

۳ . يو ځل رسول الله ﷺ د حضرت جبريل عليه السلام نه پوښتنه اوکړه :

مَا لِي لَمْ أَرَ مِيكَائِيلَ ضَاحِكًا قَطُّ ؟

دا څه وجه ده چې ما تر اُوسه پورې حضرت ميکائيل عليه السلام په خندا باندې ندې ليدلی ؟

حضرت جبريل عليه السلام ورته اوفرمايل : مَا ضَحِكَ مِيكَائِيلُ مُنْذُ خُلِقَتِ النَّارُ .

د کله نه چې د اُور پيدا شوې دی د هغې نه راپه ديخوا حضرت ميکائيل عليه السلام ندي خندلي .(۲)

---

(۱) خوف خدا کے سچے واقعات ص ۷۴ .

(۲) عَنْ أَنَسِ بْنِ مَالِكٍ رضي الله عنه ، عَنْ رَسُولِ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ أَنَّهُ قَالَ لِجِبْرِيلَ عليه السلام : « مَا لِي لَمْ أَرَ مِيكَائِيلَ ضَاحِكًا قَطُّ ؟ قَالَ : مَا ضَحِكَ مِيكَائِيلُ مُنْذُ خُلِقَتِ النَّارُ » . مسند احمد مخرجا رقم الحديث ۱۳۳۴۳ مُسْنَدُ أَنَسِ بْنِ مَالِكٍ رَضِيَ اللهُ تَعَالَى عَنْهُ ، الترغيب والترهيب للمنذري ج ۴ ص ۲۴۹ رقم الحديث ۵۵۴۰ ، مجمع الزوائد كتاب صفة النار رقم الحديث ۱۸۵۶۸ ، الزواجر عن اقتراف الكبائر ج ۱ ص ۴۰ ، و ج ۲ ص ۴۱۷ ، نزهة الناظرين ص ۵۵۶ كتاب الخوف والرجاء .

Scanned with CamScanner

همداسې خبره د حضرت اسرافیل علیه السلام په باره کې هم نقل ده چې د اُور پیدا کیدو نه پس هغه هم ندي خندلي. (۱)

٤. په الکبائر او نورو معتمدو کتابونو کې دا خبره ذکر ده چې کله ابلیس لعنتي کړې شو نو حضرت جبریل علیه السلام او حضرت میکائیل علیه السلام دواړو ژړل، نو الله تعالی ورنه پوښتنه اوکړه:

مَا لَكُمَا تَبْكِيَانِ؟ تاسو دواړه ولې ژاړئ؟

دوی ورته ووېل: يَا رَبِّ مَا نَأْمَنُ مَكْرَكَ.

اې ربه! مونږ ستا د تدبیر نه په اَمن کې نه یو (یعنی ستا د ګرفت نه وېرېږو).

الله تعالی ورته اوفرمایل: هٰكَذَا كُونَا لَا تَأْمَنَا مَكْرِيْ.

تاسو همدغه شان زما د تدبیر نه مه په اَمن کیږئ (یعنی هر وخت د مانه په یَره کې اُوسئ). (۲)

## د نورو فرښتو یَره

۱. امام غزالي رحمه الله په احیاء العلوم کې نقل کړي چې د الله تعالی څه فرښتې داسې هم دي چې د کله نه اُور پیدا شوی د هغه وخت نه را په دیخوا تر اوسه پورې دوی کې هیڅا

---

(۱) عَنِ الْمُطَّلِبِ أَنَّ رَسُوْلَ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ: لِجِبْرِيْلَ عَلَيْهِ السَّلَامُ: يَا جِبْرِيْلُ! مَا لِيْ لَا أَرَى إِسْرَافِيْلَ يَضْحَكُ، وَلَمْ يَأْتِنِيْ أَحَدٌ مِنَ الْمَلَائِكَةِ إِلَّا رَأَيْتُهُ يَضْحَكُ؟ قَالَ جِبْرِيْلُ عَلَيْهِ السَّلَامُ: "مَا رَأَيْنَا ذٰلِكَ الْمَلَكَ ضَاحِكًا مُنْذُ خُلِقَتِ النَّارُ. شعب الایمان رقم الحدیث ۸۸۵ الخوف من الله تعالی، کنز العمال رقم الحدیث ۵۸۹۵.

(۲) وَفِي الْأَثَرِ أَنَّه لما مكر بإبليس وَكَانَ من الْمَلَائِكَة طفق جِبْرِيل وميكال يَبْكِيَانِ فَقَالَ الله عز وَجل لَهما مَا لَكُمَا تَبْكِيَانِ؟ قَالَا: يَا رَبِّ مَا نَأْمَنُ مَكْرَكَ. فَقَالَ اللهُ تَعَالَى: {هٰكَذَا كُونَا لَا تَأْمَنَا مَكْرِيْ}. الكبائر للذهبي ج ۱ ص ۲۲۷ الْكَبِيرَة الثَّالِثَة وَالسِّتُّونَ الأَمْن من مكر الله، احياء علوم الدين ج ۴ ص ۱۸۱ الشطر الثاني في الخوف بيان أحوال الأنبياء والملائكة عليهم الصلاة والسلام في الخوف، نزهة الناظرين في الاخبار والآثار المروية عن الأنبياء والصالحين ص ۵۵۶ كتاب الرجاء والخوف فصل في خوف الملائكة والانبياء والعلماء.

ندې خندلي ؛ ځکه دوی ویرېږي چې هسې نه الله تعالی په دوی باندې غیصه شي او عذاب ورکړي.(۱)

۳ . په تنبیه الغافلین او مکاشفة القلوب کې ذکر دي چې په اُووم آسمان کې د الله تعالی داسې فرښتې دي چې د کوم وخت نه الله تعالی پیدا کړي دي د هاغه وخت نه را په دیخوا په سجده باندې پرتې دي ، دا به تر قیامته پورې همداسې په سجده باندې پرتې وي ، د الله تعالی د ویرې نه لړزیږي ، کله چې د قیامت ورځ شي نو دوی به خپل سرونه راپورته کړي (د عاجزۍ اقرار به اوکړي ) او دا به اووایي :

سُبْحَانَكَ مَا عَبَدْنَاكَ حَقَّ عِبَادَتِكَ .

( اې ربه ) تا لره پاکي ده مونږ ستا حق عبادت اونکړو.(۲)

(یعنی مونږ ستا داسې عبادت اونکړو څنګه چې ستا د عبادت حق ؤ).

## د یو غر د الله ﷻ د ویرې نه ژړل

فقیه ابو اللیث سمرقندي رَحِمَهُ اللهُ یوه واقعه رانقل کړی چې یو ځل حضرت عیسی علیه السلام په یو کلي تیریدو ، په دغه کلي کې یو غر ؤ ، او د هغې نه د ژړا او چغو ډیر آوازونه راوتل . نو حضرت عیسی عَلَيْهِ السَّلَامُ د دغه کلي د خلقو نه پوښتنه اوکړه :

مَا هٰذَا الْبُكَاءُ وَهٰذَا الْإِنْتِحَابُ فِي هٰذَا الْجَبَلِ ؟

---

(۱) ویقال إن لله تعالی ملائكة لم يضحك أحد منهم منذ خلقت النار مخافة أن يغضب الله عليهم فيعذبهم بها . احياء علوم الدين ج ۴ ص ۱۸۱ الشطر الثاني فی الخوف بيان أحوال الأنبياء والملائكة عليهم الصلاة والسلام في الخوف ، نزهة الناظرين في الاخبار والآثار المروية عن الأنبياء والصالحين ص ۵۵۶ كتاب الرجاء والخوف فصل في خوف الملائكة والانبياء والعلماء .

(۲) قَالَ رَسُوْلُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: إِنَّ لِلّٰهِ مَلَائِكَةً فِي السَّمَاءِ السَّابِعَةِ سُجُوْدًا مُنْذُ خَلَقَهُمُ اللهُ إِلَى يَوْمِ الْقِيَامَةِ تَرْعُدُ فَرَائِصُهُمْ مِنْ مَخَافَةِ اللهِ، فَإِذَا كَانَ يَوْمُ الْقِيَامَةِ رَفَعُوْا رُؤُوْسَهُمْ، وَقَالُوْا : سُبْحَانَكَ مَا عَبَدْنَاكَ حَقَّ عِبَادَتِكَ . تنبيه الغافلين بأحاديث سيد الأنبياء والمرسلين للسمرقندي ج ۱ ص ۳۸۹ بَابُ مَا جَاءَ فِي خَوْفِ اللهِ تَعَالَى .

مکاشفة القلوب دریم باب د الله ﷻ نه د ویرې بیان

په دې غَر کې دا ژړا او چغې د څه شي ده ؟

هغوي ورته وويل : چې اى عيسى ﷺ ! د کوم وخت نه چې مونږ په دې کلي کې اوسيږو د هغه وخت نه را په ديخوا مونږ دغه ژړا او چغې په دې غر کې آورو .

حضرت عيسى عليه السلام د الله ﷻ نه سوال اوکړو :

يَارَبِّ ! اِئْذَنْ لِهٰذَا الْجَبَلِ أَنْ يُكَلِّمَنِيْ .

اى ربه ! دې غَر ته اجازت اوکړه چې د ماسره خبرې اوکړي ( چې زه ورنه پوښتنه اوکړم ) .

الله رب العزت ورته غَر گويا کړو .

غر ورته وايي : اى عيسى ﷺ ووايه ، د مانه څه پوښتنه کوې ؟

حضرت عيسى ﷺ ورته اوفرمايل : چې ما ته دا ووايه چې ته ولې دومره ژاړې او چغې سورې وهې ؟ غر ورته وويل :

يَا عِيْسٰى ! أَنَا الْجَبَلُ الَّذِيْ كَانَتْ تَنْحَتُ مِنِّي الْأَصْنَامُ الَّتِيْ يَعْبُدُوْنَهَا مِنْ دُوْنِ اللهِ فَأَخَافُ أَنْ يُلْقِيَنِي اللهُ تَعَالٰى فِيْ نَارِ جَهَنَّمَ . فَإِنِّيْ سَمِعْتُ اللهَ يَقُوْلُ:

﴿ فَاتَّقُوا النَّارَ الَّتِيْ وَقُوْدُهَا النَّاسُ وَالْحِجَارَةُ ﴾ .(۱)

اى عيسى ! زه خو هغه غَر يم ، چې د ما نه خلق بُتان جوړوي ، او بيا د هغې عبادت کوي ، زه ويرېږم د دې نه چې هسې نه ما الله ﷻ په اُور کې اوغورځوي . ځکه ما د الله ﷻ دا ارشاد اوريدلې دی ، چې الله ﷻ فرمائي :

تاسو د هغه اُور نه اوويرېږئ چې د هغې خشاک خلق ( کافران او گناهکاران ) ، او کاڼي (يعنى د کاڼو نه جوړ شوي بُتان ) دي .

غَر وويل : چې د ما نه خو هم بتان جوړ شوي دي نو هسې نه چې ما جهنم ته اوغورځوي .

الله ﷻ حضرت عيسى ﷺ ته وحي اوکړه : چې ته دې غر ته تسلي ورکړه ، ما ده ته د جهنم نه پناه ورکړه .

---

(۱) البقرة آية ۲۴ .

قدرمنو ! غر باوجود ددینه چې څومره سخت شی دی خو بیا هم د الله ﷻ نه ویریږي نو بني آدم باوجود ددینه چې دا ډیر کمزوري دی ده ته خو په طریقِ اولی باندې د الله تعالی نه ویریدل په کار دي. (۱)

## د صحابه کرامو رضي الله عنهم د الله ﷻ نه ویره

صحابه کرام رضي الله عنهم هم د الله تعالی نه ډیر ویریدل ، د یو څو صحابه کرامو احوال درته نقل کوم:

## د حضرت ابوبکر صدیق رضي الله عنه یره او ژړا

حضرت ابوبکر صدیق رضي الله عنه هغه شخصیت دی چې د رسول الله صلی الله علیه وسلم نه پس په ټولو مسلمانانو کې افضل دی ، نبي علیه السلام ورته په ښکاره الفاظو سره د جنت خوشخبري ورکړې وه ، د نبي علیه السلام د وفات نه پس اَولني خلیفهٔ ، د دوی په دورِ حکومت کې ډیر ملکونه فتح شوي وو او اسلامي نظام په کې جاري شوې وُ ، خو د دې ټولو فضائلو باوجود بیا هم د الله ﷻ د عذاب نه ډیر ویریدو ، کله به یې چې د قرآن کریم

(۱) وَرُوِيَ فِي الْخَبَرِ أَنَّ عِيسٰى عَلَيْهِ الصَّلَاةُ وَالسَّلَامُ مَرَّ بِقَرْيَةٍ، وَفِي تِلْكَ الْقَرْيَةِ جَبَلٌ، وَفِي الْجَبَلِ بُكَاءٌ وَانْتِحَابٌ كَثِيرٌ. فَقَالَ لِأَهْلِ الْقَرْيَةِ: مَا هٰذَا الْبُكَاءُ وَهٰذَا الْإِنْتِحَابُ فِي هٰذَا الْجَبَلِ؟ قَالُوا: يَا عِيسٰى: مُنْذُ سَكَنَّا هٰذِهِ الْقَرْيَةَ نَسْمَعُ هٰذَا الْبُكَاءَ وَهٰذَا الْإِنْتِحَابَ بِهٰذَا الْجَبَلِ. فَقَالَ عِيسٰى عَلَيْهِ السَّلَامُ: يَا رَبِّ! اِئْذَنْ لِهٰذَا الْجَبَلِ أَنْ يُكَلِّمَنِي. فَأَنْطَقَ اللهُ الْجَبَلَ، فَقَالَ: يَا عِيسٰى! مَا أَرَدْتَ مِنِّي؟ قَالَ: أَخْبِرْنِي بِبُكَائِكَ وَانْتِحَابِكَ مَا هُوَ؟ قَالَ: يَا عِيسٰى أَنَا الْجَبَلُ الَّذِي كَانَتْ تُنْحَتُ مِنِّي الْأَصْنَامُ الَّتِي يَعْبُدُونَهَا مِنْ دُونِ اللهِ فَأَخَافُ أَنْ يُلْقِيَنِي اللهُ تَعَالٰى فِي نَارِ جَهَنَّمَ. فَإِنِّي سَمِعْتُ اللهَ يَقُولُ: {فَاتَّقُوا النَّارَ الَّتِي وَقُودُهَا النَّاسُ وَالْحِجَارَةُ} [البقرة آية ۲۴]. فأوحى الله تعالى إلى عيسى عليه الصلاة والسلام، أَنْ قُلْ لِلْجَبَلِ: اُسْكُنْ فَإِنِّي قَدْ أَعَذْتُهُ مِنْ جَهَنَّمَ. فَالْحِجَارَةُ مَعَ صَلَابَتِهَا وَشِدَّتِهَا تَخَافُ اللهَ فَكَيْفَ لَا يَكُونُ الْمِسْكِينُ الضَّعِيفُ ابْنُ آدَمَ يَخَافُ مِنَ النَّارِ. وَلَا يَتَعَوَّذُ بِاللهِ مِنْهَا. يَا ابْنَ آدَمَ احْذَرْ مِنْهَا، وَإِنَّمَا الْحَذَرُ مِنْهَا بِاجْتِنَابِ الذُّنُوبِ فَإِنَّ الذُّنُوبَ تَسْتَوْجِبُ عَلَى الْعَبْدِ سَخَطَ اللهِ تَعَالٰى وَعَذَابَهُ. وَلَا طَاقَةَ لَكَ بِعَذَابِ اللهِ تَعَالٰى. تنبيه الغافلين بأحاديث سيد الأنبياء والمرسلين للسمرقندي ج۱ ص ۵۹۵ بَابُ الْاِجْتِهَادِ فِي الطَّاعَةِ

تلاوت کولو یا به په مانځه ~~کې به یې له~~ سترګو نه به یې اوښکې روانې وی.

حضرت ابوبکر صدیق رضي الله عنه به کله په مانځه کې د الله ﷻ د یرې دومره اوژړل چې بیا به یې مخکې قرأت هم نه شو کولی.

۱. په بخاري شریف کې اوږد حدیث دی، په هغې کې دا هم ذکر دي چې نبي علیه السلام په خپل مرض الوفات کې اوفرمایل: مُرُوا أَبَا بَكْرٍ يُصَلِّي بِالنَّاسِ.

تاسو ابوبکر صدیق رضي الله عنه ته حکم اوکړئ چې خلقو ته د جمعې مونځ اوکړي.

نو حضرت عائشه رضي الله عنها فرمايي چې ما نبي علیه السلام ته عرض اوکړو:

إِنَّ أَبَا بَكْرٍ إِذَا قَامَ فِي مَقَامِكَ لَمْ يُسْمِعِ النَّاسَ مِنَ الْبُكَاءِ فَمُرْ عُمَرَ رضي الله عنه فَلْيُصَلِّ لِلنَّاسِ...

بیشکه کله چې ابوبکر صدیق رضي الله عنه ستاسو په ځای باندې (مخکې په مُصَلّه) اودریږي نو د یرې ژړا په وجه بیا خلقو ته خپل آواز نشي اورولی، پس تاسو حضرت عُمر رضي الله عنه ته حکم اوکړئ نو هغه به خلقو ته مونځ اوکړي...(۱)

داحدیث په بخاري شریف او مسلم شریف کې داسې هم ذکر دی، حضرت عائشه رضي الله عنها فرمايي چې کله د رسول الله صلی الله علیه وسلم بیماري سخته شوه، حضرت بلال رضي الله عنه راغی، او نبي علیه السلام ته یې د مونځ خبر ورکړو، رسول الله صلی الله علیه وسلم اوفرمایل:

---

(۱) پوره حدیث داسې دی: عَنْ عَائِشَةَ أُمِّ الْمُؤْمِنِينَ رَضِيَ اللَّهُ عَنْهَا: أَنَّ رَسُولَ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ فِي مَرَضِهِ: «مُرُوا أَبَا بَكْرٍ يُصَلِّي بِالنَّاسِ». قَالَتْ عَائِشَةُ: قُلْتُ: إِنَّ أَبَا بَكْرٍ رضي الله عنه إِذَا قَامَ فِي مَقَامِكَ لَمْ يُسْمِعِ النَّاسَ مِنَ الْبُكَاءِ فَمُرْ عُمَرَ رضي الله عنه فَلْيُصَلِّ لِلنَّاسِ. فَقَالَ: «مُرُوا أَبَا بَكْرٍ فَلْيُصَلِّ بِالنَّاسِ». فَقَالَتْ عَائِشَةُ: فَقُلْتُ لِحَفْصَةَ: قُولِي إِنَّ أَبَا بَكْرٍ إِذَا قَامَ فِي مَقَامِكَ لَمْ يُسْمِعِ النَّاسَ مِنَ الْبُكَاءِ، فَمُرْ عُمَرَ فَلْيُصَلِّ بِالنَّاسِ، فَفَعَلَتْ حَفْصَةُ. فَقَالَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: «إِنَّكُنَّ لَأَنْتُنَّ صَوَاحِبُ يُوسُفَ عليه السلام. مُرُوا أَبَا بَكْرٍ فَلْيُصَلِّ لِلنَّاسِ». فَقَالَتْ حَفْصَةُ لِعَائِشَةَ: مَا كُنْتُ لِأُصِيبَ مِنْكِ خَيْرًا. صحیح البخاري كِتَابُ الِاعْتِصَامِ بِالْكِتَابِ وَالسُّنَّةِ بَابُ مَا يُكْرَهُ مِنَ التَّعَمُّقِ وَالتَّنَازُعِ فِي الْعِلْمِ، وَالْغُلُوِّ فِي الدِّينِ وَالْبِدَعِ رقم الحدیث ۷۳۰۳، و رقم الحدیث ۶۷۹ كِتَابُ الْأَذَانِ بَابٌ: أَهْلُ الْعِلْمِ وَالْفَضْلِ أَحَقُّ بِالْإِمَامَةِ، و رقم الحدیث ۷۱۶ كِتَابُ الْأَذَانِ بَابُ إِذَا بَكَى الْإِمَامُ فِي الصَّلَاةِ

مُرُوْا أَبَا بَكْرٍ أَنْ يُصَلِّيَ بِالنَّاسِ.

تاسو حضرت ابوبکر صدیق رضي الله عنه ته حکم اوکړئ چې خلقو ته د جُمعې مونځ اوکړي.

حضرت عائشة رضي الله عنها فرمايي چې ما ورته ووېل:

يَا رَسُوْلَ اللهِ! إِنَّ أَبَا بَكْرٍ رَجُلٌ أَسِيفٌ وَإِنَّهُ مَتَى مَا يَقُمْ مَقَامَكَ لَا يُسْمِعُ النَّاسَ فَلَوْ أَمَرْتَ عُمَرَ. (۱)

اې د الله رسوله! بیشکه ابوبکر صدیق رضي الله عنه د ډیر نرَم زړه واله کس دی کله چې ستاسو په ځای باندې اُودرېږي نو بیا (د ډیرې ژړا په وجه) قِراَة نشي کولی، پس تاسو حضرت عُمر رضي الله عنه ته د جَمعې کولو حکم اوکړئ نو دا به ډیره بهتره وي....

۲. د حضرت ابوبکر صدیق رضي الله عنه په زړه کې دومره یَره وه چې یو ځل په لاره تیریدو، یو مرغۍ یې په اُونه کې اُولیده نو هغې ته یې خطاب کولو سره اوفرمايل:

طُوْبَى لَكَ يَا طَيْرُ تَطِيْرُ فَتَقَعُ عَلَى الشَّجَرِ، ثُمَّ تَأْكُلُ مِنَ الثَّمَرِ، ثُمَّ تَطِيْرُ لَيْسَ عَلَيْكَ حِسَابٌ وَلَا عَذَابٌ يَا لَيْتَنِيْ كُنْتُ مِثْلَكَ.

اې مرغۍ! څومره بَختوره یې، اَلوځې، په اُونو کینی، د اُونو میوې خوری، بیا اَلوځې، حالانکه په تا باندې هیڅ حساب او عذاب نشته، کاش، چې زه (ابوبکر) هم ستا په شان وی.

(حضرت ابوبکر صدیق رضي الله عنه به د ډیرې یَرې په وجه دا هم فرمایل:) قسَم په الله، زما دا هم خوښه ده چې د لارې په غاړه یوه اُونه وی او یو اُوښ خوړلې وی خو چې انسان نه وې پیدا شوی. (۲)

---

(۱) عَنْ عَائِشَةَ رَضِيَ اللهُ عَنْهَا. قَالَتْ: لَمَّا ثَقُلَ رَسُوْلُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ جَاءَ بِلَالٌ يُؤْذِنُهُ بِالصَّلَاةِ، فَقَالَ: « مُرُوْا أَبَا بَكْرٍ أَنْ يُصَلِّيَ بِالنَّاسِ ». فَقُلْتُ: يَا رَسُوْلَ اللهِ! إِنَّ أَبَا بَكْرٍ رَجُلٌ أَسِيفٌ وَإِنَّهُ مَتَى مَا يَقُمْ مَقَامَكَ لَا يُسْمِعُ النَّاسَ فَلَوْ أَمَرْتَ عُمَرَ .... صحيح البخاري كِتَابُ الأَذَانِ بَابٌ: الرَّجُلُ يَأْتَمُّ بِالإِمَامِ وَيَأْتَمُّ النَّاسُ بِالمَأْمُومِ رقم الحديث ۷۱۳. صحيح مسلم كِتَابُ الصَّلَاةِ بَابُ اسْتِخْلَافِ الإِمَامِ إِذَا عَرَضَ لَهُ عُذْرٌ مِنْ مَرَضٍ... رقم ۹۵ (۴۱۸).

(۲) عَنِ الضَّحَّاكِ قَالَ: مَرَّ أَبُوْ بَكْرٍ رَضِيَ اللهُ عَنْهُ عَلَى طَيْرٍ قَدْ وَقَعَ عَلَى شَجَرَةٍ فَقَالَ: طُوْبَى لَكَ ←←←←

کله به یې فرمایل : لَوَدِدْتُ أَنِّي تَمَرَةٌ تَنْقُرُهَا الطَّيْرُ .

کاش، چې زه یوه قجوره وی چې مرغی په ټونګو باندې خوړلې وی.(۱)

حضرت ابوبکر صدیق رضي الله عنه اګر چې جلیلُ القدر صحابي دی خو دا خبرې یې د ډیرې یَرې په وجه کولی ځکه د حیوانانو سره د انسانانو په شان حساب نه وي، او نه ورله عذاب وي.

## د حضرت عمر رضي الله عنه د الله ﷻ نه یَره

باوجود ددینه چې نبي علیه السلام حضرت عُمر رضي الله عنه ته په دُنیا کې د جنت خوشخبري اورولې وه خو بیا یې هم په زړه کې د الله ﷻ مخې ته د پیش کیدو او حساب و کتاب ډیره یَره وه.

### ۱. د تلاوت په اوریدو یَره

کله به چې حضرت عُمر رضي الله عنه د قرآن کریم داسې آیت واورید چې په هغې کې به د الله ﷻ د عذاب تذکره وه نو د سختې یَرې د وجې به رااوغورځید او بې هوشې به وریاندې راغله (دومره سخت به بیمار شو چې) بیا به څو ورځې خلق دده بیمارپُرسی ته راتلل .(۲)

←←← يَا طَيْرُ تَطِيرُ فَتَقَعُ عَلَى الشَّجَرِ، ثُمَّ تَأْكُلُ مِنَ الثَّمَرِ، ثُمَّ تَطِيرُ لَيْسَ عَلَيْكَ حِسَابٌ وَلَا عَذَابٌ يَا لَيْتَنِي كُنْتُ مِثْلَكَ. وَاللهِ لَوَدِدْتُ أَنِّي كُنْتُ شَجَرَةً إِلَى جَانِبِ الطَّرِيقِ فَمَرَّ عَلَيَّ بَعِيرٌ فَأَخَذَنِي فَأَدْخَلَنِي فَاهُ فَلَاكَنِي، ثُمَّ ازْدَرَدَنِي ثُمَّ أَخْرَجَنِي بَعْرًا وَلَمْ أَكُنْ بَشَرًا . شعب الایمان ج ۲ ص ۲۲۷ رقم الحدیث ۷۶۸ الخوف من الله تعالى.
احیاء علوم الدین ج ۴ ص ۱۸۳ بیان أحوال الأنبیاء والملائكة علیهم الصلاة والسلام في الخوف . نزهة الناظرین ص ۵۵۷ کتاب الرجاء والخوف.

وفي رواية : نَظَرَ أَبُو بَكْرٍ الصِّدِّيقُ رَضِيَ اللهُ عَنْهُ إِلَى طَيْرٍ حِينَ وَقَعَ عَلَى الشَّجَرِ فَقَالَ: مَا أَنْعَمَكَ يَا طَيْرُ تَأْكُلُ وَتَشْرَبُ وَلَيْسَ عَلَيْكَ حِسَابٌ. يَا لَيْتَنِي كُنْتُ مِثْلَكَ . شعب الایمان ج ۲ ص ۲۲۸ رقم ۷۶۹ الخوف من الله تعالى.

(۱) عَنِ الْحَسَنِ قَالَ: أَبْصَرَ أَبُو بَكْرٍ طَائِرًا عَلَى شَجَرَةٍ فَقَالَ: "طُوبَى لَكَ يَا طَيْرُ تَأْكُلُ الثَّمَرَ، وَتَقَعُ عَلَى الشَّجَرِ، لَوَدِدْتُ أَنِّي تَمَرَةٌ تَنْقُرُهَا الطَّيْرُ . شعب الایمان ج ۲ ص ۲۲۷ الخوف من الله تعالى رقم الحدیث ۷۶۷ .

(۲) و روی أن عمر رضي الله عنه كان يسقط من الخوف إذا سمع آية من القرآن ←←←←

حافظ ابن کثیر رحمه الله په خپل تفسیر " تفسیر ابن کثیر " کې د آیت ﴿ إِنَّ عَذَابَ رَبِّكَ لَوَاقِعٌ ﴾ د لاندې د حضرت عُمر ﷺ واقعه رانقل کړې چې :

یوه شپه حضرت عُمر ﷺ د ښار د حالاتو معلومولو د پاره أووت ، نو د مسلمانانو په یو کور باندې تیرېدو ، هلته یو مسلمان په مانځه باندې ولاړ وُ ، او تلاوت یې کولو ، حضرت عُمر ﷺ هم د تلاوت آورېدلو د پاره أودرېد ، هغه سورة الطور تلاوت کولو ﴿ وَالطُّورِ ، وَكِتَابٍ مَّسْطُورٍ ... ﴾ کله چې دې آیت ته راأورسید : ﴿ إِنَّ عَذَابَ رَبِّكَ لَوَاقِعٌ . مَا لَهُ مِن دَافِعٍ ﴾ . ترجمه : بېشکه ستا د رب عذاب خامخا واقع کېدونکې دی ، نشته دی ددې څوک دَفع کوونکې .

نو حضرت عمر ﷺ قسَم اوکړو : قَسَمٌ - وَرَبِّ الْكَعْبَةِ - حَقٌّ .

په رَب د کعبې قسَم چې دا حق دی .

بیا د سوَرلی نه راښکته شو ، یو دیوال ته تکیه شو ( د تللو طاقت یې نه وُ ) ، څه دیر وخت خفه ناست وُ .

کله چې کور ته لاړ نو ددې آیت په آورېدو وریاندې دومره آثر شوې وُ چې :

فَمَكَثَ شَهْرًا يَعُودُهُ النَّاسُ لَا يَدْرُونَ مَا مَرَضُهُ ؟

تر د یوې میاشتې پورې مریض وُ ، خلق به بیمار پُرسی له راتلل ، خو هیچا ته دا پته نه لګیده چې دده مرض څه شی دی ؟ (۱)

---

←←← مغشیا علیه فکان یعاد أیاما . احیاء علوم الدین ج ۴ ص ۱۸۳ بیان أحوال الأنبیاء والملائکة علیهم الصلاة والسلام فی الخوف

(۱) خَرَجَ عُمَرُ يَعُسُّ الْمَدِينَةَ ذَاتَ لَيْلَةٍ . فَمَرَّ بِدَارِ رَجُلٍ مِنَ الْمُسْلِمِينَ . فَوَافَقَهُ قَائِمًا يُصَلِّي . فَوَقَفَ يَسْتَمِعُ قِرَاءَتَهُ فَقَرَأَ : { وَالطُّورِ .. } حَتَّى بَلَغَ { إِنَّ عَذَابَ رَبِّكَ لَوَاقِعٌ . مَا لَهُ مِن دَافِعٍ } قَالَ : قَسَمٌ وَرَبِّ الْكَعْبَةِ حَقٌّ . فَنَزَلَ عَنْ حِمَارِهِ وَاسْتَنَدَ إِلَى حَائِطٍ . فَمَكَثَ مَلِيًّا . ثُمَّ رَجَعَ إِلَى مَنْزِلِهِ . فَمَكَثَ شَهْرًا يَعُودُهُ النَّاسُ لَا يَدْرُونَ مَا مَرَضُهُ . رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ . تفسیر ابن کثیر ج ۶ ص ۷ سورة الطور آیت ۷ ، ۸ . ←←←←←

حضرت ابورافع رحمه الله فرمايي چې يو پېره ماد سهر په مانځه کې د حضرت عمر ﷺ پسې اقتداء اوکړه ، زه د سرو په آخري صف کې ولاړ ووم ، حضرت عمر ﷺ د سورة يوسف تلاوت شروع کړو ، دوی به په ډېر اُوچت آواز سره تلاوت کولو ، کله چې دې آيت ته رااُورسيد :

۱ ﴿ قَالَ إِنَّمَآ أَشۡكُواْ بَثِّي وَحُزۡنِيٓ إِلَى ٱللَّهِ ﴾ . (۱)

ترجمه : بيشکه زه خپل خفګان او خپل غم صرف الله ﷻ ته بيانوم .

نو دومره يې اُوژړل چې د ډېرې ژړا په وجه يې قرأت بَند شو ، مخکې نور يې اُو نه لوستې شو ( زه اګر چې د ټولو نه په آخري صَف کې ولاړ ووم خو ليکن ) ما د دوی د ژړا آواز په آخري صَف کې هم صفا اُوريدو . (۲)

۲ . حضرت عبدالله بن عامر فرمايي : چې يو ځل حضرت عُمر ﷺ د زمکې نه يو ډکې ( بُوس خَلې ) راواخيست ، او وې فرمايل :

---

←←← وفي رواية : عَنِ الْحَسَنِ: أَنَّ عُمَرَ قَرَأَ: { إِنَّ عَذَابَ رَبِّكَ لَوَاقِعٌ . مَا لَهُ مِن دَافِعٍ } . فَرَبَا لَهَا رَبْوَةً عِيدَ مِنْهَا عِشْرِينَ يَوْمًا. فضائل القرآن لأبي عبيد ص ۶۳ ، تفسير ابن كثير ج ٦ ص ۷ سورة الطور آيت ۷ ، ۸ .

(۱) سورة يوسف آية ۸٦ .

(۲) وَعَنْ أَبِي رَافِعٍ: قَالَ: كَانَ عُمَرُ بْنُ الْخَطَّابِ رَضِيَ اللهُ عَنْهُ يَقْرَأُ فِي صَلَاةِ الْغَدَاةِ بِالْمِئِينَ ؛ بِالْكَهْفِ وَمَرْيَمَ وَطه وَاقْتَرَبَ، وَنَحْوِهِنَّ مِنَ السُّوَرِ. فَأَتَيْتُ يَوْمًا مَعَ عُمَرَ رَضِيَ اللهُ عَنْهُ فِي صَلَاةِ الْغَدَاةِ وَأَنَا فِي آخِرِ صُفُوفِ الرِّجَالِ مَا يَلِي النِّسَاءَ. وَهُوَ يَقْرَأُ الَّتِي يُذْكَرُ فِيهَا يُوسُفُ عَلَيْهِ السَّلَامُ. فَمَرَّ بِهَذِهِ الْآيَةِ { إِنَّمَا أَشْكُو بَثِّي وَحُزْنِي إِلَى اللَّهِ } [يوسف آية ۸٦ ] . وَكَانَ جَهِيرَ الْقِرَاءَةِ . فَبَكَى حَتَّى انْقَطَعَتْ قِرَاءَتُهُ وَحَتَّى سَمِعْتُ نَحِيبَهُ .

وَعَنِ ابْنِ عُمَرَ رَضِيَ اللهُ عَنْهُمَا : غَلَبَ عُمَرَ بْنَ الْخَطَّابِ رَضِيَ اللهُ عَنْهُ الْبُكَاءُ فِي صَلَاةِ الصُّبْحِ حَتَّى سَمِعْتُ نَحِيبَهُ مِنْ وَرَاءِ ثَلَاثَةِ صُفُوفٍ .

وَعَنِ الْحَسَنِ رَضِيَ اللهُ عَنْهُ: كَانَ عُمَرُ بْنُ الْخَطَّابِ رَضِيَ اللهُ عَنْهُ يَمُرُّ بِالْآيَةِ مِنْ وِرْدِهِ بِاللَّيْلِ فَيَبْكِي حَتَّى يَسْقُطَ وَيَبْقَى فِي الْبَيْتِ حَتَّى يُعَادَ لِلْمَرَضِ . مختصر قيام الليل وقيام رمضان وكتاب الوتر للمروزي ص ۱۴۲ بَابُ الْبُكَاءِ عِنْدَ قِرَاءَةِ الْقُرْآنِ .

وَدِدْتُ أَنِّي هٰذِهِ ، وَوَدِدْتُ أَنَّ أُمِّي لَمْ تَلِدْنِي ، وَدِدْتُ أَنِّي كُنْتُ نَسْيًا مَنْسِيًّا .

کاش ، چې زه دا ډکې وی ، کاش چې زه مور نه وې زيږولی ، کاش چې زه نَسْيًا مَنْسِيًّا (بالکل هېر) وی . (۱)

۳ . کله به يې فرمايل چې : کاش ، زه د خپل کور د خلقو ګډ وی ، بنه يې څورب کړې وی ، بيا يې يو ميلمه له ذبح کړې وی او خوړلې يې وی ، خو چې صرف انسان نه وی . (۲)

( دا خبره يې د ډيرې يَرې د وجې کوله ، ځکه انسانان به د قيامت په ورځ د الله تعالى مخې ته د حساب و کتاب د پاره پيش کيږي ، او د حيوانات نه پيش کيږي ) .

٤ . حضرت عُمر ﷺ به د الله ﷻ د يَرې دومره ژړل چې :

كَانَ فِي وَجْهِهِ خَطَّانِ أَسْوَدَانِ مِنَ الْبُكَاءِ . (۳)

د ډيرې ژړا په وجه د دوی په مخ کې دوه توري کرخې جوړې شوې وی .

---

(۱) عَنْ عَبْدِ اللهِ بْنِ عَامِرِ بْنِ رَبِيعَةَ ، قَالَ : سَمِعْتُ عُمَرَ بْنَ الْخَطَّابِ ﷺ وَأَخَذَ تِبْنَةً . فَقَالَ : وَدِدْتُ أَنِّي هٰذِهِ ، وَوَدِدْتُ أَنَّ أُمِّي لَمْ تَلِدْنِي ، وَدِدْتُ أَنِّي كُنْتُ نَسْيًا مَنْسِيًّا . الزهد لابي داؤد ج ۱ ص ۸۳ مِنْ زُهْدِ عُمَرَ رَضِيَ اللهُ عَنْهُ وَأَخْبَارِهِ . احياء علوم الدين ج ۴ ص ۱۸۳ بيان أحوال الأنبياء والملائكة عليهم الصلاة والسلام في الخوف ، نزهة الناظرين ج ۵۵۷ .

وفي رواية : عَنْ عَبْدِ اللهِ بْنِ عَامِرِ بْنِ رَبِيعَةَ قَالَ : رَأَيْتُ عُمَرَ بْنَ الْخَطَّابِ أَخَذَ تِبْنَةً مِنَ الْأَرْضِ فَقَالَ : يَا لَيْتَنِي لَمْ أَكُنْ شَيْئًا ، لَيْتَ أُمِّي لَمْ تَلِدْنِي ، لَيْتَنِي كُنْتُ نِسْيًا مَنْسِيًّا . شعب الايمان ج ۲ ص ۲۲۸ الخوف من الله تعالى

(۲) فَقَالَ عُمَرُ رَضِيَ اللهُ عَنْهُ : يَا لَيْتَنِي كُنْتُ كَبْشَ أَهْلِي سَمَّنُونِي مَا بَدَا لَهُمْ حَتَّى إِذَا كُنْتُ كَأَسْمَنِ مَا يَكُونُ زَارَهُمْ بَعْضُ مَنْ يُحِبُّونَ فَذَبَحُونِي لَهُمْ فَجَعَلُوا بَعْضِي شِوَاءً وَبَعْضَهُ قَدِيدًا ، ثُمَّ أَكَلُونِي وَلَمْ أَكُنْ بَشَرًا . شعب الايمان ج ۲ ص ۲۲۸ الخوف من الله تعالى رقم ۷۶۸ .

(۳) شعب الايمان ج ۲ ص ۲۳۹ الخوف من الله تعالى رقم ۷۸۵ .

وكان في وجه عمر رضي الله عنه خطان أسودان من الدموع . وقال رضي الله عنه من خاف الله لم يشف غيظه ومن اتقى الله لم يصنع ما يريد ولولا يوم القيامة لكان غير ما ترون . احياء علوم الدين ج ۴ ص ۱۸۴ بيان أحوال الأنبياء والملائكة عليهم الصلاة والسلام في الخوف

۵. باوجود ددینه چې حضرت عُمر رضي الله عنه جلیلُ القدر صحابي وُ ، د نبي علیه السلام سره یې ډیر جهادونه کړي وو ، خو بیا یې هم په زړه کې د الله ﷻ نه ډیره یَره وه.

کله چې په نېزه باندې زخمي کړې شو نو حضرت عبدالله بن عباس رضي الله عنهما ورته راغی او ورته وې فرمایل :

اې امیرالمؤمنین ! زیرې قبول کړه ؛ ځکه تا په هغه وخت کې اسلام راوړې وُ چې کله ډیر خلق کافران وو ، ته د رسولُ الله ﷺ سره په هغه وخت کې په جهاد کې شریک وې چې کله خلقو هغه ځان له پریخې وُ ، کله چې نبي علیه السلام وفات شو نو هغه د تا نه راضي وُ ، ستا په خلافت کې د هیچا اختلاف نه وُ ، او دا دې اوس شهید قتل کړې شوې .

حضرت عُمر رضي الله عنه اوفرمایل : ته دوباره دا خبرې اوکړه .

نو ابن عباس رضي الله عنهما دوباره همدا خبرې اوکړې . حضرت عُمر رضي الله عنه ورته اوفرمایل : دا تاسو د دُهوکې خبرې کوې (بیا یې اوفرمایل :)

لَوْ أَنَّ مَا عَلَى ظَهْرِهَا مِنْ بَيْضَاءَ وَصَفْرَاءَ لَافْتَدَيْتُ بِهِ مِنْ هَوْلِ الْمَطْلَعِ .

که چیرته د ما سره دا هر څه وی کوم چې په مخ د زمکه دي نو ما به دا د قیامت د سختیو نه د بچ کیدو په عِوض کې ورکړي وی. (۱)

---

(۱) عَنِ ابْنِ عَبَّاسٍ رضي الله عنهما ، أَنَّهُ دَخَلَ عَلَى عُمَرَ حِينَ طُعِنَ، فَقَالَ: « أَبْشِرْ يَا أَمِيرَ الْمُؤْمِنِينَ . أَسْلَمْتَ مَعَ رَسُولِ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ حِينَ كَفَرَ النَّاسُ ، وَقَاتَلْتَ مَعَ رَسُولِ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ حِينَ خَذَلَهُ النَّاسُ، وَتُوُفِّيَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وَهُوَ عَنْكَ رَاضٍ وَلَمْ يَخْتَلِفْ فِي خِلَافَتِكَ رَجُلَانِ، وَقُتِلْتَ شَهِيدًا » فَقَالَ: أَعِدْ. فَأَعَادَ فَقَالَ: « الْمَغْرُورُ مَنْ غَرَرْتُمُوهُ لَوْ أَنَّ مَا عَلَى ظَهْرِهَا مِنْ بَيْضَاءَ وَصَفْرَاءَ لَافْتَدَيْتُ بِهِ مِنْ هَوْلِ الْمَطْلَعِ » . صحیح ابن حبان كِتَابُ إِخْبَارِهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ عَنْ مَنَاقِبِ الصَّحَابَةِ ذِكْرُ رِضَا الْمُصْطَفَى صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ عَنْ عُمَرَ بْنِ الْخَطَّابِ رَضِيَ اللهُ عَنْهُ عِنْدَ فِرَاقِهِ الدُّنْيَا رقم الحدیث ۶۸۹۱ ، شعب الایمان رقم الحدیث ۲۵۳۰ ، تنبیه الغافلین ص ۲۸۹ باب ما جاء في خوف الله تعالی.

وفي روایة : عَنِ الْمِسْوَرِ بْنِ مَخْرَمَةَ: لَمَّا طُعِنَ عُمَرُ رضي الله عنه قَالَ : وَاللهِ لَوْ أَنَّ لِي طِلَاعَ الْأَرْضِ ذَهَبًا لَافْتَدَيْتُ بِهِ مِنْ عَذَابِ اللهِ مِنْ قَبْلِ أَنْ أَرَاهُ . الزهد لابي داؤد ص ۷۰ رقم الحدیث ۵۰ مِنْ زُهْدِ عُمَرَ رَضِيَ اللهُ عَنْهُ وَأَخْبَارِهِ

Scanned with CamScanner

۶. حضرت عبدالله بن عُمر رضي الله عنهما فرمايي چې ( کله حضرت عُمر رضي الله عنه په نېزه باندې اُووهل شو او د وفات کېدو وخت يې نږدې شو نو په دې وخت کې ) د حضرت عُمر رضي الله عنه سَر زما په غېږ کې وُ نو ماته يې اوفرمايل :

يَا عَبْدَ اللهِ ! ضَعْ رَأْسِي بِالْأَرْضِ . اې عبدالله ! زما سَر په زمکه باندې کېږده .

نو ما خپل څادر راغونډ کړو او دده د سَر لاندې مې کېښود ، هغوی راته دوباره ووېل :

ضَعْ رَأْسِي بِالْأَرْضِ لَا أُمَّ لَكَ .

بې مُوره شی ، زما سَر په زمکه کېږده .

بيا يې اوفرمايل : وَيْلُ عُمَرَ وَوَيْلُ أُمِّهِ إِنْ لَمْ يَغْفِرِ اللهُ لَهُ .

افسوس دی عُمرٌ لره ، او آفسوس دی دده مور لره که چېرته الله تعالى دده بخنه اونکړي . (۱)

## ۷. معافي غوښتل :

يو ځل حضرت عُمر رضي الله عنه ته يو کس راغی او وې وېل : اې اميرالمؤمنين ! فلاني سړي په ما باندې ظلم کړی ته د ماسره لاړشه او زما بدله واخله .

حضرت عُمر رضي الله عنه هغه په دُرّه (کوړه) باندې اووهل او ورته وې وېل :

کله چې زه د همدې کار د پاره ناست يم نو تاسو نه راځئ خو چې په يو بل کار کې مشغول

---

(۱) عَنِ ابْنِ عُمَرَ رَضِيَ اللهُ عَنْهُمَا ، قَالَ : كَانَ رَأْسُ عُمَرَ رضي الله عنه فِي حِجْرِي . فَقَالَ : يَا عَبْدَ اللهِ ! ضَعْ رَأْسِي بِالْأَرْضِ . قَالَ : فَجَمَعْتُ رِدَائِي فَوَضَعْتُهُ تَحْتَ رَأْسِهِ . فَقَالَ : ضَعْ رَأْسِي بِالْأَرْضِ لَا أُمَّ لَكَ . ثُمَّ قَالَ : وَيْلُ عُمَرَ وَوَيْلُ أُمِّهِ إِنْ لَمْ يَغْفِرِ اللهُ لَهُ . الزهد لابي داؤد ص ٦٦ رقم الحديث ٣٦ مِنْ زُهْدِ عُمَرَ رَضِيَ اللهُ عَنْهُ وَأَخْبَارِهِ .

وفي رواية : قَالَ عُثْمَانُ رضي الله عنه : أَنَا آخِرُكُمْ عَهْدًا بِعُمَرَ رضي الله عنه . دَخَلْتُ عَلَيْهِ وَرَأْسُهُ فِي حِجْرِ ابْنِهِ عَبْدِ اللهِ بْنِ عُمَرَ . فَقَالَ لَهُ : ضَعْ خَدِّي بِالْأَرْضِ . فَقَالَ : هَلْ فَخِذِي وَالْأَرْضُ إِلَّا سَوَاءٌ ؟ قَالَ : ضَعْ خَدِّي بِالْأَرْضِ لَا أُمَّ لَكَ فِي الثَّانِيَةِ أَوِ الثَّالِثَةِ ثُمَّ شَبَّكَ بَيْنَ رِجْلَيْهِ فَسَمِعْتُهُ يَقُولُ : وَيْلِي وَوَيْلُ لِأُمِّي إِنْ لَمْ يَغْفِرِ اللهُ لِي حَتَّى فَاضَتْ نَفْسُهُ . الزهد لابي داؤد ص ٦٣ رقم الحديث ٣٣ مِنْ زُهْدِ عُمَرَ رَضِيَ اللهُ عَنْهُ وَأَخْبَارِهِ .

Scanned with CamScanner

شم نو بیا راشی. او دا وایی چې زما بدل واخله.

هغه سړی لاړ، ډیر غصه ؤ. حضرت عُمر ﷺ اوفرمایل: هغه کس ماله دوباره راولئ.

کله چې هغه راغی نو حضرت عُمر ﷺ ورته هغه دُرّه وَر اُوغورځوله او ورته وې ویل: ته د مانه خپل بدل واخله. هغه وویل: زه خپل بدل نه اخلم .... آخر هغه کس حضرت عُمر ﷺ ته معافي اوکړه.

بیا حضرت عُمر ﷺ د هغه سره لاړ، کله چې واپس راغی او کور ته ننوت نو دوه رکعته مونځ یې اوکړو، بیا کیناست او خپل ځان ته مخاطب شو، دا یې وویل:

اې عمربن الخطاب! ته ډیر کمزورې وی نو الله تعالی ستا مرتبه اوچته کړه، ته بې لارې وی نو الله تعالی درته هدایت اوکړو، ته ذلیل وی نو الله تعالی درته عزت درکړو، بیا یې د خلقو امیرالمؤمنین جوړ کړی اوس چې کله تاته یو کس راغی او د خپل بدل اخیستلو د پاره یې درته وویل نو تا هغه اووهل: مَاتَقُوْلُ لِرَبِّكَ غَدًا إِذَا أَتَيْتَهُ؟

صبا چې د قیامت په ورځ ته د خپل رب سره ملاؤ شې نو څه جواب به ورکوې؟

نو حضرت عُمر ﷺ مسلسل همداسې خپل ځان ملامته کول. (۱)

فائده: معلومه شوه چې د حضرت عُمر ﷺ په زړه کې د الله تعالی د وړاندې د پیش کیدو او حساب و کتاب نه ډیره یَره وه.

---

(۱) دا واقعه په أسدُ الغابة کې داسې ذکر ده: قَالَ الْأَحْنَفُ: كُنْتُ مَعَ عُمَرَ بْنِ الْخَطَّابِ ﷺ، فَلَقِيَهُ رَجُلٌ، فَقَالَ: يَا أَمِيْرَ الْمُؤْمِنِيْنَ! اِنْطَلِقْ مَعِي فَأَعِدْنِي عَلَى فُلَانٍ، فَإِنَّهُ قَدْ ظَلَمَنِي. قَالَ: فَرَفَعَ الدِّرَّةَ فَخَفَقَ بِهَا رَأْسَهُ، فَقَالَ: تَدْعُوْنَ أَمِيْرَ الْمُؤْمِنِيْنَ وَهُوَ مُعْرِضٌ لَكُمْ، حَتَّى إِذَا شُغِلَ فِي أَمْرٍ مِنْ أُمُوْرِ الْمُسْلِمِيْنَ أَتَيْتُمُوْهُ: أَعِدْنِي أَعِدْنِي! قَالَ: فَانْصَرَفَ الرَّجُلُ وَهُوَ يَتَذَمَّرُ. قَالَ: عَلَيَّ الرَّجُلَ، فَأَلْقَى إِلَيْهِ الْمِخْفَقَةَ، وَقَالَ: اِمْتَثِلْ. فَقَالَ: لَا وَاللهِ، وَلٰكِنْ أَدَعُهَا لِلّٰهِ وَلَكَ. قَالَ: لَيْسَ هٰكَذَا، إِمَّا أَنْ تَدَعَهَا لِلّٰهِ إِرَادَةَ مَا عِنْدَهُ أَوْ تَدَعَهَا لِي، فَأَعْلَمُ ذٰلِكَ. قَالَ: أَدَعُهَا لِلّٰهِ. قَالَ: فَانْصَرَفَ. ثُمَّ جَاءَ يَمْشِي حَتَّى دَخَلَ مَنْزِلَهُ وَنَحْنُ مَعَهُ، فَصَلَّى رَكْعَتَيْنِ وَجَلَسَ، فَقَالَ: يَا ابْنَ الْخَطَّابِ، كُنْتَ وَضِيْعًا فَرَفَعَكَ اللهُ، وَكُنْتَ ضَالًّا فَهَدَاكَ اللهُ، وَكُنْتَ ذَلِيْلًا فَأَعَزَّكَ اللهُ، ثُمَّ حَمَلَكَ عَلَى رِقَابِ النَّاسِ، فَجَاءَكَ رَجُلٌ يَسْتَعْدِيْكَ فَضَرَبْتَهُ، مَا تَقُوْلُ لِرَبِّكَ غَدًا إِذَا أَتَيْتَهُ؟ قَالَ: فَجَعَلَ يُعَاتِبُ نَفْسَهُ فِي ذٰلِكَ مُعَاتَبَةً حَتَّى ظَنَنَّا أَنَّهُ خَيْرُ أَهْلِ الْأَرْضِ. أسد الغابة في معرفة الصحابة ج ۲ ص ۱۳۷ عمر بن الخطاب زهده وتواضعه رضي الله عنه

۸ . په يوه موقع باندې يې اوفرمايل : که د قيامت په ورځ د حساب و کتاب نه پس زه برابر برابر خلاص شم يعنی نه را باندې گناه وي او نه ثواب بلکه اَعراف ته اُوليږلې شم ( کوم چې د جنت او جهنم په مينځ کې دی او هغه خلق به په کې وي چې د هغوی نيکي او بدي برابر وي ) نو دا هم زما د پاره کافي ده . (۱)

## ۹ . پخپله د شپې يتيمانو له خوراک اوړل

علامه ابن اَثير رَحِمَهُ اللّٰه په خپل کتاب " اُسُدُ الغَابة " کې ، علامه ابن عساکر رَحِمَهُ اللّٰه په خپل کتاب " تاريخ دمشق " او نورو مُعتَمدو علماؤ دا واقعه رانقل کړی :

د حضرت عُمر ﷺ غلام " اسلم " فرمايي چې يوه ورځ اميرالمؤمنين حضرت عُمر ﷺ د شپې گرځيدو ( د دې د پاره د خپل رَعيت د حالاتو نه ځان خبر کړي ) نو په يو ځای کې په يو کور کې (بُودی) زَنانه ناسته وه او گېرچاپيره ورنه ماشومان بچي ناست وو ، دې ماشومانو ژړل ، دې زَنانه په دې اور باندې يوه کټوَی (دېگې) ايخې وه ، په هغې کې يې اُوبه اچولې وی او چمچه يې په کې وهله .

حضرت عُمر ﷺ دروازې ته ورنزدې شو او د دې زَنانه نه يې پوښتنه اوکړه :

دا ماشومان ولې ژاړي ؟

هغې ورته وويل : د اُولږې نه ژاړي . ده ورنه پوښتنه اوکړه :

په دې اور باندې چې دا کټوَی ايخې ده په دې کې څه دي ؟ هغې وويل :

ما په دې کې اُوبه اچولې دي او چمچ په کې وَهم ، ماشومانو ته صرف په ذِهن کې دا اچوم چې گني په دې کټوَی کې اوره او غوړي دي (اوس پَخېږي) نو په دې طريقه به څه وخت مشغول وي بيا به اُوده شي . (ځکه د مونږ سره د خوراک هيڅ څيز نشته چې دې

---

(۱) هكذا في مكاشفة القلوب باب ۵۲ .
وفي رواية : عَنِ ابْنِ عَبَّاسٍ رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُمَا : أَنَّهُ دَخَلَ عَلَى عُمَرَ ﷺ وَبَيْنَ يَدَيْهِ مَالٌ. فَنَشَجَ حَتَّى اخْتَلَفَتْ أَضْلَاعُهُ ثُمَّ قَالَ: « وَدِدْتُ أَنِّي أَنْجُو مِنْهُ كَفَافًا لَا لِي، وَلَا عَلَيَّ » . الرقة والبكاء لابن ابي الدنيا ج۱ ص ۲۷۶ رقم ۳۱۹ جامع من أخبار البكائين .

ماشومانو له يې پُوخ کړم).

حضرت عُمر ﷺ چې دا خبرې واورېدې نو (د دېر خفګان نه) کيناست، ډېر يې اوژړل بيا بيتُ المال ته راغى، يوه غټه بُوجۍ يې راواخيسته په دې کې يې اوړه، غوړي، وازګه، قجورې، کپړې، او درهم واچول، ترڅو چې دا بُوجۍ يې ډکه کړه، بيا يې خپل غلام "اسلم" ته وويل: اې اسلم! دا ماته راپورته کړه (چې په شا باندې يې ويسم).

اسلم وايي چې ما ورته وويل: اې اميرالمؤمنين! دا به زه ستا په ځاى باندې ويسم.

نو ماته يې وويل: نه، دا زه پخپله وړم.

لِأَنِّيْ أَنَا الْمَسْئُوْلُ عَنْهُمْ فِي الْآخِرَةِ.

ځکه د قيامت په ورځ به د دوى تپوس د مانه کيږي.

(مقصد يې دا وُ چې که ته نن دا بُوج پورته کړې نو د قيامت د ورځې بُوج به څوک اوچتوي؟).

نو حضرت عُمر ﷺ دا بوجۍ په خپل څټ باندې کيښوده او رارَوان شو ترڅو چې د هغه زَنانه کورته رااورسيد، بيا يې پخپله کټوَى راواخيسته، په هغې کې يې څه اوړه، وازګه او قجورې واچولې، پخپله يې اور بَل کړو، په خپل لاس باندې يې په کټوَى کې چمچ وَهله، او د کټوى لاندې اور ته يې پخپله پُوکي هم ورکول.

اسلم فرمايي چې د حضرت عُمر ﷺ ږيره چونکه ګڼره وه نو ما اُوليد چې د اور لوګي به د دوى د ږيرې د مينځ نه راوتل (ځکه اور په آسانه نه لږېدو نو ده به مسلسل پُوکي ورکول)، ترڅو پورې چې ماشومانو له يې خوراک پُوخ کړو.

بيا حضرت عُمر ﷺ په خپل لاس باندې خوراک راخيستو او ماشومانو ته يې ورکول، ترڅو چې هغوى په خوراک ماړه شو.

بيا حضرت عُمر ﷺ د ماشومانو خوشحالولو د پاره د حيوانانو په شان داسې څه حرکات اوکړل چې په هغې سره ماشومان خوشحال شو او وې خَندل.

بيا يې د مانه پوښتنه اوکړه: اې اسلم! ته پوهيږې چې ما ددې ماشومانو سره دا لوبې ولې اوکړې؟ ما ورته وويل: اې اميرالمؤمنين! ماته پته نشته. نو راته وې ويل:

ما دوی په ژړا باندې ليدلي وو ، نو ما دا نه خوښول چې زه ورنه لاړ شم او همداسې يې پريږدم ، بلکه زما زړه غوښتل چې دوی په خندا باندې اُوګورم ( نو ځکه مې ورسره لوبې اوکړې چې دوی اُوخاندي ) .

فَلَمَّا ضَحِكُوا طَابَتْ نَفْسِيْ . پس هر کله دوی اُوخندل نو زما زړه ښه شو . (۱)

( بيا حضرت عُمر ﷺ د دوی د پاره د بيتُ المال نه وظيفه مقرر کړه )

په ځنې کتابونو کې ددې واقعې سره دا هم شته چې کله حضرت عُمر ﷺ اُوړته پُوکې ورکول او لوګې يې د ګيرې نه راوتلو نو پدې وخت کې يې د ځان سره پټ ويل : اې عُمر ! ته به د قيامت په ورځ الله ﷻ ته څه جواب ورکوې ؟

دې بُودۍ زَنانه خو دا نه پيژندلو چې ګني دا حضرت عُمر ﷺ دی ، نو دې وويل : خلقو غلطي کړې چې اميرالمؤمنين يې حضرت عُمر ﷺ جوړ کړې دی حالانکه هغه ددې مستحق ندی ځکه هغه ته دا پته هم نشته چې د هغه په رعيت کې په چا باندې اُولږه ده ،

---

(۱) عَنْ أسلم، أَنّ عُمَرَ بْن الخطاب ﷺ طاف ليلة، فإذا هُوَ بامرأة فِي جوف دار لها وحولها صبيان يبكون، وَإِذا قدر عَلَى النار قَدْ ملأتها ماء، فدنا عُمَر بْن الخطاب من الباب، فَقَالَ: يَا أَمَةَ اللهِ ! أيش بكاء هَؤُلَاءِ الصبيان؟ فقالت: بكاؤهم من الجوع، قَالَ: فما هَذِهِ القدر التي عَلَى النار؟ فقالت: قَدْ جعلت فيها ماء أعللهم بها حَتَّى يناموا أوهمهم أَنّ فيها شيئًا من دقيق وسمن . فجلس عُمَر فبكى، ثُمَّ جاء إِلَى دار الصدقة فأخذ غرارة ، وجعل فيها شيئًا من دقيق وسمن وشحم وتمر وثياب ودراهم، حَتَّى ملأ الغرارة، ثُمَّ قَالَ: يا أسلم، احمل عليّ، فقلت: يا أمير المؤمنين ! أَنَا أحمله عنك . فَقَالَ لِي: لَا أُمَّ لَكَ يَا أَسْلَمُ، أَنَا أَحْمِلُهُ لِأَنِّي أَنَا الْمَسْئُوْلُ عَنْهُمْ فِي الْآخِرَةِ . قَالَ: فحمله عَلَى عنقه، حَتَّى أتي بِهِ منزل المرأة، قَالَ: وأخذ القدر، فجعل فيها شيئًا من دقيق وشيئًا من شحم وتمر، وجعل يحركه بيده وينفخ تحت القدر، قَالَ أسلم: وكانت لحيته عظيمة، فرأيت الدخان يخرج من خلل لحيته، حَتَّى طبخ لهم، ثُمَّ جعل يغرف بيده ويطعمهم حَتَّى شبعوا، ثُمَّ خرج وربض بحذائهم كأنه سبع، وخفت مِنْهُ أن أكلمه، فلم يزل كذلك حَتَّى لعبوا وضحكوا، ثُمَّ قَالَ: يا أسلم ! أتدري لم ربضت بحذائهم؟ قلت: لا، يا أمير المؤمنين ! قَالَ: رأيتهم يبكون، فكرهت أن أذهب وأدعهم حَتَّى أراهم يضحكون، فلما ضحكوا طابت نفسي . اسد الغابة ج ۴ ص ۱۳۷ عمر بن الخطاب فضائله رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ ، تاريخ دمشق لابن عساكر ج ۴۴ ص ۳۵۲ عمر بن الخطاب . الرياض النضرة في مناقب العشرة ج ۲ ص ۳۸۵ الباب الثاني: في مناقب امير المؤمنين ابي حفص عمر بن الخطاب رضي الله عنه الفصل التاسع: في ذكر نبذة من فضائله رضي الله تعالى عنه .

بلکه د امیرالمؤمنین کیدو د پاره ته مستحق وې . (۱)

سبحان الله ، حضرت عُمر ﷺ هغه عظیم شخصیت ؤ چې د هغه نوم آوریدو سره د دُنیا غټ غټ بادشاهان لړزیدل لیکن په زړه کې یې د الله ﷻ نه دومره یَره وه چې د شپې یې پخپله یتیمانو له خوراک راوړو ، بیا یې ورله پخپله پوخ کړو او وریاندې وې خوړو . دا ځکه چې د قیامت په ورځ د الله ﷻ د وړاندې د جواب ورکولو نه یریدو .

## ۹ . د سَرکاري اُوښانو پیداکولو د پاره پخپله په سختې ګرمۍ کې وتل

یو ځل یو څو سَرکاري اُوښان ورک شوي وو ، دا د غرمې وخت ؤ ، سخته ګرمي وه ( او د عربو ګرمي خو هم ډیره مشهوره ده ) نو حضرت عُمر ﷺ پخپله په دې غرمه کې د اُوښانو پیدا کولو د پاره وړیسې اُووت ( حالانکه په دې وخت کې دا امیرالمؤمنین ؤ ) ، د ډیر تالاش نه پس یې اُوښان راپیدا کړل ، واپس یې راروان کړي وو ، د ډیرې ګرمې په وجه یې مخ ډیر سُور شوې ؤ ، ټول بدن یې په خوَلو لوند ؤ ، په لاره کې حضرت علي ﷺ ورسره ملاؤ شو ، حضرتِ علي ﷺ چې حضرت عمر ﷺ په دې حالت کې اُوکتلو نو ورته وې ویل :

اې امیرالمؤمنین ! نور خلق به دې د اُوښانو پیدا کولو پسې لیږلي وو تاسو پخپله ولې دومره تکلیف برداشت کړو ؟

ده ورته وویل : اې علي ! د قیامت په ورځ به الله تعالی د مانه دا پوښتنه کوي چې تا ولې دومره غفلت کړې ؤ چې سرکاري اُوښان ورک شو ؟ ددې تپوس به د نورو خلقو نه نه کیږي ( نو ځکه زه وړیسې پخپله اُووتم ) .

حضرت علي ﷺ ورته اوفرمایل : اې امیرالمؤمنین ! تاسو کامیاب شوی .

چونکه د حضرت عمر ﷺ په زړه کې د آخرت دومره یَره وه چې وې فرمایل :

اې علي ! که د قیامت په ورځ ماته د نېکیو اجر هم ملاؤ نشي او د ګناهونو په وجه زما ګرفت اونشي نو زه په دې هم راضي یم .

---

(۱) خطبات طیب .

# د حضرت عثمان ﷺ د الله ﷻ نه یَره

حضرت عثمان جلیلُ القدر صحابي وُ ، په ډیرو جهادونو کې یې شِرکت او مالي مرسته کړی ، نبي علیه السلام ورته په دُنیا کې د جنت زیرې ورکړې وُ ، د مسلمانانو دریم خلیفه وُ ، دده په دورِ حکومت کې شام ، مِصر ، عراق ، ایران او نور ډیر ملکونه په اسلامي حکومت کې شامل شوي وو ، خو بیا یې هم په زړه کې د الله ﷻ او قیامت د ورځې د عذاب نه ډیره یَره وه .

## ۱ . د قبر په لیدلو ډیر ژړل

په احادیثو کې راځي : كَانَ عُثْمَانُ ﷺ ، إِذَا وَقَفَ عَلَى قَبْرٍ بَكَى حَتَّى يَبُلَّ لِحْيَتَهُ . (۱)

حضرت عثمان ﷺ به چې کله د یو قبر سره نزدې اودرید نو دومره به یې اوژړل چې خپله ګیره مبارکه به یې د أوښکو نه لمده کړه .

## ۲ . خپل غلام ته د بدل اخیستلو حُکم کول

یو ځل حضرت عثمان ﷺ په څه خبره باندې خپل غلام ته غصه شو او په غصه کې یې د

---

(۱) پوره حدیث داسې دی : كَانَ عُثْمَانُ ﷺ ، إِذَا وَقَفَ عَلَى قَبْرٍ بَكَى حَتَّى يَبُلَّ لِحْيَتَهُ . فَقِيلَ لَهُ: تُذْكَرُ الْجَنَّةُ وَالنَّارُ فَلَا تَبْكِي وَتَبْكِي مِنْ هٰذَا؟ فَقَالَ : إِنَّ رَسُولَ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ: إِنَّ الْقَبْرَ أَوَّلُ مَنْزِلٍ مِنْ مَنَازِلِ الْآخِرَةِ فَإِنْ نَجَا مِنْهُ فَمَا بَعْدَهُ أَيْسَرُ مِنْهُ ، وَإِنْ لَمْ يَنْجُ مِنْهُ فَمَا بَعْدَهُ أَشَدُّ مِنْهُ. قَالَ: وَقَالَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: مَا رَأَيْتُ مَنْظَرًا قَطُّ إِلَّا وَالْقَبْرُ أَفْظَعُ مِنْهُ. سنن الترمذي أَبْوَابُ الزُّهْدِ عَنْ رَسُولِ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ بَابُ مَا جَاءَ فِي ذِكْرِ الْمَوْتِ رقم الحديث ۲۳۰۸ ، سنن ابن ماجة كِتَابُ الزُّهْدِ بَابُ ذِكْرِ الْقَبْرِ وَالْبِلَى رقم الحديث ۴۲۶۷

حضرت عثمان ﷺ به چې کله د یو قبر سره نزدې اودرید نو دومره به یې اوژړل چې خپله ګیره مبارکه به یې د أوښکو نه لمده کړه . ، دده نه پوښتنه اوشوه : ( دا څه وجه ده چې ) ته جنت او جهنم یادوی نو نه ژاړی خو ددې قبر ( د لیدلو ) د وجې ډیر ژاړی ؟ ده ورته ووئیل : نبي کریم صلی الله علیه وسلم فرمایلي : بیشکه قبر د آخرت د منازلو نه اولني منزل دی که چیرته انسان ددینه نجات أوموند نو راتلونکي منزلونه ددینه ډیر آسان دي ، او که د قبر د منزل نه بنده نجات أو نه موند نو ددینه پس راتلونکي منزلونه ددینه هم سخت او مشکل دي . حضرت عثمان ﷺ اوفرمایل چې نبي کریم صلی الله علیه وسلم دا هم فرمایلي ، ما د قبر نه علاوه بل هیڅ منزل دومره سخت او خوفناک نه دې لیدلی څومره چې قبر سخت او خوفناک دی .

هغه غوږونه تاو کړل، خو فوراً یې غلام ته وویل:

سا نه غلطي اوشوه ته هم زما غوږونه تاؤ کړه چې بدل دې پوره شي.

خو غلام خپل بدل وا نه خیست، ده بار بار ورته همدا ویل، آخر غلام معمولي طریقې سره لاس دده غوږونو سره اولږول.

ده ورته وویل: داسې نه، بلکه په پوره زور سره زما غوږونه تاؤ کړه.

بیا یې اوفرمایل: په دُنیا کې بدله ورکول ښه دي خو په آخرت کې ښه ندي.(١)

## ٣. د الله ﷻ د وړاندې پیش کېدو نه یره

حضرت عثمان رضي الله عنه به کله د ډیرې یرې د وجې اوفرمایل:

وَدِدْتُ أَنِّي إِذَا مِتُّ لَمْ أُبْعَثْ.(٢)

زما دا خوښه ده چې کله وفات شم دوباره راپا نه څولې شم.

## د حضرت علي رضي الله عنه د الله ﷻ نه یره

حضرت علي رضي الله عنه څلورم خلیفه وو، نبي علیه السلام ورته په دُنیا کې د جنت زیرې کړې وو خو بیا هم د الله تعالی د عذاب او د آخرت د حساب و کتاب نه ډیر یریدو:

١. د حضرت علي رضي الله عنه متعلق نقل دي چې کله به د مانځه وخت راغی نو دده بدن به ولړزیدو شو، او رنګ به یې مُتغیّر (بدل) شو. دده نه ددې متعلق پوښتنه اوشوه، نو ده ورته وویل:

جَاءَ وَقْتُ الْأَمَانَةِ الَّتِي عَرَضَهَا اللهُ عَلَى السَّمٰوَاتِ وَالْأَرْضِ وَالْجِبَالِ فَأَبَيْنَ أَنْ يَحْمِلْنَهَا، وَأَشْفَقْنَ مِنْهَا وَحَمَلَهَا الْإِنْسَانُ. فَلَا أَدْرِيْ أَأُحْسِنُ أَدَاءَ مَا حَمَلْتُ أَمْ لَا؟

د هغې امانت اداء کولو وخت راغی چې کوم الله تعالی په زمکې او غرونو باندې پیش کړو نو دوی ددې د اوچتولو نه اِنکار اوکړو، او ددې نه اویریدل، دا امانت انسان اوچت

---

(١) مشاهیر اسلام ج ٢ ص ٧٤٩. خلفاے راشدین.

(٢) قال عثمان رضي الله عنه: وددت إني إذا مت لم أبعث. احیاء علوم الدین ج ٤ ص ١٨٣ بیان احوال الأنبیاء والملائکة علیهم الصلاة والسلام في الخوف.

( او قبول ) كړو . لهذا ماته نده معلومه چې ما كوم امانت اوچت كړى آيا زه به دا په ښه طريقې سره ادا كړې شم يا نه؟ .(۱)

۲. حضرت علي ﷺ به فرمايل :

.... فَإِنَّ الْيَوْمَ عَمَلٌ وَلَا حِسَابَ، وَغَدًا حِسَابٌ وَلَا عَمَلَ . (۲)

نن ورځ ( په دُنيا كې ) عمل شته خو حساب نشته، او صبا ( د قيامت په ورځ ) به حساب وي عمل به نه وي.

۳. حضرت علي ﷺ به فرمايل :

إِذَا بَكَى أَحَدُكُمْ مِنْ خَشْيَةِ اللهِ فَلَا يَمْسَحْ دُمُوعَهُ بِثَوْبِهِ وَلْيَدَعْهَا تَسِيلُ عَلَى خَدَّيْهِ يَلْقَى اللهَ عَزَّ وَجَلَّ بِهَا . (۳)

كله چې په تاسو كې يو كس د الله ﷻ د يرې اوښكې نو هغه دې په خپلو كپړو باندې دا اوښكې نه صفا كوي بلكه دا دې پريږدي چې دده په آننګو (مخ) باندې اوبهيږي نو د الله تعالى سره به په دې حالت كې ملاقات اوكړي.

---

(۱) وَرُوِيَ عَنْ عَلِيِّ بْنِ أَبِي طَالِبٍ كَرَّمَ اللهُ وَجْهَهُ . أَنَّهُ كَانَ إِذَا حَضَرَ وَقْتُ الصَّلَاةِ . ارْتَعَدَتْ فَرَائِصُهُ ، وَتَغَيَّرَ لَوْنُهُ فَسُئِلَ عَنْ ذٰلِكَ فَقَالَ : جَاءَ وَقْتُ الْأَمَانَةِ الَّتِي عَرَضَهَا اللهُ عَلَى السَّمٰوَاتِ وَالْأَرْضِ وَالْجِبَالِ ، فَأَبَيْنَ أَنْ يَحْمِلْنَهَا ، وَأَشْفَقْنَ مِنْهَا ، وَحَمَلَهَا الْإِنْسَانُ ، فَلَا أَدْرِي أَأُحْسِنُ أَدَاءَ مَا حَمَلْتُ أَمْ لَا ؟ . تنبيه الغافلين باحاديث سيد الأنبياء والمرسلين للسمرقندي باب: إِتْمَامُ الصَّلَاةِ وَالْخُشُوعُ فِيهَا ص ۵۳۹ طبع دار ابن كثير، دمشق بيروت . مكاشفة القلوب باب ۱۴.

(۲) وَكَانَ عَلِيُّ بْنُ أَبِي طَالِبٍ رَضِيَ اللهُ عَنْهُ يَقُولُ : إِنَّ الدُّنْيَا قَدِ ارْتَحَلَتْ مُدْبِرَةً . وَإِنَّ الْآخِرَةَ قَدِ ارْتَحَلَتْ مُقْبِلَةً . وَلِكُلٍّ مِنْهُمَا بَنُونَ . فَكُونُوا مِنْ أَبْنَاءِ الْآخِرَةِ، وَلَا تَكُونُوا مِنْ أَبْنَاءِ الدُّنْيَا، فَإِنَّ الْيَوْمَ عَمَلٌ وَلَا حِسَابَ، وَغَدًا حِسَابٌ وَلَا عَمَلَ. جامع العلوم والحكم لابن رجب الحنبلي ج۲ ص ۳۷۸ الحديث الأربعون

(۳) شعب الايمان رقم الحديث ۷۸۷ الخوف من الله تعالى.

وفي رواية : عَنْ عَلِيِّ بْنِ أَبِي طَالِبٍ رَضِيَ اللهُ عَنْهُ قَالَ: إِذَا دَمَعَتْ عَيْنَاكَ، وَسَالَتْ دُمُوعُكَ عَلَى خَدَّيْكَ فَلَا تَكُفَّهَا بِثَوْبِكَ، وَامْسَحْ بِهَا وَجْهَكَ حَتَّى تَلْقَى اللهَ بِهَا . شعب الايمان رقم الحديث ۷۸۶ الخوف من الله تعالى

٤. **په بیتُ المال کې احتیاط** : کله چې حضرت علي رضي الله عنه امیرالمؤمنین وُ نو یو ځل ده ته د یمن نه د شهدو ډک مشکونه راغلل، تر او سه یې په مسلمانانو کې تقسیم کړي نه وو، په دې وخت د حضرت علي رضي الله عنه د ځوي څه مېلمانه راغلل، روټۍ ورسره وه خو تَلکاري ورسره نه وه، نو دې ځوي یې د حضرت علي رضي الله عنه غلام ته خبره اوکړه او د یو مشک نه یې څه شهد راواخیست.

بیا کله چې حضرت علي رضي الله عنه شهد تقسیمول شروع کړل نو ورته معلومه شوه چې زما ځوي د یو مشک نه لږ شهد د تقسیم نه مخکې اخیستي دي، نو ډیر خفه شو، او ځوي ته یې وویل:

تا ته دا حق چا درکړي وُ چې د تقسیم نه مخکې شهد واخله؟

هغه ورته وویل: زما خیال وُ چې کله ما ته د شهدو خپله حصه ملاوُ شي نو زه به بیا هماغومره مقدار بیت المال ته واپس کړم.

حضرت علي رضي الله عنه ورته اوفرمایل:

تا ته آخر دا حق چا درکړي وُ چې د تقسیم نه مخکې دې د خپل حق نه فائده اخیستې؟.

سبحان الله، دا د حضرت علي رضي الله عنه د الله ﷻ نه یَره او کمالِ احتیاط وُ.

## د حضرت عبدالله بن مسعود رضي الله عنه د الله ﷻ نه یَره

حضرت عبدالله بن مسعود رضي الله عنه به فرمایل: وَدِدْتُ أَنِّي إِذَا مِتُّ لَمْ أُبْعَثْ. (۱)

زما دا خوښه ده چې کله وفات شم دوباره راژوندي نه شم.

## د حضرت ابوذر رضي الله عنه د الله ﷻ نه یَره

د حضرت ابوذر رضي الله عنه په زړه کې د الله تعالی نه دومره یره وه چې فرمایل به یې:

(۱) عَنْ مَالِكِ بْنِ مِغْوَلٍ، قَالَ: كُنَّا جُلُوسًا مَعَ القَاسِمِ بْنِ عَبْدِ الرَّحْمَنِ، فَقَالَ رَجُلٌ وَأَشَارَ إِلَى القَاسِمِ، قَالَ: قَالَ عَبْدُ اللهِ (بن مسعود رضي الله عنه): «وَدِدْتُ أَنِّي إِذَا مِتُّ لَمْ أُبْعَثْ» فَقَالَ القَاسِمُ بِرَأْسِهِ هَكَذَا، أَيْ نَعَمْ. مصنف ابن ابي شيبة رقم الحديث ۳۴۵۳۹ كِتَابُ الزُّهْدِ كَلَامُ ابْنِ مَسْعُودٍ رَضِيَ اللهُ عَنْهُ.

وَاللهِ لَوَدِدْتُ أَنِّي شَجَرَةٌ تُعْضَدُ . (۱)

قسَم په الله ، زما دا خوَښه ده چې زه يوه اُونه وی او پرېکړې شوې وی.

## د حضرت عائشې رَضِيَ اللهُ عَنْهَا د الله ﷻ نه يره

حضرت عائشې رَضِيَ اللهُ عَنْهَا به فرمايل: وَدِدْتُ أَنِّي إِذَا مِتُّ كُنْتُ نَسْيًا مَنْسِيًّا . (۲)

زما دا خوَښه ده چې کله وفات شم نو نَسْيًا مَنْسِيًّا اوګرځم. (يعنی دَ خلقو نه بالکل هېره شم).

## د حضرت ابودِرداء رضی الله عنه د الله ﷻ نه يَره

حضرت ابودرداء رضی الله عنه به فرمايل:

يَا لَيْتَنِي كُنْتُ شَجَرَةً تُعْضَدُ وَتُؤْكَلُ ثَمَرَتِي وَلَمْ أَكُنْ بَشَرًا . (۳)

کاش، چې زه يوه اُونه وی ، پرېکړې شوې وی، او زما ميوه خوړل شوې وی خو چې انسان نه وې پيدا شوی.

## د حضرت ابو عُبَيده بن جَرّاح رضی الله عنه د الله ﷻ نه يَره

حضرت ابو عُبَيده بن جَرّاح رضی الله عنه به فرمايل:

(۱) مسند احمد مخرجا رقم الحديث ۲۱۵۱۶ ، سنن الترمذي أَبْوَابُ الزُّهْدِ بَابٌ فِي قَوْلِ النَّبِيِّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: لَوْ تَعْلَمُونَ مَا أَعْلَمُ لَضَحِكْتُمْ قَلِيلًا رقم الحديث ۲۳۱۲ ، سنن ابن ماجة رقم الحديث ۴۱۹۰ ، المستدرک على الصحيحين للحاكم تَفْسِيرُ سُورَةِ هَلْ أَتَى عَلَى الْإِنْسَانِ رقم الحديث ۳۸۸۳ وقال الحاكم: هَذَا حَدِيثٌ صَحِيحُ الْإِسْنَادِ وَلَمْ يُخَرِّجَاهُ. و وافقه الذهبي

وفي رواية: قَالَ أَبُو ذَرٍّ رضی الله عنه : يَا لَيْتَنِي كُنْتُ شَجَرَةً تُعْضَدُ . شعب الايمان رقم الحديث ۷۶۴ الخوف من الله تعالى. مشكاة المصابيح باب البكاء والخوف الفصل الثاني رقم الحديث ۵۳۴۷(۹) .

(۲) مصنف ابن ابي شيبة رقم الحديث ۳۴۷۳۵ كِتَابُ الزُّهْدِ كَلَامُ عَائِشَةَ رَضِيَ اللهُ عَنْهَا. الزهد لوكيع بن الجراح ج ۱ ص ۲۹۴ رقم ۱۶۰ بَابُ مَنْ قَالَ: يَا لَيْتَنِي لَمْ أُخْلَقْ . الزهد لاحمد بن حنبل ج ۱ ص ۱۳۶ رقم ۹۱۲. احياء علوم الدين ج ۴ ص ۱۸۳ .

(۳) شعب الايمان رقم الحديث ۷۶۸ الخوف من الله تعالى.

Scanned with CamScanner

لَوَدِدْتُ أَنِّي كُنْتُ كَبْشًا فَيَذْبَحُنِي أَهْلِي فَيَأْكُلُونَ لَحْمِي وَيَشْرَبُونَ مَرَقِي. (۱)

زما دا خوښه ده چې زه ګډ وی ، د خپل کور خلق ما ذبح کړي ، زما غوښه اُوخوري ، او زما څورو ا (شوربا) اُوڅکي.

## د حضرت عبدالله بن عباس رضي الله عنهما د الله ﷻ نه يَره

د حضرت عبدالله بن عباس رضي الله عنهما په زړه کې د الله تعالى نه ډيره يَره وه ، دومره ډير به يې ژړل چې د سترګو نه دا وښکو تللو په وجه يې په مخ کې کرخې جوړې شوې وې. (۲)

## د حضرت حنظله اُسَيدي رضي الله عنه د الله ﷻ نه يَره

د حضرت حنظله اُسَيدي رضي الله عنه په زړه کې د الله ﷻ نه دومره يَره وه چې يوځل يې په ځان باندې دا ګمان اوکړو چې چيرته منافق شوې نه يی. بيا ورته نبي عليه السلام تسلي ورکړه ، او مطمئن شو. (۳)

---

(۱) شعب الايمان الخوف من الله تعالى رقم الحديث ۷۷۰ . صلاح الامة في علو الهمة ج ۵ ص ۵۳۳ علو الهمة فى الخوف والرجاء ، سير اعلام النبلاء ج ۱ ص ۱۸ ، طبقات ابن سعد ج ۳ ص ۳۰۰.

(۲) عَنْ أَبِي رَجَاءٍ، قَالَ: كَانَ هَذَا الْمَوْضِعُ مِنِ ابْنِ عَبَّاسٍ أَيْ مَجْرَى الدُّمُوعِ كَأَنَّهُ الشِّرَاكُ الْبَالِي مِنَ الدَّمْعِ.
حلية الأولياء وطبقات الأصفياء ج ۲ ص ۳۰۷ . مصنف ابن ابي شيبة رقم الحديث ۳۵۵۲۲ كِتَابُ الزُّهْدِ مَا قَالُوا فِي الْبُكَاءِ مِنْ خَشْيَةِ اللهِ.

وكان تحت عيني ابن عباس رضي الله عنهما مثل الشراک البالي من كثرة الدموع صلاح الامة ج ۵ ص ۵۳۳ علو الهمة فى الخوف والرجاء

(۳) عَنْ حَنْظَلَةَ الْأُسَيْدِيِّ رضي الله عنه، قَالَ: وَكَانَ مِنْ كُتَّابِ رَسُولِ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ: لَقِيَنِي أَبُو بَكْرٍ رضي الله عنه، فَقَالَ: كَيْفَ أَنْتَ يَا حَنْظَلَةُ؟ قَالَ: قُلْتُ: نَافَقَ حَنْظَلَةُ، قَالَ: سُبْحَانَ اللهِ مَا تَقُولُ؟ قَالَ: قُلْتُ: نَكُونُ عِنْدَ رَسُولِ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يُذَكِّرُنَا بِالنَّارِ وَالْجَنَّةِ، حَتَّى كَأَنَّا رَأْيُ عَيْنٍ، فَإِذَا خَرَجْنَا مِنْ عِنْدِ رَسُولِ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ عَافَسْنَا الْأَزْوَاجَ وَالْأَوْلَادَ وَالضَّيْعَاتِ فَنَسِينَا كَثِيرًا، قَالَ أَبُو بَكْرٍ رضي الله عنه: فَوَاللهِ إِنَّا لَنَلْقَى مِثْلَ هَذَا، فَانْطَلَقْتُ أَنَا وَأَبُو بَكْرٍ، حَتَّى دَخَلْنَا عَلَى رَسُولِ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ، قُلْتُ: نَافَقَ حَنْظَلَةُ يَا رَسُولَ اللهِ فَقَالَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ «وَمَا ذَاكَ؟» قُلْتُ: يَا رَسُولَ اللهِ نَكُونُ عِنْدَكَ تُذَكِّرُنَا بِالنَّارِ وَالْجَنَّةِ، حَتَّى كَأَنَّا رَأْيُ عَيْنٍ، فَإِذَا خَرَجْنَا مِنْ عِنْدِكَ عَافَسْنَا الْأَزْوَاجَ وَالْأَوْلَادَ وَالضَّيْعَاتِ، نَسِينَا كَثِيرًا. ←←←←

Scanned with CamScanner

دې صحابه کرامو رضي الله عنهم دا خبرې ځکه کولې چې د قيامت په ورځ د الله ﷻ د وړاندې د پيش کيدو او حساب و کتاب نه يريدل. اګرچې ديرو ته په دُنيا کې د جنت او د الله ﷻ د رَضا خوشخبري ورکړې شوې وه خو بيا هم وړاندې د الله تعالى يَره غالبه وه.

## د حضرت عبدالله بن رواحه رضي الله عنه يَره

کله چې دا آيت نازل شو: ﴿ وَإِن مِّنكُمْ إِلَّا وَارِدُهَا كَانَ عَلَىٰ رَبِّكَ حَتْمًا مَّقْضِيًّا ﴾. (۱)

ترجمه: او په تاسو کې به هر کس په جهنم باندې تيرېږي، دا ستا په رب باندې لازمي مقرّر شوې (خبره) ده.

نو حضرت عبدالله بن رواحه رضي الله عنه خپل کور ته لاړ، په ژړا يې شروع اوکړه، دده بي بي چې راغله او دا يې په ژړا اُوليد نو دې هم ورسره ژړا شروع کړه، خادِمه يې راغله هغه هم په ژړا شوه، تر دې چې د کور نور خلق يې راغلل هغوى هم په ژړا شو.

کله چې د عبدالله بن رواحه رضي الله عنه اُوښکې اُودريدې نو د کور د خلقو نه يې پوښتنه اوکړه: اې د کور خلقو! تاسو ولې ژړل؟

هغوى ورته ووئيل: مونږ ته پته نشته خو ليکن چې کله ته مونږ په ژړا اُوليدې نو مونږ هم در سره اُوژړل.

عبدالله بن رواحه رضي الله عنه ورته ووئيل.

إِنَّهُ أُنْزِلَتْ عَلَى رَسُولِ اللهِ آيَةٌ يُنَبِّئُنِي فِيهَا رَبِّي عَزَّ وَجَلَّ أَنِّي وَارِدُ النَّارِ، وَلَمْ يُنَبِّئْنِي أَنِّي صَادِرٌ عَنْهَا، فَذَلِكَ الَّذِي أَبْكَانِي.

---

←←← فَقَالَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: «وَالَّذِي نَفْسِي بِيَدِهِ إِنْ لَوْ تَدُومُونَ عَلَى مَا تَكُونُونَ عِنْدِي وَفِي الذِّكْرِ لَصَافَحَتْكُمُ الْمَلَائِكَةُ عَلَى فُرُشِكُمْ وَفِي طُرُقِكُمْ، وَلَكِنْ يَا حَنْظَلَةُ سَاعَةً وَسَاعَةً» ثَلَاثَ مَرَّاتٍ. صحيح مسلم كتاب التَّوْبَةِ بَابُ فَضْلِ دَوَامِ الذِّكْرِ وَالْفِكْرِ فِي أُمُورِ الْآخِرَةِ وَالْمُرَاقَبَةِ وَجَوَازِ تَرْكِ ذَلِكَ فِي بَعْضِ الْأَوْقَاتِ وَالِاشْتِغَالِ بِالدُّنْيَا رقم الحديث ١٢ (٢٧٥٠). سنن الترمذي رقم الحديث ٢٥١٤، مشكاة المصابيح رقم الحديث ٢٢٦٨ (٨) باب ذكر الله عزوجل والتقرب اليه الفصل الاول. مسند احمد مخرجا رقم الحديث ١٩٠٢٥.

(١) سورة مريم آية ٧١.

په رسول الله صلی الله علیه وسلم باندې يو آيت نازل شوی په دې کې ماته خپل رب دا خبر راکړی چې زه به په جهنم باندې تيرېږم خو دا خبر يې ندې راکړی چې زه به د دينه اُوځم او که نه؟ نو ځکه زه په ژړا شو . (۱)

## د حضرت عبدالله ابن عمر رضي الله عنهما ژړه

د حضرت عبدالله بن عمر رضي الله عنهما په زړه کې هم ډيره ژړه وه ، يو ځل يې د سورة المطففين تلاوت کولو ،کله چې دې آيت: ﴿ يَوْمَ يَقُومُ النَّاسُ لِرَبِّ الْعٰلَمِيْنَ ﴾ ته راأورسيد . (د آيت ترجمه داده : په کومه ورځ چې به ټول خلق د ربّ العالمين د وړاندې اُودرېږي)

فَبَكٰى حَتّٰى خَرَّ وَامْتَنَعَ مِنْ قِرَاءَةِ مَا بَعْدَهٗ .

نو ابن عمر رضي الله عنهما په ژړا شو ، دومره ډير يې اُوژړل چې آخر بې اِختياره په زمکه راأوغورځيد ، او آخوا نور قراءت يې اونکړې شو . (۲)

---

(۱) قَالَ بَكْرُ بْنُ عَبْدِ اللهِ الْمُزَنِيُّ: نَزَلَتْ هٰذِهِ الْآيَةُ: {وَإِنْ مِنْكُمْ إِلَّا وَارِدُهَا} ذَهَبَ عَبْدُ اللهِ بْنُ رَوَاحَةَ رضي الله عنه إِلٰى بَيْتِهِ فَبَكٰى، فَجَاءَتِ امْرَأَتُهُ فَبَكَتْ، فَجَاءَتِ الْخَادِمُ فَبَكَتْ، وَجَاءَ أَهْلُ الْبَيْتِ فَجَعَلُوْا يَبْكُوْنَ. فَلَمَّا انْقَطَعَتْ عَبْرَتُهُ، قَالَ: « يَا أَهْلَاهُ، مَا الَّذِيْ أَبْكَاكُمْ؟ » قَالُوْا: لَا نَدْرِيْ وَلٰكِنْ رَأَيْنَاكَ بَكَيْتَ فَبَكَيْنَا. قَالَ: « إِنَّهُ أُنْزِلَتْ عَلٰى رَسُوْلِ اللهِ آيَةٌ يُنَبِّئُنِيْ فِيْهَا رَبِّيْ عَزَّ وَجَلَّ أَنِّيْ وَارِدُ النَّارِ، وَلَمْ يُنَبِّئْنِيْ أَنِّيْ صَادِرٌ عَنْهَا. فَذٰلِكَ الَّذِيْ أَبْكَانِيْ » . الزهد والرقائق لابن المبارك ج۱ ص۱۰۴ رقم الحديث ۳۰۹ بَابُ الْهَرَبِ مِنَ الْخَطَايَا وَالذُّنُوبِ .

(۲) عَنِ الْقَاسِمِ بْنِ أَبِيْ بَزَّةَ، حَدَّثَنِيْ مَنْ سَمِعَ ابْنَ عُمَرَ رَضِيَ اللهُ تَعَالٰى عَنْهُ. قَرَأَ {وَيْلٌ لِلْمُطَفِّفِيْنَ} [المطففين آية ۱] حَتّٰى بَلَغَ {يَوْمَ يَقُوْمُ النَّاسُ لِرَبِّ الْعَالَمِيْنَ} [ المطففين آية ۶ ] قَالَ: فَبَكٰى حَتّٰى خَرَّ وَامْتَنَعَ مِنْ قِرَاءَةِ مَا بَعْدَهُ . حلية الأولياء وطبقات الأصفياء ج ۱ ص ۳۰۵ عَبْدُ اللهِ بْنُ عُمَرَ بْنِ الْخَطَّابِ مواظبته على قيام الليل . صفة الصفوة ج۱ ص ۲۱۹ عبد الله بن عمر بن الخطاب .

عَنِ الْبَرَاءِ بْنِ سُلَيْمٍ قَالَ سَمِعْتُ نَافِعًا مَوْلَى ابْنِ عُمَرَ يَقُوْلُ: مَا قَرَأَ ابْنُ عُمَرَ رضي الله عنهما هَاتَيْنِ الْآيَتَيْنِ قَطُّ مِنْ آخِرِ سُوْرَةِ الْبَقَرَةِ إِلَّا بَكٰى {إِنْ تُبْدُوْا مَا فِيْ أَنْفُسِكُمْ أَوْ تُخْفُوْهُ يُحَاسِبْكُمْ بِهِ اللهُ} [ البقرة آية ۲۸۴] الْآيَةَ . ثُمَّ يَقُوْلُ: « إِنَّ هٰذَا لَإِحْصَاءٌ شَدِيْدٌ » . حلية الأولياء وطبقات الأصفياء ج ۱ ص ۳۰۵ عَبْدُ اللهِ بْنُ عُمَرَ بْنِ الْخَطَّابِ مواظبته على قيام الليل .

Scanned with CamScanner

# د حضرت سلمان فارسي ﷺ يَره

يو ځل حضرت سلمان فارسي ﷺ د يو قاري نه دا آيت واوريد :

﴿ وَإِنَّ جَهَنَّمَ لَمَوْعِدُهُمْ أَجْمَعِينَ ﴾.(۱)

ترجمه : او بيشکه جهنم ددوی ټولو د وَعدې ځای دی .

(يعنی څوک چې د شيطان تابعداري کوي او ګمراه دي نو جهنم د دوی ټولو ځای دی).

نو حضرت سلمان فارسي ﷺ ددې آيت په اَوريدو يوه چغه اُووهله ، په خپل سَر باندې يې لاس کېښود ، ترد درې (۳) ورځو پورې حيران او پريشانه ؤ ، په ځان پوره نه پوهيدو.

(۱) الحجر آية ۴۳ .

# د نورو بزرګانو يَره

د نبي عليه السلام او صحابه كرامو رَضِيَ اللهُ عَنْهُمْ د واقعاتو نه پس درته د نورو علماء كرامو د الله تعالى نه د يَريدو يو څو واقعات رانقل كوم:

## د حضرت زُرَارة بن اوفى رَحِمَهُ اللهُ يَره

حضرت زُرَارة بن اوفى رَحِمَهُ اللهُ جليلُ القدر تابعي دى، دده يو شاګرد "بهز بن حكيم" وايي چې يو ځل حضرت زُرَارة رحمه الله مونږ ته په بصره كې په مسجدِ قشيره كې د جَمعې اِمامت كولو، كله چې دې آيت ته راأورسيد:

﴿ فَإِذَا نُقِرَ فِي النَّاقُورِ ۝ فَذَٰلِكَ يَوْمَئِذٍ يَوْمٌ عَسِيرٌ ۝ عَلَى الْكَافِرِينَ غَيْرُ يَسِيرٍ ﴾.(۱)

ترجمه: پس كله چې پُوكې أووهلې شي په شپيلۍ كې، نو دا ورځ به ډيره سخته وي، په كافرانو باندې به آسانه نه وي.

د آيت په ويلو سره د آخرت يَره ورباندې دومره غالبه شوه چې فوراً راپريوَت، بې هوشه شو، او په هماغه مِحراب كې وفات شو. بيا مونږ راپورته كړو، او دده خپل كور ته مو دده لاش وې ورو.(۲)

## د ابوجرير رَحِمَهُ اللهُ يَره

ابوجرير رَحِمَهُ اللهُ تابعي دى، صالح المُرّي دده د وړاندې څه آيتونه تلاوت كړل، په

---

(۱) سورة المدثر آية ۸ تا ۱۰.

(۲) قَالَ بَهْزُ بْنُ حَكِيمٍ: أَمَّنَا زُرَارَةُ بْنُ أَبِي أَوْفَى فِي مَسْجِدِ قُشَيْرٍ فَقَرَأَ الْمُدَّثِّرَ فَلَمَّا انْتَهَى إِلَى هٰذِهِ الْآيَةِ {فَإِذَا نُقِرَ فِي النَّاقُورِ} [المدثر آية ۸] خَرَّ مَيِّتًا. قَالَ بَهْزٌ: فَكُنْتُ فِيمَنْ حَمَلَهُ. شعب الايمان رقم الحديث ۹۱۱ الخوف من الله تعالى. احياء علوم الدين ج ۲ ص ۳۹۸.

قَالَ بَهْزُ بْنُ حَكِيمٍ: صَلَّى بِنَا زُرَارَةُ بْنُ أَوْفَى الْقُرَشِيُّ فِي مَسْجِدِ بَنِي قُشَيْرٍ الْأَعْظَمِ فَقَرَأَ {فَإِذَا نُقِرَ فِي النَّاقُورِ} [المدثر آية ۸] فَخَرَّ مَيِّتًا، فَحُمِلَ إِلَى دَارِهِ فَكُنْتُ فِيمَنْ حَمَلَهُ إِلَى دَارِهِ. الزهد لاحمد بن حنبل ج ۱ ص ۲۰۰ رقم ۱۳۸۳، و اخرجه ابن سعد في الطبقات، والحاكم في المستدرک و ابونعيم في الحلية، وابن الجوزي في صفة الصفوة (۲۳۰/۳)، والذهبي في السير (۵۱٦/۴) وقال: صحيح. صلاح الامة في علو الهمة ج ۵ ص ۵۴۸.

Scanned with CamScanner

ابو جریر رحمه الله یې دومره آثر وکړو چې بې هوشه شو ، او بیا وفات شو. (۱)

(( په بعضې کتابونو کې دده نوم ابوجهیر ذکر شوی. (۲)

او بعضو کې ابو جَهث ذکر شوی. (۳) ))

## د الله ﷻ د یَرې نه بې هوشه کیدل او دَریاب ته غورځیدل

محمد بن صبیح نقل کړي چې یو کس په دریای فُرات کې غُسل کولو ، د دَریاب په غاړه یو کس روان ؤ ، تلاوت یې کولو ، کله یې چې دا آیت اُولوست :

﴿ وَامْتَازُوا الْيَوْمَ أَيُّهَا الْمُجْرِمُوْنَ ﴾ . (۴)

ترجمه : ( مُجرمانو ته به ویلې شي : ) اې مُجرمانو ! تاسو نن ورځ (ددې نورو نه) جدا شئ.

په دَریاب کې غُسل کوونکي کس چې دا آیت واورید نو دومره آثر یې وریاندې اوکړو چې بې هوشي وریاندې راغلهٔ ، خپل ځان یې کنټرول نه کړې شو او د سمندر په چپو کې ډوب شو. (۵)

---

(۱) وأبو جرير من التابعين قرأ عليه صالح المري فشهق ومات . احياء علوم الدين ج ۲ ص ۳۹۷ .

(۲) قال صالح المري : قال لي أبو جهير مسعود الضرير: من أنت يرحمك الله؟ قلت . أنا صالح المري، قال: أنت الفتى القارئ، أنت أبو بشر؟ قلت : نعم، قال : اقرأ يا صالح فابتدأتُ فقرأت فما استتممت الاستعاذة حتى خر مغشيًا عليه. ثم أفاق إفاقة فقال : عد في قراءتك يا صالح. فعدتُ فقرأت: { وَقَدِمْنَا إِلَىٰ مَا عَمِلُوا مِنْ عَمَلٍ فَجَعَلْنَاهُ هَبَاءً مَنْثُورًا } قال: فصاح صيحة ثم انكب لوجهه وانكشف بعض جسده فجعل يخور كما يخور الثور ثم هدأ فدنونا منه لننظر فإذا هو قد خرجت نفسه كأنه خشبة. صفة الصفوة ج ۲ ص ۱۹۷ الطبقة الرابعة ابوجهير مسعود الضرير

(۳) نَادَى مُنَادٍ فِيْ مَجْلِسِ صَالِحِ الْمُرِّيِّ لِيَقُمُ الْبَاكُوْنَ الْمُشْتَاقُوْنَ إِلَى الْجَنَّةِ فَقَامَ أَبُوْ جَهْثٍ . فَقَالَ: اِقْرَأْ يَا صَالِحُ { وَقَدِمْنَا إِلَىٰ مَا عَمِلُوا مِنْ عَمَلٍ فَجَعَلْنَاهُ هَبَاءً مَنْثُورًا أَصْحَابُ الْجَنَّةِ يَوْمَئِذٍ خَيْرٌ مُسْتَقَرًّا وَأَحْسَنُ مَقِيلًا } [الفرقان آية ۲۴] فَقَالَ أَبُوْ جَهْثٍ : أَرْدِدْهَا يَا صَالِحُ . فَمَا فَرَغَ مِنَ الْآيَةِ حَتَّى مَاتَ أَبُوْ جَهْثٍ . شعب الايمان ج ۲ ص ۲۹۴ رقم ۹۱۳ الخوف من الله تعالى.

(۴) سورة يس آية ۵۹ .

(۵) عن محمد بن صبيح قال كان رجل يغتسل في الفرات فمرّ به رجل على الشاطئ يقرأ ﴿ وَامْتَازُوا الْيَوْمَ أَيُّهَا الْمُجْرِمُوْنَ ﴾ فلم يزل الرجل يضطرب حتى غرق ومات. احياء علوم الدين ج ۲ ص ۳۹۸ .

Scanned with CamScanner

## د عبدالعزیز بن سلمان رَحِمَهُ اللهُ یره

عبدالعزیز بن سَلمان رَحِمَهُ اللهُ به چې کله په جُمات کې د قیامت او مرګ تذکره اوکړه نو بیا به یې د الله ﷻ د یرې داسې ژړل لکه بُوره ښځه چې د بچې په وفات کیدو ژاړي ، په جُمات کې به چې کوم خلق ناست وو هغوی به هم ژړل ، اکثره به په کې یو کس یا دوه کسان وفات هم شو . (۱)

## د یو عابِد د الله ﷻ نه یَره

محمد ابن السّماک رَحِمَهُ اللهُ فرمایي .... چې مونږ د یو عابِد ملاقات ته ورغلو ، د هغه مور راته وویل :

تاسو زما ځوي ته د جنت یا جهنم تذکره مه کوئ ؛ هسې نه چې د ډیرې یَرې د وجې وفات شي ؛ ځکه دده نه علاوه زما بل څوک نشته .

ابن السّماک رَحِمَهُ اللهُ فرمایي چې کله مونږ دې عابد ته ورننوتلو نو هغه ډیر وخت خپل سَر ښکته کړې وُ او چُپ ناست وُ ، کله یې چې سَر رااُوچت کړو نو مونږ ته یې رااُوکتل ، بیا یې اوفرمایل : إِنَّ لِلنَّاسِ مَوْقِفًا لَا بُدَّ أَنْ يَقِفُوهُ .

بیشکه د خلقو د پاره ( د قیامت په ورځ ) په یو ځای کې اُودریدل شته چې هلته به ضرور اُودریږي .

مونږ ورنه پوښتنه اوکړه : بَيْنَ يَدَيْ مَنْ ؟ رَحِمَكَ اللهُ .

الله تعالی دې په تا رحم اوکړي د چا د وړاندې به اُودریږي ؟

پس په دې اُوریدو سره په ژړا شو ، یو څو اِیتکي یې اوکړی او وفات شو . (۲)

---

(۱) كَانَ عَبْدُ الْعَزِيزِ بْنُ سَلْمَانَ إِذَا ذَكَرَ الْقِيَامَةَ وَالْمَوْتَ صَرَخَ كَمَا تَصْرُخُ الثَّكْلَى وَيَصْرُخُ الْخَائِفُونَ مِنْ جَوَانِبِ الْمَسْجِدِ قَالَ: وَرُبَّمَا رُفِعَ الْمَيِّتُ وَالْمَيِّتَانِ مِنْ جَوَانِبِ مَجْلِسِهِ . حلية الأولياء وطبقات الأصفياء ج ٦ ص ۲۴۳ عَبْدُ الْعَزِيزِ بْنُ سَلْمَانَ . صفة الصفوة ج۲ ص ۲۲۳ عبد العزيز بن سلمان

(۲) قَالَ مُحَمَّدُ بْنُ السَّمَّاكِ : دَخَلْتُ الْبَصْرَةَ فَقُلْتُ لِرَجُلٍ كُنْتُ أَعْرِفُهُ: دُلَّنِي عَلَى عُبَّادِكُمْ فَأَدْخَلَنِي عَلَى رَجُلٍ عَلَيْهِ لِبَاسُ الشَّعْرِ طَوِيلِ الصَّمْتِ . لَا يَرْفَعُ رَأْسَهُ إِلَى أَحَدٍ قَالَ: فَجَعَلْتُ أَسْتَنْطِقُهُ الْكَلَامَ ←←←←←←

Scanned with CamScanner

# د يوې وينځې د الله ﷻ نه يره

سعيد بن جُبير رَحِمَهُ اللّٰهُ فرمايي چې ما يوه شپه يوه وينځه اُوليده چې د خانه کعبې پَردې يې نيولې وه ، دُعاګانې يې غوښتې ، عاجزي يې کوله ، او ژړل يې ، تردې چې وفات شوه .(۱)

( ددينه علاوه نور ډير داسې خلق هم تير شوي چې د تقرير په دوران کې يې د عالِم نه د الله ﷻ د عذاب تذکره آوريدلې نو په هماغه ځای وفات شوي دي) . (۲)

←←←← فَلَا يُكَلِّمُنِي قَالَ: فَخَرَجْتُ مِنْ عِنْدِهِ . فَقَالَ لِي صَاحِبِي : هٰهُنَا ابْنُ عَجُوزٍ هَلْ لَكَ فِيهِ؟ قَالَ: فَدَخَلْنَا عَلَيْهِ فَقَالَتِ الْعَجُوزُ : لَا تَذْكُرُوا لِابْنِي شَيْئًا مِنْ أَمْرِ جَنَّةٍ وَلَا نَارٍ فَتَقْتُلُوهُ عَلَيَّ فَلَيْسَ لِي غَيْرُهُ . قَالَ: فَلَمَّا دَخَلْنَا عَلَيْهِ فَإِذَا عَلَيْهِ مِنَ اللِّبَاسِ مِثْلُ مَا عَلَى صَاحِبِهِ مُنَكِّسُ الرَّأْسِ طَوِيلُ الصَّمْتِ فَرَفَعَ رَأْسَهُ فَنَظَرَ إِلَيْنَا. ثُمَّ قَالَ: إِنَّ لِلنَّاسِ مَوْقِفًا لَا بُدَّ أَنْ يَقِفُوهُ . قَالَ: قُلْتُ: بَيْنَ يَدَيْ مَنْ ؟ رَحِمَكَ اللهُ . قَالَ: فَشَهِقَ شَهْقَةً فَمَاتَ . قَالَ ابْنُ السَّمَّاكِ فَجَاءَتِ الْعَجُوزُ فَقَالَتْ: قَتَلْتُمُ ابْنِي قَالَ: فَكُنْتُ فِيمَنْ صَلَّى عَلَيْهِ . رَحِمَهُ اللهُ تَعَالَى. شعب الايمان ج ۲ ص ۲۸۵ رقم ۹۰۲ الخوف من الله تعالى. حلية الأولياء وطبقات الأصفياء ج ۸ ص ۲۰۸ مُحَمَّدُ بْنُ صُبَيْحِ بْنِ السَّمَّاكِ . صفة الصفوة ج۲ ص ۲۳۷ ذكر المصطفين من عباد البصرة المجاهيل الأسماء

(۱) قَالَ سَعِيدُ بْنُ جُبَيْرٍ: مَا رَأَيْتُ أَرْعَى لِحُرْمَةِ هٰذَا الْبَيْتِ وَلَا أَحْرَصَ عَلَيْهِ مِنْ أَهْلِ الْبَصْرَةِ لَقَدْ رَأَيْتُ جَارِيَةً ذَاتَ لَيْلَةٍ تَعَلَّقَتْ بِأَسْتَارِ الْكَعْبَةِ تَدْعُو وَتَضَرَّعُ وَتَبْكِي حَتَّى مَاتَتْ. إِسْنَادُهَا صَحِيحٌ. سير اعلام النبلاء ج ۵ ص ۱۹۳ سعيد بن جبير . حلية الأولياء وطبقات الأصفياء ج ۴ ص ۲۷۶ .

(۲) قَالَ حِصْنُ بْنُ الْقَاسِمِ الْوَرَّاقُ : كُنَّا عِنْدَ عَبْدِ الْوَاحِدِ بْنِ زَيْدٍ وَهُوَ يَعِظُ فَنَادَاهُ رَجُلٌ مِنْ نَاحِيَةِ الْمَسْجِدِ : كُفَّ يَا أَبَا عُبَيْدَةَ لَقَدْ كَشَفْتَ قِنَاعَ قَلْبِي . فَلَمْ يَلْتَفِتْ عَبْدُ الْوَاحِدِ إِلَى ذٰلِكَ فَمَرَّ فِي الْمَوْعِظَةِ فَلَمْ يَزَلِ الرَّجُلُ يَقُولُ : كُفَّ يَا أَبَا عُبَيْدَةَ لَقَدْ كَشَفْتَ قِنَاعَ قَلْبِي . وَعَبْدُ الْوَاحِدِ يَعِظُ لَا يَقْطَعُ مَوْعِظَتَهُ حَتَّى وَاللهِ حَشْرَجَ الرَّجُلُ حَشْرَجَةَ الْمَوْتِ . وَخَرَجَتْ نَفْسُهُ وَأَنَا وَاللهِ شَهِدْتُ جَنَازَتَهُ يَوْمَئِذٍ مَا رَأَيْتُ بِالْبَصْرَةِ يَوْمًا أَكْثَرَ بَاكِيًا مِنْ يَوْمَئِذٍ. شعب الايمان ج ۲ ص ۲۹۳ رقم ۹۱۲ الخوف من الله تعالى.

قَالَ أَبُو طَارِقٍ: شَهِدْتُ ثَلَاثَةَ رِجَالٍ. أَوْ نَحْوَهُمْ مَاتُوا فِي مَجْلِسِ الذِّكْرِ يَمْشُونَ بِأَرْجُلِهِمْ صِحَاحًا إِلَى الْمَجَالِسِ وَأَجْوَافُهُمْ وَاللهِ قَرِعَةٌ فَإِذَا سَمِعُوا الْمَوْعِظَةَ انْصَدَعَتْ قُلُوبُهُمْ فَمَاتُوا . قَالَ يَحْيَى: قُلْتُ لِأَبِي طَارِقٍ: مُجْتَمِعِينَ؟ قَالَ :لَا بَلْ مُتَفَرِّقِينَ فِي الْمَجْلِسِ الرَّجُلُ وَالرَّجُلَانِ وَنَحْوَ ذٰلِكَ . شعب الايمان ج ۲ ص ۲۹۴ رقم ۹۱۳ الخوف من الله تعالى.

Scanned with CamScanner

# د امام شافعي رَحِمَهُ اللهُ یَره

یوه ورځ امامِ شافعي رَحِمَهُ اللهُ د یو قاري نه دا آیت واورید :

﴿ هٰذَا يَوْمُ لَا يَنْطِقُوْنَ . وَلَا يُؤْذَنُ لَهُمْ فَيَعْتَذِرُوْنَ ﴾ . (۱)

ترجمه : دا هغه ورځ ده چې دوی به خبرې نه کوي ، او نه به دوی ته اِجازت ورکولې شي چې دوی عُذر پیش کړي .

ددې آیت آوریدو وریاندې دومره آثر اوکړو چې ځای په ځای بې هوشه شو ( بیا څه وخت پس په هوش کې راغی ) . (۲)

# د مالک بن دینار رَحِمَهُ اللهُ یَره

۱ . حارث بن سعید وایي چې مونږ د مالک بن دینار رَحِمَهُ اللهُ سره ناست وو ، د مونږ سره یو قاري و چې د سورة زلزال تلاوت یې شروع کړو ، مالک بن دینار رَحِمَهُ اللهُ د ډیرې یَرې د وجې رَپېدو ، د مجلس خلقو هم د الله ﷻ د یَرې ژړل او چغې یې وهلی .

کله چې قاري دې آیت ته رااُورسید :

﴿ فَمَنْ يَعْمَلْ مِثْقَالَ ذَرَّةٍ خَيْرًا يَرَهُ ۞ وَمَنْ يَعْمَلْ مِثْقَالَ ذَرَّةٍ شَرًّا يَرَهُ ﴾ . (۳)

ترجمه : پس څوک چې د یوې ذرې په اندازه نیکي اوکړي نو دا به هغه اوګوري ( یعنې د هغې ثواب به اوګوري ) ، او څوک چې د یوې ذرې برابر بَدي اوکړي نو دا به هغه ( هم ) اوګوري ( یعنې د هغې سزا به هم اوګوري ) .

نو مالک بن دینار رَحِمَهُ اللهُ په ژړا شو ، سَلګی یې وهلی ، دومره ډیر یې اُوژړل چې آخر بې هوشه ، په همدې بې هوشی حالت کې ددې ځای نه وې وړل شو . (۴)

---

(۱) المرسلات آیة ۳۵ ، ۳۶ .

(۲) سمع الشافعي رحمه الله قارئاً یقرأ ﴿ هٰذَا يَوْمُ لَا يَنْطِقُوْنَ . وَلَا يُؤْذَنُ لَهُمْ فَيَعْتَذِرُوْنَ ﴾ فغشي علیه . احیاء علوم الدین ج۲ ص ۳۹۷ .

(۳) الزلزلة آیة ۷ ، ۸ .

(۴) قال الحارث بن سعید : کنا عند مالک بن دینار وعندنا قارئ یقرأ : ←←←←←←←←←

۲ . یو ځل مقبرې ته لاړ ، هلته یو مړی دفن کیدو ، دا د قبر سره اودرید ، د مړي دفن کیدو ته یې کتل ، او ځان ته خطاب کول سره یې مسلسل همدا ویل:

صبا چې کله ته مړ شې نو ته به هم دې قبر ته ورځې ، ستا به څه حالت وي ؟

همدا خبره به یې مسلسل کوله ، تر دې چې د ډیرې یرې په وجه بې هوشه شو او قبر ته پریوت ، خلقو را اوچت کړو او په همدې بې هوشۍ حالت کې یې خپل کور ته اورسول. (۱)

## د ربیع بن خُثَیم رَحِمَهُ اللهُ یره

یو ځل ربیع بن خُثَیم رَحِمَهُ اللهُ د حضرت عبدالله بن مسعود رضي الله عنه سره په سفر روان ؤ ، د دَریای فرات په غاړه باندې د لوهار بَټۍ وه ، ابن مسعود رضي الله عنه چې دا اوکتل چې دَننه په بَټۍ کې د اور لمبې دي نو دا آیتِ مبارکه یې تلاوت کړو :

﴿ وَإِذَا رَأَتْهُم مِّن مَّكَانٍ بَعِيدٍ سَمِعُوا لَهَا تَغَيُّظًا وَزَفِيرًا ۝ وَإِذَا أُلْقُوا مِنْهَا مَكَانًا ضَيِّقًا مُّقَرَّنِينَ دَعَوْا هُنَالِكَ ثُبُورًا ﴾.(۲)

ترجمه : او هر کله چې دا خلق جهنم د لرې نه اوګوري نو دوی به د جهنم د قهر آواز او غړاړې (یعنی غرمبارې او شوز) واوري ، او کله چې دوی د جهنم په یو تنګ ځای کې اوغورځولې شي چې د دوی لاس او خپې به په زنځیرونو باندې تړل شوي وي نو دوی به په دغه ځای کې د مرګ دُعاګانې غواړي ( چې واه ، مونږ هلاک شو ) .

←←← { إِذَا زُلْزِلَتِ الْأَرْضُ زِلْزَالَهَا } فجعل مالك ينتفض وأهل المجلس يبكون ويصرخون حتى انتهى إلى هذه الآية : { فَمَن يَعْمَلْ مِثْقَالَ ذَرَّةٍ خَيْرًا يَرَهُ ۝ وَمَن يَعْمَلْ مِثْقَالَ ذَرَّةٍ شَرًّا يَرَهُ } قال: فجعل مالك، والله، يبكي ويشهق حتى غشي عليه فحمل بين القوم صريعًا. صفة الصفوة ج ۲ ص ۱۶۵

(۱) قال عبد الله بن مرزوق: بلغني أن مالك بن دينار رَحِمَهُ اللهُ دخل المقابر ذات يوم فإذا رجل يدفن، فجاء حتى وقف على القبر فجعل ينظر إلى الرجل وهو يدفن فجعل يقول: مالك، غدًا هكذا يصير وليس له شيء يتوسده في قبره . فلم يزل يقول: غدًا مالك هكذا يصير، حتى خر مغشيًا عليه في جوف القبر فحملوه فانطلقوا به إلى منزله مغشيًا عليه. صفة الصفوة ج ۲ ص ۱۶۵ مالک بن دینار .

(۲) الفرقان آية ۱۲ ، ۱۳ .

نو ربیع بن خُثَیم رَحِمَهُ اللهُ (ددې آیتونو په اَوریدو سره) بې هوشه شو او رااُوغورځید، ددې واقعې راوي وایي چې بیا مونږ دا خپل کورته وې وړو، تر مابنامه پورې بې هوشه وُ، د مابنام نه پس په هوش کې راغی. (۱)

## د عُمر بن عبدالعزیز رَحِمَهُ اللهُ یَره

د عُمر بن عبدالعزیز رَحِمَهُ اللهُ یوه وینځه وه یوه ورځ یې ده ته وویل:

یَا أَمِیْرَ الْمُؤْمِنِیْنَ! إِنِّيْ وَاللهِ رَأَیْتُ عَجَبًا.

اې امیرالمؤمنین! قسم په الله، ما عجیبه خوب لیدلی.

ده ورته وویل: څه خوب دې لیدلی؟ هغې وویل:

ما جهنم په خوب کې اُولید چې لمبې یې وهلې، بیا پُلِ صراط راوړې شو او د جهنم د پاسه کینبودلې شو، بیا عبدالملک بن مروان بادشاه راوستې شو، حکم ورته اوشو چې په پُل صراط باندې لاړ شه، هغه وړباندې لږ لاړ، آخر لاندې جهنم ته اُوغورځید.

عُمر بن عبدالعزیز رَحِمَهُ اللهُ وینځې ته وویل: جلتې اوکړه زر اُووایه بیا څه اوشو؟ وینځې وویل: بیا د عبدالملک بن مروان ځوي "ولید" راوستې شو، هغه ته په پُل صراط باندې د تللو حکم اوشو، هغه هم وړباندې لږ لاړ، بیا هغه هم لاندې جهنم ته اُوغورځید.

عُمر بن عبدالعزیز رَحِمَهُ اللهُ وینځې ته وویل: جلتې اوکړه زر اُووایه بیا څه اوشو؟ وینځې وویل: بیا عبدالملک بن مروان بل ځوي "سلیمان" راوستې شو، هغه هم په پُلِ صراط باندې لږ لاړ، آخر هغه هم لاندې جهنم ته اُوغورځید.

---

(۱) عَنْ أَبِيْ وَائِلٍ، قَالَ: خَرَجْنَا مَعَ عَبْدِ اللهِ بْنِ مَسْعُوْدٍ رضي الله عنه وَمَعَنَا الرَّبِيْعُ بْنُ خُثَيْمٍ رَحِمَهُ اللهُ فَمَرَرْنَا عَلَى حَدَّادٍ فَقَامَ عَبْدُ اللهِ يَنْظُرُ حَدِيْدَةً فِي النَّارِ فَنَظَرَ رَبِيْعٌ إِلَيْهَا فَتَمَايَلَ لِيَسْقُطَ فَمَضَى عَبْدُ اللهِ رضي الله عنه حَتَّى أَتَيْنَا عَلَى أَتُّوْنٍ عَلَى شَاطِئِ الْفُرَاتِ فَلَمَّا رَأَى عَبْدُ اللهِ رضي الله عنه وَالنَّارُ تَلْتَهِبُ فِيْ جَوْفِهِ قَرَأَ هٰذِهِ الْآيَةَ: "{إِذَا رَأَتْهُمْ مِنْ مَكَانٍ بَعِيْدٍ سَمِعُوْا لَهَا تَغَيُّظًا وَزَفِيْرًا} [الفرقان آية ۱۲] إِلَى قَوْلِهِ: ثُبُوْرًا" قَالَ: فَصَعِقَ الرَّبِيْعُ، فَاحْتَمَلْنَاهُ فَجِئْنَا بِهِ إِلَى أَهْلِهِ قَالَ: ثُمَّ رَابَطَهُ إِلَى الْمَغْرِبِ فَلَمْ يُفِقْ ثُمَّ إِنَّهُ أَفَاقَ فَرَجَعَ عَبْدُ اللهِ رضي الله عنه إِلَى أَهْلِهِ. حلية الأولياء وطبقات الأصفياء ج ۲ ص ۱۱۰ أَبُوْ يَزِيْدَ الرَّبِيْعُ بْنُ خُثَيْمٍ. صفة الصفوة ج ۲ ص ۳۸ الربيع بن خثيم الثوري.

(دا درې واړه بادشاهان د عُمر بن عبد العزیز رَحِمَهُ اللهُ نه مخکې تېر شوي وو)

عُمر بن عبد العزیز رَحِمَهُ اللهُ وینځې ته ووئیل : چلتې او کړه زر او وایه بیا څه اوشو ؟

وینځې ووئیل : ثُمَّ جِيءَ بِكَ وَاللهِ يَا أَمِيرَ الْمُؤْمِنِينَ .

اې امیر المؤمنین ! قسم په الله ، بیا ته راوستې شوی .

عُمر بن عبد العزیز رَحِمَهُ اللهُ چې دا خبره څنګه واوریده نو یوه چغه یې اووهله ، بې هوشه شو او را اوغورځید . وینځې ورته په غوږ کې دا چغې وهلې :

يَا أَمِيرَ الْمُؤْمِنِينَ : إِنِّي رَأَيْتُكَ وَاللهِ قَدْ نَجَوْتَ . إِنِّي رَأَيْتُكَ وَاللهِ قَدْ نَجَوْتَ .

اې امیر المؤمنین ! قسم په الله ما ته لیدلې وې چې تا نجات اوموند (په پُلِ صراط باندې روغ تېر شوې وې) ...

وینځې ورته مسلسل په غوږ کې همدا چغې وهلې خو لیکن عُمر بن عبد العزیز رَحِمَهُ اللهُ د ډیرې یرې په وجه په چغو چغو ژړل او خپې یې په زمکه تکولې . (۱)

## د حضرت شبلي رَحِمَهُ اللهُ یَره

یو ځل حضرت شبلي رَحِمَهُ اللهُ په خپل جُمات کې تراویح کولې ، کله چې اِمام دا آیت اُولوست :

---

(۱) دخلت مولاة لعمر بن عبد العزيز رَحِمَهُ اللهُ عليه فسلمت عليه . ثم قامت إلى مسجد في بيته فصلت فيه ركعتين وغلبتها عيناها فرقدت فاستبكت في منامها ثم انتبهت . فقالت : يَا أَمِيرَ الْمُؤْمِنِينَ ! إِنِّي وَاللهِ رَأَيْتُ عَجَبًا . قال : وما ذاك ؟ قالت : رأيتُ النار وهي تزفر على أهلها . ثم جيء بالصراط ووضع على متنها . فقال : هيه . قالت : فجيء بعبد الملك بن مروان فحمل عليه فما مضى عليه إلا يسيرا حتى انكفأ به الصراط فهوى إلى جهنم . فقال عمر : هيه . قالت : ثم جيء بالوليد بن عبد الملك فحمل عليه فما مضى عليه إلا يسيرا حتى انكفأ به الصراط فهوى إلى جهنم . فقال عمر : هيه . قالت ثم جيء بسليمان بن عبد الملك فما مضى عليه إلا يسيرا حتى انكفأ به الصراط فهوى كذلك . فقال عمر هيه . قالت : ثم جيء بك والله يا أمير المؤمنين . فصاح عمر رحمه الله عليه صيحة خر مغشيا عليه . فقامت إليه فجعلت تنادي في أذنه : يا أمير المؤمنين إني رأيتك والله قد نجوت إني رأيتك والله قد نجوت . قال وهي تنادي وهو يصيح ويفحص برجليه . احياء علوم الدين ج ۴ ص ۱۸۷ بيان أحوال الأنبياء والملائكة عليهم الصلاة والسلام في الخوف . نزهة الناظرين ص ۵۵۷ كتاب الرجاء والخوف .

﴿ وَلَئِن شِئۡنَا لَنَذۡهَبَنَّ بِٱلَّذِيٓ أَوۡحَيۡنَآ إِلَيۡكَ ﴾ . (۱)

ترجمه : او که چیرته مونږ اُوغواړو نو کومه وَحي چې مونږ تاته کړیده هغه به د ړنه خامخا واپس یُوسو .

حضرت شبلي رَحِمَهُ ٱللَّهُ بې اِختیاره چغه اُووهله ، رنګ یې زیړ شو ، جِسم یې په لړزیدو شو ، او د سترګو نه یې اُوښکې رواني شوی ، خلقو ګمان وکړو چې ګني مړ شو .

ده به بار بار ویل : الله ﷻ داسې مُستغني ذات دی چې د خپل محبوب سره هم داسې خطاب کوي . (۲)

## د علي بن فضیل رَحِمَهُ ٱللَّهُ یره

علي بن فضیل رَحِمَهُ ٱللَّهُ د یو کس نه دا آیت واورید :

﴿ يَوۡمَ يَقُومُ ٱلنَّاسُ لِرَبِّ ٱلۡعَٰلَمِينَ ﴾ . (۳)

ترجمه : په کومه ورځ چې به خلق د رَبّ العالمین د وړاندې اُودرېږي .

کله چې علي بن فضیل رحمه الله د الله ﷻ د وړاندې د اُودریدو تصوّر اوکړو نو دا یې برداشت نه کړې شو ، په زمکه را اُوغورځید او بې هوشه شو . (۴)

## د سفیان ثوري رَحِمَهُ ٱللَّهُ یَره

۱. د سفیان ثوري رَحِمَهُ ٱللَّهُ په زړه کې د الله تعالی د عذاب نه دومره یَره وه چې کله به یې د آخرت څه تذکره اوکړه : يَبُولُ الدَّمَ .

---

(۱) بني اسرائيل ( الاسراء ) آية ۸٦ .

(۲) كان الشبلي في مسجده ليلة من رمضان وهو يصلي خلف إمام له فقرأ الإمام ﴿ وَلَئِن شِئۡنَا لَنَذۡهَبَنَّ بِٱلَّذِيٓ أَوۡحَيۡنَآ إِلَيۡكَ ﴾ فزعق الشبلي زعقة ظنّ النّاس أنه قد طارت روحه وأحمر وجهه وارتعدت فرائصه وكان يقول بمثل هذا يخاطب الأحباب يردد ذلك مراراً . احياء علوم الدين ج۲ ص۳۹۸ .

(۳) المطففين آية ٦ .

(۴) وسمع علي بن الفضيل قارئًا يقرأ ﴿ يَوۡمَ يَقُومُ ٱلنَّاسُ لِرَبِّ ٱلۡعَٰلَمِينَ ﴾ فسقط مغشيًا عليه . احياء علوم الدين ج۲ ص۳۹۸ .

Scanned with CamScanner

نو بیا به په تشو متیازو کې ورنه وینه تلله .(۱)

۲ . یو ځل سفیان ثوري رَحِمَهُ اللَّهُ بیمار وُ نو دده تشې متیازې د ټِسټ کولو د پاره یو طبیب (ډاکټر) ته وې وړل شوی ، کله چې طبیب دیته اوکتل نو وې ویل :

هَذَا مَاءُ رَجُلٍ قَدْ أَحْرَقَ الْخَوْفُ جَوْفَهُ .

دا د داسې سړي د بدن اُوبه دي چې د الله ﷻ نه ویریدو دده باطن سوزولې دی.(۲)

۳ . دا واقعه داسې هم نقل ده چې یو ځل یو طبیب (ډاکټر) ته دده د بیمارۍ علامات کړې شو نو هغه طبیب وویل : هَذَا رَجُلٌ قَطَعَ الْخَوْفُ كَبِدَهُ .

دا داسې کس دی چې ډیرې ویرې دده ځِگر ختم کړې دی.(۳)

---

(۱) قَالَ يُوسُفُ بْنُ أَسْبَاطٍ: كَانَ سُفْيَانُ الثَّوْرِيُّ رَحِمَهُ اللَّهُ إِذَا أَخَذَ ذِكْرَ الْآخِرَةِ يَبُولُ الدَّمَ . شعب الایمان ج ۲ ص ۲۹۷ رقم ۹۲۲ الخوف من الله تعالى. سیر اعلام النبلاء ج ٦ ص ٦۲۹ سفیان.

وفي رواية : قَالَ يُوسُفُ بنُ أَسْبَاطٍ: كَانَ سُفْيَانُ رَحِمَهُ اللَّهُ يَبُولُ الدَّمَ مِنْ طُولِ حُزْنِهِ وَفِكْرَتِهِ. سیر اعلام النبلاء ج ٦ ص ٦٥٠ .

(۲) قَالَ زَيْدُ بْنُ أَبِي الزَّرْقَاءِ : حُمِلَ مَاءُ سُفْيَانَ إِلَى طَبِيبٍ فِي عِلَّتِهِ . فَلَمَّا نَظَرَ قَالَ : هَذَا مَاءُ رَجُلٍ قَدْ أَحْرَقَ الْخَوْفُ جَوْفَهُ . شعب الایمان ج ۲ ص ۲۹۸ رقم ۵۲۵ الخوف من الله تعالى. صلاح الامة في علو الهمة ج ۵ ص ۵۳۸ علو الهمة في الخوف والرجاء .

قَالَ أَبُو أُسَامَةَ: مَرِضَ سُفْيَانُ، فَذَهَبتُ بِمَائِهِ إِلَى الطَّبِيبِ، فَقَالَ: هَذَا بَوْلُ رَاهِبٍ، هَذَا رَجُلٌ قَدْ فَتَّتَ الْحُزْنُ كَبِدَهُ، مَا لَهُ دَوَاءٌ. سیر اعلام النبلاء ج ٦ ص ٦۳٦ سفیان.

عَنْ عَمْرِو بْنِ حَمْزَةَ ابْنِ أُخْتِ سُفْيَانَ الثَّوْرِيِّ قَالَ: ذَهَبْتُ بِبَوْلِ سُفْيَانَ الثَّوْرِيِّ إِلَى دَيْرَانِيٍّ فَأَرَيْتُهُ إِيَّاهُ، فَقَالَ: مَا هَذَا بِبَوْلِ حَنِيفٍ، قُلْتُ: بَلَى، وَاللَّهِ مِنْ خِيَارِهِمْ وَكَانَ لَا يَخْرُجُ مِنْ بَابِ الدَّيْرِ، قَالَ: أَنَا أَجِيءُ مَعَكَ إِلَيْهِ. قُلْتُ لِسُفْيَانَ: إِنَّهُ يَأْتِيكَ فَأَتَاهُ فَمَسَّ عِرْقَهُ. فَقَالَ: هَذَا رَجُلٌ قَدْ قَطَعَ الْحُزْنُ كَبِدَهُ . شعب الایمان ج ۲ ص ۲۹۸ رقم ۹۲٦ الخوف من الله تعالى.

(۳) مرض سفيان الثوري فعرض دليله على طبيب ذمي فقال : هذا رجل قطع الخوف كبده . ثم جاء وجس عروقه ثم قال ما علمت أن في الملة الحنيفية مثله . احياء علوم الدين ج ۴ ص ۱۸٦ بيان أحوال الأنبياء والملائكة عليهم الصلاة والسلام في الخوف

Scanned with CamScanner

۴ . سفيان ثوري رَحِمَهُ اللهُ به هميشه ژړل ، ځکه هغه به ويل چې د ماسره دا يَره ده چې زه چيرته په اُمُّ الکتاب کې شَقي (بدبخت) نه يم ليکل شوی . (۱)

د آخرت يَره ورباندې دومره غالبه وه چې د شپې به ناڅاپه راپاڅيد او ويل به يې : د جهنم اُور ، د جهنم اُور . د جهنم اُور زما خوب تَختولې دی . (۲)

## د ابوعيسی ترمذي رَحِمَهُ اللهُ يَره

ابوعيسیٰ ترمذي رَحِمَهُ اللهُ به د الله ﷻ د عذاب نه ډير يريدو ، دومره ډير به يې ژړل چې آخر د ډيرې ژړا په وجه يې د سترګو نظر ختم شو . (۳)

## د علي بن بَکّار رَحِمَهُ اللهُ يَره

۱ : علي بن بَکّار رَحِمَهُ اللهُ د الله تعالی د ويرې دومره ژړل چې آخر يې د سترګو نظر ختم شو ، او د ډيرې ژړا په وجه اُوښکو دده په مخ باندې دوه کرښې جوړې کړې وی . (۴)

۲ . دوريځ په تيريدو سره يريدل : ابوزکريا خَلقاني وايي چې مونږ د علي بن بَکّار رَحِمَهُ اللهُ سره ناست وو ، په دې وخت کې پاس په آسمان کې وريځ تيريده نو ما دده نه د يو څيز په باره کې پوښتنه اوکړه ، ده راته وويل :

---

(۱) قَالَ عَطَاءُ الْخَفَّافُ: مَا لَقِيتُ سُفْيَانَ إِلَّا بَاكِيًا فَقُلْتُ: مَا شَأْنُكَ؟ قَالَ: أَتَخَوَّفُ أَنْ أَكُونَ فِي أُمِّ الْكِتَابِ شَقِيًّا. سير اعلام النبلاء ج ۶ ص ۶۴۳ سفيان.

(۲) قَالَ ابْنُ مَهْدِيٍّ: كُنْتُ أَرْمُقُ سُفْيَانَ فِي اللَّيْلَةِ بَعْدَ اللَّيْلَةِ يَنْهَضُ مَرْعُوباً يُنَادِي: اَلنَّارَ النَّارَ. شَغَلَنِي ذِكْرُ النَّارِ عَنِ النَّوْمِ وَالشَّهَوَاتِ. سير اعلام النبلاء ج ۶ ص ۶۳۹ سفيان.

(۳) قَالَ عُمَرُ بنُ عَلَّك : مَاتَ مُحَمَّدُ بنُ إِسْمَاعِيلَ وَلَمْ يُخَلِّفْ بِخُرَاسَانَ مِثْلَ أَبِي عِيسَى التِّرْمِذِيِّ فِي العِلْمِ وَالزُّهْدِ وَالوَرَعِ. بَكَى حَتَّى عَمِيَ. سير اعلام النبلاء ج ۱۲ ص ۳۶۴ ، تذكرة الحفاظ ج ۲ ص ۶۳۴ ، تهذيب التهذيب ج ۹ ص ۳۸۹ . صلاح الامة في علو الهمة ج ۵ ص ۵۲۹ علو الهمة في الخوف والرجاء .

(۴) قَالَ يُوسُفُ بنُ مُسْلِمٍ: بَكَى عَلِيُّ بنُ بَكَّارٍ حَتَّى عَمِيَ، وَكَانَ قَدْ أَثَّرَتِ الدُّمُوعُ فِي خَدِّهِ. سير اعلام النبلاء ج ۸ ص ۲۳۴ علي بن بكار . صلاح الامة في علو الهمة ج ۵ ص ۵۲۹ علو الهمة في الخوف والرجاء .

Scanned with CamScanner

أُسْكُتْ حَتَّى تَجُوزَ هٰذِهِ السَّحَابَةُ ، أَمَا تَخْشَى أَنْ يَكُونَ فِيهَا حِجَارَةٌ تُرْمَى بِهَا .
چُپ شه تر دې چې دا وریځ تېره شي ، آیا ته ویرېږې نه کیدې شي په دې وریځ کې کانړي وي او مونږ وریاندې اُوویشتلې شو؟ (۱)

## د سَرِيّ سقطي رَحِمَهُ اللهُ یَره

سَرِيّ سقطي رَحِمَهُ اللهُ به فرمایل :
إِنِّي لَأَنْظُرُ إِلَى أَنْفِي كُلَّ يَوْمٍ مِرَارًا مَخَافَةَ أَنْ يَكُونَ وَجْهِي قَدِ اسْوَدَّ .
بیشکه زه په هره ورځ خپلې پُوزې ته څو پیرې خامخا گورم څکه ما سره دا یَره وي چې چیرته مخ مې تُور شوې نه وي . (۲)

## د فضیل رَحِمَهُ اللهُ یَره

یو ځل په فضیل رَحِمَهُ اللهُ باندې یَره دومره غالبه شوه چې هیبت واخیست او روان وُ ، چا ورنه پوښتنه اوکړه : إِلَى أَيْنَ؟ چیرته روان یې؟
ده ورته ووېل : لَا أَدْرِي . ماته پته نشته .
حالانکه د ډیرې یَرې په وجه سَرگردانه روان وُ . (۳)

## د یو شپونکي د الله ﷻ نه یَره

یو ځل حضرت عبد الله بن عمر رَضِيَ اللهُ عَنْهُمَا د مدینې مَنورې اَطرافو ته په سفر باندې اُووت ،

---

(۱) قَالَ أَبُو زَكَرِيَّا الْخَلْقَانِيُّ الْهَمْدَانِيُّ : كُنَّا عِنْدَ عَلِيِّ بْنِ بَكَّارٍ رَحِمَهُ اللهُ فَمَرَّتْ سَحَابَةٌ فَسَأَلْتُهُ عَنْ شَيْءٍ فَقَالَ لِي : أُسْكُتْ حَتَّى تَجُوزَ هٰذِهِ السَّحَابَةُ . أَمَا تَخْشَى أَنْ يَكُونَ فِيهَا حِجَارَةٌ تُرْمَى بِهَا . شعب الایمان ج ۲ ص ۳۱۳ رقم ۹۶۶ الخوف من الله تعالى .

(۲) حلية الأولياء وطبقات الأصفياء ج ۱۰ ص ۱۱۶ السَّرِيُّ السَّقَطِيُّ . شعب الايمان ج۲ ص ۲۸۲ رقم ۸۹۱ الخوف من الله تعالى . سیر اعلام النبلاء ج۹ ص ۵۳۳ السَّرِيُّ بنُ الْمُغَلِّسِ السَّقَطِي . احياء علوم الدين ج ۴ ص ۱۸۵ بيان أحوال الأنبياء والملائكة عليهم الصلاة والسلام في الخوف .

(۳) وروي الفضيل يوماً وهو يمشي فقيل له : إِلَى أَيْنَ؟ قال : لَا أَدْرِي . وكان يمشي والهاً من الخوف . احياء علوم الدين ج ۴ ص ۱۸۷ بيان أحوال الأنبياء والملائكة عليهم الصلاة والسلام في الخوف .

Scanned with CamScanner

څه نور ملګري هم ورسره وو، په يو ځاى کې کيناستل، دَسترخوان يې د خوراک د پاره خُور کړو، خوراک ته کيناستل، په دې دَروان کې په دوى باندې يو شپونکې تېر شو (چې ګډې چيلى يې څرولى)، په دوى يې سلام واچول.

عبدالله بن عمر رضي الله عنهما ورته د سلام جواب ورکولو نه پس اوفرمايل:

اې شپونکيه! دلته راشه، د مونږ سره روټئ اُوخوره. هغه ورته ووېل: زما روژه ده.

ابن عمر رضي الله عنهما ورته اوفرمايل: آيا ته په دې سخته ګرمئ کې په دې غرونو کې رژوه نيسى حالانکه ته خو ګډې څروى؟

شپونکي ورته ووېل: آو، زه د تيرو ورځو تلافي راګرځوم. (يعنى کومې ورځې چې رانه فضول تېرې شوي د هغې تلافي راګرځوم).

ابن عمر رضي الله عنهما د شپونکي تقوى او پرهيزګارئ معلومولو د پاره ورته ووېل:

فَهَلْ لَكَ أَنْ تَبِيْعَنَا شَاةً مِنْ غَنَمِكَ هٰذِهٖ فَنُعْطِيَكَ ثَمَنَهَا وَنُعْطِيَكَ مِنْ لَحْمِهَا فَتُفْطِرَ عَلَيْهِ؟

آيا ته په مونږ باندې يوه ګډه خرڅوى نه؟ مونږ به تاته ددې قيمت درکړو او غوښه به يې هم درکړو، ته به پرې مابنام روژه ماته کړې.

شپونکي ورته ووېل: إِنَّهَا لَيْسَتْ لِيْ بِغَنَمٍ، إِنَّهَا غَنَمُ سَيِّدِيْ.

دا ګډې زما ندي بلکه دا زما د مالک ګډې دي.

ابن عمر رضي الله عنهما (دده تقوى معلومولو د پاره) ورته ووېل:

که ته خپل مالک ته اووايې چې هغه لېوه خوړلې ده نو هغه به تاته څه اووايي؟

شپونکي چې دا خبره واوريده نو دده نه روان شو، خپله ګُته يې آسمان طرف ته اُوچته کړې وه او په تللو کې يې دا ويل:

أَيْنَ اللهُ؟ نو الله چيرته دى؟

(مقصد يې دا ؤ چې که مالک مې نشته نو الله تعالى خو مې ګوري، هغه خو چيرته ندې تللى).

(د شپونکي د تللو نه روستو) عبدالله بن عمر رضي الله عنهما به باربار دا ويل:

قَالَ الرَّاعِيْ: فَأَيْنَ اللهُ؟

Scanned with CamScanner

شپونکي وويل: (چې که مالک مې نشته) نو بيا الله چيرته دى؟

عبدالله بن عمر رضي الله عنهما چې کله مدينې منوّرې ته واپس راغی نو دا شپونکی چې د کوم مالک وُ هغه ته يې جواب ور اُوليږل ، د هغه نه يې دا تولې ګډې چيلۍ او شپونکی په قيمت باندې واخيستل ، بيا يې دا شپونکې آزاد کړو ، او داګډې چيلۍ يې تولې هغه ته ورکړې. (۱)

## د عطاء سليمي رحمه الله يره

عطاء سَليمي رحمه الله به چې کله د شپې تهجدو ته راپاڅيد نو د سختې يَرې په حالت کې به يې د خپل وجود په آندامونو باندې لاسونه وهل، چې چيرته مَسخ شوي خو نه يم؟ (۲)

---

(۱) عَنْ نَافِعٍ ، قَالَ : خَرَجَ ابْنُ عُمَرَ رَضِيَ اللهُ عَنْهُمَا فِي بَعْضِ نَوَاحِي الْمَدِينَةِ وَمَعَهُ أَصْحَابٌ لَهُ ، وَوَضَعُوا سُفْرَةً لَهُ، فَمَرَّ بِهِمْ رَاعِي غَنَمٍ، قَالَ : فَسَلَّمَ، فَقَالَ ابْنُ عُمَرَ: "هَلُمَّ يَا رَاعِي، هَلُمَّ ، فَأَصِبْ مِنْ هٰذِهِ السُّفْرَةِ". فَقَالَ لَهُ: إِنِّي صَائِمٌ، فَقَالَ ابْنُ عُمَرَ: "أَتَصُومُ فِي مِثْلِ هٰذَا الْيَوْمِ الْحَارِّ شَدِيدٍ سَمُومُهُ وَأَنْتَ فِي هٰذِهِ الْجِبَالِ تَرْعَى هٰذَا الْغَنَمَ؟" فَقَالَ لَهُ: أَيْ وَاللهِ أُبَادِرُ أَيَّامِي الْخَالِيَةَ. فَقَالَ لَهُ ابْنُ عُمَرَ وَهُوَ يُرِيدُ يَخْتَبِرُ وَرَعَهُ : "فَهَلْ لَكَ أَنْ تَبِيعَنَا شَاةً مِنْ غَنَمِكَ هٰذِهِ فَنُعْطِيكَ ثَمَنَهَا وَنُعْطِيكَ مِنْ لَحْمِهَا فَتُفْطِرَ عَلَيْهِ؟" فَقَالَ: إِنَّهَا لَيْسَتْ لِي بِغَنَمٍ، إِنَّهَا غَنَمُ سَيِّدِي ، فَقَالَ لَهُ ابْنُ عُمَرَ رَضِيَ اللهُ عَنْهُمَا : "فَمَا عَسَى سَيِّدُكَ فَاعِلًا إِذَا فَقَدَهَا، فَقُلْتَ: أَكَلَهَا الذِّئْبُ" فَوَلَّى الرَّاعِي عَنْهُ وَهُوَ رَافِعٌ أُصْبُعَهُ إِلَى السَّمَاءِ وَهُوَ يَقُولُ: أَيْنَ اللهُ ؟ قَالَ: فَجَعَلَ ابْنُ عُمَرَ يُرَدِّدُ قَوْلَ الرَّاعِي وَهُوَ يَقُولُ: قَالَ الرَّاعِي : فَأَيْنَ اللهُ ؟ قَالَ : فَلَمَّا قَدِمَ الْمَدِينَةَ بَعَثَ إِلَى مَوْلَاهُ فَاشْتَرَى مِنْهُ الْغَنَمَ وَالرَّاعِيَ فَأَعْتَقَ الرَّاعِيَ، وَوَهَبَ لَهُ الْغَنَمَ. شعب الايمان ج ۷ ص ۲۲۳ رقم ۴۹۰۸ الأمانات وما يجب من ادائها أهلها . و ج ۱۱ ص ۱۰۲ حق السادة على المماليک . صفة الصفوة ج ۱ ص ۴۰۲ ذكر المصطفين من عباد المدينة اللذين لم تعرف أسماؤهم عابد من رعاة المدينة ، احياء علوم الدين ج ۴ ص ۳۹۸ كتاب المراقبة والمحاسبة .

عَنْ عَبْدِ اللهِ بنِ دِينَارٍ، قَالَ: خَرَجْتُ مَعَ ابنِ عُمَرَ رَضِيَ اللهُ عَنْهُمَا إِلَى مَكَّةَ فَعرَّسنَا، فَانحَدَرَ عَلَيْنَا رَاعٍ مِنْ جَبَلٍ، فَقَالَ لَهُ ابنُ عُمَرَ رَضِيَ اللهُ عَنْهُمَا : أَرَاعٍ؟ قَالَ: نَعَمْ، قَالَ: بِعْنِيْ شَاةً مِنَ الغَنَمِ، قَالَ: إِنِّيْ مَمْلُوْكٌ، قَالَ: قُلْ لِسَيِّدِكَ: أَكَلَهَا الذِّئْبُ. قَالَ: فَأَيْنَ اللهُ عَزَّ وَجَلَّ؟ قَالَ ابنُ عُمَرَ رَضِيَ اللهُ عَنْهُمَا : فَأَيْنَ اللهُ! ثُمَّ بَكَى، ثُمَّ اشتَرَاهُ بَعْدُ، فَأَعْتَقَهُ. سير أعلام النبلاء ج ۳ ص ۳۱۰ عبد الله بن عمر رضي الله عنهما.

(۲) عَنْ إِبْرَاهِيمَ بنِ أَدْهَمَ قَالَ : كَانَ عَطَاءٌ السَّلِيمِيُّ إِذَا انْتَبَهَ فِي جَوْفِ اللَّيْلِ يَضْرِبُ بِيَدِهِ فَزِعًا إِلَى أَعْضَائِهِ يَحُسُّهَا مَخَافَةَ أَنْ تَكُونَ قَدْ غُيِّرَ خِلْقَتُهُ . شعب الايمان ج ۲ ص ۲۸۲ رقم ۸۹۳ الخوف من الله تعالى .

## د سعيد بن عبدالعزيز رَحِمَهُ اللَّهُ يَره

سعيد بن عبدالعزيز رَحِمَهُ اللَّهُ به چې په مانځه باندې اُودرېد او د جهنم يا د الله د عذاب آيتونه به يې تلاوت کړل نو دومره به يې ژړل چې د سترګو نه به کومې اُوښکې په زمکه باندې غورځيدې د هغې آواز به اَوريدې شو.(۱)

## د علي بن الحسين رَحِمَهُ اللَّهُ يَره

علي بن حسين رحمه الله به چې کله اَودس اوکړو نو د اَودس او مونځ په مينځ مينځ کې به ورباندې رَپېدل او يَره راغله، چا ورنه پوښتنه اوکړه چې ددې څه وجه ده؟

ده ورته وويل: وَيْحَكُمْ أَتَدْرُوْنَ إِلَى مَنْ أَقُوْمُ، وَمَنْ أُرِيْدُ أَنْ أُنَاجِيَ.

تعجب دې په تاسو باندې، آيا تاسو نه پوهيږئ چې زه اوس د چا وړاندې (په مانځه کې) اُودريږم؟ او د چا سره د مُناجات اِراده لرم؟

( يعنى د الله ﷻ د وړاندې اُودريږم، او د هغه سره خبرې کوم نو ځکه راباندې يَره راغله ).(۲)

---

(۱) قَالَ أَبُو النَّضْرِ إِسْحَاقُ بنُ إِبْرَاهِيْمَ: كُنْتُ أَسْمَعُ وَقْعَ دُمُوْعِ سَعِيْدِ بْنِ عَبْدِ العَزِيْزِ عَلَى الحَصِيْرِ فِي الصَّلاَةِ.
قَالَ أَبُو عَبْدِ الرَّحْمَنِ الأَسَدِيُّ: قُلْتُ لِسَعِيْدِ بنِ عَبْدِ العَزِيْزِ: مَا هَذَا البُكَاءُ الَّذِي يَعْرِضُ لَكَ فِي الصَّلاَةِ؟
فَقَالَ: يَا ابْنَ أَخِي! وَمَا سُؤَالُكَ عَنْ ذَلِكَ؟ قُلْتُ: لَعَلَّ اللهَ أَنْ يَنْفَعَنِي بِهِ. فَقَالَ: مَا قُمْتُ إِلَى صَلاَةٍ إِلاَّ مُثِّلَتْ لِي جَهَنَّمُ. سير اعلام النبلاء ج ۷ ص ۱۴۱ سعيد بن عبد العزيز

(۲) كَانَ عَلِيُّ بْنُ الْحُسَيْنِ إِذَا فَرَغَ مِنْ وُضُوئِهِ لِلصَّلَاةِ وَصَارَ بَيْنَ وُضُوئِهِ وَصَلَاتِهِ أَخَذَتْهُ رِعْدَةٌ وَنَفْضَةٌ. فَقِيلَ لَهُ فِي ذَلِكَ، فَقَالَ: وَيْحَكُمْ أَتَدْرُوْنَ إِلَى مَنْ أَقُوْمُ، وَمَنْ أُرِيْدُ أَنْ أُنَاجِيَ. حلية الأولياء وطبقات الأصفياء ۳ /۱۳۳ زَيْنُ العَابِدِينَ عَلِيُّ بْنُ الحُسَيْنِ طبع دار الفكر بيروت. سير اعلام النبلاء ۳ / ۳۹۲ . احياء علوم الدين ج ۴ ص ۱۸۴ بيان احوال الأنبياء والملائكة عليهم الصلاة والسلام في الخوف.

وبعضهم ينفتل من صلاته متغير اللون لقيامه بين يدي الله عز وجل . وبعضهم إذا كان في الصلاة لايعرف من على يمينه وشماله . وكان سعيد التنوخي إذا صلى لم تنقطع الدموع من خديه على لحيته . ۳۲ سببا للخشوع في الصلاة.

Scanned with CamScanner

## د عبدالله بن مبارك رَحِمَهُ اللَّهُ يَره

عبدالله بن مبارك رَحِمَهُ اللَّهُ لوي عالِم ، مجاهد او بزرګ ؤ ، په احاديثو کښې يې پوره مهارت لرو ، خو ددې باوجود په کښې ډيره يَره وه .

دده په باره کښې راځي چې کله دا وفات کيدو نو شاګردان ورسره ناست وو ، ده په آخري وخت کښې شاګردانو ته ووئيل : ما د کټ نه ښکته کړئ او په زمکه مې واچوئ .

شاګردان يې حيران شو ځکه په زمکه باندې څه قالين وغيره نه وه صرف خاوره وه ، کله چې ده اُوليدل چې شاګردانو يې په حکم منلو کښې لږ تاخير اوکړو نو دوباره يې ورته ووئيل : ما ښکته په خاورو باندې په زمکه واچوئ .

کله چې شاګردانو په زمکه واچول نو خپله ګيره يې په لاس کښې اُونيوه ، خپل مخ يې په خاورو باندې مږل ، او په ژړا ژړا کښې يې دا ويل :

اې الله ! د عبدالله په بُوډاوالي باندې رحم اوکړه .

## د اسماعيل زَنګي بادشاه د الله ﷻ نه يَره

اسماعيل زنګي رَحِمَهُ اللَّهُ د " حلب " بادشاه ؤ ، نورلس (۱۹) کاله عُمر يې ؤ ، ټول بادشاهي تول اختيارات ورسره وو ، يو ځل وريانديِ د قولنج ( د ګيډې او کولمو ) سخت دَرد راغی ، دا ډير خطرناک درد وي ، شاهي طبيب يې د علاج د پاره راأوغوښت .

طبيب ورته ووئيل : ستا علاج په دې کښې دی چې يو څو ګوټه شراب اُوڅکه نو دا دَرد به دې ختم شي ګني ددينه ستا د مرګ خطره شته .

اسماعيل زنګي رَحِمَهُ اللَّهُ د مرګ په بستره باندې پروت ؤ او ډاکټر ورته د علاج د پاره شراب اُوخود خو ليکن ده بيا هم سمدست شراب څکل خوښ نه کړل ، بلکه علماء يې راأوغوښتل ، علماؤ ته يې ووئيل :

اې علماؤ ! تاسو ما ګورئ چې ددې دَرد په وجه زه د مرګ په بستره پروت يم ، هيڅ پته نه لږي چې مرګ کله راځي ، خو طبيبانو راته د علاج د پاره يو څو غړَپه شراب څکل خودلي ، نو آيا اسلامي شريعت ماته ددې اجازت راکوی چې زه يو څو ګوټه شراب د علاج د پاره اُوڅکم ؟

Scanned with CamScanner

علماؤ ورته ووېل : د سخت مجبوريت په وخت د ضرورت په مقدار مرداره خوراک هم جائز ده ، الله تعالی فرمايي :

﴿ فَمَنِ اضْطُرَّ غَيْرَ بَاغٍ وَّلَا عَادٍ فَلَآ اِثْمَ عَلَيْهِ ۚ اِنَّ اللّٰهَ غَفُوْرٌ رَّحِيْمٌ ﴾.(۱)

ترجمه : پس څوک چې مجبور شي (او) دا سرکشي کوونکی او حد نه تيريدونکې نه وي نو په ده باندې (د مردارې په خوړلو کې) څه ګناه نشته ، بيشکه الله تعالی بخونکې مهربان دی .

علماؤ ورته ووېل : لهذا ته يو څو ګوټه شراب د علاج د پاره اُوڅکه ، بيا د الله تعالی نه معافي غواړه .

چې کله ورته علماؤ مسئله بيان کړه نو د طبيبانو نه يې بيا پوښتنه اوکړه :
دا راته اُووايئ چې که زه دا شراب اُوڅکم نو آيا دا دَرد به يقيني ختم شي ؟

هغوی ورته ووېل : نه ، دا يقيني نده ، بلکه دا صرف علاج دی ، کيدې شي چې دې سره دَرد ختم شي ، او دا هم کيدې شي چې دَرد ختم نشي .

اسماعيل زنګي رَحِمَهُ اللهُ اګر چې په سخت دَرد کې مبتلاء ؤ او لږ شراب څکل ورته د علاج د پاره جائزوو خو بيا يې هم طبيبانو او علماؤ ته ووېل :

اې علماؤ او طبيبانو ! آيا ستاسو دا خوښه ده چې زه د خپل رب په حضور کې په داسې حالت کې پيش شم چې زما د خُلې نه د شرابو بُوئی ځي ؟ دا تکليف او مرګ مې خوښ دی خو شراب څکل مې ندي خوښ .

بيا دا بادشاه د همدې قولنج دَرد د لاسه وفات شو .

سبحان الله . د نورلس (۱۹) کلن ځوان بادشاه په زړه کې د الله تعالی نه دومره يَره وه چې د سخت مجبوريت باوجود يې دَرد او مرګ خوښ کړل خو ليکن د علاج د پاره يې هم يو څو ګوټه شراب څکل خوښ نه کړل .

(۱) پوره آيت داسې دی : ﴿ اِنَّمَا حَرَّمَ عَلَيْكُمُ الْمَيْتَةَ وَالدَّمَ وَلَحْمَ الْخِنْزِيْرِ وَمَآ اُهِلَّ بِهٖ لِغَيْرِ اللّٰهِ ۚ فَمَنِ اضْطُرَّ غَيْرَ بَاغٍ وَّلَا عَادٍ فَلَآ اِثْمَ عَلَيْهِ ۚ اِنَّ اللّٰهَ غَفُوْرٌ رَّحِيْمٌ ﴾ . البقرة آية ۱۷۳ .

Scanned with CamScanner

# د بني اسرائیلو د یو بادشاه د ځوي د الله ﷻ نه یَره

په بني اسرائیلو کې یو بادشاه ؤ ، هغه ته الله تعالی اُوږد عُمر ، ډیر مال او ډیر بچي ورکړي وو ، د هغه په نارینه بچو کې دا عادت ؤ چې کله به بالغ شو نو د الله تعالی یَره به وریاندې دومره غالبه شوه چې د ویښتانو نه جوړ شوي ( د هغه وخت د صوفیانو ) لباس به یې واغوست ، غرونو ته به لاړل ، هلته به یې د اُونو په پاڼرو خوړلو باندې ګزاره کوله ( او د الله تعالی عبادت به یې کولو ) تر دې چې هملته به وفات شو . تولو نارینه بچو یې همداسې کار اوکړو . آخر دا بادشاه بُوډا شو ، په دې بُوډاوالي کې ورته الله تعالی بل ځوي ورکړو ، نو ده د خپل قوم مشران کسان رااوغوښتل ، او ورته وې ویل :

ماته په دې بُوډاوالي کې الله تعالی بل ځوي پیدا راکړو ، او تاسو ته پته ده چې زه ستاسو خېرخواه او په تاسو مهربان یم ، ما سره دا یَره ده چې که دا هلک غټ شي نو دا به هم د خپلو نورو ورونو په نقشِ قدم لاړ شي ، او ما سره دا یَره هم ده چې که په تاسو باندې زما څوک بچې بادشاه نشي نو تاسو به هلاک شئ ، لهذا تاسو دا په همدې وړوکوالي کې کنټرول کړئ ، ده په زړه کې د دُنیا محبت پیدا کړئ ، اُمید دی چې دا به په تاسو باندې بادشاه جوړ شي .

نو دې قوم ددې بادشاه د کور نه ګیرچاپېره د یو فرسخ ( درې میله ) په اندازه باندې اُوچت دیوال تاؤ کړو ، او په دې کې یې دننه د دُنیا هرِ قسمه سهولیات برابر کړل . په دې کې به ددې هلک تربیت کیدو .

کله چې دا هلک راغټ شو نو یوه ورځ په آس باندې سُور شو ، او داسې ... خپل ځای کې ګرځیدو آخر یې یو غټ دیوال اُولید چې ګیر چاپېره تاؤ شوې ؤ خو هیچرته په کې دروازه نه وه . نو ده دې خدمت ګارانو ته وویل :

إِنِّي أَحْسِبُ أَنَّ خَلْفَ هَذَا الْحَائِطِ نَاسًا وَعَالَمًا آخَرَ فَأَخْرِجُونِي أَزْدَدْ عِلْمًا وَأَلْقَ النَّاسَ .

زما دا ګمان دی چې ددې دیوال شاته نور خلق او یو بل عالَم دی پس تاسو ما ددینه اُوباسئ چې په دې سره به زما په عِلم کې اِضافه هم اوشي او د نورو خلقو سره به مې ملاقات هم اوشي .

خادمانو دا خبره دده بادشاه ته اوکړه، بادشاه چې دا خبره واورېده نو هغه اُوېرېد چې چېرته دا هم د خپلو نورو ورونړو په لار لاړ نشي، نو خادمانو ته يې حکم اوکړو :
ده ته هر قِسم د زړه خوشحالولو شيان راجمع کړئ، نو خادمانو د دُنيا هر قِسمه د لهو و لعب او تماشو شيان دده مخې ته راجمع کړل. (وخت همداسې تيرېدو).
په دويم کال باندې بيا دا هلک په آس باندې سور شو ، چکر يې لږول نو غټ ديوال يې اُوليد ، دده دې خادمانو ته ووېل : اوس به خامخا د ديوال نه بهر اُووځم.
خادمانو ددې خبرې اِطلاع بادشاه ته ورکړه ، هغه ورته ووېل : د ديوال نه بهر چکر ورکړئ. نو په جَلتي سره د وتلو انتظام اوشو ، په سَر باندې ورته د زَبرجدو او سروزرو نه جوړ شوې تاج کيښودې شو ، ګېر چاپېره ورنه خادمان روان شو ، د ديوال نه بهر ښار طرف ته اُووت ، په لاره کې يې په يو غَم زده (بيمار) کس باندې نظر اُولږېد ، د خپلو خادمانو نه يې پوښتنه اوکړه : مَا هَذَا؟ دا څوک دی؟
خادمانو ورته ووېل : دا غم زده (بيمار) دی. ده ورنه پوښتنه اوکړه : آيا په هر چا باندې دا بيماري راځي او که په بعضې بعضې کسانو راځي؟ خادمانو ورته ووېل : په هر چا باندې راځي . ده ورته ووېل : آيا زما غوندې شهزاده باندې هم دا بيماري راځي؟ هغوی ورته ووېل : آو . نو ده ووېل :

أُفٍّ لعيشكم هذا ! هذا عيش كدر .
افسوس ستاسو په دې (عياشي واله) ژوند باندې ، دا خو د خطرو واله ژوند دی.
نو دا شهزاده واپس خپل کور ته غَمجَن او خفه لاړ.

خادمانو بادشاه ته دا خبره اوکړه نو هغه ووېل : دا بيا په هر قِسمه لهو و لعب او دُنيوي تماشو کې مشغول کړئ چې دا غم يې د زړه نه اُووځي . خادمانو همداسې اوکړل.
په دې کې يو کال تېر شو ، يو کال پس ده بيا خادمانو ته ووېل : ما ددې ديوالونو نه بهر اُوباسئ . هغوی بيا د مخکيني په شان په ډېر شان و شوکت کې بهر اُوويست.
سفر يې کولو ، په لاره کې يې په يو بُوډا سړي باندې نظر پرېوت چې د ډېر بُوډالي په وجه يې د خُلې نه لاړې روانې وې.

ده د خپلو خادمانو نه پوښتنه اوکړه : دا ولې ؟ هغوی ورته وويل : دا بُوډا شوې دی . ده ورته وويل : آيا هر کس داسې بُوډا کيږي او که بعضې کسان بوډا کيږي ؟ هغوی ورته وويل : هر کس دغه شان بُوډا کيږي . ده ورته وويل :

افسوس ستاسو په دې عياشۍ واله ژوند باندې په دې کې خو هر چاته دا خطره شته .

خادمانو بادشاه ته دا خبره اوکړه ، بادشاه ورته وويل : ده ته د زړه خوشحالولو هر قِسمه دُنيوي لهو و لعب راجمع کړئ . خادمانو همدغه شان اوکړل .

يو کال پس دا شهزاده بيا په آس باندې سور شو او بهر أووت ، په لاره کې يې څه خلق أوليدل چې د مړي جنازه يې روانه کړې وه ، ده د خادمانو نه پوښتنه اوکړه :

دا په ده څه شوي ؟ هغوی ورته وويل : دا يو کس مَړ شوې دی .

ده هغه خلقو ته وويل : مرګ څه شي ته وايي ؟ تاسو دا مړې ماته رانزدې کړئ .

کله چې خلقو ورته مړې رانزدې کړو نو ده هغه خلقو ته وويل : دا راکينوئ .

هغوی ورته وويل : دا نشي راکيناستې . ده ورته وويل : دده سره خبرې اوکړئ .

هغوی ورته وويل : دا خبرې نشي کولی .

ده ورته وويل : دا چيرته وړئ ؟ . هغوی ورته وويل : دا دَفن کولو ته وړو .

ده ورته وويل : ددينه پس به څه وي ؟ هغوی ورته وويل : بيا به حشر (دوباره ژوند) وي . ده ورته وويل : حشر چاته وايي ؟ هغوی ورته وويل :

{ يَوْمَ يَقُومُ النَّاسُ لِرَبِّ الْعَالَمِينَ } .(۱)

ترجمه : په کومه ورځ به چې ټول خلق د رَبّ العالمين د وړاندې أودريږي .

او هر کس ته به د خپلو نېکو او بدو اعمالو بدله ورکولې شي .

ده د هغه خلقو نه پوښتنه اوکړه : آيا ستاسو د پاره ددې جهان نه علاوه بل جهان شته چې په هغې کې تاسو ته د نېکو او بدو اعمالو بدله درکولې شي ؟

هغوی ورته وويل : آو .

نو شهزاده د خپل آس نه لاندې راأوغورځيد ، خپل مخ يې په خاورو کې مږلو ، او خادمانو ته يې وويل :

---

(۱) المطففين آية ٦ .

Scanned with CamScanner

مِنْ هَذَا كُنْتُ أَخْشَى ، كَادَ هَذَا يَأْتِي عَلَيَّ وَأَنَا لَا أَعْلَمُ بِهِ . أَمَا وَرَبِّ يعطي ويحشر ويجازي !
إِنَّ هَذَا آخِرُ الْعَهْدِ بَيْنِي وَبَيْنَكُمْ فَلَا سَبِيلَ لَكُمْ عَلَيَّ بَعْدَ هَذَا الْيَوْمِ .

د همدې نه خو زه ويريدم ، قريبه وه چې دا د محشر ورځ په ما باندې راغلې وی او زه به د دينه خبر هم نه ووم . قسم په هغه ذات باندې چې هغه مخلوقاتو ته رزق ورکوي ، هغه به دوباره ژوند راولي او هغه به خلقو ته د اعمالو بدله ورکوي چې دا زما او ستاسو په مينځ کې آخري ملاقات دی ، د نن نه پس ستاسو په ما باندې کنټرول نشته .

خادمانو ورته وويل : مونږ تا همداسې نه پريږدو چې تر څو مو بادشاه ته نه يې واپس کړی . نو بادشاه ته يې وَروست ، هغه ورنه پوښتنه اوکړه :

اې بچيه ! ولې دومره خفه يې ؟ ده ورته وويل : زما خفګان د هغه ورځې د وجې دی چې په هغې کې به وړو او غټو ته د نيکو او بدو اعمالو بدله ورکولې شي .

بيا دې شهزاده اراده اوکړه چې زه به د شپې د دې شاهي محل نه اُوځم . چې کله نيمه شپه شوه د صوفيانو کپړې يې واغوستې ، څه دُعاګانې يې اُوغوښتې او د شاهي محل نه بهر اُووت .

( د نورو ورونو په شان دا هم غرونو ته لاړ ، او هلته عبادت طرف ته متوجه شو ) .(۱)

(۱) كان رجل من ملوك بني إسرائيل قد أعطي طول عمر وكثرة أموال وكثرة أولاد . وكان أولاده إذا كبر أحدهم لبس ثياب الشعر ولحق بالجبال وأكل من الشجر وساح في الأرض حتى يأتيه الموت . ففعل ذلك جماعتهم رجل بعد رجل ثم تتابع بنوه على ذلك . وأصاب ولدا بعد كبر . فدعا قومه . فقال : إني قد أصبتُ ولدا بعد ما كبرت وترون شفقتي عليكم وإني أخاف أن يتبع هذا سنة إخوته وأنا أخاف عليكم إن لم يكن عليكم أحد من ولدي بعدي أن تهلكوا فخذوه الآن في صغر سنه فحببوا إليه الدنيا فعسى أن يبقى من بعدكم عليكم . فبنوا له حائطا فرسخا في فرسخ فكان فيه دهرا من دهره . ثم ركب يوما فإذا عليه حائط مصمت . فقال : إني أحسب أن خلف هذا الحائط ناسا وعالما آخر فأخرجوني أزدد علما وألقَ الناس . فقيل ذلك لأبيه . ففزع وخشي أن يتبع سنة إخوته . فقال : اجمعوا عليه كل لهو ولعب ففعلوا ذلك . ثم ركب في السنة الثانية فقال: لا بد من الخروج . فأخبر بذلك الشيخ فقال : أخرجوه . فجعل على عجلة وكلل بالزبرجد والذهب وصار حوله حافتان من الناس . فبينما هو يسير إذا هو برجل مبتلى ←←←←←←←

Scanned with CamScanner

سبحان الله، د بادشاه ځوي وُ ، په ډیر ناز و نعمت یې پرورش شوي وُ خو چې د قیامت د ورځې د حساب او کتاب نه خبر شو نو دا هر څه یې پریخودل، او د الله تعالی عبادت طرف ته متوجّه شو.

---

←←← فقال: ما هذا؟ قالوا: رجل مبتلى . فقال: أيصيب ناسا دون ناس أو كل خائف له؟ قالوا: كل خائف له . قال: وأنا فيما أنا فيه من السلطان؟ قالوا: نعم . قال: أف لعيشكم هذا! هذا عيش كدر . فرجع مغموما محزونا. فقيل لأبيه . فقال: انشروا عليه كل لهو وباطل حتى تنزعوا من قلبه هذا الحزن والغم. فلبث حولا ثم قال: أخرجوني . فأخرج على مثل حاله الأول . فبينا هو يسير إذا هو برجل قد هرم ولعابه يسيل من فيه . فقال: ما هذا؟ قالوا: رجل قد هرم . قال: يصيب ناسا دون ناس أو كل خائف له إن هو عمر . قالوا: كل خائف له . قال : أف لعيشكم هذا! هذا عيش لا يصفو لأحد . فأخبر بذلك أبوه فقال: احشروا عليه كل لهو وباطل . فحشروا عليه . فمكث حولا ثم ركب على مثل حاله فبينا هو يسير إذا هو بسرير تحمله الرجال على عواتقها. فقال : ما هذا؟ قالوا : رجل مات. قال لهم: وما الموت؟ إيتوني به . فأتوه به . فقال: أجلسوه فقالوا: إنه لا يجلس . قال: كلموه. قالوا: إنه لا يتكلم . قال: فأين تذهبون به؟ قالوا : ندفنه تحت الثرى. قال: فيكون ماذا بعد هذا؟ قالوا: الحشر . قال: لهم: وما الحشر؟ قالوا: {يَوْمَ يَقُومُ النَّاسُ لِرَبِّ الْعَالَمِينَ} [المطففين آية ٦] فيجزى كل واحد على قدر حسناته وسيئاته . قال: ولكم دار غير هذه تجازون فيها؟ قالوا: نعم . فرمى بنفسه من الفرس وجعل يعفر وجهه في التراب وقال لهم: من هذا كنت أخشى! كاد هذا يأتي علي وأنا لا أعلم به أما ورب يعطي ويحشر ويجازي! إن هذا آخر العهد بيني وبينكم فلا سبيل لكم علي بعد هذا اليوم. فقالوا: لا ندعك حتى نردك إلى أبيك. قال: فردوه إلى أبيه وكاد ينزف دمه فقال : يا بني! ما هذا الجزع؟ قال: جزعي ليوم يعطي فيه الصغير والكبير مجازاتهما ما عملا من الخير والشر. فدعا بثياب فلبسها وقال: إني عازم في الليل أن أخرج . فلما كان في نصف الليل أو قريبا منه خرج . فلما خرج من باب القصر قال : اللهم إني أسألك أمرا ليس لي منه قليل ولا كثير قد سبقت فيه المقادير . إلهي! لوددت أن الماء كان في الماء وأن الطين كان في الطين ولم أنظر بعيني إلى الدنيا نظرة واحدة.

قال بكر بن عبد الله: فهذا رجل خرج من ذنب واحد لا يعلم ماذا عليه فكيف بمن يذنب وهو يعلم ما عليه فيه ولا يتحرج ولا يجزع ولا يتوب!؟ . كتاب التوابين لابن قدامة المقدسي ج١ ص ٢٩ ذِكْرُ التَّوَّابِينَ مِنْ مُلُوكِ الأُمَمِ التَّائِبَةِ توبة ابن ملك من ملوك بني إسرائيل

# د يو فقير په زړه کې د الله ﷻ نه يَره

په هندوستان کې د دهلي جُمات دروازې سره يو معذور فقير ناست وُ ، خلقو به ورسره مدد کولو ، يوه ورځ يو مالدار انګريز د دهلي جُمات کتلو د پاره راغی .

( د دهلي جُمات ته هر قسمه خلق د ليدلو د پاره ورځي ، د هغې د نقش و نګار تماشا کوي، تر دې چې غير مسلمه هم ورځي خو بهر په دَروازه کې ولاړ وي ، دننه نه ورځي ) .

دا انګريز چې دروازې ته راأورسيد نو د جېب نه يې د روپو بَټوه راأوويسته چې دې فقير ته يو څو روپۍ ورکړي. فقير ته يې يو څو روپۍ ورکړی ، جُمات يې أوکتلو ، بيا لاړ.

انګريز چې کور ته لاړ نو ورته معلومه شوه چې د مانه هغه بَټوه غورځيدلې ده ، په دې بَټوه کې ډيرې روپۍ وی ، خو ده ته يقيني دا معلومه نه وه چې دا کوم ځای غورځيدلې ده .

يوه جُمعه پس دا انګريز دوباره د دهلي جُمات کتلو د پاره ورغی ، چې کله د جُمات دروازې ته راأورسيد نو دا معذور فقير ورپاځيد او ورته وې ويل :

يو څو ورځې مخکې ته دلته راغلې وی ، په واپس تللو کې د تانه دلته د روپو بَټوه غورځيدلې وه چونکه ته ډير لرې تللې وی نو هغه ما راخيستې وه ، ما د ځان سره امانت ايخې وه ، اوس ته دا خپله بَټوه واخله.

انګريز چې بَټوه کلاوُ کړه نو ټولې روپۍ په کې هماغه شان پوره وی ، حيران شو چې ده ولې دا بَټوه پَټه نه کړه ؟ نو انګريز ددې فقير نه پوښتنه اوکړه :

دا څه وجه ده چې تا دا بَټوه پټه نکړه ؟ او ددينه دې روپۍ هم ندي کمې کړي ؟

معذور فقير ورته وويل : کله چې ما دا بَټوه راواخيسته نو زما زړه غوښتل چې دا ځان له أوساتم خو ما ته د قيامت ورځ او د الله تعالی مخې ته پيش کيدل راياد شو ځکه د قيامت په ورځ به هر پيغمبر خپل اُمت ته مخکې وي ، او دده قوم به دده پسې شاته روان وي ، نو زما زړه ته دا خبره راغله چې که زه دا بَټوه پټه کړم نو د قيامت په ورځ چې زه د محمدﷺ رسول الله صلی الله عليه وسلم شاته ولاړ يم او ته د حضرت عيسی عليه السلام شاته ولاړ يې نو هسې نه چې حضرت عيسی عليه السلام زمونږ پيغمبر ته ګيله اوکړي چې ستا اُمتي زما د اُمتي نه بَټوه پَټه کړې وه ، نو دا به بيا زما د پاره ډيره د خجالت خبره وي ، او الله ﷻ ته به ددې څه جواب ورکوم ؟ نو ځکه مې تا ته دا بَټوه درواپس کړه.

# د غونډ تقرير خلاصه

ددې غونډ تقرير خلاصه دا راأووته چې مسلمان ته د الله ﷻ د عذاب نه ويرېدل په كار دي ؛ ځكه د الله ﷻ نه ويرېدونكي خلق كامياب دي ، داسې خلقو ته كامل مؤمنان وّيل شوي ، د دوی سره الله تعالی د جنت وعده كړې ، نبي عليه السلام داسې خلقو ته په دُنيا كې د جنت زيرې وركړی .

د الله ﷻ نه ويرېدونكي خلق به په قيامت كې د ويرې او جهنم نه په امن وي ، داسې خلقو ته به الله تعالی د خپل عرش د سيوري لاندې ځای وركوي ، د داسې خلقو گناهونه معاف كوي .

د الله ﷻ نه ويرېدونكو خلقو باندې د خير او حِكمت دروازې خلاصيږي .

لهذا مسلمان ته په كار دي چې د نېكو اعمالو كولو سره سره په زړه كې د الله ﷻ د عذاب نه هم ويرېږي ، بيا خاصكر د آخري خاتمې خرابيدو نه دير ويرېدل په كار دي ؛ ځكه په كوم زړه كې چې د الله تعالی نه ويره نه وي نو هغه خراب دی .

كه مونږ په احاديثو مباركهؤ كې اوگورو نو دا خبره به راته د نمر په شان واضحه شي چې نبي عليه السلام ته هم د الله ﷻ نه د ويرو حكم شوي ؤ ، دغه وجه ده چې د ټولو نه زياته ويره په نبي عليه السلام كې وه ، تردې چې د وريځ په ليدو او سختې هوا په چليدو په وخت به د دوی په رنگ مبارك كې فرق راتلو چې چيرته ددينه عذاب رانازل نشي ، په مانځه باندې به چې أودريد نو دير به يې ژړل .

دغه رنگې په نورو انبياء كرامو كې هم ديره يَره وه ، تر دې چې مقرّبې فرښتې او عامې فرښتې هم د الله تعالی د عذاب نه ديرې ويرېږي .

بيا خاصكر كه مونږ د خپلو صحابه كرامو رضي الله عنهم حالات اوگورو نو د جليلُ القدر صحابهؤ لكه حضرت ابوبكر صديق ﷺ ، حضرت عمر ﷺ ، حضرت عثمان ﷺ ، حضرت علي ﷺ او نورو ديرو صحابه كرامو د الله ﷻ نه د ويريدو بې شماره واقعات ذكر دي .

همدارنگې په اسلامي تاريخ كې د نورو ديرو بزرگانو د الله ﷻ نه د ويريدو واقعات هم ذكر دي ، چې دا ټول زمونږ د پاره د ژوند تيرولو بهترينه نمونه ده .

## دُعا

الله تعالی دې زمونږ په زړونو کې هم دغه شان يَره پیدا کړي.

ربِّ کائنات دې مونږ ته د خپل محبوب پیغمبر محمّدٌ رّسولُ الله صلی الله علیه وسلم او د هغه د صحابه کرامو رضی الله عنهم په نقشِ قدم باندې د تللو توفیق را نصیبه کړي.

پروردګارِ عالم دې زمونږ په زړونو کې داسې يَره پیدا کړي چې د هغې په وجه د ټولو ګناهونو او ناجائزو کارونو نه بچ شو.

الله رب العزت دې مونږ ټولو ته په شریعت باندې اِستقامت او د دِین د خدمت توفیق را کړي.

آمِیْن یَارَبَّ الْعَالَمِیْنَ.

وَآخِرُ دَعْوَانَا أَنِ الْحَمْدُ لِلّٰهِ رَبِّ الْعَالَمِیْنَ

Scanned with CamScanner

بِسْمِ اللّٰهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيْمِ

﴿ اِنَّهٗ لَا يَايْـَٔسُ مِنْ رَّوْحِ اللّٰهِ اِلَّا الْقَوْمُ الْكٰفِرُوْنَ ﴾

يوسف، آية ۸۷.

# د الله جَلَّ جَلَالُهٗ نه بنه اُميد لرل

تاليف

ابُو الشَّمْس مولانا نُورُ الْهُدٰى عُفِيَ عَنْهُ

مُدَرِّس دَارُ العلوم فيض القُرآن اكاخيل كالونی مردان

Scanned with CamScanner

بِسْمِ اللهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيْمِ

# د الله ﷻ نه ښه اُميد لرل

اَلْحَمْدُ لِلّٰهِ وَكَفٰى ، وَسَلَامٌ عَلٰى عِبَادِهِ الَّذِيْنَ اصْطَفٰى .

اَمَّا بَعْدُ فَأَعُوْذُ بِاللهِ مِنَ الشَّيْطٰنِ الرَّجِيْمِ بِسْمِ اللهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيْمِ قَالَ اللهُ تَبَارَكَ وَتَعَالٰى فِي الْقُرْآنِ الْمَجِيْدِ وَالْفُرْقَانِ الْحَمِيْدِ :

﴿ قُلْ يٰعِبَادِيَ الَّذِيْنَ اَسْرَفُوْا عَلٰى اَنْفُسِهِمْ لَا تَقْنَطُوْا مِنْ رَّحْمَةِ اللهِ ۚ اِنَّ اللهَ يَغْفِرُ الذُّنُوْبَ جَمِيْعًا ۚ اِنَّهٗ هُوَ الْغَفُوْرُ الرَّحِيْمُ ﴾.(۱)

وَقَالَ تَعَالٰى : ﴿ اِنَّهٗ لَا يَايْـَٔسُ مِنْ رَّوْحِ اللهِ اِلَّا الْقَوْمُ الْكٰفِرُوْنَ ﴾.(۲)

قَالَ رَسُوْلُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ : يَقُوْلُ اللهُ تَعَالٰى : اَنَا عِنْدَ ظَنِّ عَبْدِيْ بِيْ .... (۳)

وَقَالَ عَلَيْهِ الصَّلَاةُ وَالسَّلَامُ : لَمَّا خَلَقَ اللهُ الْخَلْقَ كَتَبَ فِيْ كِتَابِهٖ وَهُوَ يَكْتُبُ عَلٰى نَفْسِهٖ وَهُوَ وَضْعٌ عِنْدَهٗ عَلَى الْعَرْشِ اِنَّ رَحْمَتِيْ تَغْلِبُ غَضَبِيْ . (۴)

صَدَقَ اللهُ الْعَظِيْم .

---

(۱) الزمر آية ۵۳ .

(۲) يوسف آية ۸۷ .

(۳) پوره حديث داسې دی ؛ عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ رَضِيَ اللهُ عَنْهُ، قَالَ: قَالَ النَّبِيُّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: يَقُوْلُ اللهُ تَعَالَى: أَنَا عِنْدَ ظَنِّ عَبْدِيْ بِيْ ، وَأَنَا مَعَهُ إِذَا ذَكَرَنِيْ ، فَإِنْ ذَكَرَنِيْ فِيْ نَفْسِهِ ذَكَرْتُهُ فِيْ نَفْسِيْ، وَإِنْ ذَكَرَنِيْ فِيْ مَلَإٍ ذَكَرْتُهُ فِيْ مَلَإٍ خَيْرٍ مِنْهُمْ، وَإِنْ تَقَرَّبَ إِلَيَّ بِشِبْرٍ تَقَرَّبْتُ إِلَيْهِ ذِرَاعًا، وَإِنْ تَقَرَّبَ إِلَيَّ ذِرَاعًا تَقَرَّبْتُ إِلَيْهِ بَاعًا. وَإِنْ أَتَانِيْ يَمْشِيْ أَتَيْتُهُ هَرْوَلَةً . صحيح البخاري كِتَابُ التَّوْحِيْدِ بَابُ قَوْلِ اللهِ تَعَالَى: {وَيُحَذِّرُكُمُ اللهُ نَفْسَهُ} رقم الحديث ۷۴۰۵ . ورقم الحديث ۷۵۰۵ بَابُ قَوْلِ اللهِ تَعَالَى: {يُرِيدُونَ أَنْ يُبَدِّلُوا كَلَامَ اللهِ} . صحيح مسلم كتاب الذِّكْرِ وَالدُّعَاءِ وَالتَّوْبَةِ وَالاسْتِغْفَارِ بَابُ الْحَثِّ عَلَى ذِكْرِ اللهِ تَعَالَى رقم الحديث ۲ (۲۶۷۵) . ورقم الحديث ۲۱ (۲۶۷۵) بَابُ فَضْلِ الذِّكْرِ وَالدُّعَاءِ وَالتَّقَرُّبِ إِلَى اللهِ تَعَالَى.

(۴) صحيح البخاري كِتَابُ التَّوْحِيْدِ بَابُ قَوْلِ اللهِ تَعَالَى: {وَيُحَذِّرُكُمُ اللهُ نَفْسَهُ} رقم الحديث ۷۴۰۴ .

Scanned with CamScanner

## د الله ﷻ نه ويريدو سره سره د هغه نه ښه اميد لرل هم په کار دي

زما خوږو قدرمنو او عزت مندو مسلمانانو ورونو ! لکه څرنګې چې د مسلمان د پاره د الله ﷻ د عذاب نه ويريدل په کار دي نو همدغه شان دده د پاره د الله ﷻ نه ښه اُميد لرل او په هغه باندې ښه ګمان کول هم په کار دي .

د الله ﷻ نه ښه ګمان ديته وليې چې : "مسلمان به دا اُميد ساتي چې الله تعالى به په ما باندې رَحم کوي او زما مغفرت به کوي" . (۱)

ځکه دا دواړه په خپل مينځ کې لازم او ملزوم دي ، او دا خبره د قرآن کريم او احاديثو نه ثابته ده :

۱. د قرآن کريم په سورة الأنبياء کې الله تعالى د مخکيني پيغمبرانو تذکره کړې ، بيا فرمايي : ﴿ وَيَدْعُونَنَا رَغَبًا وَرَهَبًا ﴾ . (۲)

ترجمه : او دې پيغمبرانو به مونږ په شوق او ويرې سره بللو .

( يعنى زما د رحمت اُميد به يې ساتل ، او زما د عذاب نه به ويريدل ) . (۳)

۲. بل ځاى فرمايي :

﴿ وَيَرْجُونَ رَحْمَتَهُ وَيَخَافُونَ عَذَابَهُ ﴾ .

---

(۱) قَوْلُهُ سُبْحَانَهُ وَتَعَالَى : أَنَا عِنْدَ ظَنِّ عَبْدِيْ بِيْ . قَالَ الْعُلَمَاءُ مَعْنَى حُسْنِ الظَّنِّ بِاللهِ تَعَالَى أَنْ يَظُنَّ أَنَّهُ يَرْحَمُهُ وَيَعْفُوْ عَنْهُ . شرح النووي على مسلم ( المنهاج شرح صحيح مسلم بن الحجاج ) ج ۱۷ ص ۲۱۰ باب الأمر بحسن الظن بالله تعالى عند الموت .

(۲) ﴿ إِنَّهُمْ كَانُوا يُسَارِعُونَ فِي الْخَيْرَاتِ وَيَدْعُونَنَا رَغَبًا وَرَهَبًا وَكَانُوا لَنَا خَاشِعِينَ ﴾ . الانبياء آية ۹۰ .

(۳) {إِنَّهُمْ} أَيْ مَنْ ذُكِرَ مِنَ الْأَنْبِيَاءِ {كَانُوا يُسَارِعُونَ} يُبَادِرُوْنَ {فِي الْخَيْرَاتِ} الطَّاعَات {وَيَدْعُونَنَا رَغَبًا} فِي رَحْمَتِنَا {وَرَهَبًا} مِنْ عَذَابِنَا {وَكَانُوا لَنَا خَاشِعِينَ} مُتَوَاضِعِيْنَ فِي عِبَادَتِهِمْ . تفسير الجلالين سورة الانبياء آية ۹۰ .

{وَيَدْعُونَنَا رَغَبًا وَرَهَبًا} هٰكَذَا وَهٰكَذَا . وَيُقَالُ يَعْبُدُوْنَنَا رَغَبًا إِلَى الْجَنَّةِ وَرَهَبًا مِنَ النَّارِ . تفسير ابن عباس

Scanned with CamScanner

ترجمه: او دوی د الله تعالی د رحمت أميد لري او دهغه د عذاب نه ويريږي. (١)

٣. الله تعالی د کامل مؤمنانو يو صفت دا هم ذکر کړی:

﴿ يَدْعُونَ رَبَّهُمْ خَوْفًا وَطَمَعًا ﴾. (٢)

ترجمه: دوی خپل رب رابلي په ويره او أميد سره.

٤. الله ربّ العزت عامو مسلمانانو ته حکم کړی:

﴿ وَادْعُوهُ خَوْفًا وَطَمَعًا ﴾. (٣)

ترجمه: او تاسو الله تعالی رابلئ په يَره او أميد سره.

٥. بل ځای فرمايي: ﴿ لَقَدْ كَانَ لَكُمْ فِي رَسُولِ اللَّهِ أُسْوَةٌ حَسَنَةٌ لِّمَن كَانَ يَرْجُو اللَّهَ وَالْيَوْمَ الْآخِرَ وَذَكَرَ اللَّهَ كَثِيرًا ﴾. (٤)

ترجمه: بيشکه ستاسو د پاره د رسول الله (ﷺ) په ذاتِ مبارکه کې ښائسته نمونه موجود ده. د هغه چا د پاره چې د الله او د ورځې د آخرت أميد لري، او الله ډير يادَوي.

٦. حديث قدسي دی، الله تعالی فرمايي:

يَا ابْنَ آدَمَ إِنَّكَ مَا دَعَوْتَنِي وَرَجَوْتَنِي غَفَرْتُ لَكَ عَلَى مَا كَانَ فِيكَ وَلَا أُبَالِي. (٥)

---

(١) ﴿ أُولَٰئِكَ الَّذِينَ يَدْعُونَ يَبْتَغُونَ إِلَىٰ رَبِّهِمُ الْوَسِيلَةَ أَيُّهُمْ أَقْرَبُ وَيَرْجُونَ رَحْمَتَهُ وَيَخَافُونَ عَذَابَهُ ۚ إِنَّ عَذَابَ رَبِّكَ كَانَ مَحْذُورًا ﴾. الاسراء (بني اسرائيل) آية ٥٧.

(٢) ﴿ تَتَجَافَىٰ جُنُوبُهُمْ عَنِ الْمَضَاجِعِ يَدْعُونَ رَبَّهُمْ خَوْفًا وَطَمَعًا وَمِمَّا رَزَقْنَاهُمْ يُنفِقُونَ ﴾. السجدة آية ١٦.

(٣) ﴿ وَلَا تُفْسِدُوا فِي الْأَرْضِ بَعْدَ إِصْلَاحِهَا وَادْعُوهُ خَوْفًا وَطَمَعًا ۚ إِنَّ رَحْمَتَ اللَّهِ قَرِيبٌ مِّنَ الْمُحْسِنِينَ ﴾. الاعراف آية ٥٦.

(٤) الأحزاب آية ٢١

(٥) پوره حديث داسې دی: قَالَ أَنَسُ بْنُ مَالِكٍ رضي الله عنه: سَمِعْتُ رَسُولَ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَقُولُ: قَالَ اللهُ تَبَارَكَ وَتَعَالَى: يَا ابْنَ آدَمَ إِنَّكَ مَا دَعَوْتَنِي وَرَجَوْتَنِي غَفَرْتُ لَكَ عَلَى مَا كَانَ فِيكَ وَلَا أُبَالِي ←←←←

Scanned with CamScanner

اې د آدم ځویه ! تر څو پورې چې ته ما رابلې-او د ما نه اُمید ساتې نو زه به تاته د هغه ګناهونو بخنه کوم په کوم کې چې ته اَخته یې، او زه د هیچا پرواه نه ساتم.

( یعنی که ته هر څومره غټ ګناهګاریې خو ما ته ستا بَخل څه ګران نه دي، او ما نه دد ې څوک تپوس کوونکی هم نشته "چې ګني دا تپوس رانه اوکړي چې ده ته دې دا ګناهونه ولې اوبخل؟ " ).(۱)

## په قرآن کریم او احادیثو کې د یَرې او اُمید مضامین دواړه یو ځای هم ذکر دي

مسلمان به د خَوف او رَجاء ( یعنی د الله تعالی نه د ویریدو او د هغه نه د بښه اُمید لرلو ) په مینځ مینځ کې ژوند تیروي؛ ځکه په قرآن کریم کې په بعضې ځایونو کې په یو آیت کې د ویرې او اُمید دواړه مضامین یو ځای ذکر دي.

همدغه شان په بعضې احادیثو مبارکهٔ کې هم دا دواړه مضامین یو ځای ذکر دي.

---

←←← يَا ابْنَ آدَمَ لَوْ بَلَغَتْ ذُنُوبُكَ عَنَانَ السَّمَاءِ ثُمَّ اسْتَغْفَرْتَنِي غَفَرْتُ لَكَ وَلَا أُبَالِي. يَا ابْنَ آدَمَ إِنَّكَ لَوْ أَتَيْتَنِي بِقُرَابِ الْأَرْضِ خَطَايَا ثُمَّ لَقِيتَنِي لَا تُشْرِكُ بِي شَيْئًا لَأَتَيْتُكَ بِقُرَابِهَا مَغْفِرَةً. سنن الترمذي أَبْوَابُ الدَّعَوَاتِ بَابٌ فِي فَضْلِ التَّوْبَةِ وَالِاسْتِغْفَارِ وَمَا ذُكِرَ مِنْ رَحْمَةِ اللهِ بِعِبَادِهِ رقم الحديث ۳۵۴۰ . مسند احمد مخرجا رقم الحديث ۲۱۴۷۲ ، سنن الدارمي وَمِنْ كِتَابِ الرِّقَاقِ بَابٌ: إِذَا تَقَرَّبَ الْعَبْدُ إِلَى اللهِ تَعَالَى رقم الحديث ۲۸۳۰ ، شعب الايمان رقم الحديث ۱۰۱۱ ، شرح السنة للبغوي رقم الحديث ۱۲۹۲ . مشكاة المصابيح بَابُ الِاسْتِغْفَارِ وَالتَّوْبَةِ الْفَصْلُ الثَّانِي رقم الحديث ۲۳۳۶ (۱۴) .

(۱) ( يَا ابْنَ آدَمَ إِنَّكَ مَا دَعَوْتَنِي وَرَجَوْتَنِي ) : "مَا" مَصْدَرِيَّةٌ ظَرْفِيَّةٌ أَيْ: مَا دُمْتَ تَدْعُونِي وَتَرْجُونِي يَعْنِي فِي مُدَّةِ دُعَائِكَ وَرَجَائِكَ ( غَفَرْتُ لَكَ عَلَى مَا كَانَ فِيكَ ) أَيْ: حَالَ كَوْنِكَ مُسْتَقِرًّا عَلَى مَا وَجَدْتُهُ فِيكَ مِنَ الذَّنْبِ، وَيُسْتَثْنَى مِنْهُ الشِّرْكُ لِخَبَرِهِ تَعَالَى وَلِمَا سَيَأْتِي . وَظَاهِرُهُ أَنَّهُ وَلَوْ بِغَيْرِ تَوْبَةٍ وَيُؤَيِّدُهُ قَوْلُهُ: ( وَلَا أُبَالِي ) أَيْ: وَالْحَالُ أَنِّي لَا أَتَعَاظَمُ مَغْفِرَتَكَ عَلَيَّ وَإِنْ كَانَ ذَنْبًا كَبِيرًا أَوْ كَثِيرًا. فَإِنَّ رَحْمَتِي سَبَقَتْ أَوْ غَلَبَتْ غَضَبِي . قَالَ الطِّيبِيُّ فِي قَوْلِهِ: وَلَا أُبَالِي مَعْنَى: لَا يُسْأَلُ عَمَّا يَفْعَلُ . مرقاة المفاتيح شرح مشكاة المصابيح ج ۴ ص ۱۶۲۰ بَابُ الِاسْتِغْفَارِ وَالتَّوْبَةِ الْفَصْلُ الثَّانِي في تشريح حديث ۲۳۳۶ .

یو څو ځایونه درته ذکر کوم :

۱. الله تعالی فرمایي :

﴿ إِنَّ الْأَبْرَارَ لَفِي نَعِيمٍ ۝ وَإِنَّ الْفُجَّارَ لَفِي جَحِيمٍ ﴾.(۱)

ترجمه : بیشکه نېکان به (د جنت) په نعمتونو کې وي او بَدکاران به په جهنم کې وي.

۲. بل ځای فرمایي :

﴿ فَأَمَّا مَنْ ثَقُلَتْ مَوَازِينُهُ ۝ فَهُوَ فِي عِيشَةٍ رَّاضِيَةٍ ۝ وَأَمَّا مَنْ خَفَّتْ مَوَازِينُهُ ۝ فَأُمُّهُ هَاوِيَةٌ ﴾.(۲)

ترجمه : پس د چا چې (د نېکو اعمالو) تلې درنې شي نو هغه به په خوشحاله ژوند کې وي، او د چا چې (د نېکو اعمال) تلې سپکې شي نو د هغه ځای به هاوِیه (یعنی د جهنم ګرم اُور) وي.

۳. بل ځای فرمایي :

﴿ إِنَّ رَبَّكَ لَسَرِيعُ الْعِقَابِ وَإِنَّهُ لَغَفُورٌ رَّحِيمٌ ﴾.(۳)

ترجمه : بیشکه ستا رب زر عذاب ورکوونکی دی ، او بیشکه هغه بخونکی مهربان دی.

٤. بل ځای فرمایي :

﴿ وَإِنَّ رَبَّكَ لَذُو مَغْفِرَةٍ لِّلنَّاسِ عَلَىٰ ظُلْمِهِمْ وَإِنَّ رَبَّكَ لَشَدِيدُ الْعِقَابِ ﴾.(۴)

ترجمه : بیشکه ستا رب د خلقو د ظلم (یعنی شِرک او ګناهونو) باوجود د خلقو بخونکی دی (خو چې کله دوی توبه اُوباسي) ، او ستا رب سخت عذاب ورکوونکی دی

(۱) الانفطار آیة ۱۳ ، ۱۴ .

(۲) القارعة آیة ٦ تا ۹ .

(۳) الاعراف آیة ۱٦۷ .

(۴) الرعد آیة ٦ .

(خو چې کله دوی په خپل کُفر او ګناهونو باندې برقراروي، او توبه نه اُوباسي) . (۱)

**۵. بل ځای فرمايي :**

﴿ يَوْمَ تَبْيَضُّ وُجُوهٌ وَتَسْوَدُّ وُجُوهٌ ﴾ . (۲)

ترجمه : په کومه ورځ به چې څه مخونه سپين وي او څه به تور وي .

فائده : په مذکوره آيتونو کې د الله تعالى نه د ويرې او د هغه نه د ښه اُميد دواړه مضامين يو ځای ذکر دي .

**۶. د مسلم شريف حديث دی، رسول الله صلى الله عليه وسلم فرمايي :**

لَوْ يَعْلَمُ الْمُؤْمِنُ مَا عِنْدَ اللهِ مِنَ الْعُقُوبَةِ مَا طَمِعَ بِجَنَّتِهِ أَحَدٌ . وَلَوْ يَعْلَمُ الْكَافِرُ مَا عِنْدَ اللهِ

---

(۱) (وَإِنَّ رَبَّكَ لَذُو مَغْفِرَةٍ) أَيْ لَذُو تَجَاوُزٍ عَنِ الْمُشْرِكِينَ إِذَا آمَنُوا، وَعَنِ الْمُذْنِبِينَ إِذَا تَابُوا. وَقَالَ ابْنُ عَبَّاسٍ رَضِيَ اللهُ عَنْهُمَا : أَرْجَى آيَةٍ فِي كِتَابِ اللهِ تَعَالَى " وَإِنَّ رَبَّكَ لَذُو مَغْفِرَةٍ لِلنَّاسِ عَلَى ظُلْمِهِمْ " . (وَإِنَّ رَبَّكَ لَشَدِيدُ الْعِقَابِ) إِذَا أَصَرُّوا عَلَى الْكُفْرِ . وَرَوَى حَمَّادُ بْنُ سَلَمَةَ عَنْ عَلِيِّ بْنِ زَيْدٍ عَنْ سَعِيدِ بْنِ الْمُسَيِّبِ قَالَ: لَمَّا نَزَلَتْ : ﴿ وَإِنَّ رَبَّكَ لَذُو مَغْفِرَةٍ لِلنَّاسِ عَلَى ظُلْمِهِمْ وَإِنَّ رَبَّكَ لَشَدِيدُ الْعِقَابِ ﴾ قَالَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: " لَوْلَا عَفْوُ اللهِ وَرَحْمَتُهُ وَتَجَاوُزُهُ لَمَا هَنَأَ أَحد عَيْشٌ وَلَوْلَا عِقَابُهُ وَوَعِيدُهُ وَعَذَابُهُ لَاتَّكَلَ كُلُّ أَحد . تفسير القرطبي (الجامع لأحكام القرآن) ج ۹ ص ۲۵۸ سورة الرعد آية ۶ .

﴿ وَإِنَّ رَبَّكَ لَذُو مَغْفِرَةٍ لِلنَّاسِ عَلَى ظُلْمِهِمْ ﴾ قال ابن عباس: لذو تجاوز عن المشركين إذا آمنوا. وإنه لشديد العقاب للمصرّين على الشرك. وقال مقاتل: لذو تجاوز عن شركهم في تأخير العذاب، وإنه لشديد العقاب إذا عذّب. ذهب بعض المفسرين إلى أن هذه الآية منسوخة بقوله: ﴿ إِنَّ اللهَ لَا يَغْفِرُ أَنْ يُشْرَكَ بِهِ ﴾ والمحققون على أنها محكمة. زاد المسير في علم التفسير ج ۲ ص ۴۸۳ سورة الرعد آية ۶ .

عَنْ مُطَرِّفٍ، أَنَّهُ تَلَا هَذِهِ الْآيَةَ: { وَإِنَّ رَبَّكَ لَذُو مَغْفِرَةٍ لِلنَّاسِ عَلَى ظُلْمِهِمْ وَإِنَّ رَبَّكَ لَشَدِيدُ الْعِقَابِ } [الرعد آية ۶] فَقَالَ: فَلَوْ يَعْلَمُ النَّاسُ قَدْرَ مَغْفِرَةِ اللهِ وَرَحْمَةِ اللهِ وَعَفْوِ اللهِ وَتَجَاوُزِ اللهِ لَقَرَّتْ أَعْيُنُهُمْ، وَلَوْ يَعْلَمُ النَّاسُ نَكَالَ اللهِ وَنِقَمَ اللهِ، وَبَأْسَ اللهِ، وَعَذَابَ اللهِ مَا رَقَأَ لَهُمْ دَمْعٌ وَلَا انْتَفَعُوا بِطَعَامٍ وَلَا شَرَابٍ . شعب الايمان رقم الحديث ۹۹۱ .

(۲) آل عمران آية ۱۰۶ .

مِنَ الرَّحْمَةِ مَا قَنَطَ مِنْ جَنَّتِهِ أَحَدٌ . (۱)

که چیرته مؤمن په دې باندې پوهه شي چې د الله تعالی سره څومره عذابونه دي نو د هغه د جنت طمع به او نکړي ، او که چيرته کافر په دې باندې پوهه شي چې د الله تعالی سره څومره رحمتونه دي نو بيا به هیڅوک د هغه د جنت نه نااُمیده نشي.

**فائده** : د مذکوره حدیث نه معلومه شوه چې مؤمن به په خپلو نېکو اعمالو او د الله تعالی په رحمت باندې نه دُهوکه کيږي بلکه هر وخت به په زړه کې د الله ﷻ د عذاب نه يَره هم ساتي ؛ ځکه د الله ﷻ عذابونه هم ډير دي . او کافر به د الله تعالی د رحمت نه نه نااُميده کیږي ځکه د الله ﷻ رحمتونه هم ډير دي .

بلکه مسلمان به د الله ﷻ نه د ښه اُميد او د هغه د عذاب نه د يَرې په مينځ مينځ کې ژوند تيروي ، کله به ځان ته د الله تعالی رحمتونه رايادوي او کله به ځان ته د الله تعالی عذابونه رايادوي نو په دې سره به يې د الله ﷻ نه ښه اُميد هم برقرار وي او د ګناهونو نه به هم محفوظ وي . (۲)

۷ . د بخاري شريف حديث دی ، رسول الله صلی الله علیه وسلم فرمايي :

---

(۱) صحيح مسلم كتاب التَّوْبَةِ بَابٌ فِي سِعَةِ رَحْمَةِ اللهِ تَعَالَى وَأَنَّهَا سَبَقَتْ غَضَبَهُ رقم الحديث ۲۳ (۲۷۵۵) ، مسند احمد مخرجا رقم الحديث ۹۱۶۴ ، صحيح ابن حبان بَابُ الْخَوْفِ وَالتَّقْوَى ذِكْرُ الْبَيَانِ بِأَنَّ الْوَاجِبَ عَلَى الْمُسْلِمِ أَنْ يَجْعَلَ لِنَفْسِهِ مَحَجَّتَيْنِ يَرْكَبُهُمَا إِحْدَاهُمَا الرَّجَاءُ، وَالْأُخْرَى الْخَوْفُ رقم الحديث ۶۵۶ ، شعب الايمان رقم الحديث ۹۶۹ ، مشكاة المصابيح باب سعة رحمة الله الفصل الاول رقم الحديث ۲۳۶۷(۴) .

(۲) (مَا طَمِعَ بِجَنَّتِهِ أَحَدٌ) ... وَفِيهِ بَيَانُ كَثْرَةِ عُقُوبَتِهِ لِئَلَّا يَغْتَرَّ مُؤْمِنٌ بِطَاعَتِهِ، أَوِ اعْتِمَادًا عَلَى رَحْمَتِهِ فَيَقَعُ فِي الْأَمْنِ وَلَا يَأْمَنُ مَكْرَ اللهِ إِلَّا الْقَوْمُ الْخَاسِرُونَ ..... وَوَرَدَ الْحَدِيثُ فِي بَيَانِ كَثْرَةِ رَحْمَتِهِ وَعُقُوبَتِهِ كَيْلَا يَغْتَرَّ مُؤْمِنٌ بِرَحْمَتِهِ فَيَأْمَنَ مِنْ عَذَابِهِ، وَلَا يَيْأَسَ كَافِرٌ مِنْ رَحْمَتِهِ وَيَتْرُكَ بَابَهُ . وَحَاصِلُ الْحَدِيثِ أَنَّ الْعَبْدَ يَنْبَغِي أَنْ يَكُونَ بَيْنَ الرَّجَاءِ وَالْخَوْفِ بِمُطَالَعَةِ صِفَاتِ الْجَمَالِ تَارَةً، وَبِمُلَاحَظَةِ نُعُوتِ الْجَلَالِ أُخْرَى. وَقَدْ رُوِيَ عَنْ عُمَرَ رَضِيَ اللهُ عَنْهُ أَنَّهُ قَالَ: لَوْ نُودِيَ فِي الْقِيَامَةِ أَنْ يَدْخُلَ أَحَدٌ الْجَنَّةَ أَرْجُو أَنْ أَكُونَ أَنَا، وَكَذَا فِي النَّارِ. وَقِيلَ يَنْبَغِي أَنْ يَغْلِبَ الْخَوْفُ فِي حَالِ الْحَيَاةِ، وَالرَّجَاءُ عِنْدَ الْمَمَاتِ. مرقاة المفاتيح شرح مشكاة المصابيح ج۴ ص ۱۶۴۰ باب سعة رحمة الله الفصل الاول في تشريح رقم الحديث ۲۳۶۷ .

اَلْجَنَّةُ أَقْرَبُ إِلٰى أَحَدِكُمْ مِنْ شِرَاكِ نَعْلِهِ ، وَالنَّارُ مِثْلُ ذٰلِكَ .(۱)

جنت په تاسو کې هر کس ته د هغه د پڼې د تَسمې نه هم زيات نزدې دی، او جهنم هم همدغه شان (هر کس ته د هغه د پڼې د تَسمې نه هم زيات نزدې) دی.

يعنې د انسان او د جنت او جهنم په مينځ کې هيڅ فاصله نشته، که څوک نيک اعمال اوکړي نو د جنت مستحق کيږي، او که بد اعمال اوکړي نو د جهنم مستحق کيږي.

په دې حديث کې هم د خَوف او رَجاء دواړه مضمونه يو ځای ذکر دي.

۸. په بخاري شريف کې دا ذکر دي چې عَلاء بن زِياد رَحِمَهُ الله به خلق د جهنم د اُور نه يرول. يو چا ورته وويل:

لِمَ تُقَنِّطِ النَّاسَ؟ ته ولې خلق د الله تعالى د رحمت نه مايوسه کوې؟

ده ورته وويل: زما څه مَجال (حيثيت) دی چې خلق د الله تعالى د رحمت نه مايوسه کړم؟ بلکه الله تعالى په خپله فرمايلي دي:

﴿ قُلْ يٰعِبَادِيَ الَّذِيْنَ اَسْرَفُوْا عَلٰى اَنْفُسِهِمْ لَا تَقْنَطُوْا مِنْ رَّحْمَةِ اللّٰهِ ﴾.

ترجمه: اې پيغمبره زما د طرف نه دې خلقو ته اووايه چې اې زما هغه بندګانو چاچې زياتې کړی په خپلو ځانونو باندې (يعنی کفر، شرک او کبيره ګناهونه يې کړي) تاسو د الله د رحمت نه مه نا اُميده کيږئ.

او الله تعالى دا هم فرمايلي:

﴿ وَاَنَّ الْمُسْرِفِيْنَ هُمْ اَصْحٰبُ النَّارِ ﴾

ترجمه: او يقينًا څوک چې د حد نه تيريږي هم دوی جهنميان دي.

عَلاء بن زِياد رَحِمَهُ الله هغه کس ته وويل: ليکن تاسو دا خوښه ده چې ستاسو د بدو اعمالو باوجود تاسو ته د جنت زيرې درکړې شي؟

---

(۱) صحيح البخاري كِتَابُ الرِّقَاقِ بَابٌ: «اَلْجَنَّةُ أَقْرَبُ إِلٰى أَحَدِكُمْ مِنْ شِرَاكِ نَعْلِهِ، وَالنَّارُ مِثْلُ ذٰلِكَ» رقم الحديث ۶۴۸۸، مسند احمد مخرجا رقم الحديث ۳۶۶۷، صحيح ابن حبان رقم الحديث ۶۶۱، مشكاة المصابيح باب سعة رحمة الله الفصل الاول رقم الحديث ۲۳۶۸.

Scanned with CamScanner

وَ إِنَّمَا بَعَثَ اللهُ مُحَمَّدًا صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ مُبَشِّرًا بِالْجَنَّةِ لِمَنْ أَطَاعَهُ ، وَمُنْذِرًا بِالنَّارِ مَنْ عَصَاهُ .

او دا ياد ساتئ چې الله تعالى محمدّ رسول الله صلى الله عليه د هغه خلقو د پاره د جنت زېرې ورکوونکې راليږلى څوک چې د هغه اطاعت کوي ، او د هغه خلقو د پاره يې د جهنم نه وېرووونکى راليږلى څوک چې د هغه نافرماني کوي .(۱)

د علاء بن زياد رَحِمَهُ اللهُ مقصد دا و چې زه خو صرف هغه آيتونه بيانوم کوم چې الله تعالى نازل کړي دي ، په دې کې پخپله د نېکو اعمالو کوونکو د پاره د جنت زېرې دى ، او د نافرمانو د پاره د جهنم نه ېرول دي . (۲)

## انسان چې په الله تعالى څنګه ګمان کوي نو هماغه شان معامله ورسره کوي

انسان چې په الله تعالى باندې څنګه ګمان کوي نو الله تعالى ورسره هماغه شان معامله کوي .

۱ . حديثِ قدسي دى ، الله تعالى فرمايي : أَنَا عِنْدَ ظَنِّ عَبْدِي بِي . (۳)

---

(۱) وَكَانَ الْعَلَاءُ بْنُ زِيَادٍ يُذَكِّرُ النَّارَ. فَقَالَ رَجُلٌ : لِمَ تُقَنِّطِ النَّاسَ؟ قَالَ: وَأَنَا أَقْدِرُ أَنْ أُقَنِّطَ النَّاسَ، وَاللهُ عَزَّ وَجَلَّ يَقُولُ : {يَا عِبَادِيَ الَّذِينَ أَسْرَفُوا عَلَى أَنْفُسِهِمْ لَا تَقْنَطُوا مِنْ رَحْمَةِ اللهِ} [ الزمر آية ۵۳ ] وَيَقُولُ { وَأَنَّ الْمُسْرِفِينَ هُمْ أَصْحَابُ النَّارِ} [ غافر آية ۴۳ ] وَلَكِنَّكُمْ تُحِبُّونَ أَنْ تُبَشَّرُوا بِالْجَنَّةِ عَلَى مَسَاوِئِ أَعْمَالِكُمْ، وَإِنَّمَا بَعَثَ اللهُ مُحَمَّدًا صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ مُبَشِّرًا بِالْجَنَّةِ لِمَنْ أَطَاعَهُ، وَمُنْذِرًا بِالنَّارِ مَنْ عَصَاهُ . صحيح البخاري كِتَابُ تَفْسِيرِ الْقُرْآنِ سُورَةُ الْمُؤْمِنِ .

(۲) ( وَاللهُ عَزَّ وَجَلَّ يَقُولُ ... ) أي والله عز وجل بين أن باب المغفرة والرحمة مفتوح لمن آمن وعمل صالحا ثم اهتدى وأن من أصر على كفره ومعصيته مآله إلى النار . أي فأنا أبلغ الناس ما جاء عن الله عز وجل . تعليق مصطفى البغا على صحيح البخاري

(۳) صحيح البخاري كِتَابُ التَّوْحِيدِ بَابُ قَوْلِ اللهِ تَعَالَى: {يُرِيدُونَ أَنْ يُبَدِّلُوا كَلَامَ اللهِ} رقم الحديث ۷۵۰۵ ، صحيح مسلم كِتَابُ الذِّكْرِ وَالدُّعَاءِ وَالتَّوْبَةِ وَالِاسْتِغْفَارِ بَابُ فَضْلِ الذِّكْرِ وَالدُّعَاءِ وَالتَّقَرُّبِ إِلَى اللهِ تَعَالَى رقم الحديث ۱۹ (۲۶۷۵) سنن الترمذي أَبْوَابُ الزُّهْدِ عَنْ رَسُولِ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ بَابُ مَا جَاءَ فِي حُسْنِ الظَّنِّ بِاللهِ رقم الحديث ۲۳۸۸ .

Scanned with CamScanner

زه د خپل بنده د گمان سره يم .

يعنى زما بنده چې په ما باندې څنګه ګمان کوي زه ورسره هماغه شان معامله کوم . (۱)

۲ . په يو بل حديثِ قدسي کې پوره تفصيل ذکر دی ، الله تعالی فرمايي :

أَنَا عِنْدَ ظَنِّ عَبْدِيْ بِيْ ، وَأَنَا مَعَهُ إِذَا ذَكَرَنِيْ ، فَإِنْ ذَكَرَنِيْ فِيْ نَفْسِهِ ذَكَرْتُهُ فِيْ نَفْسِيْ ، وَإِنْ ذَكَرَنِيْ فِيْ مَلَإٍ ذَكَرْتُهُ فِيْ مَلَإٍ خَيْرٍ مِنْهُمْ ، وَإِنْ تَقَرَّبَ إِلَيَّ بِشِبْرٍ تَقَرَّبْتُ إِلَيْهِ ذِرَاعًا ، وَإِنْ تَقَرَّبَ إِلَيَّ ذِرَاعًا تَقَرَّبْتُ إِلَيْهِ بَاعًا ، وَإِنْ أَتَانِيْ يَمْشِيْ أَتَيْتُهُ هَرْوَلَةً . (۲)

زه د خپل بنده د ګمان سره يم ، کله چې دا ما يادوي نو زه ورسره يم ، پس که چيرته دا ما په خپل زړه کې يادوي نو زه يې هم په خپل زړه کې يادوم ، او که چيرته دا ما په يو مجلس

---

(۱) (أَنَا عِنْدَ ظَنِّ عَبْدِيْ بِيْ) أجازيه بحسب ظنه بي فإن رجا رحمتي وظن أني أعفو عنه وأغفر له فله ذلك لأنه لا يرجوه إلا مؤمن علم أن له ربا يجازي. وإن يئس من رحمتي وظن أني أعاقبه وأعذبه فعليه ذلك لأنه لا ييأس إلا كافر. تعليق مصطفى البغا على صحيح البخاري في تشريح حديث ۷۴۰۵ .

(أَنَا عِنْدَ ظَنِّ عَبْدِيْ) : أَيِ : الْمُؤْمِنِ (بِيْ) : وَزَادَ فِيْ رِوَايَةٍ : إِنْ ظَنَّ خَيْرًا ، وَإِنْ ظَنَّ شَرًّا . وَفِيْ رِوَايَةٍ : فَلْيَظُنَّ بِيْ مَا شَاءَ . وَفِيْ رِوَايَةٍ : فَلَا يَظُنَّ بِيْ إِلَّا خَيْرًا . وَالْمَعْنَى أَنِّيْ عِنْدَ يَقِيْنِهِ بِيْ فِي الْاِعْتِمَادِ عَلَى فَضْلِيْ ، وَالْاِسْتِيْثَاقِ بِوَعْدِيْ ، وَالرَّهْبَةِ مِنْ وَعِيْدِيْ ، وَالرَّغْبَةِ فِيْمَا عِنْدِيْ ، أُعْطِيْهِ إِذَا سَأَلَنِيْ ، وَأَسْتَجِيْبُ لَهُ إِذَا دَعَانِيْ ..... وَيَكُوْنُ الْمَعْنَى أَنَا أُعَامِلُهُ عَلَى حَسَبِ ظَنِّهِ بِيْ ، وَأَفْعَلُ بِهِ مَا يَتَوَقَّعُهُ مِنِّيْ مِنْ ضُرٍّ أَوْ شَرٍّ ، وَالْمُرَادُ الْحَثُّ عَلَى تَغْلِيْبِ الرَّجَاءِ عَلَى الْخَوْفِ وَحُسْنِ الظَّنِّ بِاللهِ ، كَقَوْلِهِ عَلَيْهِ الصَّلَاةُ وَالسَّلَامُ : « لَا يَمُوْتَنَّ أَحَدُكُمْ إِلَّا وَهُوَ يُحْسِنُ الظَّنَّ بِاللهِ » وَيَجُوْزُ أَنْ يُرَادَ بِالظَّنِّ الْيَقِيْنُ ، وَالْمَعْنَى : أَنَا عِنْدَ يَقِيْنِهِ بِيْ ، وَعِلْمِهِ بِأَنَّ مَصِيْرَهُ إِلَيَّ وَحِسَابَهُ عَلَيَّ ، وَأَنَّ مَا قَضَيْتُ بِهِ لَهُ أَوْ عَلَيْهِ مِنْ خَيْرٍ أَوْ شَرٍّ لَا مَرَدَّ لَهُ ، وَلَا مُعْطِيَ لِمَا مَنَعْتُ وَلَا مَانِعَ لِمَا أَعْطَيْتُ . مرقاة المفاتيح شرح مشكاة المصابيح ج ۴ ص ۱۵۴۱ كِتَابُ الدَّعَوَاتِ بَابُ ذِكْرِ اللهِ عَزَّ وَجَلَّ وَالتَّقَرُّبِ إِلَيْهِ في تشريح حديث ۲۲۶۴ (۴) .

(۲) عَنْ أَبِيْ هُرَيْرَةَ رَضِيَ اللهُ عَنْهُ ، قَالَ : قَالَ النَّبِيُّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ : يَقُوْلُ اللهُ تَعَالَى : أَنَا عِنْدَ ظَنِّ عَبْدِيْ بِيْ ..... صحيح البخاري كِتَابُ التَّوْحِيْدِ بَابُ قَوْلِ اللهِ تَعَالَى : {وَيُحَذِّرُكُمُ اللهُ نَفْسَهُ} رقم الحديث ۷۴۰۵ . و رقم الحديث ۷۵۰۵ بَابُ قَوْلِ اللهِ تَعَالَى : {يُرِيْدُوْنَ أَنْ يُبَدِّلُوْا كَلَامَ اللهِ} . صحيح مسلم كتاب الذِّكْرِ وَالدُّعَاءِ وَالتَّوْبَةِ وَالْاِسْتِغْفَارِ بَابُ الْحَثِّ عَلَى ذِكْرِ اللهِ تَعَالَى رقم الحديث ۲ (۲۶۷۵) . و رقم الحديث ۲۱ (۲۶۷۵) بَابُ فَضْلِ الذِّكْرِ وَالدُّعَاءِ وَالتَّقَرُّبِ إِلَى اللهِ تَعَالَى .

کې يادوي نو زه يې د دينه په بهترين مجلس ( يعنى د مُقرّبو فرښتو په مجلس) کې يادوم ، که چيرته دا ماته د يو لويشت په اندازه رانزدې کيږي نو زه ورته د يو لاس په اندازه ورنزدې کيږم ، او که چيرته دا ماته د يو لاس په اندازه رانزدې کيږي نو زه ورته د دوه لاسونو په اندازه ورنزدې کيږم ، او که چيرته دا ماته راروان شي نو زه ورته په منډه ورځم .

د حديث مطلب دادی : الله تعالى فرمايي چې څوک ماته د عبادت په ذريعه ځان رانزدې کوي نو که دا لږ عبادت وي خو زه به ورباندې څو چنده زيات رحمتونه نازلوم . (۱)

۳ . رسولُ الله صلى الله عليه وسلم فرمايي :

يَا أَيُّهَا النَّاسُ أَحْسِنُوا الظَّنَّ بِرَبِّ الْعَالَمِينَ ؛ فَإِنَّ الرَّبَّ عِنْدَ ظَنِّ عَبْدِهِ . (۲)

---

(۱) ... (ذَكَرْتُهُ فِي نَفْسِي) : أَيْ: أُسِرُّ بِثَوَابِهِ عَلَى مِنْوَالِ عَمَلِهِ، وَأَتَوَلَّى بِنَفْسِي إِثَابَتَهُ لَا أَكِلُهُ إِلَى غَيْرِي .... مرقاة المفاتيح ج ۴ ص ۱۵۴۲ كِتَابُ الدَّعَوَاتِ بَابُ ذِكْرِ اللهِ عَزَّ وَجَلَّ وَالتَّقَرُّبِ إِلَيْهِ في تشريح حديث ۲۲۶۴ .

(وَمَنْ تَقَرَّبَ) : أَيْ: طَلَبَ الْقُرْبَةَ (مِنِّي) : أَيْ: بِالطَّاعَةِ (شِبْرًا) : أَيْ: مِقْدَارًا قَلِيلًا. قَالَ الطِّيبِيُّ: شِبْرًا وَذِرَاعًا وَبَاعًا فِي الشَّرْطِ وَالْجَزَاءِ مَنْصُوبَانِ عَلَى الظَّرْفِيَّةِ. أَيْ: مَنْ تَقَرَّبَ إِلَيَّ مِقْدَارَ شِبْرٍ (تَقَرَّبْتُ) أَيْ: الرَّحْمَةُ (مِنْهُ ذِرَاعًا) قِيلَ: أَيْ: أَوْصَلْتُ رَحْمَتِي إِلَيْهِ مِقْدَارًا أَزْيَدَ مِنْهُ . وَقِيلَ: الْمُرَادُ مِنْهُ وَاللهُ أَعْلَمُ مُجَازَاتُهُ وَإِثَابَتُهُ بِأَضْعَافِ مَا يَتَقَرَّبُ بِهِ إِلَى اللهِ تَعَالَى، وَسُمِّيَ الثَّوَابُ تَقَرُّبًا عَلَى سَبِيلِ الْمُقَابَلَةِ وَالْمُشَاكَلَةِ. أَوْ لِأَنَّهُ مِنْ أَجْلِهِ وَبِسَبَبِهِ. وَقِيلَ: تَقَرُّبُ الْبَارِي سُبْحَانَهُ إِلَيْهِ بِالْهِدَايَةِ وَشَرْحِ صَدْرِهِ لِمَا تَقَرَّبَ بِهِ إِلَيْهِ. وَكَانَ الْمَعْنَى إِذَا قَصَدَ ذَلِكَ وَعَمِلَهُ أَعَنْتُهُ عَلَيْهِ وَسَهَّلْتُهُ لَهُ.

قَالَ الطِّيبِيُّ: هَذَا الْحَدِيثُ مِنْ أَحَادِيثِ الصِّفَاتِ، وَيَسْتَحِيلُ إِرَادَةُ ظَاهِرِهِ. فَمَعْنَاهُ مَنْ تَقَرَّبَ إِلَيَّ بِطَاعَتِي تَقَرَّبْتُ إِلَيْهِ بِرَحْمَتِي (وَمَنْ تَقَرَّبَ مِنِّي ذِرَاعًا تَقَرَّبْتُ مِنْهُ بَاعًا) : وَهُوَ قَدْرُ مَدِّ الْيَدَيْنِ، وَمَا بَيْنَهُمَا مِنَ الْبَدَنِ. وَعَلَى هَذَا كُلَّمَا زَادَ الْعَبْدُ قُرْبَةً مِنَ اللهِ تَعَالَى زَادَ اللهُ رَحْمَتَهُ بِهِ. فَذِكْرُ الذِّرَاعِ لِلتَّمْثِيلِ وَالتَّصْوِيرِ لِإِفْهَامِهِمْ لِمُجَازَاةِ الْعَبْدِ فِيمَا يَتَقَرَّبُ بِهِ إِلَى رَبِّهِ بِمُضَاعَفَةِ لُطْفِهِ وَإِحْسَانِهِ (وَمَنْ أَتَانِي) : حَالَ كَوْنِهِ (يَمْشِي) : أَيْ: فِي طَاعَتِي (أَتَيْتُهُ هَرْوَلَةً) : وَهِيَ الْإِسْرَاعُ فِي الْمَشْيِ دُونَ الْعَدْوِ. أَيْ: صَبَبْتُ عَلَيْهِ الرَّحْمَةَ. وَقِيلَ: أَيْ: مَنْ تَقَرَّبَ مِنِّي بِسُهُولَةٍ وَصَلَتْ إِلَيْهِ رَحْمَتِي بِسُرْعَةٍ. مرقاة المفاتيح ج ۴ ص ۱۵۴۳ كِتَابُ الدَّعَوَاتِ بَابُ ذِكْرِ اللهِ عَزَّ وَجَلَّ وَالتَّقَرُّبِ إِلَيْهِ في تشريح حديث ۲۲۶۵ .

(۲) شعب الايمان الرجاء من الله تعالى ج ۲ ص ۳۲۱ رقم ۹۸۱ . حسن الظن بالله لابن ابي الدنيا ج ۱ ص ۶۶ ←←

اې خلقو ! تاسو په ربّ العالمين باندې ښه گمان کوئ ؛ ځکه الله تعالی د خپل بنده د گمان سره دی .

( يعنی بنده چې وربانذې څنګه گمان اوکړي هماغه شان معامله ورسره کوي ) .

## په الله ﷻ باندې ښه ګمان کول بهترين عبادت دی

رسول الله صلی الله عليه وسلم فرمايي :

إِنَّ حُسْنَ الظَّنِّ بِاللهِ مِنْ حُسْنِ عِبَادَةِ اللهِ . (۱)

بيشکه په الله تعالی باندې ښه گمان کول د الله تعالی بهترين عبادت دی .

يعنی په نېک اعمالو کې يو نېک عمل په الله تعالی باندې ښه گمان کول هم دي .

علماؤ ددې حديث نور مطلبونه هم ذکر کړي . (۲)

---

←←← رقم ۵۷ . قَالَ سُفْيَانُ الثَّوْرِيُّ رَحِمَهُ اللهُ . : " { وَأَحْسِنُوْا إِنَّ اللهَ يُحِبُّ الْمُحْسِنِيْنَ } [ البقرة: ۱۹۵] قَالَ: أَحْسِنُوْا بِاللهِ الظَّنَّ " . حسن الظن بالله لابن ابي الدنيا ج ۱ ص ۱۱۷ رقم ۱۳۹ .

(۱) عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ رضي الله عنه قَالَ: قَالَ رَسُوْلُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: إِنَّ حُسْنَ الظَّنِّ بِاللهِ مِنْ حُسْنِ عِبَادَةِ اللهِ. سنن الترمذي رقم الحديث ۳۶۰۴/ ۵ ابواب الدعوات . مسند البزار المنشور باسم البحر الزخار رقم الحديث ۹۵۶۹ . كنز العمال رقم الحديث ۵۸۴۸ . صحيح ابن حبان بَابُ حُسْنِ الظَّنِّ بِاللهِ تَعَالَى ذِكْرُ الْبَيَانِ بِأَنَّ حُسْنَ الظَّنِّ لِلْمَرْءِ الْمُسْلِمِ مِنْ حُسْنِ الْعِبَادَةِ رقم الحديث ۶۳۱ . المستدرک على الصحيحين للحاكم كِتَابُ التَّوْبَةِ وَالْإِنَابَةِ ج ۴ ص ۲۸۵ . مشكاة المصابيح كتاب الآداب بَابُ مَا يُنْهَى عَنْهُ مِنَ التَّهَاجُرِ وَالتَّقَاطُعِ وَاتِّبَاعِ العورات الْفَصْلُ الثَّانِي رقم الحديث ۵۰۴۸ (۲۲) .

وفي رواية: عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ رَضِيَ اللهُ عَنْهُ عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ: إِنَّ حُسْنَ الظَّنِّ بِاللهِ تَعَالَى مِنْ عِبَادَةِ اللهِ. المستدرک على الصحيحين للحاكم كِتَابُ التَّوْبَةِ وَالْإِنَابَةِ رقم الحديث ۷۶۰۴ وقال الحاكم: هَذَا حَدِيثٌ صَحِيحٌ عَلَى شَرْطِ مُسْلِمٍ وَلَمْ يُخَرِّجَاهُ " . ووافقه الذهبي .

(۲) (حُسْنُ الظَّنِّ) أَيْ: بِاللهِ (مِنْ حُسْنِ الْعِبَادَةِ) أَيْ لِلّٰهِ. وَالْمَعْنَى أَنَّ حُسْنَ الظَّنِّ بِهِ تَعَالَى مِنْ جُمْلَةِ الْعِبَادَاتِ الْحَسَنَةِ .... وَيُمْكِنُ أَنْ يَكُوْنَ الْمَعْنَى: بَعْضُ حُسْنِ الْعِبَادَةِ حُسْنُ الظَّنِّ، وَقُدِّمَ الْخَبَرُ اهْتِمَامًا. فَإِنَّ السَّالِكَ إِذَا حَسَّنَ الظَّنَّ بِاللهِ عَلَى سَبِيْلِ الرَّجَاءِ حَسَّنَ الْعِبَادَةَ فِي الْخَلَا وَالْمَلَا. فَيَسْتَحْسِنُ مَأْمُوْلَهُ وَيُرْجَى مَقْبُوْلَهُ. قَالَ تَعَالَى: { إِنَّ الَّذِيْنَ اٰمَنُوْا وَالَّذِيْنَ هَاجَرُوْا وَجٰهَدُوْا فِيْ سَبِيْلِ اللّٰهِ أُولٰٓئِكَ يَرْجُوْنَ رَحْمَتَ اللّٰهِ وَاللّٰهُ غَفُوْرٌ رَّحِيْمٌ } [البقرة آية ۲۱۸] .... وَقَالَ الْمُظْهِرُ: يَعْنِي اعْتِقَادُ الْخَيْرِ وَالصَّلَاحِ فِي حَقِّ الْمُسْلِمِيْنَ عِبَادَةٌ . ←←←←

Scanned with CamScanner

# دِ ايمان نه پس بهترين څيز " په الله ﷻ باندې ښه ګمان کول " دي

۱ . حضرت عبد الله بن مسعود رضي الله عنه فرمايي :

وَالَّذِي لَا إِلَهَ غَيْرُهُ مَا أُعْطِيَ عَبْدٌ مُؤْمِنٌ شَيْئًا قَطُّ بَعْدَ الْإِيمَانِ بِاللهِ عَزَّ وَجَلَّ أَفْضَلَ مِنْ أَنْ يُحْسِنَ ظَنَّهُ بِاللهِ ، وَاللهِ الَّذِي لَا إِلَهَ غَيْرُهُ لَا يُحْسِنُ عَبْدٌ بِاللهِ ظَنَّهُ إِلَّا أَعْطَاهُ اللهُ إِيَّاهُ، وَذَلِكَ أَنَّ الْخَيْرَ بِيَدِهِ.

قسَم په هغه ذات چې د هغه نه علاوه بل څوک د عبادت لائق نشته مؤمن بنده ته په الله ﷻ باندې د ايمان لرلو نه پس چې کوم بهترين څيز ورکړې شوی هغه "په الله ﷻ باندې ښه ګمان کول دي " . او قسَم په هغه ذات چې د هغه نه علاوه بل څوک د عبادت لائق نشته کوم بنده چې په الله تعالی باندې ښه ګمان اوکړي نو الله ﷻ ضرور ده ته دا ورکوي ، دا ځکه چې ټول خير د الله ﷻ په قدرت کې دی . (۱)

## چې په چا کې خوف او اُميد وي نو داسې کس کامياب دی

يو ځل حضرت عُمر رضي الله عنه بيمار شو ، نبي عليه السلام دده بيمار پُرسۍ له ورغی ، ورته وې فرمايل :

كَيْفَ تَجِدُكَ يَا عُمَرُ ؟ اې عمر ! ته خپل ځان څنګه مومې ؟

ده ورته اوفرمايل : أَرْجُو وَأَخَافُ. زه د الله ﷻ نه اُميد هم ساتم او ويريږم هم .

رسول الله صلى الله عليه وسلم ورته اوفرمايل :

---

←←← قَالَ الطِّيبِيُّ: فَعَلَى هَذَا (مِنْ) لِلتَّبْعِيضِ أَيْ مِنْ جُمْلَةِ عِبَادَةِ اللهِ وَالْإِخْلَاصِ فِيهَا حُسْنُ الْمُعَاشَرَةِ مَعَ عِبَادِهِ، وَيَجُوزُ أَنْ تَكُونَ لِلِابْتِدَاءِ أَيْ حُسْنُ الظَّنِّ بِعِبَادِ اللهِ تَعَالَى نَاشِئٌ مِنْ حُسْنِ عِبَادَةِ اللهِ وَيَنْصُرُهُ . مرقاة المفاتيح ج ۸ ص ۳۱۵۹ كتاب الآداب بَابُ مَا يُنْهَى عَنْهُ مِنَ التَّهَاجُرِ وَالتَّقَاطُعِ وَاتِّبَاعِ العورات الْفَصْلُ الثَّانِي في تشريح حديث ۵۰۳۷ .

(۱) شعب الايمان ج ۲ ص ۳۲۲ رقم الحديث ۹۸۳ . مصنف ابن ابي شيبة ج ۷ ص ۱۰۸ رقم الحديث ۳۴۵۶۴ . حسن الظن بالله لابن ابي الدنيا ص ۹۶ رقم الحديث ۸۳ .

Scanned with CamScanner

مَا اجْتَمَعَ الرَّجَاءُ وَالْخَوْفُ فِي قَلْبِ مُؤْمِنٍ إِلَّا أَعْطَاهُ اللهُ الرَّجَاءَ وَأَمَّنَهُ الْخَوْفَ .

چې کله هم د مؤمن په زړه کې اُميد او ويره جمع شي نو چې د څه اُميد ساتي الله تعالى ورته هغه ورکوي، او د ويرې نه ورته آمان ورکوي . (۱)

## الله ﷻ ته د رسيدو د پاره محبت، يَره، او ښه اُميد لرل ضروري دي

علماؤ ليکلي چې الله ﷻ ته د رسيدو د پاره دوه وَسيلې دي:

يو د الله تعالى نه يَره ، او دويم د الله ﷻ نه ښه اُميد لرل . (۲)

دا دواړه به يو شان وي، يعنې چې څومره د الله ﷻ نه ويره وي نو همدومره به د الله ﷻ نه ښه اُميد هم وي . (۳)

**د خَوف او رَجاء مثال** : علماؤ ليکلي چې د خَوف او رَجاء (يعنې د الله تعالى نه د ويرې او ښه اُميد ساتلو) مثال داسې دی لکه د مرغۍ دوه وَزرې، کله چې دا دواړه برابرې وي نو مرغۍ صحيح وي او صحيح طريقې سره آلوزي، او چې کله په يو وَزر کې

---

(۱) عَنْ سَعِيدِ بْنِ الْمُسَيَّبِ، أَنَّ عُمَرَ بْنَ الْخَطَّابِ رَضِيَ اللهُ عَنْهُ اِشْتَكَى . فَدَخَلَ عَلَيْهِ النَّبِيُّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ، يَعُودُهُ فَقَالَ : " كَيْفَ تَجِدُكَ يَا عُمَرُ ؟ " فَقَالَ: أَرْجُو وَأَخَافُ . فَقَالَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: " مَا اجْتَمَعَ الرَّجَاءُ وَالْخَوْفُ فِي قَلْبِ مُؤْمِنٍ إِلَّا أَعْطَاهُ اللهُ الرَّجَاءَ وَأَمَّنَهُ الْخَوْفَ " .شعب الايمان رقم الحديث ۹۷۲

(۲) قَالَ مُطَرِّفٌ: كُنَّا نَأْتِي زَيْدَ بْنَ صُوحَانَ فَكَانَ يَقُولُ: يَا عِبَادَ اللهِ! أَكْرِمُوا وَأَجْمِلُوا، فَإِنَّمَا وَسِيلَةُ الْعِبَادِ إِلَى اللهِ عَزَّ وَجَلَّ خَصْلَتَانِ: اَلْخَوْفُ، وَالطَّمَعُ . شعب الايمان الرجاء من الله تعالى رقم الحديث ۹۹۰ .

(۳) عَنْ مُطَرِّفٍ، قَالَ: لَوْ وُزِنَ رَجَاءُ الْمُؤْمِنِ وَخَوْفُهُ مَا رَجَحَ أَحَدُهُمَا عَلَى صَاحِبِهِ . شعب الايمان الرجاء من الله تعالى ج۲ ص ۳۲۷ رقم ۹۹۴ .

وفي رواية : قَالَ مُطَرِّفُ بْنُ عَبْدِ اللهِ: « لَوْ جِيءَ بِمِيزَانٍ كَرِيمٍ فَوُزِنَ خَوْفُ الْمُؤْمِنِ وَرَجَاؤُهُ كَانَا سَوَاءً، يَذْكُرُ رَحْمَةَ اللهِ فَيَرْجُو وَيَذْكُرُ عَذَابَ اللهِ فَيَخَافُ » . حسن الظن بالله لابن ابي الدنيا ج۱ ص ۱۱۵ . شعب الايمان الرجاء من الله تعالى ج۲ ص ۳۲۷ رقم ۹۹۳ .

وفي رواية: عَنْ شُعْبَةَ قَالَ: لَوْ وُزِنَ خَوْفُ الْمُؤْمِنِ وَرَجَاؤُهُ مَا زَادَ خَوْفُهُ عَلَى رَجَائِهِ وَلَا رَجَاؤُهُ عَلَى خَوْفِهِ . شعب الايمان الرجاء من الله تعالى ج۲ ص ۳۲۷ رقم ۹۹۵ .

Scanned with CamScanner

کمې راشي نو په دې سره په دې مرغۍ او ددې په الوتلو کې نقصان راځي . او چې کله دواړه وزرې يې ختمې شي نو بيا دا مرغۍ مرګ ته نژدې شي .(۱)

**د يحيٰ بن مُعاذ رازي** رَحِمَهُ اللهُ **قول** : يحيٰى بن مُعاذ رازي رَحِمَهُ اللهُ فرمايي چې د ايمان درې (۳) درجې دي : خَوف ، رَجاء ، او محبت .(۲)

**د علامه ابن قيم** رَحِمَهُ اللهُ **قول** : علامه ابن قيم رَحِمَهُ اللهُ دا خبره په ډير ښه انداز بيان کړې چې : الله ﷻ ته د رسيدو او د هغه رضا حاصلولو د پاره دا ضروري ده چې د انسان په زړه کې به د الله تعالى محبت وي ، ورسره به يې په زړه کې د الله ﷻ د عذاب نه يره هم وي ، خو د ډېرې باجود به يې د الله ﷻ نه ښه اُميد هم وي نو بيا دا انسان الله ﷻ ته رسيدې شي .

**مثال** : ځکه د زړه مثال په شان د مرغۍ دى ، د محبت مثال په شان د مرغۍ د سَر دى ، د الله ﷻ نه ويره او ښه اُميد داسې دى لکه د مرغۍ دواړه وَزرى .

اوس کله چې د مرغۍ سَر او دواړه وزرې صحيح وي نو په ښه طريقې سره الوتلې شي ، خو که سَر يې کټ شي نو مرغۍ مړه کيږي ، او که وَزرې يې نه وي نو بيا هم بې کاره کيږي .

---

(۱) قال أَبُو عَلِيٍّ الرُّوذْبَارِيّ : اَلْخَوْفُ وَالرَّجَاءُ هُمَا كَجَنَاحَيِ الطَّيْرِ إِذَا اسْتَوَيَا اِسْتَوَى الطَّيْرُ وَتَمَّ طَيَرَانُهُ، وَ إِذَا نَقَصَ وَاحِدٌ مِنْهُمَا وَقَعَ مِنْهُ النَّقْصُ، وَإِذَا ذَهَبَا جَمِيعًا صَارَ الطَّائِرُ فِي حَدِّ الْمَوْتِ . لِذَلِكَ قِيلَ : لَوْ وُزِنَ خَوْفُ الْمُؤْمِنِ وَرَجَاؤُهُ لَاعْتَدَلَا . شعب الايمان الرجاء من الله تعالى ج۲ ص ۳۲۸ رقم ۹۹۶ .

قَالَ الْأَشْرَفُ: اَلْخَوْفُ وَالرَّجَاءُ كَالْجَنَاحَيْنِ لِلسَّائِرِ إِلَى اللهِ سُبْحَانَهُ وَتَعَالَى لَكِنْ فِي الصِّحَّةِ يَنْبَغِي أَنْ يَغْلِبَ الْخَوْفُ لِيَجْتَهِدَ فِي الْأَعْمَالِ الصَّالِحَةِ، وَ إِذَا جَاءَ الْمَوْتُ وَانْقَطَعَ الْعَمَلُ يَنْبَغِي أَنْ يَغْلِبَ الرَّجَاءُ وَحُسْنُ الظَّنِّ بِاللهِ، لِأَنَّ الْوِفَادَةَ حِينَئِذٍ إِلَى مَلِكٍ كَرِيمٍ رَءُوفٍ. مرقاة المفاتيح شرح مشكاة المصابيح ج۳ ص ۱۱۵۹ في تشريح حديث ۱۶۰۵ (۸) بَابُ تَمَنِّي الْمَوْتِ وَذِكْرِهِ.

(۲) قَالَ يَحْيَى بْنُ مُعَاذٍ الرَّازِيُّ : اَلْإِيمَانُ ثَلَاثَةٌ : اَلْخَوْفُ وَالرَّجَاءُ وَالْمَحَبَّةُ، وَفِي جَوْفِ الْخَوْفِ تَرْكُ الذُّنُوبِ، وَفِيهِ النَّجَاةُ مِنَ النَّارِ، وَفِي جَوْفِ الرَّجَاءِ الطَّاعَةُ، وَفِيهِ وُجُوبُ الْجَنَّةِ، وَفِي جَوْفِ الْمَحَبَّةِ احْتِمَالُ الْمَكْرُوهَاتِ، وَبِهِ يَجِدُ رِضَا اللهِ عَزَّ وَجَلَّ. شعب الايمان الرجاء من الله تعالى ج ۲ ص ۳۳۰ رقم ۱۰۰۲ .

او خلق يې نيسي.

بلکه د اسلافو په نزد بهتر داده چې کله انسان روغ وي نو په کار ده چې په ده باندې د الله ﷻ يَره غالبه وي، او چې کله وفات کيږي نو بيا د الله ﷻ نه ښه أميد ساتل په کار دي.

بعضې علماء فرمايي: بهتر داده چې په انسان باندې د الله تعالى محبت غالب وي او ورسره يې په زړه کې د الله د عذاب نه يَره او ښه أميد هم وي.(۱)

ځکه ويره مقصود لِذاته نده، بلکه دا مقصود لغيره ده (چې د دې په وجه انسان د ګناهونو نه بچ شي)، اصل څيز د الله ﷻ محبت دى چې د دې مرتبه په ويره باندې ډيره أوچته ده، دغه وجه ده چې په جنتيانو باندې به ويره او غم نه وي.

د انسان په زړه کې د الله ﷻ نه صرف دومره يَره په کار ده چې دا پرې د ناجائزو کارونو نه بچ وي؛ ځکه که دا ويره ډيره زياته شي نو بيا خو په دې سره د الله ﷻ نه نا أميدي پيدا کيږي، او د الله ﷻ نه نا أميدي ګناه ده.(۲)

---

(۱) اَلْقَلْبُ فِي سَيْرِهِ إِلَى اللهِ عَزَّ وَجَلَّ بِمَنْزِلَةِ الطَّائِرِ. فَالْمَحَبَّةُ رَأْسُهُ، وَالْخَوْفُ وَالرَّجَاءُ جَنَاحَاهُ. فَمَتَى سَلِمَ الرَّأْسُ وَالْجَنَاحَانِ فَالطَّائِرُ جَيِّدُ الطَّيَرَانِ، وَمَتَى قُطِعَ الرَّأْسُ مَاتَ الطَّائِرُ، وَمَتَى فُقِدَ الْجَنَاحَانِ فَهُوَ عُرْضَةٌ لِكُلِّ صَائِدٍ وَكَاسِرٍ. وَلَكِنَّ السَّلَفَ اسْتَحَبُّوا أَنْ يَقْوَى فِي الصِّحَّةِ جَنَاحُ الْخَوْفِ عَلَى جَنَاحِ الرَّجَاءِ، وَعِنْدَ الْخُرُوجِ مِنَ الدُّنْيَا يَقْوَى جَنَاحُ الرَّجَاءِ عَلَى جَنَاحِ الْخَوْفِ. هَذِهِ طَرِيقَةُ أَبِي سُلَيْمَانَ وَغَيْرِهِ. قَالَ: يَنْبَغِي لِلْقَلْبِ أَنْ يَكُونَ الْغَالِبُ عَلَيْهِ الْخَوْفَ. فَإِنْ غَلَبَ عَلَيْهِ الرَّجَاءُ فَسَدَ. وَقَالَ غَيْرُهُ: أَكْمَلُ الْأَحْوَالِ: اِعْتِدَالُ الرَّجَاءِ وَالْخَوْفِ، وَغَلَبَةُ الْحُبِّ. فَالْمَحَبَّةُ هِيَ الْمَرْكَبُ. وَالرَّجَاءُ حَادٍ، وَالْخَوْفُ سَائِقٌ. وَاللهُ الْمُوَصِّلُ بِمَنِّهِ وَكَرَمِهِ. مدارج السالكين بين منازل إياك نعبد وإياك نستعين لابن قيم الجوزية ص ۵۱۳ فَصْلٌ مَنْزِلَةُ الْإِشْفَاقِ.

(۲) وَالْخَوْفُ لَيْسَ مَقْصُودًا لِذَاتِهِ. بَلْ هُوَ مَقْصُودٌ لِغَيْرِهِ قَصْدَ الْوَسَائِلِ، وَلِهَذَا يَزُولُ بِزَوَالِ الْمَخُوفِ. فَإِنَّ أَهْلَ الْجَنَّةِ لَا خَوْفٌ عَلَيْهِمْ وَلَا هُمْ يَحْزَنُونَ. وَالْخَوْفُ يَتَعَلَّقُ بِالْأَفْعَالِ، وَالْمَحَبَّةُ تَتَعَلَّقُ بِالذَّاتِ وَالصِّفَاتِ. وَلِهَذَا تَتَضَاعَفُ مَحَبَّةُ الْمُؤْمِنِينَ لِرَبِّهِمْ إِذَا دَخَلُوا دَارَ النَّعِيمِ. وَلَا يَلْحَقُهُمْ فِيهَا خَوْفٌ. وَلِهَذَا كَانَتْ مَنْزِلَةُ الْمَحَبَّةِ وَمَقَامُهَا أَعْلَى وَأَرْفَعَ مِنْ مَنْزِلَةِ الْخَوْفِ وَمَقَامِهِ. وَالْخَوْفُ الْمَحْمُودُ الصَّادِقُ: مَا حَالَ بَيْنَ صَاحِبِهِ وَبَيْنَ مَحَارِمِ اللهِ عَزَّ وَجَلَّ. فَإِذَا تَجَاوَزَ ذَلِكَ خِيفَ مِنْهُ الْيَأْسُ وَالْقُنُوطُ. قَالَ أَبُو عُثْمَانَ: صِدْقُ الْخَوْفِ ←←←←

Scanned with CamScanner

**د امام نووي رَحِمَهُ اللَّهُ قول** : امام نووي رَحِمَهُ اللَّهُ لیکلي چې ما د خَوف او رَجاء په باره کې صحیح احادیث تلاش کړل نو ماته معلومه شوه چې د رَجاء (یعنی د الله ﷻ نه د ښه أمید لرلو) واله احادیث د ویرې د احادیثو نه څو چنده زیات دي .

**د ملا علي قاري رَحِمَهُ اللَّهُ قول** : ملا علي قاري رَحِمَهُ اللَّهُ لیکلي که نور احادیث نه وی صرف دا یو حدیثِ قدسي وی په کوم کې چې الله تعالی فرمایلي :

سَبَقَتْ رَحْمَتِيْ غَضَبِيْ. زما رحمت زما په غضب باندې غالب دی .

نو دا یو حدیث هم کافي وُ ، حالانکه د الله ﷻ نه د ښه أمید ساتلو په باره کې د قرآن کریم آیتونه او بې شماره احادیث ذکر دي .(۱)

**د صوفیاؤ قول** : د صوفیاؤ په دې خبره باندې اتفاق دی چې کوم عبادت د الله ﷻ نه په ښه أمید سره اوشي نو دا د هغه عبادت نه ډیر بهتر دی کوم چې د الله ﷻ نه د ویرې په

---

←←← هُوَ الْوَرَعُ عَنِ الْآثَامِ ظَاهِرًا وَبَاطِنًا. وَسَمِعْتُ شَيْخَ الْإِسْلَامِ ابْنَ تَيْمِيَّةَ قَدَّسَ اللهُ رُوحَهُ يَقُولُ: اَلْخَوْفُ الْمَحْمُودُ مَا حَجَزَكَ عَنْ مَحَارِمِ اللهِ. وَقَالَ صَاحِبُ الْمَنَازِلِ: اَلْخَوْفُ هُوَ الْإِنْخِلَاعُ مِنْ طُمَأْنِينَةِ الْأَمْنِ بِمُطَالَعَةِ الْخَبَرِ. يَعْنِي الْخُرُوجَ عَنْ سُكُونِ الْأَمْنِ بِاسْتِحْضَارِ مَا أَخْبَرَ اللهُ بِهِ مِنَ الْوَعْدِ وَالْوَعِيدِ. مدارج السالکین بین منازل إیاک نعبد وإیاک نستعین لابن قیم الجوزیة ص ۵۱۰ فَصْلٌ مَنْزِلَةُ الْإِشْفَاقِ.

(۱) قَالَ النَّوَوِيُّ رَحِمَهُ اللَّهُ : قَدْ تَتَبَّعْتُ الْأَحَادِيثَ الصَّحِيحَةَ فِي الْخَوْفِ وَالرَّجَاءِ فَوَجَدْتُ أَحَادِيثَ الرَّجَاءِ أَضْعَافَ أَحَادِيثِ الْخَوْفِ مَعَ ظُهُورِ الرَّجَاءِ فِيهَا . قُلْتُ (اي ملا علي قاري) : لَوْ لَمْ يَكُنْ إِلَّا حَدِيثٌ وَاحِدٌ وَهُوَ " سَبَقَتْ أَوْ غَلَبَتْ رَحْمَتِيْ عَلَى غَضَبِيْ " لَكَفَى دَلِيلًا عَلَى تَرْجِيحِ الرَّجَاءِ وَيُعَضِّدُهُ آيَةُ: {وَرَحْمَتِي وَسِعَتْ كُلَّ شَيْءٍ} [الأعراف: ۱۵۶] بَلْ هُوَ أَمْرٌ مُشَاهَدٌ فِي عَالَمِ الْوُجُودِ مِنْ غَلَبَةِ آثَارِ الرَّجَاءِ عَلَى آثَارِ الْخَوْفِ . مرقاة المفاتیح شرح مشکاة المصابیح ج۳ ص ۱۱۵۹ في تشریح حدیث ۱۶۰۵ (۸) بَابُ تَمَنِّي الْمَوْتِ وَذِكْرِهِ.

عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ رضي الله عنه . عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ اللهُ عَزَّ وَجَلَّ: « سَبَقَتْ رَحْمَتِيْ غَضَبِيْ » . صحیح مسلم كِتَابُ التَّوْبَةِ بَابٌ فِي سِعَةِ رَحْمَةِ اللهِ تَعَالَى وَأَنَّهَا سَبَقَتْ غَضَبَهُ رقم الحدیث ۱۵ (۲۷۵۱) ، مسند احمد مخرجا رقم الحدیث ۷۲۹۹

Scanned with CamScanner

وجه اوشي . (۱)

## د ښه اُميد په وجه د الله ﷻ د رحمت زيات مستحق کيدل

څوک چې د الله تعالى نه ښه اُميد لري نو دا الله ﷻ ته د نورو خلقو په نسبت ډير معزز وي ، حضرت عبدالله بن مسعود رضي الله عنه فرمايي :

اَلْفَاجِرُ الرَّاجِيْ لِرَحْمَةِ اللهِ تَعَالَى أَقْرَبُ مِنْهَا مِنَ الْعَابِدِ الْمُقْنِطِ . (۲)

کوم فاجر چې د الله تعالى د رحمت اُميد لري نو دا ددې رحمت زيات مستحق دی د هغه عابد نه کوم چې خلق د الله تعالى نه نااُميده کوي .

## په کوم وخت کې د الله ﷻ نه يره ، او په کوم وخت کې ښه اُميد لرل بهتر دي ؟

امام غزالي رَحِمَهُ اللهُ په " احياء العلوم " کې ذکر کړي : اګر چې د خَوف او رَجاء په باره کې ډير احاديث راغلي خو اوس دا خبره چې :

---

(۱) وَاتَّفَقَ الصُّوْفِيَّةُ عَلَى أَنَّ الْعِبَادَةَ عَلَى وَجْهِ الرَّجَاءِ أَفْضَلُ مِنَ الطَّاعَةِ عَلَى طَرِيْقِ الْخَوْفِ، وَأَنَّ الْأَوَّلَ عِبَادَةُ الْأَحْرَارِ، وَالثَّانِيْ طَاعَةُ الْعَبِيْدِ، وَلِذَا قَالَ عَلَيْهِ الصَّلَاةُ وَالسَّلَامُ : « أَفَلَا أَكُوْنُ عَبْدًا شَكُوْرًا » . مرقاة المفاتيح شرح مشكاة المصابيح ج۳ ص۱۱۵۹ في تشريح حديث ۱۶۰۵ (۸) بَابُ تَمَنِّي الْمَوْتِ وَذِكْرِهِ .

(۲) كنز العمال الخوف والرجاء رقم الحديث ۵۸۶۹ . الفتح الكبير في ضم الزيادة إلى الجامع الصغير رقم الحديث ۸۲۶۸ ، حلية الأولياء وطبقات الأصفياء ج۷ ص۳۸ .

وفي رواية : عَنِ ابْنِ مَسْعُوْدٍ رَضِيَ اللهُ عَنْهُ قَالَ قَالَ رَسُوْلُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ : اَلْفَاجِرُ الرَّاجِيْ لِرَحْمَةِ اللهِ تَعَالَى أَقْرَبُ مِنْهَا مِنَ الْعَابِدِ .

المقنط لجهله بالله بعد من رَحْمَة الله وَإِنَّمَا رَجَاء العَبْد بِالله على قدر مَعْرفَته بِالله وَعلمه بجوده وَكَرمه والقنوط من الْجَهْل . أَلا يرى إِلَى قَوْله تَعَالَى وَمن يقنط من رَحْمَة ربه إِلَّا الضالون . والمقنط إِنَّمَا يقنط غَيره لقنوطه فَهُوَ ضال عَن ربه وَمَا تغني الْعِبَادَة مَعَ الضَّلَالَة وَقَالَ تَعَالَى: إِنَّه لَا ييأس من روح الله إِلَّا الْقَوْم الْكَافِرُوْنَ. نوادر الأصول في أحاديث الرسول صلى الله عليه وسلم الأصل الثاني في ترجيح الرَّجَاء على القنوط ج۱ ص۹۳ .

" د مسلمان د پاره په دې کې کوم ډير بهتر دی ؟ "

نو ددې جواب دادی چې : په دې دواړو سره د زړه د بيماريو علاج کيږي او دواړه ضروري دي ، البته د بعضې سړي په حق کې د الله ﷻ نه يره ضروري ده ، او د بعضې په حق کې د الله ﷻ نه ښه أميد ساتل ضروري دي .

د چا په زړه کې چې غفلت وي يعنی د الله ﷻ د عذاب نه بې فِکره وي او په ګناهونو کې د مبتلاء کيدو خطره وي نو دده په حق کې د الله ﷻ نه ويره افضل ده چې په دې يَرې سره به ددې ګناهونو نه منع شي .

او د چا په زړه کې چې د الله تعالى د رحمت نه نااُميدي غالبه وي نو بيا دده د پاره د الله ﷻ نه ښه اُميد لرل افضل دي .

او کوم متّقي کس چې د ښکاره او پټو ګناهونو نه ځان ساتي نو د هغه په حق کې بهتر داده چې خَوف او اُميد دواړه يې برابر وي .(۱)

---

(۱) بيان أن الأفضل هو غلبة الخوف أو غلبة الرجاء أو اعتدالهما : اعلم أن الأخبار في فضل الخوف والرجاء قد كثرت وربما ينظر الناظر إليها فيعتريه شك في أن الأفضل أيهما وقول القائل : الخوف أفضل أم الرجاء سؤال فاسد يضاهي قول القائل الخبز أفضل أم الماء وجوابه أن يقال الخبز أفضل للجائع والماء أفضل للعطشان فإن اجتمعا نظر إلى الأغلب فإن كان الجوع أغلب فالخبز أفضل وإن كان العطش أغلب فالماء أفضل وإن استويا فهما متساويان وهذا لأن كل ما يراد لمقصود ففضله يظهر بالإضافة إلى مقصوده لا إلى نفسه والخوف والرجاء دواءان يداوى بهما القلوب ففضلهما بحسب الداء الموجود فإن كان الغالب على القلب داء الأمن من مكر الله تعالى والاغترار به فالخوف أفضل وإن كان الأغلب هو اليأس والقنوط من رحمة الله فالرجاء أفضل وكذلك إن كان الغالب على العبد المعصية فالخوف أفضل ويجوز أن يقال مطلقاً الخوف أفضل على التأويل الذي يقال فيه الخبز أفضل من السكنجبين إذ يعالج بالخبز مرض الجوع وبالسكنجبين مرض الصفراء ومرض الجوع أغلب وأكثر فالحاجة إلى الخبز أكثر فهو أفضل فبهذا الاعتبار غلبة الخوف أفضل لأن المعاصي والاغترار على الخلق أغلب وإن نظر إلى مطلع الخوف والرجاء فالرجاء أفضل لأنه مستقى من بحر الرحمة ومستقى الخوف من بحر الغضب ومن لاحظ من صفات الله تعالى ← ← ← ← ← ←

Scanned with CamScanner

خو دا تفصيل په عامو حالاتو کې دی يعنې چې په انسان باندې د مرګ حالات نه وي شروع شوي ، ځکه چې کله دده د مرګ حالت شروع شي نو بيا دده په حق کې د الله ﷻ نه ښه أميد لرل بهتر دي ؛ ځکه په ښه أميد لرلو سره د انسان د الله تعالی سره محبت پيدا کيږي ، او د وفات کيدونکي کس د پاره په کار دي چې په زړه کې يې د الله ﷻ سره محبت وي ددې د پاره چې د هغه سره يې د ملاقات شوق راپيدا شي ، او د چا چې د الله ﷻ سره د ملاقات شوق وي نو الله تعالی هم دده ملاقات خوښوي ، نو په دې سره ده ته د دواړو جهانونو کاميابي نصيبه کيږي . (۱)

←←← ما يقتضي اللطف والرحمة كانت المحبة عليه أغلب وليس وراء المحبة مقام . وأما الخوف فمستنده الالتفات إلى الصفات التي تقتضي العنف فلا تمازجه المحبة ممازجتها للرجاء وعلى الجملة فما يراد لغيره ينبغي أن يستعمل فيه لفظ الأصلح لا لفظ الأفضل فنقول أكثر الخلق الخوف لهم أصلح من الرجاء وذلك لأجل غلبة المعاصي . فأما التقي الذي ترك ظاهر الإثم وباطنه وخفيه وجليه فالأصلح أن يعتدل خوفه ورجاؤه ولذلك قيل لو وزن خوف المؤمن ورجاؤه لاعتدلا . احياء علوم الدين كتاب الخوف والرجاء ج ۴ ص ۱۶۴ .

(۱) فإذن لا بد من الجمع بين هذه الأمور وغلبة الخوف هو الأصلح ولكن قبل الإشراف على الموت أما عند الموت فالأصلح غلبة الرجاء وحسن الظن لأن الخوف جار مجرى السوط الباعث على العمل وقد انقضى وقت العمل فالمشرف على الموت لا يقدر على العمل ثم لا يطيق أسباب الخوف فإن ذلك يقطع نياط قلبه ويعين على تعجيل موته وأما روح الرجاء فإنه يقوي قلبه ويحبب إليه ربه الذي إليه رجاؤه ولا ينبغي أن يفارق أحد الدنيا إلا محبا لله تعالى ليكون محبا للقاء الله تعالى فإن من أحب لقاء الله تعالى أحب الله لقاءه والرجاء تقارنه المحبة فمن ارتجى كرمه فهو محبوب والمقصود من العلوم والأعمال كلها معرفة الله تعالى حتى تثمر المعرفة المحبة فإن المصير إليه والقدوم بالموت عليه ومن قدم على محبوبه عظم سروره بقدر محبته ومن فارق محبوبه اشتدت محنته وعذابه .... والغرض أن غلبة الرجاء عند الموت أصلح لأنه أجلب للمحبة وغلبة الخوف قبل الموت أصلح لأنه أحرق لنار الشهوات وأقمع لمحبة الدنيا عن القلب . احياء علوم الدين كتاب الخوف والرجاء ج ۴ ص ۱۶۶ . →→→→→ ←←←←←

Scanned with CamScanner

# د مرګ په وخت د الله ﷻ نه يَره او اُميد

۱ . حضرت انس ﷺ فرمايي چې نبي عليه السلام د يو ځوان بيمار پُرسى ته ورغى ، هغه د مرګ په حالت کې وُ ، دوى ورنه پوښتنه اوکړه :

كَيْفَ تَجِدُكَ ؟ ته خپل ځان څنګه مومي ؟ ( يعنى څه محسوسوى ؟ ) .

هغه ځوان ورته وويل :

وَاللهِ يَا رَسُولَ اللهِ إِنِّيْ أَرْجُو اللهَ ، وَإِنِّيْ أَخَافُ ذُنُوْبِي ،

اې د الله رسوله ! قسم په الله ، يقيناً زه د الله تعالى نه ښه اُميد لرم او د خپلو ګناهونو نه ويرېږم .

نبي عليه السلام ورته اوفرمايل :

لَا يَجْتَمِعَانِ فِيْ قَلْبِ عَبْدٍ فِيْ مِثْلِ هَذَا الْمَوْطِنِ إِلَّا أَعْطَاهُ اللهُ مَا يَرْجُو وَآمَنَهُ مِمَّا يَخَافُ.

د کوم مؤمن په زړه کې چې په دې ( د مرګ په ) وخت دا دواړه شيان ( ښه اُميد او يَره ) جمع شي نو الله تعالى ورته هغه څه ورکوي چې د کوم اُميد ساتي او د هغه څيز نه ورته آمان ورکوي چې د کوم نه ويرېږي . (۱)

---

←←←← قَوْلُهُ سُبْحَانَهُ وَتَعَالَى : أَنَا عِنْدَ ظَنِّ عَبْدِيْ بِيْ قَالَ الْعُلَمَاءُ مَعْنَى حُسْنُ الظَّنِّ بِاللهِ تَعَالَى أَنْ يَظُنَّ أَنَّهُ يَرْحَمُهُ وَيَعْفُوْ عَنْهُ . قَالُوْا : وَفِيْ حَالَةِ الصِّحَّةِ يَكُوْنُ خَائِفًا رَاجِيًا وَيَكُوْنَانِ سَوَاءً . وَقِيْلَ يَكُوْنُ الْخَوْفُ أَرْجَحَ فَإِذَا دَنَتْ أَمَارَاتُ الْمَوْتِ غَلَّبَ الرَّجَاءَ أَوْ مَحْضَهُ لِأَنَّ مَقْصُوْدَ الْخَوْفِ الْإِنْكِفَافُ عَنِ الْمَعَاصِيْ وَالْقَبَائِحِ وَالْحِرْصُ عَلَى الْإِكْثَارِ مِنَ الطَّاعَاتِ وَالْأَعْمَالِ وَقَدْ تَعَذَّرَ ذَلِكَ أَوْ مُعْظَمُهُ فِيْ هَذَا الْحَالِ فَاسْتُحِبَّ إِحْسَانُ الظَّنِّ الْمُتَضَمِّنِ لِلِافْتِقَارِ إِلَى اللهِ تَعَالَى وَالْإِذْعَانِ لَهُ . شرح النووي على مسلم ( المنهاج شرح صحيح مسلم بن الحجاج ) ج ۱۷ ص ۲۱۰ باب الأمر بحسن الظن بالله تعالى عند الموت .

(۱) عَنْ أَنَسٍ ﷺ ، أَنَّ النَّبِيَّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ دَخَلَ عَلَى شَابٍّ وَهُوَ فِي الْمَوْتِ ، فَقَالَ : كَيْفَ تَجِدُكَ ؟ قَالَ : وَاللهِ يَا رَسُوْلَ اللهِ ، إِنِّيْ أَرْجُو اللهَ ، وَإِنِّيْ أَخَافُ ذُنُوْبِي ، فَقَالَ رَسُوْلُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ : لَا يَجْتَمِعَانِ فِيْ قَلْبِ عَبْدٍ فِيْ مِثْلِ هَذَا الْمَوْطِنِ إِلَّا أَعْطَاهُ اللهُ مَا يَرْجُوْ وَآمَنَهُ مِمَّا يَخَافُ . سنن الترمذي أَبْوَابُ الْجَنَائِزِ عَنْ رَسُوْلِ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ باب ۱۱ رقم الحديث ۹۸۳ . قال الالباني : حسنٌ . سنن ابن ماجة كِتَابُ الزُّهْدِ ←←←←

Scanned with CamScanner

۴. حضرت واثله ﷺ د يزيد بن اسود بيمارپُرسي له ورغى، يزيد بن اسود د مرګ په حالت کې وُ، حضرت واثله ﷺ ورنه پوښتنه اوکړه:

يَا أَخِي كَيْفَ تَجِدُكَ؟ اې وروره! ته خپل ځان څنګه مومې؟

هغه ورته ووېل: أَجِدُنِي أَرْجُو وَأَخَافُ.

زه خپل ځان په داسې حالت کې مومم چې د الله ﷻ نه اُميد ساتم، او د هغه د عذاب نه هم وېرېږم.

حضرت واثله ﷺ ورته ووېل: ستا په زړه کې اُميد ډېر دى او که يَره؟

هغه ورته ووېل: زما په زړه کې اُميد زيات دى.

حضرت واثله ﷺ نعره تکبير (اَللّٰهُ أَكْبَرُ) ويلو نه پس ورته اوفرمايل:

ما د رسولُ الله صلى الله عليه وسلم نه اَوريدلي دي چې فرمايل يې:

قَالَ اللهُ عَزَّ وَجَلَّ: أَنَا عِنْدَ ظَنِّ عَبْدِي بِي.

---

←←←← بَابُ ذِكْرِ الْمَوْتِ وَالِاسْتِعْدَادِ لَهُ رقم الحديث ۴۲۶۱. السنن الكبرى للنسائي رقم الحديث ۱۰۸۳۴. شعب الايمان رقم الحديث ۹۷۰، مشكاة المصابيح رقم الحديث ۱۶۱۲(۱۲).

ملا علي قاري رحمه الله په مرقاة کې ددې آخري جُملې تشريح داسې کړى: (فَقَالَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: لَا يَجْتَمِعَانِ) بِالتَّذْكِيرِ. أَيِ: الرَّجَاءُ وَالْخَوْفُ عَلَى مَا فِي الْمَفَاتِيحِ وَغَيْرِهِ، وَبِالتَّأْنِيثِ عَلَى مَا ذَكَرَهُ الطِّيبِيُّ: أَيْ: هَاتَانِ الْخَصْلَتَانِ لَا تَجْتَمِعَانِ. (فِي قَلْبِ عَبْدٍ) أَيْ: مِنْ عِبَادِ اللهِ. (فِي مِثْلِ هَذَا الْمَوْطِنِ) أَيْ: فِي هَذَا الْوَقْتِ، وَهُوَ زَمَانُ سَكَرَاتِ الْمَوْتِ ...... (إِلَّا أَعْطَاهُ اللهُ مَا يَرْجُو) أَيْ: مِنَ الرَّحْمَةِ. (وَآمَنَهُ مِمَّا يَخَافُ) أَيْ: مِنَ الْعُقُوبَةِ بِالْعَفْوِ وَالْمَغْفِرَةِ. مرقاة المفاتيح شرح مشكاة المصابيح ج ۳ ص ۱۱۶۳ كِتَابُ الْجَنَائِزِ بَابُ تَمَنِّي الْمَوْتِ وَذِكْرِهِ.

وفي رواية: عَنْ ثَابِتٍ الْبُنَانِيِّ، قَالَ: مَرِضَ رَجُلٌ مِنَ الْأَنْصَارِ فَجَعَلَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَعُودُهُ، فَوَافَقَهُ وَهُوَ فِي الْمَوْتِ، فَسَلَّمَ عَلَيْهِ، وَقَالَ: كَيْفَ تَجِدُكَ؟ قَالَ: بِخَيْرٍ أَرْجُو اللهَ، وَأَخَافُ ذُنُوبِي. فَقَالَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: «لَا يَجْتَمِعَانِ فِي قَلْبِ الْعَبْدِ فِي مِثْلِ هَذَا الْمَوْطِنِ إِلَّا أَعْطَاهُ اللهُ مَا يَرْجُو، وَآمَنَهُ مِمَّا يَخَافُ»

شرح السنة للبغوي رقم الحديث ۱۴۵۶ كِتَابُ الْجَنَائِزِ بَابُ حُسْنِ الظَّنِّ بِاللهِ

Scanned with CamScanner

الله رب العزت فرمايي چې زه د خپل بنده د ګمان سره يم . (۱)

## خاصګر د مرګ په وخت د الله ﷻ نه "بنه أميد لرل" ډير بهتر دي

چې انسان روغ وي نو دده په حق کې د الله تعالى د عذاب نه ويريدل بهتر دي ، خو چې کله دده د مرګ وخت راشي نو بيا دده په حق کې د الله ﷻ نه بنه أميد لرل ډير بهتر دي . (۲)

---

(۱) قَالَ : عُتْبَةُ بْنُ أَبِي حَكِيمٍ: عَادَ وَاثِلَةُ بْنُ الْأَسْقَعِ يَزِيدَ بْنَ الْأَسْوَدِ الْجُرَشِيَّ وَقَدْ نَزَلَ بِهِ الْمَوْتُ فَقَالَ: يَا أَخِي كَيْفَ تَجِدُكَ؟ قَالَ: أَجِدُنِي أَرْجُو وَأَخَافُ. قَالَ: لَهُ أَيُّهُمَا فِي نَفْسِكَ أَكْثَرُ؟ قَالَ: اَلرَّجَاءُ. قَالَ وَاثِلَةُ ﷺ: اَللهُ أَكْبَرُ سَمِعْتُ رَسُولَ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَقُولُ: " قَالَ اللهُ عَزَّ وَجَلَّ: أَنَا عِنْدَ ظَنِّ عَبْدِي بِي " . شعب الايمان رقم الحديث ۹۷۴ الرجاء من الله تعالى .

وفي رواية : عَنْ حَيَّانَ أَبِي النَّضْرِ. قَالَ خَرَجْتُ عَائِدًا لِيَزِيدَ بْنِ الْأَسْوَدِ فَلَقِيتُ وَاثِلَةَ بْنَ الْأَسْقَعِ وَهُوَ يُرِيدُ عِيَادَتَهُ. فَدَخَلْنَا عَلَيْهِ. فَلَمَّا رَأَى وَاثِلَةَ. بَسَطَ يَدَهُ، وَجَعَلَ يُشِيرُ إِلَيْهِ. فَأَقْبَلَ وَاثِلَةُ حَتَّى جَلَسَ. فَأَخَذَ يَزِيدُ بِكَفَّيْ وَاثِلَةَ. فَجَعَلَهُمَا عَلَى وَجْهِهِ. فَقَالَ لَهُ وَاثِلَةُ: كَيْفَ ظَنُّكَ بِاللهِ؟. قَالَ: ظَنِّي بِاللهِ وَاللهِ حَسَنٌ. قَالَ: فَأَبْشِرْ. فَإِنِّي سَمِعْتُ رَسُولَ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ. يَقُولُ: «قَالَ اللهُ جَلَّ وَعَلَا: أَنَا عِنْدَ ظَنِّ عَبْدِي بِي إِنْ ظَنَّ خَيْرًا. وَإِنْ ظَنَّ شَرًّا» . صحيح ابن حبان مخرجا رقم الحديث ۶۴۱ بَابُ حُسْنِ الظَّنِّ بِاللهِ تَعَالَى ذِكْرُ الْبَيَانِ بِأَنَّ مَنْ أَحْسَنَ بِالْمَعْبُودِ كَانَ لَهُ عِنْدَ ظَنِّهِ، وَمَنْ أَسَاءَ بِهِ الظَّنَّ كَانَ لَهُ عِنْدَ ذَلِكَ . حسن الظن بالله لابن ابي الدنيا ج۱ ص ۱۵ رقم ۲ .

وفي رواية : قَالَ حَيَّانُ أَبُو النَّضْرِ قَالَ لِي وَاثِلَةُ بْنُ الْأَسْقَعِ: قُدْنِي إِلَى يَزِيدَ بْنِ الْأَسْوَدِ فَإِنِّي قَدْ بَلَغَنِي أَنَّ أَلَمًا نَزَلَ بِهِ. قَالَ: فَقُدْتُهُ فَدَخَلَ عَلَيْهِ وَهُوَ ثَقِيلٌ وَقَدْ وُجِّهَ يَعْنِي نَحْوَ الْقِبْلَةِ وَقَدْ ذَهَبَ عَقْلُهُ. قَالَ: نَادُوهُ. فَنَادَوْهُ فَقُلْتُ: إِنَّ هَذَا وَاثِلَةُ بْنُ الْأَسْقَعِ أَخُوكَ. قَالَ: فَأَبْقَى اللهُ مِنْ عَقْلِهِ أَنْ سَمِعَ أَنَّ وَاثِلَةَ قَدْ جَاءَ. فَمَدَّ يَدَهُ فَجَعَلَ يَلْتَمِسُ بِهَا. فَعَلِمْتُ مَا يُرِيدُ فَأَخَذْتُ كَفَّ وَاثِلَةَ فَجَعَلْتُهَا فِي كَفِّهِ. وَإِنَّمَا أَرَادَ أَنْ يَضَعَ يَدَهُ فِي يَدِ وَاثِلَةَ. ذَلِكَ لِمَوْضِعِ يَدِ وَاثِلَةَ مِنْ يَدِ رَسُولِ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ. وَجَعَلَ يَضَعُهَا مَرَّةً عَلَى صَدْرِهِ، وَمَرَّةً عَلَى وَجْهِهِ، وَمَرَّةً عَلَى فِيهِ. فَقَالَ وَاثِلَةُ: أَلَا تُخْبِرُنِي عَنْ شَيْءٍ أَسْأَلُكَ عَنْهُ؟ كَيْفَ ظَنُّكَ بِاللهِ؟ قَالَ: اغْتَرَضَتْنِي ذُنُوبٌ لِي أَشْفَيْتُ عَلَى هَلَكَةٍ. وَلَكِنْ أَرْجُو رَحْمَةَ اللهِ. فَكَبَّرَ وَاثِلَةُ وَكَبَّرَ أَهْلُ الْبَيْتِ بِتَكْبِيرِهِ وَقَالَ: اَللهُ أَكْبَرُ سَمِعْتُ رَسُولَ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَقُولُ: "يَقُولُ اللهُ عَزَّ وَجَلَّ: أَنَا عِنْدَ ظَنِّ عَبْدِي بِي فَلْيَظُنَّ بِي مَا شَاءَ" . شعب الايمان رقم الحديث ۹۷۵ الرجاء من الله تعالى .

(۲) قَالَ سَعِيدُ بْنُ عُثْمَانَ : سَمِعْتُ السَّرِيَّ بْنَ الْمُغَلِّسِ . يَقُولُ : " اَلْخَوْفُ أَفْضَلُ مِنَ الرَّجَاءِ مَادَامَ الرَّجُلُ صَحِيحًا. فَإِذَا نَزَلَ بِهِ الْمَوْتُ فَالرَّجَاءُ أَفْضَلُ مِنَ الْخَوْفِ" . فَقَالَ لَهُ رَجُلٌ : كَيْفَ يَا أَبَا الْحَسَنِ ؟ ←←←←

Scanned with CamScanner

علماؤ دا هم ليکلي چې د مسلمان د پاره هر وخت د الله ﷻ نه ښه اُميد لرل په کار دي ، خو امام غزالي رَحِمَهُ اللهُ ليکلي چې د روغ والي په حالت کې د خَوف او رَجاء په مينځ کې ژوند تيرول په کار دي ، البته چې په مرضُ الموت کې مبتلاء شي نو د الله تعالی نه ښه اُميد لرل په کار دي . (۱)

۱ . حضرت جابر رضي الله عنه فرمايي چې رسولُ الله صلی الله عليه وسلم د وفات کيدو نه درې ورځې مخکې اوفرمايل : لَا يَمُوتَنَّ أَحَدُكُمْ إِلَّا وَهُوَ يُحْسِنُ بِاللهِ الظَّنَّ .
په تاسو کې چې هر څوک وفات کيږي نو هغه دې ضرور په الله تعالی باندې ښه گمان کوي . (۲)

---

←←← قَالَ : " لِأَنَّهُ إِذَا كَانَ فِي صِحَّتِهِ مُحْسِنًا عَظُمَ رَجَاؤُهُ عِنْدَ الْمَوْتِ وَحَسُنَ ظَنُّهُ بِرَبِّهِ . وَإِذَا كَانَ فِي صِحَّتِهِ مُسِيئًا سَاءَ ظَنُّهُ عِنْدَ الْمَوْتِ وَلَمْ يَعْظُمْ رَجَاؤُهُ " قَالَ الْبَيْهَقِيُّ رحمه الله : " وَإِنَّمَا أَرَادَ بِهِ خَوْفًا يَمْنَعُهُ مِنْ مَعْصِيَةِ اللهِ عَزَّ وَجَلَّ ، وَيَحْمِلُهُ عَلَى طَاعَتِهِ حَتَّى إِذَا حَضَرَهُ الْمَوْتُ عَظُمَ رَجَاؤُهُ فِي رَحْمَةِ رَبِّهِ . وَكَثُرَ طَمَعُهُ فِي إِحْسَانِ اللهِ ثِقَةً مِنْهُ بِوَعْدِ اللهِ عَزَّ وَجَلَّ " . شعب الايمان رقم الحديث ۹۷۹ الرجاء من الله تعالی .

... وَقِيلَ يَنْبَغِي أَنْ يُغَلِّبَ الْخَوْفَ فِي حَالِ الْحَيَاةِ ، وَالرَّجَاءَ عِنْدَ الْمَمَاتِ . مرقاة المفاتيح شرح مشكاة المصابيح ج۴ ص ۱۶۴۰ باب سعة رحمة الله الفصل الاول في تشريح رقم الحديث ۲۳۶۷ .

قَالُوا : وَفِي حَالَةِ الصِّحَّةِ يَكُونُ خَائِفًا رَاجِيًا وَيَكُونَانِ سَوَاءً . وَقِيلَ يَكُونُ الْخَوْفُ أَرْجَحَ فَإِذَا دَنَتْ أَمَارَاتُ الْمَوْتِ غَلَّبَ الرَّجَاءَ أَوْ مَحَضَهُ لِأَنَّ مَقْصُودَ الْخَوْفِ الْإِنْكِفَافُ عَنِ الْمَعَاصِي وَالْقَبَائِحِ وَالْحِرْصُ عَلَى الْإِكْثَارِ مِنَ الطَّاعَاتِ وَالْأَعْمَالِ وَقَدْ تَعَذَّرَ ذَلِكَ أَوْ مُعْظَمُهُ فِي هَذَا الْحَالِ فَاسْتُحِبَّ إِحْسَانُ الظَّنِّ الْمُتَضَمِّنُ لِلِافْتِقَارِ إِلَى اللهِ تَعَالَى وَالْإِذْعَانِ لَهُ . شرح النووي على مسلم ( المنهاج شرح صحيح مسلم بن الحجاج ) ج ۱۷ ص ۲۱۰ باب الأمر بحسن الظن بالله تعالى عند الموت .

(۱) قال العلماء : إنّ الأولى للمسلم أن يحسن ظنّه بالله في كلّ حال . وقال الغزالي رَحِمَهُ اللهُ : المرء في الصحة بين الخوف والرجاء ، وفي المرض له رجاء محض . العرف الشذي شرح سنن الترمذي لمولانا انورشاه الكشميري الهندي كتاب الزهد باب ما جاء في حسن الظن بالله تعالى ج ۴ ص ۴۱ في تشريح حديث ۲۳۸۸ .

(۲) عَنْ جَابِرٍ رضي الله عنه ، قَالَ : سَمِعْتُ النَّبِيَّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ ، قَبْلَ وَفَاتِهِ بِثَلَاثٍ ، يَقُولُ : « لَا يَمُوتَنَّ أَحَدُكُمْ إِلَّا وَهُوَ يُحْسِنُ بِاللهِ الظَّنَّ » . صحيح مسلم كتاب الجَنَّةِ وَصِفَةِ نَعِيمِهَا وَأَهْلِهَا ←←←←←←←

Scanned with CamScanner

۲. حضرت عبدالله بن عباس رضي الله عنهما فرمايي:

إِذَا رَأَيْتُمُ الرَّجُلَ بِالْمَوْتِ فَبَشِّرُوهُ لِيَلْقَى رَبَّهُ وَهُوَ حَسَنُ الظَّنِّ بِهِ، وَإِذَا كَانَ حَيًّا فَخَوِّفُوهُ بِرَبِّهِ عَزَّ وَجَلَّ.(۱)

کله چې تاسو يو کس اوګورى چې هغه وفات کيږي نو هغه ته زيرې ورکوئ دديې د پاره چې دا د الله تعالى سره په داسې حالت کې ملاوْ شي چې په هغه باندې ښه ګمان لري، او چې کله دا ژوندې وي (يعنى بيمار نه وي) نو بيا يې د الله ﷻ د عذاب نه ويروئ.

علماء کرامو به قريبُ الموت کس ته خپل نيک اعمال وريادول دديې د پاره چې دده په الله ﷻ باندې ښه ګمان پيدا شي.(۲)

بلکه قريبُ الموت کس به اکثر پخپله موجود کسانو ته ويل چې تاسو ماته د الله ﷻ د رحمتونو تذکره اوکړئ چې زما په الله تعالى باندې ښه ګمان پيدا شي.

کله چې د سليمان تيمي رحمه الله د وفات وخت رانزدې شو نو خپل ځوي ته يې وويل:

يَا مُعْتَمِرُ! حَدِّثْنِي بِالرُّخَصِ لَعَلِّي أَلْقَى اللهَ وَأَنَا حَسَنُ الظَّنِّ بِهِ.

اې معتمر! ته ماته د الله تعالى نه د ښه اُميد متعلق آيتونه، احاديث، او اَقوال ذکر کړه

←←← بَابُ الْأَمْرِ بِحُسْنِ الظَّنِّ بِاللهِ تَعَالَى عِنْدَ الْمَوْتِ رقم الحديث ۸۱(۲۸۷۷)، و رقم الحديث ۸۲(۲۸۷۷). سنن ابي داؤد كِتَابُ الْجَنَائِزِ بَابُ مَا يُسْتَحَبُّ مِنْ حُسْنِ الظَّنِّ بِاللهِ عِنْدَ الْمَوْتِ رقم الحديث ۳۱۱۳. صحيح ابن حبان ذِكْرُ الْأَمْرِ لِلْمُسْلِمِ بِحُسْنِ الظَّنِّ بِمَعْبُودِهِ مَعَ قِلَّةِ التَّقْصِيرِ فِي الطَّاعَاتِ رقم الحديث ۶۳۶.

وفي رواية: عَنْ أَبِي سُفْيَانَ، قَالَ: سَمِعْتُ جَابِرًا رضي الله عنه، يَقُولُ: سَمِعْنَا النَّبِيَّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَقُولُ قَبْلَ مَوْتِهِ بِثَلَاثٍ: مَنِ اسْتَطَاعَ مِنْكُمْ أَنْ لَا يَمُوتَ إِلَّا وَظَنُّهُ بِاللهِ حَسَنٌ، فَلْيَفْعَلْ. صحيح ابن حبان ذِكْرُ الْأَمْرِ لِلْمُسْلِمِ بِحُسْنِ الظَّنِّ بِمَعْبُودِهِ مَعَ قِلَّةِ التَّقْصِيرِ فِي الطَّاعَاتِ رقم الحديث ۶۳۷.

(۱) شرح السنة للبغوي كِتَابُ الْجَنَائِزِ بَابُ حُسْنِ الظَّنِّ بِاللهِ ج ۵ ص ۲۷۵.

(۲) عَنْ إِبْرَاهِيمَ، قَالَ: كَانُوا يَسْتَحِبُّونَ أَنْ يُلَقِّنُوا الْعَبْدَ مَحَاسِنَ عَمَلِهِ عِنْدَ مَوْتِهِ لِكَيْ يُحْسِنَ ظَنَّهُ بِرَبِّهِ عَزَّ وَجَلَّ. حسن الظن بالله لابن ابي الدنيا ج ۱ ص ۴۰ رقم ۳۰.

Scanned with CamScanner

ددې د پاره چې زه په داسې حالت کې وفات شم چې په الله ﷻ مې ښه ګمان وي. (۱)

همداسې خبره امام احمد بن حنبل رَحِمَهُ اللهُ هم د مرګ په وخت خپل ځوي ته کړې وه "چې ماته داسې أقوال ذکر کړه چې په هغې کې د الله ﷻ نه د ښه أميد تذکره وي.

الله ﷻ حضرت داوٗد عليه السلام ته وَحي اوکړه چې: ته ما خپلو بندګانو ته محبوب کړه. حضرت داوٗد عليه السلام ورنه پوښتنه اوکړه:

په څه شي باندې؟ الله تعالى ورته اوفرمايل: دوی ته زما احسانات او نعمتونه وریاد کړه. (۲)

## د الله ﷻ نه په ښه أميد ساتلو سره مغفرت

د نبي عليه السلام د زمانې واقعه ده .... چې يو کس بيمار ؤ، مور يې سَر ته ناسته وه او ژړل يې، ده ورنه پوښتنه اوکړه:

يَا أُمَّهُ! أَرَأَيْتِ لَوْ أَنَّ النَّارَ بَيْنَ يَدَيْكِ أَكُنْتِ تُلْقِيْنِيْ فِيْهَا؟

اې مورې! دا راته أووايه که چيرته ستا مخې ته أور وي نو آيا ته به ما په هغې کې أوغورځوی؟

مور ورته ووېل: نه. ده ورته ووېل:

فَإِنَّ رَبِّيْ عَزَّ وَجَلَّ أَرْحَمُ بِيْ مِنْكِ.

---

(۱) قَالَ الْمُعْتَمِرُ بْنُ سُلَيْمَانَ: قَالَ لِيْ أَبِيْ حِيْنَ حَضَرَتْهُ الْوَفَاةُ: يَا مُعْتَمِرُ! حَدِّثْنِيْ بِالرُّخَصِ لَعَلِّيْ أَلْقَى اللهَ وَأَنَا حَسَنُ الظَّنِّ بِهِ. شعب الايمان ج ۲ ص ۳۱۹ الرجاء من الله تعالى رقم ۹۷۷. حسن الظن بالله لابن ابى الدنيا ج ۱ ص ۴۰ رقم ۲۸. شرح السنّة للبغوي كِتَابُ الْجَنَائِزِ بَابُ حُسْنِ الظَّنِّ بِاللهِ ج ۵ ص ۲۷۵. احياء علوم الدين كتاب الخوف والرجاء ج ۴ ص ۱۶۷.

(۲) وقال أحمد بن حنبل رَحِمَهُ اللهُ لابنه عند الموت: اذكر لي الأخبار التي فيها الرجاء وحسن الظن. والمقصود من ذلك كله أن يحبب الله تعالى إلى نفسه. ولذلك أوحى الله تعالى إلى داود عليه الصلاة والسلام أن حببني إلى عبادي فقال بماذا قال بأن تذكر لهم آلائي ونعمائي. احياء علوم الدين كتاب الخوف والرجاء ج ۴ ص ۱۶۷.

Scanned with CamScanner

بیشکه زما رب د تا نه په ما باندې ډیر مهربان دی .
بیا دا کس وفات شو . نبي علیه السلام ددې کس مور ته وویل :
إِنَّ ابْنَكِ قَدْ غُفِرَ لَهُ بِحُسْنِ ظَنِّهِ بِرَبِّهِ .
بیشکه ستا ځوي ته بخنه اوشوه ؛ ځکه چې هغه په خپل رَب باندې ښه ګمان لرل .(۱)

## د الله ﷻ نه په ښه اُمید ساتلو سره د یحیٰی بن اکثمؒ مغفرت

فقیه ابو اللیث سمرقندي رَحِمَهُ اللهُ په تنبیه الغافلین کې دا واقعه رانقل کړې :
احمد بن سهل رحمه الله فرمائي : چې کله یحیٰی بن اکثم رَحِمَهُ اللهُ د بوډا والي په حالت کې وفات شو نو د وفات نه څو ورځې روستو ما په خوب کې اولید ، پوښتنه مې ترې اوکړه :
يَا يَحْيٰى ! مَا فَعَلَ بِكَ رَبُّكَ ؟ اې یحیٰی ! خپل رَب درسره څه معامله اوکړه ؟
هغه راته وویل چې کله الله تعالی زه خپل حضور ته پیش کړم ، نو راته وې فرمایل :
يَا شَيْخَ السُّوْءِ ! فَعَلْتَ مَا فَعَلْتَ .
اې ګناهګار بوډا ! تا دا فلانې فلانې کار کړی (دا ولې ؟)
ما ورته عرض اوکړو : یا الله ! ما ته خو ستا د طرف نه دا خبره نوه رارسیدلې .
الله ﷻ راته اوفرمایل : تا ته زما د طرفه کومه خبره در رسیدلې وه ؟ ما ورته وویل :
ما ته خو حدیث بیان کړی عبد الرزاق ، او هغه د معمر نه اوریدلی ، هغه د زهري نه

(۱) پوره واقعه داسې ده : عَنِ ابْنِ مَسْعُوْدٍ رضي الله عنه : أَنَّ امْرَأَةً مِنَ الْأَنْصَارِ أَتَتِ النَّبِيَّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ بِعَشَرَةِ أَوْلَادٍ لَهَا . فَقَالَتْ : هٰؤُلَاءِ أَوْلَادِيْ مَعَكَ اغْزُ بِهِمْ فِيْ سَبِيْلِ اللهِ فَكَانَ النَّبِيُّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَغْزُوْ بِهِمْ فَكَانَتْ تَسْأَلُ عَنْهُمْ حَتَّى اسْتُشْهِدَ مِنْهُمْ سَبْعَةٌ . فَكَانَتْ بِمَنْ مَضَى مِنْهُمْ أَشَدُّ فَرَحًا مِنْهَا بِمَنْ بَقِيَ . حَتَّى بَقِيَ وَاحِدٌ مِنْهُمْ فَكَانَ أَصْغَرَهُمْ وَكَانَ فِيْهِ التِّوَاءٌ . فَمَرِضَ . فَكَانَتْ أُمُّهُ عِنْدَ رَأْسِهِ تُمَرِّضُهُ وَتَبْكِيْ . فَقَالَ : يَا أُمَّهْ . مَالَكِ لِمَ تَبْكِيْنَ ؟ لِإِخْوَتِيْ كَانُوْا خَيْرًا لَكِ مِنِّيْ وَكَانَ فِيَّ عَلَيْكِ الْتِوَاءٌ ؟ قَالَتْ : لِذٰلِكَ أَبْكِيْ قَالَ : يَا أُمَّهْ ! أَرَأَيْتِ لَوْ أَنَّ النَّارَ بَيْنَ يَدَيْكِ أَكُنْتِ تُلْقِيْنِيْ فِيْهَا ؟ قَالَتْ : لَا . قَالَ : فَإِنَّ رَبِّيْ عَزَّ وَجَلَّ أَرْحَمُ بِيْ مِنْكِ . قَالَ : فَمَاتَ . فَقَالَ لَهَا النَّبِيُّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ : « إِنَّ ابْنَكِ قَدْ غُفِرَ لَهُ بِحُسْنِ ظَنِّهِ بِرَبِّهِ » . حسن الظن بالله لابن ابي الدنيا ج ۱ ص ۵۸ رقم ۴۸ .

اوريدلى ، هغه د عروه نه اوريدلى ، هغه د حضرت عائشى رضى الله عنها نه اوريدلى ، هغې د نبي عليه السلام نه اوريدلى ، نبي عليه السلام د حضرت جبريل عليه السلام نه داخبره اوريدلى ، او حضرت جبريل عليه السلام د تا نه دا خبره اوريدلى ، چې تا فرمايلي :

مَا مِنْ مُسْلِمٍ يَشِيْبُ فِي الْإِسْلَامِ إِلَّا وَأَنَا أُرِيْدُ أَنْ أُعَذِّبَهُ إِلَّا وَأَنَا أَسْتَحْيِيْ أَنْ أُعَذِّبَهُ .

كوم مسلمان چې په اسلام كې سپين ګيرى شي او زه هغه ته د عذاب وركولو اراده اوكړم نو ماته حياء راځي چې زه دې ته عذاب وركوم.

نو اې الله ! زه خو هم بوډا يم ( ماته هم د عذاب نه نجات راكړه ) .

(( امام غزالي رَحِمَهُ اللهُ هم په احياء العلوم كې دا واقعه ذكر كړي ، په هغې كې ورسره داسې الفاظ هم دي چې دې يحيىٰ بن اكثم رَحِمَهُ اللهُ الله جلّ جلاله ته اوفرمايل : چې ماته خو ستا د طرف نه دا خبره رارسيدلې وه چې تا فرمايلي :

أَنَا عِنْدَ ظَنِّ عَبْدِيْ بِيْ فَلْيَظُنَّ بِيْ مَا شَآءَ . وَكُنْتُ أَظُنُّ بِكَ أَنْ لَا تُعَذِّبَنِيْ .

بنده چې په ما باندې ښكله ګمان كوي زه دده د ګمان مطابق دده سره معامله كوم ، اوس دده خوښه ده چې په ما هر ښكله ګمان كوي ( هماغه شان معامله به ورسره كوم ) نو اې الله ! زما خو په تا باندې دا ګمان وُ چې ته به ماته عذاب نه راكوى )) .

يحيىٰ بن اكثم رحمه الله فرمايي : چې الله ﷻ راته اوفرمايل :

صَدَقَ عَبْدُ الرَّزَّاقِ وَصَدَقَ مَعْمَرٌ وَصَدَقَ الزُّهْرِيُّ وَصَدَقَ عُرْوَةُ وَصَدَقَتْ عَائِشَةُ وَصَدَقَ النَّبِيُّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وَصَدَقَ جِبْرِيْلُ عَلَيْهِ السَّلَامُ وَصَدَقْتُ أَنَا . يَا يَحْيٰى إِنِّيْ لَا أُعَذِّبُ مَنْ شَابَ فِي الْإِسْلَامِ .

عبدالرزاق هم ريښتيا ويلي ، معمر هم ريښتيا ويلي ، زهري هم ريښتيا ويلي ، عروة هم ريښتيا ويلي ، حضرت عائشى رضى الله عنها هم ريښتيا ويلي ، نبي كريم صلى الله عليه وسلم هم ريښتيا ويلي ، حضرت جبريل عليه السلام هم ريښتيا ويلي ، او ما هم ريښتيا ويلي : چې زه هغه كس ته عذاب نه وركوم كوم چې په اسلام كې سپين ګيرې شوې وي .

يحى بن اكثم رحمه الله وايي : چې بيا الله ﷻ حكم اوكړو چې دا جنت ته بوځئ ، نو زه

Scanned with CamScanner

جنت ته بوتلې شوم .(١)

## د الله ﷻ نه د ښه اُميد په وجه د مالک بن دينار رَحِمَهُ اللهُ مغفرت

مالک بن دينار رحمه الله چې وفات شو نو چا په خوب کې اُوليد ، پوښتنه يې ورنه اوکړه : چې الله تعالى ته په څه حالت کې ورمخامخ شوی ؟ ( او هغه درسره څه معامله اوکړه ؟ )

ده ورته ووېل : زه ډېر ګناهګار ووم خو چونکه زما په الله ﷻ باندې ښه ګمان ؤ ، ددې ښه ګمان په وجه زما ګناهونه ختم شوي وو .( يعنى الله تعالى راته د همدې ښه ګمان په وجه بَخنه اوکړه ) .(٢)

همدغه شان واقعه د حسن بن صالح رَحِمَهُ اللهُ او حوشب رَحِمَهُ اللهُ په باره کې هم ده ، چې د دوی هم په الله تعالى باندې ښه ګمان ؤ ، نو د همدې په وجه يې ورته مغفرت اوکړو .(٣)

---

(١) عَنْ أَحْمَدَ بْنِ سَهْلٍ ، قَالَ: رَأَيْتُ يَحْيَى بْنَ أَكْثَمَ رَحِمَهُ اللهُ فِي الْمَنَامِ ، فَقُلْتُ لَهُ : يَا يَحْيَى ! مَا فَعَلَ بِكَ رَبُّكَ ؟ قَالَ: دَعَانِي فَقَالَ لِي: يَا شَيْخَ السُّوءِ ! فَعَلْتَ مَا فَعَلْتَ . فَقُلْتُ: يَا رَبِّ ! مَا بِهٰذَا حُدِّثْتُ عَنْكَ . قَالَ : وَبِمَا حُدِّثْتَ ؟ قَالَ: قُلْتُ: حَدَّثَنِي عَبْدُ الرَّزَّاقِ ، عَنْ مَعْمَرٍ ، عَنْ عُرْوَةَ ، عَنْ عَائِشَةَ رَضِيَ اللهُ تَعَالَى عَنْهَا ، عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ ، عَنْ جِبْرِيْلَ عَلَيْهِ الصَّلَاةُ وَالسَّلَامُ أَنَّكَ قُلْتَ: مَا مِنْ مُسْلِمٍ يَشِيْبُ فِي الْإِسْلَامِ وَأَنَا أُرِيْدُ أَنْ أُعَذِّبَهُ إِلَّا وَأَنَا أَسْتَحْيِي أَنْ أُعَذِّبَهُ وَأَنَا شَيْخٌ كَبِيْرٌ . قَالَ: صَدَقَ عَبْدُ الرَّزَّاقِ ، وَصَدَقَ مَعْمَرٌ ، وَصَدَقَ الزُّهْرِيُّ ، وَصَدَقَ عُرْوَةُ ، وَصَدَقَتْ عَائِشَةُ ، وَصَدَقَ النَّبِيُّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ ، وَصَدَقَ جِبْرِيْلُ عَلَيْهِ الصَّلَاةُ وَالسَّلَامُ ، وَصَدَقْتُ أَنَا يَا يَحْيَى إِنِّي لَا أُعَذِّبُ مَنْ شَابَ فِي الْإِسْلَامِ . ثُمَّ أُمِرَتْ بِذَاتِ الْيَمِيْنِ إِلَى الْجَنَّةِ . تنبيه الغافلين بأحاديث سيد الأنبياء والمرسلين للسمرقندي ص ٩٢ بَابُ: مَا يُرْجَى مِنْ رَحْمَةِ اللهِ تَعَالَى . احياء العلوم كتاب الخوف والرجاء بيان فضيلة الرجاء والترغيب فيه ج٤ ص ١٤٥ .

(٢) قَالَ سُهَيْلٌ ، أَخُو حَزْمٍ الْقُطَعِيِّ: رَأَيْتُ مَالِكَ بْنَ دِيْنَارٍ رَحِمَهُ اللهُ فِي مَنَامِي ، فَقُلْتُ: يَا أَبَا يَحْيَى ! لَيْتَ شِعْرِي مَاذَا قَدِمْتَ بِهِ عَلَى اللهِ عَزَّ وَجَلَّ ؟ قَالَ: « قَدِمْتُ بِذُنُوْبٍ كَثِيْرَةٍ ، مَحَاهَا عَنِّي حُسْنُ الظَّنِّ بِاللهِ » . حسن الظن بالله لابن ابي الدنيا ص ٢٣ رقم ٧ .

(٣) قَالَ عَمَّارُ بْنُ يُوْسُفَ : رَأَيْتُ حَسَنَ بْنَ صَالِحٍ فِي مَنَامِي ، فَقُلْتُ: قَدْ كُنْتُ مُتَمَنِّيًا لِلِقَائِكَ ، فَمَاذَا عِنْدَكَ فَتُخْبِرَنَا بِهِ ؟ فَقَالَ: « أَبْشِرْ فَلَمْ أَرَ مِثْلَ حُسْنِ الظَّنِّ بِاللهِ عَزَّ وَجَلَّ شَيْئًا » . ←←←←←

Scanned with CamScanner

# د الله ﷻ نه په ښه اُميد ساتلو سره د يو ځوان مغفرت

۱. ثابت بُناني رَحِمَهُ اللهُ فرمايي چې يو ځوان وُ ، ګناهګار وُ ، مور به ورته ډير نصيحت کولو " چې بچيه ! په تا باندې يوه ورځ راروانه ده هغه ځان ته رایاده کړه " ( هر وخت به يې ورته همدا نصيحت کولو ) کله يې چې د مرګ وخت رانزدې شو ، ( بيمار وُ ، پروت وُ ) نو مور ورته راغله او ورته وې ويل :

اې بچيه ! ما ته د همدې وخت نه يرولی . او ما به درته ويل : " چې په تا باندې يوه ورځ راروانه ده هغه ځان ته رایاده کړه " .

دې ځوان ورته ووېل : اې مورې ! بيشکه زما رب ډير احسان کوونکی دی ، زما دا اُميد دی چې د نن ورځ د احسان نه به زه نه محرومه کيږم هغه به زما مغفرت کوي .

ثابت بُناني رَحِمَهُ اللهُ فرمايي :

فَرَحِمَهُ اللهُ بِحُسْنِ ظَنِّهِ بِرَبِّهِ فِيْ حَالِهِ تِلْكَ .

پس الله تعالی په ده باندې رحم اوکړو ؛ ځکه چې ده په دې مرګ حالت کې په الله ﷻ باندې ښه ګمان لرلو . (۱)

---

← ← ← عَنْ عَبْدِ الْوَاحِدِ بْنِ زَيْدٍ رَحِمَهُ اللهُ، قَالَ: رَأَيْتُ حَوْشَبًا فِيْ مَنَامِيْ . فَقُلْتُ: أَبَا بِشْرٍ كَيْفَ حَالُكُمْ؟ قَالَ: نَجَوْنَا بِعَفْوِ اللهِ . قَالَ: قُلْتُ: فَمَا تَأْمُرُنَا بِهِ ؟ قَالَ: « عَلَيْكَ بِمَجَالِسِ الذِّكْرِ، وَحُسْنِ الظَّنِّ بِمَوْلَاكَ . فَكَفَى بِهِمَا خَيْرًا » . حسن الظن بالله لابن ابي الدنيا ص ۲۳ .

(۱) عَنْ ثَابِتٍ الْبُنَانِيِّ، قَالَ: كَانَ شَابٌّ بِهِ رَهَقٌ . فَكَانَتْ أُمُّهُ تَعِظُهُ . فَتَقُولُ : يَا بُنَيَّ ! إِنَّ لَكَ يَوْمًا فَاذْكُرْ يَوْمَكَ . إِنَّ لَكَ يَوْمًا فَاذْكُرْ يَوْمَكَ . فَلَمَّا نَزَلَ بِهِ أَمْرُ اللهِ أَكَبَّتْ عَلَيْهِ أُمُّهُ فَجَعَلَتْ تَقُوْلُ : يَا بُنَيَّ ! قَدْ كُنْتُ أُحَذِّرُكَ مَصْرَعَكَ هَذَا ، وَأَقُوْلُ لَكَ : إِنَّ لَكَ يَوْمًا فَاذْكُرْ يَوْمَكَ ؟ ، قَالَ: يَا أُمَّاهُ ! إِنَّ لِيْ رَبًّا كَثِيْرَ الْمَعْرُوْفِ، وَإِنِّيْ لَأَرْجُوْ أَنْ لَا يُعْدِمَنِي الْيَوْمَ بَعْضَ مَعْرُوْفِ رَبِّيْ ، أَنْ يَغْفِرَ لِيْ" قَالَ: يَقُوْلُ ثَابِتٌ : "فَرَحِمَهُ اللهُ بِحُسْنِ ظَنِّهِ بِرَبِّهِ فِيْ حَالِهِ تِلْكَ . شعب الايمان رقم الحديث ۲۷۱۱۲ معالجة كل ذنب بالتوبة . حلية الأولياء وطبقات الأصفياء ج۲ ص ۳۲۶ . الزهد لاحمد بن حنبل ج۱ ص ۲۳۹ رقم ۱۷۸۴ . مسند ابي الجعد ج ۱ ص ۲۱۱ . حسن الظن بالله لابن ابي الدنيا ج ۱ ص ۴۴

Scanned with CamScanner

۲ . همدغه شان یوه بله واقعه هم ذکر ده چې یو ځوان ؤ ، ګناهګار ؤ ، کله یې چې د وفات کیدو وخت نزدې شو ، نو مور ورته وویل :

اې بچیه ! څه وصیت کول غواړی ؟ ده ورته وویل :

نَعَمْ ، خَاتَمِيْ لَا تَسْلُبِيْنِيْهِ ؛ فَإِنَّ فِيْهِ ذِكْرَ اللهُ عَزَّ وَجَلَّ . لَعَلَّ اللهَ أَنْ يَرْحَمَنِيْ .

آو ( زما وصیت دادی چې ) زما د لاس دا ګتمه د مانه مه اُوباسه ؛ ځکه په دې کې د الله تعالی نوم دی اُمید دی چې الله تعالی ددې په وجه په ما رحم اوکړي .

کله چې دا کس وفات شو نو چا په خوب کې اُولید ، هغه دې خوب لیدونکي ته وویل :

أَخْبِرُوْا أُمِّيْ بِأَنَّ الْكَلِمَةَ قَدْ نَفَعَتْنِيْ ، وَأَنَّ اللهَ عَزَّ وَجَلَّ قَدْ غَفَرَ لِيْ .

زما مور ته خبر ورکړئ چې د مرګ نه مخکې ما کومه خبره کړې وه هغې ما ته نفع راکړه او الله تعالی ما ته بخنه اوکړه . (۱)

---

(۱) كَانَ شَابٌ بِهِ رَهَقٌ فَاحْتُضِرَ ، فَقَالَتْ لَهُ أُمُّهُ: أَيْ بُنَيَّ ! تُوصِيْ بِشَيْءٍ ، قَالَ: نَعَمْ ، خَاتَمِيْ لَا تَسْلُبِيْنِيْهِ ، فَإِنَّ فِيْهِ ذِكْرَ اللهُ عَزَّ وَجَلَّ . لَعَلَّ اللهَ أَنْ يَرْحَمَنِيْ ، قَالَ: فَمَاتَ فَرُئِيَ فِي النَّوْمِ ، فَقَالَ: أَخْبِرُوْا أُمِّيْ بِأَنَّ الْكَلِمَةَ قَدْ نَفَعَتْنِيْ ، وَأَنَّ اللهَ عَزَّ وَجَلَّ قَدْ غَفَرَ لِيْ . حسن الظن بالله لابن ابي الدنیا ج ۱ ص ۴۵ رقم ۳۸ . احیاء علوم الدین ج ۴ ص ۴۶۶ بیان ما یستحب من أحوال المحتضر عند الموت .

همدغه شان یوه بله واقعه هم ذکر ده : قَالَ عَبَّادٌ الْمُنْقِرِيُّ: " خَرَجْتُ يَوْمًا أُرِيْدُ الْجَبَّانَ ، فَإِذَا بِثَلَاثَةِ نَفَرٍ يَحْمِلُوْنَ جِنَازَةً وَمَعَهُمْ امْرَأَةٌ ، قَالَ: فَحَمَلْتُ مَعَهُمْ حَتَّى انْتَهَيْنَا إِلَى الْجَبَّانِ ، فَقُلْتُ : صَلُّوْا عَلَى صَاحِبِكُمْ ، فَقَالُوْا: أَنْتَ فَصَلِّ عَلَيْهِ ، فَإِنَّمَا نَحْنُ حَامِلُوْنَ ، قَالَ: فَصَلَّيْتُ عَلَيْهِ ، وَدَفَنَّاهُ ، فَبَيْنَا أَنَا قَاعِدٌ إِذْ غَلَبَتْنِيْ عَيْنَايَ ، فَأُرِيْتُ فِيْ مَنَامِيْ ، فَقِيْلَ لِيْ: قَدْ غَفَرَ اللهُ لِلْمَيِّتِ ، قَالَ: فَانْتَبَهْتُ فَزِعًا ، فَسَأَلْتُ عَنْ أَمْرِهِ ، فَقِيْلَ: سَلِ الْمَرْأَةَ فَهِيَ أُمُّهُ ، فَسَأَلْتُهَا ، فَقَالَتْ: مَا تُرِيْدُ إِلَى ذَلِكَ ؟ فَأَخْبَرْتُهَا ، فَحَمِدَتِ اللهَ ، وَقَالَتْ: كَانَ ابْنِيْ مُسْرِفًا عَلَى نَفْسِهِ ، فَلَمَّا احْتُضِرَ قَالَ: يَا أُمَّهْ أَلْصِقِيْ خَدِّيَ بِالتُّرَابِ ، فَفَعَلْتُ ، فَقَالَ: ضَعِيْ قَدَمَيْكِ عَلَيْهِ ، وَاسْتَوْهِبِيْنِيْ مِنْ رَبِّيْ لَعَلَّهُ أَنْ يَرْحَمَنِيْ ، وَاقْلَعِيْ نَقْشَ خَاتَمِيْ ، فَإِنَّ فِيْهِ لَا إِلَهَ إِلَّا اللهُ ، فَاجْعَلِيْهِ فِيْ كَفَنِيْ ، لَعَلَّ ذَلِكَ يَنْفَعُنِيْ ، قَالَتْ: فَفَعَلْتُ بِهِ قَالَ أَبُوْ بَكْرٍ: فَقُلْتُ لِبِشْرِ بْنِ مُعَاذٍ: مَنْ حَدَّثَكَ بِهَذَا عَنْ عَبَّادٍ ؟ قَالَ: حَدَّثَنِيْ مَنْ أَثِقُ بِهِ مِنْ أَصْحَابِنَا . حسن الظن بالله لابن ابي الدنیا ج ۱ ص ۴۵ رقم ۳۹ .

Scanned with CamScanner

# د الله ﷻ نه په ښه اُميد ساتلو سره د يو كس قبر د نور نه ډكيدل او فراخه كيدل

۱. يو كس وُ ، پخپله گناهګار وُ خو تره (يعني د پلار ورور) یې ډير نيك سړی وُ ، دې تره به دې خپل وراره ته ډير نصحيتونه كول خو ده به پرې عمل نه كولو .

كله چې دا كس بيمار شو نو دې خپل تره ته يې خبر وراُوليږلو چې دلته راشه ، خو هغه نه راتللو ، آخر راغی ، كله چې دې خپل وراره ته ورمخامخ شو نو ډيرې سختې خبرې یې ورته اوكړې : " چې اې د الله ﷻ دُشمنه او خبيثه ! آيا تا دا دا گناهونه نه كول ؟

دې وراره ورته ووئيل : اې تره ! آيا ته د خپلو خبرو نه فارغ شوی ؟ هغه ورته ووئيل : آو .

دې وراره ورته ووئيل :

أَرَأَيْتَ لَوْ أَنَّ اللهَ دَفَعَنِيْ إِلَى وَالِدَتِيْ مَا كَانَتْ صَانِعَةً بِيْ ؟

دا راته اُووايه چې كه چيرته الله ﷻ زه خپلې مور ته حواله كړې وی نو هغې به د ما سره څه عمل كولو ؟

تره يې ووئيل : قسَم په الله ، هغې به ته جنت ته داخل كړې وی .

دې كس ووئيل : فَوَاللهِ لَلّٰهُ أَرْحَمُ بِيْ مِنْ وَالِدَتِيْ .

قسَم په الله ، الله تعالى خو په ما باندې د خپلې مور نه هم زيات مهربان دی .

بيا دا ځوان وفات شو ... كله چې دا په قبر كې كيښودې شو او كچه خَښتې وړباندې برابرولې شوی نو په دې دَوران كې يوه خَښته لاندې وراُوغورځيده ، كله چې دې تره يې دا خَښته راخيسته نو ناڅاپه يې ټوپ كړل ، او شاته شو . چا ورنه پوښتنه اوكړه : دا ولې ؟ ( څه درباندې اوشو ؟ ) . هغه ورته ووئيل :

مَلَأَ اللهُ قَبْرَهُ نُوْرًا ، وَفُسِحَ لَهُ مَدَّ الْبَصَرِ .

الله تعالى دده قبر د نُور نه ډك كړې دی ، او دومره يې ورته فراخه كړی شومره چې د سترگو نظر كار كوي . (۱)

(۱) عَنْ أَبِيْ غَالِبٍ ، قَالَ : كُنْتُ أَخْتَلِفُ إِلَى الشَّامِ فِيْ تِجَارَةٍ ، وَعُظْمُ مَا كُنْتُ أَخْتَلِفُ مِنْ أَجْلِ أَبِيْ أُمَامَةَ ←←←

۲ . همدغه شان يوه بله واقعه هم نقل ده : حُمَيد رَحِمَهُ الله فرمايي چې زما يو خُورَين (يعنې د خُور ځوي) وُ ، ګناهګاروُ ، کله چې بيمار شو نو د ما پسې يې خپله مور ( يعنې زما خُور ) رااُوليږله ، نو زه ورسره لاړم ، هلته ناست وو ، موريې هم سَر ته کيناسته او ژړل يې . دې خُورَين د مانه پوښتنه اوکړه :

ماما ! دا زما مور ولې ژاړي ؟

ما ورته وويل : ديته ستا ګناهونه معلوم دي نو ددې د وجې ژاړي .

هغه د مانه بيا پوښتنه اوکړه :

آيا زما دا مور په ما باندې مهربانه نده ؟ ما ورته وويل : آو ، مهربانه ده .

نو هغه وويل : فَإِنَّ اللهَ عَزَّ وَجَلَّ أَرْحَمُ بِي مِنْهَا .

بيشکه الله تعالى په ما باندې ددې مور نه ډير مهربان دی .

کله چې دا وفات شو نو (د جنازې نه پس) چې کله دا قبر کې کيښودې شو نو زه هم دده قبر ته د يو بل کس سره ورښکته شوم ، قبر مې ورله برابرولو نو ما لاندې قبر ته ور اُوکتل فَإِذَا هُوَ مَدُّ الْبَصَرِ . نو دا قبر يې د سترګو د نظر په مقدار ده ته فراخ شوې وُ .

ما خپل ملګري ته وويل : آيا تا هم دا اُوليد ؟ هغه وويل : چې آو . بيا هغه ماته مبارکي راکړه (چې الله تعالى ورباندې رَحم اوکړو) .

---

←←←← فَإِذَا فِيهَا رَجُلٌ مِنْ قَيْسٍ مِنْ خِيَارِ النَّاسِ ، وَكُنْتُ أَنْزِلُ عَلَيْهِ وَمَعَنَا ابْنُ أَخٍ لَهُ مُخَالِفٌ لِأَمْرِهِ ، يَنْهَاهُ وَيَضْرِبُهُ فَلَا يُطِيعُهُ ، فَمَرِضَ الْفَتَى فَبَعَثَ إِلَى عَمِّهِ فَأَبَى لِوِصَايَتِهِ . فَأَتَيْتُهُ أَنَا بِهِ حَتَّى أَدْخَلْتُهُ عَلَيْهِ ، فَأَقْبَلَ عَلَيْهِ يَشْتُمُهُ ، وَيَقُولُ : أَيْ عَدُوَّ اللهِ الْخَبِيثُ ! أَلَمْ تَفْعَلْ كَذَا ؟ ، قَالَ : أَفَرَغْتَ أَيْ عَمِّ ؟ ، قَالَ : نَعَمْ ، قَالَ : أَرَأَيْتَ لَوْ أَنَّ اللهَ دَفَعَنِي إِلَى وَالِدَتِي مَا كَانَتْ صَانِعَةً بِي ؟ ، قَالَ : إِذًا وَاللهِ كَانَتْ تُدْخِلُكَ الْجَنَّةَ . قَالَ : " فَوَاللهِ لَلَّهُ أَرْحَمُ بِي مِنْ وَالِدَتِي " ، فَقُبِضَ الْفَتَى ، فَخَرَجَ عَلَيْهِ عَبْدُ الْمَلِكِ بْنُ مَرْوَانَ ، فَدَخَلْتُ الْقَبْرَ مَعَ عَمِّهِ فَخَطُّوا لَهُ خَطًّا وَلَمْ يُلْحِدُوهُ ، قَالَ : فَقُلْنَا بِاللَّبِنِ فَسَوَّيْنَاهُ ، قَالَ : فَسَقَطَتْ مِنْهُ لَبِنَةٌ فَوَثَبَ عَنْهُ فَتَأَخَّرَ ، قُلْتُ : مَا شَأْنُكَ ؟ ، قَالَ : مَلَأَ اللهُ قَبْرَهُ نُورًا ، وَفُسِحَ لَهُ مَدُّ الْبَصَرِ . شعب الايمان رقم الحديث ۶۷۱۳ معالجة كل ذنب بالتوبة . حسن الظن بالله لابن ابي الدنيا ج۱ ص۴۲ رقم ۳۵ . المحتضرين لابن ابي الدنيا ج۱ ص۳۴ .

حُمَيد رَحِمَهُ الله فرمايي :

فَظَنَنْتُ أَنَّهُ بِالْكَلِمَةِ الَّتِي قَالَهَا.

زما دا گمان دی چې په ده باندې الله تعالى دا رَحم د هغه خبرې په وجه اوکړو کومه چې ده د وفات کیدو نه مخکې کړې وه (چې الله تعالی په ما باندې د خپلې مور نه ډیر مهربان دی) .(۱)

## د الله ﷻ نه "د ښه امید ساتلو" تذکرې کولو سره مغفرت

ابان بن ابي عياش رَحِمَهُ الله يو عالم وُ ، خلقو ته به يې د الله ﷻ نه د ښه امید ساتلو ډیر ذکر کولو ، کله چې دا وفات شو نو چاپه خوب کې اوليد ، پوښتنه يې ترې اوکړه چې الله ﷻ درسره څه معامله اوکړه ؟ ده ورته په جواب کې وويل چې کله زه د الله ﷻ حضور ته پيش شوم ، نو الله ﷻ رانه پوښتنه وکړه : مَا الَّذِي حَمَلَكَ عَلَى ذَلِكَ ؟

په تا باندې څه شی باعث وُ چې خلقو ته دې د مانه د ښه امید تذکره زياته کوله ؟

ما ورته جواب ورکړو :

اَرَدْتُ أَنْ أُحَبِّبَكَ إِلَى خَلْقِكَ.

اې الله ! زما خو اراده دا وه چې زه تا خلقو ته محبوب کړم ، او د خلقو په زړونو کې ستا محبت واچوم (بيا به ستا عبادت پخپله کوي ، او د گناهونو نه به هم ځان ساتي) .

نو الله ﷻ راته اوفرمايل : قَدْ غَفَرْتُ لَكَ.

(ای ابان بن ابي عياش ! چې کله ستا اراده دا وه نو) ما ستا بخښنه اوکړه .(۱)

---

(۱) عَنْ حُمَيْدٍ، قَالَ: كَانَ لِيَ ابْنُ أُخْتٍ مُرَهِّقٌ، فَمَرِضَ، فَأَرْسَلَتْ إِلَيَّ أُمُّهُ، فَأَتَيْتُهَا فَإِذَا هِيَ عِنْدَ رَأْسِهِ تَبْكِي، فَقَالَ: يَا خَالِي! مَا يُبْكِيهَا؟ قُلْتُ: مَا تَعْلَمُ مِنْكَ. قَالَ: أَلَيْسَ إِنَّمَا تَرْحَمُنِي؟ قُلْتُ: بَلَى. قَالَ: فَإِنَّ اللهَ عَزَّ وَجَلَّ أَرْحَمُ بِي مِنْهَا. فَلَمَّا مَاتَ أَنْزَلْتُهُ الْقَبْرَ مَعَ غَيْرِي فَذَهَبْتُ أُسَوِّي لَبِنَةً فَاطَّلَعْتُ فِي اللَّحْدِ، فَإِذَا هُوَ مَدُّ الْبَصَرِ. فَقُلْتُ لِصَاحِبِي: هَلْ رَأَيْتَ مَا رَأَيْتُ؟ قَالَ: نَعَمْ فَلْيَهْنِكَ ذَلِكَ. فَظَنَنْتُ أَنَّهُ بِالْكَلِمَةِ الَّتِي قَالَهَا. حسن الظن بالله لابن ابي الدنيا ج ۱ ص ۲۵ رقم ۳۶ . شعب الايمان ج ۹ ص ۳۲۵ رقم ۶۷۱۳ معالجة كل ذنب بالتوبة.

Scanned with CamScanner

# د الله ﷻ نه د ښه اُمید ساتلو په وجه دوباره جهنم ته نه لیږل

۱ . نبي علیه السلام فرمائي : یو کس به جهنم ته داخل کړې شي ، زر (۱۰۰۰) کاله پس به دې الله ﷻ ته یو آواز اوکړي : یَا حَنَّانُ یَا مَنَّانُ .

الله رب العزت به حضرت جبریل علیه السلام ته اوفرمایي : ای جبریل ! ته لاړ شه او زما دغه بنده ماته راوله . نو حضرت جبریل علیه السلام به دا بنده راولي او د الله ﷻ د وړاندې به یې اُودروي ، الله ﷻ به ورنه تپوس اوکړي :

کَیْفَ وَجَدْتَ مَکَانَکَ ؟

خپل ځای دې څنګه اُوموندو ؟ (یعنی جهنم څنګه ځای وُ ؟)

دا به ورته جواب ورکړي : ډیر بد ترین ځای وُ .

الله به دوباره حکم اوکړي :

رُدُّوْهُ إِلَى مَکَانِهِ . دوباره یې خپل زوړ ځای ته بوځئ .

نو دا کس به روان شي او شاته شاته به راګوري . الله جل جلاله به ورنه پوښتنه اوکړي :

إِلَى أَيِّ شَيْءٍ تَلْتَفِتُ ؟ څه شي ته شاته شاته ګوری ؟

دا به ورته جواب ورکړي :

لَقَدْ رَجَوْتُ أَنْ لَا تُعِیْدَنِيْ إِلَیْهَا بَعْدَ إِذْ أَخْرَجْتَنِيْ مِنْهَا .

(اې الله !) تا چې کله زه یو پېره د جهنم نه را اُوویستم نو زما خو دا اُمید وُ چې ته به ما دوباره دیته نه واپس کوی .

الله ﷻ چې کله دده دا اُمید اوګوري نو فرشتو ته حکم اوکړي :

إِذْهَبُوْا بِهِ إِلَى الْجَنَّةِ . زما دا بنده جنت ته بوځئ .

---

(۱) ورئی أبان بن أبي عیاش في النوم وکان یکثر ذکر أبواب الرجاء . فقال : أوقفني الله تعالی بین یدیه فقال ما الذي حملك على ذلك ؟ فقلت : أردت أن أحببك إلى خلقك . فقال : قد غفرت لك . احیاء العلوم کتاب الخوف والرجاء بیان فضیلة الرجاء والترغیب فیه ج۴ ص ۱۴۵ .

(ځکه ده د مانه ښه أميد أوساتل نو ما هم مايوسه نه کړو او جنت ته مې داخل کړو).

ددې واقعې نه روستو امام غزالي رَحِمَهُ ٱللَّهُ ليکلي:

فَدَلَّ هَذَا أَنَّ رَجَاءَهُ كَانَ سَبَبَ نِجَاتِهِ.

دا واقعه په دې دلالت کوي چې ددې کس د نجات سبب د الله ﷻ نه ښه أميد لرل وو. (۱)

۲. همدغه شان يوه بله واقعه هم امام غزالي رَحِمَهُ ٱللَّهُ او ابن ابي الدنيا رَحِمَهُ ٱللَّهُ رانقل کړې چې د قيامت په ورځ به د دوه کسانو د جهنم نه د راويستلو حکم اوشي (چې کله دا دوه کسان راوستی شي)، الله ﷻ به ورته اوفرمايي:

ذَٰلِكَ بِمَا قَدَّمَتْ أَيْدِيكُمَا وَمَا أَنَا بِظَلَّامٍ لِّلْعَبِيدِ.

دا ما چې تاسو جهنم ته داخل کړي وئ، نو دا ستاسو د خپلو اعمالو وجه وه ځکه زه خو په (خپلو) بندګانو باندې ظلم نه کوم.

---

(۱) قَالَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: إِنَّ رَجُلًا يدخل النَّار فَيَمْكُثُ فِيهَا أَلْفَ سَنَةٍ يُنَادِي: يَا حَنَّانُ يَا مَنَّانُ. فَيَقُولُ اللهُ لِجِبْرِيلَ: إِذْهَبْ فَأْتِنِي بِعَبْدِي. قَالَ فَيَجِيئُ بِهِ فَيُوقِفُهُ عَلَى رَبِّهِ. فَيَقُولُ اللهُ تَعَالَى: كَيْفَ وَجَدتَ مَكَانَكَ؟ فَيَقُولُ شَرُّ مَكَانٍ. قَالَ فَيَقُولُ: رُدُّوهُ إِلَى مَكَانِهِ. قَالَ فَيَمْشِي وَيَلْتَفِتُ إِلَى وَرَائِهِ. فَيَقُولُ اللهُ عَزَّ وَجَلَّ: إِلَى أَيِّ شَيْئٍ تَلْتَفِتُ؟ فَيَقُولُ: لَقَدْ رَجَوْتُ أَنْ لَا تُعِيدَنِي إِلَيْهَا بَعْدَ إِذْ أَخْرَجْتَنِي مِنْهَا. فَيَقُولُ اللهُ تَعَالَى إِذْهَبُوا بِهِ إِلَى الْجَنَّةِ. احياء العلوم كتاب الخوف والرجاء بيان فضيلة الرجاء والترغيب فيه ج۴ ص ۱۳۶

وفي رواية: عَنْ أَنَسٍ رضي الله عنه، قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: إِنَّ عَبْدًا فِي جَهَنَّمَ يُنَادِي أَلْفَ سَنَةٍ: يَا حَنَّانُ يَا مَنَّانُ. فَيَقُولُ اللهُ عَزَّ وَجَلَّ لِجِبْرِيلَ عَلَيْهِ السَّلَامُ: إِذْهَبِ ائْتِنِي بِعَبْدِي هَذَا. قَالَ: فَيَذْهَبُ جِبْرِيلُ فَيَجِدُ أَهْلَ النَّارِ مُنْكَبِّينَ عَلَى وُجُوهِهِمْ. فَيَرْجِعُ إِلَى رَبِّهِ عَزَّ وَجَلَّ فَيُخْبِرُهُ فَيَقُولُ: ائْتِنِي بِعَبْدِي، فَإِنَّهُ فِي مَكَانِ كَذَا وَكَذَا. قَالَ: فَيَجِيءُ بِهِ فَيُوقَفُ عَلَى رَبِّهِ عَزَّ وَجَلَّ فَيَقُولُ لَهُ: يَا عَبْدِي كَيْفَ وَجَدتَ مَكَانَكَ؟ وَكَيْفَ وَجَدتَ مَقِيلَكَ؟ فَيَقُولُ: يَا رَبِّ! شَرُّ مَكَانٍ وَشَرُّ مَقِيلٍ. فَيَقُولُ: رُدُّوا عَبْدِي. فَيَقُولُ: يَا رَبِّ! مَا كُنْتُ أَرْجُو إِذْ أَخْرَجْتَنِي مِنْهَا أَنْ تُعِيدَنِي فِيهَا. فَيَقُولُ اللهُ عَزَّ وَجَلَّ: دَعُوا عَبْدِي. حسن الظن بالله لابن ابي الدنيا ج ۱ ص ۱۰۳ رقم الحديث ۱۱۰. مسند احمد مخرجا رقم الحديث ۱۳۴۱۱. شعب الايمان رقم الحديث ۳۱۵. تفسير ابن كثير ج ۶ ص ۱۲۳ في تشريح سورة الفرقان آية ۶۵.

بیا به الله ﷻ حکم اوکړي : دا دواړه واپس جهنم ته بوځئ.

نو په دې دواړو کې به یو کس په خپلو ځنځیرونو کې جهنم ته منډه کړي او ځان به غورځولو ته نزدې کړي، او دا دویم کس به په قلاره قلاره روان وي.

الله ﷻ به حکم اوکړي : دا دواړه کسان واپس زاولئ.

(چې کله دواړه راوستې شي) نو الله ﷻ به ورنه پوښتنه اوکړي : چې تاسو داسې ولې اوکړل ؟ (چې یو په منډه لاړې، او بل په قلاره قلاره ؟)

دا څوک چې په منډه تللې وُ هغه به عرض وکړي :

اې الله ! زه د خپلو ګناهونو نه ویریدم نو ما دا نه غوښتل چې ستا د حکم نافرماني اوکړم او دوباره ستا غضب او غصې ته ځان وروړاندې کړم.

او کوم کس چې په قلاره قلاره تللو، هغه به ورته عرض وکړي :

حُسْنُ ظَنِّيْ بِکَ کَانَ یُشْعِرُنِيْ أَنْ لَاتَرُدَّنِيْ إِلَیْهَا بَعْدَ مَا أَخْرَجْتَنِيْ مِنْهَا.

اې الله ! زما چې په تا باندې کوم ښه ګمان وُ هغې ماته دا خودله چې کله تا زه د جهنم نه راأوویستم نو ته به ما دوباره جهنم ته نه لیږې (نو ځکه زه روستو روستو کیدم).

نو د الله ﷻ رحمت به په جوش کې راشي :

فَیَأْمُرُ بِهِمَا إِلَی الْجَنَّةِ. د دې دواړو په باره کې به جنت ته د بوتللو حکم اوکړي.

(ځکه د دې یو کس په زړه کې زما یَره ده نو زه به دا نور په یَره کې وانه چوم، او د دې بل کس په ما باندې ښه ګمان دئ چې دوباره به مې جهنم ته نه داخلوي او زه د خپل بنده د نېک ګمان موافق دده باره کې فیصلې کوم .لهذا دا دواړه جنت ته بوځئ. نو دواړه به جنت ته بوتلې شي). (۱)

(۱) قَالَ سَعْدُ بْنُ بِلَالٍ : یُؤْمَرُ یَوْمَ الْقِیَامَةِ بِإِخْرَاجِ رَجُلَیْنِ مِنَ النَّارِ فَیَقُوْلُ اللّٰهُ تَبَارَکَ وَتَعَالٰی : ذٰلِکَ بِمَا قَدَّمَتْ أَیْدِیْکُمَا وَمَا أَنَا بِظَلَّامٍ لِلْعَبِیْدِ . وَیَأْمُرُ بِرَدِّهِمَا إِلَی النَّارِ . فَیَعْدُوْ أَحَدُهُمَا فِيْ سَلَاسِلِهٖ حَتّٰی یَقْتَحِمَهَا، وَیَتَلَکَّأُ الْآخَرُ. وَیَأْمُرُ بِرَدِّهِمَا وَیَسْأَلُهُمَا عَنْ فِعْلِهِمَا . فَیَقُوْلُ الَّذِيْ عَدَا إِلَی النَّارِ : قَدْ حَذِرْتُ مِنْ وَبَالِ الْمَعْصِیَةِ فَلَمْ أَکُنْ لِأَتَعَرَّضَ لِسَخَطِکَ ثَانِیَةً . وَیَقُوْلُ الَّذِيْ تَلَکَّأَ : حُسْنُ ظَنِّيْ بِکَ کَانَ یُشْعِرُنِيْ أَنْ لَاتَرُدَّنِيْ ←←←←

Scanned with CamScanner

دا واقعه په نورو مختلفو الفاظو سره هم ذکر شوی، د یوې واقعې په آخر کې ذکر دي:

فَكَانَ رَسُوْلُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ إِذَا ذَكَرَهُ يُرَى السُّرُوْرُ فِي وَجْهِهِ.

رسولُ الله صلى الله عليه و سلم به چې دا واقعه ذکر کوله نو په مخ مبارک کې به یې خوشحالي ښکاره کیده. (۱)

---

←←← إِلَيْهَا بَعْدَ مَا أَخْرَجْتَنِيْ مِنْهَا. فَيَأْمُرُ بِهِمَا إِلَى الْجَنَّةِ. احياء العلوم كتاب الخوف والرجاء بيان فضيلة الرجاء والترغيب فيه ج۴ ص ۵۴۵ كتاب المراقبة والمحاسبة.

عَنْ بِلَالِ بْنِ سَعْدٍ، قَالَ: يُؤْمَرُ بِإِخْرَاجِ رَجُلَيْنِ مِنَ النَّارِ، فَإِذَا خَرَجَا وَوَقَفَا قَالَ اللهُ لَهُمَا: كَيْفَ وَجَدْتُمَا مَقِيْلَكُمَا وَسُوْءَ مَصِيْرِكُمَا؟ فَيَقُوْلَانِ: شَرَّ مَقِيْلٍ وَأَسْوَأَ مَصِيْرٍ صَارَ إِلَيْهِ الْعِبَادُ. فَيَقُوْلُ لَهُمَا: بِمَا قَدَّمَتْ أَيْدِيْكُمَا وَمَا أَنَا بِظَلَّامٍ لِلْعَبِيْدِ. قَالَ: فَيَأْمُرُ بِصَرْفِهِمَا إِلَى النَّارِ فَأَمَّا أَحَدُهُمَا فَيَعْدُوْ فِيْ أَغْلَالِهِ وَسَلَاسِلِهِ حَتَّى يَقْتَحِمَهَا، وَأَمَّا الْآخَرُ فَيَتَلَكَّأُ. فَيَأْمُرُ بِرَدِّهِمَا. فَيَقُوْلُ لِلَّذِيْ عَدَا فِيْ أَغْلَالِهِ وَسَلَاسِلِهِ: مَا حَمَلَكَ عَلَى مَا صَنَعْتَ وَقَدْ خَبَرْتَهَا؟ فَيَقُوْلُ: إِنِّيْ قَدْ خَبَرْتُ مِنْ وَبَالِ الْمَعْصِيَةِ مَا لَمْ أَكُنْ أَتَعَرَّضُ لِسَخَطِكَ ثَانِيَةً. قَالَ: وَيَقُوْلُ لِلَّذِيْ تَلَكَّأَ: مَا حَمَلَكَ عَلَى مَا صَنَعْتَ؟ فَيَقُوْلُ: حُسْنُ ظَنِّيْ بِكَ حِيْنَ أَخْرَجْتَنِيْ مِنْهَا أَلَّا تَرُدَّنِيْ إِلَيْهَا. فَيَرْحَمُهُمَا وَيَأْمُرُ بِهِمَا إِلَى الْجَنَّةِ. حسن الظن بالله لابن ابي الدنيا ج ۱ ص ۶۹ رقم ۶۰.

(۱) قَالَ رَسُوْلُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: إِذَا كَانَ يَوْمُ الْقِيَامَةِ وَفَرَغَ اللهُ مِنْ قَضَاءِ الْخَلْقِ يَبْقَى رَجُلَانِ فَيُؤْمَرُ بِهِمَا إِلَى النَّارِ. فَيَلْتَفِتُ أَحَدُهُمَا فَيَقُوْلُ الْجَبَّارُ: «رُدُّوْهُ» فَيَرُدُّ فَيُقَالُ لَهُ: «لِمَ الْتَفَتَّ؟» فَيَقُوْلُ: كُنْتُ أَرْجُوْ أَنْ تُدْخِلَنِيَ الْجَنَّةَ. قَالَ: فَيُؤْمَرُ بِهِ إِلَى الْجَنَّةِ. فَيَقُوْلُ: لَقَدْ أَعْطَانِيَ اللهُ حَتَّى لَوْ أَنِّيْ أَطْعَمْتُ أَهْلَ الْجَنَّةِ مَا نَفِدَ ذَلِكَ مِمَّا عِنْدِيْ شَيْئًا قَالَ: فَكَانَ رَسُوْلُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ إِذَا ذَكَرَهُ يُرَى السُّرُوْرُ فِيْ وَجْهِهِ. حسن الظن بالله لابن ابي الدنيا ج ۱ ص ۶۷ رقم ۵۸.

وفي رواية: عَنْ أَبِيْ هُرَيْرَةَ رضي الله عنه، عَنْ رَسُوْلِ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ: إِنَّ رَجُلَيْنِ مِمَّنْ دَخَلَ النَّارَ اشْتَدَّ صِيَاحُهُمَا. فَقَالَ الرَّبُّ: أَخْرِجُوْهُمَا فَأُخْرِجَا. فَقَالَ لَهُمَا: لِأَيِّ شَيْءٍ اشْتَدَّ صِيَاحُكُمَا؟ قَالَا: فَعَلْنَا ذَلِكَ لِتَرْحَمَنَا قَالَ: رَحْمَتِيْ لَكُمَا أَنْ تَنْطَلِقَا فَتُلْقِيَانِ أَنْفُسَكُمَا حَيْثُ كُنْتُمَا مِنَ النَّارِ قَالَ: فَيَنْطَلِقَانِ فَيُلْقِيْ أَحَدُهُمَا نَفْسَهُ فَجَعَلَهَا اللهُ عَلَيْهِ بَرْدًا وَسَلَامًا، وَيَقُوْمُ الْآخَرُ فَلَا يُلْقِيْ نَفْسَهُ فَيَقُوْلُ لَهُ الرَّبُّ: مَا مَنَعَكَ أَنْ تُلْقِيَ نَفْسَكَ كَمَا أَلْقَى صَاحِبُكَ؟ فَيَقُوْلُ: رَبِّ، إِنِّيْ لَأَرْجُوْ أَنْ لَا تُعِيْدَنِيْ فِيْهَا بَعْدَمَا أَخْرَجْتَنِيْ فَيَقُوْلُ الرَّبُّ: لَكَ رَجَاؤُكَ فَيَدْخُلَانِ الْجَنَّةَ جَمِيْعًا بِرَحْمَةِ اللهِ. حسن الظن بالله لابن ابي الدنيا ج ۱ ص ۶۸ رقم ۵۹.

Scanned with CamScanner

## د ښه أميد په وجه جنت ته داخليدل

رسول الله صلى الله عليه وسلم فرمايي:

إِنَّمَا يَدْخُلُ الْجَنَّةَ مَنْ يَرْجُوهَا، وَإِنَّمَا يُجَنَّبُ النَّارَ مَنْ يَخَافُهَا، وَإِنَّمَا يَرْحَمُ اللهُ مَنْ يَرْحَمُ. (۱)

بيشکه جنت ته به هغه کس داخليږي څوک چې ددې أميد ساتي، او د جنهم نه به هغه کس محفوظ کيږي څوک چې ددينه يريږي، او الله تعالى په هغه چا باندې رحم کوي څوک چې په نورو رحم کوي.

## د الله ﷻ نه ښه أميد لرونکي کس ته مغفرت

۱. حديثِ قدسي دی، الله تعالى فرمايي:

يَا ابْنَ آدَمَ! إِنَّكَ مَا دَعَوْتَنِي وَرَجَوْتَنِي غَفَرْتُ لَكَ عَلَى مَا كَانَ فِيكَ وَلَا أُبَالِي. يَا ابْنَ آدَمَ! لَوْ بَلَغَتْ ذُنُوبُكَ عَنَانَ السَّمَاءِ ثُمَّ اسْتَغْفَرْتَنِي غَفَرْتُ لَكَ وَلَا أُبَالِي. يَا ابْنَ آدَمَ! إِنَّكَ لَوْ أَتَيْتَنِي بِقُرَابِ الْأَرْضِ خَطَايَا ثُمَّ لَقِيتَنِي لَا تُشْرِكُ بِي شَيْئًا لَأَتَيْتُكَ بِقُرَابِهَا مَغْفِرَةً. (۲)

اې د آدم ځويه! تر څو پورې چې ته د مانه د ګناهونو معافي غواړې او د ما نه ښه أميد ساتې نو زه به ستا ګناهونه بخم او زه د هيچا پَرواه نه ساتم (يعنى که ته هر څومره غټ ګناهګارېې خو ماته ستا بَخل څه ګران نه دي، او ما نه څوک دا تپوس هم نشي کولى: چې ده ته دې دا ګناهونه ولې أوبخل؟). اې د آدم ځويه! که چيرته ستا ګناهونه (دومره ډير

---

(۱) شعب الايمان رقم الحديث ٧٦٠ الخوف من الله تعالى. الآداب للبيهقي رقم الحديث ٨٢٧، حلية الأولياء وطبقات الأصفياء ج ٣ ص ٢٢٥. كنز العمال رقم الحديث ٥٨٦٦ الخوف والرجاء، صفة الجنة لابي نعيم الاصبهاني رقم الحديث ٣١.

(۲) سنن الترمذي أَبْوَابُ الدَّعَوَاتِ عَنْ رَسُولِ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ بَابٌ فِي فَضْلِ التَّوْبَةِ وَالِاسْتِغْفَارِ وَمَا ذُكِرَ مِنْ رَحْمَةِ اللهِ بِعِبَادِهِ رقم الحديث ٣٥٤٠ وقال الترمذي: هَذَا حَدِيثٌ حَسَنٌ غَرِيبٌ. قال الالباني: صحيح. مشكاة المصابيح كتاب الدَّعَوَات بَاب الِاسْتِغْفَار وَالتَّوْبَة الْفَصْل الثَّانِي رقم الحديث ٢٣٣٦ (١٤). مسند احمد مخرجا رقم الحديث ٢١٤٧٢، و رقم الحديث ٢١٥٠٥، سنن الدارمي رقم الحديث ٢٨٣٠، المعجم الاوسط للطبراني رقم الحديث ٥٤٨٣، المعجم الكبير للطبراني رقم الحديث ١٢٣٤٦، مجمع الزوائد رقم الحديث ١٧٦٢٨.

شي چې) پورته د آسمان غاړو ته اورسي بیا ته د مانه بخنه او غواړې نو زه درته بخنه کوم او زه د هیڅ پروا نه ساتم. اې د آدم ځویه ! یقینًا که چیرته ته ماته په داسې حالت کې راشې چې د زمکې (د ډکوالي) په مقدار دې ګناهونه کړي وي نو زه به تاته د زمکې (د ډکوالي) په اندازه بخشش سره درشم (یعنی ټول ګناهونه به دې معاف کړم) خو شرط دادی چې تا د ماسره (په خدائي کې) څوک شریک نه وي جوړ کړی. (۱)

۲. الله تعالی په خپلو بندګانو باندې داسې مهربان دی چې که دوی شپه او ورځ ګناهونه کوي خو که دوی په اخلاص باندې استغفار اووایي نو الله تعالی دا معاف کوي، او د هیڅ پروا نه ساتي، او په دې سره د الله تعالی په خدائي کې څه کمې هم نه راځي.

حدیث قدسي دی، الله تعالی فرمایي: ... يَا عِبَادِي إِنَّكُمْ تُخْطِئُونَ بِاللَّيْلِ وَالنَّهَارِ وَأَنَا أَغْفِرُ الذُّنُوبَ جَمِيعًا، فَاسْتَغْفِرُونِي أَغْفِرْ لَكُمْ ... (۲)

---

(۱) ( وَلَا أُبَالِي ) أَيْ: وَالحَالُ أَنِّي لَا أَتَعَظَّمُ مَغْفِرَتَكَ عَلَيَّ وَإِنْ كَانَ ذَنْبًا كَبِيرًا أَوْ كَثِيرًا. فَإِنَّ رَحْمَتِي سَبَقَتْ أَوْ غَلَبَتْ غَضَبِي. قَالَ الطِّيبِيُّ فِي قَوْلِهِ: وَلَا أُبَالِي مَعْنَى: لَا يُسْئَلُ عَمَّا يَفْعَلُ. مرقاة المفاتيح شرح مشكاة المصابيح ج ۴ ص ۱۶۲۰ بَابُ الِاسْتِغْفَارِ وَالتَّوْبَةِ الْفَصْلُ الثَّانِي في تشريح حديث ۲۳۳۶.

(۲) پوره حدیث داسې دی: عَنْ أَبِي ذَرٍّ رضي الله عنه عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فِيمَا رَوَى عَنِ اللهِ تَبَارَكَ وَتَعَالَى أَنَّهُ قَالَ: « يَا عِبَادِي ! إِنِّي حَرَّمْتُ الظُّلْمَ عَلَى نَفْسِي وَجَعَلْتُهُ بَيْنَكُمْ مُحَرَّمًا فَلَا تَظَالَمُوا. يَا عِبَادِي كُلُّكُمْ ضَالٌّ إِلَّا مَنْ هَدَيْتُهُ فَاسْتَهْدُونِي أَهْدِكُمْ. يَا عِبَادِي كُلُّكُمْ جَائِعٌ إِلَّا مَنْ أَطْعَمْتُهُ فَاسْتَطْعِمُونِي أُطْعِمْكُمْ. يَا عِبَادِي كُلُّكُمْ عَارٍ إِلَّا مَنْ كَسَوْتُهُ فَاسْتَكْسُونِي أَكْسُكُمْ. يَا عِبَادِي إِنَّكُمْ تُخْطِئُونَ بِاللَّيْلِ وَالنَّهَارِ وَأَنَا أَغْفِرُ الذُّنُوبَ جَمِيعًا، فَاسْتَغْفِرُونِي أَغْفِرْ لَكُمْ. يَا عِبَادِي إِنَّكُمْ لَنْ تَبْلُغُوا ضَرِّي فَتَضُرُّونِي وَلَنْ تَبْلُغُوا نَفْعِي فَتَنْفَعُونِي. يَا عِبَادِي لَوْ أَنَّ أَوَّلَكُمْ وَآخِرَكُمْ وَإِنْسَكُمْ وَجِنَّكُمْ كَانُوا عَلَى أَتْقَى قَلْبِ رَجُلٍ وَاحِدٍ مِنْكُمْ مَا زَادَ ذَلِكَ فِي مُلْكِي شَيْئًا. يَا عِبَادِي لَوْ أَنَّ أَوَّلَكُمْ وَآخِرَكُمْ وَإِنْسَكُمْ وَجِنَّكُمْ كَانُوا عَلَى أَفْجَرِ قَلْبِ رَجُلٍ وَاحِدٍ مَا نَقَصَ ذَلِكَ مِنْ مُلْكِي شَيْئًا. يَا عِبَادِي لَوْ أَنَّ أَوَّلَكُمْ وَآخِرَكُمْ وَإِنْسَكُمْ وَجِنَّكُمْ قَامُوا فِي صَعِيدٍ وَاحِدٍ فَسَأَلُونِي فَأَعْطَيْتُ كُلَّ إِنْسَانٍ مَسْأَلَتَهُ، مَا نَقَصَ ذَلِكَ مِمَّا عِنْدِي إِلَّا كَمَا يَنْقُصُ الْمِخْيَطُ إِذَا أُدْخِلَ الْبَحْرَ. يَا عِبَادِي إِنَّمَا هِيَ أَعْمَالُكُمْ أُحْصِيهَا لَكُمْ، ثُمَّ أُوَفِّيكُمْ إِيَّاهَا فَمَنْ وَجَدَ خَيْرًا فَلْيَحْمَدِ اللهَ وَمَنْ وَجَدَ غَيْرَ ذَلِكَ فَلَا يَلُومَنَّ إِلَّا نَفْسَهُ » قَالَ سَعِيدٌ: كَانَ أَبُو إِدْرِيسَ الْخَوْلَانِيُّ إِذَا حَدَّثَ بِهَذَا الْحَدِيثِ جَثَا عَلَى رُكْبَتَيْهِ. صحيح مسلم كتاب البر والصلة والآداب باب تحريم الظلم رقم الحديث ۵۵ (۲۵۷۷)، شعب الايمان رقم الحديث ۶۶۸۶.

اې زما بندګانو ! بیشکه تاسو شپه او ورځ ګناهونه کوئ او زه ټول ګناهونه بخم ، پس تاسو د مانه بخنه غواړئ نو زه به درته بخنه کوم .

بلکه په احادیثو کې راځي ، رسولُ الله صلی الله علیه وسلم فرمایي چې الله تعالی په هره ورځ او هره شپه باندې بې شمیره خلق د جهنم د أور نه آزادوي . (۱)

بیا خاصکر د قیامت په ورځ به الله تعالی دومره ډېر خلق د جهنم د أور نه آزادوي چې هغومره مقدار به د انسان په زړه کې هم نه وي تېر شوی . (۲)

۳ . حضرت معاذ بن جبل ﷺ فرمایي چې رسولُ الله صلی الله علیه وسلم صحابه کرامو ته اوفرمایل : که ستاسو خوښه وي نو زه به تاسو ته خبر درکړم چې الله تعالی به د قیامت په ورځ مؤمنانو ته اول څه فرمایي ؟ او مؤمنان به ورته اول څه فرمایي ؟

صحابه کرام فرمایي چې مونږ ورته اوفرمایل : آؤ ، اې د الله رسوله ضرور خبر راکړی.

نو نبي علیه السلام اوفرمایل : بیشکه الله تعالی به مؤمنانو ته اوفرمایي :

هَلْ أَحْبَبْتُمْ لِقَائِيْ ؟ آیا تاسو زما ملاقات خوښوئ ؟

دوی به ورته اوفرمایي : آؤ ، اې زمونږ ربه ( مونږ ستا ملاقات خوښوو ) .

الله ﷻ به ورته اوفرمایي ؟ ولی ؟ دوی به ورته اووایي :

رَجَوْنَا عَفْوَكَ وَمَغْفِرَتَكَ.

(ځکه چې) مونږ ستا د عفوې او مغفرت أمید لرو .

الله تعالی به ورته اوفرمایي :

(۱) عَنْ أَبِي سَعِيدٍ الْخُدْرِيِّ قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: «إِنَّ لِلّٰهِ عُتَقَاءَ مِنَ النَّارِ فِي كُلِّ يَوْمٍ وَلَيْلَةٍ، وَلِكُلِّ مُسْلِمٍ فِي كُلِّ يَوْمٍ وَلَيْلَةٍ دَعْوَةٌ مُسْتَجَابَةٌ». المعجم الاوسط للطبراني رقم الحديث ۴۶۰۱ بَابُ الْمِيمِ، حسن الظن بالله لابن ابي الدنيا ص ۱۲۲ رقم الحديث ۱۵۰. أمالي ابن بشران ص ۳۰۶ رقم الحديث ۷۰۱.

(۲) عَنْ حُذَيْفَةَ رَضِيَ اللهُ عَنْهُ. قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: « وَالَّذِي نَفْسُ مُحَمَّدٍ بِيَدِهِ لَيَغْفِرَنَّ اللهُ عَزَّ وَجَلَّ يَوْمَ الْقِيَامَةِ مَغْفِرَةً مَا خَطَرَتْ عَلَى قَلْبِ بَشَرٍ. وَالَّذِي نَفْسُ مُحَمَّدٍ بِيَدِهِ لَيَغْفِرَنَّ اللهُ عَزَّ وَجَلَّ يَوْمَ الْقِيَامَةِ مَغْفِرَةً يَتَطَاوَلُ لَهَا إِبْلِيسُ رَجَاءَ أَنْ تُصِيبَهُ » . حسن الظن بالله لابن ابي الدنيا ص ۹۹ رقم الحديث ۹۴.

Scanned with CamScanner

قَدْ وَجَبَتْ لَكُمْ مَغْفِرَتِيْ.

په تحقيق سره ستاسو د پاره زما مغفرت واجب شو. (۱)

# د الله ﷻ رحمت د.هغه په غضب باندې غالب دی

۱. حديثِ قدسي دی، الله تعالی فرمايي: سَبَقَتْ رَحْمَتِيْ غَضَبِيْ. (۲)

زما رحمت زما په غضب باندې غالب دی.

په يو بل حديث کې ددې سره څه نوره اضافه هم شته، رسولُ الله صلی الله عليه وسلم فرمايي چې کله الله تعالی مخلوقات پيدا کړل نو هغه سره چې د عرش د پاسه کوم کتاب دی

په هغې کې يې اوليکل: سَبَقَتْ رَحْمَتِيْ غَضَبِيْ.

زما رحمت زما په غضب باندې غالب دی. (۳)

---

(۱) قَالَ مُعَاذُ بْنُ جَبَلٍ رضي الله عنه: قَالَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: « إِنْ شِئْتُمْ أَنْبَأْتُكُمْ مَا أَوَّلُ مَا يَقُولُ اللهُ لِلْمُؤْمِنِينَ يَوْمَ الْقِيَامَةِ، وَمَا أَوَّلُ مَا يَقُولُونَ لَهُ؟ » قُلْنَا: نَعَمْ يَا رَسُولَ اللهِ. قَالَ: "إِنَّ اللهَ يَقُولُ لِلْمُؤْمِنِينَ: هَلْ أَحْبَبْتُمْ لِقَائِي؟ فَيَقُولُونَ: نَعَمْ يَا رَبَّنَا. فَيَقُولُ: لِمَ؟ فَيَقُولُونَ: رَجَوْنَا عَفْوَكَ وَمَغْفِرَتَكَ. فَيَقُولُ: قَدْ وَجَبَتْ لَكُمْ مَغْفِرَتِي. شعب الايمان رقم الحديث ۱۰۱۷ الرجاء من الله تعالى. مسند احمد مخرجا رقم الحديث ۲۲۰۷۲، حسن الظن بالله لابن ابي الدنيا رقم الحديث ۱۰. مسند ابي داؤد الطيالسي رقم الحديث ٥٦٥.

(۲) عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ رضي الله عنه، عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ اللهُ عَزَّ وَجَلَّ: « سَبَقَتْ رَحْمَتِي غَضَبِي ». صحيح مسلم كتاب التَّوْبَةِ بَابٌ فِي سِعَةِ رَحْمَةِ اللهِ تَعَالَى وَأَنَّهَا سَبَقَتْ غَضَبَهُ رقم الحديث ۱۵ (۲۷۵۱)، مسند احمد مخرجا رقم الحديث ۷۲۹۹.

(۳) عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ، عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ: لَمَّا قَضَى اللهُ الخَلْقَ، كَتَبَ كِتَابًا عِنْدَهُ: غَلَبَتْ، أَوْ قَالَ سَبَقَتْ رَحْمَتِي غَضَبِي، فَهُوَ عِنْدَهُ فَوْقَ العَرْشِ. صحيح البخاري كِتَابُ التَّوْحِيدِ بَابُ قَوْلِ اللهِ تَعَالَى: {بَلْ هُوَ قُرْآنٌ مَجِيدٌ فِي لَوْحٍ مَحْفُوظٍ} رقم الحديث ۷۵۵۳،

وفي رواية: عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ رَضِيَ اللهُ عَنْهُ، قَالَ: سَمِعْتُ رَسُولَ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَقُولُ: إِنَّ اللهَ كَتَبَ كِتَابًا قَبْلَ أَنْ يَخْلُقَ الخَلْقَ: إِنَّ رَحْمَتِي سَبَقَتْ غَضَبِي، فَهُوَ مَكْتُوبٌ عِنْدَهُ فَوْقَ العَرْشِ. صحيح البخاري كِتَابُ التَّوْحِيدِ بَابُ قَوْلِ اللهِ تَعَالَى: {بَلْ هُوَ قُرْآنٌ مَجِيدٌ فِي لَوْحٍ مَحْفُوظٍ} رقم الحديث ۷۵۵۴،

وفي رواية: عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ رضي الله عنه، عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ، قَالَ: « لَمَّا خَلَقَ اللهُ الخَلْقَ ←←←←

Scanned with CamScanner

د رحمت غالب کيدو مطلب دادی چې د الله ﷻ رحمت ډير دی او هر شي ته شامل دی. (۱)

۲. په قرآن کريم کې هم ذکر دي:

﴿ وَرَحْمَتِي وَسِعَتْ كُلَّ شَيْءٍ ﴾. (۲)

ترجمه: زما عام دی هر شي ته (په دنيا کې). (۳)

۳. رسول الله صلی الله عليه وسلم فرمايي:

إِنَّ لِلَّهِ مِائَةَ رَحْمَةٍ أَنْزَلَ مِنْهَا رَحْمَةً وَاحِدَةً بَيْنَ الْجِنِّ وَالْإِنْسِ وَالْبَهَائِمِ وَالْهَوَامِّ. فَبِهَا يَتَعَاطَفُونَ. وَبِهَا يَتَرَاحَمُونَ. وَبِهَا تَعْطِفُ الْوَحْشُ عَلَى وَلَدِهَا. وَأَخَّرَ اللهُ تِسْعًا وَتِسْعِينَ رَحْمَةً، يَرْحَمُ بِهَا عِبَادَهُ يَوْمَ الْقِيَامَةِ. (۴)

---

←←← كَتَبَ فِي كِتَابِهِ وَهُوَ يَكْتُبُ عَلَى نَفْسِهِ وَهُوَ وَضْعٌ عِنْدَهُ عَلَى الْعَرْشِ: إِنَّ رَحْمَتِي تَغْلِبُ غَضَبِي». صحيح البخاري كِتَابُ التَّوْحِيدِ بَابُ قَوْلِ اللهِ تَعَالَى: {وَيُحَذِّرُكُمُ اللهُ نَفْسَهُ} رقم الحديث ۷۴۰۴، و رقم الحديث ۷۴۲۲. صحيح مسلم كتاب التَّوْبَةِ بَابٌ فِي سِعَةِ رَحْمَةِ اللهِ تَعَالَى وَأَنَّهَا سَبَقَتْ غَضَبَهُ رقم الحديث ۱۴(۲۷۵۱).

(۱) (إِنَّ رَحْمَتِي تَغْلِبُ غَضَبِي).... قَالُوا: وَالْمُرَادُ بِالسَّبْقِ وَالْغَلَبَةِ هُنَا كَثْرَةُ الرَّحْمَةِ وَشُمُولُهَا، كَمَا يُقَالُ: غَلَبَ عَلَى فُلَانٍ الْكَرَمُ وَالشَّجَاعَةُ إِذَا كَثُرَا مِنْهُ. شرح النووي على مسلم ج ۱۷ ص ۶۸ باب سعة رحمة الله تعالى وأنها تغلب غضبه

(۲) الاعراف آية ۱۵۶.

(۳) حسن بصري رَحِمَهُ اللهُ فرمايي: إنّ هذه الرحمة على العموم في الدنيا والخصوص في الاخرة. تفسير زادالمسير ج۲ ص ۱۶۰.

(۴) صحيح مسلم كتاب التَّوْبَةِ بَابٌ فِي سِعَةِ رَحْمَةِ اللهِ تَعَالَى وَأَنَّهَا سَبَقَتْ غَضَبَهُ رقم الحديث ۱۹ (۲۷۵۲).

وفي رواية: أَبِي هُرَيْرَةَ رضي الله عنه، قَالَ: سَمِعْتُ رَسُولَ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَقُولُ: « جَعَلَ اللهُ الرَّحْمَةَ مِائَةَ جُزْءٍ، فَأَمْسَكَ عِنْدَهُ تِسْعَةً وَتِسْعِينَ جُزْءًا، وَأَنْزَلَ فِي الْأَرْضِ جُزْءًا وَاحِدًا، فَمِنْ ذَلِكَ الْجُزْءِ يَتَرَاحَمُ الْخَلْقُ، حَتَّى تَرْفَعَ الْفَرَسُ حَافِرَهَا عَنْ وَلَدِهَا خَشْيَةَ أَنْ تُصِيبَهُ». صحيح البخاري كِتَابُ الأَدَبِ بَابٌ: جَعَلَ اللهُ الرَّحْمَةَ مِائَةَ جُزْءٍ رقم الحديث ۶۰۰۰، و رقم الحديث ۶۴۶۹ كِتَابُ الرِّقَاقِ بَابُ الرَّجَاءِ مَعَ الخَوْفِ. صحيح مسلم كتاب التَّوْبَةِ بَابٌ فِي سِعَةِ رَحْمَةِ اللهِ تَعَالَى وَأَنَّهَا سَبَقَتْ غَضَبَهُ رقم الحديث ۱۷(۲۷۵۲).

Scanned with CamScanner

بيشكه د الله تعالى سل (۱۰۰) رحمتونه دي، د هغې نه يې صرف يو رحمت دنيا ته رانازل كړی، دايې په جِنّاتو ، انسانانو ، چارپيانو او حشراتو كې تقسيم كړی . پس د همدې يو رحمت په وجه مخلوقات په يو بل مهرباني (مينه) كوي، په يو بل رحم كوي، او د همدغه يو رحمت په وجه وَحشي حيوان په خپل بچي باندې رحم (مينه) كوي ، او الله ﷻ دا يو كم سل (۹۹) رحمتونه د قيامت ورځې ته مؤخر كړي (ساتلي) ، چې بيا به په خپلو خاصو بندګانو باندې ددې په ذريعه رحم كوي (او دا پوره سل ۱۰۰ واړه رحمتونه به د خاص مؤمنانو بندګانو د پاره وي ).

۴ . د الله ﷻ د رحمت او مغفرت اندازه تاسو د قرآن كريم ددې آيت نه هم معلومولې شئ، چې الله تعالى فرمايي :

﴿ قُلْ يٰعِبَادِيَ الَّذِيْنَ اَسْرَفُوْا عَلٰٓى اَنْفُسِهِمْ لَا تَقْنَطُوْا مِنْ رَّحْمَةِ اللّٰهِ ؕ اِنَّ اللّٰهَ يَغْفِرُ الذُّنُوْبَ جَمِيْعًا ؕ اِنَّهٗ هُوَ الْغَفُوْرُ الرَّحِيْمُ ﴾. (۱)

ترجمه : اې پيغمبره زما د طرف نه دې خلقو ته اووايه چې اې زما هغه بندګانو چاچې زياتې كړی په خپلو ځانونو باندې (يعنی كفر ،شرک او كبيره ګناهونه يې كړي) تاسو د الله د رحمت نه مه نا اُميده كيږئ ، بيشكه الله تعالى ټول ګناهونه بَخي ، بيشكه هم هغه بخښونكی مهربان دی.

د حضرت علي ﷺ او حضرت عبدالله بن مسعود ﷺ نه د مذكوره آيت په باره كې نقل دي چې په قرآن كريم كې د الله تعالى د رحمت ، مغفرت او د هغه نه د نه اُميد متعلق وسيع او غټ آيت همدا دی. (۲)

---

(۱) الزمر آية ۵۳ .

(۲) عَنْ مُحَمَّدِ بْنِ سِيْرِيْنَ، قَالَ : قَالَ عَلِيٌّ ﷺ : أَيُّ آيَةٍ فِي الْقُرْآنِ أَوْسَعُ ؟ فَجَعَلُوْا يَذْكُرُوْنَ آيًا مِنَ الْقُرْآنِ {مَنْ يَعْمَلْ سُوْءًا أَوْ يَظْلِمْ نَفْسَهُ ثُمَّ يَسْتَغْفِرِ اللّٰهَ يَجِدِ اللّٰهَ غَفُوْرًا رَحِيْمًا} [ النساء آية ۱۱۰ ] أَوْ نَحْوَهَا. فَقَالَ عَلِيٌّ ﷺ : مَا فِي الْقُرْآنِ آيَةٌ أَوْسَعُ مِنْ {قُلْ يَا عِبَادِيَ الَّذِيْنَ أَسْرَفُوْا عَلَى أَنْفُسِهِمْ لَا تَقْنَطُوْا مِنْ رَحْمَةِ اللّٰهِ إِنَّ اللّٰهَ يَغْفِرُ الذُّنُوْبَ جَمِيْعًا إِنَّهُ هُوَ الْغَفُوْرُ الرَّحِيْمُ} [ الزمر آية ۵۳ ] . حسن الظن بالله لابن ابي الدنيا ص ۷۷ رقم الحديث ۶۹. ← ← ← ← ← ←

# کريم رَب کوتاهي معاف کوي او په حساب کې آساني کوي

۱. ابن ابي الدنيا رَحِمَهُ اللهُ په خپل کتاب " حسن الظن بالله " کې دا واقعه رانقل کړې چې يو اعرابي نبي کريم صلى الله عليه وسلم ته راغی او ورته وې فرمايل:

يَا رَسُوْلَ اللهِ! مَنْ يُحَاسِبُ الْخَلْقَ يَوْمَ الْقِيَامَةِ؟

اې د الله رسوله! د قيامت په ورځ به د مخلوقاتو سره څوک حساب کوي؟

نبي عليه السلام ورته او فرمايل: الله تعالى.

نو اعرابي وويل: أَفْلَحْتُ وَرَبِّ الْكَعْبَةِ إِذًا يَتْرُكُ حَقَّهُ. (۱)

زما دې قسَم وي په رب د کعبې باندې چې زه کامياب شوم ځکه الله تعالى خپل حق پرېږدي.

په "شعب الايمان" کې ذکر دي چې دې اعرابي دا وويل:

لِأَنَّ الْكَرِيْمَ إِذَا قَدَرَ عَفَا.

ځکه کريم (سخي) چې کله قادر شي نو هغه معافي کوي. (۲)

۲. امام غزالي رَحِمَهُ اللهُ په " احياء العلوم " کې دا واقعه داسې رانقل کړې:

---

←←← عَنِ الشَّعْبِيِّ، عَنْ شُتَيْرٍ، قَالَ: سَمِعْتُ عَبْدَ اللهِ، يَقُوْلُ: إِنَّ أَكْبَرَ آيَةٍ فِي الْقُرْآنِ فَرَجًا آيَةٌ فِي سُوْرَةِ الْغُرَفِ: {قُلْ يَا عِبَادِيَ الَّذِيْنَ أَسْرَفُوْا عَلَى أَنْفُسِهِمْ} [ الزمر آية ۵۳ ] فَقَالَ مَسْرُوْقٌ: صَدَقْتَ. حسن الظن بالله لابن ابي الدنيا ص ۷۹ رقم الحديث ۷۰.

(۱) عَنِ الْحَسَنِ، قَالَ: "أَتَى أَعْرَابِيٌّ النَّبِيَّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَقَالَ: يَا رَسُوْلَ اللهِ! مَنْ يُحَاسِبُ الْخَلْقَ يَوْمَ الْقِيَامَةِ؟ قَالَ: «اللهُ عَزَّ وَجَلَّ» قَالَ: أَفْلَحْتُ وَرَبِّ الْكَعْبَةِ إِذًا يَتْرُكُ حَقَّهُ. وَرُبَّمَا قَالَ: إِذًا لَا يَأْخُذُ حَقَّهُ. حسن الظن بالله لابن ابي الدنيا ص ۳۹.

(۲) عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ رضي الله عنه قَالَ: قَالَ أَعْرَابِيٌّ: يَا رَسُوْلَ اللهِ! مَنْ يُحَاسِبُ الْخَلْقَ يَوْمَ الْقِيَامَةِ؟ قَالَ: "اللهُ". قَالَ: اللهُ؟ قَالَ: "اللهُ". قَالَ: نَجَوْنَا وَرَبِّ الْكَعْبَةِ. قَالَ: "وَكَيْفَ يَا أَعْرَابِيُّ؟" قَالَ: لِأَنَّ الْكَرِيْمَ إِذَا قَدَرَ عَفَا. شعب الايمان رقم الحديث ۲۵۹ الايمان بالبعث والنشور بعد الموت.

Scanned with CamScanner

حضرت انس رضي الله عنه فرمايي: چې يو اعرابي نبي عليه السلام ته راغی او ورته وې ويل:

يَا رَسُوْلَ اللهِ! مَنْ يَلِيْ حِسَابَ الْخَلْقِ؟

اې د الله رسوله! د قيامت په ورځ به د مخلوقاتو سره حساب څوک کوي؟

نبي عليه السلام ورته اوفرمايل: الله تعالى.

اعرابي بيا پوښتنه اوکړه: آيا الله تعالى به پخپله د خلقو سره حساب کوي؟

نبي عليه السلام اوفرمايل: آو (پخپله به يې ورسره کوي).

نو اعرابي مُسکې شو (يعنی د خوشحالۍ نه يې اُوخندل).

پيغمبر عليه السلام ورته اوفرمايل: اې اعرابي! ولې دې اُوخندل؟

اعرابي ووېل:

إِنَّ الْكَرِيْمَ إِذَا قَدَرَ عَفَا وَإِذَا حَاسَبَ سَامَحَ.

دا ځکه د خوشحالۍ نه مسکې شوم چې کله کريم (سخي) ذات په چا باندې قابو اُومومي نو معافي کوي او چې د چا سره حساب کوي نو چشم پُوشي (آساني) کوي.

رسول الله صلى الله عليه وسلم اوفرمايل: اعرابي رېښتيا ووېل، د الله تعالى نه زيات بل کريم نشته. (بيا يې اوفرمايل:) دا اعرابي ډير پوهه او هوښيار دی. (۱)

۳. د بعضې بزرګانو متعلق دا هم نقل دي چې هغوی به ويل: کله چې مونږ ته دا پته اُولګيده چې د قيامت په ورځ به د مونږ سره حساب زمونږ رب کوي نو د مونږ نه خفګان ختم شوې دی: لِأَنَّ الْكَرِيْمَ إِذَا حَاسَبَ عَبْدَهُ تَفَضَّلَ.

---

(۱) عن أنس رضي الله عنه: أن الأعرابي قال: يا رسول الله! مَنْ يَلِيْ حِسَابَ الْخَلْقِ؟ فقال: الله تبارك وتعالى. قال: هو بنفسه؟ قال: نعم. فتبسم الأعرابي. فقال صلى الله عليه وسلم: مِمَّ ضَحِكْتَ يَا أَعْرَابِيُّ؟ فقال: إِنَّ الْكَرِيْمَ إِذَا قَدَرَ عَفَا وَإِذَا حَاسَبَ سَامَحَ. فقال النبي صلى الله عليه وسلم: صدق الأعرابي. أَلَا لَا كَرِيْمَ أكرم من الله تعالى هو أكرم الأكرمين {ثم قال} فقه الأعرابي. احياء علوم الدين ج ۴ ص ۱۴۹ كتاب الخوف والرجاء بيان دواء الرجاء والسبيل الذي يحصل منه حال الرجاء ويغلب. كيمياى سعادت الخوف والرجاء. قوت القلوب في معاملة المحبوب ووصف طريق المريد إلى مقام التوحيد ج۱ ص ۳۵۸ شرح مقام الرجاء.

ځکه کریم ذات چې کله د خپل بنده سره حساب کوي نو احسان ورسره کوي .(۱)

٤. یو أعرابي (بانډیچي) بیمار شو ، چا ورته وویل : ته به وفات کیږي .

ده ورته وویل : زه به چیرته بوتللې شم ؟ هغه وویل : الله تعالی طرف ته .

ده ورته وویل :

فَمَا كَرَاهَتِي أَنْ أَذْهَبَ إِلَى مَنْ لَا أَرَى الْخَيْرَ إِلَّا مِنْهُ .

زه دا بده نه گڼم چې هغه ذات ته بوتللې شم چې ما د هغه نه صرف خیر لیدلې دی .(۲)

د بانډیچي مقصد دا ؤ چې الله تعالی خو د ما سره ټول عُمر احسانات کړي نو که اوس زه هغه طرف ته ورځم نو د ما سره هیڅ یَره نشته ؛ ځکه هغه به راسره نور احسان هم کوي .

## الله تعالی په بندګانو باندې ډیر مهربان دی

**۱** . په بخاري شریف او مسلم شریف کې دا واقعه ذکر ده : حضرت عمر رضي الله عنه فرمائي : چې یو ځل نبي کریم صلی الله علیه وسلم ته څه قیدیان (بندیان) راوستې شو ، نو پدې قیدیانو کې یوه ښځه وه چې ډیر په ناقلارۍ سره یې خپل بچې تلاش کولو (ځکه ددینه خپل بچې ورک شوې ؤ) ناګهانه دې خپل بچې په قیدیانو کې اُوموند ، نو راوایې خیست ، خپلې سینې سره یې اولګول او شوده یې ورکړل .

(کله چې نبي کریم صلی الله علیه وسلم او صحابه کرامو دا اولید چې دا مور د بچي په لیدو څومره خوشحاله شوه او څومره پرې مهربانه ده) .

نو نبي علیه السلام د صحابه کرامو نه پوښتنه اوکړه :

أَتَرَوْنَ هٰذِهِ الْمَرْأَةَ طَارِحَةً وَلَدَهَا فِي النَّارِ؟

---

(۱) قَالَ عَطَاءُ بْنُ الْمُبَارَكِ : قَالَ بَعْضُ الْعُبَّادِ : لَمَّا عَلِمْتُ أَنَّ رَبِّي عَزَّ وَجَلَّ يَلِي مُحَاسَبَتِي زَالَ عَنِّي حُزْنِي ، لِأَنَّ الْكَرِيمَ إِذَا حَاسَبَ عَبْدَهُ تَفَضَّلَ . حسن الظن بالله لابن ابي الدنيا ص ۳۰ .

(۲) عَنْ إِدْرِيسَ بْنِ عَبْدِ اللهِ الْمَرْوَزِيِّ ، قَالَ : مَرِضَ أَعْرَابِيٌّ ، فَقِيلَ لَهُ : إِنَّكَ تَمُوتُ . قَالَ : أَيْنَ يُذْهَبُ بِي؟ . قَالَ : إِلَى اللهِ . قَالَ : فَمَا كَرَاهَتِي أَنْ أَذْهَبَ إِلَى مَنْ لَا أَرَى الْخَيْرَ إِلَّا مِنْهُ . شعب الایمان رقم الحدیث ۶۷۱۸ معالجة كل قلب بالتوبة . احیاء علوم الدین ج ۴ ص ۴۶۶ بیان ما یستحب من أحوال المحتضر عند الموت .

ستاسو څه خيال دې چې دا ښځه به دا خپل بچې اُور ته اوغورځوي ؟
صحابه كرام فرمايي چې مونږ ورته وويل : په الله قسم هيڅ كله به يې اُو نه غورځوي .
نونبي عليه السلام اوفرمايل : لَلّٰهُ أَرْحَمُ بِعِبَادِهِ مِنْ هٰذِهِ بِوَلَدِهَا .
خامخا الله ﷻ په خپلو بندګانو باندې ذدې نه هم زيات مهربانه دى څومره چې دا مور په دې خپل بچي مهربانه ده . (۱)

۲ . سفيان ثوري رحمه الله فرمايي :

مَا أُحِبُّ أَنَّ حِسَابِي جُعِلَ إِلَى وَالِدَيَّ ، رَبِّي خَيْرٌ لِي مِنْ وَالِدَيَّ . (۲)
زما دا نده خوښه چې زما حِساب زما مور او پلار ته حواله شي (بلكه زما دا خوښه ده چې زما حساب الله تعالى ته حواله شي) ځكه چې زما رب زما د پاره د خپلو والدينو نه دير بهتر دى .

## د الله ﷻ عذاب خو صرف د ناشكره او نافرمانه خلقو د پاره دى

۱ . الله تعالى فرمايي :

﴿ وَهَلْ نُجَٰزِيٓ إِلَّا ٱلْكَفُورَ ﴾ . (۳)

ترجمه : او مونږ سزا نه وركوو مګر صرف ناشكره خلقو ته (يې وركوو) .

---

(۱) عَنْ عُمَرَ بْنِ الْخَطَّابِ رضي الله عنه أَنَّهُ قَالَ: قَدِمَ عَلَى رَسُولِ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ بِسَبْيٍ فَإِذَا امْرَأَةٌ مِنَ السَّبْيِ تَبْتَغِي ، إِذَا وَجَدَتْ صَبِيًّا فِي السَّبْيِ أَخَذَتْهُ فَأَلْصَقَتْهُ بِبَطْنِهَا وَأَرْضَعَتْهُ ، فَقَالَ لَنَا رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: « أَتَرَوْنَ هٰذِهِ الْمَرْأَةَ طَارِحَةً وَلَدَهَا فِي النَّارِ ؟ » قُلْنَا: لَا ، وَاللهِ وَهِيَ تَقْدِرُ عَلَى أَنْ لَا تَطْرَحَهُ ، فَقَالَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: « لَلّٰهُ أَرْحَمُ بِعِبَادِهِ مِنْ هٰذِهِ بِوَلَدِهَا » . صحيح مسلم كتاب التَّوْبَةِ بَابٌ فِي سَعَةِ رَحْمَةِ اللهِ تَعَالَى وَأَنَّهَا سَبَقَتْ غَضَبَهُ رقم الحديث ۲۲ (۲۷۵۴) . صحيح البخاري كِتَابُ الأَدَبِ بَابُ رَحْمَةِ الوَلَدِ وَتَقْبِيلِهِ وَمُعَانَقَتِهِ رقم الحديث ۵۹۹۹ .
(۲) حسن الظن بالله لابن ابي الدنيا ج۱ ص ۴۵ رقم ۳۷ . المقاصد الحسنة ج۱ ص ۵۰۵ رقم ۷۹۹ . كشف الخفاء ج ۲ ص ۱۲۹ .
(۳) سورة سبا آية ۱۷ .

Scanned with CamScanner

۲. حضرت موسى عليه السلام چې کله فرعون ته د دِين د تبليغ د پاره ورغی نو په هغې کې ورته دا هم وويل:

﴿ إِنَّا قَدْ أُوحِيَ إِلَيْنَا أَنَّ الْعَذَابَ عَلَىٰ مَن كَذَّبَ وَتَوَلَّىٰ ﴾.(۱)

ترجمه: يقيناً مونږ ته دا وَحي شوی چې عذاب په هغه چا دی چې هغه (پيغمبر) دروغجَن اوګڼړي او (د حَق نه) مخ واړوي.

۳. رسولُ الله صلى الله عليه وسلم فرمايي:

مَنْ شَهِدَ أَنْ لَا إِلَهَ إِلَّا اللهُ وَأَنَّ مُحَمَّدًا رَسُولُ اللهِ حَرَّمَ اللهُ عَلَيْهِ النَّارَ .(۲)

څوک چې دا ګواهي ورکړي چې د الله ﷻ نه علاوه بل څوک د عبادت لائق نشته، او محمّد ﷺ د الله تعالى رسول دی نو الله ﷻ په داسې کس باندې د جهنم اُور حراموي.

٤. په بخاري شريف او مسلم شريف کې دا حديث په ډيرو ځايونو کې ذکر دی، حضرت مُعاذ بن جبل رضي الله عنه فرمايي چې زه د نبي عليه السلام پسې په سوَرلۍ باندې شاته په داسې انداز باندې سور ووم چې زما او د هغوی په مينځ کې د کِجاوې د آخري لرګي نه علاوه بل هيڅ حائل نه و (يعنى نزدې ورسره ناست ووم او د هغوی هره خبره مې پوره آوريده)، نبي عليه السلام (ماته د متوجّه کولو د پاره) اوفرمايل:

يَا مُعَاذُ ! . اې مُعاذ !

---

(۱) سورة طه آية ۴۸.

(۲) صحيح مسلم كِتَابُ الإِيمَانِ بَابُ مَنْ لَقِيَ اللهَ بِالإِيمَانِ وَهُوَ غَيْرُ شَاكٍّ فِيهِ دَخَلَ الْجَنَّةَ وَحُرِّمَ عَلَى النَّارِ رقم الحديث ۴۷(۲۹).

وفي رواية: عَنْ عُبَادَةَ رَضِيَ اللهُ عَنْهُ، عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ، قَالَ: « مَنْ شَهِدَ أَنْ لَا إِلَهَ إِلَّا اللهُ وَحْدَهُ لَا شَرِيكَ لَهُ، وَأَنَّ مُحَمَّدًا عَبْدُهُ وَرَسُولُهُ، وَأَنَّ عِيسَى عَبْدُ اللهِ وَرَسُولُهُ، وَكَلِمَتُهُ أَلْقَاهَا إِلَى مَرْيَمَ وَرُوحٌ مِنْهُ، وَالْجَنَّةُ حَقٌّ، وَالنَّارُ حَقٌّ، أَدْخَلَهُ اللهُ الْجَنَّةَ عَلَى مَا كَانَ مِنَ الْعَمَلِ» مِنْ أَبْوَابِ الْجَنَّةِ الثَّمَانِيَةِ أَيَّهَا شَاءَ. صحيح البخاري كِتَابُ أَحَادِيثِ الأَنْبِيَاءِ بَابُ قَوْلِهِ: {يَا أَهْلَ الْكِتَابِ لَا تَغْلُوا فِي دِينِكُمْ} رقم الحديث ۳۴۳۵.

Scanned with CamScanner

ما ورته اوفرمایل: لَبَّيْكَ يَا رَسُوْلَ اللهِ وَسَعْدَيْكَ.

اې د الله رسوله! ستاسو په خدمت کې حاضریم.

پیغمبر علیه السلام څه اندازه مزل کولو نه پس دوباره ماته اوفرمایل:

اې معاذ. ما ورته هماغه جواب ورکړو " چې اې د الله رسوله! حاضریم ".

( نبي علیه السلام د ډیر اهمیت په وجه حضرت معاذ ﷺ درې پیرې ځان طرف ته متوجّه کړو، چې کله پوره متوجّه شو )

نو نبي علیه السلام ( د مانه ) دا تپوس اوکړو:

هَلْ تَدْرِيْ مَا حَقُّ اللهِ عَلَى عِبَادِهِ ؟

آیا ته پوهیږې چې د الله تعالی په خپلو بندګانو باندې څه حق دی؟

ما ورته وویل: الله ﷻ او د هغه رسول صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ ښه پوهیږي.

نبي علیه السلام راته اوفرمایل:

حَقُّ اللهِ عَلَى عِبَادِهِ أَنْ يَعْبُدُوْهُ وَلَا يُشْرِكُوْا بِهِ شَيْئًا.

د الله تعالی حق په خپلو بندګانو باندې دادی چې دوی صرف د هغه عبادت اوکړي، او بل څوک د الله ﷻ سره په عبادت کې شریک نکړي.

بیا پیغمبر علیه السلام څه اندازه مزل اوکړو، بیا یې د مانه پوښتنه اوکړه:

اې معاذ بن جبل! ما ورته وویل: اې د الله رسوله! ستاسو په خدمت کې حاضریم.

نبي علیه السلام اوفرمایل:

هَلْ تَدْرِيْ مَا حَقُّ الْعِبَادِ عَلَى اللهِ إِذَا فَعَلُوْهُ.

آیا ته پوهیږې چې کله بندګان دا عبادت اوکړي نو د بندګانو په الله تعالی باندې څه حق دی؟

ما ورته وویل: اَللهُ وَرَسُوْلُهُ أَعْلَمُ. الله او د هغه رسول ښه پوهیږي.

نبي علیه السلام اوفرمایل:

حَقُّ الْعِبَادِ عَلَى اللهِ أَنْ لَا يُعَذِّبَهُمْ.

Scanned with CamScanner

د بندګانو په الله تعالى باندې حق دا دى چې الله ﷻ به دوى ته عذاب نه ورکوي. (۱)

۵. د بخاري شريف او مسلم شريف په يو حديث کې دا هم ذکر دي چې کله نبي عليه السلام درې (۳) پيرې حضرت معاذ ﷺ ځان طرف ته رامتوجّه کړو نو ورته وې فرمايل:

مَا مِنْ أَحَدٍ يَشْهَدُ أَنْ لَا إِلَهَ إِلَّا اللهُ وَأَنَّ مُحَمَّدًا رَسُوْلُ اللهِ صِدْقًا مِنْ قَلْبِهِ إِلَّا حَرَّمَهُ اللهُ عَلَى النَّارِ.

کوم کس چې د زړه د اِخلاصه دا ګواهي ورکړي " چې د الله تعالى نه علاوه بل څوک د عبادت لائق نشته او محمد (ﷺ) د الله رسول دى " نو الله تعالى داسې کس د جهنم په اُور باندې حراموي.

حضرت معاذ ﷺ ورته او فرمايل:

يَا رَسُوْلَ اللهِ! أَفَلَا أُخْبِرُ بِهِ النَّاسَ فَيَسْتَبْشِرُوْا؟

اې د الله رسوله! آيا زه خلقو ته ددې خبر ورکړم چې دوى خوشحاله شي (او يو بل ته زيرې ورکړي)؟

نبي عليه السلام ورته او فرمايل: إِذًا يَتَّكِلُوْا.

---

(۱) عَنْ مُعَاذِ بْنِ جَبَلٍ رَضِيَ اللهُ عَنْهُ، قَالَ: بَيْنَمَا أَنَا رَدِيفُ النَّبِيِّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ، لَيْسَ بَيْنِي وَبَيْنَهُ إِلَّا آخِرَةُ الرَّحْلِ، فَقَالَ: «يَا مُعَاذُ» قُلْتُ: لَبَّيْكَ يَا رَسُولَ اللهِ وَسَعْدَيْكَ، ثُمَّ سَارَ سَاعَةً، ثُمَّ قَالَ: «يَا مُعَاذُ» قُلْتُ: لَبَّيْكَ رَسُولَ اللهِ وَسَعْدَيْكَ. ثُمَّ سَارَ سَاعَةً، ثُمَّ قَالَ: «يَا مُعَاذُ بْنَ جَبَلٍ» قُلْتُ: لَبَّيْكَ رَسُولَ اللهِ وَسَعْدَيْكَ، قَالَ: «هَلْ تَدْرِي مَا حَقُّ اللهِ عَلَى عِبَادِهِ؟» قُلْتُ: اللهُ وَرَسُولُهُ أَعْلَمُ. قَالَ: «حَقُّ اللهِ عَلَى عِبَادِهِ أَنْ يَعْبُدُوهُ وَلَا يُشْرِكُوا بِهِ شَيْئًا» ثُمَّ سَارَ سَاعَةً، ثُمَّ قَالَ: «يَا مُعَاذُ بْنَ جَبَلٍ» قُلْتُ: لَبَّيْكَ رَسُولَ اللهِ وَسَعْدَيْكَ، قَالَ: «هَلْ تَدْرِي مَا حَقُّ العِبَادِ عَلَى اللهِ إِذَا فَعَلُوهُ» قُلْتُ: اللهُ وَرَسُولُهُ أَعْلَمُ، قَالَ: «حَقُّ العِبَادِ عَلَى اللهِ أَنْ لَا يُعَذِّبَهُمْ». صحيح البخاري كِتَابُ الرِّقَاقِ بَابُ مَنْ جَاهَدَ نَفْسَهُ فِي طَاعَةِ اللهِ رقم الحديث ٦٥٠٠ . و رقم الحديث ٦٢٦٧ كِتَابُ الاِسْتِئْذَانِ بَابُ مَنْ أَجَابَ بِلَبَّيْكَ وَسَعْدَيْكَ ، و رقم الحديث ٥٩٦٧ كِتَابُ اللِّبَاسِ بَابُ إِرْدَافِ الرَّجُلِ خَلْفَ الرَّجُلِ ، و رقم الحديث ٧٣٧٣ كِتَابُ التَّوْحِيدِ بَابُ مَا جَاءَ فِي دُعَاءِ النَّبِيِّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ أُمَّتَهُ إِلَى تَوْحِيدِ اللهِ تَبَارَكَ وَتَعَالَى . صحيح مسلم رقم الحديث ٣٨(٣٠) ، و رقم الحديث ٥٠(٣٠) ، و رقم الحديث ٥١(٣٠) كِتَابُ الإِيمَانِ بَابُ مَنْ لَقِيَ اللهَ بِالإِيمَانِ وَهُوَ غَيْرُ شَاكٍّ فِيهِ دَخَلَ الجَنَّةَ وَحُرِّمَ عَلَى النَّارِ .

Scanned with CamScanner

(که ته خلقو ته ددې خبر ورکړې) نو بیا به دوی د الله ﷻ په مهربانۍ باندې اعتماد اوکړي (او نېک اعمال به نه کوي).

حضرت مُعاذ ﷺ د وفات کیدو په وخت ددې حدیث خبر ورکړو ؛ ددې د پاره چې د علم پټولو په ګناه کې رانشي. (۱)

**٦.** په مسلم شریف کې اُوږد حدیث دی، د هغې په آخر کې ذکر دي :

حضرت ابوهریرة ﷺ فرمایي چې رسولُ الله صلی الله علیه وسلم د اَنصارو په یو باغ کې وُ ، ماته یې خپلې څپلۍ راکړې (چې دا زما تصدیق وي) ، او راته وې فرمایل :

اِذْهَبْ بِنَعْلَيَّ هَاتَيْنِ، فَمَنْ لَقِيتَ مِنْ وَرَاءِ هَذَا الْحَائِطِ يَشْهَدُ أَنْ لَا إِلَهَ إِلَّا اللهُ مُسْتَيْقِنًا بِهَا قَلْبُهُ، فَبَشِّرْهُ بِالْجَنَّةِ.

ته ځان سره زما دا څپلۍ (د تصدیق) د پاره ویسه او ته چې ددې دیوال نه اَخوا د هرچا سره ملاؤ شې او دا ګواهي ورکوي " چې د الله ﷻ نه علاوه بل څوک د عبادت لائق

---

(۱) عَنْ قَتَادَةَ ، قَالَ: حَدَّثَنَا أَنَسُ بْنُ مَالِكٍ ﷺ أَنَّ النَّبِيَّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ، وَمُعَاذٌ رَدِيفُهُ عَلَى الرَّحْلِ، قَالَ: «يَا مُعَاذَ بْنَ جَبَلٍ»، قَالَ: لَبَّيْكَ يَا رَسُولَ اللهِ وَسَعْدَيْكَ ، قَالَ: «يَا مُعَاذُ»، قَالَ: لَبَّيْكَ يَا رَسُولَ اللهِ وَسَعْدَيْكَ ثَلَاثًا، قَالَ: «مَا مِنْ أَحَدٍ يَشْهَدُ أَنْ لَا إِلَهَ إِلَّا اللهُ وَأَنَّ مُحَمَّدًا رَسُولُ اللهِ صِدْقًا مِنْ قَلْبِهِ إِلَّا حَرَّمَهُ اللهُ عَلَى النَّارِ»، قَالَ يَا رَسُولَ اللهِ! أَفَلَا أُخْبِرُ بِهِ النَّاسَ فَيَسْتَبْشِرُوا؟ قَالَ: «إِذًا يَتَّكِلُوا» وَأَخْبَرَ بِهَا مُعَاذٌ عِنْدَ مَوْتِهِ تَأَثُّمًا. صحیح البخاري كِتَابُ العِلْمِ بَابُ مَنْ خَصَّ بِالعِلْمِ قَوْمًا دُونَ قَوْمٍ، كَرَاهِيَةَ أَنْ لَا يَفْهَمُوا رقم الحدیث ۱۲۸. صحیح مسلم كِتَابُ الْإِيمَانَ بَابُ مَنْ لَقِيَ اللهَ بِالْإِيمَانِ وَهُوَ غَيْرُ شَاكٍّ فِيهِ دَخَلَ الْجَنَّةَ وَحُرِّمَ عَلَى النَّارِ رقم الحدیث ۵۳(۳۲).

(قَالَ: إِذًا يَتَّكِلُوا) إِذَنْ حَرْفُ جَوَابٍ وَجَزَاءٍ، وَقَدْ يُسْتَعْمَلُ لِمَحْضِ الْجَوَابِ كَمَا هُنَا. أَيْ لَا تُخْبِرْهُمْ بِذَلِكَ؛ لِأَنَّكَ إِنْ أَخْبَرْتَهُمْ وَبِهَذِهِ الْبِشَارَةِ بَشَّرْتَهُمْ يَعْتَمِدُوا عَلَى أَلْطَافِ الرُّبُوبِيَّةِ، وَيَتْرُكُوا حَقَّ الْعُبُودِيَّةِ فَيَنْجَرُّوا إِلَى نُقْصَانِ دَرَجَاتِهِمْ ، وَتَنَزُّلُ حَالَاتِهِمْ ، وَهَذَا حُكْمُ الْأَغْلَبِ مِنَ الْعَوَامِّ، وَإِلَّا فَالْخَوَاصُّ كُلَّمَا بُشِّرُوا زَادُوا فِي الْعِبَادَةِ كَمَا وَقَعَ لِلْعَشَرَةِ الْمُبَشَّرَةِ وَغَيْرِهِمْ ، وَلِذَا قَالَ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فِي جَوَابِ مَنْ قَالَ لَهُ: «أَتَقُومُ فِي اللَّيْلِ حَتَّى تَتَوَرَّمَ قَدَمَاكَ وَقَدْ غَفَرَ اللهُ لَكَ مَا تَقَدَّمَ مِنْ ذَنْبِكَ وَمَا تَأَخَّرَ؟ أَفَلَا أَكُونُ عَبْدًا شَكُورًا)». مرقاة المفاتیح شرح مشکاة المصابیح ج۱ ص ۹۹ كِتَابُ الْإِيمَانِ.

نشته" او په دې باندې يې زړه مطمئن وي نو هغه ته د جنت زيرې ورکړه ...

اګر چې بيا حضرت عُمر ﷺ نبي عليه السلام ته اوفرمايل : که تاسو خلقو ته دا زيرې ورکړې نو بيا د ما سره دا يَره ده چې خلق به په دې زيري باندې اعتماد کوي ( او نېک اعمال به نه کوي ) لهذا دوی پرېږدئ چې نېک اعمال اوکړي.

بيا رسول الله صلی الله عليه وسلم اوفرمايل :

فَخَلِّهِمْ. پس دوی پرېږده ( چې نېک اعمال اوکړي ).(۱)

---

(۱) پوره حديث داسې دی : قَالَ أَبُو هُرَيْرَةَ ﷺ: كُنَّا قُعُودًا حَوْلَ رَسُولِ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ، مَعَنَا أَبُو بَكْرٍ، وَعُمَرُ فِي نَفَرٍ، فَقَامَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ مِنْ بَيْنِ أَظْهُرِنَا، فَأَبْطَأَ عَلَيْنَا، وَخَشِينَا أَنْ يُقْتَطَعَ دُونَنَا، وَفَزِعْنَا، فَقُمْنَا، فَكُنْتُ أَوَّلَ مَنْ فَزِعَ، فَخَرَجْتُ أَبْتَغِي رَسُولَ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ حَتَّى أَتَيْتُ حَائِطًا لِلْأَنْصَارِ لِبَنِي النَّجَّارِ، فَدُرْتُ بِهِ هَلْ أَجِدُ لَهُ بَابًا؟ فَلَمْ أَجِدْ، فَإِذَا رَبِيعٌ يَدْخُلُ فِي جَوْفِ حَائِطٍ مِنْ بِئْرٍ خَارِجَةٍ وَالرَّبِيعُ الْجَدْوَلُ فَاحْتَفَزْتُ، فَدَخَلْتُ عَلَى رَسُولِ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ، فَقَالَ: «أَبُو هُرَيْرَةَ» فَقُلْتُ: نَعَمْ يَا رَسُولَ اللهِ، قَالَ: «مَا شَأْنُكَ؟» قُلْتُ: كُنْتَ بَيْنَ أَظْهُرِنَا، فَقُمْتَ فَأَبْطَأْتَ عَلَيْنَا، فَخَشِينَا أَنْ تُقْتَطَعَ دُونَنَا، فَفَزِعْنَا، فَكُنْتُ أَوَّلَ مَنْ فَزِعَ، فَأَتَيْتُ هَذَا الْحَائِطَ، فَاحْتَفَزْتُ كَمَا يَحْتَفِزُ الثَّعْلَبُ، وَهَؤُلَاءِ النَّاسُ وَرَائِي، فَقَالَ: «يَا أَبَا هُرَيْرَةَ» وَأَعْطَانِي نَعْلَيْهِ، قَالَ: «اذْهَبْ بِنَعْلَيَّ هَاتَيْنِ، فَمَنْ لَقِيتَ مِنْ وَرَاءِ هَذَا الْحَائِطِ يَشْهَدُ أَنْ لَا إِلَهَ إِلَّا اللهُ مُسْتَيْقِنًا بِهَا قَلْبُهُ، فَبَشِّرْهُ بِالْجَنَّةِ»، فَكَانَ أَوَّلَ مَنْ لَقِيتُ عُمَرُ ﷺ، فَقَالَ: مَا هَاتَانِ النَّعْلَانِ يَا أَبَا هُرَيْرَةَ؟ فَقُلْتُ: هَاتَانِ نَعْلَا رَسُولِ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ، بَعَثَنِي بِهِمَا مَنْ لَقِيتُ يَشْهَدُ أَنْ لَا إِلَهَ إِلَّا اللهُ مُسْتَيْقِنًا بِهَا قَلْبُهُ، بَشَّرْتُهُ بِالْجَنَّةِ، فَضَرَبَ عُمَرُ بِيَدِهِ بَيْنَ ثَدْيَيَّ فَخَرَرْتُ لِاسْتِي، فَقَالَ: ارْجِعْ يَا أَبَا هُرَيْرَةَ، فَرَجَعْتُ إِلَى رَسُولِ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ، فَأَجْهَشْتُ بُكَاءً، وَرَكِبَنِي عُمَرُ، فَإِذَا هُوَ عَلَى أَثَرِي، فَقَالَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: «مَا لَكَ يَا أَبَا هُرَيْرَةَ؟» قُلْتُ: لَقِيتُ عُمَرَ ﷺ، فَأَخْبَرْتُهُ بِالَّذِي بَعَثْتَنِي بِهِ، فَضَرَبَ بَيْنَ ثَدْيَيَّ ضَرْبَةً خَرَرْتُ لِاسْتِي، قَالَ: ارْجِعْ، فَقَالَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: «يَا عُمَرُ! مَا حَمَلَكَ عَلَى مَا فَعَلْتَ؟» قَالَ: يَا رَسُولَ اللهِ! بِأَبِي أَنْتَ وَأُمِّي، أَبَعَثْتَ أَبَا هُرَيْرَةَ بِنَعْلَيْكَ، مَنْ لَقِيَ يَشْهَدُ أَنْ لَا إِلَهَ إِلَّا اللهُ مُسْتَيْقِنًا بِهَا قَلْبُهُ بَشَّرَهُ بِالْجَنَّةِ؟ قَالَ: «نَعَمْ»، قَالَ: فَلَا تَفْعَلْ، فَإِنِّي أَخْشَى أَنْ يَتَّكِلَ النَّاسُ عَلَيْهَا، فَخَلِّهِمْ يَعْمَلُونَ، قَالَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: «فَخَلِّهِمْ». صحيح مسلم كِتَابُ الإِيمَانِ بَابُ مَنْ لَقِيَ اللهَ بِالإِيمَانِ وَهُوَ غَيْرُ شَاكٍّ فِيهِ دَخَلَ الْجَنَّةَ وَحُرِّمَ عَلَى النَّارِ رقم الحديث ۵۲(۳۱). صحيح ابن حبان محققا رقم الحديث ۴۵۴۳.

Scanned with CamScanner

# نا اميده كيدل ندي په كار

حضرت ابو هريرة رضي الله عنه فرمايي چې رسول الله صلى الله عليه وسلم د صحابه كرامو په يوه ډله باندې تيريدو، صحابه كرامو (په څه خبره باندې) خندل.

نبي عليه السلام ورته اوفرمايل:

لَوْ تَعْلَمُوْنَ مَا أَعْلَمُ لَضَحِكْتُمْ قَلِيْلًا وَلَبَكَيْتُمْ كَثِيْرًا.

كه چيرته تاسو په هغه څه پوهيدى په كوم چې زه پوهيږم نو تاسو به لږ خندلي وو او دير به مو ژړلي وو.

حضرت جبريل عليه السلام نبي عليه السلام ته راغى او ورته وې فرمايل:

إِنَّ اللهَ يَقُوْلُ لَكَ : لِمَ تُقَنِّطُ عِبَادِيْ؟

الله تعالى تاسو ته فرمايي چې تاسو ولې زما بندګان نااميده كوى؟

بيا نبي عليه السلام دې صحابه كرامو ته اوفرمايل:

سَدِّدُوْا وَقَارِبُوْا وَأَبْشِرُوْا.

په شريعت باندې خپل اعمال برابر ساتئ (يعنى د خپل پيغمبر طريقه مضبوطه اونيسئ)، د خپل طاقت موافق په نيكو اعمالو سره د الله تعالى قُرب حاصل كړئ (په ځان باندې د طاقت نه زيات بُوج مه راولئ)، او د جنت زيرې قبول كړئ. (١)

---

(١) عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ رضي الله عنه قَالَ: مَرَّ رَسُوْلُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ عَلَى رَهْطٍ مِنْ أَصْحَابِهِ وَهُمْ يَضْحَكُوْنَ. فَقَالَ: لَوْ تَعْلَمُوْنَ مَا أَعْلَمُ لَضَحِكْتُمْ قَلِيْلًا وَلَبَكَيْتُمْ كَثِيْرًا. فَأَتَاهُ جِبْرِيْلُ فَقَالَ: إِنَّ اللهَ يَقُوْلُ لَكَ لِمَ تُقَنِّطُ عِبَادِيْ؟ قَالَ: فَرَجَعَ إِلَيْهِمْ فَقَالَ: سَدِّدُوْا وَقَارِبُوْا وَأَبْشِرُوْا. إسناده صحيح على شرط مسلم. صحيح ابن حبان محققا كِتَابُ الْعِلْمِ ذِكْرُ الْبَيَانِ بِأَنَّ عَلَى الْعَالِمِ أَنْ لَا يُقَنِّطَ عِبَادَ اللهِ عَنْ رَحْمَةِ اللهِ رقم الحديث ١١٣، ورقم الحديث ٣٥٨ كِتَابُ الْبِرِّ وَالْإِحْسَانِ ذِكْرُ الْإِخْبَارِ عَمَّا يَجِبُ عَلَى الْمَرْءِ مِنْ لُزُوْمِ التَّسْدِيْدِ فِيْ أَسْبَابِهِ مَعَ الْاِسْتِبْشَارِ بِمَا يَأْتِيْ مِنْهَا. شعب الايمان الرجاء من الله تعالى رقم الحديث ١٠٢٧. موارد الظمان باب المواعظ رقم الحديث ٢٤٩٠، العمال الصالح رقم الحديث ٢٠٤٩ ماجاء في امر الله ... ، احياء علوم الدين ج ٣ ص ١٤٥، تفسير ابن كثير ج ٤ ص ٤٦٣. تفسير البغوي (معالم التنزيل في تفسير القرآن) ج ٣ ص ٦١ سورة الحجر في تفسير آية ٥٦.

قَالَ أَبُو حَاتِمٍ رَضِيَ اللهُ تَعَالَى عَنْهُ: "سَدِّدُوْا" يُرِيْدُ بِهِ كُوْنُوْا مُسَدِّدِيْنَ وَالتَّسْدِيْدُ لُزُوْمُ ←←←←←

Scanned with CamScanner

امام بيهقي رحمه الله ددې حديث ذکر کولو نه پس فرمايلي : دا حديث په دې باندې دلالت کوي چې د مسلمان ويره به داسې نه وي چې دا د الله تعالى د رحمت نه نااُميده کړي ، همدارنګې اُميد به يې هم داسې نه وي چې د الله ﷻ د عذاب نه بې فکره شي او يا يې په ګناهونو باندې زړه وَر کړي . (۱)

## د حضرت يعقوب عليه السلام د الله ﷻ نه ښه اُميد

د حضرت يعقوب عليه السلام په واقعه کې زمونږ د پاره ډير لوي عبرت پروت دی ، ځکه حضرت يوسف عليه السلام هغه ته ډير ګران وُ ، د حضرت يوسف عليه السلام په جدائۍ کې په ده باندې سخت امتحانات راغلل ، خو هيڅ کله نااُميده شوې نه وُ ، په دې امتحاناتو يې صبر کولو او د الله تعالى نه يې ښه اُميد لرل ، نو د همدې ښه اُميد په وجه په ټولو امتحانانو کې کامياب شو .

په قرآن کريم سورة يوسف کې د حضرت يعقوب عليه السلام د صبر او د الله ﷻ نه د ښه اُميد تذکره شوی :

←←← طَرِيقَةِ النَّبِيِّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وَاتِّبَاعُ سُنَّتِهِ . وَقَوْلُهُ: "وَقَارِبُوا" يُرِيدُ بِهِ لَا تَحْمِلُوا عَلَى الْأَنْفُسِ مِنَ التَّشْدِيدِ مَا لَا تُطِيقُونَ . وَأَبْشِرُوا فَإِنَّ لَكُمُ الْجَنَّةَ إِذَا لَزِمْتُمْ طريقتي في التسديد وقاربتم في الأعمال. صحيح ابن حبان ج۱ ص ۳۱۹ .

ملاعلي قاري رَحِمَهُ اللهُ په يو بل حديث کې ددې ذکر شوي الفاظو تشريح داسې کړې : (سَدِّدُوا) أَيِ: اجْعَلُوا أَعْمَالَكُمْ مُسْتَقِيمَةً عَلَى طَرِيقِ الْحَقِّ (وَقَارِبُوا) أَيِ: اطْلُبُوا قُرْبَةَ اللهِ تَعَالَى بِطَاعَتِهِ بِقَدْرِ مَا تُطِيقُونَهُ ... وَقَالَ الشَّيْخُ ابْنُ حَجَرٍ فِي شَرْحِ الْبُخَارِيِّ: سَدِّدُوا أَيِ: الْزَمُوا السَّدَادَ، وَهُوَ الصَّوَابُ مِنْ غَيْرِ إِفْرَاطٍ وَتَفْرِيطٍ . وَقَارِبُوا أَيْ: إِنْ لَمْ تَسْتَطِيعُوا الْأَخْذَ بِالْأَكْمَلِ فَاعْمَلُوا بِمَا يَقْرُبُ مِنْهُ. مرقاة المفاتيح كِتَابُ الْإِيمَانِ بَابُ الْإِيمَانِ بِالْقَدَرِ ج ۱ ص ۱۷۳ في تشريح رقم الحديث ۹۶ (۱۸) .

(۱) قَالَ الْبَيْهَقِيُّ رَحِمَهُ اللهُ: فَفِي هَذَا دَلَالَةٌ عَلَى أَنَّهُ لَا يَنْبَغِي أَنْ يَكُونَ خَوْفُهُ بِحَيْثُ يُؤَيِّسُهُ وَيُقَنِّطُهُ مِنْ رَحْمَةِ اللهِ، كَمَا لَا يَنْبَغِي أَنْ يَكُونَ رَجَاؤُهُ بِحَيْثُ يَأْمَنُ مَكْرَ اللهِ، أَوْ يُجَرِّئُهُ عَلَى مَعْصِيَةِ اللهِ عَزَّ وَجَلَّ . شعب الايمان الرجاء من الله تعالى ج۲ ص ۳۴۳ في تشريح حديث ۱۰۲۷ .

Scanned with CamScanner

۱. کله چې حضرت يعقوب عليه السلام ته خپلو ځامنو د حضرت يوسف عليه السلام د مرګ خبر راوړو نو دا اګر چې ډير دروند خبرؤ خو ده بيا هم صبر اوکړو ، د الله ﷻ نه يې مدد اوغوښت ، او د الله ﷻ نه يې ښه اُميد اولرل.

کله چې ده ته ځامنو د حضرت يوسف عليه السلام قميص راوړو چې وينه يې ورباندې لړولې وه ، او ورته وې ويل چې حضرت يوسف عليه السلام د موږ نه شرمخ اُوخوړ ، نو حضرت يعقوب عليه السلام پوهه شو چې دا دوی هسې بهانه جوړه کړه ، نو ځامنو ته يې وويل :

﴿ بَلْ سَوَّلَتْ لَكُمْ أَنفُسُكُمْ أَمْرًا ۖ فَصَبْرٌ جَمِيلٌ ۖ وَاللَّهُ الْمُسْتَعَانُ عَلَىٰ مَا تَصِفُونَ ﴾.(۱)

ترجمه : (دا خبره داسې نده څنګه يې تاسو کوی) بلکه دا تاسو تاسو ته ستاسو زړونو يو کار ښائسته کړی (يعنی د ځان نه مو يوه خبره جوړه کړې ده) ، پس صبر ډير ښه دی ، او دا تاسو چې څه بيانوی په دې کې زه د الله ﷻ نه مدد غواړم.

(نو حضرت يعقوب عليه السلام د الله تعالی نه نااُميده نه شو).

۲. کله چې ډير وخت پس ورته ځامنو د بل ځوي (بِنيامين) متعلق خبره اوکړه چې هغه رانه د مصر بادشاه حصار کړو نو دا ورباندې دويم غټ امتحان ؤ ، خو بيا هم حضرت يعقوب عليه السلام د الله ﷻ نه نااُميده نه شو ، بلکه ځامنو ته يې وويل :

﴿ بَلْ سَوَّلَتْ لَكُمْ أَنفُسُكُمْ أَمْرًا ۖ فَصَبْرٌ جَمِيلٌ ۖ عَسَى اللَّهُ أَن يَأْتِيَنِي بِهِمْ جَمِيعًا ۚ إِنَّهُ هُوَ الْعَلِيمُ الْحَكِيمُ ﴾.(۲)

ترجمه : (دا تاسو چې ماته د بِنيامين په باره کې کومه خبره اوکړه دا حقيقت نلري) بلکه دا تاسو ته ستاسو زړونو يو کار ښائسته کړی (يعنی د ځان نه مو يوه خبره جوړه کړې ده) ، پس (همدا) صبر ډير ښه دی ، اُميد دی چې الله تعالی به ماته دوی ټول راولي ، بيشکه هم هغه پوهه او د حکمت خاوند دی.

---

(۱) سورة يوسف آية ۱۸ .

(۲) سورة يوسف آية ۸۳ .

Scanned with CamScanner

(نو حضرت يعقوب عليه السلام په دې وخت کې هم د الله تعالى نه نااميده نه شو، بلکه د الله ﷻ نه يې ښه اميد اولرل).

٣. ډيره زمانه تيريدو باوجود بيا به هم حضرت يعقوب عليه السلام د حضرت يوسف عليه السلام تذکره کوله، د هغه په غم کې به مبتلاء ؤ، ده ته نورو ځامنو وويل چې دا ته ولې د حضرت يوسف عليه السلام دومره تذکره کوې، د ډير غم د لاسه به خراب شې. نو ده خپلو ځامنو ته وويل:

﴿ إِنَّمَآ أَشۡكُواْ بَثِّي وَحُزۡنِيٓ إِلَى ٱللَّهِ وَأَعۡلَمُ مِنَ ٱللَّهِ مَا لَا تَعۡلَمُونَ ﴾.(١)

ترجمه: بيشکه زه خپل خفګان او غم صرف الله تعالى ته بيانوم، او زه د الله د طرفه په هغه څه پوهيږم چې تاسو پرې نه پوهيږئ.

۴. حضرت يعقوب عليه السلام چونکه په هيڅ حالت کې د الله تعالى نه نه نااميده کيدو نو ځامنو ته يې وويل:

﴿ يَٰبَنِيَّ ٱذۡهَبُواْ فَتَحَسَّسُواْ مِن يُوسُفَ وَأَخِيهِ وَلَا تَاْيۡـَٔسُواْ مِن رَّوۡحِ ٱللَّهِۖ إِنَّهُۥ لَا يَاْيۡـَٔسُ مِن رَّوۡحِ ٱللَّهِ إِلَّا ٱلۡقَوۡمُ ٱلۡكَٰفِرُونَ ﴾.(٢)

ترجمه: اې زما ځامنو! تاسو لاړ شئ د يوسف او د هغه د ورور (بنيامين) لټون اوکړئ او د الله تعالى د رحمت نه مه نااميده کيږئ، بيشکه د الله د رحمت نه خو صرف کافران قوم نااميده کيږي.

۵. حضرت يعقوب عليه السلام په هره موقع صبر اوکړو او د الله ﷻ نه يې ښه اميد لرل نو آخر الله تعالى کامياب کړو، الله تعالى فرمايي:

﴿ فَلَمَّآ أَن جَآءَ ٱلۡبَشِيرُ أَلۡقَىٰهُ عَلَىٰ وَجۡهِهِۦ فَٱرۡتَدَّ بَصِيرٗاۖ قَالَ أَلَمۡ أَقُل لَّكُمۡ إِنِّيٓ أَعۡلَمُ مِنَ ٱللَّهِ مَا لَا تَعۡلَمُونَ ﴾.(٣)

---

(١) سورة يوسف آية ٨٦.
(٢) سورة يوسف آية ٨٧.
(٣) سورة يوسف آية ٩٦.

Scanned with CamScanner

ترجمه : پس کله ( د حضرت يوسف عليه السلام په باره کې ) زيرې ورکوونکی راغی او د حضرت يوسف عليه السلام قميص یې د حضرت يعقوب عليه السلام په مخ باندې واچول نو سترګې یې بينا شوی ( يعنی نظر یې واپس صحيح شو ) ، نو يعقوب عليه السلام خپلو ځامنو ته ووېل : آيا ما تاسو ته نه وو ويلي چې بېشکه زه د الله ﷻ د طرفه په هغه څه پوهېږم چې تاسو پرې نه پوهيږی . (۱)

امام غزالي رَحِمَهُ اللهُ په " احياء العلوم " کې ذکر کړي : چې الله تعالى حضرت يعقوب عليه السلام ته وحي اوکړه :

---

(۱) قصة نبي الله يعقوب عليه السلام: فقصة نبي الله يعقوب عند فقد ابنه يوسف عليهما الصلاة والسلام درس عظيم في ترك اليأس وحسن الظن بالله والصبر على البلاء ورجاء الفرج من الله في عدة مواضع منها:

ـ عندما جاءه نعي أحب أولاده إليه يوسف عليه الصلاة والسلام وهذا أعظم المصائب على قلب الأب لم يفقد صوابه وقابل قدر الله النازل بالصبر والاستعانة والحلم والاستكانة بالله سبحانه في رفعه. ﴿ قَالَ بَلْ سَوَّلَتْ لَكُمْ أَنفُسُكُمْ أَمْرًا ۖ فَصَبْرٌ جَمِيلٌ ۖ عَسَى اللَّهُ أَن يَأْتِيَنِي بِهِمْ جَمِيعًا ۚ إِنَّهُ هُوَ الْعَلِيمُ الْحَكِيمُ ﴾ .

ـ ولما عظمت المصيبة بفقد ابنه الثاني ازداد صبره وعظم رجاؤه في الفرج من الله سبحانه . فقال لأبنائه: ﴿ قَالَ بَلْ سَوَّلَتْ لَكُمْ أَنفُسُكُمْ أَمْرًا ۖ فَصَبْرٌ جَمِيلٌ ۖ عَسَى اللَّهُ أَن يَأْتِيَنِي بِهِمْ جَمِيعًا ۚ إِنَّهُ هُوَ الْعَلِيمُ الْحَكِيمُ ﴾

ـ حين عوتب في تذكر يوسف عليه الصلاة والسلام بعد طول الزمان وانقطاع الأمل وحصول اليأس في رجوعه قال بلسان المؤمن الواثق في وعد الله برفع البلاء عن الصابرين وإجابة دعوة المضطرين ﴿ قَالَ إِنَّمَا أَشْكُو بَثِّي وَحُزْنِي إِلَى اللَّهِ وَأَعْلَمُ مِنَ اللَّهِ مَا لَا تَعْلَمُونَ ﴾

ـ وأخذ بالأسباب في السعي والبحث عن يوسف وأخيه فقال لأبنائه ﴿ يَا بَنِيَّ اذْهَبُوا فَتَحَسَّسُوا مِن يُوسُفَ وَأَخِيهِ وَلَا تَيْأَسُوا مِن رَّوْحِ اللَّهِ ۖ إِنَّهُ لَا يَيْأَسُ مِن رَّوْحِ اللَّهِ إِلَّا الْقَوْمُ الْكَافِرُونَ ﴾

ـ فكانت العاقبة لمن صبر وأمل ورضي ولم يتسخط قال تعالى: ﴿ فَلَمَّا أَن جَاءَ الْبَشِيرُ ﴾ من عند الحبيب مبشراً باللقاء القريب ﴿ أَلْقَاهُ ﴾ قميص يوسف ﴿ عَلَىٰ وَجْهِهِ فَارْتَدَّ بَصِيرًا ﴾ فرجع البصر وبلغ الأمل وزال الكرب وحصل الثواب لمن صبر ورضي وأناب ﴿ قَالَ أَلَمْ أَقُل لَّكُمْ إِنِّي أَعْلَمُ مِنَ اللَّهِ مَا لَا تَعْلَمُونَ ﴾ . موسوعة الأخلاق الإسلامية ج۳ ص۴۷ اليأس والقنوط .

أَتَدْرِي لِمَ فَرَّقْتُ بَيْنَكَ وَبَيْنَ وَلَدِكَ يُوسُفَ ؟

آیا تاته پته شته چې ما ستا او ستا د بچي "یوسف" په مینځ کې جدائي ولې راوسته؟

ده ورته وویل: نه. الله تعالی ورته اوفرمایل: دا ځکه چې تا دده ورونو (یعنی خپلو ځامنو) ته (کله چې هغوی دا د ځان سره بوتللو) ویلي وو:

﴿ وَأَخَافُ أَن يَأْكُلَهُ الذِّئْبُ وَأَنتُمْ عَنْهُ غَافِلُونَ ﴾.(۱)

ترجمه: او زه ویریږم چې دا به شرمخ اُوخوري او تاسو به دده نه غافله یی.

نو (اې یعقوب!) ته ولې په ده باندې د لېوه خوړلو نه اُویریدی او تا ولې دده د ورونو غفلت ته اُوکتل خو زما حفاظت ته دې اُو نه کتل؟

بیا الله تعالی ورته اوفرمایل: وَتَدْرِي لِمَ رَدَدْتُهُ عَلَيْكَ ؟

او تاته پته شته چې ما تاته ولې یوسف (علیه السلام) واپس درکړو؟

ده ورته وویل: نه. الله تعالی ورته اوفرمایل:

دا ځکه چې تا د ما نه بنه اُمید اُوساتل، او دا دې وویل:

﴿ عَسَى اللَّهُ أَن يَأْتِيَنِي بِهِمْ جَمِيعًا ﴾.(۲)

ترجمه: اُمید دی چې الله تعالی دوی ټول ماته راولي.

او خپلو ځامنو ته دې دا ویلي وو:

﴿ اذْهَبُوا فَتَحَسَّسُوا مِن يُوسُفَ وَأَخِيهِ وَلَا تَيْأَسُوا مِن رَّوْحِ اللَّهِ ﴾.(۳)

ترجمه: تاسو لاړ شئ د یوسف او دده د ورور لټون اوکړئ، او د الله تعالی د رحمت نه مه نااُمیده کیږئ.(۴)

---

(۱) سورة یوسف آیة ۱۳ .

(۲) سورة یوسف آیة ۸۳ .

(۳) سورة یوسف آیة ۸۷ .

(۴) و روي أن الله تعالى أوحى إلى يعقوب عليه السلام: أَتَدْرِي لِمَ فَرَّقْتُ بَيْنَكَ وَبَيْنَ وَلَدِكَ يُوسُفَ ؟ قال: لا . قال: لقولك لأخوته ﴿ أخاف أن يأكله الذئب وأنتم عنه غافلون ﴾ لم خفت عليه الذئب ولم ترجني؟ ولم نظرت إلى غفلة أخوته ولم تنظر إلى حفظي له؟ . وَتَدْرِي لِمَ رَدَدْتُهُ عَلَيْكَ ؟ قال: لا . ←←←←

Scanned with CamScanner

# امام كسائي رَحِمَهُ اللَّهُ ناأُميده نه شو نو آخر كامياب شو

امام كسائي رَحِمَهُ اللَّهُ چې د نحوي غټ امام تېر شوی ، د هغه په باره کې راځي چې هغه د نَحوي زده کول شروع کړل خو قدرت يې ورباندې اُو نه رسيد .

يوه ورځ په يو ځای کې د ديوال سره ناست وُ ، يو مېږي يې اُوليد چې د هغه سره خوراک وُ او په ديوال باندې ختلو ، کله به چې په ديوال لږ اُوخت نو واپس به رااُوغورځيد ، څو پېرې همدغه شان اُوخت ، واپس به رااُوغورځيد ، ليکن هغه هِمّت نه بائيللو ، مسلسل يې د ختلو کوشش کولو ، آخر کامياب شو او په ديوال يې خوراک د ځان سره اُوخيجول .

امام كسائي رَحِمَهُ اللَّهُ د ځان سره ووېل :

هَٰذِهِ النَّمْلَةُ ثَابَرَتْ حَتَّى وَصَلَتِ الْغَايَةَ .

دې مېږي مسلسل کوشش اوکړو ( ناأُميده نه شو ) تر دې چې خپل مقصود ته اُورسيد .

نو امام كسائي رَحِمَهُ اللَّهُ هم مسلسل کوشش اوکړو تر دې چې د نَحوي لوي امام جوړ شو .

همدغه شان مونږ ته هم په کار دي چې کوشش کوو ، د هِمت نه کار واخلو ، او هيڅ کله ناأُميده نه شو ، ځکه په ناأُميدۍ سره په انسان باندې د کاميابۍ ټولې دروازې بندېږي . (۱)

---

←←←← قال : لِأَنَّكَ رَجَوْتَنِي وَقُلْتَ {عسى الله أن يأتيني بهم جميعاً} وَبِمَا قُلْتَ ﴿ اِذْهَبُوا فَتَحَسَّسُوا مِنْ يُوسُفَ وَأَخِيهِ وَلَا تَايْئَسُوا ﴾ وكذلك لما قال يوسف لصاحب الملك {اذكرني عند ربك} قال الله تعالى {فأنساه الشيطان ذكر ربه فلبث في السجن بضع سنين} . احياء علوم الدين ج ۴ ص ۵۳ كتاب التوبة الركن الرابع في دَوَاءُ التَّوْبَةِ وَطَرِيقُ الْعِلَاجِ لِحَلِّ عُقْدَةِ الْإِصْرَارِ . و ج ۴ ص ۱۴۴ كتاب الخوف والرجاء بيان فضيلة الرجاء والترغيب فيه. قوت القلوب في معاملة المحبوب ج۱ ص ۳۲۱ الفصل الثاني والثلاثون شرح مقامات اليقين وأحوال الموقنين ذكر فروض التوبة وشرح فضائلها ووصف التوابين .

(۱) قال الشيخ ابن عثيمين : قد حدثني شيخنا المثابر عبد الرحمن السعدي رحمه الله أنه ذكر عن الكسائي إمام أهل الكوفة في النحو أنه طلب النحو فلم يتمكن، وفي يوم من الأيام وجد نملة تحمل طعامًا لها وتصعد به إلى الجدار وكلما صعدت سقطت، ولكنها ثابرت حتى تخلصت من هذه العقبة ←←←←

# په الله ﷻ باندې د ښه ګمان سره سره نېک اعمال کول او ځان د ګناهونو نه ساتل هم ضروري دي

۱. په دې باندې ځان پوهه کړئ چې په الله ﷻ باندې ښه ګمان سره سره دا ضروري ده چې انسان به نېک اعمال هم کوي ، او ځان به د ګناهونو نه هم ساتي .

بعضې خلق نېک اعمال نه کوي او صرف په خُله باندې دا وايي چې :

" الله تعالى بخونکى او مهربان ذات دى ، زمونږ وړاندې ښه ګمان دى مغفرت به راته کوي "

نو داسې کس په دُهوکه کې پروت دى . ددې خو داسې مثال دى لکه يو کس په زمکه کې تخم نه وي کرلى او بيا ورنه طمع د فصل کوي نو داسې کس په دُهوکه کې پروت دى .

همدغه شان بعضې خلق شپه او ورځ په ګناهونو کې اَخته وي نو دا بيا څنګه د الله ﷻ نه ښه ګمان ساتي ؟ (۱)

۲ . د "رَجاء" حقيقت : رَجا ( يعنى د الله ﷻ نه ښه اُميد ) په حقيقت کې همدېته وايي چې انسان به نېک اعمال هم کوي ، د ګناهونو نه به هم ځان هم ساتي او ددې سره سره

---

←←← وصعدت الجدار، فقال الكسائي: هذه النملة ثابرت حتى وصلت الغاية . فثابر حتى صار إماماً في النحو. فينبغي أن نثابر ولا نيأس فإن اليأس معناه سد باب الخير. وينبغي لنا ألا نتشاءم بل نتفاءل وأن نعد أنفسنا خيراً . كتاب العلم لابن عثيمين ۲۶/ ۱۲۱ بتصرف يسير . موسوعة الأخلاق الإسلامية ج۳ ص۴۷ اليأس والقنوط .

(۱) .... فَلَا يَنْبَغِي أَنْ تَظُنَّ مَا يَظُنُّهُ الْعَامَّةُ مِنْ أَنَّ حُسْنَ الظَّنِّ هُوَ أَنْ تَتْرُكَ الْعَمَلَ وَتَعْتَمِدَ عَلَى اللهِ وَتَقُولَ: إِنَّهُ كَرِيمٌ غَفُورٌ رَحِيمٌ .... وَأَمَّا مَنْ يَتْرُكُ الْعِبَادَةَ وَيَدَّعِي حُسْنَ الظَّنِّ بِالْمَعْبُودِ، فَهُوَ مَغْرُورٌ وَمَخْدُوعٌ وَمَرْدُودٌ، وَمَثَّلَهُمَا الْغَزَالِيُّ بِمَنْ زَرَعَ وَمَنْ لَمْ يَزْرَعْ رَاجِيَيْنِ الْحَصَادَ. وَلَا شَكَّ أَنَّ الثَّانِيَ ظَاهِرُ الْفَسَادِ وَاللهُ رَءُوفٌ بِالْعِبَادِ. مرقاة المفاتيح ج ۸ ص ۳۱۵۹ كتاب الآداب بَابُ مَا يُنْهَى عَنْهُ مِنَ التَّهَاجُرِ وَالتَّقَاطُعِ وَاتِّبَاعِ العورات الفصل الثاني في تشريح حديث ۵۰۲۷ .

به د الله ﷻ نه د مغفرت اُميد هم ساتي .

**د يو مثال په ذريعه وضاحت** : امام غزالي رَحِمَهُ اللهُ د يو مثال په ذريعه دا خبره واضحه کړی چې : که يو کس بهترين تُخم په نرمه زمکه کې اُوکرِي ، بيا وخت په وخت ديته اُوبه هم ورکوي ، د آزغو او گياه نه يې هم صفا کوي ، ددينه پس اوس د الله تعالى نه دا طمع ساتي چې ددينه به بهترين فصل پيدا شي نو ديته د الله ﷻ نه رَجا او ښه اُميد وايي .

همدغه شان که انسان په زړه کې د اِيمان تخم اُوکري ، بيا زړه د بدو اخلاقو او خرابو صفاتو نه ساتي ، وخت په وخت يې د عبادت په اُوبو سره اُوبه کوي او تر مرگه پورې د خپل اِيمان د حفاظت کوشش کوي او بيا د الله تعالى نه د مغفرت او بَخنې اُميد هم ساتي نو ديته رَجا او ښه اُميد وايي .

ليکن که يو کس خراب تُخم اُوکري ، يا تخم ښه وي خو په خرابه زمکه کې يې واچوي ، يا وخت په وخت اُوبه نه ورکوي ، او يا يې د آزغو نه نه ساتي نو که داسې کس د بهترين فصل پيدا کيدو طمع ساتي نو دا کم عقل دی .

همدغه شان که د انسان په زړه کې قوي اِيمان نه وي ، يا زړه د خرابو صفاتو نه نه ساتي يا عبادت نه کوي ، بلکه مسلسل گناهونه کوي ، اوس که داسې کس د الله تعالى نه د مغفرت او بَخنې اُميد ساتي نو دا بې وقوفي ده .

۳ . يحيىٰ بن معاذ رَحِمَهُ اللهُ فرمايي : ددينه غټ حماقت بل نشته چې انسان د دُوزَخ تخم اُوکري او بيا د جنت اُميد ساتي . يا د نېکانو خلق مقام طلب کوي ليکن کارونه د گناهگارانو کوي . (۱)

٤ . يو شاعر وايي :

تَرْجُو النَّجَاةَ وَلَمْ تَسْلُكْ مَسَالِكَهَا ✿ إِنَّ السَّفِينَةَ لَا تَجْرِي عَلَى الْيَبَسِ . (۲)

---

(۱) کيمياى سعادت الخوف والرجاء .

(۲) شعب الايمان الرجاء من الله تعالى ج۲ ص ۳۲۹ . منبهات ابن حجر عسقلاني باب السداسي .

ته د نجات امید لري خو د نجات په لاره نه ځي ( نیک اعمال نه کوي ) . بیشکه کشتۍ خو په اُوچه زمکه نه ځي .

لهذا انسان به ټول عبادات هم کوي ، د ګناهونو نه به هم ځان ساتي ، خو ددې سره سره به د الله تعالی نه ښه اُمید هم لري نو بیا داسې کس کامیاب دی .

٥. لقمان حکیم صاحب خپل ځوي ته نصیحت کولو ، نو ورته وې فرمایل :

يَا بُنَيَّ ارْجُ اللهَ رَجَاءً لَا يُجَرِّئُكَ عَلَى مَعْصِيَتِهِ ، وَخَفِ اللهَ خَوْفًا لَا يُؤْيِسُكَ مِنْ رَحْمَتِهِ . (١)

اې بچیه ! د الله تعالی نه ښه اُمید ساته خو دا اُمید دې تا د هغه په نافرمانۍ کولو باندې زړه وَر نکړي ، او د الله تعالی نه ویرېږه خو دا ویره دې تا د هغه د رحمت نه نااُمیده نکړي .

٦. په الله ﷻ باندې د ښه ګمان سره سره د الله ﷻ د عذاب نه ویرېدل هم ضروري دي چې په دې سره به د ګناهونو نه محفوظ وي .

سلیمان داراني رَحِمَهُ اللهُ فرمایي :

مَنْ حَسُنَ ظَنُّهُ بِاللهِ عَزَّ وَجَلَّ ثُمَّ لَا يَخَافُ اللهَ فَهُوَ مَخْدُوعٌ .

څوک چې په الله تعالی باندې ښه ګمان کوي خو بیا د الله ﷻ ( د عذاب نه ) نه ویرېږي نو دا سړې په دُهوکه کې پروت دی . (٢)

---

(١) عَنْ وَهْبِ بْنِ مُنَبِّهٍ ، قَالَ: قَالَ لُقْمَانُ لِابْنِهِ: يَا بُنَيَّ ... شعب الايمان الرجاء من الله تعالى رقم الحديث ١٠١٢ .

وفي رواية : قَالَ لُقْمَانُ لِابْنِهِ: يَا بُنَيَّ ! خَفِ اللهَ خَوْفًا يَحُولُ بَيْنَكَ وَبَيْنَ الرَّجَاءِ ، وَارْجُهُ رَجَاءً يَحُولُ بَيْنَكَ وَبَيْنَ الْخَوْفِ . قَالَ : فَقَالَ: أَيْ أَبَهْ ، إِنَّمَا لِي قَلْبٌ وَاحِدٌ إِذَا أَلْزَمْتُهُ الْخَوْفَ شَغَلَهُ عَنِ الرَّجَاءِ ، وَإِذَا أَلْزَمْتُهُ الرَّجَاءَ شَغَلَهُ عَنِ الْخَوْفِ . قَالَ: أَيْ بُنَيَّ ! إِنَّ الْمُؤْمِنَ لَهُ قَلْبٌ كَقَلْبَيْنِ يَرْجُو اللهَ عَزَّ وَجَلَّ بِأَحَدِهِمَا وَيَخَافُهُ بِالْآخَرِ .
حسن الظن بالله لابن ابي الدنيا ص ١١٥ رقم ١٣٣ .

(٢) حسن الظن بالله لابن ابي الدنيا ص ٢٠ .

عَنْ قَتَادَةَ رَحِمَهُ اللهُ ، قَالَ: ذُكِرَ لَنَا : أَنَّ نَبِيَّ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ: « لَوْ يَعْلَمُ الْعَبْدُ قَدْرَ عَفْوِ اللهِ مَا تَوَرَّعَ مِنْ حَرَامٍ ، وَلَوْ يَعْلَمُ قَدْرَ عُقُوبَتِهِ لَبَخَعَ نَفْسَهُ » . حسن الظن بالله لابن ابي الدنيا ص ٧٥ رقم الحديث ٦٥ .

Scanned with CamScanner

# د الله ﷻ نه ښه اُمید د چا په حق کې ډیر مفید دی؟

په دې خبره ځان پوهه کړئ چې د الله ﷻ نه ښه اُمید لرل د دوه (۲) کسانو په حق کې ډیر مفید دی:

اول هغه کس چې هغه د خپلو ګناهونو په وجه دومره مایوسه شوې وي چې عبادت یې هم پریخې وی.

او دویم هغه کس چې په هغه باندې د الله تعالی یَره دومره غالبه شوې وي چې مسلسل دومره د مشقت واله عبادات کوي چې خپل ځان یا خپل کور واله ؤ ته هم ضرر رسوي.

دا دواړه قِسمه خلق په اِعتدال (میانه رَوی) باندې ندي. لهذا دوی دواړو ته د الله ﷻ نه ښه اُمید لرل په کار دي ددې د پاره چې مایوسي یې هم ختمه شي، او د مَسلسل عبادت په وجه ځان او بچو ته نقصان هم اُو نه رسوي.

البته کوم کس چې په ګناهونو کې آخته وي او هیڅ عبادت نه کوي بلکه صرف او صرف د الله ﷻ نه ښه اُمید ساتي (یعنی دا وایي چې: " الله غفور رحیم دی جنت به را کوي" او نور هیڅ اعمال نه کوي) نو دداسې کس د پاره داسې اُمید ساتل بیا زهرِ قاتِل دی.

ځکه ګناهګار په دې نور هم زړه وَر کیږي او په نورو ګناهونو کې هم آخته کیږي.

**مُقرِر به د موقعې مناسب بیان کوي**: مقرِر او واعِظ له هم په کار دي چې د موقعې لحاظ اُوساتي، که چیرته خلق په ګناهونو کې آخته وي نو بیا دې د الله ﷻ نه د ویریدو متعلق بیان کوي، او که چیرته خلق د الله ﷻ نه مایوسه شوي وي نو بیا دې د الله ﷻ نه د ښه اُمید متعلق بیان کوي؛ ځکه شریعت اِعتدال غواړي، اِفراط او تفریط نه خوښوي.

حضرت علي ﷺ فرمایي چې (هوښیار) عالِم هغه دی چې خلق د الله تعالی د رحمت نه نا اُمیده کوي او د الله ﷻ د عذاب نه یې هم نه غافِله کوي.(۱)

---

(۱) بیان دواء الرجاء والسبیل الذي یحصل منه حال الرجاء ویغلب: اعلم أن هذا الدواء یحتاج إلیه أحد رجلین إما رجل غلب علیه الیأس فترك العبادة وإما رجل غلب علیه الخوف فأسرف في المواظبة علی العبادة حتی أضر بنفسه وأهله وهذان رجلان مائلان عن الاعتدال إلی طرفي الإفراط والتفریط فیحتاجان ←←←

Scanned with CamScanner

## د خلقو سره په رُوڼ تندي او خوشحالئ حالت کې ملاویدل ، او ځان له په خپلو ګناهونو ژړل .

انسان چې کله د نورو خلقو سره ملاویږي یا ورسره اجتماعي ژوند تیروي نو په کار ده چې په رُوڼ تَندي ، او تَبسّم حالت کې ورسره ملاو شي .

خو چې کله ځان له وي نو بیا په کار ده چې په خپلو ګناهونو باندې اُوژاړي او د الله ﷻ د وړاندې خپل عِجز ښکاره کړي .

**د حضرت یحیٰی ؑ او حضرت عیسٰی ؑ د یو بل سره خبرې :** مولانا اشرف علي تهانوي رَحِمَهُ اللهُ په خپلو مواعظو کې دا واقعه رانقل کړې :

چې حضرت یحیٰی علیه السلام او حضرت عیسٰی علیه السلام دواړه په خپل مینځ کې د ترور ځامن وو ، خو د دواړو شان جدا جدا ؤ .

په حضرت یحیٰی علیه السلام باندې د الله تعالی یَره دومره غالبه وه چې هر وخت به یې ژړل ، او حضرت عیسی علیه السلام به هر وخت خوشحاله او تبسّم حالت کې ؤ .

---

←←←← إلى علاج يردهما إلى الاعتدال، فأما العاصي المغرور المتمني على الله مع الإعراض عن العبادة واقتحام المعاصي فأدوية الرجاء تنقلب سمومًا مهلكة في حقه وتنزل منزلة العسل الذي هو شفاء لمن غلب عليه البرد وهو سم مهلك لمن غلب عليه الحرارة بل المغرور لا يستعمل في حقه إلا أدوية الخوف والأسباب المهيجة له . فلهذا يجب أن يكون واعظ الخلق متلطفاً ناظراً إلى مواقع العلل معالجاً لكل علة بما يضادها لا بما يزيد فيها فإن المطلوب هو العدل والقصد في الصفات والأخلاق كلها وخير الأمور أوساطها فإذا جاوز الوسط إلى أحد الطرفين عولج بما يرده إلى الوسط لا بما يزيد في ميله عن الوسط وهذا الزمان زمان لا ينبغي أن يستعمل فيه مع الخلق أسباب الرجاء بل المبالغة في التخويف أيضاً تكاد أن لا تردهم إلى جادة الحق وسنن الصواب فأما ذكر أسباب الرجاء فيهلكهم ويرديهم بالكلية ولكنها لما كانت أخف على القلوب وألذ عند النفوس ولم يكن غرض الوعاظ إلا استمالة القلوب واستنطاق الخلق بالثناء كيفما كانوا مالوا إلى الرجاء حتى ازداد الفساد فسادًا وازداد المنهمكون في طغيانهم تماديًا . قال علي كرم الله وجهه إنما العالم الذي لا يقنط الناس من رحمة الله تعالى ولا يؤمنهم من مكر الله . احياء علوم الدين ج ۴ ص ۱۴۶ كتاب الخوف والرجاء .

دواړه بَرحق پیغمبران وو ، د دواړو حال په خپل خپل ځای باندې صحیح ؤ .

یو ځل حضرت عیسیٰ علیه السلام حضرت یحییٰ علیه السلام ته وویل : ته د الله ﷻ نه دومره ولې یریږې ؟ الله تعالی خو رحمان او رحیم هم دی ، تاسو خو په ډیرې ژړا سره خپل آئنګې هم خراب کړي دي .

حضرت یحییٰ علیه السلام ورته وویل : زه تاسو ګورم هر وخت د تبسّم او خوشحالۍ حالت کې یې ، تاسو ته د الله ﷻ نه ویره هم په کار ده .

الله تعالی د دوی په مینځ کې د فیصلې د پاره یوه فرښته رااُولیږله . فرښتې دواړو ته وویل :

الله تعالی زه تاسو دواړو ته رااُولیږلم او راته وې فرمایل چې د حضرت یحییٰ علیه السلام حالت هم صحیح دی ، او د حضرت عیسیٰ علیه السلام حالت هم صحیح دی ؛ ځکه د الله ﷻ د ویرې نه ژړل هم صحیح دي ، او د الله ﷻ د رحمت په وجه تبسّم کول (او خوشحالیدل) هم صحیح دي ، خو د حضرت یحییٰ علیه السلام چې کوم حالت دی دا په ځان له حالت کې په کار دی ، او د حضرت عیسی علیه السلام چې کوم حالت دی نو دا د خلقو د وړاندې په کار دی .

یعنی چې سړې ځانله ناست وي نو بیا د الله ﷻ د ویرې نه ژړل په کار دي ، او چې د خلقو سره وي نو بیا په رُونړ تَندي او خوشحالۍ حالت کې د هغوی سره ژوند تیرول په کار دي.(۱)

(۱) مواعظ تهانوي.

# ناأميدي او دهٔدې أقسام

د الله ﷻ نه ناأميده كيدلو ته په عربي كې "يَأْس" او "قُنُوط" وايي.(۱)

د الله ﷻ نه ناأميدي په دوه قِسمه ده: يو قِسم هغه ده چې په هغې كې د الله تعالى نه د ښهٔ أميد طمع مكمل ختمه شي، نو دا ډيره خطرناكه ده، او دا اكثر د اسلام نه د وتلو سبب گرځي.

---

(۱) **معنى الياس لغة** : آليَأس : القُنوط. وَقِيْلَ: اليَأس نَقِيْضُ الرَّجَاءِ أو قطع الأمل. يَئِسَ مِنَ الشَّيْءِ يَيْأَسُ ويَيْئِسُ، وَالمَصْدَرُ اليَأْسُ واليَآسَةُ واليَأْسُ. وَقَدِ استَيْأَسَ وأَيْأَسْته وإنه لَيَائِسٌ ويَئِسَ ويَؤُوس ويَؤُس، والجمع يُؤُوس. لسان العرب لابن منظور ج٦ ص ٢٥٩ فصل الياء. القاموس المحيط للفيروز آبادي ١/ ٥٨٢. جمهرة اللغة لأبي بكر الأزدي ج ١ ص ٢٣٨.

**معنى اليأس اصطلاحًا** : قال العسكري: اليأس: انقطاع الطمع من الشيء. معجم الفروق اللغوية للعسكري ١/ ٣٣٦.

وقال ابن الجوزي: اليَأس: القطع على أن المَطْلُوب لَا يَتَحَصَّل لتحقيق فَوَاته. نزهة الأعين النواظر في علم الوجوه والنظائر لابن الجوزي ١/ ٦٣٣ كتاب اليَاء بَاب اليَأْس.

**معنى القنوط لغة**: قال ابن منظور: آلقُنُوط: اليأس. وَفِي التَّهْذِيبِ: اليأس مِنَ الخَيْرِ. وَقِيلَ: أَشد اليأس مِنَ الشَّيْءِ. والقُنوط. بِالضَّمِّ. المَصْدَرُ. وقَنَط يَقْنِطُ ويَقْنُطُ قُنُوطًا مِثْلَ جلَسَ يجلِس جُلوسًا. وقَنِطَ قَنَطًا وَهُوَ قَانِطٌ: يَئِسَ، وَقَالَ ابْنُ جِنِّي: قَنَط يَقْنَطُ كأَبَى يَأْبَى، وَالصَّحِيحُ مَا بدأْنا بِهِ. وَفِيهِ لُغَةٌ ثَالِثَةٌ قَنِطَ يَقْنَطُ قَنَطًا. مِثْلَ تعِب يَتْعَب تَعَبًا. وقَناطة. فَهُوَ قَنِطٌ، وقُرِئَ: وَلَا تَكُنْ مِنَ القَنِطِين. لسان العرب لابن منظور ٧/ ٣٨٦ فصل القاف.

**معنى القنوط اصطلاحًا**: قال المناوي: القنوط: اليأس من الرحمة. التوقيف على مهمات التعاريف للمناوي ص ٢٧٥.

وقال الشوكاني: القنوط: الإياس من الرحمة. فتح القدير الشوكاني ٣/ ٢٦٠.

وقال صاحب "اللباب في علوم الكتاب": القنوط: شدة اليأس من الخير. اللباب في علوم الكتاب ابن عادل ج ١١ ص ٣٧١، الوسيط في تفسير القرآن المجيد الواحدي ٣/ ٣٧. موسوعة الأخلاق الإسلامية ج ٣ ص ٣٢ اليأس والقنوط.

Scanned with CamScanner

دویم قِسم هغه دی چې یو مسلمان د ډیرو ګناهونو کولو په وجه ناامیده شي ، دا قِسم ناامیدي ګناه کبیره ده . (۱)

## د الله ﷻ نه ناامیده کېدل ګناهِ کبیره او حرام دي

انسان به د الله تعالی د رحمت نه نه ناامیده کېږي ؛ ځکه د الله تعالی نه ناامیده کېدل ګناهِ کبیره او حرام دي . (۲)

**۱.** حضرت عبدالله بن مسعود رضي الله عنه " د الله ﷻ د رحمت نه ناامیده کېدلو " ته غټه ګناهِ کبیره ویلی . (۳)

---

(۱) **أقسام اليأس من رحمة الله :** ١. اليأس التام: وهذا يخرج من الإسلام إذا لم يوجد الرجاء معه تماما. ٢. يأس ناقص: وهو يأس عصاة المسلمين بسبب كثرة المعاصي وهذا لا يخرج من الملة ولكنه من كبائر الذنوب. تيسير الكريم الرحمن في تفسير كلام المنان للسعدي ١/ ٦٢٩ . شرح العقيدة الطحاوية لخالد المصلح ٦/١٣ . فتح الباري شرح صحيح البخاري لابن حجر ٣٨٦/١٣ .

(۲) حكم اليأس والقنوط: أجمع العلماء على تحريم اليأس والقنوط. ومن اليأس والقنوط ما يخرج من الملة وهو ما انعدم معه الرجاء. ومنه ما لا يخرج من الملة وإنما هو من الكبائر.

وهما عمومًا من أكبر الكبائر بل أشد تحريمًا من الكبائر الظاهرة كالزنا وجعلهما القرطبي في الكبائر بعد الشرك من حيث الترتيب . موسوعة الأخلاق الإسلامية ج ٣ ص ٣٧ اليأس والقنوط . والطريقة: الجامع لأحكام القرآن القرطبي ٥/ ١٦٠ ، إحسان الظن بالله والتحذير من اليأس والقنوط فهد بن سليمان الفهيد ١/ ١١-١١٣ ، الزواجر عن اقتراف الكبائر ابن حجر الهيتمي ١/ ١٣٩ ، مدارج السالكين بين منازل إياك نعبد وإياك نستعين ابن قيم الجوزية ١/ ١٣٣ .

قال العدوي رحمه الله: فَمَنْ يَقْنَطُ مِنْ بَابِ كَرَبٍ وَلَعِبٍ فَهُوَ قَانِطٌ. قَالَهُ فِي الْمِصْبَاحِ. وَالْمُرَادُ بِالْقُنُوطِ النَّاشِئَةِ الْعَظْمِ عَنِ الذُّنُوبِ لِاسْتِعْظَامِهَا لَا إِنْكَارٌ سَعَةِ رَحْمَةِ اللَّهِ ، لِأَنَّهُ كُفْرٌ..... لَا يَخْفَى أَنَّ الْإِيَاسَ مِنَ الْكَبَائِرِ . حاشية العدوي على شرح كفاية الطالب الرباني ج ٢ ص ٣٣١ بَابٌ فِي بَيَانِ الْكَرَائِضِ.

(۳) قَالَ عَبْدُ اللَّهِ بْنُ مَسْعُودٍ رضي الله عنه : أَكْبَرُ الْكَبَائِرِ: الْإِشْرَاكُ بِاللَّهِ ، وَالْإِيَاسُ مِنْ رَوْحِ اللَّهِ ، وَالْقُنُوطُ مِنْ رَحْمَةِ اللَّهِ ، وَالْأَمْنُ مِنْ مَكْرِ اللَّهِ .

Scanned with CamScanner

۲. علامه ابن حجر رَحِمَهُ اللَّهُ د الله تعالى د رحمت نه نا اُميده كيدل مستقل ګناهِ كبيره شمار كړې. هغه فرمايي:

اَلْكَبِيْرَةُ الْأَرْبَعُوْنَ " اَلْيَأْسُ مِنْ رَحْمَةِ اللهِ "

څلويښتمه ګناهِ كبيره " د الله تعالى رحمت نه نا اُميده كيدل " دي.

بيا علامه ابن حجر رَحِمَهُ اللَّهُ ددې په باره كې ډير آيتونه او احاديث ذكر كړي. (۱)

۳. امام بغوي رَحِمَهُ اللَّهُ ذكر كړي:

وَالْقُنُوْطُ مِنْ رَحْمَةِ اللهِ كَبِيْرَةٌ كَالْأَمْنِ مِنْ مَكْرِهِ. (۲)

د الله تعالى د رحمت نه نااُميده كيدل داسې كبيره ګناه ده لكه څرنګې چې د الله ﷻ د عذاب نه بې فِكره كيدل ګناه كبيره ده.

٤. علامه عدوي رحمه الله هم ديته ګناه كبيره ويلى. (۳)

---

←←← وفي رواية: عَنْ عَبْدِ اللهِ ابْنِ مَسْعُوْدٍ رضي الله عنه، قَالَ: اَلْكَبَائِرُ أَرْبَعٌ: اَلْإِشْرَاكُ بِاللهِ، وَالْأَمْنُ مِنْ مَكْرِ اللهِ، وَالْإِيَاسُ مِنْ رَوْحِ اللهِ، وَالْقُنُوْطُ مِنْ رَحْمَةِ اللهِ.

وفي رواية: عَنِ ابْنِ مَسْعُوْدٍ رضي الله عنه قَالَ: اَلْكَبَائِرُ أَرْبَعٌ: اَلْإِشْرَاكُ بِاللهِ، وَقَتْلُ النَّفْسِ الَّتِيْ حَرَّمَ اللهُ، وَالْأَمْنُ لِمَكْرِ اللهِ، وَالْإِيَاسُ مِنْ رَوْحِ اللهِ. تفسير الطبري (جامع البيان عن تأويل آي القرآن) ج ٦ ص ٦٣٩ سورة النساء في تفسير آية ٣١.

(۱) اَلْكَبِيْرَةُ الْأَرْبَعُوْنَ: اَلْيَأْسُ مِنْ رَحْمَةِ اللهِ. قَالَ تَعَالَى: {إِنَّهُ لَا يَيْأَسُ مِنْ رَوْحِ اللهِ إِلَّا الْقَوْمُ الْكَافِرُوْنَ} ....... تَنْبِيهٌ: عَدُّ هَذَا كَبِيْرَةً هُوَ مَا أَطْبَقُوْا عَلَيْهِ وَهُوَ ظَاهِرٌ، لِمَا فِيْهِ مِنَ الْوَعِيْدِ الشَّدِيْدِ الَّذِيْ عَلِمْته مِمَّا ذُكِرَ. بَلْ فِي الْحَدِيْثِ الَّذِيْ مَرَّ آنِفًا التَّصْرِيْحُ بِأَنَّهُ مِنَ الْكَبَائِرِ، بَلْ جَاءَ عَنِ ابْنِ مَسْعُوْدٍ رضي الله عنه: أَنَّهُ أَكْبَرُ الْكَبَائِرِ. الزواجر عن اقتراف الكبائر لابن حجر ص ١٢٨.

(۲) تفسير البغوي (معالم التنزيل في تفسير القرآن) ج ٣ ص ٦١ سورة الحجر في تفسير آية ٥٦. اللباب في علوم الكتاب ابن عادل ١١/ ٤٧١.

(۳) قَالَ الْعَدَوِيُّ رَحِمَهُ اللَّهُ: لَا يَخْفَى أَنَّ الْإِيَاسَ مِنَ الْكَبَائِرِ. حاشية العدوي على شرح كفاية الطالب الرباني ج٢ ص ٣٢١ بَابٌ فِي عِلْمِ الْفَرَائِضِ.

Scanned with CamScanner

۵ . امام طحاوي رحمه الله هم دیته خطرناکه ګناه ویلی . (۱)

۶ . په قرآن کریم کې ذکر دي :

﴿ إِنَّهُ لَا يَاْيْـَٔسُ مِن رَّوْحِ اللَّهِ إِلَّا الْقَوْمُ الْكَٰفِرُونَ ﴾ . (۲)

ترجمه : بیشکه د الله د رحمت نه نه ناأمیده کیږي مګر صرف کافران قوم ( د الله ﷻ د حمت نه ناامیده کیږي ) .

۷ . الله تعالی د ابراهیم علیه السلام قول را نقل کړی ، چې هغه او فرمایل :

﴿ وَمَن يَقْنَطُ مِن رَّحْمَةِ رَبِّهِۦٓ إِلَّا الضَّآلُّونَ ﴾ . (۳)

ترجمه : او د خپل رب د رحمت نه بغیر د ګمراهانو نه بل څوک ناأمیده کیږي ؟ (یعنی صرف ګمراهان خلق د الله تعالی د رحمت نه ناأمیده کیږي ) .

۸ . الله تعالی فرمايي :

﴿ لَا تَقْنَطُوا مِن رَّحْمَةِ اللَّهِ ﴾ . (۴)

ترجمه : تاسو د الله تعالی د رحمت نه مه ناأمیده کیږئ .

۹ . د حضرت عبدالله بن مسعود ﷺ فرمايي :

اَلْهَلَاكُ فِي اثْنَتَيْنِ : اَلْقُنُوطِ وَالْعُجْبِ .

---

(۱) امام طحاوي رَحِمَهُ اللهُ فرمايي : والأمن والإياس ينقلان عن ملة الإسلام . وسبيل الحق بينهما لأهل القبلة . العقيدة الطحاوية الأمن والإياس ۱/ ٦۱ تخريج الألباني .

(۲) يوسف آية ۸۷ .

(۳) الحجر آية ٥٦ .

(۴) پوره آيت داسې دی ، ﴿ قُلْ يَٰعِبَادِيَ الَّذِينَ أَسْرَفُوا عَلَىٰٓ أَنفُسِهِمْ لَا تَقْنَطُوا مِن رَّحْمَةِ اللَّهِ إِنَّ اللَّهَ يَغْفِرُ الذُّنُوبَ جَمِيعًا إِنَّهُۥ هُوَ الْغَفُورُ الرَّحِيمُ ﴾ الزمر آية ٥۳ .

Scanned with CamScanner

جلد 3 21

هلاکت په دوه شیانو کې دی: یو د الله ﷻ د رحمت نه ناامیده کیدل، او دویم خپل ځان ته غاوره کیدل (چې ګني زه په ټولو خلقو کې افضل یم). (۱)

## د الله ﷻ د رحمت نه ناامیده کیدل د کامل مؤمنانو صفت ندی

الله تعالی د اکثره خلقو طبیعت دا بیان کړی چې په دوی باندې څه نعمت اوشي نو دوی د تکبّر خوشحالي کوي، او که څه تکلیف ورته اُورسیږي نود الله ﷻ د رحمت نه نا اُمیده کیږي. (۲)

حالانکه د الله ﷻ د رحمت نه نااُمیده کیدل د کامِل مؤمنانو صفت ندی؛ ځکه کامل مؤمن د نعمت په ملاویدو سره شکریه اداء کوي، او د سختئ په وجه (صبر کوي او) د الله ﷻ نه ښه اُمید لري. (۳)

الله تعالی فرمايي:

---

(۱) قَالَ ابْنُ مَسْعُودٍ ﷺ: اَلْهَلَاكُ فِي اثْنَتَيْنِ، الْقُنُوطِ وَالْعُجْبِ: أَيْ لِأَنَّ الْقَانِطَ آيِسٌ مِنْ نَفْعِ الْأَعْمَالِ وَمِنْ لَازِمِ ذَلِكَ تَرْكُهَا. وَالْمُعْجَبُ يَرَى أَنَّهُ سَعِدَ وَظَفِرَ بِمُرَادِهِ فَلَا يَحْتَاجُ لِعَمَلٍ، وَمِنْ ثَمَّ قَالَ تَعَالَى: {فَلَا تُزَكُّوا أَنْفُسَكُمْ هُوَ أَعْلَمُ بِمَنِ اتَّقَى} [النجم آية ۳۲] وَمِنْ تَزْكِيَةِ النَّفْسِ اعْتِقَادُ أَنَّهَا بَارَّةٌ وَهُوَ مَعْنَى الْعُجْبِ. الزواجر عن اقتراف الكبائر لابن حجر ص ۱۲۱ اَلْكَبِيرَةُ الرَّابِعَةُ الْكِبْرُ وَالْعُجْبُ وَالْخُيَلَاءُ.

(۲) {وَإِذَا أَذَقْنَا النَّاسَ رَحْمَةً فَرِحُوا بِهَا} يخبر تعالى عن طبيعة أكثر الناس في حالي الرخاء والشدة أنهم إذا أذاقهم الله منه رحمة من صحة وغنى ونصر ونحو ذلك فرحوا بذلك فرح بطر، لا فرح شكر وتبجح بنعمة الله. {وَإِنْ تُصِبْهُمْ سَيِّئَةٌ} أي: حال تسوؤهم وذلك {بِمَا قَدَّمَتْ أَيْدِيهِمْ} من المعاصي. {إِذَا هُمْ يَقْنَطُونَ} ييأسون من زوال ذلك الفقر والمرض ونحوه. وهذا جهل منهم وعدم معرفة. تفسير الكريم الرحمن في تفسير كلام المنان (تفسير السعدي) ج۱ ص ۶۴۲ سورة الروم في تفسير آية ۳۶.

(۳) {إِذَا هُمْ يَقْنَطُونَ} يَيْأَسُونَ مِنْ رَحْمَةِ اللهِ، وَهَذَا خِلَافُ وَصْفِ الْمُؤْمِنِ فَإِنَّهُ يَشْكُرُ اللهَ عِنْدَ النِّعْمَةِ وَيَرْجُو رَبَّهُ عِنْدَ الشِّدَّةِ. تفسير البغوي (معالم التنزيل في تفسير القرآن) ج۳ ص ۵۷۹ سورة الروم في تفسير آية ۳۶. المحرر الوجيز في تفسير الكتاب العزيز ابن عطية ۳۳۸/۴.

{إِذَا هُمْ يَقْنَطُونَ} يَيْأَسُونَ مِنَ الرَّحْمَةِ وَمِنْ شَأْنِ الْمُؤْمِنِ أَنْ يَشْكُرَ عِنْدَ النِّعْمَةِ وَيَرْجُو رَبَّهُ عِنْدَ الشِّدَّةِ. تفسير الجلالين سورة الروم في تفسير آية ۳۶.

Scanned with CamScanner

﴿ وَإِذَآ أَذَقْنَا ٱلنَّاسَ رَحْمَةً فَرِحُوا۟ بِهَا ۖ وَإِن تُصِبْهُمْ سَيِّئَةٌۢ بِمَا قَدَّمَتْ أَيْدِيهِمْ إِذَا هُمْ يَقْنَطُونَ ﴾. (۱)

ترجمه : او كله چې مونږ خلقو ته څه رحمت اُوڅکو (یعنی نعمت ورياندې اوكړو) نو دوى ورياندې د تكبّر خوشحالي كوي (او شكريه نه اداء كوي)، او كه چيرته دوى ته د هغه اعمالو په وجه كوم چې د دوى لاسونو وراندې ليږلي (يعنى د خپلو بدو اعمالو په وجه) ورته څه بدي (او مصيبت) اُورسيږي نو ناگهانه دوى نااُميده كيږي (او صبر نه كوي).

## د الله تعالى د رحمت نه د نااُميدئ نقصانات

د الله تعالى د رحمت نه د نااُميدئ ډير نقصانات دي، يو څو په كې دادي :
نااُميدي د كافرانو صفت دى، د مؤمنانو صفت ندى. (۲)
په نااُميدئ سره د الله او رسول تكذيب راځي. (۳)

---

(۱) الروم آية ۳٦.

(۲) اليأس والقنوط من صفات الكافر: قال تعالى: ﴿ وَمَن يَقْنَطُ مِن رَّحْمَةِ رَبِّهِۦٓ إِلَّا ٱلضَّآلُّونَ ﴾ [الحجر: ٥٦].

وقال تعالى: ﴿ إِنَّهُۥ لَا يَا۟يْـَٔسُ مِن رَّوْحِ ٱللَّهِ إِلَّا ٱلْقَوْمُ ٱلْكَٰفِرُونَ ﴾ [يوسف آية ۸۷].

قال ابن عطية: اليأس من رحمة الله وتفريجه من صفة الكافرين. المحرر الوجيز في تفسير الكتاب العزيز لابن عطية ۳/ ۲۷۴. موسوعة الأخلاق الإسلامية ج۳ ص ۳۹ اليأس والقنوط آثار ومضار اليأس والقنوط.

اليأس والقنوط ليس من صفات المؤمنين: قال البغوي: { إِذَا هُمْ يَقْنَطُونَ } يَيْأَسُونَ مِنْ رَحْمَةِ اللهِ، وَهَذَا خِلَافُ وَصْفِ الْمُؤْمِنِ فَإِنَّهُ يَشْكُرُ اللهَ عِنْدَ النِّعْمَةِ وَيَرْجُو رَبَّهُ عِنْدَ الشِّدَّةِ. تفسير البغوي (معالم التنزيل في تفسير القرآن) ج۳ ص ٥۷۹ سورة الروم في تفسير آية ۳٦.

قال القاسمي: الجزع واليأس من الفرج عند مس شر قضي عليه. وكل ذلك مما ينافي عقد الإيمان. محاسن التأويل للقاسمي ٦/ ٤۹۹.

(۳) اليأس والقنوط فيه تكذيب لله ولرسوله : قال ابن عطية: اليأس من رحمة الله وتفريجه من صفة الكافرين. إذ فيه إما التكذيب بالربوبية، وإما الجهل بصفات الله تعالى. المحرر الوجيز في تفسير الكتاب العزيز لابن عطية ۳/ ۲۷۴. ←←←←

Scanned with CamScanner

ناأميدي په کُفر، هلاکت او گمراهی کې د واقع کیدو سبب دی. (۱)
په ناأمیدی سره په نېکو اعمالو کې سستي، او د الله تعالی د ذِکر نه غفلت راځي. (۲)
په ناأمیدی سره انسان همیشه په گناهونو کې أخته وي. (۳)

---

←←← قال القرطبي: اليأس من رحمة الله.. فيه تكذيب القرآن، إذ يقول وقوله الحق: وَرَحْمَتِي وَسِعَتْ كُلَّ شَيْءٍ وهو يقول: لا يغفر له، فقد حجر واسعاً.... الجامع لأحكام القرآن للقرطبي بتصرف يسير ٥/ ١٦٠.

اليأس فيه سوء أدب مع الله سبحانه وتعالى: قال سيد العفاني: الخوف الموقع في الإياس: إساءة أدب على رحمة الله التي سبقت غضبه وجهل بها. صلاح الأمة في علو الهمة لسيد العفاني ٥/ ٦٧٣.

(۱) سبب في الوقوع في الكفر والهلاك والضلال: قال القاسمي: ﴿وَإِذَا أَنْعَمْنَا عَلَى الْإِنسَانِ أَعْرَضَ وَنَأَىٰ بِجَانِبِهِ ۖ وَإِذَا مَسَّهُ الشَّرُّ كَانَ يَئُوسًا﴾ [الإسراء: ۸۳] إشارة إلى السبب في وقوع هؤلاء الضالين في أودية الضلال. وهو حب الدنيا وإيثارها على الأخرى، وكفران نعمه تعالى. بالإعراض عن شكرها، والجزع واليأس من الفرج عند مس شر قضي عليه. محاسن التأويل للقاسمي ٦/ ٤٩٩.

وَقَالَ مُحَمَّدُ بْنُ سِيرِينَ وَعَبِيدَةُ السَّلْمَانِيُّ في تفسير قوله تعالى: ﴿وَلَا تُلْقُوا بِأَيْدِيكُمْ إِلَى التَّهْلُكَةِ﴾ [البقرة آية ١٩٥]: الْإِلْقَاءُ إِلَى التَّهْلُكَةِ هُوَ الْقُنُوطُ مِنْ رَحْمَةِ اللَّهِ تَعَالَى. معالم التنزيل في تفسير القرآن للبغوي ١/ ٢٤٠ سورة البقرة في تفسير آية ١٩٥.

(۲) الفتور والكسل عن فعل الطاعات والغفلة عن ذكر الله: قال ابن حجر الهيتمي: الْقَانِطُ آيِسٌ مِنْ نَفْعِ الْأَعْمَالِ وَمِنْ لَازِمِ ذَلِكَ تَرْكُهَا. الزواجر عن اقتراف الكبائر لابن حجر الهيتمي ١/ ١٢٢

﴿وَإِذَا مَسَّهُ الشَّرُّ كَانَ يَئُوسًا﴾ أَيْ إِذَا مَسَّهُ فَقْرٌ أَوْ مَرَضٌ أَوْ نازلة من النوازل كان يؤوسا شديد اليأس من رحمة الله.... وَالْحَاصِلُ أَنَّهُ إِنْ فَازَ بِالنِّعْمَةِ وَالدَّوْلَةِ اغْتَرَّ بِهَا فَنَسِيَ ذِكْرَ اللَّهِ، وَإِنْ بَقِيَ فِي الْحِرْمَانِ عَنِ الدُّنْيَا اسْتَوْلَى عَلَيْهِ الْأَسَفُ وَالْحُزْنُ وَلَمْ يَتَفَرَّغْ لِذِكْرِ اللَّهِ تَعَالَى فَهَذَا الْمِسْكِينُ مَحْرُومٌ أَبَدًا عَنْ ذِكْرِ اللَّهِ. التفسير الكبير ج ٢١ ص ٣٩١ سورة الاسراء في تشريح آية ٨٣.

(۳) الاستمرار في الذنوب والمعاصي: قَالَ أَبُو قِلَابَةَ: الرَّجُلُ يُصِيبُ الذَّنْبَ فَيَقُولُ قَدْ هَلَكْتُ لَيْسَ لِي تَوْبَةٌ، فَيَيْأَسُ مِنْ رَحْمَةِ اللَّهِ وَيَنْهَمِكُ فِي الْمَعَاصِي، فَنَهَاهُمُ اللَّهُ تَعَالَى عَنْ ذَلِكَ، قَالَ اللَّهُ تَعَالَى: ﴿إِنَّهُ لَا يَيْأَسُ مِنْ رَوْحِ اللَّهِ إِلَّا الْقَوْمُ الْكَافِرُونَ﴾ [يوسف آية ٨٧]. معالم التنزيل في تفسير القرآن للبغوي ١/ ٢٤٠ سورة البقرة في تفسير آية ١٩٥.

Scanned with CamScanner

په ناأميدۍ سره انسان د الله تعالی د رحمت او مغفرت نه محرومه کيږي . (۱)
په ناأميدۍ سره د زړه اطمينان او سکون ختميږي ، او انسان هميشه په غم او خفگان کې مبتلاء وي . (۲)

## نور خلق د الله تعالی د رحمت نه نا أميده کول ندي په کار

۱. حضرت علي رضي الله عنه فرمايي : اَلْفَقِيهُ حَقُّ الْفَقِيهِ الَّذِي لَا يُقَنِّطُ النَّاسَ مِنْ رَحْمَةِ اللهِ ، وَلَا يُؤَمِّنُهُمْ مِنْ عَذَابِ اللهِ ، وَلَا يُرَخِّصُ لَهُمْ فِي مَعَاصِي اللهِ . (۳)

---

(۱) سبب في الحرمان من رحمة الله ومغفرته: قال المباركفوري: إن اعتقد أو ظن الإنسان أن الله لا يقبلها أعماله وأنها لا تنفعه فهذا هو اليأس من رحمة الله وهو من الكبائر ومن مات على ذلك وكل إلى ما ظن كما في بعض طرق حديث: (( أنا عند ظن عبدي بي فيظن بي عبدي ما شاء )) . رواه الطبراني في الكبير ۲۲/ ۸۸ . موسوعة الأخلاق الإسلامية ج۳ ص ۴۰ اليأس والقنوط آثار ومضار اليأس والقنوط .

(۲) قال ابن القيم رَحِمَهُ اللهُ وهو يعدد الكبائر: قَالْكَبَائِرُ : ... الْقُنُوطُ مِنْ رَحْمَةِ اللهِ، وَالْيَأْسُ مِنْ رَوْحِ اللهِ.... وَتَوَابِعُ هَذِهِ الْأُمُورِ الَّتِي هِيَ أَشَدُّ تَحْرِيمًا مِنَ الزِّنَا، وَشُرْبِ الْخَمْرِ وَغَيْرِهِمَا مِنَ الْكَبَائِرِ الظَّاهِرَةِ. وَلَا صَلَاحَ لِلْقَلْبِ وَلَا لِلْجَسَدِ إِلَّا بِاجْتِنَابِهَا، وَالتَّوْبَةِ مِنْهَا، وَإِلَّا فَهُوَ قَلْبٌ فَاسِدٌ، وَإِذَا فَسَدَ الْقَلْبُ فَسَدَ الْبَدَنُ. مدارج السالكين بين منازل إياك نعبد وإياك نستعين ج ۱ ص ۱۳۳ فَصْلٌ مَرَاتِبُ الْعُبُودِيَّةِ وَهِيَ خَمْسَ عَشْرَةَ مَرْتَبَةً عِبَادَةُ الْقَلْبِ.

ذهاب سكينة القلب والشعور الدائم بالحرمان والحزن والهم: قال عبد الله الجربوع: اليأس من روح الله والقنوط من رحمته؛ يؤدي إلى ترك العمل، إذ لا فائدة منه بزعمه، وهذه طامة من الطوام وكبيرة من كبائر الذنوب، تُخرج القلب عن سكينته وأنسه إلى انزعاجه وقلقه وهمه . أثر الإيمان في تحصين الأمة الإسلامية ضد الأفكار الهدامة لعبد الله الجربوع ۲/ ۴۸۰ بتصرف يسير.

قال الشوكاني: إذا مسه ـ الإنسان ـ الشر من مرض أو فقر كان يؤسا شديد اليأس من رحمة الله وإن فاز بالمطلوب الدنيوي، وظفر بالمقصود نسي المعبود، وإن فاته شيء من ذلك استولى عليه الأسف، وغلب عليه القنوط، وكلتا الخصلتين قبيحة مذمومة . فتح القدير الشوكاني ۳/ ۳۰۱ . غرائب القرآن ورغائب الفرقان للنيسابوري ۴/ ۳۸۰ . موسوعة الأخلاق الإسلامية ج۳ ص ۴۰ اليأس والقنوط آثار ومضار اليأس والقنوط.

(۳) سنن الدارمي بَابُ مَنْ قَالَ: الْعِلْمُ: الْخَشْيَةُ وَتَقْوَى اللهِ رقم الحديث ۳۰۶ ، ورقم الحديث ۳۰۵ . الزهد لأبي داؤد رقم الحديث ص ۱۱۵ رقم الحديث ۱۰۳ أَخْبَارُ عَلِيِّ بْنِ أَبِي طَالِبٍ رَضِيَ اللهُ عَنْهُ .

Scanned with CamScanner

پوره فقِيه (يعنى ډير هوښيار) هغه كس دى چې نور خلق د الله تعالى د رحمت نه نه نااُميده كوي ، او خلق د الله تعالى د عذاب نه نه بې فِكره كوي ، او خلقو ته د الله تعالى د نافرمانيو اجازت نه وركوي .

۲ . حضرت عبدالله بن مسعود رضي الله عنه په يو واعِظ باندې تيريدو چې هغه خلقو ته د جهنم تذكره (په داسې انداز باندې) كوله چې خلق يې د الله تعالى د رحمت نه نااُميده كول ، نو حضرت عبدالله بن مسعود رضي الله عنه ورته اوفرمايل :

يَا مُذَكِّرُ ! لِمَ تُقَنِّطُ النَّاسَ؟

اې نصيحت كونكيه ! ته ولې خلق د الله تعالى د رحمت نه نااُميده كوى ؟

بيا ابن مسعود رضي الله عنه دا آيت تلاوت كړو .

﴿ قُلْ يٰعِبَادِيَ الَّذِيْنَ اَسْرَفُوْا عَلٰٓى اَنْفُسِهِمْ لَا تَقْنَطُوْا مِنْ رَّحْمَةِ اللّٰهِ ۭ اِنَّ اللّٰهَ يَغْفِرُ الذُّنُوْبَ جَمِيْعًا ۭ اِنَّهٗ هُوَ الْغَفُوْرُ الرَّحِيْمُ ﴾ . (۱)

ترجمه : اې پيغمبره زما د طرف نه دې خلقو ته اووايه چې اې زما هغه بندګانو چاچې زياتې كړې په خپلو ځانونو باندې (يعنى كفر ،شرک او كبيره ګناهونه يې كړي) تاسو د الله د رحمت نه مه نا اُميده كيږئ ، بيشكه الله تعالى ټول ګناهونه بَخي ، بيشكه هم هغه بخښونكى مهربان دى . (۲)

۳ . حضرت عائشې رضي الله عنها يو كس ته نصحيت كولو نو ورته وې فرمايل :

فَإِيَّاكَ وَإِمْلَالَ النَّاسِ وَتَقْنِيْطَهُمْ .

ته دخلقو د مايوسه كولو او دوى د الله تعالى د رحمت نه نااُميده كولو نه ځان اُوساته .

---

(۱) الزمر آية ۵۳ .

(۲) عَنْ أَبِي الْكَنُودِ، قَالَ: مَرَّ عَبْدُ اللهِ يَعْنِي ابْنَ مَسْعُودٍ رضي الله عنه عَلَى قَاصٍّ يَذْكُرُ النَّارَ فَقَالَ: يَا مُذَكِّرُ ! لِمَ تُقَنِّطُ النَّاسَ ؟ ثُمَّ قَرَأَ {يَا عِبَادِيَ الَّذِينَ أَسْرَفُوا عَلَى أَنْفُسِهِمْ لَا تَقْنَطُوا مِنْ رَحْمَةِ اللهِ} . حسن الظن بالله لابن ابي الدنيا ص ۶۱ رقم ۵۰ . شعب الايمان رقم الحديث ۱۰۲۲ الرجاء من الله تعالى .

Scanned with CamScanner

(یعنی خلق د الله تعالی د رحمت نه مه نااُمیده کوه) . (۱)

٤. سُفیَانَ بن عیینة رَحِمَهُ اللهُ فرمایي :

مَنْ ذهب یقنط النّاس مِنْ رحمة الله، أو یقنط نفسه فقد أخطأ . (۲)

څوک چې نور خلق د الله تعالی د رحمت نه نااُمیده کوي ، یا پخپله نا اُمیده کیږي نو دا کس په خطائي باندې دی.

## د الله ﷻ د رحمت نه نااُمیده کوونکي کس سزا

نور خلق د الله تعالی د رحمت نه نااُمیده کول ندي پکار ، بعضی انسان بل چاته د مایوسۍ داسې خبرې اوکړي چې هغه بالکل د الله ﷻ د رحمت نه داسې نااُمیده شي چې بیا نېک اعمال کول هم پرېږدي ، نو د داسې نااُمیده کوونکي کس د پاره په احادیثو کې سخته سزا ذکر شوی :

۱. په مسلم شریف کې په دې باندې مستقل باب قائم دی :

بَابُ النَّهْيِ عَنْ تَقْنِيطِ الْإِنْسَانِ مِنْ رَحْمَةِ اللهِ تَعَالَى

باب دی په بیان ددې کې چې د انسان د پاره دا منع دي چې نور خلق د الله تعالی د رحمت نه نااُمیده کړي.

ددې باب لاندې دا حدیث ذکر دی :

رسول الله صلی الله علیه وسلم فرمایي چې یو سړي وویل :

وَاللهِ لَا یَغْفِرُ اللهُ لِفُلَانٍ .

(۱) شعب الایمان ج۲ ص ۳۴۱ الرجاء من الله تعالی رقم الحدیث ۱۰۲۰ . المدخل إلی السنن الکبری ج۱ ص ۳۹۵ بَابُ التَّخَوُّلِ بِالْمَوْعِظَةِ وَالْعِلْمِ مَخَافَةَ الْمَلَالِ. الجامع لأخلاق الراوي وآداب السامع ج۲ ص ۱۲۸ كَرَاهَةُ إِمْلَالِ السَّامِعِ وَالْمَجَارِ وَيَكُونُ إِمْلَاءُ الْحَدِيثِ وَالْكَثِيرِ ... رقم الحدیث ۱۳۸۱ .

(۲) تفسیر القرآن العظیم لابن أبي حاتم ج۷ ص ۲۲۶۸ سورة الحجر في تفسیر آیة ۵۶ . الدر المنثور في التفسیر بالمأثور ج۵ ص ۸۸ سورة الحجر في تفسیر آیة ۵۶ .

Scanned with CamScanner

قسم په الله ، چې الله ﷻ به فلانکي کس ته هيڅ کله بخښنه اونکړي .

الله رب العزت اوفرمايل :

مَنْ ذَا الَّذِيْ يَتَأَلَّى عَلَيَّ أَنْ لَا أَغْفِرَ لِفُلَانٍ، فَإِنِّيْ قَدْ غَفَرْتُ لِفُلَانٍ، وَأَحْبَطْتُ عَمَلَكَ .

څوک دی چې ما باندې قَسَمونه خُوري چې ګني زه به فلاني ته بخښنه نه کوم ، بيشکه ما فلاني ته بَخښنه اوکړه او ستا عملونه مې ضائع کړل . (۱)

۲ . بعضې کس ډير متکبّره وي او په خپل عبادت باندې ډير غاوِره وي ، يعنی خپل عبادت ډير لوي ګنړي او نور خلق ورته سپَک بنکاري ، نو هغوی ته داسې خبرې کوي چې هغوی د الله تعالی د رحمت نه نااُميده کوي نو دداسې کس د پاره هم په احاديثو کې سخته سزا ذکر شوی :

حضرت ابوهريرة ﷺ فرمايي چې ما د رسولُ الله صلی الله عليه وسلم نه أوريدلي چې فرمايل يې : په بني اسرائيلو کې دوه کسان وو ، دواړه ملګري وو ، يو په کې ګناهګارؤ ، او بل په عبادت کې کوشش کوونکی ؤ ، دې عبادت ګزار به چې کله هم دا بل کس په ګناه کولو باندې أوليد نو ورته ويل به يې :

د ګناه نه منع شه .

پس ده يوه ورځ هغه په ګناه کولو باندې أوليد نو ورته وې ويل :

أَقْصِرْ . د ګناه نه منع شه .

هغه ورته وويل : خَلِّنِيْ وَرَبِّيْ أَبُعِثْتَ عَلَيَّ رَقِيْبًا؟

ما د خپل رَب سره پرېږده ، آيا ته په ما باندې نِګران راليږلې شوې يې ؟

( دا عابِد په ډير تکبّر کې راغی ، خپل عبادت يې لوي أوګڼړل او دا بل کس ورته سپَک بنکاره شو )

---

(۱) عَنْ جُنْدَبٍ ﷺ، أَنَّ رَسُوْلَ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ، حَدَّثَ أَنَّ رَجُلًا قَالَ: وَاللهِ لَا يَغْفِرُ اللهُ لِفُلَانٍ، وَإِنَّ اللهَ تَعَالَى قَالَ: مَنْ ذَا الَّذِيْ يَتَأَلَّى عَلَيَّ أَنْ لَا أَغْفِرَ لِفُلَانٍ، فَإِنِّيْ قَدْ غَفَرْتُ لِفُلَانٍ، وَأَحْبَطْتُ عَمَلَكَ . صحيح مسلم كتاب البِرِّ وَالصِّلَةِ وَالآدَابِ بَابُ النَّهْيِ عَنْ تَقْنِيطِ الإِنْسَانِ مِنْ رَحْمَةِ اللهِ تَعَالَى رقم الحديث ۱۳۷ (۲۶۲۱) . شعب الايمان رقم الحديث ۶۲۶۱ .

نو عابِد هغه ته وويل:

وَاللهِ لَا يَغْفِرُ اللهُ لَكَ ـ أَوْ ـ لَا يُدْخِلُكَ اللهُ الْجَنَّةَ.

قسم په الله، چې الله تعالى به ستا مغفرت اونکړي. يا يې ورته دا وويل چې: الله تعالى به تا هيڅ کله جنت ته داخل نکړي.

بيا د دوی دواړو رُوحونه قبض کړې شو (يعنی دواړه وفات شو)، نو د دواړو رُوحونه د الله تعالى مخې ته جمع شو. الله تعالى دې عابد ته وويل:

أَكُنْتَ بِي عَالِمًا؟ ـ أَوْ ـ كُنْتَ عَلَى مَا فِي يَدِي قَادِرًا؟

آيا ته په ما باندې پوهه وې؟ (چې زه به دده سره څه معامله کوم؟).

يا يې ورته دا وويل: آيا ته په دې باندې قادِر يې څه چې زما په لاس کې دي؟

الله تعالى دې ګناهګار ته وويل:

اِذْهَبْ فَادْخُلِ الْجَنَّةَ بِرَحْمَتِيْ.

ته لاړ شه او زما په رحمت سره جنت ته داخل شه.

او دې بل کس (عابِد) په باره کې يې فرښتو ته حکم اوکړو:

اِذْهَبُوْا بِهٖ إِلَى النَّارِ. دا جهنم ته بوځئ.

حضرت ابوهريرة رضي الله عنه اوفرمايل: زما دې په هغه ذات باندې قسم وي چې د هغه په قبضه کې زما ساه ده چې دې عابِد (خپل ملګري ته) داسې خبره کړې وه چې دده دُنيا او آخرت دواړه يې تباه کړل. (۱)

(۱) قَالَ أَبُو هُرَيْرَةَ رضي الله عنه سَمِعْتُ رَسُوْلَ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَقُوْلُ: كَانَ رَجُلَانِ فِي بَنِي إِسْرَائِيْلَ مُتَوَاخِيَيْنِ، فَكَانَ أَحَدُهُمَا يُذْنِبُ، وَالْآخَرُ مُجْتَهِدٌ فِي الْعِبَادَةِ. فَكَانَ لَا يَزَالُ الْمُجْتَهِدُ يَرَى الْآخَرَ عَلَى الذَّنْبِ فَيَقُوْلُ: أَقْصِرْ. فَوَجَدَهُ يَوْمًا عَلَى ذَنْبٍ فَقَالَ لَهُ: أَقْصِرْ. فَقَالَ: خَلِّنِي وَرَبِّي أَبُعِثْتَ عَلَيَّ رَقِيْبًا؟ فَقَالَ: وَاللهِ لَا يَغْفِرُ اللهُ لَكَ. أَوْ لَا يُدْخِلُكَ اللهُ الْجَنَّةَ. فَقَبَضَ أَرْوَاحَهُمَا، فَاجْتَمَعَا عِنْدَ رَبِّ الْعَالَمِيْنَ. فَقَالَ لِهٰذَا الْمُجْتَهِدِ: أَكُنْتَ بِي عَالِمًا. أَوْ كُنْتَ عَلَى مَا فِي يَدِي قَادِرًا؟ وَقَالَ لِلْمُذْنِبِ: اِذْهَبْ فَادْخُلِ الْجَنَّةَ بِرَحْمَتِي. وَقَالَ لِلْآخَرِ: اِذْهَبُوْا بِهٖ إِلَى النَّارِ.
قَالَ أَبُو هُرَيْرَةَ رضي الله عنه: وَالَّذِي نَفْسِي بِيَدِهٖ لَتَكَلَّمَ بِكَلِمَةٍ أَوْبَقَتْ دُنْيَاهُ وَآخِرَتَهُ. سنن ابی داؤد ←←←←

**فائده** : ددې واقعي نه معلومه شوه چې په خپل عبادت باندې تکبّر ندې پکار ، او نور خلق د الله تعالی د رحمت نه نا اُمیده کول ندي پکار .

ددینه بله خبره دا هم معلومه شوه چې انسان به داسې قسَم نه خوري چې الله تعالی به دې بل کس ته بَخنه نه کوي ، او یا به یې جنت ته نه داخلوي . (۱)

←←← كِتَابُ الْأَدَبِ بَابٌ فِي النَّهْيِ عَنِ الْبَغْيِ رقم الحديث ۴۹۰۱ . قال الالباني: صحيح . مسند احمد مخرجا رقم الحديث ۸۲۹۲ ، صحيح ابن حبان محققا رقم الحديث ۵۷۱۲ بَابُ مَا يُكْرَهُ مِنَ الْكَلَامِ وَمَا لَا يُكْرَهُ ذِكْرُ وَصْفِ هَذَيْنِ الرَّجُلَيْنِ اللَّذَيْنِ قَالَ أَحَدُهُمَا لِصَاحِبِهِ مَا قَالَ ، شعب الايمان رقم الحديث ۶۲۶۲ .

وَعَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ رَضِيَ اللهُ عَنْهُ قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: إِنَّ رَجُلَيْنِ كَانَا فِي بَنِي إِسْرَائِيلَ مُتَحَابَّيْنِ أَحَدُهُمَا مُجْتَهِدٌ لِلْعِبَادَةِ ، وَالْآخَرُ يَقُولُ: مُذْنِبٌ . فَجَعَلَ يَقُولُ: أَقْصِرْ عَمَّا أَنْتَ فِيهِ . فَيَقُولُ: خَلِّنِي وَرَبِّي . حَتَّى وَجَدَهُ يَوْمًا عَلَى ذَنْبٍ اسْتَعْظَمَهُ . فَقَالَ: أَقْصِرْ . فَقَالَ: خَلِّنِي وَرَبِّي أَبُعِثْتَ عَلَيَّ رَقِيبًا ؟ فَقَالَ: وَاللهِ لَا يَغْفِرُ اللهُ لَكَ أَبَدًا وَلَا يُدْخِلُكَ الْجَنَّةَ . فَبَعَثَ اللهُ إِلَيْهِمَا مَلَكًا فَقَبَضَ أَرْوَاحَهُمَا فَاجْتَمَعَا عِنْدَهُ فَقَالَ لِلْمُذْنِبِ: أُدْخُلِ الْجَنَّةَ بِرَحْمَتِي . وَقَالَ لِلْآخَرِ: أَتَسْتَطِيعُ أَنْ تَحْظِرَ عَلَى عَبْدِي رَحْمَتِي ؟ فَقَالَ: لَا يَا رَبِّ . قَالَ: اذْهَبُوا بِهِ إِلَى النَّارِ . مشكاة المصابيح كتاب الدَّعْوَات بَابُ الِاسْتِغْفَارِ وَالتَّوْبَةِ الْفَصْلُ الثَّانِي رقم الحديث ۲۳۴۷ (۲۵) .

(۱) عَنْ ضَمْضَمِ بْنِ جَوْسٍ الْهِفَّانِيِّ ، قَالَ: دَخَلْتُ مَسْجِدَ الرَّسُولِ عَلَيْهِ السَّلَامُ فِي طَلَبِ صَاحِبٍ لِي ، فَإِذَا رَجُلٌ أَدْعَجُ الْعَيْنَيْنِ بَرَّاقُ الثَّنَايَا ، فَقَالَ لِي: يَا يَمَامِيُّ ادْنُهُ . فَدَنَوْتُ ، فَقَالَ لِي: يَا يَمَامِيُّ ! لَا تَقُولَنَّ لِأَحَدٍ: وَاللهِ لَا يَغْفِرُ اللهُ لَكَ وَلَا يُدْخِلُكَ الْجَنَّةَ . قَالَ: قُلْتُ: مَنْ أَنْتَ يَرْحَمُكَ اللهُ ؟ قَالَ: أَنَا أَبُو هُرَيْرَةَ ﷺ . قَالَ: قُلْتُ: قَدْ نَهَيْتَنِي عَنْ شَيْءٍ كُنْتُ أَقُولُهُ إِذَا غَضِبْتُ عَلَى أَهْلِ بَيْتِي وَحَشَمِي . قَالَ: فَلَا تَفْعَلْ فَإِنِّي سَمِعْتُ رَسُولَ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَقُولُ: " كَانَ رَجُلَانِ فِي بَنِي إِسْرَائِيلَ فَكَانَ أَحَدُهُمَا بِهِ رَهَقٌ وَالْآخَرُ عَابِدًا ، فَكَانَ لَا يَزَالُ يَقُولُ لَهُ: أَلَا تَكُفُّ أَلَا تَقْصُرُ ؟ فَيَقُولُ: مَا لِي وَلَكَ ، دَعْنِي وَرَبِّي . قَالَ: فَهَجَمَ عَلَيْهِ يَوْمًا فَإِذَا هُوَ عَلَى كَبِيرَةٍ فَقَالَ: وَاللهِ لَا يَغْفِرُ اللهُ لَكَ ، وَاللهِ لَا يُدْخِلُكَ اللهُ الْجَنَّةَ . فَبَعَثَ اللهُ إِلَيْهِمَا مَلَكًا فَقَبَضَ أَرْوَاحَهُمَا . فَلَمَّا قَدِمَ بِهِمَا عَلَى اللهِ عَزَّ وَجَلَّ فَقَالَ لِلْمُذْنِبِ: أُدْخُلِ الْجَنَّةَ بِرَحْمَتِي . وَقَالَ لِلْعَابِدِ: حَظَرْتَ عَلَى عَبْدِي رَحْمَتِي أَكُنْتَ قَادِرًا عَلَى مَا تَحْتَ يَدِي ؟ انْطَلِقُوا بِهِ إِلَى النَّارِ . قَالَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: « وَالَّذِي نَفْسِي بِيَدِهِ لَقَدْ تَكَلَّمَ بِكَلِمَةٍ أَوْبَقَتْ دُنْيَاهُ وَآخِرَتَهُ . حسن الظن بالله لابن ابي الدنيا ص ۵۴ رقم الحديث ۴۵ . الزهد والرقائق لابن المبارك بَابُ ذِكْرِ رَحْمَةِ اللهِ تَبَارَكَ وَتَعَالَى وَجَلَّ وَعَلَا ج ۱ ص ۳۱۵ رقم الحديث ۹۰۰ .

۳. حضرت زید بن اسلم رَحِمَهُ اللّٰهُ فرمايي چې په مخکيني امتونو کې يو کس وُ ، پخپله ډير عبادت گزار وُ ، خو نور خلق يې د الله تعالى د رحمت نه ناأميده کول ، بيا دا وفات شو ، نو الله ﷻ ته يې عرض اوکړو : اَیْ رَبِّ مَالِیْ عِنْدَکَ؟

ای ربه زما د پاره تا سره څه دي ؟ (يعنی ماله دې څه شی تيار کړی ؟)

الله ﷻ ورته اوفرمايل: اَلنَّارُ. د جهنم اُور.

ده ورته عرض اوکړو : اې الله هغه زما عبادتونه او کوششونه څه شو ؟ (ما خو ډير عبادتونه کړي وو ، هغه چيرته لاړ ؟)

نو الله ﷻ ورته اوفرمايل :

إِنَّكَ كُنْتَ تُقَنِّطُ النَّاسَ مِنْ رَحْمَتِيْ فِي الدُّنْيَا فَأَنَا أُقَنِّطُكَ الْيَوْمَ مِنْ رَحْمَتِيْ.

بيشکه تا په دنيا کې خلق زما د رحمت نه نا اميده کول ، نو زه به هم نن تا د خپل رحمت نه نا اميده کوم. (۱)

امام بيهقي رَحِمَهُ اللّٰهُ ددې واقعې ذکر کولو نه روستو ليکلي : دې کس ته دا سزا ځکه ملاوُ شوه چې ده نِجات په خپل عبادت کې گڼرل ، په دې باندې يې اعتماد کولو ، او ددې تذکره يې نه کوله چې الله تعالى په خپلو بندگانو کې چاته اوغواړي د هغه گناهونه هم بَخي ، بلکه گناهونه بَخل يې مُستبَعد (ناآشنا) گڼرل. (۲)

---

(۱) عَنْ زَيْدِ بْنِ أَسْلَمَ: "أَنَّ رَجُلًا كَانَ فِي الْأُمَمِ يَجْتَهِدُ فِي الْعِبَادَةِ، وَيُشَدِّدُ عَلَى نَفْسِهِ، وَيُقَنِّطُ النَّاسَ مِنْ رَحْمَةِ اللهِ تَعَالَى، ثُمَّ مَاتَ ، فَقَالَ: أَيْ رَبِّ مَالِيْ عِنْدَكَ؟ قَالَ: اَلنَّارُ، قَالَ: أَيْ رَبِّ ! فَأَيْنَ عِبَادَتِيْ وَاجْتِهَادِيْ ؟ قَالَ: فَيَقُوْلُ: إِنَّكَ كُنْتَ تُقَنِّطُ النَّاسَ مِنْ رَحْمَتِيْ فِي الدُّنْيَا فَأَنَا أُقَنِّطُكَ الْيَوْمَ مِنْ رَحْمَتِيْ. شعب الايمان ج۲ ص ۳۴۱ رقم ۱۰۲۱ الرجاء من الله تعالى. حلية الأولياء وطبقات الأصفياء ج۳ ص ۲۲۲ . جامع معمر بن راشد ج ۱۱ ص ۲۸۸ باب الاقناط. تفسير عبد الرزاق ج ۲ ص ۲۰۲ سورة هود.

(۲) قَالَ الْبَيْهَقِيُّ رَحِمَهُ اللهُ: "وَلَعَلَّ هَذَا الرَّجُلَ كَانَ يَرَى النَّجَاةَ فِيْ عِبَادَتِهِ، وَيَعْتَمِدُ عَلَيْهَا، وَلَا يَذْكُرُ مَغْفِرَةَ اللهِ عَزَّ وَجَلَّ الذُّنُوْبَ لِمَنْ يَشَاءُ مِنْ عِبَادِهِ، بَلْ كَانَ يَسْتَبْعِدُهَا . شعب الايمان ج۲ ص ۳۴۱ رقم ۱۰۲۱. الرجاء من الله تعالى.

Scanned with CamScanner

٤. امام غزالي رحمه الله په احیاء العلوم کې دا واقعه رانقل کړی:

په احادیثو کې راځي: په بني اسرائیلو کې یو کس وُ چې هغه به خلق د الله ﷻ د رحمت نه نااُمیده کول، او په دوی به یې سختي کوله (یعنی داسې خبری به یې ورته کولې چې دوی به د الله ﷻ د رحمت نه نا امیده کیدل).

نبي علیه السلام فرمائي: الله ﷻ به ورته د قیامت په ورځ اوفرمایي:

اَلْيَوْمَ أُويسکَ مِنْ رَحْمَتِيْ كَمَا كُنْتَ تُقَنِّطُ عِبَادِيْ مِنْهَا.

لکه څرنګ چې تا په دُنیا کې زما بندګان زما د رحمت نه نا امیده کول همدغه شان به زه هم نن تا د خپل رحمت نه نا امیده کوم. (۱)

۵. څوک چې نور خلق د الله تعالی د رحمت نه نااُمیده کوي نو داسې کس الله ﷻ ته ناخوښه وي. (۲)

## په خپل عبادت باندې غرور او تکبّر ندې په کار

په خپل عبادت باندې غرور او تکبّر کول، یا بل ته سپک کتل په کار ندي، بلکه ددې عبادت توفیق هم د الله ﷻ د طرفه ګڼل په کار دي.

د حضرت عیسیٰ علیه السلام په زمانه کې په بني اسرائیلو کې یو غل وُ چې د څلویښتو (۴۰) کالو نه یې غلا کوله، یو ځل یو عابِد په ده باندې تیریدو، نو دې غل اراده اوکړه چې زه هم ورسره روان شم ددې د پاره چې ما ته هم برکت حاصل شي.

---

(۱) وفي الخبر أَنَّ رَجُلًا مِنْ بَنِيْ إِسْرَائِيْلَ كَانَ يُقَنِّطُ النَّاسَ وَيُشَدِّدُ عَلَيْهِمْ قَالَ: فَيَقُوْلُ اللهُ تَعَالَى يَوْمَ الْقِيَامَةِ: اَلْيَوْمَ أُويسکَ مِنْ رَحْمَتِيْ كَمَا كُنْتَ تُقَنِّطُ عِبَادِيْ مِنْهَا. احياء علوم الدين كتاب الخوف والرجاء بيان فضيلة الرجاء والترغيب فيه ج۴ ص۱۳۶.

(۲) قَالَ أَبُوْ سِنَانٍ الْقَسْمَلِيُّ: وَجَدْتُ فِي بَعْضِ الْكُتُبِ: إِنَّ أَحَبَّ عِبَادِيْ إِلَيَّ مَنْ حَبَّبَنِيْ إِلَى عِبَادِيْ وَأَخْبَرَهُمْ بِسَعَةِ رَحْمَتِيْ، وَإِنَّ أَبْغَضَ عِبَادِيْ إِلَيَّ مَنْ قَنَّطَ عِبَادِيْ وَآيَسَهُمْ مِنْ رَحْمَتِيْ. شعب الايمان ج ۲ ص ۳۴۲ رقم ۱۰۲۳ الرجاء من الله تعالى.

Scanned with CamScanner

نو غل خپل ځان کمزوري اوګڼل . خو ددې عابِد په زړه کې په خپل عبادت باندې تکبّر او غرور پيدا شو او د ځان سره يې وويل چې : دا ګناهګار څنګه د ماسره ځي ؟ نو ځان يې ورنه راديخوا کړو او جدا روان شو .

نو الله تعالى حضرت عيسى عليه السلام ته وحي اوکړه :

قُلْ لَهُمَا ليستأنفا العمل فقد أحبطتُ ما سلف من أعمالهما أما الحوارى فقد أحبطتُ حسناته لعجبه بنفسه . وأما الآخر فقد أحبطتُ سيئاته بما ازدرى على نفسه .

اې عيسٰى ! ته دې دواړو ته اووايه چې د سَر نه خپل اعمال شروع کړي ؛ ځکه ما د دوی دواړو مخکيني اعمال ختم کړل ، د عابِد نيک اعمال مې ځکه ختم کړل چې هغه خپل ځان ته ډير مغروره وُ ، او ددې بل کس ګناهونه مې ځکه ختم کړل چې ده ( توبه اُوويسته او ) خپل ځان يې کمزورې اوګڼل .

نو حضرت عيسى عليه السلام دواړو ته خبر ورکړو .

بيا هغه غل د حضرت عيسى عليه السلام په ملګرو کې شامل شو . (١)

## په الله تعالى باندې بَدګمان کول د هلاکت سبب دى

رسولُ الله صلى الله عليه وسلم فرمايي :

---

(١) دا واقعه امام غزالي رحمه الله په احياء العلوم کې داسې رانقل کړی : و روي أيضًا أن لصًا كان يقطع الطريق في بني إسرائيل أربعين سنة ، فمر عليه عيسى عليه السلام وخلفه عابد من عباد بني إسرائيل من الحواريين فقال اللص في نفسه هذا نبي الله يمر وإلى جنبه حواريه لو نزلت فكنت معهما ثالثا قال فنزل فجعل يريد أن يدنو من الحواري ويزدري نفسه تعظيمًا للحواري ويقول في نفسه مثلي لا يمشي إلى جنب هذا العابد. قال وأحس الحواري به فقال في نفسه هذا يمشي إلى جانبي فضم نفسه ومشى إلى عيسى عليه الصلاة والسلام فمشى بجنبه فبقي اللص خلفه فأوحى الله تعالى إلى عيسى عليه الصلاة والسلام : قُلْ لَهُمَا ليستأنفا العمل فقد أحبطتُ ما سلف من أعمالهما أما الحوارى فقد أحبطتُ حسناته لعجبه بنفسه وأما الآخر فقد أحبطتُ سيئاته بما ازدرى على نفسه . فأخبرهما بذلك وضم اللص إليه في سياحته وجعله من حواريه . احياء علوم الدين ج ۴ ص ١٥٢ كتاب الخوف والرجاء بيان دواء الرجاء والسبيل الذي يحصل منه حال الرجاء ويغلب .

Scanned with CamScanner

لَا يَمُوتَنَّ أَحَدُكُمْ إِلَّا وَهُوَ يُحْسِنُ الظَّنَّ بِاللّٰهِ عَزَّ وَجَلَّ ، فَإِنَّ قَوْمًا قَدْ أَرْدَاهُمْ سُوءُ ظَنِّهِمْ بِاللّٰهِ.

په تاسو کې چې هر څوک وفات کیږي نو هغه دې ضرور په الله تعالی باندې ښه گمان کوي ؛ ځکه یو قوم همدې بَدگمان هلاک کړو کومو چې په الله تعالی باندې بَدگمان کولو.

الله تعالی دوی ته اوفرمایل :

﴿ وَذٰلِكُمْ ظَنُّكُمُ الَّذِي ظَنَنْتُمْ بِرَبِّكُمْ أَرْدٰكُمْ فَأَصْبَحْتُمْ مِّنَ الْخٰسِرِيْنَ ﴾

ترجمه : او دا ستاسو هغه گمان وُ چې تاسو په خپل رَب باندې کولو ، همدې بَدگمان تاسو هلاک کړئ ، پس تاسو د نقصان موندونکو نه شوی.(۱)

## د نااُمیدۍ اسباب

د الله ﷻ نه د نااُمیده کیدو ډیر اَسباب دي خو زه به درته صرف نهه (۹) اسباب په مختصرې طریقې سره ذکر کړم :

۱. **د الله ﷻ د صفاتو نه ناخبري** : یعنی چې کله انسان ته دا معلومه نه وي چې گني الله تعالی زما د حالت نه خبر دی ، زما د گناهونو په بَخلو باندې قادر دی ، او هغه بخونکی ذات دی نو خامخا به په ده کې ددې ناخبرۍ په وجه نااُمیدي پیدا کیږي.

او که دا ورته معلومه شي چې الله تعالی زما په حالت باندې ښه خبر دی ، زما د گناهونو په بَخلو باندې قادِر دی ، او هغه کریم ذات دی نو هیڅ کله به داسې کس د الله ﷻ نه نااُمیده نشي.(۲)

---

(۱) عَنْ جَابِرٍ رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ قَالَ : قَالَ رَسُوْلُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ : لَا يَمُوتَنَّ أَحَدُكُمْ إِلَّا وَهُوَ يُحْسِنُ الظَّنَّ بِاللّٰهِ عَزَّ وَجَلَّ ، فَإِنَّ قَوْمًا قَدْ أَرْدَاهُمْ سُوءُ ظَنِّهِمْ بِاللّٰهِ . فَقَالَ لَهُمْ : ﴿ وَذٰلِكُمْ ظَنُّكُمُ الَّذِي ظَنَنْتُمْ بِرَبِّكُمْ أَرْدٰكُمْ فَأَصْبَحْتُمْ مِّنَ الْخٰسِرِيْنَ ﴾ [ فصلت ( حم السجدة ) آية ۲۳ ] . حسن الظن بالله لابن ابي الدنيا ص ۱۹ رقم الحديث ۲ . مسند احمد مخرجا رقم الحديث ۱۵۱۹۷ .

(۲) أسباب اليأس والقنوط : الجهل بالله سبحانه وتعالى: قال ابن عادل: القنوط من رحمة الله تعالى لا يحصل إلا عند الجهل بأمور: أحدها: أن يجهل كونه تعالى قادرا عليه. ←←←←

**۲. د الله ﷻ نه په ویریدو کې ډیره غلو کول** : یعنی کله چې انسان د الله تعالی نه په ویریدو کې ډیره غُلو ( یعنی د حد نه تجاوز ) اوکړي نو په دې سره هم د الله ﷻ نه ناأمیدي پیدا کیږي ، بلکه د الله ﷻ نه صرف دومره یَره په کار ده چې انسان پرې د ګناهونو نه بچ وي ؛ ځکه که دا یره ډیره زیاته شي نو دا بیا د ناأمیدی سبب ګرځي . (۱)

**۳. د ناأمیده خلقو سره کیناستل** : یعنی کله چې انسان د هغه خلقو سره ملګرتیا کوي چې هغوی پخپله د الله ﷻ نه ناأمیده وي یا نور خلق د الله ﷻ نه ناأمیده کوي نو په دې سره په ده کې هم ناأمیدي پیدا کیږي . (۲)

---

←←← وثانيها: أن يجهل كونه تعالى عالما باحتياج ذلك العبد إليه. وثالثها: أن يجهل كونه تعالى، منزها عن البخل، والحاجة. والجهل بكل هذه الأمور سبب للضلال، والقنوط من رحمة الله كبيرة، كالأمن من مكره . اللباب في علوم الكتاب لابن عادل ج ۱۱ ص ۴۷۱ .

وقال ابن القيم: فَالْكَبَائِرُ : .... وَالْقُنُوطِ مِنْ رَحْمَةِ اللهِ، وَالْيَأْسِ مِنْ رَوْحِ اللهِ ..... وَهَذِهِ الْآفَاتُ إِنَّمَا تَنْشَأُ مِنَ الْجَهْلِ بِعُبُودِيَّةِ الْقَلْبِ، وَتَرْكِ الْقِيَامِ بِهَا. مدارج السالكين بين منازل إياك نعبد وإياك نستعين ج ۱ ص ۱۳۳ فَصْلٌ مَرَاتِبُ الْعُبُودِيَّةِ وَهِيَ خَمْسَ عَشْرَةَ مَرْتَبَةً عِبَادَةُ الْقَلْبِ. موسوعة الاخلاق الاسلامية ج۳ ص ۴۲ الیاس والقنوط .

(۱) الغلو في الخوف من الله سبحانه وتعالي: قال ابن القيم رَحِمَهُ اللَّهُ : لَا يَنْزِعُ الْخَوْفَ يُفْضِي بِهِ إِلَى حَدٍّ يُوقِعُهُ فِي الْقُنُوطِ، وَالْيَأْسِ مِنْ رَحْمَةِ اللهِ . فَإِنَّ هَذَا الْخَوْفَ مَذْمُومٌ. وَسَمِعْتُ شَيْخَ الْإِسْلَامِ ابْنَ تَيْمِيَّةَ رَحِمَهُ اللهُ يَقُولُ: حَدُّ الْخَوْفِ مَا حَجَزَكَ عَنْ مَعَاصِي اللهِ. فَمَا زَادَ عَلَى ذَلِكَ فَهُوَ غَيْرُ مُحْتَاجٍ إِلَيْهِ. وَهَذَا الْخَوْفُ الْمُوقِعُ فِي الْإِيَاسِ إِسَاءَةُ أَدَبٍ عَلَى رَحْمَةِ اللهِ تَعَالَى، الَّتِي سَبَقَتْ غَضَبَهُ، وَجَهْلٌ بِهَا . مدارج السالكين بين منازل إياك نعبد وإياك نستعين ج ۲ ص ۳۷۱ فَصْلٌ مَنْزِلَةُ الْأَدَبِ فَصْلٌ دَرَجَاتُ الْأَدَبِ

ولغلبة هذا الخوف على قلب اليائس أسباب منها: إدراك قلبه من معاني الأسماء والصفات ما يدل على عظمة الله وجبروته وسرعة عقابه وشدة انتقامه، وحجب قلبه عن الأسماء الدالة على الرحمة واللطف والتوبة والمغفرة .... فيسيطر على القلب الخوف فيسلمه ذلك إلى اليأس من روح الله والقنوط من رحمته . اثر الإيمان في تحصين الأمة الإسلامية ضد الأفكار الهدامة لعبد الله الجربوع ۲/ ۴۸۰ .

(۲) مصاحبة اليائسين والقانطين والمقنطين: فإن مصاحبة هؤلاء تورث اليأس والقنوط من رحمة الله إما مشابهة أو عقوبة للاختلاط بهم. موسوعة الاخلاق الاسلامية ج۳ ص ۴۲ الیاس والقنوط .

Scanned with CamScanner

**٤. تول اعتماد په ظاهري اسبابو باندې کول**: چې کله انسان د دُنيا په دې ظاهري اسبابو باندې پوره اعتماد اوکړي او الله ﷻ طرف ته يې توجّه نه وي نو چې کله د اسبابو په وجه څه کار اونشي نو بيا په ده کې نااُميدي پيدا کيږي.

د مسلمان شان دادی چې دا به ظاهري اسباب هم استعمالوي خو تول اعتماد به يې په الله ﷻ باندې وي.(۱)

**۵. په دين کې د حد نه زياته سختي کول**: يعنی کله چې انسان هميشه د دِين په سختو احکاماتو باندې عمل کوي، او شريعت چې ده ته په کومو کارونو کې رخصت او آساني ورکړی په هغې باندې عمل نه کوي نو په دې سره هم آخر په ده کې نااُميدي پيدا کيږي.(۲)

**٦. بې صبري او د نېکو اعمالو نتيجه سمدست طلب کول**: يعنی چې کله په انسان باندې څه امتحانات راشي او دا په هغې باندې صبر اونکړي نو په دې سره هم په ده کې نااُميدي پيدا کيږي.

يا څه نېک اعمال کوي مثلاً دُعاګانې غواړي خو قبليدل يې سمدستي طلب کوي نو

---

(۱) التعلق بالأسباب: قال فخر الدين الرازي رَحِمَهُ اللَّهُ: وَذَلِكَ لِأَنَّ الْكَافِرَ يَعْتَقِدُ أَنَّ السَّبَبَ فِي حُصُولِ تِلْكَ النِّعْمَةِ سَبَبٌ اتِّفَاقِيٌّ، ثُمَّ إِنَّهُ يَسْتَبْعِدُ حُدُوثَ ذَلِكَ الِاتِّفَاقِ مَرَّةً أُخْرَى فَلَا جَرَمَ يَسْتَبْعِدُ عَوْدَ تِلْكَ النِّعْمَةِ فَيَقَعُ فِي الْيَأْسِ. وَأَمَّا الْمُسْلِمُ الَّذِي يَعْتَقِدُ أَنَّ تِلْكَ النِّعْمَةَ إِنَّمَا حَصَلَتْ مِنَ اللَّهِ تَعَالَى وَفَضْلِهِ وَإِحْسَانِهِ وَطَوْلِهِ فَإِنَّهُ لَا يَحْصُلُ لَهُ الْيَأْسُ، بَلْ يَقُولُ لَعَلَّهُ تَعَالَى يَرُدُّهَا إِلَيَّ بَعْدَ ذَلِكَ أَكْمَلَ وَأَحْسَنَ وَأَفْضَلَ مِمَّا كَانَتْ. التفسير الكبير ج۱۷ ص ۳۲۲ سورة هود في تشريح آية ۹.

(۲) التشدد في الدين وترك الأخذ بالرخص المشروعة: قال المناوي: قال الغزالي رحمه الله: هذا قاله يقصد حديث إن الله تعالى يحب أن تؤتى رخصه كما يكره أن تؤتى معصيته تطييبا لقلوب الضعفاء حتى لا ينتهي بهم الضعف إلى اليأس والقنوط فيتركوا الميسور من الخير عليهم لعجزهم عن منتهى الدرجات فما أرسل إلا رحمة للعالمين كلهم على اختلاف درجاتهم وأصنافهم. فيض القدير شرح الجامع الصغير لعبد الرؤوف المناوي ٤/ ۲۹٦.

Scanned with CamScanner

اوس كه ده ته همدا څيز ملاو نشي كوم چې ده غوښتې وي نو په دې سره هم په ده كې نااُميدي پيدا كيږي .

حالانكه دا دده غلطي ده ځكه د انسان هيڅ دُعا او هيڅ نېک عمل نه ضائع كيږي ، خو كله په زر دُعا قبليدو كې دده خبر نه وي ، يا دا دُعا دده د پاره د آخرت ذخيره جوړه شوې وي ، او يا په ده باندې څه امتحان راروان وي هغه وړباندې دفع شوې وي نو ځكه ورته هماغه څيز سمدست ملاو نشي كوم چې ده په دُعا كې غوښتې وُ .(۱)

**۷ . د اسبابو سره زړه تړل** : يعنې كله چې د انسان په زړه كې د دُنيا سره محبت وي نو چې كله بيا دده سره دا دُنيا وي نو خوشحاله وي ، خو چې كله ورنه لاړه شي نو بيا خفه

---

(۱) قلة الصبر واستعجال النتائج : إن ضعف النفوس عن تحمل البلاء والصبر عليه واستعجال حصول الخير يؤدي للإصابة باليأس والقنوط لاسيما مع طول الزمن واشتداد البلاء على الإنسان . موسوعة الاخلاق الاسلامية ج۳ ص ۴۲ اليأس والقنوط .

فَعَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ ﷺ ، عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ أَنَّهُ قَالَ: « لَا يَزَالُ يُسْتَجَابُ لِلْعَبْدِ، مَا لَمْ يَدْعُ بِإِثْمٍ أَوْ قَطِيعَةِ رَحِمٍ، مَا لَمْ يَسْتَعْجِلْ » قِيلَ: يَا رَسُولَ اللهِ ! مَا الْإِسْتِعْجَالُ ؟ قَالَ: يَقُولُ: « قَدْ دَعَوْتُ وَقَدْ دَعَوْتُ، فَلَمْ أَرَ يَسْتَجِيبُ لِي، فَيَسْتَحْسِرُ عِنْدَ ذَلِكَ وَيَدَعُ الدُّعَاءَ » . صحيح مسلم كِتَابُ الذِّكْرِ وَالدُّعَاءِ وَالتَّوْبَةِ وَالِاسْتِغْفَارِ بَابُ بَيَانِ أَنَّهُ يُسْتَجَابُ لِلدَّاعِي مَا لَمْ يَعْجَلْ فَيَقُولُ: دَعَوْتُ فَلَمْ يُسْتَجَبْ لِي رقم الحديث ۹۲ (۲۷۳۵)

قال القرطبي: والقائل قد دعوت فلم أر يستجاب لي ويترك قانطا من رحمة الله وفي صورة الممتن على ربه ثم إنه جاهل بالإجابة فإنه يظنها إسعافه في عين ما طلب فقد يعلم الله تعالى أن في عين ما طلب مفسدة .

المفهم لما أشكل من تلخيص كتاب مسلم للقرطبي ۷/ ۶۳ .

عَنْ خَبَّابِ بْنِ الْأَرَتِّ ﷺ ، قَالَ: شَكَوْنَا إِلَى رَسُولِ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وَهُوَ مُتَوَسِّدٌ بُرْدَةً لَهُ فِي ظِلِّ الْكَعْبَةِ، فَقُلْنَا: أَلَا تَسْتَنْصِرُ لَنَا أَلَا تَدْعُو لَنَا؟ فَقَالَ: « قَدْ كَانَ مَنْ قَبْلَكُمْ، يُؤْخَذُ الرَّجُلُ فَيُحْفَرُ لَهُ فِي الْأَرْضِ، فَيُجْعَلُ فِيهَا، فَيُجَاءُ بِالْمِنْشَارِ فَيُوضَعُ عَلَى رَأْسِهِ فَيُجْعَلُ نِصْفَيْنِ، وَيُمْشَطُ بِأَمْشَاطِ الْحَدِيدِ، مَا دُونَ لَحْمِهِ وَعَظْمِهِ، فَمَا يَصُدُّهُ ذَلِكَ عَنْ دِينِهِ، وَاللهِ لَيَتِمَّنَّ هَذَا الْأَمْرُ حَتَّى يَسِيرَ الرَّاكِبُ مِنْ صَنْعَاءَ إِلَى حَضْرَمَوْتَ لَا يَخَافُ إِلَّا اللهَ، وَالذِّئْبَ عَلَى غَنَمِهِ، وَلَكِنَّكُمْ تَسْتَعْجِلُونَ » . صحيح البخاري كِتَابُ الْإِكْرَاهِ بَابُ مَنِ اخْتَارَ الضَّرْبَ وَالْقَتْلَ وَالْهَوَانَ عَلَى الْكُفْرِ رقم الحديث ۶۹۴۳

Scanned with CamScanner

وي او نااُميده شي . (۱)

**۸ . کم هِمتي او د اِصلاح کوشش نه کول** : يعنی چې کله يو انسان په معاشره کې ډير فساد اوګوري ، يا خپل ځان په ګناهونو کې اَخته اوګوري نو دا دومره پَست هِمته وي چې ددې معاشرې يا خپل ځان اِصلاح کول ناممکن ګنړي نو ددې خپلې کم هِمتۍ په وجه په کې نااُميدي پيدا شي . (۲)

**۹ . هميشه د الله تعالی د عذابونو تذکره کول** : يعنی کله چې يو عالِم خلقو ته صرف او صرف د الله ﷻ د عذاب تذکره کوي ، يا صرف تَرهيبات بيانوي ، د الله تعالی د رَحم او ترغيباتو هيڅ تذکره نه کوي نو په دې سره هم په خلقو کې د الله تعالی د رحمت نه نااُميدي پيدا کيږي . (۳)

## د نااُميدۍ نه د بچ کيدو طريقې

د نااُميدۍ نه د بچ نهه (۹) طريقې درته ذکر کوم :

---

(۱) تعلق القلب بالدنيا : فمن أسباب اليأس والقنوط الأساسية تعلق القلب بالدنيا والفرح بأخذها والحزن والتأسف على فواتها بكل ما فيها من جاه وسلطان وزوجة وأولاد ومال وعافية . قال تعالى : ﴿ وَإِذَا أَذَقْنَا النَّاسَ رَحْمَةً فَرِحُوا بِهَا وَإِن تُصِبْهُمْ سَيِّئَةٌ بِمَا قَدَّمَتْ أَيْدِيهِمْ إِذَا هُمْ يَقْنَطُونَ ﴾ [ الروم آية ۳٦]. موسوعة الاخلاق الاسلامية ج۳ ص ۴۳ اليأس والقنوط .

(۲) دنو الهمة والاستسلام للواقع وضعف الرغبة في التغيير: قال محمد بن إبراهيم الحمد: اليأس من الإصلاح يقع فيه كثير من الناس فإذا عاين الشرور المتراكمة والمصائب والمحن والفتن ومن الفرقة والتناحر والاختلاف الذي يسري في صفوف المسلمين يأس من الإصلاح .. ومثل ذلك في شأن كثير من الناس ممن يسرف على نفسه بالمعاصي ويتيه في أودية الرذيلة فتجده ييأس من إصلاح حاله والرقي بها إلى الأمثل بل ربما ظن أن التغيير مستحيل .. وهذا كله مظهر من مظاهر دنو الهمة وصغر النفس والعجز عن مواجهة المتاعب والمصاعب . الهمة العالية لمحمد بن إبراهيم الحمد ۱/ ۵۰ .

(۳) التركيز على جانب الترهيب فقط في الدعوة إلى الله تعالى. موسوعة الاخلاق الاسلامية ج۳ ص ۴۳ اليأس والقنوط .

Scanned with CamScanner

**١. د الله تعالی په صفتونو باندې علم او ایمان لرل:** یعنې چې کله یو څوک د الله ﷻ په صفتونو باندې علم او ایمان ولري او بیا خاصکر د الله تعالی په هغه صفتونو باندې علم ولري چې هغه د الله تعالی په رحمت، مهربانۍ، معافۍ، سخاوت، توبه قبلولو، او پرده پوشۍ باندې دلالت کوي نو په داسې کس کې به هیڅ کله د الله ﷻ نه نا امیدي پیدا نشي.(١)

**٢. په الله ﷻ باندې نېک ګمان لرل او د هغه د رحمت امید ساتل:** یعنې چې کله مسلمان په الله ﷻ باندې نېک ګمان کوي او د هغه د رحمت امید ساتي، بیا خاصکر هغه آیتونه او احادیث ځان ته رامخې ته کوي چې په هغې کې په الله تعالی باندې د نېک ګمان تذکره وي نو داسې کس به هیڅ کله د الله ﷻ نه نا امیده نشي.(٢)

**٣. په هر حالت کې اعتماد په الله ﷻ باندې کول:** یعنې چې کله د یو کس اعتماد همېشه په الله ﷻ باندې وي، ظاهري اسباب استعمالوي خو نظر یې په مُسَبِّبُ الأسباب ذات (الله تعالی) باندې وي نو داسې کس به هم د نا امیدۍ نه بچ وي؛

---

(١) الوسائل المعينة للتخلص من اليأس والقنوط: - الإيمان بأسماء الله وصفاته: إن العلم والإيمان بأسماء الله وصفاته، وخاصة التي تدل على الرحمة والمغفرة والكرم والجود تجعل المسلم لا ييأس من رحمة الله وفضله. قال علوي السقاف: (إذا علم العبد وآمن بصفات الله من الرحمة، والرأفة، والتوب، واللطف، والعفو، والمغفرة، والستر، وإجابة الدعاء، فإنه كلما وقع في ذنب دعا الله أن يرحمه ويغفر له ويتوب عليه، وطمع فيما عند الله من ستر، والتقى بعباده المؤمنين. فأكسبه هذا رجعة وأوبة إلى الله كلما أذنب، ولا يجد اليأس إلى قلبه سبيلاً. كيف ييأس من يؤمن بصفات العفو، والغفور؟! كيف ييأس من رحمة الله من علم أن الله يتصف بصفة الكرم، والجود، والعطاء). صفات الله عز وجل الواردة في الكتاب والسنة لعلوي السقاف ٣٦/١. موسوعة الأخلاق الإسلامية ج٣ ص٣٣ اليأس والقنوط.

(٢) حسن الظن بالله ورجاء رحمته: قال السفاريني: حال السلف رجاء بلا إهمال، وخوف بلا قنوط، ولابد من حسن الظن بالله تعالى. غذاء الألباب في شرح منظومة الآداب للسفاريني ٢٦٦/١.

Scanned with CamScanner

**۱. د الله تعالی په صفتونو باندې عِلم او ایمان لرل** : یعنی چې کله د یو چا د الله ﷻ په صفاتو باندې عِلم او اِیمان وي او بیا خاصکر د الله تعالی په هغه صفاتو باندې یې عِلم وي چې هغه د الله تعالی په رحمت ، مهربانی ، معافی ، سخاوت ، توبه قبلولو ، او پَرده پُوشی باندې دلالت کوي نو په داسې کس کې به هیڅ کله د الله ﷻ نااُمیدي پیدا نشي . (۱)

**۲. په الله ﷻ باندې ښه ګمان لرل او د هغه د رحمت اُمید ساتل** : یعنی چې کله مسلمان په الله ﷻ باندې ښه ګمان کوي او دهغه د رحمت اُمید ساتي ، بیا خاصکر هغه آیتونه او احادیث ځان ته رامخې ته کوي چې په هغې کې په الله تعالی باندې د ښه ګمان تذکره وي نو داسې کس به هیڅ کله د الله ﷻ نه نااُمیده نشي . (۲)

**۳. په هر حالت کې اعتماد په الله ﷻ باندې کول** : یعنی چې کله د یو کس اعتماد همیشه په الله ﷻ باندې وي ، ظاهري اَسباب استعمالوي خو نظر یې په مُسبِّبُ الأسباب ذات ( الله تعالی ) باندې وي نو داسې کس به هم د نااُمیدی نه بچ وي ؛

---

(۱) الوسائل المعينة للتخلص من اليأس والقنوط . الإيمان بأسماء الله وصفاته: أن العلم والإيمان بأسماء الله وصفاته وخاصة التي تدل على الرحمة والمغفرة والكرم والجود تجعل المسلم لا ييأس من رحمة الله وفضله. قال علوي السقاف: إذا علم العبد وآمن بصفات الله من الرحمة، والرأفة، والتَّوب، واللطف، والعفو، والمغفرة، والستر، وإجابة الدعاء؛ فإنه كلما وقع في ذنب؛ دعا الله أن يرحمه ويغفر له ويتوب عليه، وطمع فيما عند الله من سترٍ ولطفٍ بعباده المؤمنين، فأكسبه هذا رجعة وأوبة إلى الله كلما أذنب، ولا يجد اليأس إلى قلبه سبيلاً. كيف ييأس من يؤمن بصفات الصبر، والحلم؟! كيف ييأس من رحمة الله من علم أن الله يتصف بصفة الكرم، والجود، والعطاء . صفات الله عز وجل الواردة في الكتاب والسنة لعلوي السقاف ۱/ ۳٦ . موسوعة الاخلاق الاسلامية ج۳ ص ۴۴ اليأس والقنوط .

(۲) حسن الظن بالله ورجاء رحمته: قال السفاريني: حال السلف رجاء بلا إهمال، وخوف بلا قنوط. ولابد من حسن الظن بالله تعالى . غذاء الألباب في شرح منظومة الآداب للسفاريني ۱/ ۴٦٦ .

ځکه که چیرته په ده باندې په یوه موقع کې سختي راشي نو دې به دا ګمان کوي چې الله تعالی د هرې سختی پسې آساني راولي ، نو په دې سره به دا د نااُمیدی نه بچ وي . (۱)

**٤. د ویرې او اُمید په مینځ کې ژوند تیرول** : یعنی مسلمان به د الله تعالی نه د یَرې او ښه اُمید په مینځ مینځ کې ژوند تیروي ، او دا دواړه به یو شان وي ؛ ځکه که ویره ډیره غالبه شي او ښه اُمید ورسره نه وي نو په دې سره په انسان کې نااُمیدي پیدا کیږي ، او که ښه ګمان ډیر غالب شي او ویره ورسره نه وي نو بیا داسې کس په ګناهونو کې مبتلاء کیږي . (۲)

**٥. په تقدیر باندې اِیمان لرل** : یعنی چې کله د انسان دا یقین وي چې دا ماته څه راپیښیږي دا ټول په تقدیر کې د ما سره لیکل شوي وو نو داسې کس هیڅ کله نه نااُمیده کیږي . (۳)

---

(۱) تعلق القلب بالله والثقة به: لا بد على المرء أن يعلق قلبه بالله ويجعل الثقة به سبحانه وتعالى في كل أحواله و لا يليق بالمسلم أن ييأس من روح الله ولا يقنط من رحمته، ولا يكون نظره مقصوراً على الأمور المادية والأسباب الظاهرة، بل يكون متلفتا في قلبه في كل وقت إلى مسبب الأسباب إلى الكريم الوهاب متحريا للفرج واثقا بأن الله سيجعل بعد العسر يسرا ومن هنا ينبعث للقيام بما يقدر عليه من النصح والإرشاد والدعوة ويقنع باليسير إذا لم يمكن الكثير وبزوال بعض الشر وتخفيفه إذا تعذر غير ذلك . الهمة العالية لمحمد الحمد ١/ ٥٠.

(۲) أن يكون بين الخوف والرجاء: قال تعالى في مدح عباده المؤمنين: ﴿ إِنَّهُمْ كَانُوا يُسَارِعُونَ فِي الْخَيْرَاتِ وَيَدْعُونَنَا رَغَبًا وَرَهَبًا وَكَانُوا لَنَا خَاشِعِينَ ﴾ [ الأنبياء الآية ٩٠]. قال السفاريني : نص الإمام أحمد رضي الله عنه: ينبغي للمؤمن أن يكون رجاؤه وخوفه واحدا. فأيهما غلب صاحبه هلك. وهذا هو العدل، ولهذا من غلب عليه حال الخوف أوقعه في نوع من اليأس والقنوط، إما في نفسه، وإما في أمور الناس، ومن غلب عليه حال الرجاء بلا خوف أوقعه في نوع من الأمن لمكر الله، إما في نفسه وإما في الناس . غذاء الألباب في شرح منظومة الآداب للسفاريني ١/ ٢٦٢.

(۳) الإيمان بالقضاء والقدر: إذا علم المرء وأيقن أن كل ما حصل له هو بقضاء الله وقدره يستريح قلبه ولم ييأس لفوات شيء . موسوعة الأخلاق الإسلامية ج٣ ص ٣٥ اليأس والقنوط .

Scanned with CamScanner

الله تعالی فرمایي :

﴿ مَآ أَصَابَ مِن مُّصِيبَةٍ فِي الْأَرْضِ وَلَا فِي أَنفُسِكُمْ إِلَّا فِي كِتَابٍ مِّن قَبْلِ أَن نَّبْرَأَهَا ۚ إِنَّ ذَٰلِكَ عَلَى اللَّهِ يَسِيرٌ ﴾.(۱)

ترجمه : هر مصیبت چې په زمکه کې یا ستاسو په نفسونو کې راځي نو دا په یو کتاب کې لیکلې شوې دی مخکې ددینه چې مونږ دا مصیبت پیدا کړو .(یعنی ددې مصیبت د پیدائش نه مخکې دا هر څه په یو کتاب کې لیکل شوي ) ، بیشکه دا خبره په الله تعالی باندې آسانه ده .

بل ځای فرمایي :

﴿ مَآ أَصَابَ مِن مُّصِيبَةٍ إِلَّا بِإِذْنِ اللَّهِ ۗ وَمَن يُؤْمِن بِاللَّهِ يَهْدِ قَلْبَهُ ۚ وَاللَّهُ بِكُلِّ شَيْءٍ عَلِيمٌ ﴾.(۲)

ترجمه : (په دُنیا کې) هیڅ مصیبت د الله تعالی د حکم نه بغیر نه راځي ، او څوک چې په الله باندې ایمان راوړي نو الله تعالی دده زړه ته هدایت کوي ، او الله تعالی په هر څیز باندې ښه پوهه دی .

**۶ . د امتحاناتو په راتلو صبر کول** : یعنی چې کله په انسان باندې څه امتحانات راشي نو دا به ورباندې صبر کوي ، د صبر أجرونه به ځان ته رایادوي ، او هغه آیتونه او احادیث به ځان ته رامخې ته کوي چې په هغې کې د ناأمیده کیدونکو خلقو مذمّت بیان شوی نو په دې سره به هم انسان د ناأمیدی نه بچ شي .(۳)

---

(۱) الحدید آیة ۲۲ .

(۲) التغابن آیة ۱۱ .

(۳) الصبر عند حدوث البلاء : وذلك أن الله سبحانه ذم اليائسين من رحمته عند حصول البلاء واستثنى من الذم الصابرين على البلاء وجعل لهم الثواب العظيم . فقال تعالى: ﴿ وَلَئِنْ أَذَقْنَا الْإِنسَانَ مِنَّا رَحْمَةً ثُمَّ نَزَعْنَاهَا مِنْهُ إِنَّهُ لَيَئُوسٌ كَفُورٌ وَلَئِنْ أَذَقْنَاهُ نَعْمَاءَ بَعْدَ ضَرَّاءَ مَسَّتْهُ لَيَقُولَنَّ ذَهَبَ السَّيِّئَاتُ عَنِّي ۚ إِنَّهُ لَفَرِحٌ فَخُورٌ إِلَّا الَّذِينَ صَبَرُوا وَعَمِلُوا الصَّالِحَاتِ أُولَٰئِكَ لَهُم مَّغْفِرَةٌ وَأَجْرٌ كَبِيرٌ ﴾ . [هود آية ۹ تا ۱۱] ←←←

**۷ . د الله ﷻ نه پوره یقین سره دُعا غوښتل** : یعنی کله چې په مسلمان باندې تکلیف راشي نو دا به ددې تکلیف لرې کولو د پاره په پوره اعتماد سره د الله ﷻ نه دُعا غواړي او بیا به یې دا پوخ یقین وي چې الله تعالی به زما دا دُعا قبلوي نو په دې سره هم دا انسان د ناأمیدۍ نه بچ کیږي . (۱)

**۸ . ظاهري اسباب هم استعمالول** : انسان چې په دې دُنیا کې ژوند تیروي نو دا ظاهري أسباب به هم استعمالوي ؛ ځکه د حضرت یوسف علیه السلام په واقعه کې ذکر دي حضرت یعقوب علیه السلام خپلو بچو ته د ظاهري أسبابو استعمالولو او د ناأمیدۍ نه د بچ کیدو حکم کړې وُ . (۲)

حضرت یعقوب علیه السلام خپلو بچو ته وویل :

---

←←← ونهى النبي صلى الله عليه وسلم عن تمني الموت بسبب البلاء ، فَعَنْ أَنَسِ بْنِ مَالِكٍ رَضِيَ اللهُ عَنْهُ، قَالَ النَّبِيُّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: لاَ يَتَمَنَّيَنَّ أَحَدُكُمُ المَوْتَ مِنْ ضُرٍّ أَصَابَهُ، فَإِنْ كَانَ لاَ بُدَّ فَاعِلًا، فَلْيَقُلْ: اللَّهُمَّ أَحْيِنِي مَا كَانَتِ الحَيَاةُ خَيْرًا لِي، وَتَوَفَّنِي إِذَا كَانَتِ الوَفَاةُ خَيْرًا لِي . صحيح البخاري كِتَابُ المَرْضَى بَابُ تَمَنِّي المَرِيضِ المَوْتَ رقم الحديث ٥٦٧١ . موسوعة الأخلاق الاسلامية ج٣ ص ٣٥ اليأس والقنوط .

(۱) الدعاء مع الإيقان بالإجابة: قال تعالى عن نبيه يعقوب عليه السلام لما عوتب في تذكر يوسف عليه الصلاة والسلام بعد طول الزمان وانقطاع الأمل وحصول اليأس في رجوعه قال بلسان المؤمن الواثق في وعد الله برفع البلاء عن الصابرين وإجابة دعوة المضطرين ﴿ قَالَ إِنَّمَا أَشْكُو بَثِّي وَحُزْنِي إِلَى اللَّهِ وَأَعْلَمُ مِنَ اللَّهِ مَا لَا تَعْلَمُونَ ﴾ . [ يوسف آية ٨٦ ].

عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ رضي الله عنه قَالَ : قَالَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ : ادْعُوا اللَّهَ وَأَنْتُمْ مُوقِنُونَ بِالإِجَابَةِ، وَاعْلَمُوا أَنَّ اللَّهَ لاَ يَسْتَجِيبُ دُعَاءً مِنْ قَلْبٍ غَافِلٍ لاَهٍ. سنن الترمذي أَبْوَابُ الدَّعَوَاتِ عَنْ رَسُولِ اللَّهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ رقم الحديث ٣٤٧٩ . موسوعة الأخلاق الاسلامية ج٣ ص ٣٥ اليأس والقنوط .

(۲) الأخذ بالأسباب: يظهر لنا جليًا في قصة يوسف عليه السلام الأخذ بالأسباب وترك الاستسلام لليأس فقد قال نبي الله يعقوب عليه السلام لأولاده لما أبلغوه فقد ابنه الثاني: ﴿ يَا بَنِيَّ اذْهَبُوا .... ﴾ موسوعة الأخلاق الاسلامية ج٣ ص ٣٦ اليأس والقنوط .

Scanned with CamScanner

﴿ يَٰبَنِيَّ ٱذۡهَبُواْ فَتَحَسَّسُواْ مِن يُوسُفَ وَأَخِيهِ وَلَا تَاْيۡـَٔسُواْ مِن رَّوۡحِ ٱللَّهِۖ إِنَّهُۥ لَا يَاْيۡـَٔسُ مِن رَّوۡحِ ٱللَّهِ إِلَّا ٱلۡقَوۡمُ ٱلۡكَٰفِرُونَ ﴾.(۱)

ترجمه: اې زما ځامنو! تاسو لاړ شئ د يوسف او د هغه د ورور (بِنيامين) لټون اوکړئ او د الله تعالى د رحمت نه مه نااميده کيږئ، بيشکه د الله د رحمت نه خو صرف کافران قوم نااميده کيږي.

۹. **د دُنيا د محبت نه ځان ساتل**: يعنى مسلمان به اګر چې دُنيوي اَسباب استعمالوي خو د دې سره به په زړه کې د دُنيا سره محبت نه ساتي، ځکه د چا په زړه کې چې د دُنيا محبت پيدا شي نو بيا داسې کس د دُنيا په راتلو خوشحاليږي خو چې کله ورنه لاړه شي نو بيا نااميده کيږي.

انسان به دا سوچ کوي چې الله تعالى دُنيا هر چا ته ورکوي خو د آخرت نعمتونه صرف خپلو مَحبوبو خلقو ته ورکوي.

همدارنګې انسان به دا سوچ کوي چې که زه هر څومره ځان ستړې کړم نو صرف هماغه حصه دُنيا به راته ملاويږي کومه چې زما په تقدير کې ليکلې شوې وي، بيا چې د داسې کس نه دُنيا لاړه شي نو دا هيڅ کله نه نااميده کيږي.(۲)

---

(۱) سورة يوسف آية ۸۷.

(۲) الزهد في الدنيا: فمن أسباب اليأس والقنوط الأساسية تعلق القلب بالدنيا والفرح بأخذها والحزن والتأسف على فواتها بكل ما فيها من جاه وسلطان وزوجة وأولاد ومال وعافية .. الخ فاعلم أن الله سبحانه يعطي الدنيا لمن لا يحب ومن يحب ولا يعطي الآخرة إلا لمن أحب وقد منع أحب الخلق إليه وأكرمهم عليه نبينا محمد صلى الله عليه وسلم الدنيا وما فيها فخرج وما ملأ بطنه من خبز البر ثلاث أيام متواليات. وأن المرء لن يأخذ أكثر مما قدر له فلا ييأس ولا يقنط لفوات شيء. موسوعة الاخلاق الاسلامية ج۳ ص ۴۶ اليأس والقنوط.

# د غونډ تقرير خلاصه

د غونډ تقرير خلاصه دا راأووته چې د مسلمان د پاره لکه څرنګې چې د الله ﷻ د عذاب نه ويريدل په کار دي نو همدغه شان دده د پاره د الله ﷻ نه ښه اُميد لرل هم په کار دي ، يعنی مسلمان به د خَوف او رَجاء په مينځ مينځ کې ژوند تيروي ؛ ځکه دا دواړه مضامين په قرآن کريم او احاديثو کې اکثريو ځای ذکر دي .

انسان چې په الله تعالی باندې څنګه ګمان کوي نو الله تعالی ورسره هماغه شان معامله کوي ، په الله ﷻ باندې ښه ګمان کول بهترين عبادت دی ، داسې کس په دُنيا او آخرت دواړو کې کامياب وي .

بيا خاصکر د مرګ په وخت په الله ﷻ باندې ښه ګمان په کار دی ځکه د چا چې په دې وخت کې په الله تعالی باندې ښه ګمان وي نو الله تعالی داسې کس ته مغفرت کوي ، ده ته قبر فراخه کوي ، او د نُور نه يې ورته ډکوي .

نبي عليه السلام هم خپل اُمت ته ډير داسې واقعات ذکر کړي چې چا په دُنيا کې په الله ﷻ باندې ښه ګمان کړی الله تعالی د هغه مغفرت کړی ، او د جنت مستحق يې ګرځولی .

ځکه د الله تعالی رحمت د هغه په غضب باندې غالب دی او هغه په خپلو بندګانو باندې ډير مهربان دی .

لهذا مسلمان ته په کار دي چې د نيکو اعمالو کولو او ګناهونو نه ځان ساتلو باوجود په الله ﷻ باندې ښه ګمان اوکړي ، او د نااُميدی نه بچ شي ، ځکه د الله ﷻ نه نااُميده کيدل ګناهِ کبيره او حرام دي ، صرف کافران او ګمراهان خلق د الله تعالی د رحمت نه نااُميده کيږي ، د کامِلِ مؤمنانو صفت دادی چې دوی د الله نه نه نااُميده کيږي .

همدارنګې مسلمان به نور خلق هم د الله تعالی د رحمت نه نه نااُميده کوي ؛ ځکه څوک چې نور خلق د الله تعالی د رحمت نه نااُميده کوي نو الله ﷻ داسې خلق د خپل رحمت نه نااُميده کوي ، لهذا مسلمان ته په کار دي چې د هغې اسبابو نه ځان اُوساتي چې د هغې په وجه په ده کې نااُميدي پيدا کيږي ، او هغه اسباب خپل کړي چې د هغې په وجه په ده کې د الله تعالی نه ښه اُميد پيدا کيږي .

Scanned with CamScanner

## دُعا

الله تعالی دې زمونږ په زړونو کې هم ښه اُمید پیدا کړي.
ربِّ کریم دې مونږ ټول د نااُمیدۍ او مایوسۍ نه اُوساتي.
پروردگارِ عالم دې مونږ ته د خپل محبوب پیغمبر محمّدُ رّسولُ الله صلی الله علیه وسلم او د هغه د صحابه کرامو رضي الله عنهم په نقشِ قدم باندې د تللو توفیق رانصیبه کړي.
الله رب العزت دې مونږ ټولو ته په شریعت باندې اِستقامت او د دِین د خدمت توفیق راکړي.

آمِیْن یَارَبَّ الْعَالَمِیْن.

وَآخِرُ دَعْوَانَا أَنِ الْحَمْدُ لِلّٰهِ رَبِّ الْعَالَمِیْنَ.

Scanned with CamScanner

بِسْمِ اللّٰهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيْمِ

# خوشخبري

ددې پسې به اِن شَاءَ اللّٰه څلورم جلد وي ، او دا سلسله به د الله ﷻ په توفيق سره تر يو وخته پورې همداسې جاري وي .

په خپلو خصوصي دُعاګانو کې مو ياد ساتئ

ستاسو ورور :

ابوالشمس نورالهدا عفى عنه

موبائل نمبر : ۰۳۰۶ ۵۴۴۷۱۷۴

Scanned with CamScanner

د عُلماؤ، طُلباؤ، مُقرّرينو او عامو مسلمانانو د پاره په مختلفو موضوع گانو بانديې

د تقريرونو يوه مُفصّله، مُعتَمَده، عِلمي، او تحقيقي ذَخِيره:

# اِصْلَاحِيْ مُدَلَّلْ تَقْرِيْرُوْنه

جلد ۱ تا جلد ۱۵

تاليف

اَبُوالشّمس مولانا نُورُالهُدٰی عُفِيَ عَنْهُ

فاضلِ جامعه امدادُالعلوم پشاور صدر، و وفاق المدارس العربية ملتان

ايم اے عبدالولی خان يونيورسٹی مردان

حالاً: مُدَرّس دارُالعلوم فيضُ القرآن اكاخيل كالونی، مردان

Scanned with CamScanner

Scanned with CamScanner

# زما نور تالیفات

ددې موجوده کتاب نه علاوه زما نور تالیفات هم شته:

۱. اِصْلَاحِيْ مُدَلَّلْ تَقْرِيْرُوْنه: دا کتاب په پنځلس جلدونو کې دی، په پښتو او فارسی کې چاپ شوی، په مکتبو کې ملاویږي.
او څه لږ وخت پس به اِن شَاءَ الله دا مکمل کتاب په اُردو کې هم چاپ شي.

۲. اَلْاَسْئِلَةُ وَالْاَجْوِبَةُ الْفَاضِلَة لِتَشْحِيْذِ الْاَذْهَانِ الْكَامِلَة:

په دې کتاب کې د ذِهن د زیرکتیا د پاره د مختلفو علومو متعلق مُغَلَّق سوالات او جوابات دي، دا کتاب په پښتو، اُردو او فارسي درې وارو ژبو کې چاپ شوی، په مکتبو کې پیدا کیږي.

۳. هر تقریر په مُختلفو ژبو کې: په دې کتاب کې په پنځه واره ژبو کې تقریرونه دي. دا کتاب هم چاپ شوی، په مکتبو کې ملاویږي.

ابوالشمس نورالهدا عفی عنه

موبائل نمبر: ۰۳۰٦ ۵۴۴۷۱۷۴

Scanned with CamScanner

Scanned with CamScanner

علماء، طلباء، مقررین، اور عام مسلمانوں کے لئے مختلف موضوعات پر تقاریر کا ایک مفصّل، مُستند، علمی اور تحقیقی ذخیرہ :

# اِصلاحی مُدَلَّل تقاریر

## ۱ تا ۱۵ جلد

تالیف

ابوالشمس مولانا نورالہدیٰ عفی عنہ

مدرس دارالعلوم فیض القرآن اکاخیل کالونی مردان

Scanned with CamScanner

په مختلفو ژبو (یعنی پښتو، اردو، عربي، فارسي او انګریزی)
کې د تقریر اِستعداد پیدا کولو د پاره اَولنې، بې مِثله، نایاب، جامِع،
عِلمي او تحقیقي کتاب:

# هر تقریر په مُختلفو ژبو کې

## کُلُّ خُطْبَةٍ بِلُغَاتٍ مُخْتَلِفَةٍ

## ہر تقریر مختلف زبانوں میں

## هر تقریر در زُبان های مختلف

## Every speech in different Languages

تالیف

آبُوالشَّمس مولانا نُورُالهُدیٰ عُفِيَ عَنْهُ

مُدَرِّس دَارُالعلوم فیضُ القرآن اکاخیل کالونی مردان

Scanned with CamScanner

په پښتو ژبه کې د اول ځل لپاره د ذهن د زیرکتیا، بیدارولو او مضبوطولو د پاره د مختلفو موضوعاتو متعلق عجیبه، مُعَمّی، عِلمي او تحقیقي سوالات او جوابات:

# أَلْأَسْئِلَةُ وَالْأَجْوِبَةُ الْفَاضِلَةُ لِتَشْحِيْذِ الْأَذْهَانِ الْكَامِلَةِ

یعنی

## مُعَمّٰی او عِلمي سوالات او جوابات

تالیف

آبُو الشَّمْس مولانا نُوْرُ الْهُدٰی عُفِيَ عَنْهُ

مُدَرِّس دارُالعلوم فیضُ القرآن اکاخیل کالونی. مردان

**نوټ:** دا کتاب په پښتو، اردو، او فارسي ژبه کې چاپ شوی، چې په هره غټه مکتبه کې پیدا کیږي.

Scanned with CamScanner

Scanned with CamScanner

## اول جلد


۱. د زَنانهؤ د پاره د شرعي پَردې اَهمیت او ثبوت
۲. د زَنانهؤ د پاره د پَردې فضائل او بې پَردګۍ سزاګانې
۳. ښځو د پاره د کور نه د بهر وتلو شرائط او آداب
۴. د پَردې متعلق اعتراضات او د هغې جوابات
۵. د پَردې متعلق ضروري فِقهي مسائل


## دویم جلد


۱. پردَی ښځې سره خَلوَت او اِختِلاط حرام دی
۲. د بَدنظرۍ سزاګانې او ددینه د بچ کیدو طریقې
۳. د نظر حفاظت کول
۴. د تواضع فضائل او فوائد (ورسره)
د نبي ﷺ،صحابه کراموا و نورو بزرګانو د تواضع واقعات
۵. د جُمعې او اخترونو خُطبې


## دریم جلد


۱. د تقوی فضائل او فوائد
۲. د نبي علیه السلام، صحابه کرامو او نورو بزرګانو د تقوی واقعات
۳. د الله ﷻ د عذاب نه ویریدل (ورسره)
د نبي علیه السلام، صحابه کراموا و نورو بزرګانو د الله ﷻ نه د ویریدو واقعات
۴. د الله ﷻ نه ښه اُمید لرل









Design by: NoorPrinters- 923115661212

# مکتبة اعزازیة

جاده میوند پخته فروشی کابل : 0764857797

Scanned with CamScanner

مکمل او مد

# دلمانځه مسئلي

دقرآن اواحادیثوپه رڼا کي

مؤلف


مولنا محمد رفعت قاسمي

دديوبند ددارالعلم اوستاذ




پښتو ترجمه

مولوی میرزامحمد شکیب


مکتبۀ رحمانیه

ارگ بازار کندهار افغانستان



Scanned with CamScanner

Scanned with CamScanner




Scanned with CamScanner
Scanned with CamScanner